# ګلاب او فرښته

( نــــــاول )

***************************


کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ـــــــــــ | ګلاب او فرښته ( ناول ) |
| لیکوال | ـــــــــــ | محمدا جان یار |
| خپرونکی | ـــــــــــ | د پښتونخوا د پوهنې دېره ، پېښور |
| د چاپ شمېر | ـــــــــــ | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ نېټه | ـــــــــــ | |
| چاپ وار | ـــــــــــ | لومړی |
| چاپ زیار | ـــــــــــ | بصیر بیدار ستوری |
| کمپوزنګ | ـــــــــــ | ارشاد خان ( پښتو اکېډیمي ) |
| چاپ ځای | ـــــــــــ | ضیاء سنز پرنټرز پېښور |
| قیمت | ـــــــــــ | |

د ملاوېدو درکونه

- یونیورسټي بُک ایجنسي خیبربازارپېښور، پښتونخواه
- دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي پېښور ، پښتونخواه



Download from:aghalibrary

# ډ ا لـــۍ

ددې رومان اتلې او شهیدې

اروا ته

یار

# مـنـنـه

د فرهنګي او فرهنګپال ښاغلي علي محمد مجبور نه په درنښت مننه کـوم. چې د ګـڼ کولتـوري هڅـو برسـیره یـې د ګـلاب او فرښـته نـاول د چاپولو مالي لګښت پخپله غاړه اخیستی دی۔کور یې ودان۔
د ښاغلي بصیر بیدار ,, ستوري ، ، نه ډېره مننه چې زما د کتابونو د چاپ چارې تل په مخ وړې۔همدارنګه د سید احمد ,,همدرد ، ، نه مننـدوی یـه دې یم چې ددې کتاب ځینو جملو اور تورو په سمو نه کې یې زیار ګاللی خپله همکارې یې نده سپمولې۔

په ادبي مینه
محمدا جان یار
جرمني کولن ښار



Download from:aghalibrary

,, ګلاب او فرښته ،،

زمونږ د ناول په ډګر یوه ډېره ګټوره فنپاره ده .دغه د نامتو لیکوال ښاغلي محمدا جان یار یوؤلسم کتاب او پنځم ناول دے .د ښاغلي لیکوال زیرک قلم د خوارۀ هېواد د تېرو څو لسیزو نه د روانو قیامت قیامت حالاتو څو خوږې ترخې واقعې په ډېره اُستکارۍ خوندي کړې دي .د ژوند د حُسن تصویر کشي ، د پښتون ثقافت انځور ګري او د مینې تاودۀ سارۀ د دغه ناول هغه په زړۀ پورې توکي دي چې لوستونکے د ځان نه بېلېدو ته په هیڅ حال نۀ پرېږدي.

دغه ژوند دے او دغه روزګار دے.دغه زمونږ غم لړلے تاریخ دے او هم دغه زمونږ د احساس او د دنیا د بې حسۍ ساندې او سندرې دي .هیله ده چې د ښاغلي یار دغه هڅه به د ډېرو لیکوالو زړونه دغه رنګ لیکونو ته وهڅوي او لوستونکي به د کرکې نه په کرکه او د مینې سره په مینه مجبور کړي.

مننه

اباسین یوسفزی
رئیس پښتو څانګه
اسلامیه کالج پوهنتون پېښور



Download from:aghalibrary

## درنو لوستونکیو

د نړۍ په مخ د ژوندانه د پر مختګ بیل بیل اړخونه چې سړی ګوري له ځانه یې ګیله راځي - په دې چې نړۍ وال د انساني ژوند خوندیتوب او انساني کرامت ته په درناوي شپه او ورځ په هڅه او هاند کې دي.
تر څو بشریت ته د ساینس او تکنالوجي په مرسته انسان ته ترقي ورکړي او د ژوندانه ټولې ستونزې هوارې کړي. له بده مرغه چې زموږ افغانی ټولنه د تاریخ په اوږدو کې او بیا په خاصه توګه په دا درې لسیزه کې د مرګونو او ویرونو سره مخامخ ده. پخوا به په مړو ژړا کیده او س خو هره ورځ د بیلو بیلو رسنیو له لارې چې اورو. افغان وژنه دومره زیاته شوه چې که په کور کې یې له راډیو ، تلویزیون له لارې د پردو بمبارۍ او هم پخپلو کې سره جنګونه او مرګونه دومره زیات دي چې څوک یې په قیصه کې هم نه دي. اورو یې په سترګو یې وینو داسې ښکاري لکه د کولتور برخه چې وګرزي. ځکه چې دلته د دغې لړۍ قاتلانو ته بیخې د اتل په سترګه کتل کیږي او هم دغه ځیرې ددې ټولنې سیاسي واکمنان دي له هم دوي نه ډېرې ناوړه او ترخې کیسې راپاتې دي. پرېږده چې دغه د نادودو ډ کې کیسې او داستانونه راتلونکو نسلونو ته پاتې شي. ددې لپاره چې دغه پور مې ادا کړي اوسي. د همدغه پېښو یو انځور د ګلاب او فرښتې ناول په انداز کې ستره د نیمګړتیاو ستاسو په درانه حضور کې مخې ته ږدم.

په درنښت
محمدا جان یار
کولن جرمني



Download from:aghalibrary

# لومړی څپرکی

هر به سهار به زه او فرښته د کڅ په نری لاره ښوونځي ته تلو- موږ پد غه کال نهم ټولګي کې وو .د ټولګي کوټه اوږده وه .دري قطاره میزونه د جینکو لپاره د ټولګي په یوه اړخ او څلور قطاره د هلکانو لپاره په بل اړخ کې ایښي وو .زه به تل د لومړي قطار په منځ کې میز ته کښیناستم.له پخوا نه په ښوونځي کې دا دود وه چې ښوونکي به نوی درس ولوست بیا به ورپسې اول نمره ټولګي والو ته هماغه لوست تکراره وه .نو ځکه خو ما به د هر مضمون نوی درس له ښوونکي نه وروسته انجونو او هلکانو ته لوستلو .ما سره د یوې کونډې زوی څنګ ته کښیناستلو .هغه لوټکي د مغزو نه پخ وو ما به تل ورسره مرسته کوله.
کله به چې د تفریح زنګ ووهل شو او له ټولګي نه به ووتلم د فرښتې میز له دروازې سره نږدې پروت ؤ .هغې به دغه وخت کې ورو په پټه خپل لاس را اوږد کړو کلک به یې وسکونډلم .زه د هغې دغه سکونډلو سره عادت وم.او د هغې هم عادت ګرځیدلی ؤ. چې به وسکونډلم خوشحاله به شوه کټ کټ اوبه یې خندل. چې سکونډلی به یې نه وم.له ځایه نه پاڅیده.دا کار هغې ان له مخکې کلونو نه راپدې خوا کاوه.ما بده ځکه نه ګڼله چې دا ډول ټوکې د همصفانو تر منځ خو کیږي .ولې له بل چا سره یې داسې ټوکې نه درلودلې.
له وړوکتو به موږ دواړو یو بل سره مینه درلوده. په کلي کې هم موږ دواړه کلیوالو پیژندلو .چې له ماشومتوب څخه به موږ د سین پغاړه په شګو کښې لوبې او ټوپه نځي کولې.د کلي په کوڅو کې به مو له نورو انجونو او هلکانو سره منډې رامنډې وهلې.زه به فرښتې کره تلم او هغه



Download from:aghalibrary

به مورې کره راتله۔هغه د احمد خان اکا لور وه۔پلار يې ښه یاد سړی ؤ د کلیو د جرګو معرکو سړی ؤ ۔د خلکو تر منځ شخړې لانجې به بې له هغې نه فیصله کېدې۔له ده نه نور شتمن کسان هم په کلي کې او سیدل خو دی يو مېلمه دوست مهربانه او د خلکو ډېر ښه خدمتګار سړی ؤ ۔په حجره کې به يې تل مېلمانه پنډول ۔د کلا تر څنګ يې ښکلی بڼ درلود . پخپله احمد خان اکا ځینې بهرني ملکونه لیدلي وو ۔د ځینو شیانو ازاد تجارت يې کاوه جهان دیده او هوښیار ؤ ۔کله به چې زه له فرښتې سره د هغوی باغ ته ننوتلم۔هغه به د مېلمنو سره د ګلونو منځ کې په چوتره ناست ؤ ۔ کله به يې مورې دواړو ته پیسې راکولې۔مورې هم باغ درلود . خو داسې نه ؤ لکه د فرښتې دوي د باغ پشان ۔زه او فرښته دواړه يې په یوه کال لومړي ټولګي کې شامل کړي وو ۔هغه په مور و پلار ډېره نازولې وه۔ځکه چې یوازې همدا یوه لور يې وه ۔دوه زامن يې د پخوانۍ ښځې نه پاتې شوي وو ۔هغه دواړه زلمي وو ۔ښوونځي يې نه ؤ ویلي۔دواړو ته يې ودونه کړي وو ۔د خپل اولاد او نور کلیوالي ژوند راشه درشه ورپغاړه وه۔له پلاره يې بیل او سیدل۔زمورې کلا د فرښتې د کور خوا ته وه ۔ښه مې یاد شي چې پلار به مې په کور کی کله کله کتاب مخې ته نیولی ؤ ۔او مطالعه به يې کوله۔د کلي ښه میرزا زما پلار ؤ ۔په وړوکتوب کې يې پما قران شریف واړه وه۔د فارسي لیک يې هم راباندې کاوه۔لا بیخي وړوکی وم چې په مانځه يې ودرولی وم۔هغه د درس او تعلیم پلوي ؤ ۔ماته به يې ویلې بچې کوښش کوه چې خپل تحصیلات په بشپړ توګه سرته ورسوې ۔ فرښته به چې مورې کره راغله او زه به يې ولیدم چې د فارسي په خط بوخت وم ۔هغه به هم راسره لګیا وه ۔هماغه وو چې له ما سره يې یو ځای د فارسي لیک زده کړ ما چې به له پلاره کوم لوست یاده وه بیا به مې هغې ته ورزده کاوه ۔زمورې ښوونځي ته له کلي نه د کڅ په منځ کې لاره ورغلې وه۔کله به چې اوړي په وخت کې له ښوونځي نه په کڅ کې را روان وو ۔



Download from:aghalibrary

ماشو به چیچلو . ماشومتوب عجیبه وخت وي کله به چې د پسرلي په موسم کې له ښوونځي نه رخصت شو په ډاګونو کې به مو د غاټولو او نرګسو ګلونو غونچې جوړولې زموږ د کلي نه ډېر هلکان او جونې ښوونځي ته تلل . موږ چې لږ رابلوکي شوو . د ژمي په ورځو کې به د نورو کلیوالو وړو سره د غره ډډې ته پورته کېدو . د ممانړو په وخت کې به مو ممانړې خوړلې . او د ګورګورو په موسم کې به مو ګورګورې ځنډلې او کور ته به مو راوړې . همدا شان د اختر او میلو په ورځو کې به مو د میلو په ځایونو کې میلې کولې . د کلي په وستل او کوڅو کې به هر ماښام د پټوونې ، او پړنګه نینګارۍ لوبې کولې . ماښام تېر به ستړې ستومانه کورونو ته ورستانه شو . خو چې د اووم ټولګي نه راپورته شولو . بیا به مو د کلي مخې ته په میدان کې د والي بال لوبه کوله . چې د کلي ډېر خلک به زموږ سیل او تماشې ته ولاړ وو . په همدغه د خوښیو ډک ژوند په تېرېدو سره موږ تر نهم ټولګي ورسیدو . په نهم ټولګي کې وو چې یوه ورځ فرښتې خپله کتابچه مخې ته ایښې وه . څه یې لیکل . بیا یې ماته راوښوده . وې ویل ګلابه دا وو ایه ! ما چې ورپام کړ دا سې یې لیکلي وو .

هلکه دومره پما ګران یې

چې ته روان یې زه دې شمارم قدمونه

هغې زر کتابچه په میز کېښوده . نورو هلکانو او جینکو ته متوجې شوه . هغوي ټول بوخت ول . چا لوست وایه او چا لیکل کول . کله چې له ښوونځي نه کور ته روان شولو پوښتنه مې ترې وکړه . ما وې فرښتې دا لنډۍ دې چاته لیکلې وه ؟ هغه په خندا شوه وې ویل هر چاته مې چې لیکلې ده هغه خپل ځان پیژني . سمدستي مې زړه کې تېر شول ( دا عشقي لنډۍ او دا فرښته ؟ ګلابه بنده لکه ته چې ځنګه رابوټکي شوی یې . خو هغه هم نه ګورې چې پیغله شوې ده . په همدغه وخت کې مې چې هغې ته ورپام کړ ) پښه مې له مزل نه ونیوه . هغې هم ماته راپام شو دواړه



Download from:aghalibrary

سره سترګه په سترګه شو ـ دواړو سره د مینې په لومړۍ شیبه زړونو کې
څه بل شان مینه پیدا شوه ډېره شیبه مو یو بل کې سره سترګې ښخې کړې
وې ـ دومره چې د ښو رپول رانه هېر شول ـ بیا روان شو ـ تر هغې چُپ روان
وو کله چې کلي ته ورسیدو ـ چې سره بیلیدو وې ویل ـ
ګلابه تر سهاره خو ډېر وخت دی ـ کېدی شي چې مازدیګر سره اوګورو ـ
ما وې ولې نه ـ ته کولې شې مازدیګر له نورو جینکو سره سیند غاړې ته
راشې ـ ځه په مخه دې ښه شه ـ د هغې د کلا له ګوډ نه خپل کور ته په
چابکو ګامونو لاړم ـ له ډوډۍ نه وروسته مې لږ خوب وکړ ارام شوم ـ
کورنۍ دنده مې ترسره کړم ـ ځینې کتابونه مې د سبا لپاره له نظره تېر
کړل ـ تل مې هدا عادت ګرزیدلی ؤ ـ مازدیګر چې له کوره ووتلم ـ د کلي
په کوڅه کې روان ووم چې د فرښتې خبره مې نیغه زړه ته ودربده ـ ( ګلابه
تر سهاره خو ډېر وخت دی... ) زه د هغې په سوچ کې لا روان ووم چې دوه
تنه د کلي ملګري مې مخې ته راغلل ـ سیند غاړې ته خوځیدو ـ هغوي
ټینګار کاوه چې وستل ته ځوو ـ ما وې نه د چکر وخت دی سیند غاړې ته
کښېږو ـ هغوي راسره ومنله ـ د کلي نه ووتلو ـ په پټیو کې روان شو ـ
سیند د غره په بیخ کښې بهیده ـ د کلي نه ورته یوه ټوټه مزل کېده ـ موږ
چې سیند ته ورنږدې شو د توتانو د ونو دیرې ته لا نه وو رسیدلي چې
شاته مو پام شو وړاندې د کڅ په منځ کې فرښته له خپلو همزولو سره را
روانه وه ـ نه پوهېږم چې ولې په همدې ورځ مې د هغې سره څنګه بې واره
زړه غوټه شو ـ هسې خو موږ بې له هغې د ماشومتوب نه یو پر بل ګران وو
ـ مګر د نن ورځې خبره بل ډول ده ـ هو بل ډول ـ په دې کې هغوي رانږدې
شوې ـ یوه کلیوال راته ووې ـ هغه دي فرښته دوي هم راغلې ـ هغوي تر
موږه ځانونه را ورسول ـ وارد واره فرښتې له ورایه ناري کړې ـ ګلابه وا
ګلابه ماوې څه دي ؟ د ریاضي سوالونه دې حل کړي دي ؟ ما وې هو ولې
؟ زه په ځینو نه پوهېږم لیکلي مې هم نه دي ـ ما ویل پروا نه لري سهار به



Download from:aghalibrary

وختي چې لاړو په صنف کې به یې زما له کتابچې نه ولیکې .ورسره جینکۍ او هلکان پوهیدل چې هغوي دواړه ټولګي وال دي .هغو نورو هم خپلو کې سره خبرې پیل کړې.موږ دواړو خو فکر کاوه چې ګني هډو څوک شته نه.څنګه ښه یې ویلي دي.

چې دوه مین سره یو ځای شي
په نورو خلکو د ړندو ګمان کوینه

له همدغې ورځې نه زموږ یو د بل سره مینه او محبت زیات شو .په زړونو کې خواږه وو .مګر د مینې په باب مو سره خبرې لا نه وې کړې.ولې یو د بل په زړه پوهېدو .زموږ د دواړو نه لا هیڅوک په دې باب نه وو خبر.او د هیچا په موږ دا ګمان نه راتلو .په لسم ټولګي کې د انجونو صنف او ټولګۍ له هلکانو نه بیل شو .زموږ لیدنه کتنه به یوازې په تفریح کې سره کیده .له ښوونځي نه په چې رخصت شو په لاره کې به سره یو ځای راتلو . کوښش مو کاوه چې د کڅ په لاره دوه په دوه تر کوره لاړ شو .

ژوند په موږه ډېر زر تیریده .هیڅ نه پوهیدو چې دا ورځ ، میاشت او کال څنګه تیریږي .مګر موږ ته داسې موقعې او وخت په لاس رانغی چې د خپلې مینې خبرې او د راتلونکي ژوند پریکړه مو سره پکې کړې وای . دولسم ټولګي کې وو د ښه بخته د اوړي په یوه ورځ د پنجشنبې ورځ وه . فرښتې راته د ښوونځي په لاره وویل .ګلابه ددې وخت راغلی چې ما او تا سره د زړه خواله وکړو .ما وی هغه څنګه ؟ هغه لومړۍ مسکۍ شوه . څو ګامونه یې چټک واخیستل بیا یې وویل .سبا ته زما مور و پلار او نوره کورنۍ مې ښار ته ځي .ته په لسو بجو زموږ د باغ شته ولاړ اوسه . کله چې زه درغلم بیا به دواړه باغ ته ننوزو .پوره خبرې به سره وکړو .په دې خبره مې د هغې له لوري د مینې د وعدې ډاډ زړه ته ولوید .ما وی ښه ده فرښتې زه به سبا ته په لسو بجو درشم .هغې وویل ګلابه نور به زه او ته جوړه په لاره نه ځو.ددې لپاره چې څوک رابانديې بد ګمان ونه کړي.ما



Download from:aghalibrary

وی سمه ده . همدا اوس به دواړه سره مخکې روسته شو . هغه په خندا شوه او ښه په کټ کټ یې وخندل ویل خوار نه شې اوس خو څوک نشته چې سمدستي دې رانه لاره بیله کړه . د مینې په همد غسې وار خطایۍ کې څه ښه وایي .

چې وار خطا نشې جانانه

په وار خطا مورچل دې زه ولاړه یمه

سهار په لسو بجو مې د هغوي د باغ شاته ځان ور ورساوه . شا و خوا پټو کې په دغه شیبه څوک نه ښکاریدل . زه لږه شیبه د باغ ګوټ ته ودریدم پام مې کاوه چې هغه را واوخته . لاس یې اشاره کړ ویلې راځه . زه ور روان شوم د باغ دروازې ته ورتاو شوم او مې لیدل چې هغه ولاړه وه . د باغ له دروازې نه ننوته ماته یې وویل راځه زه هم له دروازې نه ورننوتم هغې د بڼ دروازه ځنځیر کړه . بیا یې ماته لاس را اوږد کړ . سترې مشي یې وکړه . مور لا سترې مشي نه وه خلاصه کړې چې د ستي مې ترې او پوښتلې . د ملک لورې په چا مې مړ نکړې . هغه ځای پر ځای ودریده په دې خبره خفه شوه . وې ویل دومره چې بې زړه یې نو مینه ولې کړې . لکه چې په ما دې باور نه راځي . ما زر له لاسه راونیوله او ورته او مې ویل فرښتې دلته خو همداسې ده نو زۀ خو تاباندې پوره باور لرم مړې هسې ټوقه مې وکړه . په همدې خبرو کې د باغ منځ ته ورسیدو هلته په یوه چوتره کې د ګلونو خوا ته کښیناستو . زړه مې صبر نه کاوه ورته او مې ویل فرښتې لکه څنګه چې زه درسره مینه لرم پوهیږم چې ته هم راسره مینه لرې . ښه نو که اوس دې خوښه وي اصلي خبرې به سره وکړو څنګه ؟ هغه لږه مسکۍ شوه . د مخ غومبرې یې تک سره واوختل لږه شیبه چُپ پاتې شوه بیا یې وویل ما خو له ځان سره دا فیصله کړې ده چې بې له تانه خپل راتلونکی ژوند د بل چا سره نه شریکوم . که ژوند له ما او تا سره وفا وکړه . تحصیل او لوړې زده کړې خو زما او ستا پخوانی ارمان دی . که مو وکولای شو ای . ژوند او



Download from:aghalibrary

مینه ، زده کړه به تر اخره ورسوو۔ فکر کوم چې زه او ته سره په ډېرو شیانو کې سره یو ډول نظر لرو ۔ ته یکې څه وایې ؟
زه هم دا ستا نظر منم او تاید وم یې ۔ زموږ د دواړو وعده به دا وي چې کله مو تحصیل او لوړې زده کړې بشپړې کړې بیا به که خدای کول واده وکړو ۔ ولې ته کوښښ وکړه چې مور و پلار دې په دې پوهه کړې چې وا تر څو مې تحصیل نه وي سرته رسولی میړه نه کوم ۔ سمه ده ۔ هغه مخامخ ناسته وه بیا مسکۍ شوه په دې کې به زه نور څه ووایم وې ویل او له شرمه یې په سترګو لاس کېښود وروسته یې بیا وویېل زما پلار د لوړ تحصیل کولو طرفدار دی ۔ ته مه وار خطا کېږه ۔ ښه نو ما وې چې داسې ده نو راځه چې یو ځل بیا دواړه د راتلونکي ګډ ژوند او د خوږې مینې په قسم لاس کېږدو ۔ د هغې لاس مې پخپل لاس کېښود. ډېره شیبه دواړو یو بل ته سره کتل ۔ او په مینه کې بیخي بلې دنیا ته لاړو --------
سر له نن ورځې نه درسونه وایه چې پوهنتون ته کامیابه شي ۔ هو ته خو به خامخا کامیابېږې چې الله ښه ماغزه درکړي خو زه لېونۍ به څه کوم ۔ او بې له هغې دې په داسې رنځ اخته کړې یم چې -------- ! فرښتې دواړه یو شی یو ۔ دا به هم کوو او هغه به هم ۔ ولې فرښتې یوه هیله درنه کوم چې هغه ځانته هم وایم چې زموږ مینه رسوا نشي ۔ هغې بیا کټ کټ وخندل چې ویل :

مینه دې پټه پاتې مه شه

رب دې رسوا کړه چې تاوان دربانديې شمه

ددې لنډۍ په ویلو یې مخ سور واوخت دواړه اننګي یې لکه د کابل سرې منې شو ۔ زما سترګو ته یې کتل ۔ زه د هغې ښایست ته حیران پاتې وم ۔ پاک خدای پرې بل شانته د حسن پیرزو کړې وه ۔ زموږ د دواړو په زړونو کې یو پر بل د مینې او محبت جوش هسې په څپو وو ۔ چې نږدې و یو بل سره ښه ټینګ په غېږ کې سره ونیسو ۔ خو خپلې پښتنې حیا او شرائطو



Download from:aghalibrary

اجازه نه راکوله .خو بې له هغې پوره شیبه موږ دواړه سره یو په بل کې ورک وو .بیا د هغې له خولې نه سوړ اسویلی وخوت .دواړه لاسونه یې پورته کړل.ناراستي یې وویستله وې ویل ګلابه زما او ستا همدا وعده شوه .وروسته له دینه زما او ستا لیدل کتل به یوازې په ښوونځي کې او په لاره کېږي.په کلي کې به د کوڅو لیدنه کتنه پرېږدو .سمه ده.ما وې هو سمه ده هغې وویل.ګلابه اوس همدومره بس دی.کېدی شي دهقان کاکا باغ ته د کار لپاره راشي.هو رښتیا ښه دې وویل موږ په ځان نه پوهېږو دولس بجې کېږي لاړ به شو .له باغه په وتلو کې یې وویل ته زما سره کلا ته ننوزه په ټوقه یې دا خبره وکړه .ویلې ډوډۍ به راسره او خورې بیا به ځې.ما وې مننه.زړه مې غواړي خو --------- !وې خندل.زه ترې روان شوم او هغه خپلې کلا ته ننوته .د هغې وخت مینه کول په دغسې شکل سره وو.د ژوند نورې چارې هم په خپل خپل ځای وې.ډېرې ښې ښې فیصلې به خلکو د کلي په جوماتکې کولې .مشر او کشر سره معلوم وو .په کلیو کې د هر چا چال چلند او کړنه او چته معلومه وه.ښه او بد سمدستي نر و ښځو ته څرګندول د ملا کار د کلي امامت او د کلي ماشومانو ته سبق ویل وو .په هر جومات کې به خامخا څو تنه طالبان او سیدل دیني زده کړې یې له ملا او نورو لوی عالمانو کولې.حجرې د جرګو او معرکو ځایونه وو .د خلکو تر منځ اتفاق ، مرسته او ښه راشه درشه موجود وه.غریبي وه خو په ژوند کې یو خاص خوند او مزه وه.نو راځم خپلې خبرې ته زموږ د دواړو لیدل کتل بې له ښوونځي نه په بل ځای کې نه کېدل.یوازې په اختر کې به د کلي انجونې او هلکان به د میلو ځایونو ته تلل.هر چا به د مینې تنده ورکې ماتوله.زموږ د کلي ځوانانو به د چینار په ښاخ کې ټال ځوړند کړ .جونو او هلکانو به ور کې وار په وار ځنګل.ما او فرښتې به د اختر په ورځو کې یو بل سره لیدل او



Download from:aghalibrary

هم به مو په یو چل سره خبرې اترې کولې ـ چې په دغه ډول لیدو کتو کې یو ځانګړی خوند پروت وو ـ
موږ تر دولسم ټولګي پورې ورسیدو ولې څوک به موږه ونه پوهېدل ګني چې موږ دواړه سره مینه لرو ـ له دولسمه وتلو ـ پوهنتون ته د شاملیدو لپاره مو تیاري ونیوله ـ زموږ د سیمې دا لومړنۍ دوره وه چې پوهنتون ته یې ازموینه ورکوله ـ په ازموینه کې انجونو او هلکانو ګډون کړی وو ـ هر چا ځانته د خپلې خوښې پوهنځی ټاکلي وو ـ ما طب په نخښه کړی وو ـ فرښتې د ادبیاتو پوهنځي په نخښه کړی وو ـ هماغه وو چې کله نتیجې اعلان شوې زه د طب پوهنځي او هغه ادبیاتو ته کامیابه شوې وه ـ فرښتې سره یې پلار هم کابل ته راغلی وو هغوي خپل موټر درلود ـ کله چې مو نتیجې ولیدې ـ فرښتې راته وویل راځه ګلابه پلار ته ورشو چې د خپلې کامیابۍ زیری پرې وکړو ـ هغه هلته موټر کې ناست دی ـ ما وې ښه ده درځه چې روشو ـ دواړه په خوښۍ سره ورغلو ـ کله چې فرښتې ورته زما او د خپلې کامیابۍ وویل هغه خوشحاله شو پنځوس افغانۍ یې ماته راکړې او پنځوس یې لور ته ورکړې ـ وې ویل راځئ چې اوس تاسو ته د کابل په ښار کې چکر درکړم ـ په موټر کې ورسره کښېناستم ـ په ګرد ښار کې یې وګرځولو ـ په هوټل کې مو ډوډۍ اوخوړه ـ بیا یې ماته وویل ګلابه بچې راځه موږ سره به لاړ شې کار ته چار کې زموږ کور دی ـ زما د ورور خپل کور دی هلته به شپه یو ځای سره وکړو ـ هو رښتیا ستاسو درسونه به څه وخت پیل کېږی ؟
ما وې کاکا جانه پنځلس ورځې وروسته ـ مګر سبا ته باید موږه د پوهنتون ریاست ته یو ځل ورشو ـ چې ځانونه ثبت کړو ـ بیا به کور ته ځو ـ هغه ویل ډېر ښه راځئ چې اوس کور ته لاړ شو ـ سبا سهار به بیا راشو ـ کارونه مو چې خلاص شول بیا به په خبر سره کلي ته ځو ـ فرښتې راته د سترګو لاندې وکتل وې ویل ـ ګلابه پلار مې سمه وایي ـ زه خو بې له تا نه

دلته يوازې نشم راتلای۔ پلار يې وويل۔ بالکل ګلابه نور نو تاسو دواړه به دا خپل ټول کارونه يو ځای کوئی۔ ما وې تاسو چې څنګه وايا ست همغسې به کوو۔ په موټر کې کښيناستو او د هغه د ورور کور ته لاړو۔ د هغوي کور د پل سوخته کار ته چهار په سيمه کې ښه ښکلی کور وو۔ د فرښتې تره ماموريت يې هم کاوه او تجارت خانه يې درلوده ۔خپل کاروبار يې کاوه۔لوړ مازديګر وو چې موږ ورغلو ۔د کور ماشومان په کور کې موجود وو ۔خو پخپله د کور خاوند لا ناوخته له دندې نه کور ته راتلو ۔د مازديګر مانځه نه وروسته د کور په حويلۍ کې تازه هوا ته په څوکيو کښيناستو ۔چايې مو څښيلې ۔د حويلۍ په انګړ کې ښکلي ګلونو رپ واهه په زړه پورې وږمه ترې پورته کيده ۔د فرښتې پلار له حويلۍ نه بهر ووت۔زه او فرښته د هغې د اکا لور چې هغه هم پيغله وه د پولسم ټولګي متعلمه وه سره ناست وو ۔هغوي دواړو خپلو کې خبرې کولې۔ما له تازه هوا او د ګلونو نه خوند او لذت اخيست۔په سوچ کې ورته ناست ووم او چايې مې څښلې ۔د فرښتې راباندې نظر شو وې ويل ګلابه د مرګي هير شې موږ دواړو خپل بنډار جوړ کړی دی او ته يوازې په سوچ کې تللی يې۔ما وی زما دې خدای مل شي۔تاسو خپله د زړه خواله وکړې۔زه هم له دې هوا او دې ښکليو ګلونو څخه ډېر لذت وړم۔خلکو به په کلي کې ويلې چې د کابل هوا ښه ده۔رښتيا هم چې اوس مې وليده۔ ډېره په زړه پورې هوا لري۔هغه بلې جينۍ وويل۔ګلابه وروره په اوړي د کابل هوا ښه ده خو په ژمي کې ډېره يخه وي۔فرښتې د خبرو وار وينو۔ لومړی يې لږه نرۍ مسکا وکړه بيا يې وويل۔نه دې دي اوريدلي چې وايي:

کابل ته مه ځه ګرانه ياره
متې خوږې دي ما به هيره کړې مينه

په دې موږ درې واړو وخندل. په خندا کې هغه ماته په ليدو کې پاتې شوه . ښکلي غاښونه يې په وړه ښکلې خولګۍ کې سپين وځليدل . په ښکلو تورو اوږدو سترګو کې يې د مينې د راز نخښې لرې برې شوې. خندا ، خندا کې يې لاندينۍ شونډه باندې يې غاښونه کيمنډل ، خپلو څنګو ته يې هم ټکان ورکړو په دې وخت کې هغه بله جينۍ د مور په غږ پاڅيده دننه لاړه دې وويل ساده باده کېږه مه. زه درسره يم او ته چُرت وهې. پس له دې خو به زما او ستا مزې وي. څه مزې به وي د پوهنتون درسونه به وي او موږه. ای ليونيه دا هر څه به کېږي ته فکر مه کوه. فرښتې فکر دې اوسه چې سهار ته به ستا پلار نه په تکليف کې کوو . دواړه به پوهنتون ته لاړ شو. بلد به هم شو دا لاره به او پېژنو. هلته مو چې کارونه خلاص کړل بيا به چکر په چکر واپس راشو. د هغې زړه ته دا خبره ولويده وې ويل. بيخي سمه ده. څانګه به هم ورسره بوځو. ښه ده چې ته څنګ وايې زما رضا ده. خو ګوره اوس يې درته وايم چې د څانګې په مخ کې به له ماسره .... ! پوهېږم دومره مې بې فکره مه ګڼه خو ګلا به کله کله زه ځان نشم ټينګولی. نو زه خو دې پېژنم ځکه مې درته وويل. ځه ځه اوس خو لا کابل کې يو . څانګه زموږ خوا ته راغله وې ويل. راځئ دننه سالون ته ځوو. موږ سالون ته لاړو. کتل مو چې د فرښتې پلار هم راننوت. موږ لا په خبرو کې وو چې د څانګې پلار هم راغی. سترې مشې مو سره وکړه. هغه زما د پلار او کورنۍ د حالت پوښتنه رانه وکړه. زما په کاميابۍ ډېر خوشحاله شو. او دا يې هم وويل ته او فرښته له وړوکوالي نه په ښوونځي کې سره شريک وئی. او ښه شوه چې لا پوهنتون ته کامياب شوئی. بس کله چې مو درسونه پيل شول. کله کله به دلته زموږ کره راځئی که خدای کول څانګه به هم پوهنتون ته شامل شي. د فرښتې به ورسره ساعت تيروي ستاسو د دواړو په کاميابۍ خوشحاله شوم خو دا درته وايم چې په درسونو کې به کوښښ کوئی تر څو کامياب اوسئ. فرښتې وويل کاکا جانه دا ګلاب

زموږ د ټولګي اول نمره وو . پلار یې وویل علاوه د هغې نه دي په کلي کې د ښه لمونځ ګذاره او لایقه سړي شهرت لري . خو چې دلته په کابل کې وران نشي . په دې خبره هغوي وخندل . ماوې ستاسو دعا دې راسره وي کاکا جانه که خدای کول ځنګه چې ستاسې هیله وي همغسې به کوو . له ماښام ډوډۍ او چایې نه وروسته فرښتې خپل پلار ته وویل . پلار جانه سبا سهار زه ځانګه او ګلاب به پوهنتون ته د ثبت نام لپاره ورځو تاسې ته تکلیف نه درکوو . موږ به ځان هم بلد کړو . او خپل کارونه به هم راخلاص کړو . هغه وویل سمه ده . ځنګه چې ستاسو خوښه وي هاغسې وکړئ تره یې د سترګو لاندې وریرې ته ورپام کړ . وې ویل بالکل همدغسې وکړئ . موږ دواړه به خپل کار پسې لاړ شو . رښتیا ځانګې لورې دوي نابلده دي ته ورسره یو ځای اوسه چې چرته بې درکه نشي مازدیګر یې کور ته راوله . سبایي په اته و بجو موږ درې واړه له کوره ووتلو . پوهنتون ته روان شو . د پخواني ابن سینا او دارالمعلمین تر منځ سړک باندې مخامخ پوهنتون ته د علي اباد په سړک ور روان وو . د پوهنتون په ساحه کې محصلین ګرځیدل . موږ د محصلینو مدیریت ته ورغلو . خپل نومونه مو ثبت کړل . د محصلینو ځانګې موږ ته د پوهنتون د پیل او مربوط معلومات یې راکړو او ترې راووتلو . کله چې د پوهنتون له ریاست نه رابهر شو . ځانګې وویل راځئ چې اوس سنیما ته لاړ شو . د بهزاد په سنیما کې ښه فلم لګیدلی دی . ما ورته وویل ځانګې خور سنیما څه کوو . همداسې به په ښار کې وګرځو . چې بلد شو . هغې زر بیا وویل وخت لا ډېر دی . راځئ زه به درباندې فلم او ګورم . یو څه به مو مغز ارام شي . فرښتې وویل هو سمه ده ګلابه . ګلابه ځانګه ښه وایي . سنیمه ته به لاړ شو . پوهیږم چې تابه کوم فلم هم تر اوسه نه وي لیدلی . ما خو دلته څو فلمونه پخوا لیدلي . ما وې ښه ده چې ستا خوښه ده زما هم درسره رضا ده .

سنیما ته لاړو .عشقي او جنګي فلم مو ولید.رښتیا چې زموږ زړونه یې راتازه کړل .ځکه په سنیما کې کله چې به جینۍ او هلک د مینې په اکټونو کې لوبیدل فرښتې به زما څنګل په خپله څنګل ووهله.ښه ساعت مو تېر شو.

د فلم له لیدو وروسته په ښار کې وګرځیدو له اوږده چکر وهلو نه وروسته مازدیګر نزدې وو چې په د همزنګ کې له بس موټر نه ښکته شو .او کار ته چار ته پخپلو پښو ګام په ګام خبرو خبرو کې د هغوي تر کوره ورسیدو.ماښام چې د فرښتې پلار او تره راغلل.ما ورته پوهنتون کې د ثبت نام خبره وکړه.هغوي دواړه خوشحاله شول.د ځانګې پلار وویل زه فکر کوم تاسې په کلي کې لومړني کسان یاست پوهنتون ته داخل شوئ دا ډېر د خوشحالۍ خبره ده.

سبایي چې چاې ماې وڅښل شوې .په موټر کې کښیناستو او د کلي په لور روان شو .د سروبي او وریښمو تنګي نه کوزه خوا د فرښتې پلار موټر ودرو.ویلې راځئ.دلته به د ماسپښین لمونځ وکړو بیا به ځوو. سیند غاړې ته ښکته شو.اودسونه او لمونځونه مو وکړل.د سیند یخې اوبه مو وڅښلې له ښې شیبې دمې نه وروسته مو بیا حرکت وکړو . مازدیګر لا نه وو چې کلي ته ورسیدو.

د هغوي د کور مخې ته موټر ودرید .د فرښتې پلار ماته ډېر ست وکړ وې ویل موږ سره به ډوډۍ وخورې بیا به ځې ما ترې شکریه ادا کړه .هغه کلا ته ننوت.فرښته لا ما سره ولاړه وه وې ویل کله کله دلته موږ کره راځه زما د پلار پوښتنه به هم کوې.او په عین وخت کې به سره ملاقات کوو.ما وې ډېره ښه ده راځم به.خدای په اماني مو سره وکړه او کور ته لاړم.په کور کې مې مور او پلار ډېر خوشحاله شول نور د کورنۍ غړي ټول راته راغونډ شول تبریکې یې راکړه.د کلي خلکو چې د چا سره به مخامخ کیدم مبارکي یې راکوله .چې زما لپاره د خوشحالۍ خبره وه .سهار

وختي چې د جمعې مانځه ته جومات ته لاړم هر چا مبارکي راکوله۔څو ورځې مو ښه په خوشحالۍ کلي کې تیرې کړې۔دوه ورځې پاتې وې چې واپس کابل ته راتلو۔د هغوي کره لاړم۔فرښته مې په داسې حالت کې د کلاو مخې ته ولیده چې د خپلې مور سره ولاړه وه۔زه چې ورغلم دمور لاس مې ور مچي کړل۔هغې راته کړو۔بچی راځه چې دننه کور ته ننوزو چاې به وڅښې۔ما وې مور جاني یوازې دومره مې غوښتل چې د فرښتې سره د تلو خبرې وکړم۔خالي دوه ورځې راته پاتې دي۔زیاتي پوهنتون شروع کېږي۔
مور خپله سینه ووهله آخ فرښتې لورې دوه ورځې وروسته به ځئی؟ هو مور جاني زموږ وخت دلته په کلي کې نور نشته دی ځه اوس ته ننوزه مزدورې ته ووایه چې موږ ته باغ ته چاې راوړي۔موږ باغ ته ننوتو۔هغې ویل ښه۔موږ دواړه باغ ته ورننوتو۔په ورو او ارامو قدمونو د بڼ د منځ چوترې ته ورغلو هغه بیا ماته مخامخ کښیناسته۔د کور عادي جامې یې پغاړه وې۔خو په دې ورځ یې خدا زده چې په کوم خیال یې سترګو ته سلایي هم ور وړی وو۔تورو چغرو سترګو ته یې د چا پلار هم کتلی نشوای۔خدای راستي که به ما ورته په دغه شیبه کتلای شوای۔هغه راباندې لږ څه شکي غوندې شوه۔وې ویل ګلابه څنګه مخامخ نه راته ګورې۔ما سر وخوځاوه۔ورته مې وویل مخامخ به د چا پلار درته اوګوري۔وې خندل ویلې څه خبره ده؟ هو څه خبره ده۔تا اینه کې کتلي۔هغه ځانته متوجې شوه ګنې چې کوم تورکي یا څه بل کوم شی یې په مخ داغ پاتې دی۔په لږه تونده لهجه یې وویل ووایه کنه ولې څه دي پخپل مخ یې لاس تیر کړ۔په مخ دې څه نشته خو سترګې دې داسې تورې کړي چې---- !
کټ کټ وې خندل۔ویل ښه ته به زما سترګو ته حیران شوی یې؟ حیران شوی نه بلکې سترګې دې خوړنه کوي۔حیران دې ته یم چې ته به په

پوهنتون کې څه کوې ؟ هغه لوټکي غصه کې شوه ـ مخ یې سور وا وخت ـ وې ویل ـ هلته به د هغه ځای په جامه کې خړه پړه ګرځم ـ هر څومره که خړه پړه شې په دې ښایست به ډېر له ژونده اوباسې ـ ګلابه ستا یوازې ماته ایمان جوړ دی ـ خپل ځانته دې کتلي دي ؟ په ځوانۍ او چیناري ونه خو دې والله چې هندوې مسلمانېږي ـ مور د واړو په دې خبره وخندل ـ له ټوقو ټقالو نه وروسته مې ورته وویل. زمونږ د تګ وخت رانږدې دی ـ څنګه به کوو ؟ هغې وویل پلار به مونږه دواړه تر کابله رسوي ـ ما وې دا ځل به زه درنه بیل لاړ شم ـ ستا د پلار زړه کې څه ونه ګرځي ـ دا خبره مه کوه ګلابه ـ آبله ورځ مې پلار سره همدا خبره کوله ـ هاغه راته وویل ګلاب به له مونږ سره یو ځای ځي ـ ته لا اوس بل څه وایې ـ ښه داسې به وکړو چې کله سهار ته تلو زه به یوه ورځ مخکې مازدیګر دلته راشم ـ د هاغه سره به د تګ پلار جوړ کړم ـ هغې ویل هو همدغه شان وکړه ـ سبا نه بل سبا مازدیګر به راشې ـ خو تر هغې به .... ! ما وې ته خو تر هغې به وایې ـ دا اووایه چې د پوهنتون تر خلاصیدو به ! لاس یې پورته ونیول ـ خدای مهربانه دی ـ وې ویل ـ

ګلابه له پلاره به ښې ډېرې پیسې واخلم دواړه به یې مصرفوو په دې وخت کې مونږ ته مزدورې چاې راوړې ـ مازدیګر و هوا ډېره ښه وه چاې مو څښلې او یو بل ته په کتو کتو نه مړیدو ـ یوه ښه شیبه مو سره د مینې تنده ماته کړه ـ بیا له باغه راووتو زه ترې کور ته لاړم او هغه کلا ته ننوته ـ زه د خپل کور په لوري په چُرت او فکر کې روان شوم ـ (له پلاره به ښې ډېرې پیسې واخلم او دواړه به یې مصرفوو) زه ګني دومره غریب ورته ښکارم ؟ زما پلار خو د غرونو ټولې نختري په نورو خرڅې کړې ـ پوره خرڅه به راکوي ـ هو پوره خرڅه ـ بیګا ته به ورته وایم چې کابل ته د تلو پیسې راکړې ـ کور ته په همدې فکرونو کې ورسیدم ـ مور ته مې وویل ـ مورجانې زمونږ د تلو وخت راورسید سبا نه بل سبا ته که خدای کول ځو ـ

مور مې وویل-زویه دومره زر-هو مورې پوهنتون شروع کېږي-خو ته به بیګا ته پلار زما د پیسو وایې-هغې ویل ښه زویه-بیګا ته چې دې پلار راغې ورته اوبه وایم ته بې غمه اوسه-زه له کوره ووتم د کلي وستل ته مې ځان ورساوه هلته نور کلیوال هلکان وو-تر ناوخته له هغوي سره ووم -د شپې چې کله مې پلار راغی زه ترې د اکا دوي کور ته لاړم-ما وې چې د علي جان دوي سره به چې زما د اکا زامن وو یو ساعت ورسره کښېنم-سبا مازدیګر ته بیا د فرښتې کره لاړم-څنګه چې زه د هغوي کور ته ورنږدې شوم-هغه بیا د خپلو حجرو مخې ته ولاړه وه-له لیري په خندا وه -څو ګامه چې ورنږدې شوم ویلې سترې مشې ګلابه-دا دی زه هم ستا په انتظار ولاړه ووم-ما وې دا شپه به دربانديې څنګه وتلې وي؟ څانته خو نه وای-مرې ته له ما نه زیاته وارخطا یې-وار خطا به نه یم-ته خو بیا هم ښه یې له هلکانو سره دې ساعت تیروې زه خو دې خپلې کلا وخوړم-او بیا خو چې.... !همدغه بیا خو چې زه در په یاد شم-ته اوس دا خبرې پریږده-پلار او مور مې دواړه په باغ کې دي-ته لومړی باغ ته ننوزه زه به لږه وروسته درشم-ښه سمه ده-زه دننه باغ ته لاړم-کتل مې چې هغوي دواړه په چوتره ناست دي-زه یې چې ولیدم-لاس یې راته وخوځاوه-ویلې راځه ګلابه-زه نږدې ورغلم د دواړو لاسو نه مې ښکل کړل-هغوي راسره لکه د خپل زوی غوندې سترې مشې وکړه دواړو په تندي ښکل کړم-هاغه له ځان سره نږدې په څوکګۍ کښېنولم-فرښته هم راغله-دوباره یې راته سترې مشي وویل-د چاې یې راته وویل خو ما وې چاې ته مې اشتها نشته مننه-صرف د دې لپاره راغلم ما وې چې سبا ته په خیر سره موږ باید لاړ شو-د پوهنتون د پیل کیدو ورځې دي-هغه وویل هو رښتیا چې سبا ته به فرښتې ځو کنه-هو پلاره سبا ته په ځوو-د فرښتې پلار وویل-ګلابه بچی سبا تهبه نهو بجو خپل سامان درسره راوړې چې

په نهو بجو حرکت وکړو ـ په خیر ما وې ښه ده کاکا جانه ـ زه به په اته نیمو ځان را ورسوم ـ
کاکا جانه زه به درنه اوس رخصت شم چې خپل سامان سنبال کړم ـ هاغه وویل بچی ته ودریږه یوه خبره درته کوم ـ سر له ننه به په فرښتې درسره پام کوې ـ ما وې دا څه وایې کاکاجانه دا خو زما فرض دي ـ ته بې غمه اوسه ـ ددې ټول خدمت زما پغاړه دی ـ خالي ستاسو دعا دې راسره وي ـ بس زه ترې د کور په نیت راوخوزیدم ـ فرښته هم له ما سره له باغه راووته ـ له دروازې نه چې راوتلو وې ویل ګلابه سبا ته زه څنګه جامې واغوندم ـ چیرې پوهنځي ته خو نه ځې خپلې نور مال عادي د کور جامې دې واغونده ـ او زه به هم پخپلو جامو کې ځم ـ کابل ته چې لاړو بیا به ګورو ـ زه درنه اوس ځمه چې سامان په بکس کې برابر کړم ـ هغه ودریده ویل ځې ؟ نو لاړ نشم ؟ افسوس چې زما او ستا د خپل واک خبره نه ده ګني .... !
هغې وویل هو ګني شپه او ورځ به دواړه سره یو ځای وای ـ ما وې امید یې لرو خدای مهربانه دی ـ ترې را روان شوم ـ ویلې ګلابه په مخ دې ښه شه ـ مازدیګر تیریده چې کور ته لاړم ـ لومړی خپل سامان په بکس کې سنبال کړو ـ د ماښام له ډوډۍ نه وروسته د کاکا او ترور له کوره مې اجازه راواخسته ـ ماخستن تیر کور ته راغلم ـ پلار مې په دغه ورځ خپل د تجارت په کارو پسې تللی وو ـ د شپې کور ته رانغی ـ سبایي مې مور راته ښې پوره روپۍ راکړې ـ چې له کوره راوتلم اوښکې یې راپسې توې کړې دعا یې راته وکړه ـ او ترې را روان شوم ـ هاغه او نور واړه ورونه او خور مې د کلا مخې ته راووتل ـ زه ترې راپناه شوم ـ هلته چې ورسیدم هغوي لا د کلا نه راوتلي نه وو ـ ما ځان د هغوي د موټر خوا ته ورساوه ـ کتل مې چې فرښته راووته ـ له لیرې یې ناري کړې ته خو راغلی یې ـ ما وې هو همدا اوس راغلم ـ له خوشحالۍ نه پټه پټه خوښیدله ـ خوا ته مې چې رانږدې شوه لاس یې را اوږدو کړ ویلې ستړی مشی یو د بل په لاس مو ښه

زور وکړو .ګلابي قمیص سره یې سپین پرتوګ او نسواري وړوکی ټیکري پسر کړی وو.نن یې بیا کجل پورې کړي وو.ورو مې ورته وویل بیا دې په ځان څه کړي دي .اینې کې دې کتلي ؟ولې څه خبره ده لږه مسکۍ شوه وې ویل مور مې راته کجل پورې کړل.پتا یې څه.زه خو په لاره چاته نه ګورم.بې له هغې په موټر کې ځو.ته ولې دومره وارخطا یې ؟ په غیر لتا مې بل څوک نښې لیدای.والله که لاره هم درکتلی شم.فرښتې ګوره پوهنتون کې به پام دې وي خړه پړه به ګرځې .ښه ده چې ته څنګه وایې هغسې به کوم.دا اوس خو تا په عذابوم.پلار یې له کلا نه راووت میرمن یې ورپسې وه .لومړی یې مور هغه په غیږ کې ونیوه سلګو ټینګه کړه.میړه یې پرې په قهر شو.ویلې په عوض ددې چې خوشحالي وکړې ورته ژاړې.بیا یې زما په سر لاس رانښکود .وې ویل بچی دا لور مې په خدای او تا باندې سپارلې ده.بیا یې زنه ورپوله ویلې ډېره مې نازبینه ساتلې وه.اوس رانه روانه ده.

د ژړا په حالت کې ئې دا خبره وکړه.لور ته یې اوښکې توې کړې.فرښتې هم خپلو سترګو ته د ټیکري پیڅکه ونیوه.موټر حرکت وکړ له کلي نه راووتو.ډېر زر د کلي له کڅ نه واوختو.مخ په ښار موټر روان وو.سړک خامه وو.دوړې ان دننه موټر ته راننوتلې.د فرښتې پلار وویل د موټر شیشې کلکې کړئ خیر دی که ګرمي هم وي .خاورې دوړې موټر ته راننوزي.مور یې شیشې پورته کړې.لا د حمل لومړی ورځ نه وه چې تودخه لګیدلې وه.فرښته د موټر شاته سیټ کې ناسته وه کله به چې د موټر مخې ته په سړک کې خاورو او دوړو تورتم جوړ کړ.هغې به خپله پښه را اوږده کړه.زما پښه به یې پرې ووهله.په لږه شیبه کې د جلال آباد ښار ته ورسیدو.هغه وخت سړکونه خام او کنډې کپرې وو.د جلال آباد او کابل لویه لاره هم خامه وه.د درونټې بند لا نه وو جوړ شوی.زیات تګ راتګ دلته بند په سړک کیده.سهار به چې له جلال آباد نه سرویس موټر حرکت

وکړ. ماښام به ایله بیله خورد کابل ته رسیده. زموږ خو جیف موټر وو. ماسپښین لوړ جلال آباد ته ورسیدو. په ښار کې یې موټر ودرولو او هغه له موټره ښکته شو. ګنډیری او مالټې یې راواخستې. موږ ته یې راکړې ویلې دا په لاره خورئ ما وې کاکا جانه دوړې مو تیرې شوې دي. په لاره به که پهکوم ځای کښې مو دمه ونیوه. هغه وویل هو سمه ده په لاره به لمونځ هم وکړو. ډوډۍ به هم وخورو. سَئی ( سه یې ! خبره دې وکړه. موټر ته یې حرکت ورکړو. له درونټې د پخوانۍ اوږده ځانګو پل نه تیر شو. د لغمان د کڅ په لوري ورتاو شو. سړک خامه وو. خو هوار وو. جیف پکې ښه منډه وهله. له سروبي را لاندې مو دمه وکړه. موټر ودرید. سین غاړې ته ښکته شو اودسونه مو وکړل. لمونځ چې مو وکړو. کاکا وویل فرښتې مور دې درته څه د خوراک څه نه دي درکړي. ولې نه پلار جانه هر څه شته دی. هغې چې د سیند له غاړې راجګه شوه. خپل مخ یې منځلی وو په دستمال یې مخ او لاس وچ کړل موټر ته ورغله. میوه او ډوډۍ ئې راوړه. سم لوی دسترخوان یې وغوړاوه. د چرګ کباب ډوډۍ او میده یې خوره کړه. موږ ترې چاپیر شو. ډوډۍ مو لا نیمې ته نه وه رسولې چې د فرښتې پلار وویل. ګوری هغه د غره ډډې ته کوچیانو کیږدۍ وهلې دي. هغوي په دې ورځو کې کابل ته خیژي او بیا وروسته ایلیندونو ته ځي.

هغوي دا ټولې لارې پیاده پخپلو پښو وهي. یوازې ماشومان او بوډاګان په اوښانو سواره وي. ځوانان او پیغلې یې ورسره په پښو رهي وي. ما چې د کوچیانو کیږدیو ته ورپام کړل ډېر خوند یې راکړو. ما وې په دې ښکلې هوا کې او ددې غرونو منځ کې د سیند پغاړه د دوي کاروانونه تیریږي. څومره خوند لري. د فرښتې پلار ډوډۍ بس کړه. موږ ته یې وویل تاسو خپل کار کوئ زه تر موټره ځم چې اوبه یې اوګورم. واپس راځم لږه دمه به وکړو نو ځوو به. هغه چې لاړ ما فرښتې ته وویل ګوره څومره ښکلی ځای دی. دا سیند ، دا غرونه ، د دښتو دا ګلونه د نرګسو

او غاټولو ګلونو ته دې فکر دی. دا ریدي چې سره سره ټلونه ولاړ دي. کاشکې دلته خو ما او تا یوازې وی . لکه د هغو کوچیانو پشان مو یوه کیږدۍ هم درلودی . ګلابه په خدای باور وکړه چې زما په زړه کې هم اوس همدغه خبره ښکته پورته شوه. هو د مینو خو دا خیالونه په زړه کې لر بر کېږي. فرښتې مینه رښتیا هم چې په همدا سې طبیعت کې خوند کوي. ولې زما او ستا د ژوند د حالت سره همدومره بس دی. ددې نن ورځې یادونه به مو د مینې یوه ځانګړې برخه وي زموږ خو لا نصیب ښه دی. په کلیو کې د ځوانانو مینه کله کېږي. د ډېرو پیغلو په سینو کې د مینې خوبونه او خیالونه ویده وي. هغه مسکۍ شوه وې ویل ستا خو بیخي شعر جاري شو. ته خو داسې نه وی. کله خو دې هم داسې خبرې نه دي کړي. دا اوس څنګه یو دم جاري شوی ؟ فرښتې هسې ددې خپل وطن د طبیعت ښکلاګانو ته فکر وړی یم. خو ارمان دی چې.... ! هغې وویل څنګه ارمان دی چې دې وویلې ؟ ته اوس دا خبرې پرېږده هغه دی پلار دې راغی. زه به هم سیند ته ښکته شم چې لاس مې او مینځم. د سیند پغاړه د لویې لویې تیګې تر څنګه په اوبو کې مې لاس پرینمځل بیا په یوه تیګه کښېناستم او مې لیدل چې فرښتې پاتې میوه او ډوډۍ په موټر کې کیښوده او بیا اوبو ته راښکته شوه. پلار یې پخپل ځای ناست وو. لا مالټې یې خوړلې. ما هغې ته وویل.

فرښتې بیا به هیڅکله داسې ځای کې په همدې حالت کې سره ونه ګورو . دلته د یادګار په توګه درنه یوه خولګۍ غواړم. وې خندل لکه د سبر ونه راته مخې ته ودریده. په دواړو مې ښکل کړه بیا مې ورته وویل. ته څه مخکې لاړه شه. زه به وروسته درپورته شم.

موږ چې موټر ته ورغلو د فرښتې پلار ناري کړې. فرښتې تاسو موټر ته پورته شئ زه دستي راځمه. هغه صحرا ته ستون شو. موږ ته بیا موقع د خبرو پیدا شوه. ما وی فرښتې دا به زما او ستا د یادګار دمه ځای او د

میني نخښه پاتې وي ـ هغه پخپله څوکۍ کې شاته ناسته وه ـ لاس یې را اوږد کړ ـ په ولي یې وټپولم ـ ویل د څه شي نخښه پاتې وي ؟ همدا د سیند غاړې د میني خوږه نخښه ـ ویل هو رښتیا هم کله چې بیا له دې ځای تیریږو ـ خامخا به ورته مخ راړوو ـ په دې وخت کې د هغې پلار راغی موټر یې چالان کړ او مخ په سروبي روان شو ـ سړک باندې کاڼي او چغل پراته وو ـ دوړه ئې نه کوله ـ په لږه شیبه کې له سروبي تیر شو او د لته بند په سړک ورسم شو ـ ځای پر ځای چکلي او نور واګنونه له دواړو خوا نه تلل راتلل ـ په ځینو ځایو کې سړک په نیغه غره کې ختلي وو ـ غټې لارۍ به په سخته ورپورته کېدې ـ زموږ جیف څه نا څه ګړندی وو ـ مازدیګر اخر وو چې بوت خاک ته ورسیدو ـ ماښام لا نه وو چې سیاه سنګ ته ورنږدې شو ـ تر څو چې خړه لګیده ـ د څانګې دوي کور ته ورسیدو ـ کور ته چې ورننوتلو د څانګې پلار او زامن یې پخپله څانګه وره ته راغلل ـ روغبړمو سره وکړ ـ د کور سالون ته ورننوتو ـ زموږ په لیدو ټول خوشحاله شول ـ دستي په دستي ډوډۍ تیاره وه ـ له ډوډۍ وروسته د چایو په سر د فرښتې پلار وویل ـ ګلابه دا ستا پلار ټول عمر په غرونو رغونو تیر کړ ـ د غرو نختر یې ټول د کونړ په سیند کې لاهو کړل ـ مګر د کلي خلکو ته دده د پیسو او سرمایې هیڅ پته ونه لګیده ـ تاسو څه معلومات شته که نه ؟

کاکا جانه د هغه د پیسو ما خو څه کوې چې زما مور ته هم پته نشته دی ـ ما ته وی فاکولته ماکولته پریږده ما سره د ګور دمو کار کوه ـ هغه وخندل ویلې ښه ته یې هم په دغه کار اخته کولې هغه ګرم نه دی د تعلیم په اهمیت نه دی خبر ـ بس د خپل بیزنس لاره یې نیولې ده ـ همدغه ورته غوره ښکاري ښه دې کړي چې تا ورسره نه ده منلې ـ خپل درس او تعلیم وکړه ـ اوس ددې وخت دی ـ نور شیان په درد نه خوري ـ زموږ د وطن ډاکټرانو ، انجنیرانو ، معلمانو او نورو د سواد والا خلکو ته ضرورت

لري. په وطن کې دا بدبتي تولـه د بې علمۍ لـه لاسه ده. دا وطن تاسو ځوانانو او پیغلو ته سخت ضرورت لري. پخوا به چیرته په کوم کلي کې یو میزا هم نه وو. اوس ګوره چې معارف ترقي وکړه. د خلکو سترګې بینا شوې دي. خپلې لور ته یې مخ ور واړاوه. وې ویل. فرښتې لورې یوازې د جمعې په ورځ په دلته کور ته راځې. نور به پخپلو درسونو کې کوښش کوې. تر څو کامیابه اوسې.
هغې ویلې ښه پلار جانه ستاسو دعا دې راسره وي. څنګه چې ته وایې هغسې به کوم.
د شپې تر ناوخته پورې د فرښتې پلار او تره یې خپلو کې سره خبرې اترې کولې. موږ ویده شو. سبایي وختي چې له خوبه راویښ شوم. تشناب مې وکړ. بیا مې له حویلۍ نه بیرون چکر وواهه. وړاندې لاړم. لـه هغې خوا چې راوګرځیدم. کتل مې چې فرښته او څانګه دواړه کوڅې تـه راپسې راوتلي دي. زه په چابکو ګامونو ورغلم. له وړاندې راته فرښتې اواز کړو. ګلابه چکر دې څانته وواهه؟ هو والله تر هغه وړاندې ځای پورې لاړم راځه رښتیا چې ناوخته نشي. پوهنتون ته ورشو چې د لیلیه کېدو لیکونه هم راواخلو. په هر څه به ځانونه پوهـ کړو. چای مو په ګډه سره وچښلې. څانګه هم د خپل ښوونځي په لور لاړه او موږ دواړه د پوهنتون په لور وخوځیدو. په دریشۍ کې پوهنتون ته ورغلو. د محصلینو له مدیریتـه د تدریسي مهـال ویش او پـه لیلیه بانـدې مـو مکتوبونـه راواخستل. وې ویل چې سبا ته به تدریسي ته راځئ او دغه مکتوبونه به د مرکزي لیلیې عمومي مدیریت تـه یوسئ چې لیلیـه مـو معلومـه او بسترې درکړي. له هغه ځایه چې راووتو. لومړی د ادبیاتو پوهنځي ته لاړو. تدریسي مدیریت ته مو سر ورښکاره کړو. یو د پوخ عمر سړی چې تدریسي مدیر وو. میز ته ناست وو. فرښتې لومړی سلام او بیا یې ورتـه خپل نوم ووایه د هغه په میز لستونه پراته وو. ویلې هو ستا نوم په اے

ګروپ کې دی.لاس یې پوهنځي ودانۍ ته ونیو.ویلې سهار په اته و بجو په صنف کې حاضر اوسئ.
بیا د طب پوهنځي ته لاړو.تر څو زما صنف او تدریسي مدیریت ته ورشو .هلته چې ورغلو .زما نوم هم په بي ګروپ ۲۵ کوټه کې لیکل شوی وو . تدریسي مدیر راته وویل.سبا ته به په اته بجو درس ته راځئ.
طب فاکولتي نه چې راووتو .فرښتې ته مې وویل.راځه چې ښار ته لاړ شو .کتابچې ، قلمونه دریشي او نور ضروري شیان به راونیسو . مازدیګر به بیا کور ته لاړ شو .د علي اباد روغتون له مخې نه په بس کې تر ښاره لاړو.په ښار کې مو د ضرورت وړ شیان مو راونیول مازدیګر واپس په ټکسي موټر کې تر کوره لاړو .کله چې د فرښتې پلار او کاکا یې کور ته راغلل.مورې ورته ټوله قیصه تیره کړه .هغوی دواړه خوشحاله شول .سبا وختي مورږ له چای نه وروسته پوهنتون ته لاړو .لومړی د فرښتې سره ادبیاتو پوهنځي ته لاړو .هغه خپل د تدریسي خونې ته ورننوتله .او زه تری د خپل پوهنځي په لور روان شوم .هغه راپسې دروازې ته راووته وی ویل ګلا به دولس بجې به راپسې د پوهنځي مخې ته راشې .زه به ولاړه یم .زه خپل پوهنځي ته لاړم او صنف ته ننوتلم . دولس پجې چې رخصت شو .سمدستي هغې پسې ورغلم.کتل مې چې د فاکولتي مخې ته ولاړه وه چې خوا ته یې ورنږدې شوم .وې لیدم او خوشحاله شوه.بیا مورږ دواړه مرکزي لیلیې ته را روان شو.په لاره راته هغې د خپل صنف خبرې کولې او ما هم هغې ته د خپل ټولګي خبرې کولې.چې په خبرو خبرو کې د مرکزي لیلیې مدیریت ته ورسیدو .هغه مې بیرون ودروله او ما د لیلیې دواړه مکتوبونه د لیلیې عمومي مدیر مخې ته په میز کیښود .د فرښتې مکتوب یې د نسوانو لیلیې ته راجع کړ او زما دا یې د طب وینګ د لیلیې ښوونکي ته.په چالاکۍ مې د خپل وینګ مربوط ښوونکي وموند او مکتوب مې ورکړ .هغه راته وویل

ما زدیګر په څلورو بجو زما کوټې ته راشه چې بستره او ځینې نور ضروري شیان دروسپارم . بیرون ته راووتم هغه راته ولاړه وه . ستړې شوې وه . په بیړه سره لیلیه نسوانو ته لاړو . د فرښتې مکتوب مو چې مدیرې ته ورکړو . هغې مربوط ښوونکې راوغوښته . زه لا مدیرې سره ناست ووم چې د فرښتې کوټه بستره معلومه شوه . د لیلې معلمې ورته وویل . ته طعام خوړئ ته لاړه شه ډوډۍ وخوره . ما ورته وویل رښتیا وایې ته ډوډۍ اوخوره زۀ به بیرته لیلیې ته لاړ شم . تر څو په څلورو بجو بستره واخلم . زه پرې راووتم خو په راوتوکي مې ورته وویل سبا ته به په دولسو بجو زه ستاسو فاکولتې مخې ته درته ولاړ یم . زه ترې بیا مرکزي لیلیې ته لاړم . په څلورو بجو د وینګ ښوونکې بستره راکړه . کوټه او چپر کټ مې معلوم شو . سبا ته بیا له درس نه وروستو ورغلم هغه ماته په انتظار وه . ما ورته وویل . زه به په درې بجو لیلیه نسوانو مخې ته ولاړ یم . چې دواړه لاړ شو او ستا پلار ته خبر ورکړو . چې زموږ له حاله خبر شي . هغه پلې لیلیې ته لاړه او زۀ هم مرکزي لیلیې ته لاړم . په درې بجو موږ دواړه کور ته لاړو . ښه وو چې په دغه ساعت کې د هغې پلار په کور کې وو . زموږ په ورتلو یې سمدستي وویل څنګه چل وشو له خیره ؟ ما ورته وویل کاکا جانه زموږ ټول کارونه منظم شو . درسونه مو پیل شوي دي . فرښته په لیلیه نسوانو ( د جینکو ) په لیلیه کې اوسېږي . او زه په مرکزي لیلیه کې . نور نو موږ هیڅ مشکل نه لرو اوس تاته راغلو چې خپل احوال درته ووایو . او واپس پوهنتون ته لاړ شو . څانګې چاې زموږ مخې ته کېښود . له لږ ځنډ وروسته فرښتې پلار ته وویل پلار جانه ته به څه وخت بیرته کلي ته ځې ؟ هغه د چاې پیاله کېښوده وې ویل . زه ستاسو کارونو ته معطل ووم . اوس چې ستاسو کارونه سرته ورسیدل خوشحاله شوم . سبا ته په خیر سره کلي ته ځم . فرښتې وویل پلاره دوه تنه جینکۍ راسره په کوټه کې جلال اباد‌ۍ دي . او درې تنه د مزارشریف دي . زموږ کوټه

لویه ده.کوم مشکل نلرو .خو یوازې درسونه بیخي زیات دي.ما وې ناوخته کیږي ځو به .موږ سره ځانګه او د فرښتې پلار هم را روان شو . هغه وویل په موټر کې به لاړ شو .د فرښتې لیلیه به ووینو تاسو به ورسوو او موږ به درنه راځوو .کله چې موټر حرکت وکړ .هغه وویل ګلاب به د جمعې په ورځ به د فرښتې سره کور ته راځي .په نورو ورځو کې خپل درسونه لولئ .فرښتې خپلو درسونو کې کوښښ کوه یو د بل احوال سره اخلئ.لیلیه نسوانو کې ښکته شو .فرښتې خپله لیلیه وروښودله.بیا مو مخه ښه ورسره وکړه.او هغه پخپل جیف کې له لیلیې نه لاړ.
زه او فرښته د لیلیه نسوانو په دروازه کې یو ساعت سره ولاړ وو .بیا مې ورته وویل فرښتې د پلار په تګ دې لکه چې خفه شوې ؟هغې ویل خامخا نو پلار مې دی .که ته راسره نه وای نو زما خو به زړه چاودلی وای .زه پوهـ شوم چې هغه خفه ده .ما وی راځه وخت لا ډېر دی بیرون به چکر ووهو .تر ده بورې لاړو .په لاره راته هغې وویل ګلاب به صنف کې راته هلکان ګوري.زه چې کله صنف ته ورشم هر یو راته رډ رډ ګوري.ځنې راته خوشې خوشې خبرې کوي.ای لیونۍ په دې خبرو پسې غوږ مه وړه . ته له هغو سره لکه د ورونو برخورد کوه .هغوي یوازې ستا حسن ته حیران دي.ته په چا مه قاریږه.که چا درته ویلي الله څومره ښائست یې.ته ورته وایه مننه.تشکر ترې کوه.ددې ځای کولتور سره ځان برابر کړه.دا خو کلی نه دی.دا پوهنتون دی.پوهنتون.او ای کلیوالې فرښتې چې رښتیا راباندې وایې ستا ښایست ته به د چا پلار ټینګ شي .دا خبره مې په ټوقه کې ورته وکړه وې خندل .وې ویل زه ګنې دومره ښکلې یم ؟که نه تا ته به ښکلې ښکارم.د ظالم لورې پام کوه چې څوک دې تیر نه باسي. ګلاب څه درنه اورم.نه نه خو ما وې چې خامخا که نه دا کابل دی هر ډول خلک پکې دي.د خلکو ماله څۀ زه یو ګلاب پیژنم.په دنیا کې نور د چا

پروا نه لرم.مننه بس دوا ړه به په همدې خبره تر اخره خپل تحصیل ته دوام ورکړو.
مازدیګر شو هغې سره د لیلیې دروازې پورې لاړم .هغه چې ننوته زه بیا خپلې لیلیې ته لاړم .زموږ ټول مصروفیت له درسونو سره وو .موږ دواړو خواري کوله اګرچې درسونه په فارسي وو .موږ به هره ورځ د پوهنتون کتابخانې ته د مطالعې لپاره تلو .د پوهنتون د ساحې نه بیرون تګ ته مو هیڅ وخت نه درلود .ښه په شوق او علاقه مو درسونه ویل.د طب د پوهنځي درسونه رښتیا هم چې سخت ول .خو زموږ د پاره د مطالعې ښه ځای همدغه د پوهنتون کتابخانه وه.
فرښتې به چې کله په درس او مطالعه کې لږ څه ستړې شوه.په میز به یې سر کیښود خوب به یوړه سترګې به یې سره ورغلې او کله به یې خالي ماته راکتل.ولې زه به ټول وخت دومره مصروف وم چې د هغې سره مې د زړه خواله قدرې هم نشوه کولی.په همدې ترتیب سره زما او د فرښتې د ژوند شپې او ورځې تیریدلې.ددغه کال په اخر سمستر کې زه په خپلو همصنفانو کې اول نمره بریالی شوم.فرښته هم په ښو نمرو بریالۍ شوه. څو ورځو د رخصتۍ لپاره مو کلي ته د تلو نیت وکړو.یوه شپه مخکې له تلو نه هغه له څانګې سره کورته لاړه .یوه شپه یې وکړه.سبایې وختې وو چې لیلیه نسوانو دروازې مخې ته ورغلم.پام مې کاوه چې له کوره راغله .څانګه هم ورسره وه.خپل سامان یې په بکس کې سنبال کړ.د لیلیې نه راووتله.په یوه ټکسي موټر کې مو پل محمود خان ته حرکت وکړو. څانګه خپل کور ته لاړه .پل محمود خان ته چې ورسیدو د جلال اباد په لین یوازې پخوانی زوړ سرویس ولاړ وو.او یو واګون بل وو.چې هغه ډک شوی وو.وړوکي موټرې نه وې .لنډې ورځې وې موږ ویلې چې وخت رانه ضایع نشي.همغې سرویس ته مو بکسونه پورته کړل.د سرویس کلینر بکسونه ځای پر ځای کړل.موږ د مخکې سیټ نه شا ته چوکۍ کې

کښیناستو ـ د سرویس چلونکی په عمر پوخ سړی وو ـ یو تن وچ کلک ځوان ورسره کلینري کوله ـ د سرویس په ډکولو ډیر وخت واوخت ـ تر څو سورلۍ پوره شوه ـ ما سپښین نژدې وو چې کلینر غږ وکړ دعا د خیر ده ـ سرویس حرکت وکړ ـ ما فرښتې ته وویل ـ پوهیږم چې د شپې ناوخته به جلال اباد ته رسیږو ـ سرویس په لاره عجیب و غریب اوازونه کول ـ سرویس ته په راختو موږ دواړه وروسته پښېمانه وو ـ خو کار رانه شوی وو ـ له خورد کابل او بت خاک نه چې تیر شو ـ لته بند ته ورسیدو ـ کله چې په لته بند سرویس ورسم شو ـ چلونکي وویل دعا د خیر وکړئ ـ ټولو سورلۍ والا لاسونه پورته کړل ـ دعا وشوه ـ سرویس په فریادونو د غره په موړونو اوخته ـ کله به چې سرویس شاته ټال وخوړ د هر چا زړه به له سینې نه بوټ وخوت فرښتې به غلي له ځان سره وویل ـ څه بد مو وکړل چې په دې کې را روان شو ـ ما به ویلې خیر دی ـ اوس خو راباندې شوې ده ـ ته قرار ویده شه ـ له ډاره خوب نه راځي ـ په لته بند کې خړه ولګیده ـ ورو ورو تورتم کیده ـ هغه چې کړکۍ ته ناسته وه کله به چې خوب یووړه د موټر د جمپ او ټالۍ سره به پما راپریوته ـ ما به خپله اوږه د هغې سر ته ولګوله چې ارام خوب وکړي ـ نیمه شپه وه چې سروبي ته ورسیدو ـ په سرویس کې ناستو کسانو همدا ویلې ښه شو چې په خیر سره تر دې ځای را ورسیدو ـ په سروبي کې ځینې د ډوډۍ خوړلو دوکانونه خلاص وو ـ سرویس د یوه هوټل مخې ته ودرید ویلې ښکته شئ ډوډۍ وخورئ ـ فرښته مې راوخوځوله ـ ما وې پاځیږه خوب به دې پوره شوی وي ـ دا سروبي دی ـ وې ویل ـ شکر خدایه چې سروبي ته خو را ورسیدو ـ دلته څنګه ودریدو ـ د څه لپاره ؟ دلته هوټل دی خلک ډوډۍ ته ښکته شول ـ راځه چې موږه هم ډوډۍ وخورو ـ زه خو ډیر وږی شوی یم ته به هم ـ ته خو یو ځل له بس نه راکوزه شه ـ اخوا ته به لو مړی ورتیر شو ـ متیازې به وکړو ـ بیا به ته په موټر کې کښینې ګوره هغه نورې ښځې هم ناستې دي ـ زه به

درته ډوډۍ راوړم ـ سمه ده ؟ هو راځه چې د سین پغاړه چکري شو ـ هلته وړاندې ګنې ونې ولاړې وې ـ موږ هلته معذرت رفع کړو ـ بیا هغه موټر کې کښیناسته ـ ما ورته له هوټل نه ډوډۍ راوړه ـ زه واپس هوټل ته لاړم زر زر مې ډوډۍ وخوړه ـ بیرته سرویس ته ورغلم ـ ما وې چې ځانته خفه شوې نه یې ؟ هغې ویلي نه والله په دې نیمه شپه کې دې ډوډۍ ښه خوند وکړ ـ په مزه مزه مې وخوړه ـ ما وې هن دا اوبه مې درته راوړي دي ـ دا د هوټل جګ به واپس یوسم ـ نورو د سرویس سورلۍ په هوټل کې ډوډۍ وخوړه او سرویس ته یو یو راختل تر څو چې اخر چلونکی هم راغی کلینر اواز کړو سرویس والا سورلۍ راځئ چې ځو په خیر ـ د سرویس ټولې چوکۍ ډکې شوې ـ سرویس روان شو ـ بیا هم دعایې خیر وشوه ـ په نوره پاتې لاره موټر لږ څۀ ګړندی روان وو ـ ټوله سورلۍ ستړې وه ـ په سرویس کې هیچا خبرې نه کولې ـ موږ دواړه هم غلي ناست وو ـ له سروبې ښکته لاره کې خوب وړی ووم ـ کله چې سرویس له دروټې نه تیر شوی وو ـ یو وخت مې په مخ چا لاس کیښود وې خوځولم ویلې ویښ شه ـ زیاتې راورسیدو ـ سترګې مې چې وغړولې د فرښتې په څنګل مې سر لګولی وو ـ ورو راپورته شوم ـ راته وې ویل مخکې له وخته داسې خوب مه کوه ـ لا وخت ډېر پاتې دی ښه ـ ولې تا چې په لته بند کې زما په څنګل ښه د مزې خوبونه کول نو دا خبره نه وه ـ هغې ورو غوندې په لاس راته زور کړی وې ویل ـ ګلابه د لته بند په لاره هیڅ نه یم پوهـ شوې ـ هو معلومدار نه یې پوهـ شوې دا څنګل او ولی مې اوس هم ویده دي ـ هغې پټ وخندل ویلې یو پر بل مو احسان نشته دی ـ اوس دې ما وې سمه خبره وکړه ـ په دې وخت کې د سرویس له منځه یوه کیوال سړي وویل ـ چربانګ دی ـ د سهار مانځه ته لږ وخت پاتې دی ـ سرویس د سرخرود سیند په نرۍ اوبو ورسم شو ـ لږ وخت وروسته جلال اباد ته ورسیدو ـ سرویس ودرید ـ کلینر غږ کړو ـ وروره بکسونه او غوټه موټه درنه پاتې نشي ـ موږ خپل بکسونه له

سرویس نه راښکته کړل ـ سیده یوه سرایې ته وختو ـ سرایې واته ته مې وویل ـ وروره یوه کوټه موږ ته راکړه ـ بې له هغې سبایې نزدې دی ـ موږ ستړي یو ـ لږ څه دمه کوو ـ هغه وویل نیمایي کرایه کیږي ـ د کوټې د کرایې پیسې مې ورکړې کوټه یې راته وښوده ـ کلي یې راکړه ـ موږ کوټې ته ورننوتو ـ په کوټه کې څلور کټونه پراته وو ـ په هر کټ کې خیرنې بسترې هوارې وې ـ ما وې فرښتې داسې به وکړو چې خالي په دې کټونو کې به کښینو ـ قابو سهار دی او بل دا چې په دې بسترو کې کله خوب کیږي ـ ستا څنګه خوښه ده ـ ویلې ماته خوب نه راځي خو که ته لږ څه سترګه پټوې ـ خوښه دې لږه شیبه وروسته زه خوب وړی ووم ـ خو هیڅ په ځان نه ووم پوه شوی چې څنګه خوب وړی ووم ـ یو وخت مې د موټرو غرهاری تر غوږ شو ـ سترګې مې چې خلاصې کړې او مې لیدل چې هغې زما سر په غیږ کې ایښی وو او خپله خوب وړې وه ـ سر یې یوازې بالښت ته لګولی وو ـ راپاڅیدم د هغې ټیکري له غاړې نه تاو شوی ورو مې د غاړې نه ورله راخلاص کړ ـ او په مخ مې ورته خور کړ ـ زه غلی راووتم تشناب ته لاړم ـ بیا مې مخ او لاس پریمنځل بیرته کوټې ته راغلم ـ هغه په خواږه خوب ویده وه ـ زه کټ کې کښیناستم پخپل چُرت او فکر کې ډوب شوم ـ ( ګلابه په دې وخت کې دا ستا د ځوانۍ جوش او دا د فرښتې د ځوانۍ جوش او ښکلا او داسې حالت بیخي به ورته ایجرا ښکاره شي که څنګه ؟ نه نه غرق شې ګلابه تا خو ورسره په خوږه او حقیقي مینه وعده کړې چې ---- )

په دې وخت کې هغه ورو اوښوریده ـ راجګه شوه لږه وارخطا غوندې شوه له خپل مخ نه یې ټیکری واړه وه ـ سترګې یې وغړولې وې ویل ته ؟ هو زه یم فرښتې څه خبره ده ؟ توبه توبه دا څنګه خوب مې ولید ـ وایه کنه څنګه خوب دې ولید ؟ مسکۍ شوه وې ویل ایسته یې کړه ـ د ویلو نه دی ـ هر څه چې دې لیدلي دي ـ ماته یې ووایه ـ درته وایمه خو ته لومړی ما تشناب ته

بوزه. بیا یې د رته وایم. ښه راځه چې تشناب د روښیم. بیا مې ورته د لاس او مخ د پرینمځلو ځای وروښود. زۀ ورته را دیخوا برنډه کې ودریدم. هغه له هغه ځایه په داسې حالت کې را روانه وه چې مخ پاکي ( روي پاک ) یې لاس کې نیولی وو. وربل یې په مخ را خور شوی وو. په ورو ورو قدمونو راتله. سترګې یې ځمکې ته نیولې وې. ما سره دا سودا وه چې دې به څه خوب لیدلی وي. کوټې ته ننوتو. دستي مې ورته کړو خوب دې راته اوس ووایه. هغې د وربل ویښتان پلاس له سترګو نه واړول وې ویل ته خو لږ صبر وکړه چې زه خو دا خپل ویښتان لوټکي ږمنځ کړم. له بکس نه یې اینه او ږمنځ راواخسته. اینه یې د کټ په بالښت کیښوده ویښتان یې ږمنځول ما زر اینه ورته ونیوه ورته اومې ویل. هن دا اینه به هم زه درته ونیسم. خو چې ته دې ویښتان ږمنځ کړې. مننه زه شرمیږم نه خپله یې کوم ته وړاندې شه. ما وی معلومدار وړاندې کیږم به ځکه چې موږ د کلي خلک یو. ځان مې د کوټې د چت د غټو په جال سره مصروف کړ. هغې ښه ځان سنبال کړ. وې ویل ګلابه اته بجې دي ځو به کنه ؟ ما وې په خدای چې خوب دې راته ونه وایې چې بله شپه هم رابانډې راشي. له دې ځایه به ونه ښوریږم. کټ کټ په خندا شوه. مړه څه د شرم خوب وو. تیر شه ترې. نه هیڅ امکان نه لري زرشه راته وې وایه. مخ یې سور واوخت په سترګو کې ئې د شرم او حیا نخښې ښکاره شوې وې ویل. هسې په خوب کې رابانډې ته.... وې ! وې چیغې مې کړې راویښه شوم. آخ دا نو څه خوب دی ما وې چې دا به څرنګه خوب وي ؟ دغسې خوبونه خو زه هر وخت وینم. د دغسې خوب لیدل تعبیر ډېر ښه او رښتیا کیږي. هغه بیا په خندا شوه. د مینې په خاص نزاکت یې وویل هو ګوره ګوره لره خوله به دې خوږه وي. په بیړه د هغې خوا ته ورغلم. تر څنګه یې کښیناستم. لاس مې ورته راونیوه. ورته اومې ویل. موږ دواړو لوظ کړی دی. ګني تا څه فکر کاوه چې داسې به.... ! لاس مې ورته د خپلې غاړې نه تاو کړ. زما خپل

امانت یې همدا سې مینه خو به کوو اخر زړه لرو ـ ځواني لرو مینه او محبت لرو مینه خو په چل ول او دروغو نه کیږي ـ او بیا خو موږ دواړه الله له وړو کتوبه مین کړي یو ـ ته څۀ فکر کوې ؟ سترګې یې تکې سرې شوې بدن ئې سست شو ـ وې ویل هر شی خپل وخت لري ـ څنګه چې ته فکر کوې هغسې زه هم یم ـ خپل سر یې له شرمه ټیټ کړ غیږ کې مې راکوږه شوه په مخ او دواړو سترګو مې ښکل کړه ـ یوه شیبه په همدغه حالت کې پاتې شو ـ هغه پا څیده وې ویل ـ ګلابه نور به کلي ته ځوو ـ ما وې فرښتې رښتیا هلته کلي کې به په څه شکل سره ملاقات کوو ؟ هو د کلي شرایط خو سخت دي مګر ته به خامخا درې ورځې وروسته یو ځل زما د پلار لیدو په بهانه موږ کره راځې ـ هلته به په باغ کې سره ګورو ـ سمه ده همدغسې به کوو ـ یوه خبره بیا درته تکراروم ـ هغه دا ده چې په کور کې د مور له غوږه دې دا ستا د ورکړې خبره یو ځلې اوباسه ـ بس همدا ورته ووایه چې تر څو مې تحصیل بشپړ کړی نه وي چاته به مې نه ورکوې ـ هغې چې خپل بکس یې نیولی وو له کوټې نه وتله وې ویل ـ ستا سره خو بس دا ویره ده ښه ده ته مه وارخطا کیږه ـ بیا به یې هم ورته ووایم ـ له کوټې نه راووتلو ـ کلي مې سرایې وان ته ورکړه ـ او له سرایې نه ووتو ـ ما وړې که دا بکسونه راسره نه وایې په ښار کې به مو چکر وهلی وای ـ مازدیګر ناوخته به کلي ته تلای ـ هغې ویلې ستا خبره سمه ده مګر کیدی شي ښار ته کلیوال راغلی وي که موږه اوګوري بیا به راپسې پروپاګنډه کوي ـ راځه چې کور ته ځو ـ د کلي اډې ته لاړو ـ یو جیف موټر ولاړ وو ـ له چلونکي نه مو پوښتنه وکړه ـ ویلې درې تنه بې له تاسو کم دي ـ چې سورلۍ پوره شي ـ حرکت کوو ـ موږ تر غغې په سماوار کې چاې وڅښلې ـ چې راووتو د جیف سورلۍ پوره وه ـ وروختو او موټر حرکت وکړو ـ ماسپښین چې کیده کلي ته ورسیدو ـ له جیف نه ښکته شو ـ هغه مې تر کوره ورسوله ـ او زه خپل کور ته لاړم ـ د کلا مخې ته د حجرې تر څنګ مې

ورور ولاړ وو .راتر غاړې وت .بیا بکس راځینې واخیست او کور ته ننوتو. مور مې چې ولیدم. له ورایه په خندا شوه. رامنډه یې کړه غیږ کې ئې ونیوم په سترګو سترګو یې موچې کړم .ورپسې د کور نور غړي راته راغونډ شول. تولو ته مې د خپلې کامیابۍ وویل. بیا مې د پلار پوښتنه له موره وکړه .ویلې بچې پلار دې دا یوه میاشت کیږي چې نه دی راغلی. د تجارت په کار و بوخت دی. په کلي کې نژدې خپلوان زما سترې مشي ته راغلل. ما زدیګر د جمعې مانځه ته د کلي جومات ته لاړم. د کلي خلکو راسره سترې مشي وکړل .ځینو به رانه د پوهنتون او درسونو په حقله پوښتنې کولې. ما به هر یوه ته بیله بیله پوښتنه ځوابوله. درې څلور ورځې مې د همزولو او خپلوانو سره په تګ راتګ تیرې کړې .هره ورځ به لکه د پخوا پشان پنځه وخته مانځه ته جومات ته تلم .کلیوالو ته خو له پخوا نه ځکه زیات ګران شوم چې د یوه وخت د لمانځه قضا یې رانه دې نه وه. ماسخوتن به د کلي همزولي او اندیوالان راته حجرې ته راتلل. تر ماسخوتن تیر به راسره ناست وو .یوه شپه راته هغوی وویل ګلا به سبا نه بل سبا ته به میلې ته ځوو. د زیارت میله ده ساعت به مو ښه تیر شي. له دې خبرې سره د فرښتې خبره مې نیغه زړه ته ودریده .هغې ویلې وو چې درې ورځې وروسته به زموږ کره زما د پلار لیدو په بهانه راځې .دوي ته مې هو وکړه .سبا ته په څلورو بجو د هغوي کره وخوځیدم .زه چې د هغوي کلا ته ورنژدې شوم. بیله هغې دومره لاره خو نه وه. له لیرې مې ولیدل چې فرښته د باغ دروازې مخې ته ولاړه وه. یو وړوکی یې د لاسه نیولی وو. زه یې چې ولیدم. مخې ته را روانه شوه. خوا ته یې ورنژدې شوم. له ورایه یې وویل ما ماما زوی اوس ایله؟ دا چې موږ دواړه یو د بل لیدو ته تږي وو. زړه مو وو چې یو بل سره ټینګ په غیږ کې ونیسو خو ارمان چې کلی وو. سترې مشي یې وکړه ویلې ته څه باغ ته ننوزه زه کور ته ورځمه بیرته زر راځم. زه باغ ته ننوتم. هوا څه نا څه ګرمه وه. ځان مې د

ونو د منځ چوترې یخ سیورې ته ورساوه. په څوکۍ کښیناستم کتل مې چې هغه هم راغله په ګړندیو قدمونو راتله تر څو را ورسیده له لیرې یې راغږ کړ ګلابه رښتیا سبا ته د زیارت میله ده. د کلي انجونې او هلکان ورځې ما او تا به هم ورته لاړ شو. د سبا د ورځې غم وړې یې ته خو راشه د پلار دې راته وواېه کور کې دی که چیرې تللی دی؟ پلار مې یو ساعت مخکې کوز کلي ته کومې جرګې ته لاړ. مور ته مې ستا د راتلو وویل ډېره خوشحاله شوه اوس راځي پلار مې چې راغی ستا د راتلو به ورته ووایم. خو ته دا راته ووایه چې سبا ته به څنګه کوو؟

هغې سره د سبا ورځې د بیا لیدو او د زیارت میلې ته تګ په زړه پورې بهانه وه. ما وې میلې ته به خو ځوو. ولې زه به د هلکانو سره ځم او ته به د کلي انجونو سره. انډیوالانو راته ویلي دي چې سبا ته به یو ځای میلې ته ځوو. مخکې له دې چې مور دې راځي دواړه باید یو بل په... ای بس بس په مطلب دې پوهیږم. هو چې مور یو بل سره ښکلوو او هغه راباندې راشي. ګلابه لږ ساړه خوره. له ما نه خو ته بې واره یې. وې خندل ویلې ګذاره به کوو. په دې کې مزدورې چای راوړې. فرښتې ترې وپوښتلې مور مې راتله؟ هو بي بي اوس به راشي ښه نو ته ځه وروسته بیا د چای پیالو پسې راشه. کتل مې چې مور یې راغله. مور دواړه ورپاڅیدو. زه څو ګامه ور د مخه شوم. لاس نه مې ورښکل کړل. هغې هم په تندي ښکل کړم. د ژوند حال احوال مور و پلار یو ښتنه یې رانه وکړه. ویلې ګلابه زویه باور وکړه چې دا خپل زړه مې درباندې جوړیږي. فرښتې په دې خبره د سترګو د لاندې راته وکتل مسکۍ شوه. وې ویل مورجانې که دا ګلاب راسره نه وای ما هیڅکله پوهنتون نه وایه. خو دا بل شان انسان دی. هغې وویل هو لورې ګلاب خو د ټول کلي ګلاب دی پلار دې بیخي ورته زوی ویلې دي. همیشه یې یادوي. فرښتې بیا په سترګو کې راو کتل. مور لا چای څښلو د فرښتې مور وویل ګلابه زویه بیګاه ته به مور سره

پاتې شي .مننه مورجاني زما خپل کور دی .خالي ددې دپاره راغلم ما وې چې کاکا جان ووینم ته خو مې ولیدې .د هغه لیدو ته به بیا راشم .
فرښتې وویل مورجاني دا په داسې ست کله پاتې کیږي .ښه به دا وي چې کومه ورځ یې رسمي میلمه کړې .بالکل به دا کار کوم .اوس زه ځم چې ماشومان په کور کې ورانی ونه کړي .تاسو مشغولیږئ .بچی که لاړې مور ته دې سلام کوه .د خدای په امان.... !
فرښتې مور ته وویل مور جاني سبا ته خو به د کلي جونه د زیارت میلې ته ځي .چې بیا زه هم ورسره لاړه شم .ولې نه لورې زر وارې خو لاړه شه .
مورې مورږ به لږ ساعت خپلې خبرې وکړو .سمه ده زه لاړم .ما وې په مخه دې ښه شه مورې .
مورږ دواړو ته د ښه ملاقات زمینه برابره شوه .هغه په منډه لاړه د باغ دروازه یې ځنځیر کړه او بیرته لکه د مستې غرڅنۍ پشان جګه غړۍ زما خوا ته راغله .تر څنګه راسره دا ځل کښیناسته .وې ویل .دا درې څلور ورځې مې چې لیدلی نه وی .نزدې مې درپسې زړه چاودلی وو .ددې زمورږ د خلکو دې خدای بیخ اوباسي چې داسې سخت رواج یې دی ش په لیدو کتو هم سړی ګنهګاریږي .
ما وی راجوخته شه اوس خو څوک نشته راغاړې وځه .هغې زما لاس ونیو .وې ویل .ګلابه نه پوهیږم چې اخره به دې څۀ وي؟اخر زما او ستا د مینې ګډ او خوږ ژوند .ته پکې څه شک لرې ؟خپل ښی لاس مې د هغې له غاړې راتاؤ کړ .ورته مې په تونده لهجه وویل ګرد کال زما او ستا په درس ویلو تیر شوی دی .هیڅ د مینې خواله مو سره نه دي کړي .ایله موقع پلاس راغلې ده .فرښتې پریږده چې د مینې تنده ماته کړو .همدا مو وخت دی .په دې وخت کې پاس ونه کې ککو ، ککو نارې شوې .هلته وړاندې په یوه چینار کې ګوګوشتو ، ګوګوشتو اواز پورته شو .ګوره چې ددې باغ مرغۍ به زمورږ د مینې شاهدي ورکوي .ما یې د زنې په خال

ګوته کېښوده .او دا شین خال به زموږ تر منځ د مینې وړل راوړل کوي . هغې رانه ګوته په خوله کې ونیوه . غاښونه یې پرې کېمنډل . زه هم غواړم چې یوه د مینې نخښه درکې پاتې کړم . موږ په ځان نه پوهېدو ښه ډېر ساعت تیر شوی وو . ورته مې وویل ګوته مې پرېږده د ظالم لورې د بدن هره برخه دې خوړنه کوي . ګوته یې راته پرېښوده سترګې یې سرې او ختې وې . له ځان سره مې غلي وویل . د چا پلار به ورته مخامخ کتلی شي . وای ورید . له ځایه پورته شوه . ویلې ستا په سترګو خو هندویې مسلمانېږي . راپاڅه همدومره بس دی . سبا خو به ته هم د هلکانو سره میلې ته ځې . هو خود ځمه . دواړه به میله کې سره ګورو . له باغه ووتو هغه کورته ننوته او زه خپل کور ته لاړم . سبا یې نهه بجې وې . چې انډیوالان راغلل . ما هم ځان برابر کړی وو . نوې سپینې جامې او تور واسکټ مې واغوست او له ملګرو سره میلې ته روان شوم . په دروازه کې چې راوتلم . مور مې وویل بچی خدای دې د بدو سترګو وساته . ډېر ښکلی ښکارې . په لاره راته هلکانو هم وویل . ګلابه نوي کالي او واسکټ درسره ښه ښکاري . زه له ونې جګ ووم . خو نه پوهېږم له رنګه به دوي ته غوږ ښکاریدم د هر چا راباندې مینه راتله . له کلي نه چې ووتلو . ډلې ډلې ځوانان او پېغلې واړه زاړه میلې ته روان وو . زیارت ته چې کومې لارې ورغلې وې . مخلوق د خدای پرې ور روان وو ـ دوړې او ګردونه پورته کېدل . ما سره مې انډیوالان د کلي د کڅ په نرۍ لاره روان وو . د میلې ځای ته د موټر لار نه وه ورغلې . له ډېر پخوا نه دغه د زیارت عنعنوي میله ددغه ځای د کلیو د خلکو رواج پاتې شوی وو . همدا شاه د لیرې سیمو خلک هم ورته راتلل . د زیارت موقیعیت د غره په لمن کې د شنو ونو او سیند تر منځ وو . د جګې تپې په سر د زیارت ګنبده ښکاریده . موږ چې د کڅ نیمایي لاره ووهله . شاته او مخې ته په لارو د ښځو او نرو قطارونه ښکاریدل س هره خوا به مې په فرښتې پسې پام کاوه . خو په نظر به نه راتله . ملګرو به په

لاره ټوقي ټقالي کولې ـ په خبرو خبرو کې زیارت ته ورنږدې شو ـ د زیارت په غونډۍ او شا و خوا شنه واښه او ونې ولاړې وې ـ څو به چې زیارت ته نژدې کیدو د خلکو ګڼه ګوڼه زیاتیدله ـ دې میلې ته به هر چا نوې جامې اغوستې ـ هر څوک به په ډول سینګار میلې ته ورتلل ـ انډیوالانو وویل ـ لومړی به زیارت ته ورشو ـ دعا به وکړو ـ او هم به سیلونه وکړو ـ وروسته به هر چیرې چې ښه ساعت تیري وه ورځو به ـ یوه وویل ټیله ټمبه د خلکو زیاته ده که سره بیل شوئ ځان به د هغې غوز ونې لاندې رارسوي ـ زیارت ته نژدې ورتلل څه اسان کار نه وو ـ مخلوق د خدای خوځیده ـ موږ چې د ننه زیارت ته ورننتو تلو ـ یو پر بل پسې روان وو ـ ښځې او نر ولاړ وو ـ هر چا د یو څه سوال او دعا کوله ـ په موږ کې یو وه ـ وې ویل انډیواله دعا وکړئ چې الله د هر چا د زړه مراد تر سره کړي ـ کلک او سخت زړونه دې الله نرم کړي ـ په دې خبره هلته ولاړ اندې د زیارت په یوه کنج کې د کلي جنیکۍ ولاړې وې فرښته هم ورسره وه ـ هغوي ټولو په برق برق وخندل ـ زما او د فرښتې سترګې سره مخامخ شوې ـ اشاره مې ورته وکړه ـ چې بیرون او ځه ـ هغه له نورو انجونو نه بیله شوه ـ د نورو ښځو په ټیله کې خپل ځان له دروازې نه بهر کړ ـ ما هم ځان له ملګرو نه وواهه ـ بیرون ته ورپسې ووتم ـ هغوي ټول پخپله تماشه وو ـ بیرون د زیارت دروازې سره هغه ولاړه وه موږ دواړه وړاندې ودریدو ـ له روغبړ نه وروسته مې چې ورته فکر شو چې هغې هم نوې جامې اغوستې وې ـ جګې نرۍ ونې سپین مخ توري ښکلې سترګې او نریو سرو شونډو ته یې زړونه اوبه کیدل ـ لکه د باغ سبره دنګه ولاړه وه ـ ورته مې وویل فرښتې ټیکری دې په مخ راخور کړه ـ د ظالم لورې ټول مخلوق درته ګوري ـ د نظره نشې ـ نن څه بل شان ښایسته شوې یې ـ ځان دې اینې کې لیدلی ؟ای لیونیه تاسې چې زیارت ته راننوتی ما سره د کلي جینکو راته وویل ـ دغه هلک څوک دی ؟ما وې ولې ګلاب نه دې څه ؟ ویلې ښه دا ګلاب څومره ښکلی دی ـ او دا یې هم

وویل ستا خو همصنفي دی .ورته وویل چې کور ته لاړې مور ته دې وویل چې سپیلنې درته لوګی کړي .او ته دې هم مور ته وویل چې لوګی درته وکړي.هاغه یوې لا دا وویل تاسې دواړه ښه جوړه کیدی شئ.ما وی هو هر څه چې د نورو په قضاوت وشي ښې له ځي .فرښتې دلته نور د خبرو وخت نه دی. ته مور ته څاره هرې خوا چې تلو .تاسې هم په هغه لوري راپسې راځئ.زما اندېوالان هم له دروازې نه راووتل.سره یو ځای شو. کتل مې چې د کلي پیغلې له زیارت نه راووتلې.وړاندې ورته هاغه ولاړه وه.سره وې لیدل.رښتیا هم هغوي ټولو ماته کتل او تیریدلې.له موږه یو تن وروسته شوی وو .هغه ته مو انتظار کاوه.جینکۍ چې د فرښتې خوا ته ورغلې.لومړی یې څه سره وویل.بیا یې زموږ خواته وکاته.ټولې په خندا شوې.تر هغې ولاړې وې.تر څو چې موږ روان شو.هغوي هم په موږ پسې ورو ورو راتلې .زیات خلک د سیند غاړې ته ور روان وو.موږ هم سیند ته ورښکته شو .له سینده پورې د غره ډډه په ممانړو ، غوړاځکو ، ګورګورو ډکه وه .د غره پورتنۍ برخه په نخترو او څیړیو پوښتلې وه.د سیند اوبه هر چا په لپو لپو وڅښلې.ډیر خلک د سیند په غاړه ناست وو. څوک تلل او څوک راتلل.په موږ پسې د کلي انجونو ډله هم راورسیده.د ګرمۍ له جوشه ټول تږي وو.هغوي هم په لپو اوبه وڅښلې او ځینو لا مخ ته هم اوبه واچولې.د ونو لاندې سیوري ته پنډې شوې.خپلو کې ئې سره ټوقې ټقالې کولې .په هغوي کې هم ځینو د کلي هلکانو سره لا پخوا د مینې تار غزولی وو.یو بل سره یې د مینې تنده ماتوله.شا و خوا میله ګرمه وه .یو ځای کې موسیقي غږیده .په بل ځای کې خلکو کبابونه پخول.وړاندې چمن کې مداري خپل ډوله کی واهه.خلک ترې تاو وو. تر مازدیګره مو ښه سیلونه وکړل.د میلې له ځایه ورو ورو خلک کلیو ته روان شول.موږ هم د کلي په لور په چکر چکر وخوځیدو .تر څو چې کلي ته رسیدو لمر د غرونو په سرونو واوخت.نزدې ماښام شو.هر یو به د

کلي په کوڅو کې د خپل کور په کوڅه ورسم شو. زما او د فرښتې کورونه د کلي په کوز سر کې وو. اخر زه او فرښته سره د لارې په سر کې یو ځای شو. هغې وویل ګلا به ساعت دې تیر شو. ولې نه ډیره ښه میله وه. ما وې ستا څنګه... ؟ما خو نن ډیرې ښکلاګانې ولیدې مګر.... ! نو مګر دې پکې څنګه وویلې ؟ په دې ته خپله ښه پوهیږې. زموږ د بېلیدو لارې را ورسیدې. هغه چې بیلیده وې ویل. سبا مازدیګر ته په راشې. سمه ده. ما وې بالکل سمه ده.

کور ته چې لاړم د میلې قیصه مې مور ته وکړه. هغې وویل هو بچې د زیارت میله خوډېره ښه او په زړه پورې وي. موږ هم ډېر ځلې ورغلي یو. ددې خلکو لپاره یوازې همدا زیارت میله شته دی. چې د خلکو پکې ښه ساعت تیریږي. دلته د خلکو لپاره بله ساعت تیري نشته دی. د ماښام له ډوډۍ نه وروسته د کلي همزولي او دوستان مې حجرې ته راغلل. هر یوه به د میلې خبرې کولې. تر نیمې شپې به چاې او چلمونه بادیدل. زما دهیڅ نشه یي توکو سره علاقه نه وه. هغوي به راپورې ملنډې کولې. ویلې به ئې ته چې نسوار نه کړې چلم او سیګرټ نه څکوې نو کوم عمل کوې؟ ما به ورته یوازې ویلې اوبه او ډوډۍ مې عمل دی او بس. زه په هغوي ډېر ګران ووم او هغوي هم پما ګران وو. پس له نیمې شپې نه هغوي له حجرې نه خواره شول. په دې شپه هم تر ډېره ناست وو. هغوي چې لاړ. زه هم کور ته ننوتم. خپلې کوټې ته لاړم ویده شوم. سبا په څلورو بجو بیا د هغې کور ته روان شوم. کله چې د هغوي کور ته ورسیدم. یو وړوکی مې کلاته ورننویست. کتل مې چې فرښته رااوتله. په دروازه کې له خندا شنه وه. له سترې مشي نه وروسته یې وویل. په ښه وخت کې راغلې. څرنګه په ښه وخت کې راغلم ؟ مور و پلار مې دواړه کور کې نشته دی. د کاکا دوي کره همدا نن ماسپښین لاړل. دا یې هم راته وویل چې ناوخته راځو. په کور کې دوه واړه دي او مزدوره ده. نور هیڅوک

نشته دی .زه خو وايم چې دننه ان زما کوټې ته لاړ شو بيا يې وخندل سپين غاښونه يې په سرو شونډو کې وځليد .ما وې دومره زړوره نه يې. ګلابه خدای به مو دا ارمان هم پوره کړي. درځه چې د باغ چکر ووهو .باغ ته ننوتو .دروازه يې ځنځير کړه. ما وې راځه دننه کوټه څه کوې. دا ګلونه او دا ښکلا مورې ته وايي چې لاس تر لاسه ونيسئ. دواړو لاسونه سره ورکړل .او د بڼ وړاندې چوترې ته قدم په قدم لکه استبرو روان وو. چوترې ته چې ورنږدې شو لاس يې رانه خلاص کړ وې ويل. ګلابه څه چل رابانديې وشو. په څوکۍ کښيناسته. سترګې يې بيا سرې شوې. ته وا پيالۍ يې څکولي دي .زه خو پرې پوهيدم چې د پيغلتوب او ځوانۍ د مينې نشه پرې راوختې ده په څنګ کې ورسره کښيناستم په غيږ کې مې ونيوه. ما وې څۀ دربانديې وشو ؟ غږ يې نه کاوه مړه خوله يې په تندي راغله ما يې په مخ لاس تير کړ .فرښتې څه خبره ده .د شونډو په سر يې ورو وويل دا ته چې څه فکر کوې. همدغه خبره ده. بله به څه خبره وي. هغې خپل لاس په زړه کيښود .وې ويل ددې خبره ده نوما وې څه چل پرې شوی دی ؟ بل کوم چل نشته زړه مې تا وړی دی ماښه ځانته رانږدې کړه ورته مې وويل يو شاعر وايي

خــوا تــه رانــږدې شــه چــې خپــل زړه درکـــړم
دې نـــه زيـــاتي ووايـــه نـــور څـــه درکـــړم

راپاڅيده ځان يې رانه لرې څه جدا کړ وې ويل. ته صبر وکه چې حوصله مې په ځای شي. په مخامخ چوکۍ راته کښيناسته. د خبرو نه وه. مرې خولې پرې را روانې وې. بيا مې ترې پوښتنه وکړه .فرښتې کوم ځای خو دې نه خوږيږي .وې ويل ګلابه ښه به دا وي چې تر څومره هغه وخت نه وي رارسيدلی بيا به يو له بله نه لګيږو .ولې نو اخر څه خبره ده ؟ هو څه خبره ده. څرنګه يې درته ووايم. اخر شيطان لرو .منګی خو هره ورځ نه ماتيږي

بې له هغې دواړه په اومه تار تړلي يو ـ ښه ده چې ته څنګه وايې هغسې به کوو ـ دا خو ډېره اسانه خبره ده ـ پس له دې به لکه د ټيليفون پشان له ورا يه خبرې کوو ـ سمه ده ـ نه هسې زه تاته حيرانه يم چې په دې ځوانۍ کې څومره حوصله لرې ـ ګرانې فرښتې پوهيږم چې ستا په زړه کې څه دي ـ خو په مينه محبت کې دا رواج دی چې عاشقان تل همدا سې کوي ـ ګلابه ستا خبره په ځای ده ـ دا کلی دی او د کلي خلک ما او تا ټولګي وال پيژني ـ څوک زموږ د مينې نه خبر نه دي ـ لږه خطا که رانه وشي ـ رسوا به شو ـ
فرښتې زه په ځان باور لرم کله به ام حطايي ونه کړم ـ ولې د انسان فطرت او بيا په تېره ستا خبره د ژوند په دې ورځو کې له دا سې پاکې مينې نه انکار کول ګناه ګڼم ـ ته اوس هغې پخوانۍ د کلي د کوڅو جينۍ نه يې ـ ته د دې ملک د پوهنتون د لوړو زده کړو لارويې يې ـ درباندې باوري يم چې احساسات دې سپيڅلي دي ـ او چت دي په احساساتو کې د پښتو او پښتني حيا ټولې حياګانې خوندي دي ـ خو زۀ هسې په دې نظر يم چې زما او ستا د وعدې د پوره کيدو نيتې پورې د خپل ابرو مند ژوند چوکاټونه هم مات نه کړو ـ او هم په ښوروا کې ما ته کړې ډوډۍ ته لاس تر زنې کښې نه نو ـ ته پکې څه وايې؟ هغه چې له مخکني حالت نه دوباره په خود شوې وه خپل وينښتان يې له مخ نه مخ پورته واړول وي ويل ـ ګلابه په خبرو کې دې ادبي نخښې ښکاري زه هم د ادبياتو د پوهنځي محصله يم ـ مګر يو ډاکټر د رنځور سره په خپلو مهربانه او نرمو خبرو سره د هغه د رنځ کمې راوستی شي ـ په کوم ژوند کې چې د انسانانو په هره مرحله کې د لوړ ادب او کولتور خواږه موجود وي ـ په زړونو کې د ښې روښانه راتلونکي هيلې په تمه د ژوند رنګينۍ زياتيږي ـ نا هيلي توب له مغزنو نه کډه کوي ـ نو ځکه مې درته د يوې ښې راتلونکي په هيله هغه وړاندېز وکړ ـ ستا خبره ټيک ده ـ فرښتې زما په نظر د مينې او محبت په جوش او

مستۍ کې په تیره بیا د دوه میناټو د یو ځای کیدو په خاصه مرحله او شیبو کې نور څه نه ځائیږي. یوازې مینه کول او بس. زه یوه شومه ګلابه په دغه خبره بل منطق نه خیژي. زما او ستا مینه پاکه ده او ددې پاکې مینې تر پوره کیدو او سرته رسیدو پورې به لکه څنګه چې دې وویل هماغسې کوو. هغه را پاڅیده زما خوا ته رانژدې شوه. ویلې خفه خو نه شوې ګلابه؟ نه نه ولې خفه شم موږ خو یوازې د مینې په راز وغږیدو. موږ به تر اخره همدغسې مینه کوو.
اوس به راځه د باغ د ګلونو ښایستونه اوګورو او هم به په داونو کې د مرغیو سندریزو اوازونو ته غوږ کیدو. باور وکړه چې د هغه نرګس نه راته ته ښکلې ښکارې. زه هم چې دا څومره ددغه ګلاب رنګ او خوشبویۍ ته ګورم. ستا ښایست مې پکې په رب که لیدلی وي. بله خبره دا ده فرښتې چې دا ټول کلي ما ښه پیژني. زه ورسره پنځه وخته په جمعه حاضر یم. له وړوکتوبه ورته معلوم یم. ته په دې باب هیڅ فکر مه کوه. او ای اخر مینه هم پټه نشي پاتې کیدی. هغه په خندا شوه وې ویل. ګلابه درباندې پوهیږم چې د مینې له تاوه دې څومره ښې خبرې راته وکړې. ما وی د پوهنتون د اخر کال اخري سمستر کې به دې په پلار جرګه وکړم نور څه وایې. فرښتې نن دومره بس دی. رښتیا د رخصتۍ ورځې مخ په ختمیدو دي. بلې پنجشنبې ته به ځوو په خیر. راځه چې له باغه اوځو وخت ناوخته دی ګوندې مور و پلار دې هم کورته راشي. له بن نه راووتو هغې نه مې اجازه واخسته. او کور ته لاړم. مور مې راته وویل. ګلابه زویه پلار دې ځواب رالیږلی دی. بیګاه ته د دوه میلمنو سره را روان دی. حجره درسره سنبال کړه. د ګیس تیل اوګوره. کټونو باندې نوې روجائي ګانې وغوړوه. زموږ حجرې د کلا تر څنګ وي. یو لوی سالون و چوکې پکې پرتې وې او بله کوټه کې کټونه پراته وو. د دواړو کوټو تر منځه دهلیز او څنګ ته یې تشناب وو. هر څه مې په وخت برابر کړل. چرګان

حلال شول مور او خویندې مې په پخلي کې بوختې شوې . ما سپښین قضا وستل ته ووتلم . ډیرۍ خلک په وستل کې پنډ شوي وو . زاړه او ځوانان سره ناست وو . چا خپلو کې سره خبرې کولې . وړاندې د لښتي پغاړه نائي لګیا وو د ځینو ویښتان یې ورجوړول . د یوه سړي په ویښتانو کې نایي زر زر بیاتي چلوله . ناستو کسانو ته یې نکل راخیستی وو . ځینو اینه مخې ته نیولې وه سونت یې اخیستل . چا د خپلو یوندو چا ودونه په ستن ګنډل . بعضو نوکان پریکول . یوه تن هسې خپلې مخې ته شیګه هوا روله او څه کږې وږې غوندې کرښې یې پکې ایستلې . یوه د خپل جیب نه د نسوارو ډبلی راویوست . درې څلورو ورته خپل لاسونه ونیول . هر یوه ته یې د لاس په ورغوي کې نسوار ور واچول . ما د خپلو انډیوالانو سره دوستل په ګوډ کې خپلې خبرې کولې . له دغه وستله څو لارې کلي ته ننوتلې وې . د کلي خلک په کوڅو کې تلل راتلل . دوستل تر څنګ د اوبو ډک ویاله نیره شوې وه . چې د کلي هیلۍ پکې ښکته پورته تلې . له لیرې نه د ویالې له غاړې نه د ښځو د جامو مینځلو د څوباړو خرپا راتله . وخت مازدیګر شو د کلي جونو قطار د ګودر په لور له لیرې څخه ښکاریده . پاس د غره په ډډه کې به د بزې او وړوکي ورغمي ( د بزي بچي ) اواز غوږ ته رارسیده . په دغه ورځ وستل له خلکو ډک معلومیده . ما سړک ته کتل د پلار د راتګ شیبې مې شمارلې . له دوه تنو ملګرو سره د سړک خوا ته ور وخوځیدو . شیبه پس یو ګاډی راغی . انډیوالانو ته مې وویل . کیدای شي چې پدغه موټر کې مې پلار وي . لږه شیبه کې موټر راورسید . رښتیا هم پلار مې له دوه میلمنو سره له موټره راښکته شول .

---

د یو میلمه رنګ له هغه بل نه زیات تور وو. له وني نه جګ سپینه خولۍ یې په سر وه. له غاړې عربي دستمال تاؤ کړی وو. اوږدې جامې یې په تن وې. هغه بل له تنې چاغ او چت د پنجابي پشان وو. لومړی زه د پلار مخې ته ورغلم. هغه په غیږ کې ونیولم. ما یې لاس ورمچې کړل. هغه په دواړو ښکل کړم. بیا مې میلمنو سره روغبړ وکړ. بیا یې هغوي دواړه دومره راوپیژندل. وې ویل دا زما ملګري دي. موږ ترې بکسونه راونیول. او د کور لاره مو ونیوه. مازدیګر لمونځونه کیدل چې موږ د کلي په وستل ورتاؤ شو. په وستل کې ناستو کسانو زیات عرب ته ورکتلي. ځکه چې د هغه جامه بدله وه. حجرې ته چې ورسیدو هغوي د لمانځه لپاره بیړه کوله. میلمنو دواړو اودسونه وکړل. پلار مې کور ته دننه لاړ. وروسته د مانځه نه چاې راوړل شو. میلمنو ته په میز چاې کیښود شو. پلار هم راغی. هغوي سره مخامخ کښیناست. په داسې حال کې چې د چاې پیاله یې پلاس کې وه. وې ویل ابو دا مې زامن دي. ما ته یې ګوته ونیوه. ویلې دا مشر زوی مې ګلاب نومیږي. د طب فاکولته کې دی. او دا بل دلته ښوونځي وايي. شیرو نومیږي هغوي دواړو د تائید سر وخوځاوه. له رنګه چې تور او پوره غوښ چاغ وو هغه په پښتو کې وویل شکر دی چې داسې زامن لرې. بختور یې. عرب دومره وویل ماشاء الله. هغه په پښتو لږ لږ پوهیده. پلار مې هغه ته لاس ونیو وې ویل. ګلابه زویه دا د سعودي دی له پخوا نه دلته کاروبار لري. شیخ مجید نومیږي او دا بل الطاف حسین دی چې په اصل کې د پنجاب د علاقې دی خو زیات عمر یې دلته تیر شوی دی د لرګیو تجار دی. دواړه زما دوستان دي. ما وې ډیر ښه پلاره. دوي مسافر دي. کله کله یې له ځان سره راوله پلاره. ستا خبره ټیک ده بچی خو دوي کله دومره وخت لري. په ډیر عذر مې راوستل

.ما وې چې دا زموږ کلی وويني .هو رښتيا ګلابه دا زموږ د درې وارو جامې بايد پريمنځل شي .تر څو سبا ته دوي په خير سره واپس تلونکي دي. کور کې ووايه چې تر سهاره بايد جامې وچې وي او په بکسونو کې سنبال وي. ما وې ښه پلاره دا اوس يې بايد يوسم. جامې يې راکړې او کورته مې ننويستلې .د ماښام ډوډۍ نه وروسته شيخ مجيد او پنجابي الطاف حسين دواړه يو بل ته سره نزدې څنګ په څنګ ناست وو. پلار مې دننه کور کې وو. هغوي دواړو خپلو کې په انګليسي خبرې پيل کړې. زه د سالون دروازې ته څيرمه ناست ووم .شيخ د پيرو شونډو او غټو سترګو پخپل ډډ اواز الطاف ته څه ويل .زه خو په انګليسي هومره يوهيدم .هغوي دواړو زموږ د وطن د شمال ځمکو د ښکاري مرغانو صفت کاوه. اووې ويل چې دا مرغان عربو کې په ګرانه بيه پلورل کيږي. له ځان سره مې وانګيرله چې شيخ د مرغانو تجار دی.

پلار مې د معرفي او پيژند ګلوۍ په وخت کې راته دومره ويلي وو چې موږ درې وارو د ګُردمو کاروبار کوو. په دې کې راته الطاف حسين وويل .بچی ته په انګليسي پوهيږې ؟ما وې نه کاکا جانه موږ يوازې په پښتو او دري کې سبق وايو .هغه سر وخوځاوه. ويلې ډېر ښه. سمدستي يې شيخ ته مخ ور واړاوه وې ويل. ابو افغانستان کې هر څه پريمانه دي. خو افسوس دی چې افغانان ترې بې خبره دي .دا خواران له لوی خوا بې سواده دي. او له بلې خوا بې وسه او غريب دي. حکومت يې مطلقه شاهي ده. زه وړوکی رالوی شوم چې دلته صرف ظاهر شاه پاچهي کوي. اولس يې په دا يو حال ساتلی دی. هيڅ تغير پکې نه راځي. ته ګوره ابو دا د دوي ځنګلونه او معدنونه په خپل حال پاتې دي. چا لاس نه دې ور وړی. يوازې لکه زموږ پشان څو تنه تجاران د دوي له غرونو نه نخترې وهي. موږ هم بشونه ، ګرودمي ، ډاګې ترې چلوو .له غرونو نه يې نور سوداګر بيروج ، لعلونه او زمرد په غير فني توګه را اوباسي او نورو ملکونو ته

یې د پلورلو لپاره وړي .شیخ وویل که ددې ملک معدنونه او ځنګلونه سنبال شي او معدنونه یې دغه قیمتي کاڼي راویستل شي باور وکه چې داملک پرې ابادېدی شي .یوازې دا ښکاري مرغان چې مږ له دې وطن نه وړو .د نړۍ له نورو مرغانو نه یې قیمت څو چنده زیات دی.کله چې زموږ عربان دا مرغان ووینې په هر څومره ګرانه بیه چې وي اخلي یې .په دې وخت زما پلار حجرې ته راغی ماته یې کړو بچی ورشه ډوډۍ راوړئ.

له ډوډۍ نه وروسته هغوې د ماسخوتن تیره پورې پخپلو تجارتي کارونو ګړیدل.سبایې چې راپاڅیدل له چاې چښلو نه وروسته د تلو په تکل کې شول.کله چې له حجرې نه وتل.زما پلار ته دواړو وویل.دوه ورځې وروسته ځان راوروسه.چې د هغه ارباب موضوع فیصله کړو. پلار مې ورته وویل.زه به خامخا دوه ورځې دلته په کلي کې حصاریږم. ولې چې ځنې کارونه مې دلته هم نیمګړي پاتې دي.تاسو زما په باب فکر مه کوئ.ځان به درورسوم.موږ له میلمنو سره تر سړکه لاړو .هغو سره مو مخه ښه وکړه .واپس د کور په لور وخوځیدو .ما مې له پلاره پوښتنه وکړه .ما وې پلاره دا عرب او پنجابی درسره په تجارت کې شریک دي که څنګه ؟ هغه وې زویه هو موږ درې واړه له پخوا نه سره پیژنو .اصلاً زه او دا پنجابی د لرګیو کاروبار کوو .او دا شیخ د مرغانو کار کوي.دې د سعودي اوسیدونکی دی.له ده سره موږ دواړه په اسلام اباد کې اوپیژندل.اصل کې خو لومړی زه او دا پنجابی الطاف حسین په کونړ کې سره بلد شو .او هغه داسې چې د لرګیو په ګودر کې مو سره هره ورځ لیده کاته کیدل.یوه ورځ راته ده وویل ما د یوه مومند سره شریک کار کاوه .هغه راسره لږه ټګي وکړه ده ویل راځه ته دلته بلد یې دا ستا وطن دی دواړه به سره ګډ کار وکړو .که پیسې درسره نه وي هم پروا نه لري.خالي ملګرتوب راسره وکړه د لرګیو په ډله کې راسره شریک شه.په هغه وخت کې ما سره پیسې کمې وې.هماغه وو چې موږ دواړو په ګډه

یو ډله جوړه کړه ـ د شوریک له سره مو د ګوردمو یوه ډله سیند ته راښکته کړه ـ چپه کنبود اوړي په ډک سیند کې په یوه شپه کې ټلونه تر جلال اباده تیر کړل ـ او سمرخیلو ته یې ورسول ـ له هغه ځایه مو بیا ان پېښور ته لاړو ـ په هاغه کال مو دري ځلې د ګوردمو ټلونه تر پاکستانه ورسول ښې پیسې راته پکې ګټه پاتې شوې وې ـ له هغې وخته راهیسې مو یو پر بل پوره اعتبار او باور زیات شو ـ پنجاب ته ورسره لاړم ـ یوه د حجارۍ فابریکه لري ښه کاروباري دی ـ بیا یې اسلام اباد کې له شیخ مجید سره بلد کړم ـ هغه په اسلام اباد کې په یوه ښکلي کورکې اوسیده ـ کله به په دوره افغانستان ته تلو ـ اصلي د اوسیدو ځای یې پاکستان کې وو ـ د پېښور ، باجوړ ، کونړ په درو کې ډېر اوسیدلی وو ـ پښتو یې زده کړې وه ـ له پخوا نه یې همدا تجارت کاوه ـ کله به دی موږ سره په کونړ کې اوسیده ـ او کله به لا موږ ورسره د مزار او کندز د ښتو پورې لاړو ـ په شپو او ورځو به ورسره وو ـ فارسي ژبه یې هم یاده کړې ده ـ په سعودي کې له دوه ورونو سره د تیلو پاکولو کارخانه لري ـ دې د ښکاري مرغانو سره علاقه لري ـ په ښو مرغانو پسې هڅه کوي ـ په هدې تجارت کې یې ښې پیسې پیدا کړي دي ـ له بله پلوه دده د تره زوی بیا د کانو تجارت کوي ـ هغې سره هم موږ کار کوو ـ چیرې چې یې کار بند شي ـ زه ورسره مرسته کوم ـ ماته خپله برخه راکوي ـ د پیچ درې بیروجو ا د بدخشان لاجورد پسې ورسره څو ځلې تللی یم ـ

ما وې پلاره دا دومره پیسې چې ته اخلې او په تجارت کې یې هم ګټې ـ دا چیرې او څه پرې کوې ؟ زویه څه پرې کوم ـ خو تاسې ته ګټه کوم ـ راتلونکي کې به همدا تاسې ښه ژوند پرې کوئ ـ پیسې په اسانه نه ګټل کېږي ـ بچی ته تجربه نه لرې کله چې دې کار پیل کړو بیا به درته پته لګیږي چې پیسې څومره په سختۍ ګټل کېږي ـ دومره درته وایم چې خپل تحصیل او زده کړه سرته ورسوه ـ د پیسو غم مه کوه ـ تر څو زه درته

ژوندی ووم پیسې ډیرې دي.زما دا خبرې به هیچا ته نه کوې.دا ځل چې کابل ته لاړې.یو ښه کور که چا خرڅولو ماته به ځواب راولیږې.چې وایې خلو .ما وې پلاره دا خو دې ښه خبره وکړه په کابل کې خو کور ډېر ضرور دی.په دې وخت پلار مې ساعت ته پام کړ ویلې زه ځم چې کلي کې مې څه کار دی.بیا ورته وخت نه لرم.موږ د خپلې کلا مخې ته راورسیدو .هغه کلي ته ورغی او زه لومړی خپل باغ ته ننوتلم .په باغ کې مې چکر واهه او د پلار خبرې مې په زړه کې ګرځیدې.( په کابل کې یو ښه کور واخلو .دا به څومره ښه شي.کیدی شي زه او فرښته به پکې اوسیږو ) که ژوند باقي وو د پلار کاروبار مې همدغسې روان وو .ټول کارونه به مو سم شي .زه لا په دې سوچونو کې ووم چې مور مې راناړې کړې.ګلابه وا ګلابه انډیوالان دې د حجرې مخې ته ولاړ دي.د مور ددې خبرې سره په چابکو ګامونو له باغه ووتم .هلته د حجرې مخې ته دوه تنه انډیوالان مې راته ولاړ وو.زه یې چې ولیدم هغه یوه یې دستي راغږ کړ.ګلابه راځه چې دوستل په لور چکري شو .علي جان او داد محمد زما نږدې دوستان وو .علي جان راته کړو .ګلابه دا بیګانې میلمانه خو ستاسو بیخي بدل غوندې خلک وو.ما وې هو هغه یو د پنجاب دی او بل یې عرب دی. هغوی تجاران دي.زما پلار سره بلد دي.نن سبای وختې لاړل.پلار مې دوه ورځې وروسته ځي.په خبرو خبرو کې وستل ته ورنږدې شو .له لیرې مو کتلې چې په وستل کې څو تنه د کلي خلک ناست وو.د هغوی د خندا غږ تر موږه رارسیده.وستل ته چې ورغلو یو تن د پاخه عمر سړي د توت ډډ ته تکیه وهلې وه.نورو ناستو کسانو ته یې نکل راخیستی وو.ناست کسان ورته له خندا نه شنه پراته وو.د یو تن چې خوله یې دنسوارو نه ډکه وه ناڅاپه یې زموږ مخې ته پړت شو .نسوار راتوې کړل.زر یې بخښنه وغوښته وې ویل.ګلابه معافي غواړم.لیدلی مې نه وی.د خندا له لاسه مې نسوار په خوله کې ګډ وډ شول.دا میرو دې خدای غرق کړي له خندا

نه یې مړه کړو ـ همیشه اپلتي وايي ـ هغه رښتیا هم د کلي د برسر تهوقي وو ـ د هغه تهوقي سمې سړي پورې نښتلې ـ مګر څوک پرې نه خفه کیدل ـ او که چا به ورته کنځل هم وکړل ـ هغه نه پرې خفه کیده ـ لیکوال به یې تل خوښ ساتل ـ
هغه وویل څه وکړو ځوانانو په دې تهوقو تهقالو وخت اړوو ـ بې کسبه او بې کماله یو ـ کاروبار نشته که دا خپل عمر پخپله خوشحاله ونه ساتو ـ رنځ به وا خلو تهولو ورسره دده خبره تائید کړه ـ یوه بل سړي وویل ـ دا زموږ وطن کې بې کاري ده ـ یوازې په دې لړه مځکه کار نه کیږي ـ په دې ځمکه او دهقانۍ د هیچا ژوند نه سنبالیږي ـ هسې مرګ ته شپې تیروو ـ ما یې په ځواب کې وویل ـ کاکا جانه دا زموږ او ستاسو ګناه نه ده ـ دا د وخت د حکومت او معاشرې قصور دی ـ تل یې په بې کارۍ او بې علمۍ کې ساتلي یو ـ تاسو یې پخپلو سترګو وینئ چې اکثره ځوانان د بیکارۍ نه په چرسو اپیمو او پوډرو اخته دي تهوله ورځ په خرابو کنډوالو کې ناست وي او بوډر څکوي ـ که دوي ته د کار شرایط برابر وي او په کارونو بوخت وای نو ولې به ئې بدو عملونو او نشو ته پناه وړه ـ
یوه سپین ږیري وویل ـ ګلابه بچی تا ښه خبره وکړه ـ آ بله ورځ د کلي په اخوا هغو شاړو کورنو راتیریدم ـ د غرمې وخت وو ـ ګرمي هم په زور کې وه ـ له هغو کنډرونو څه خبرې راتلې ـ په یوه رنیدلي دیواله مې سر ښکاره کړ ـ او مې لیدل چې څو تنه ځوانان دننه کنډر کې په تاوده لمر کې په داسې حالت کې سره ناست دي چې څادرونه یې په ځانونو خواره کړي دي لګیا وو پوډرې ئې څکول ـ خپلو کې یې تنکۍ تنکۍ خبرې سره کولې ـ خدا زده چې څه به یې ویلې کار مې پرې ونه لاره ـ ترې را روان شوم ـ الله دې پرې خپل رحم وکړي ـ علي جان راته پټ غوږ کې وویل موږ باید چکر ووهو ـ په وستل کې له ناستو خلکو نه مې په ادب سره اجازت وغوښت هغوي وویل ـ ځئ لاړ شئ چکر ووهئ ـ موږ چې ترې را روان شو ـ یو تن

نورو ته وویل. کاشکې ټول ځوانان لکه د ګلاب پشان واي. نورو کسانو هم څه سره ویلې. خو مور. ترې رالیرې وتو. ما هغو دوه تنو اند.یوالانو ته وویل. د میرو دغه نیوه کې په ځوانانو سمې دي. ځکه چې د ځوانانو دغه حالت ټولنې ته بد بختي راوړي. علي جان چې دولسم یې پاس کړی وو. وې ویل. ستا خبره سمه ده. مګر دا د دولت او خلکو ذمه واري ده. چې ځوانان بې کاره او بې تعلیمه پرې نږ دي.

ښوونځي ورته جوړ شي. کارونه ورته پیدا شي. کله چې د وطن ځوانان بوختیا وي اومومي. بیا نو کله دغسې د بدبختیو سره مخامخ کیږي. ما وې همدا خبرې خو د کابل پوهنتون محصلینو تر منځ پداسې انداز کیږي چې حتٰی مظاهرې ترې جوړې شي. ډېرې سیاسي ډلې او سازمانونه جوړ شوي دي. په میټنګونو او کانفرسونو کې هره ډله د حکومت او دغه حالت نه سر ټکوي. په رژیم او شاهي کورنۍ باندې سخت انتقادونه کیږي. کله داسې هم شي چې حکومت د پولیسو او قوه ضربه په زور مظاهرې او میټنګونه خواره واره کړي. ولې له یوې ورځې نه و بلې ته د محصلینو تاو تریخوالی لایسې زیاتیږي او سیاسي مبارزې ته دوام ورکوي. چې دا کار د ملک په هره خوا کې ښارونو ، ښوونځیو او کلیو کې روان دی.

په دې خبرو اتروکې د مازدیګر اذان وشو. او جومات ته مانځه ته لاړو. پلار مې د شپې ناوخته کور ته راغی. مور. لا وینښ ناست وو. مور مې ترې پوښتنه وکړه ویلې د ګلاب پلاره چیرې تللی وې ؟ هاغې وویل ښځې داسې وخت راغلی چې دچا سره ښه وکړې په بدو اوړي. د کلي په یو سړي مې پیسې پور وې. په مشکلاتو او عذر مې تر ګوتو کړې. لاس یې بند وو. پیسې مې ورکړې وې. اوس مې چې ترې غوښتې خفه کیده. نو ځکه راباندې ناوخته شو. خیر ته دا خبرې پرېږده. هسې نا وې چې په کابل کې به یو کور واخلو. آبله ورځ مې ګلاب ته هم ویلي دي. چې یو ښه

کور په ښو شرایطو سره اوګوره چې وایې خلو ـ مور مې د هغه خبره ونیوه وې ویل ـ دا خو به ډېره ښه شي ـ ځکه چې په کور کې پیسې پرتې دي ـ سبا به رانه چا غلا کړې وي ـ تاسې هم په کور نه یاست ـ خوشی بې فایدې پرتې دي ـ هاغه وویل ـ هو هو ـ همدغه نظر زما هم دی ـ ماته یې کړو ـ بچی دا ځل چې لاړې ښه کور په ښه ځای کې خوښ کړه او ماته دستي ځواب راولیږه ـ زه به ځان در ورسوم ـ

نغدې روپۍ کور کې نه ساتو ـ ما وې پلاره زه چې پوهنتون ته لاړم ـ د کور پوښتنه به وکړم ـ هغه وویل اوس به ویده شو ـ سهار وختي په خیر سره زه ځمه چې هغوي به راته په انتظار کې وي ـ

سهار وختي مور مې راجګ کړم ویلې پاڅیږه چې پلار دې ځي بکس ورسره تر موټره یوسه ـ کله چې له کلا نه راوتلو ـ په دروازه کې پلار مې زما مور ته وویل ګلاب چې کله پوهنتون ته تلو ـ پیسې به ورته ورکړې ـ هر څومره یې چې غوښتې ور یې کړه ـ دا خبره مې په غوږ ښه ولګیده ـ پلار سره تر موټره لاړم ـ کله چې موټر حرکت وکړو ـ زه واپس کور ته راغلم ـ

## دریم څپرکی

په دغه کال د پیچ په دره کې د ګوځو تجارت باب کړی وو .ما هم هلته پښه ور وړه.غوښتل مې چې د ګوځو تجارت ته لاس وا چوم.په لومړي ځل چې څنګه له موټره ښکته شوم .د یوه خړ کلي په ځو دوکانونو ورګډ شوم.مخامخ ترې یو بل کلی چې له سینده پورې پروت وو ښکاریده.د کليو تر څنګه په ځنګلونو پټ غرونه جګ ختلي وو .د دواړو کليو خولې ته دوه سیندونه یو ځای شوي وو .چې ډېره ښکلې منظره یې جوړه کړې وه.زه یوه هوټل ته ورننوتم.کتل مې چې د ګلاب پلار او شیخ مجید سره د الطاف حسین په هوټل کې د نورو کسانو سره ناست دي روغبړ مو سره وکړو.هغوي خو مې له مخکې نه له نزدې نه پیژندل.شیخ د افغانانو پشان جامې اغوستې وې.په کټ کې یې تکیه وهلې وه.ټولو ته چاې پروت وو.ما ته یې هم چاې راوغوښت.په هوټل کې ډېر خلک بیخي د کونړ نه وو له نورو سیمو نه راغلي وو.ځکه چې ددغې ځاې د ګوځو ، بیروجو ، زمرودو د تجارت ټسه وه .د بازار ټول هوټلونه تجارانو نیولي وو .ددغې سیمې د ځینو نورو شیانو لکه غوزان ، مرختیې ، شات ، د حیواناتو د پوستکو ، لوبیا ، نسکو ، وژغنو اون داسې نورو شیانو د پلورلو سوداګر په بازار کې لر بر کیدل .د بازار په ټولو دوکانو کې د پورته ذکر شوي توکو ګواټې ولاړې وې .د چاې څښلو نه وروسته شیخ وویل.

افضل خانه ! دلته خو ستاسو کاروبار روان دی.سبا ته به له ما سره مزار ته راسره لاړ شئ تر څو د هغه ارباب کلا کرایې کړو.زموږ د مرغانو د کاروبار لپاره ښه مناسب ځای دی.له دوه درې شپو نه وروسته به بیرته

راځئ .بې له تا هغه ځینې کارونه تر څنګه د دوي د کړه وړو او ټولو قیصو شاهد ووم. افضل خان وویل سمه ده سبا ته به له خیره لاړ شو. هماغه وو چې سبایي وختي شیخ کرایې جیف موټر ونیو تر جلال اباد پورې. د هغه وخت سرکونه خامه او خراب وو. د هغوي ټولو په غوښتنه زه هم ورسره لاړم. مازدیګر جلال اباد ته ورسیدو. شپه مو په جلال اباد کې تیره کړه. سبایي وختي مو د مزار په لور موټر کرایې کړ. افضل خان چې د شیخ کارونه یې ورسمول پوره پیسې به شیخ ورکولې. الطاف حسین د شیخ دوي په مشوره پاتې شوی وو. تر څو د لرګیو ځینې کارونه سم کړي. شیخ د ډریور ( موټر چلونکي ) سره ان تر مزاره د کرایې خبره کړې وه. مازدیګر کابل ته ورسیدو له چاې او ډوډۍ نه وروسته مو بیا د شمالي لاره ونیوه. ماسخوتن تیر مزار شریف ته ورسیدو. یوه رستوران ته ورننوتو. له ډوډۍ نه وروسته د هوټل والا موږ ته دوه کوټې راوښودې تر څو چې خوب او ارام مو کړی وای. موږ دوه تنه په یوه کوټه کې او شیخ په بله کې ویده شو. تر سبا ماسپښینه مو ښه خوب او ارام وکړو. ماسپښین چې له خوبه راویښ شو. له تشناب کولو نه وروسته د چاې لپاره هوټل ته ورکیوتو. د هوټل مشر او کارکوونکو شیخ مجید له مخکې نه پیژانده. ځکه چې ده د ترکستان په مځکه ډیر عمر تیر کړی وو. فارسي یې زده کړې وه. د مزار له دښتو یې بلا مرغان چلولي وو. اصلاً ده پیسو ته ضرورت نه درلود. مګر د ښکاري مرغانو نیول یې یواځنۍ علاقه وه. کله به چې کوم ډیر ښه سترګور او ښکاري مرغه لاس ته ورغی سمدستي به یې سعودي ته وړلو. دده مرغه به چې هلته په نورو مرغانو کې د ښکار اتل راووت. نو دی به ډیر خوشحاله وو. په ښو ډیرو پیسو به یې خرڅولو ته وړاندې کړ. له ده سره افضل خان د مرغانو په کاروبار کې مرسته کوله او هغه به هم وده ته ښې پیسې ورکولې. په هوټل کې یې سهارانۍ چاې وڅښلې. شیخ افضل خان ته وویل. افضل خانه لومړی به

موږ د ارباب پوښتنه کوو ـ چې دلته په ښار کې دی او که بل کوم ځای کې دی ـ تر څو موږ ته د هغې دښتې کلا په کرايه راکړي تا خو هم هغه کلا ليدلې ده ـ ښې کوټې لري باغچه يې ښکلې ده ـ د څاه اوبه يې هم ښې يخې او پاکې دي ـ ده ويلې هو هغه کلا چې درکړي ـ هر څه به اسانه شي ـ په هر ترتيب چې کيږي زه به ترې هغه کلا غواړم ـ ارباب خو زموږ پخوانی اشنا دی ـ ته هيڅ فکر مه کوه ـ اوس په په ټکسي کې د هغه د ښار کور ته ورشو ـ په ټکسي موټر کې د ارباب کور ته ورغلل ـ کله چې افضل خان د هغه پوښتنه وکړه ـ ارباب په کور کې وه ـ موږ په خوش خانه ( حجره ) کې کښيناستو ـ لږ ساعت وروسته هغه راووت ـ ستړي مشي او روغبړ نه لږه شيبه وروسته د چاې څښلو په جريان کې افضل خان ورته د کلا خبره وکړه ـ ورته وې ويل ـ ارباب صيب ستا کلا يوازې د شيخ لپاره ښه ده ـ ځکه چې هلته د ډېرو خلکو د اوسيدو امکان نشته دی ـ خوا ته يې کلی نشته دی ـ يوازې څو کوره مالدار هلته ژوند کوي ـ خالي د مرغانو د ښکار لپاره ښه ځای دی ـ ارباب لږه شيبه وروسته وويل ـ افضل خانه دا شيخ ميلمه سړی دی ـ په موږ حق لري ـ ستا سې خبره ځمکې ته نه غورزوم ـ ته چې څنګه وايې ـ کولای شې ـ بې کرايه ورته کلا ورکړې تا چې هره فيصله وکړه ـ زما قبوله ده ـ بې له دې چې د شيخ سره يې مشوره وګوي وې ويل ارباب صيب شيخ به د کلا کرايه د مياشتې زر افغانۍ درکوي ارباب وويل ـ تا خو له ده سره څه ونه ويل ؟ پروا نه لري زما درسره په همدغې فيصله ده ـ مخ يې شيخ ته راواړاوه ـ ورته وې ويل ـ ابو په يو زر افغانۍ کرايه مې ورسره وويل ـ شيخ وخندل وې ويل ماته يې ولې وايې ؟ ارباب صيب چې څه وايي منو يې شيخ حبيب ته لاس کړان د يوه کال کرايه يې وار د واره ورکړه په دې کار افضل خان هم خوشحاله شو او د ارباب جيب ته هم يو څه پيسې ولويدې ـ

ارباب له ځایه پورته شو وې ویل. زه به د کلا کلي ګانې راوړم. هغه چې لاړ. شیخ افضل خان ته مخ ستون کړ وې ویل. افضل خانه د کلا کلي ګانې چې مو واخیستل له ارباب نه به اجازت واخلو. لاړ به شو یو لوی موټر به کرایه کړو. په ښار کې به د ضرورت وړ شیان راونسیوان تر خوراکي موادو پورې به له بازاره واخلو. بیا به د کلا په لور او خوځېږو. هغه ویل سمه ده. په دې کې ارباب راغی او د کلا کلي ګانې یې شیخ ته ورتسلیم کړې.

بیا یې ارباب ته داسې وویل. ارباب صیب که یو باوري مزدور چې په هر څه پوهـوي راته او ګورې. بس ستا په باور او اعتماد به بې له ځان سره د کور د کاروبار لپاره ونیسم. پوره تنخواه به ورکوم. هغه او منله. ویلې. تر سبا به مې درته پیدا کړی وي. سبا ته که ژوند باقي وو له حان سره درولم. او هلته کلا ته نزدې کورونو کې به درته کومه غریبه ښځه د کور د پخلي او د کالیو مینځلو لپاره هم څوک پیدا کړم. شیخ او افضل خان دواړو ترې مننه وکړه او ترې را ووتل.

یو لوی واګون یې ونیو لومړی یې څو جوړه بسترې په بازار کې راونیولې. او وروسته یې نور د کور ضروري توکي واخیستل. موټر یې سم ډک کړو. مازدیګر نزدې وو چې د کلا په لور رهي شوو. کلا له ښاره شل کیلو متره لیرې پرته وه. موټر چلونکی یو اخلاقي زلمی ښکاریده. ټول سامان له موټره ښکته کړ. او کلا ته یې ننویست. کله چې واپس له کلا نه ښار ته راتلو شیخ ورته د کرایې نه علاوه زیاتي روپۍ ورکړې. ښه خوشحاله ګاډي ته وخوت او لاړ.

اپو او افضل دوي کلا ته ورننوتل. په لس جریبه دښته کې داکلا وهل شوې وه. چې پدغه لس جریبه ځمکه کې له څلورو خوا او نه پینځه متره لوړ دیوال ګرځیدلی وو. په منځ کې یې کلاوه او په نوره شا و خوا ځمکه کې ونې او ګلونه وو. د کلا و مخې ته ژوره څاه ایستل شوې وه. ښې

ډیرې او پخې د ښلو پاکې او به یې درلودې. ارباب د ونو بوټو او ګلونو د خشاوي او اوبه کولو لپاره ځانګړی دهقان نیولی وو. ټوله ورځ به یې په باغ کې کار کاوه. د دغې کلا نه مخامخ یوه لویه دښته پرته وه. چې به دې ورکتلی بې له خړې دښتې نه نور څه نه لیدل کیدل. همدغه دښته اصلي د ښکاري مرغانو د ښکار ځای وو. ماز دیګر ناوخته وو چې دوی په کوټو کې سامان ځای پر ځای کاوه. لومړی یې د ناستې لپاره یوه لویه کوټه جوړه کړه. تر څو منډې له مخې پکې هغوی کښېني. شیخ وویل افضل خانه اوس به دومره وکړو. چې د ناستې او ارام کولو لپاره ځای برابر کړو. هو دا کار خو وشو. راځئ چې اوس ځان لپاره د ډوډۍ څه ترتیبات خو ونیسو. پخلنځئ ته ورغلل. ګازي منقل باندې یې له ځان سره راوړې غوښه باندې کړه. شیخ وویل نن به ګوزاره وکړو. سبا ته به هر څۀ سم شي. د ډوډۍ خوړلو نه وروسته په چایو سره ناست وو. شیخ په داسې حال کې وویل چې اوږدې تسپې یې اړولې وې ویل. زه پیسو ګټلو پسې نه یم ولې دا ژوند راته خوند راکوي. په سعودي کې راته د ژوند هر څه شته دی. دا موږ د سعودي شیخان داسې یو چې ټول تنبل غوندې اموخته شوي یو. څوک د دنیا په ښو ښو ځایونو کې شپې ورځې تیروي ځینې په عیاشۍ سر دي. ډېر کم کسان دي چې د علم او معرفت په لاره روان دي. بس ما پکې دا لاره نیولې ده. نو ځکه خو ستاسو وطن ستاسو خلک او ستاسو مسلماني او میلمه پالنه مې ډېره خوښیږي. باور وو که چیرته چې د دنیا په مخ هر څه وغواړم. هغه په کیږي مګر زما دا ستاسې وطن خوښ دی. په همدې خبرو کې افضل خان خوب یوړو. هغه هم ویده شو. سبا ته له چایو نه وروسته ارباب د یوه بل تن سره کلا ته راننوت. په دروازه کې یې شیخ ته وویل دا ستا هغه کس دی کم چې تا د کور د کارونو لپاره غوښت. دده نوم سلیمان دی. زما د دهقان زوی دی. یو ښه نیکو کاره خدمتګاره سړی دی. یو وخت یې په هوټل کې کار کاوه.

مکتب یې هم ویلې دی . په هر څه اګاه دی . کومه مزدوره به هم درته اوګورې چې د کور پاکوالي او ځینې کارونه درته کوي نور څه وایې ؟
شیخ وویل ارباب صیب ډېر تشکر دلته زه ستاسې د مرستې او پام په وجه شپې ورځې تیرولی شم . ارباب وویل نه نه شیخ صیب هر خدمت چې ستا وي . زه دې په مخکې یم . پدې خاوره چې او سیږې هیڅ تشویش به نه کوې . اوس به زه درنه لاړ شم چې نور ضروري کارونه مې دي . شیخ او افضل خان ورسره تر دروازې لاړل . افضل خان شیخ ته پداسې حال کې وویل چې ارباب لا ورسره ولاړ وو . ارباب صیب موږ ستا دا مرسته او ښه سلوک کله هم نه شو هیرولی . مخه ښه یې وسره وکړه . او ارباب په اس پښه واړوله او لاړ .
دوي چې کلا ته ورننوتل . شیخ وویل افضل خانه دا سلیمان به دا سامان په خپل خپل ځای برابر کړي . بیا به ښار ته لاړ شو سودا به وکړو . یوه شیبه وروسته درې واړه ښار ته لاړل . د کور لپاره یې ضروري شیان راونیول . شیخ له پخوا نه د مزار د خلکو سره بلد وو . هر چا د مرغانو د شیخ په نامه پیژنده . له پښتو نه په فارسي ښه پوهیده . هسې خو له ده پشان نور تجاران هم وو . مګر دې شیخ د هغه ځای د خلکو په شان جامې اغوستې . هر چا سره یې ښه سلوک او ګذاره کوله . عاجزه او مهربانه سړی وو . هیچا دا فکر نه کاوه چې ګني شیخ مجید دې د سعودي میلونو وي . یوازې په دې یې پیژندلو چې د ښو ښکاري مرغانو تاجر دی . سعودي کې یې میرمن او دوه زامن وو . دي به تل د اوړي په موسم کې مزار ته راتلو . په ژمي به سعودي کي اوسیده . په دغه ورځ هغوي په بازار کې خوراکي توکي او هم د کور ټول ضروري شان لکه چوکۍ ، قالینې ، مطلب پرش او ظرف یې پوره راونیول . سر خلاصي موټر یې ونیو او سامان یې کلا ته راوچلو . دوه ورځې وروسته یې یوه مزدوره پیدا کړه چې هغه په ښه پخلي او د کور په پاکوالي کې ماهره ښځه وه . پخوا د

شتو او ښه ژوند خاونده وه. خو اوس ترې بدو پیښو او روزګار هر څه اخیستي وو. شیخ هغې ته هم تنخوا ورکوله. سهار به راتله او مازدیګر به له کاره واپس کور ته تله. په اصل کې ترکمنه وه ( ترکي نژاده ) وه. عمر یې خوړلی وو. خو بیا هم غښتلې وه پدغه کار یې لاس بري درلود.
سلیمان او هغې ښه په صداقت سره د شیخ دکور کارونه کول. کله خو به سلیمان په ښکاري کسانو چې ښه مرغان به یې نیولی شول ورتلو او د شیخ لپاره یې ستونزمن کارونه سرته رسول.
افضل خان له شیخ سره پنځه شپې تیرې کړې. ځینې کسان چې شیخ هډو نه پیژندل. ورسره معرفي کړ. په دغه شپه چې د افضل خان ورسره اخري شپه وه شیخ ته یې وویل ابو زه به سبا ته درنه ځمه چې هلته د حسین به راته سودا وي. د هغه ځای کارونه چې مو څه نا څه سم کړل. مور دواړه به بیا راپیښه وکړو. سبا یې وختي چې افضل خان له هغه نه راتلو. شیخ ورته د لارې خرځ او نورې پیسې ورکړې. ورته وې ویل که هلته مو پیسې په کار وي. یو تن او یا که وخت درسره موجود وو دواړه به راشئ. څو شپې به راسره وکړئ بیا به ځئ. افضل خان ترې کله چې را روانیده. په سلیمان او هغه بلې مزدورې باندې د ښه کار او صداقت ټینګتیا وکړه. او بیا یې ترې د تلو جازت واخیست او لاړ.
سلیمان او هغه بلې مزدورې د کلا دننه کوټې او شا و خوا ښه پاکه ساتله. دکور کارونه یې ورته په ښه وجه سرته رسول. څو ورځې وروسته شیخ د کور په سالون کې ناست وو چې سلیمان ورغې ورته وې ویل. صیب بیرون یو سړی راغلی تا سره ګوري هغه بیرون ورغی ورته وې ویل. وروره ستړې مشې. په خیر راغلې. مهرباني وکړه تاسئ څوک یئ او زما سره دې څه کار دی ؟ هغه سړي ځان ور معرفي کړ وې ویل نوم مې خدایقل د رستورانت کارګر یم. هلته رستوران ته ستا څو تنه میلمانه راغلي دي. زه یې په تا پسې راولیږلم. شیخ مجید په زړه کې شک شو. (

دا به څوک وي ؟ ) څنګه خلک وو صیب د یوه تن عربي جامې وې درې تنه نور هم ورسره وو ـ یو تن په دریشۍ کې وو او هغه نور دواړه زموږ جامو کې ښکاریدل ـ د شیخ زړه واخیسته ګني کیدی شي ـ چې کوم سعودي شیخ بلدي څوک به وي ؟ راغلي سړي ته یې وویل زه راوځم ـ دواړه په یو ځای رستوران ته ځوو ـ دننه یې سلیمان هم د ځان سره د تلو لپاره خبر کړ ـ تمانچه یې پټه په جیب کې کیښوده له کلا نه ووت ـ درې واړه ښار ته روان شول ـ په لاره یې ټکسي موټر ونیو ـ او هوټل ته یې ځان ورساوه ـ

کله چې دننه رستوران ته ورننوتل ـ وې لیدل چې شیخ سعید له درې تنو سره ناست وو ـ له روغبړ نه وروسته شیخ سعید هغه نور ور وپیژندل ـ بیا یې په انګلیسي ژبه هغوي ته شیخ مجید ورمعرفي کړ ـ دواړه شیخان پخپله ژبه لګیا شول ـ دواړو به په بق بق سره وخندل ـ چې ټول رستوران به یې ولړځاوه ـ شیخ سعید تور رنګې جګ سړی وو ـ پیړې شونډې غټې سترګې بونډۍ فراشوې ږیره یې پریښې وه چې یوازې د زنې سر او د مخ دواړه خوا وي تر څنو پورې د ویښتانو نري خط نیولي وو ـ د څلویښتو کالو ښکاریده ـ په څنګ کې ورسره په څوکۍ یوه د شنو سترګو ښځه ناسته وه ـ چې د سړي سره نه معلومیده ـ شا پوډوله خړه خولۍ او خړه د نارینه و دریشي یې په ځان کې وه ـ هغه نور دوه تنه د شیخ سعید پخواني دوستان وو چې د کانو کاروبار یې کاوه ـ په وارو وارو یې د بدخشان لعلونه ، د پنجشیر زمرد او د پیچ درې بیروج چلولي وو ـ هغه دواړه د پنځوسو کالو نه پورته وو ـ یوازې په انګلیسي پوهیدل ـ شیخ مجید هغه بل شیخ ته په عربۍ ژبه ډیر څه وویل ـ بیا یې هغو نورو ته مخ ور واړاوه وې ویل زه اوس بیرته راځم ـ دی د خپل سلیمان سره له رستوران نه ووت ـ په بازار کې یې د ضرورت وړ خوراکي توکي راونیول ـ په ټکسي کې یې واچول ـ د رستوران خوا ته یې ټکسي ودرولو ـ او بیا یې یو بل ټکسي

میلمنو ته ونیو . میلمانه یې له رستوران نه راویستل په موټر کې کښیناستل او د خپلې کلا په لور روان شول. کله چې کلا ته ورسیدل. ټکسي نه یې ټول شیان ښکته کړل. سلیمان هغه د ننه یوړل. میلمانه له کلا نه بهر شا و خوا کتل چې نه کلی شته او نه د کلا خوا ته نوره ودانې شته. شیخ مجید میلمنو ته په انګلیسي کې وویل. دا د ښکاري مرغانو کلا په نوم یاد یږي له یوه ارباب نه مې کرایې کړې ده. میلمنو ویلې دا خو ډېر ښه ځای دی. د سړي پکې مغز او اعصاب ارامیږي. ابو وویل هو له ښاره یو څه را وړاندې ده. مګر زما لپاره ډېر ښه ځای دی. میلمانه کلا ته ننوتل . او په سالون کې کښیناستل . شیخ سعید څنګ ته هغه ښځه کښیناسته شیخ ترې پوښتنه وکړه . څنګه څه تکلیف خو درته نشته ؟ هغې وویل که تشناب وي چې دا ځان مې وینځم . شیخ لا مخکې په مزدورې تشناب برابر کړی وو . شیخ مجید ته یې وویل ابو تشناب شته ؟ ده وویل ولې نه . مهرباني وکړه . ښځه یې تشناب ته رهنمایي کړه کله چې هغه په نورو جامو کې له تشنابه راووتله . ویښتان یې په مخ را خواره شوي وو. هله ښځه ښکاریده . هغه ډېره ښکلې وه. د دیرشو کالو نه پورته نه وه . شنې او لږ څه تورې سترګې یې په سپین مخ کې ښکلې ښکاریدې . نری قد ، جګه ونه او جګه غاړه یې وه. د شیخ سعید سره اوږه په اوږه کښیناسته . ورپسې ټول میلمنو تشنابونه وکړل . سلیمان ورته چاې راوړو . هر یوه ته یې چاې مخې ته کیښود . شیخ مجید سالون ته راغې وې ویل. د دې ځاې اوبه ښې صحي او یخې دي. یوه تن میلمه وویل. دلته تل د لمر وړانګې تودې وي . هیڅ مکروب دلته ژوند نشي کولی . دا سیمه د ګازونو او چټلې هوا نه پاکه سیمه ده . موږ افغانستان ته ډېر راغلي یو . کله مو پکې ستړتیا او ناروغي نه ده حس کړې. د شیخ سعید ښې اوږې ته ښځې سر لګولی وو . ده ورته پټ پټ په غوږ کې څه ویل . هغې به په قرار قرار خالي یس Yes ویلې . شیخ د چاې پیاله کیښوده هغه

یې له لاسه ونیوه . له سالون نه بیرون د کلا انګڼ ته ووتل . وړاندې د ګلونو او بوټو تر څنګ په څوکیو کښیناستل . په کلا کې ښې زینتي ونې او ګلونه ولاړ وو . د کلا دننه مځکه ډیره وه . یوه ښه د ناستې چوتره او د چوترې شا و خوا ګلونه د اوبو لښتي او په لښتو کې روڼې اوبه بهیدلې . مطلب ښه د ناستې او باندار ځای وو .
د شیخ سعید او ورسره معشوقې یې دا کلا او دا ځای خوښ شو . مازدیګر په ختمیدو چې هغوي دواړه څنګ پر څنګ ناست وو . په پخلنځی کې سلیمان او مزدورې دواړو هغه لیدل چې یو بل ته یې کتل او په مینه لګیا وو خبرې یې کولې . مزدورې چې په کار کې بوخته وه وې ویل .
سلیمانه دا لکه چې دواړه میړه او ښځه دي ؟ هغه چې لاس یې د غوښې په غوځولو کې وو . وې ویل . نه پوهیږم خو اوریدلي مي دي چې دا عرب شیخان ډیر عیاش خلک دي . مزدورې په داسې حال کې چې دیګ یې په ځمڅۍ لاړه وې ویل . که ښځه او میړه هم وي . مسلمانان خو داسې نه کوي ؟ هغه وویل ترور ته خپل کار کوه . موږ او تاسو څه نه دي لیدلي . له هرې خوا نه راباندې راتیټه ده . نور خلک په څه دي او موږ په څه کې . مزدورې توبه توبه وویل خدای مو دې د داسې حال نه وساتي . ده وویل ترور دا زموږه شیخ خو ډیر مسلمان او ښه مهربانه سړی دی . په خدای چې په لاره روان وي او کومه ښځه مخې ته ورشي ورته نه ګوري . ما معلوم کړی دی . شپه او ورځ د الله ذکر کوي . ما داسې فکر نه کاوه چې ګني دغه ښځه ده . د نارینه و دریشي یې ځان کې وه . اوس ګوره چې د شیخ په څنګ کې ناسته ده . هغه نور دوه تنه په انګلیسي خبرې کوي مګر زموږ د خلکو جامې یې اغوستې دي . څوک پرې نه پوهیږي موږ یې څه کوو . هغوي پوهـ شه او خپل کار یې . په دې وخت کې هغه نور دوه تنه هم له کوټې نه بیرون ته ووتل . په چکر چکر د کلا دننه وړاندې لاړل دواړو

خپلو کې سره خبرې کولې سګرېټ څکول او د کلا په دننه نرۍ لار روان وو. هلته پوره شیبه سره ولاړ وو. د ماښام خړه لګیده چې واپس ورو ورو را روان شو او سالون ته ورننوتل. شیخ مجید به چې پخلنځي ته ورغی. سلیمان او مزدورې ته به یې وویل. ښه کباب برابر کړئ. سلیمان وویل صیب دا خلک خو ټول د یوه ځای نه دي دا څنګه سره ملګري شوي دي؟ شیخ وویل دوي له پخوا نه په تجارتي کاروبار کې سره پیژني. هغه دوه تنه سړي د فرانس دي په انګلیسي سره ښه پوهیږي. او دا شیخ زما وطندار دی او دا ښځه یې موقتي کړې ده. ملګرې یې ده. شیخ سعید لوی سرمایه دار دی. د تیلو فابریکه لري. دا ښکاري مرغان یې خوښیږي. همیشه چې چیرې ځي یوه ښځه ورسره وي. نور یې څه کوي. په وره کې وت وې ویل. سلیمانه نیم ساعت وروسته ډوډۍ تیاره کړه. هغه ویل بس نیم ساعت کې به هر څه سم وي هغوي دواړه هم سالون ته راغلل. لږ ساعدت وروسته په میز ورته ډوډۍ تیاره شوه. ټولو ښه اشتها سره ډوډۍ وخوړه. هر یوه د ډوډۍ ستاینه کوله. هغه یوه وویل. دا شاړ ځای او داسې ډوډۍ تیارول؟ شیخ مجید وویل پوهیږئ. دا افغاني ډوډۍ ده. شیخ سعید هغو نورو ته وویل افغاني ډوډۍ ډیره خوندوره ده. وروسته له ډوډۍ خوړلو نه شیخ سعید شیخ مجید ته وویل. ابو سبا ته به یو تن سړی چې بدخشان کې بلد وي زما دا دوه تنو دوستانو سره لاړ شي. دوي به پوره تنخوا ورکوي. هو رښتیا داسې څوک وي چې په انګلیسي او پوهیږي. شیخ وویل سمه ده. سهار ته چې ښار ته لاړو. یو څوک به درته اوګورم. یو تن زه پیژنم هغه سره به خبرې وکړو. ماسخوتن تیر سلیمان ته یې وویل. میلمنو ته د خوب لپاره ځایونه برابر کړه سلیمان په بیلو بیلو کوټو کې ورته بسترې برابرې کړې. شیخ سعید او ښځې ته ئې په یوه کوټه کې ورته ځای سنبال کړو. میلمانه چې ډېر ستړي او ستومانه وو پخپلو خپلو ځایونو کې پریوتل. سبایي وختي لا شیخ سعید دوي

ویده وو چې مجید او هغه دوه تنه میلمانه ښار ته لاړل . په ښار کې نیغ یوه رستوران ته ورپورته شول . شیخ مجید د رستوران د مشر سره په خبرو شو او هغو نورو دواړو چای څښلې . د رستوران هماغه کار کونکي چې په انګلیسي پوهیده له میلمنو سره ورسره کړ . په یوه کرایې موټرکې بدخشان ته روان شول . شیخ ترې واپس خپلې کلا ته لاړ . شیخ سعید لا تشناب نه وو کړی چې دوې ور ورسید . ښځه چې له تشناب نه راووتله . دی ورغی شیخ مجید ورته په داسې حال کې چې هغه تشناب ته ورننوت وویل . هغوي سره مې سړی ورسره کړ او لاړل . سلیمان په میز چای ایښی وو . سالون ته ورغی ژولیا ته یې سهار په خیر وویل . هغې هم ورته سهار دې په خیر وویل . په چیا سره کښیناستل کله چې سعید راووت . راساً د چای میز ته راغی . شیخ مجید ته یې وویل . هغوي لاړل . ده ویلې هو . هغو به اوس په لاره روان وي . شیخ سعید په داسې حال کې چې د چای پیاله یې په میز کیښوده . شیخ مجید ته یې وویل . ابو ته پوهیږې چې دلته موږ له تاسره ښایسته ډېره موده تیروو . په مني کې به له ښو ښکاري مرغانو سره سعودي ته واپس ځوو . که دا شین سترګې خفه شي هغه پوهشوه . په مسکا یې ابو ته ورو وکتل . په نزاکت سره یې وویل . ته چې هر څه وایې زه یې منم . له دې نه یې سترګې بیرته شیخ مجید ته واړولې . ورته وې ویل . ابو که ستا خوښه وي له چای نه وروسته به ښار ته لاړ شو . یو جیف موټر به واخلو چې تګ راتګ پکې کوو . زموږ لپاره په ټکسیانو کې ګرځیدل د شرم خبره ده . هاغه وویل ښه خبره ده چې څنګه ستاسو خوښه وي زما درسره رضا ده .

لږ شیبه وروسته دواړو شیخانو او د سعید معشوقې دریشیاني واغوستې سلیمان یې هم له ځان سره ښار ته روان کړ . د موټرو ځای ته ورسیدل . یو ټکسي موټر یې ونیو او د ښار په لور رهي شول . کله چې ښار ته ورسیدل ټکسي وان ته یې وویل . موږ د موټر پلورلو ځای ته

ورسوه ـ مونږ غواړو چې جیف موټر راونیسو ـ ټکسي وان وویل ښه صیب د ښار لوی موټر فروشئ ته به مو ورسوم ـ کله چې د موټر پلورنځي ځای ته ورسیدل ـ ټکسي ودرید ـ شیخ مجید کرایه ورکړه ـ او بیا دوي د موټرو خرڅولو دفتر ته ورغلل ـ اسلم پوښتنه وکړه ـ یوه تن ورته وویل ـ دویم لاس موټر راسره شته دی ـ اول لاس جیف چې بیخي نوی وي په دې ښار کې نه پیدا کیږي ـ دواړو شیخانو جیف وچلولو خوښ یې شو او ترې واخیست ـ په قیمت او بیه کې یې ورسره دویمه خبره هم ونه کړه ـ سمدستي یې د موټر کاغذونه سره جوړ کړل ـ بیا یې جیف په مستري خانه کې (ورکشاپ کې ) چک کړ ـ موټر ښه مکمل جوړ او بې خطره وو ـ پیسې یې ورته وشمارلې ـ دوي په خپل موټر کې کښیناستل او بازار ته ووتل ـ په ټول بازار کې او د ښار په سړکونو کې یې جیف وګرځاوه ـ ضروري شیان یې هم راونیول ـ بیا د کلا په لور روان شول ـ د موټر په رانیولو هغوي خوشحاله په دې وو ـ چې د دغو دښتو اوږدې مزلې بې له خپل موټره ګران کار وو ـ

شیخ سعید د نورو ملکونو د لوی لوی ښارونو د سیل صفا او ساعت تیریو زړه وهلی وو ـ په همدې دښتو او غرونو ګرځیدل ورته ښه ساعت تیري وه ـ او په تیره بیا د ژولیا سره د هغې هره شیبه خوښې وربخښله ـ هغې هم خپل وړوکی دوربین شا و خوا کلیو او تپو ته نیولی وو ـ خپل سیل یې کاوه د نور څه په قیصه کې لانه وه ـ هو شیخ سعید په دې بهانه چې ګني کله له دې ښایستونو او طبیعي ښکلاګانو د لیدو نه موړ شي ـ بیا به د ښو ښکاري مرغانو سره سعودي ته ستنیږي ـ له غرمې نه وروسته هغوي په جیف کې کښیناستل او په چکر لاړل ـ سلیمان هم ورسره وو ـ چې د کیان په لور یې حرکت وکړو ـ په لاره کې د یوه غره بیخ ته ورسیدل چې هلته د ناستې او دمې ښه شین ځای وو ـ ونې وې او یو چینه وه ـ د تفریح ښکلی ځای وو ـ جیف یې ودرلو شیخ مجید په عربي ژبه شیخ

سعید ته وویل چې دا ښه ځای دی. دلته به دمه وکړو . له موټره ښکته شول . ژولیا په انګلیس سعید ته وویل . ګرانه دلته به عکاسي وکړو. سلیمان وویل ابو په دې غره کې ښکاریان د زرکو ښکار کوي . ځینې خطرناک لیوان هم پکې شته دی. شیخ سعید ژولیا ته د سترګو لاندې وکتل هغې ورته وویل. راځه چې دواړه هغه وړاندې ګڼو ونو ته ورشو . سلیمان او شیخ مجید د چینې غاړې ته ورغلل. د چینې یخې اوبه یې وڅښلې شیخ اودس وکړ او د ماسپښین لمونځ یې قضا یي ادا کړ . سلیمان هم په مانځه ودرید . شیخ د ژولیا سره وړاندې په یوه تپه کې د ونو لاندې لومړی یې عکاسي وکړه. او بیا ژولیا په دوربین کې د غره پورتنۍ برخې بیلې بیلې لیدلې . هاغه ته یې ویلې څومره ښکلی غر دی . دوربین به یې کیښود او عکاسي به یې وکړه . هغې کیمره نیولې وه . شیخ تري لاس چاپیر کړو. په غیږ کې یې ونیوله . مخ یې ور واړو . مخامخ ودریدل. دواړو خپلې شونډې یو بل ته ور وړې. خوله په خوله شول. بیا په یوه هواره تیګه کښیناستل. د مینې ښه ډېر ساعت تیري یې وکړه . له ښې ډیرې ساعت تیرۍ او دمې نه وروسته دواړه د چینې خوا ته ورغلل. اوبه یې وڅښلې . د جیف خوا ته هغه نور دواړه ولاړ وو. دوي ولیدل چې هغوی د دوي انتظار کوي. ور روان شول او موټر ته ورغلل. سلیمان چې زلمی وو د رنګ ونې او څیرې نه هم ښکلی وو. د سترګو لاندې به یې ژولیا ته ورکتل. یوازې یې د هغې په لیدو یې خپل زړه ښه کاوه . ده هم په ښوونځي کې انګلیسي ویلې وه . خو هغسې چې د ژولیا سره یې پرې څه خبرې کړې وایې نه وه زده . کله به چې کلا کې د ننه دواړه سره کومه لحظه کې یو ځای شول ژولیا به ورته وخندل. دی به ورته په جامو کې نه ځایده . مګر خوار کې څه نشو ویلې . خالي پخپلو شونډو به یې ژبه تیره کړه . سوړ اسویلی به یې له ګوګله راووت نور په یې څهٔ کړی وای ؟

هغوي جيف ته ورپورته شول. او د کور په لور يې حرکت وکړو . په لار کې شيخ سعيد سليمان ته مخ ور واړاوه. غوښتل يې چې په فارسي کې څه ورته ووايي خو وې نشو کړای. ځکه چې د هغه فارسي زده نه وه. په عربي د شيخ مجيد سره وغږمبيده . د هغه سره يې ډيرې خبرې وکړې بيا مجيد سليمان ته وويل. دی وايي چې کوم داسې د سيل او ساعت تيرۍ ځای ورته معلوم وي چې ميله پکې وکړو . ده وويل صيب ولې نه ځينې د سيند غاړې هم شته. د دښتې په بل اړخ کې ځنګل دی چې هلته خلک ښکار کوي او ميلې هم پکې کيږي . په همدغه مازديګر يې دننه په کلا کې د بيرون چوترې تر څنګ د کباب پروګرام برابر کړو . سليمان ته يې ان په لاره ويلي وو چې په کوم ځای کې قصابي کيږي د کباب غوښه ترې واخله . له يوه بازاره راتيريدل چې سليمان شيخ سعيد ته وويل صيب دلته قصابي ده چې غوښه ترې واخلم. هغه زر بريک ونيو. دی چې له جيف نه کوزيده. شيخ سعيد ورته پيسې ورکړې چې دی په غوښه پسې ورشي. سليمان له قصابه د پسه دوه ورنونه واخيستل او بيرته موټر ته راغی.

نو کله چې کلا ته ورسيدل د کباب زغالي منقل سليمان د چوترې تر څنګه ودرولو . بيا يې پخلنځي کې د کباب لپاره غوښه تياره کړه. مزدوره هم راپيدا شوه . شيخ مجيد مزدورې ته وويل ته يوازې وچه ډوډۍ او ترکاري ( سبزي ) درسره تياره کړه. بيا کورته ځه. نور کار به سليمان وکړي.

سعيد او ژوليا دواړه په سالون کې سره ناست وو کله چې ژوليا له بهر نه کور ته ننوته دستي يې د کور جامې واغوستې. هغه داسې وې چې تا به ويلې زير دريشي ده. خو په اصل کې د هغې د کور دريشي وه. په تشناب کې يې ځان لږ څه سينګار کړ. ويښتان يې لکه د نارينه وګرد وهلي وو . شيخ هم خپلې اوږدې سپينې جامې واغوستې له خپلې کوټې نه يې کڅوړه راويستله . په پلاستکي کڅوړه کې بوتل له ليرې څخه معلوميده

. شیخ هغې ته وویل . ګرانې راځه تر څو کباب پخیږي . په باغچه کې به چکر ووهو . دواړه باغچې ته ووتل او په خبرو خبرو د کلا بل سر ته ورسیدل . سلیمان په منقل کې سکاره ولګول . په هغوي پسې یې پام کاوه . ژولیا ته به یې په زړه کې تیر شول . ( دا ولې له دې تور خړیس سره دومره مینه لري ؟ ) دومره ښکلې جینۍ او دا تور حبشي ؟ زوغالو ته یې پکې واهه او هغې ته به ورپام کړ . کله کله به چې ژولیا له هغه نه وزګاره شوه . ده په ځان ورنږدې کاوه . هغې به ورته په مینه مینه ورکتل . دی به موټې موټې غوړیده .

مازدیګر مانځه ته شیخ مجید خپلې کوټې ته لاړ . سلیمان په سیخانو کې غوښه ورکړه . سکاره هم په سکروټو واوختل . مزدورې د سلاتې منجمه راوړه . ورپسې یې ناابکې قابونه او وچه ډوډۍ راوړه . په دې وخت کې شیخ مجید د کباب ځای ته راغی . یو څه غوښه او هډوکي یې مزدورې ته ورکړل . ویلې ځه خاله اوس کور ته لاړه شه . هغې یوازې خو وویل او لاړه . هغه نور دواړه سعید او ژولیا په ورو ورو ګامونو د کباب خوا ته را روان وو . د شیخ د خبرو غږ له لیرې اوریدل کیده . سلیمان له کباب نه لوګي پورته کړل . په چوتره باندې د ګیلم له پاسه دسترخوان هوار شو . کباب هم څو سیخه د هر چا مخې ته کیښود شو . ژولیا د سعید څنګ ته په ګیلم کښیناسته . هغه لومړۍ له یوه سیخه د کباب پوټې ژولیا ته ونیو . بیا یې چې خپله د کباب مزه او خوند وکوت . وې ویل . ابو دا خو ډیر خوږ کباب دی . شیخ مجید پداسې حال کې چې خوله یې له کباب نه ډکه وه . وې ویل . هو ددې ځای د مالونو غوښه ډیره خوږه ده ژولیا هم خپل ملګري ته ور وکتل د تائید سر یې وخوځاوه . هغه ورو کڅوړې ته لاس ورتیر کړ . بوتل نه یې په ګلاس کې ځانته شراب توی کړل . ژولیا ته یې هم لږ ور واچول . دواړو ګلاسونه وټنګول . بیا یې په سر واړول . شیخ مجید سلیمان ته وویل . سلیمانه ته هم کباب خوره چې سوړ نشي . هاغه یوازې پکه وهله

او له کباب نه لوګي پورته کیدل ۔ په یوه لاس به یې پکه وهله مخامخ به یې ژولیا ته پام کاوه ۔ هغوي دواړه خپلو کې سره په ارامه کباب خوړ او خبرې یې کولې ۔ په لومړۍ شیبه کې ورسره شیخ مجید هم لګیا وو ۔ وروسته چې شیخ سعید له خوده ووت ۔ ده پرې نور کار نه درلود ۔ کباب یې وخوړ او دننه لاړ ۔ سلیمان له کباب پخولو نه وزګار شو ۔ د منقل تر څنګ یې کباب خوړ او ژولیا ته یې کتل ۔ دې پوهیده چې هغه نشه ده ۔ خو ده ترې مخ نه اړاوه ۔ شیخ سعید ښه په خوند قرار قرار ځانته پیک اچاوه د ژولیا له تندي سره به یې وجنګاوه ۔ بیا به یې په سر واړاوه ۔

ماښام خړه ولګیده ۔ سلیمان پخلنځی ته قابونه او کالي چلول ۔ دوي ته یې نور د کباب سیخونه مخکې کیښودل ۔ شیخ چې دا ځل ګلاس پورته کړ ۔ نور پکې څه نه وو پاتې ۔ د ژولیا غیږ کې یې سر کیښود ۔ ژولیا هم اړو پړ کیده ۔ هغې یوازې دوه ځل ورسره ګلاس پورته کړی وو ۔ ولې بیا هم په خود کې نه وه ۔ تورتم پرې ولګید خو هغوي دواړه لا هماغسې په ګیلم بې خوده پراته وو ۔ شیخ مجید سلیمان ته وویل ۔ په هغوي کار مه لره ۔ پرې چې هلته په ازاده هوا کې پراته وي ۔ وروسته به یې راویښ کړو ۔ ته یوازې تور چاې ورته تیار کیږده ۔ ابو سعید هم ډیرې نشې کوې ۔ کله خو به یې ضرور له منځه وړي ۔ نیمه شپه چې مجید هغوي راویښ کړل ۔ او خپلې کوټې ته یې بوتلل ۔ په همدې ترتیب سره یې په نشیو او میلو ورځې تیرولې ۔

یو مازدیګر چې هغوي په جیف کې لیرې سیند غاړې ته لاړل تر مازدیګره یې په سیند کې ولمبل ۔ له هغې خوا چې راستانه شول په لاره شیخ سعید شیخ مجید ته وویل ۔ ابو سبا ته که دې خوښه وي هغه لیرې د ښکار ځنګل ته لاړ شو ۔ هغه ورته وویل سبا ته به ښار ته لاړ شو ۔ څه کارونه دي هغه به سرته ورسوو ۔ سودا مودا به هم وکړو ۔ بل سبا ته به لاړ شو ۔ ده وې سمه ده ۔ ماښام خړه لګیده چې کلا ته ورسیدل ۔ ستړي

ستومانه په سالون کې کښیناستل۔ شیخ سعید ژولیا ته ورنږدې شو وې ویل۔ څنګه خوره وره په کوچ کې وغزیدې۔ لکه چې ډیره ستړې یې ؟ هغې وې ستړې به نه یم څومره دې په اوبو کې وخړه پولم ۔ دی ښه ورنږدې شو س ورته وې ویل ۔ ته خو بیخي لکه د سین ماهی داسې لامبوزنه یې ۔ ژولیا وخندل وې ویل ۔ ګرانه ما څو ځل اروپایي د لمبا په ښځینه ماسبقو کې ګډون کړی دی۔ او تاسو خو د ریګونو او سرو شګو خلک یاست۔ لمبا نه درځي په دې وخت کې شیخ مجید خپله کوټه کې په مانځه ولاړ وو ۔ سلیمان خواړه تیارول۔ دوي دواړو ته د مینې او عشق وهلو چانس برابر وو ۔ ویلې ځکه دي ۔ دا ملا نړۍ ده ۔ پرې ورغوټه شو کلکه یې په غیږ کې ونیوه ۔ هغې هم خپلې شونډې دده پیړو تورو شونډو ور وړې۔ ښه شیبه سره وسولیدل مینه یې وکړه ۔ ژولیا سر راپورته کړله ده نه یې اوپوښتلې۔ ګرانه دا شیخ مجید خو هم ځوان دی۔ ښځه یا ملګرې نه لري؟ دی هم را ولاړ شو او په څوکۍ کښیناست وې ویل ګرانې ژولیا د هر چا خپل د ژوند عادتونه دي۔ څوک یو شان ژوند کوي څوک بل شان۔ زه او ته داسې ژوند کوو ۔ په دې کې سلیمان ډوډۍ تیاره کړه ۔ ټول په ډوډۍ کښیناستل۔

سبایي له چایو وروسته ښار ته لاړل۔ په بازار کې یې د میلې لپاره ځینې ضروري شیان راونیول او موټر کې یې واچول۔ سلیمان په موټر کې هر څه ځای پر ځای کول ۔ کار یې زیات وو خو دی پرې خوښ په دې وو چې له یوې خوا ډیرې پیسې لاس ته راتلې۔ او له بلې خوا یې ساعت ښه تیریده ۔ دده او د ژولیا خالي د سترګو د جنګولو مینه وه۔

په همدغه شیبه دواړه شیخان په کوم څه پسې لاړل ۔ دوي دواړه په جیف کې پاتې شول ۔ ژولیا چې له مخکې نه یې غوښتل چې له سلیمان سره خبرې اترې وکړي ولې شرایط نه وو برابر ۔ په دغه وخت کې یې ورته وویل۔ سلیمانه څنګه یې ؟ هغه چې په انګلیسي نه پوهیده ۔ بس دومره

یې ورته وویل۔ای لایک یو مایي ډارلینګ۔دا جمله یې په یاد وه۔ددې په ویلو هغه دومره خوشحاله شوه ویې خندل او حتٰی چې له سترګو یې اوښکې لاړې۔خپل لاس یې ورته له مخکې څوکۍ نه را اوږد کړ۔دی یې ځانته رانژدې کړو ۔ورته وې ویل زه هم درسره مینه لرم تـه ډېر خدمتګار او ښه سړی یې۔لـه دې دواړو نـه ښـکلی او ښـه ځواني لـرې۔خو څـه وکـړم خپلې ولې پې ووهل۔چې ګني د شیخ سعید په دام کې یم۔بل چاته مې نه پرېږدي۔هغوي دواړه له دوکانو راووتل۔د موټر پـه لور ګړندي را روان شول۔د سبا ورځ د ځنګل میلې ته یې هر څه په بازار کې راونیول۔بې لـه غوښې شیخ مجید وویل۔سبا ته چې تلو غوښه به تازه له قصاب نه واخلو ۔اوس به کلا ته لاړ شو ۔موټر ته وختل او کور تـه یې حرکت وکـړو ۔شـیخ سعد موټر چلولو او څنګ کې ورسره ژولیا ناسته وه۔پـه جګ اواز یـې وویل۔ابو سبا به وختي له کوره راوځوو۔یو خو به د ځنګل د لارې اندازه له چانه واخلو او له بله پلوه به قصاب ته هم ورځو ۔شیخ مجید ورته وویل سمه ده ۔سهار وختي به حرکت راوکړو۔خو یوه خبره ده چې زه بالکل لـه دغه ځنګل نه معلومات نه لرم او نه ورته تلای یم ۔سلیمانه تا دغـه ځنګـل لیدلی دی ؟ هغه ویل نه نه صیب ما هم نـه دی لیدلی۔یوازې لـه خلکو نـه مې اورېدلي دي چې ډیر لوی ځنګل دی۔ځینې ښکاریان پکې ښکار کوي۔واي چې ښې اوبه لري هوسۍ او د غرڅه ګانو ښکار هم پکې کیږي ۔او اورېدلي مې دي چې دوه ساعته د موټر لاره ده ۔سعید وویـل چې هر څومره لاره وي پروا نه لري که ژوند باقي وو انشاء الله سبا تـه بـه ځانونه ورورسوو ۔پـه همدې خبرو کې کور تـه ورسیدل۔کله چې دوي کلا تـه ننوتل۔مزدورې ډوډۍ ورتـه تیاره کړې وه۔شیخ مجید خوشحاله شو ۔ مزدورې ته یې وویل۔ترور ښه دي چې ډوډۍ دې تیاره کړې ده موږ ټول وږي شوي یو ۔هغې په داسې حال کې چې په دیګ کې یې ځمځۍ وهله وې ویل وروره هر څه مې درته برابر کړي دي۔

سلیمان په چالاکۍ سره ډوډۍ په میز برابره کړه .ژولیا چې میز ته راغله وې ویل .دا ستاسې خدمتګاره په کار پوهـ ښځه ده څومره ښۀ خواړه یې تیار کړي دي.شیخ سعید ورته وویل.ددې ځای ښځې که څه هم له سواده محرومې دي مګر د کور په کارونو او پخلي کې اول درجه دي.ژولیا ته خو ځانته چای هم نه شې برابرولې.

هغې وویل.هو همدغسې ده .ولې یو شی دی چې زموږ په ملک کې ډېر کم خلک په کورونو کې کله نا کله خواړه تیاروي.هلته هر څوک په پخلي نه پوهیږي .تر څو چې د پخلي او اشپزۍ په ځانګه کې څوک تحصیل ونکړي.پخلی نشي کولی.په دې وخت کې شیخ مجید ترې پوښتنه وکړه .

بخښنه غواړم ستاسې وطن کوم یو دی ؟هغې ویلې زما وطن فرانسه دي .د لیون د ښار اوسیدونکې یم.یه اقتصاد کې مې ماستري کړې ده.هلته مې په بانک کې کار کاوه.هغه وویل ډېر ښه.شیخ سعید ترې خبره ونیوله.وې ویل.ابو زه فکر کوم تر اوسه دې له ژولیا نه هیڅ پوښتنه ام نده کړې.هغه په عربۍ کې وویل.نه نه د پوښتنې څه ضرورت نه وو.اوس چې یې ځای راغی ترې اومې پوښتل.سعید وویل.زه به یې پوره دراوپېژنم.یو وخت زه د فرانس په دوره تللی ووم.کله چې د لیون ښار ته ورغلم.او له نزدې نه مې هغه شار ولید .ډېر مې خوښ شو.له یوه بانک تر څنګ مې په رستوران کې ځای نیولی وو .په دویم پوړ کې مې کوټه وه .کله به چې بانک ته د پیسو او چیک د تبادلې لپاره ورغلم.له دې سره به مخامخ کیدم.دا مې ډېره خوښه شوې وه.غوښتل مې چې خبرې ورسره وکړم.مګر دا ډېره مصروفه وه.دې هیڅ نه احساسوله چې ګنې زه پرې مین یم.دا سې یې ګڼله چې عادي څوک دي.چې هره ورځ راسره سلام علیک کوي.یوه ورځ له بانکه رخصت شوه او زه ورته ولاړ ووم.لومړی مې په انګلیسي ورته سلام وکړ.بیامې ورته وویل.زه درسره مینه لرم.

همدا اوس درنه هیله لرم چې په دې رستورانت کې راسره چاې وڅښې .
دې لومړی لږ څه د ځان سره سوچ وکړ .بیا یې زر وویل .هو ولې نه چاې به
درسره وڅښم.
دا چې د ټولي فرانس او بیا په تیره د لیون د ښار د اوسیدونکو کولتور
ډیر لوړ او عالي دي.دې هم زما هیله او خواهش ځمکې ته ونه غورزولو .
په رستوران کې ډېر ساعت راسره کښیناسته ځان مې ور او پیژندو .د
خپلې کوټې ادرس مې ورکړ .دې هم راته ځان رامعرفي کړ .ویلې پلار او
مور مې پاربس ته تبدیلي شوي دي .دواړه هلته کار کوي .او زهٔ همدلته
له یوه کال راپدې خوا کار کوم .ما ترې د واده پوښتنه وکړه .دې وویل .
واده مې نه دی کړی .د اوسیدو ادرس یې راکړو .له هغې وروسته به مې
هره ورځ لیده .ناسته پاسته مې پیل شوه .درې میاشتې مې ورته تیرې
کړې .تر څو چې د رخصتۍ یا وُرلب وخت یې راورسید .او دلته راسره
راغله .په دې وخت کې یې ژولیا ته وکتل وې خندل .هغه هم مسکۍ شوه
.په زړه کې یې تیر شول .( تور حبشي پیر شونډې زهٔ دې څهٔ پروا نه لرم خو
چې د میلونو ډالرو چیکونه مې چې دې ولیدل هغې تر دې شاړو ډاګونو
راوستې یم .ستا څهٔ خیال دې چې ګني......)
شیخ مجید له ځایه پورته شو وې خندل .د دواړو په قیصه پوهـ شو .
سبایې چې کله شیخ مجید مانځه ته راپاڅید د لمانځه نه وروسته یې
دوي راپاڅول .وختي یې چاې وڅښلې او د ځنګل د تلو په نیت یې
سامان موټر ته پورته کړو .ښکاري چره ایز یې هم ورسره په جیف کې
کیښود لا لمر نه وو ختلی چې دوي موټر ته پورته شول او د غوښې د
رانیولو په نیت د قصاب ځای ته روان شول .کله چې د قصاب ځای ته
ورسیدل وې لیدل چې قصاب د پسونو غوښې په خنجکونو کې راځړولي
او چوړکۍ پلاس سرې سترګې ولاړ دی .جیف یې ودرولو شیخ مجید او

سلیمان قصاب ته ورغلل ورپسې شیخ سعید هم ورغی سعید مجید ته وویل ابو پوښتنه وکړه چې ځنګل څومره له دې ځایه لرې دی ؟
سلیمان له قصابه د کباب لومړی درجه غوښه تول کړه . بیا یې ورته وویل تا ته دا معلومات او پته شته چې ځنګل به له دې ځایه څو کیلو متره لیرې وي ؟ قصاب وویل کوم ځنګل ؟ سلیمان وویل هغه لوی ځنګل . قصاب چې د همدغه وطن سړی وو هر څه ورته معلوم وو. وې ویل یو سل او شل ۱۲۰ کلو متره له دې ځایه لیرې دی . ولې هلته خو نه ځئ ؟ سلیمان وویل هو دا شیخان هم هغلته میلې ته روان دي . قصاب په داسې حال کې چې چاړه یې په باټ تیره کړه له ځان سره مسکی شو وې ویل . هغه ځنګل خطري دی. او تاسو ---- ! چې هر څه وي وي به. اوس دوي ورته نیت کړی دی. زه هم ورسره یم. ده غوښه موټر ته یوړه . جیف شیخ سعید په قرار قرار چلولو . له کلي او دوکانو چې ووت. بیا یې پرې پښه ټینګه کړه له یو څه مزل نه وروسته مخې ته دښته راغله. ورته ویل شوي وو چې د دښتې په منځ کې ځنګل ته سړک تللی دی . شیخ سعید د دښتې په منځ خامه سړک چې خاورې د سړک په دواړو غاړو پانډو نه جوړ کړي وو . جیف ور خوشی کړ چې شاته ترې خاورې او دوړې بادیدلې. ژولیا غوښتل چې په کامره عکاسي وکړي ولې د خړې دښتې نه مه وارا نور څه نه لیدل کیده . له یو ساعت د جیف د ګړندي تګ نه وروسته مخامخ تور ځنګل مخې ته ښکاره شو . سعید وویل ابو فکر کوم چې دا مخې ته تور ځنګل ښکاري. شیخ مجید او سلیمان دواړو غبرګ وویل هو همدغه به ځنګل وي . له لږې شیبې نه وروسته ځنګل ته روسیدل. دښته ختمه شوه . نور نو ټوله شا و خوا ځنګل احاطه کړې وه . د ځنګله تر څنګه غر راښکته شوی وو. په غره کې غټې تیګې او ونې ولاړې وې چې پکې د ګرځیدو او ختلو چاره نه وه . که یو تن په ځانګړي صورت دغه ځنګل ته نزدې ورشي خامخا به چې د هر څومره سخت زړه خاوند وي وډار شي . شیخ سعید د ځنګله

مخې ته وتړ و درو . سلیمان د کالیو په راکوزولو لګیا شو. مجید د ضرورت لپاره سحرا ته تیر شو . ژولیا کیمره باندې ګوني وهلې او شیخ سعید د ځنګل په تماشا شو. د مرغانو ډول ډول او ازونه یې تر غوږ شو. ژولیا ته یې وویل ئ ته غوږ ونیسه د مرغانو شور او د بلبلو اوازونه راځي . هغې په کمره کې وکتل چې د غره په بیخ کې شین چمن او واښه ښکاري. کیمره یې له ستر ګو ایسته کړه زر یې شیخ سعید ته ونیوه. ویلې او ګوره هغه ورته وویل . بې له کیمرې یې وینم چې ښکلې منظره ده . شیخ سعید دستي وویل ژولیا که دې خوښه وي دواړه به هاغې شنې جلګې ته ځانونه ورسوو . ژولیا زړه نه کیده ډارید له. خو د ځنګل ښکلا او د مرغانو اوازونو ورکش کړه وې ویل سمه ده ګرانه هم هغلته به لاړ شو . شیخ له ځان سره خپل بکس چې پکې تمانچه او د میلونو ډالرو چیکونه پراته وو له ځان سره واخیست. سلیمان ته یې وویل. موږ ته به کباب هلته هاغه شنې جلګې ته راوړې. ده وې ښه صیب.

سلیمان دستي په دستي د کباب په پخولو لګیا شو . هغوي له ځان سره کمبل او د شرابو کوکا کولا و کځوړه هم یو وړه . ورو ورو د ځنګل تر څنګه هغې شنې منظرې پو لور وخوځیدل . شیخ سعید ژولیا ته وویل ګرانې ژولیا زما او ستا د مینې تنده هم هغلته ماتیدی شي . ژولیا د غره د لوړې څوکې عکاسي وکړه. څو ځلې د ځنګل د بیلو بیلو ښکلاګانو عکاسي یې وکړه. پدې کې هغه شنې جلګې ته ورنږدې شول. هغوي دواړه د ځنګل ښکلا او په ځنګل کې دننه د مرغیو شور پسې اخیستې وو . شیخ مجید او سلیمان دواړو د کباب په پخولو بوخت شول. سلیمان هغه ته د ژولیا دوي وړاندې د چینې غاړې شنې جلګې ته د ورتلو وویل . هاغه یو ازې خپل سر وخوځاوه. په زړه کې تیر شول. ( دا د هوس په دې وخت کې موږ سره د میلې کولو او ساعت تیرۍ په قیصه کې نه دي. بس د خپلې فاحشې سره په لکي ځنګل ور وران دی ) سلیمان ته یې وویل ما

او تا بـه دا کبـاب پـوخ کـړو ـ هغـوي پو هـ شـه او خپـل کـار يې ـ دا لـومړني شیخان چې پاخه شـول ورتـه یـوې شـه ـ هغـه ویـل ښـه صـیب زغـالو تـه یـې پکـې واهه او د ځنګل سیل یې هم کـاوه ـ خپـل بـادار تـه یې وویـل ـ صـیب رښتیا هم چې لـوی ځنګـل دی ـ شـیخ پـه غوړیـدلې سـترنجې ناسـت وو د غره او د ځنګل دننه د مرغیو شور ته یې غـوږ نیـولی وو ـ وې ویـل هـو بې شکه چې ډیر لوی ځنګل دی ـ په دې کې بـه حتمـي خطرنـاک حیوانـات هـم وي ـ سلیمان د منقل زغال په سکروټو واړول ـ څو سیخه غوښـه یـې پـرې کیښوده ـ سعید او ژولیا چې جلګۍ ته ورنږدې شول وې لیدل چې د غـره د بیخ نه چینه راوتې ده ـ روڼې اوبه یې دي ـ د چینې شا و خوا بوټي او ګلونه ولاړ وو ـ لـومړی پکـې دواړو عکاسـي وکـړه ـ بیـا یـې پـه چینـه کـې لاس پریمنځل ـ لپې لپې اوبهٔ یې مخ ته واچولې ـ ژولیـا وویـل ـ څـومره یخـې او پاکې اوبه دي ـ شیخ ورته کړو ـ څښو به یې نه ځکه چې موږ ته معلومې نـه دي چې د انسانانو د څښلو دي او که نـه ؟ خـالي مـخ او لاس بـه پکـې پـرې مینځو ـ د چینې پغاړه یې عکاسي وکړه ـ بیا په شنه جلګه یې کمبل هواره کړه او دواړه پرې کښېناستل ـ ژولیا هماغسې په عکاسۍ کولو مصروفه وه ـ شیخ له کڅوړې نه د شرابو بوتل او کولا راویستل ـ پخپله یې یو ډک پیک وواهه ورپسې یې د کولا ګوټ وکړ ـ دویم ځل یې ژولیا ته هم پیک ونیو ـ هغې ورته وویل نن زه تکلیف لرم نه یې څښم ـ دی ورتـه وغړمبیـده په انګلیسي یې ورته وویـل امکـان نـه لـري چې راسـره یـې ونـه وهـې ـ دې تـرې هیلـه وکـړه ورتـه وې ویـل ـ ګرانـه یـوازې همـدا یـو بـه درسـره ووهـم ـ ګیلاس یې ورسره پورته کړو ـ نور نو بې کبابـه شـیخ څلـور پینځـه پیکـه واړول ـ له خوده ووت ـ ژولیا یې راونیوله او خوله په خوله شو دواړه غیـږ پـه غیـږ پریوتـل ـ پـه دې کـې سلیمان څو سیخه کباب او ډوډۍ وروړه ـ نږدې چې ورغی وې لیدل چې دواړه جوخت پراته دي ـ غلی ورغـی کبـاب

یې ورته خوا ته کېښود په داسې حال کې چې شیخ سعید لغړ هم وو۔ده ورته بد بد وکتل او ترې را روان شو۔
ژولیا راپاڅیده په کباب یې سترګې ولګېدې۔یو سیخ کباب یې زر زر وخوړ بیا یې بل سیخ راواخیست شیخ یې وخوځاوه سترګې یې پټې وې۔د خوځیدو نه وو۔دې دوه سیخه کباب وخوړ۔بیا یې هغه وخوځاوه۔ورو راپاڅید ځنګیده۔ژولیا یې په ځان راواړوله۔لږه شیبه وروسته ژولیا پوهـ شوه چې اوس یې د لاسه څه نه کیږي همدا یې وخت دی۔ورو راپاڅیده هغه ته یې کتل چې د حرکت نه وتلی دی۔د جیب نه یې کیلي راواخیسته بکس یې خلاص کړ لومړی یې تمانچه راواخیسته لټ یې ورکش کړو کارتوس یې وروستل۔بیا یې له بکس نه چیکونه راویتسل پخپل د څنګ وړوکي بکس کې یې کېښودل۔د موټر کیلي یې هم راواخیسته۔په قراره راپاڅیده غوښتل یې چې په شیخ تمانچه وچلوي۔
پام یې ځنګل ته شو چې لیوان له ځنګله راوتي او دوي پسې راځغلي۔
ژولیا د شیخ له خوا نه را وړاندې شوه۔له یوې تیګې راپنا شوه۔وې لیدل چې ډېر لیوان رامنډې وهي۔دا وډار شوه او ونې ته وختـه۔خپل پخواني هوډ یې بدل شو۔له ونې نه یې پام کاوه چې لیوان شیخ تـه راورسیدل۔سمدستي یې داړې په شیخ کې ښخې کړې۔په لږه شیبه کې یې د شیخ غوښې تس نس کړې۔تر هغې ورکتل چې شیخ یوازې اسکلیټ پاتې شو۔
پوهـ شوه چې هغه ختم شو او لیوان پرې ماړه شول۔په دې وخت کې یې په لیوانو باندې له ونې نه د تمانچې ډزې وکړې۔لیوان ټول وتښتیدل۔
ژولیا له ونې نه راکوزه شوه۔او په منډه ، چیغو او غالمغال د سلیمان دو خوا تـه لاړه۔هغوي چې دا ولیده۔په چالاکۍ سره راپاڅیدل۔او ددې مخې ته راوځغاستل۔د ژولیا خوا ته چې رانژدې شول دې ورتـه په چیغـه کې وویل ابو لیوانو مات کړو۔هغوي دا پریښوده شیخ مجید سره چریز ټوپک تیار ډک کړی نیولی وو۔د شیخ سعید پلو یې ورمنډه کړل۔شاته

سلیمان هم ورپسې وو-ژولیا چې د موټر خوا ته راورسیده دستي یې جیف چالان کړ او په وار خطایۍ یې موټر په دښته کې روان کړ -تر څو چې هغوي بیرته راګرځیدل دې نیمایي دښته وهلې وه -شیخ مجید چې د سعید خوا ته ورنزدې شو په ټوپک یې ډزې وکړې -وې لیدل چې هغه پاتې لیوان هم وتښتیدل-او دوي د شیخ سعید د وینو ډک اسکلیټ ته په سر ودریدل-سلیمان په زیاته بیړه سره د شیخ سعید پاتې اسکلیټ د وینو ډک په کبله کې تاو کړ-شیخ مجید ته یې وویل دا راسره ونیسه چې تر موټره یې ورسو -هاغه ورسره په شریکه ونیو او تر څو چې د موټر خوا ته راورسیدل ګوري چې جیف ژولیا بیولی دی -مازدیګر نزدې وو چې سلیمان شیخ ته وویل صیب دا به هم دلته ځای پر ځای پریږدو او موږ باید له دی ځنګل نه ځان اوباسو -که ناوخته شي نو بیا دلته د لیوانو خطره شته دی-هغه وویل-دا مړی به څنګ شي ؟ سلیمان وویل دا به په دې درۍ کې تاو کړو او د پاسه به پرې تیګې او خاورې واړوو -تر څو دا پاتې مړی لیوان ونه خوري-دواړو په خورا چالاکۍ سره مړی ښه سم په خاورو او تیګو کې پټ کړو-د پاسه یې پرې منقل او پاتې سامان کیښود او هغوي په سړک را روان شول-ټوپک سلیمان غاړې ته واچاوه-دواړو ګړندي او د خرپ مزل پیل کړو -تر څو چې د ماښام خړه لګیده هغوي له ځنګل نه ښه ډېر رالیرې وتي وو-پوره ډیره دښته یې له پښو رالاندې کړې وه د ماښام تورتم په لګیدو سره هغوي له ځنګل نه دومره وړاندې راغلي وو-چې د لیوانو له ویرې خلاص شوي وو -شیخ وویل سلیمانه تر سبا به له دښتې نه ووځو -صیب زه پوره بلد نه یم خو توکل په خدای خواري به کوو-

له درې ساعتو مسلسل ګړندي مزل هغوي دواړه ستړي کړي وو -ابو وویل لږه دمه به وکړو -سلیمان وویل ښه صیب سمه ده رښتیا ام چې موږ ډیر ګړندي راغلو-ابو ساعت ته وکتل د شپې یوه بجه وه-سلیمان ته یې

وویل اوس خو یوه بجه ده. کیدی شي د ښته نیمایي ته رسیدلي وي ؟ هغه وویل هو صیب کیدی شي. نور به لږ څه په قرار ځوو. د ځنګل له خطره بچ شوي یو. صیب راځه چې ځوو. بیا یې مزل پیل کړو. د شیخ سره په بوتل کې اوبه وې. دواړو لږې لږې وڅښلې له څو ساعتو مزل نه بیا ستړي شول دمه یې وکړه. د شپې دري بجې وې. شیخ وویل سلیمانه د اسمان غاړې سپینې شوې د سهار رڼا په لګیدو ده. زه نور له حرکته لوئیږم. سلیمان ورته وویل. کښېنه دلته به ډېره دمه ونیسو. د سړک پغاړه دواړه کښیناستل د شیخ سره څه کځوړه وه هغه یې د خپل سر نه لاندې کړه په مځکه وغزید وې ویل سلیمانه ته هم وغزیږه. چې دمه شې. هغه وې نه صیب پروا نه لري. زه به ناست یم. ته لږ پریوزه. شیخ د غزیدو سره سترګې پټې شوې. سلیمان پوهـ شو چې شیخ ستومانه شوی دی. پرېږده چې لږه یې سترګه پټه شي ده هم خپل سر په زنګنو کیښود. سلیمان چې سر راپورته کړ سپین سبا وه. شیخ لا هماغسې خریده. سلیمان له ځایه پورته شو مخې ته یې پام وکړ. وړاندې یې یوه غونډۍ او ونې په نظر شوې خوشحاله شو ګني چې د ښته مو وهلې ده.

ابو یې راوخوځاوه. هغه په وارخطایۍ راجګ شو. سلیمان یې ولاړ ولید. ورته وې ویل. صیب سهار دی مخې ته غونډۍ او ونې ښکاري. ځان به ورورسو. شیخ سترګې اومښلې راپاځید بدن یې کلک نښتی وو. سلیمان ورسره په راپاځیدو کې مرسته وکړه. ګوډ ګوډ وړاندې لاړ. تشې متیازې یې وکړې. بیرته د هغه خوا ته راغی وې ویل. سلیمانه ښه ده چې ورځ شوه اوس چاره کیږي. راځه چې ځوو. بیا روان شول مزل یې کاوه، کاوه ډېر ساعت وروسته د هغې تپې خوا ته ورنږدې شول. د پټې بیخ ته بوټي ولاړ وو. نږدې چې ورغلل. په ژوره کې د بوټو له منځه ځینې حیوانات لکه هوسۍ، ګیدړې او نورو راووتل او منډه یې کړه. موږ له پاسه ولیدل چې د بوټو په منځ کې په ژور ځای کې څه اوبه هم شته دی.

دوي له دغو ګیدړو او سور لنډیونه ډارنه درلود. ځکه چې د ځنګل لیوانو نه روغ راخلاص شوي وو. له تپې نه چې راتیر شول پس له دوه ساعتو مزل نه ورته مخې ته ونې او کلی ښکاره شو. دوي چې هلته ورسیدل وې لیدل چې کلی دی اباديده. او به دي ونې وي انسانان دي. دوي له سړکه وګرځیدل کلي ته ستانه شول. په لاره یې د جومات پوښتنه وکړه. راساً جومات ته ورغلل. ماسپښین د لمانځه وخت وو. د کلي خلک جومات ته راغلي وو. په ټول کلي کې ترکمن او سیدل. د لمانځه نه وروسته سلیمان خلکو ته ټوله قیصه وکړه. خلک حیران پاتې شول. یوه تن وویل. وروره خدای راخلاص کړي یاست کنه هغه ځنګل کې ډېر خطرناکه حیوانات دي. سلیمان خلکو ته وویل موږ وږي یو پښې مو پړسیدلې دي. سمدستي د کلي یوه مشر سړي وویل تاسو مه وار خطاکیږئ. هر څه به وشي. یوه سړي ته یې وویل. هله ته لاړ شه موټر راوله. د خککو له منځه یې شپږ تنه وټاکل چې په موټر کې مړي پسې لاړ شي. دوي دواړه هغه له ځان سره کور ته روان کړل.

شیخ مجید جیب ته لاس تیر کړ پیسې یې راویستې چې د موټر کرایې والا ته یې ورکړي. همدغه مشر ورته وویل پروا نه کوي. زما سړی به یې ورکړي چې مړی یې راوړو. بیا به ګورو دوي ورسره کور ته لاړل. او هغه کسان د موټر راتلو ته په سړک کې انتظار ودریدل. شیخ مجید او سلیمان یې کور ته بوتلل په خوش خانه ( حجره ) کې یې کښینول. لومړی یې ډوډۍ چاې ورکړل. بیا یې لږ ساعت وروسته ورته وویل. استراحت او ارام وکړئ. هغوي دواړه ویده شول. هغوي موټر راوست او په مړي پسې ځنګل ته لاړل. کله چې هلته ورسیدل. مړی یې له خاورو او تیګو نه راویوست. او موټر کې یې واچاوه. هغه پاتې سامان یې هم موټر ته پورته کړ. مازدیګر نږدې وو چې کلي ته یې مړی راورساوه.

شیخ مجید او سلیمان دواړو خوب کړی وو .له ډوډۍ او چاې نه وروسته یې د مړي راوړولو ته یې انتظار کاوه .کله چې په مړي پسې تللي کسان له موټرو راښکته شول .د ارباب د حجرې مخې ته د کلي نور خلک هم راغونډ شوي وو.شیخ مجید لومړی د موټرو کرایه پرې کړه .بیا یې له هغو خلکو او له ارباب منه وکړه .وې ویل ارباب صیب ستا او ددې کلي د خلکو احسان نشم هیرولی .ددې زحمت او تکلیف چې له موږ سره مو وګالو .الله دې اجرونه درکړي .اوس به ستاسو په اجازت سره دا مړی یوسو .چې د لیږلو په کار پسې وګرځو .ورونو لاس پورته کړې دعا وکړي ټولو خلکو لاسونه پورته کړل.دعا وشوه .دوي دواړو له خلکو اجازت واخیست او د مړي سره په موټر کې کښیناستل .د ښار په لور یې حرکت وکړو د ماښام اذان ته د مزار ښار مرکز د مخابراتو څانګې ته ورغلل سمد ستي یې د میت ( مړي ) کورنۍ ته خبر ورکړ .خپله کورنۍ یې هم خبر کړه .او ورته وې ویل چې مړی به د کابل هوایي ډګر نه سعودي ته درځي.زه به هم له مړی سره درځم.کله چې مې له کابل نه پرواز کاوه. بیا به هم درته ټیلیفون وکړم.د مزار په ښار کې یې مړی په تابوت کړو .په یو بل موټر کې یې کړی کابل ته انتقال کړو.نیمه شپه وه چې کابل ته ورسیدل.په یوه سراې کې یې موټر ودرولو .دوي په هوټل کې تر سهاره ارام وکړو.کله چې رسمیت پیل شو .شیخ لومړی د سعودي ټکټونه واخیستل.سلیمان ته یې وویل ته به واپس کلا ته ځان رسوې .د هغې ښځې پام درسره کوه چې موټر یې چیرې بیولی دی.او هم چې مزار ښار ته ورسیدې د پولیسو قوماندانۍ کې د ژولیا رپوټ ورکړه .چې پولیس یې په لټه کې شي .شیخ په هماغه ورځ مړی سعودي ته انتقال کړو. سلیمان له کابل نه د مزار لین موټر کې کښیناست .مازدیګر لوړ وه چې مزار ته ورسید لومړی یې د ژولیا او جیف رپوټ پولیسو ته ورکړو.او بیا د کلا په لور روان شو.

کوم وخت چې ژولیا جیف کلا ته رارسولی وو ـ کیلي یې مزدورې ته ورکړې وه ـ او خپله په بیړه تللې وه ـ هغې له ځان سره داسې فکر کړی وو ـ ( ښه به دا وي چې موټر پرېږدم که چیرته ګیر راغلم نو بیا ویلی شم چې له خپلې ویرې مې جیف راتښتولی وو ) د موټر کیلي یې مزدورې ته ورتسلیم کړه او خپله خړه دریشي یې واغوسته او لاړه ـ یوازې دومره یې وکړل چې مزدوره یې په اشارو پوهه کړه چې ګني زه واپس راځمه ـ هغه په خورا بیړه تر ښاره ځان ورساوه ـ او بیا یې له یوه ټکسي وان سره د کابل د تلو خبره وکړه ـ هغه ورسره اومنله او سمدستي د کابل په لور ټکسي روان شو ـ ټکسي وان جګ غنم رنګ سړی وو ـ د دیرشو کالو به وو ـ هاغه فکر کاوه چې دا کوم خارجي سړی دی ـ په انګلیسي ورسره نه پوهیده ـ ژولیا شاته سیټ کې ناسته وه ـ دریشي او خولۍ یې د نارینه و په سر کړې وه ـ هیچا پرې د ښځې باور نه کاوه ـ ټکسي وان خپل موټر چلاوه ـ ژولیا په شاته سیټ کې خوب وړې وه ـ په یوه ځای کې ټکسي چلونکي غوښتل چې په چینه کې اوبه وڅښي ـ موټر یې د غره بیخ ته د چینې په خوا کې ودرو ـ په شیشه کې یې شاته ورپام کړ ـ وې لیدل چې د هغې د قمیص په درز کې یې سپینې سینې ښکاري ـ ټکسي وان په شک کې شو ـ بیا یې ورته مخ راواړولو ـ په زیر زیر یې ورته وکتل ـ د خولۍ تر څنډه یې اوږده ویښتان راوتلي وو ـ دی پوهه شو چې دا خو سړی نه دی ښځه ده ـ له موټر ښکته شو چینې ته ورغی اوبه یې وڅښلې چې راپورته شو ـ په زړه کې یې تیر شول ـ ( دا خو ډېره ښکلې ښځه ده که خواهش ترې وکړم څنګه به شي ؟ ) په ورو ورو ګامونو موټر پلو ته راتلو او بیا یې په زړه کې تصحیم ونیو (که په رضا نه کیده زور خو چا وړی نه دی ) د موټر دروازه یې خلاصه کړه ـ د دروازې په ګړوب هغه راویښه شوه ـ هغه د دوه شپو بې خوبه وه ـ سترګې یې وغړولې ـ موټر وان ورته وویل اوبه وڅښه چیتې ته یې اشاره وکړه ـ هغه له موټره راکوزه شوه چیتې ته ورغله اوبه یې

وځنبلې او مخ ته يې هم يوه لپه اوبه واچولې. دی پرې سم پوهـ شو. چې ښځه ده. همدلته يې له ځان سره فيصله وکړه چې په تنګي کې به ورسره ګورم. ژوليا چې اوبه وځنبلې بيا يې شا و خوا او پورته جګ غـره ته پام وکړ. لـه يوې تيګې شاته شوه. تمانچې ته يې مرمۍ ورتيرې کړې. د ټکسي چلونکی پرې پوهـ نشو. هغـه پـه پوره بـاور سره پښپلو ورو ورو قدمونو موټر ته راغله. او پخپل ځای کښيناسته. چلونکي ورتـه وويـل. ښـکلی ځای دی. دا خبره يې څه په فارسي او څه پـه انګليسي ګډه وډه وويله. هغې يو ازې نرۍ مسکا وکړه. ښکلي سپين غاښونه يې ښکاره شو. نازکه اننګي يې سره واوختل. ټکسيوان بيا پـه زړه کې وويـل. ( قسم په خدای چې له دې کرايه ام پرې تير يم خو چې..... ) پـه دې وخت کې يې هغې ته اشاره وکړه کښينه چې ځو. ټکسي يې چالان کړ او شاته شاته يې په اينه کې ورکتل. هغې پرې هډو خيال ام نه راوړو.
کله چې موټر تنګي تـه ورسيد. ده ټکسي ودرولـو. او پخپله ګړندی وړاندې د ونو منځ ته ورتير شو. لږه شيبه وروسته هغه واپس ټکسي خوا ته راغی. دې ته يې په اشارو وويل که کوم احتياج رفع کول غواړې. هغو وړاندې ونو ته ورشه. ژوليا پوهـ شوه او له موټره ښکته شوه. رښتيا هم چې خالي متيازو تينګـه کړې وه. د شنو او ګڼو ونـو منځ تـه ورغلـه. څو دقيقې وروسته دی هم ورپسې ورغی. زړه يې هيڅ طاقت او صبر نه کاوه. د هغې خوا ته ورغی. هغه له ځايه راپاڅيده. دی مخې ته ور وړاندې شو او بې ځايه حرکتونه يې پيل کړل. هغـه ورتـه پـه خندا شوه. ده وې ګني جينۍ راتـه وخندل کـار کيږي. سمدستي يې د هغـې سينو تـه لاس ور وغزاوه. هغې ورته په انګليسي وويل څه غواړې. څه کوې ؟ ټکسي وان ورحله کړه او هغه يې ټينګه پـه غيږ کې ونيـوه. هغې ورتـه بيـا پـه اشاره وويل ته لما نه څه غواړې. دی لکه د ځناور غوندې زور واهـه چې راچپـه يې کړه. له پښو نه يې ونيوه. په مځکه يې وويشته. هغه خوږ شوه په خپله

ژبه یې څه وویل په قهر او غضب شوه . ده ترې پتلون راکش کړو . هغې دفاع کوله . دواړه لاسونه یې خلاص وو. هغې یې په بوکس محکم وواهه . په پوزه یې وینې راماتې شوې خو په ځان نه پوهیده . دا یې په پښو کې ټینګه نیولې وه . دواړو ښه شیبه په مځکه یو پر بل زور واهه اخر دا پوهـ شوه چې نه مې پرېږدي . په چالاکۍ سره یې له جیب نه تمانچه راویسته . په داسې حال کې چې د هغې سر ټیټ وو ددې نه یې پتلون هم ویستلی وو . په سر یې دوه ډزه وویشت یو ډز په سترګه ولګید . دستي یې لاس سست شول . ژولیا راپاځیده پتلون یې ټینګ کړ . هغه ته یې ورکتل چې خریده ، خریده وینه ترې روانه وه . تر هغې ورته ولاړه وه . چې ساه یې وختـه . بیا یې د موټر کیلي ترې له جیب نه راواخیسته . او په منډه ټکسي ته ورغله . موټر یې چالان کړ او د پلخمري په لور پناه شوه . په خنجان او سالنګونو واوختـه مازدیګر لا نه وو چې کابل ته ورسیده کله چې کابل تـه ورسیده ټکسي یې د پوهنې وزارت مخې تـه ودرولـو . په همد غـه ورځ یې ټکټ واخیست په اریانا کې دوبۍ ته لاړه .

# څلورم څپرکي

په افغانستان کې له پخوا نه د ځنګلونو غیر قانوني وهل د داخلي او خارجي تجاراتو له خوا کیدل. په خاص ډول سره د کونړ د غرونو نختري خو هره ورځ بې رحمه وهل کیدې. په داسې شکل سره چې کوم نختر چې به پیړه او اوږده ونه وه له هغې نه به یې ګوردمې جوړولې د رسا تنکیو نیالګیو نه یې ستنې او ډاګې جوړولې. دغه کار د یوه سړي نه وو. دا د څو کسانو مزدورانو چې په تبر وهلو او د لرګیو په راکشولو کې یې مهارت درلود د هغوي کار وو . دغو څو تنو د غرونو او باندو اوسیدونکو به د تجار په حواله یو مکمل ځنګل چې تر پینځه سوه ګوردمو به رسیدل او ډاګې به لا تر زرو زیاتې وې وهل کیده. چې په کونړ کې د پیچ درې ځنګلونه د شوړیک ، څپرې او اسمار د غرو ځنګلونه ان له پخوا نه سپیره شوي دي کله به چې نختري ووهل شوې. بیا به یې په تبرونو و توګلې له غټو نخترو نه یې ګوردمې له ځینو نه یې چارتراش او له نیالګیو به یې ډاګې توګلې. بیا به په ډله سره له غره نه د ګوردمو په لارو مزدورانو په اړمونو راکشولې او په ځینو ځایو کې به یې په رسیو کې لارې ته سمولې او ښکته یې راکښولې. تر څو چې به لاندې د سیند غاړې ګودرته ورسیدل. تجارانو به د غرونو مزدورانو ته یوه ناڅیزه مزدوري ورکړه. او هغوي به بیا غرونو ته جګ شول. د سیند پغاړه پراته لرګي به تجارانو په سمه کې د کلیو خلکو ته په چپه کښنې ورکړل. چې دغه مزدورانو ته یې چپه کښ او د لرګیو بیول په سین کې چپه ویلي یعني چپه او چپه کښ. چپه کښنو به د ژمي په موسم کې چې اوبه به کمې وې لرګي خوشي کړل کومو تیګو ته به چې بشونه ونښتل په اړمونو به

یې ازادول او مخ ښکته یې په اوبو کې لاهو کول .د اوړي او پشکال په وخت کې به چپه کښو د ډاګو ، یا بشونو نه ټلونه وتړل .د شپې له خوا یې په قاچاقي ډول سره د حکومت نه په پټه توګه تر جلال آباد او له هغه ځایه تر پاکستانه رسول .د معمول سره سم به تجارانو د هغې وخت علاقه داریو او ولسوالیو کې بدې ورکولې .کم پهره داران به چې د سیند پغاړه په پهره ولاړ وو .د ټلونو والاو باندې یې ډزې نه کولې .په دغه جریان کې د ګلاب پلار او ورسره الطاف حسین پنجابي له پخوا نه ډېرې نخترې پاکستان ته چولې وې .کله چې د داؤد رژیم ړنګ شو .د خلقیانو رژیم منځ ته راغی په لږه موده کې دننه دننه ځینې دغسې قاچا قبران او د ملي شتمنیو لوټماران ونیول شول چې په دغه لړ کې د ګلاب پلار او هغه پنجابی هم وو .له نورو بندیانو سره په پلځرخي زندان کې واچول شول او بیا یې له منځه یووړل.

ګلاب تر ډیره د خپل پلار د بند یتوبه بې خبره وو .هغه او فرښتې خپل درسونه ویل.د هیچا سره په هیڅ سازمان او ګوند کې نه وو .

هغوي د کلي له حاله بې خبره وو .په کلي کې د یوې غونډې په جریان کې یو تن پاڅید د کلي خلکو ته یې وویل.ورونو دا نوی خلقي دولت ستاسو دولت دی .مګر هغه کسان چې له پخوا نه یې ستاسې سره ظلم او ناروا کړي دي او په تیره بیا هغه غله او قاچا قبران ، فیوډالان چې ځینو یې زموږ د غرونو نخترې وهلي او معدنونه یې غلا کړي او نورو ملکونو ته یې قاچاق کړي دي .دغسې کسان به نیول کیږي او په سخته جزا به رسیږي.له تاسو نه هیله لرم چې ددغسې کسانو په ضد مبارزه وکړې او د خپل دولت سره په ګډه همکاري وکړئ.

تاسو ته معلومه شوه چې ددې کلي احمد خان ونیول شو .افضل خان چې له یوه پنجابي الطاف حسین سره یې له اوږدې مودې راهسې د کونړ د غرو نخترې پاکستان ته چلولي دي ونیول شول او د قانون منګولو ته

وسپارل شول. او هغه د برې خرا باندې اخواني ملا چې زمونږ دولت په ضد يې تبليغ کاوه ونيول شو . په دې وخت کې يوه بل خلقي چيغه پورته کړه وې ويل . ژوندی دې وي د افغانستان د خلق دموکراتيک ګوند . نورو وويل ژوندی دې وي . بيا ورپسې لاسونه وپړقيدل . دغه شان ميټنګونه او غونډې په ښارونو او کليو کې روانې وې . ډيرو خلکو په لومړيو څو مياشتو کې له خلقي دولت ته هر کلی کاوه . خو دا چې خلقيان د ساده باده پرګنيو زامن وو . له تودو احساساتو نه ډک زړونه يې وو . د کار او دولت داری تجربه يې نه وه زر ترې ورانه شوه . د اولسنو د زړو تشکيلاتو سره يې ټکر وکړو . هر څه ترې وښوريدل . له يوې خوا نه نيول رانيول ، بې تجربګي په دولت داری نه پوهيدل او له بلې خوا نه د سور لاس را غزيدل د ثور د بدلون ستنې وخوځولې . له يوې ورځې وبلې ته کمی وو . د ښار کليو او باندو خلکو د خارجي تبليغاتو او مادي او معنوي مرسته سره د دولت په خلاف تخريب زياتيده . ځينو ځايونو کې ضد پاڅون او حملې پيل شوې.

ګلاب او فرښته دواړه د خپلو پلرونو د نيولو نه خبر شول . يوه ورځ هغوي د پوهنتون په کتابخانه کې ناست وو . خپلو کې يې په هدې موضوع غږيدل. ګلاب په خفه او ستومانه حالت کې وو چې فرښتې ته يې وويل.
فرښتې زه به لومړی دا پته ولګوم چې زمونږ پلرونه په کوم زندان کې دي ؟ هغې وويل ګلابه رښتيا زمونږ صنف کې يوه جينۍ ده ګلالۍ نوميږي . هغې ته به ووايم چې په پلچرخي زندان کې يې پوښتنه وکړي . هغه مې نزدې ملګرې ده . پخپله خلقي ده . او د نورو سره پوره پيژني . او ته هم سر له ننه پوښتنه کوه دواړه همدا فيصله وکړه . درس ويل ورته خوند نه ورکاوه . له کتابخانې نه ووتل . د خپلو پلرونو په لټه کې شول . دوه ورځې هغوي سره يو بل ونه ليدل . په دريمه ورځ فرښته د خپلې يوې ټولګې والې سره مرکزي ليليې ته د ګلاب په پوښتنه ورغله . دروازې ساتونکي

ته یې د هغه نوم او پته ورکړه. لږه شیبه وروسته هاغه راغی په داسې حال کې چې رنګ یې زیړ زبیښلی ، شونډې یې وچې په بدو حالاتو دروازې ته راغی. فرښتې چې له ورایه ولید . وار خطا شوه. هغه چې ورسره ستړي مشي کول دا په ژړا شوه. سترګو ته یې دستمال ونیو. ګلاب ورته کړو. ولې څه شوي څنګه ژاړې ؟ له دروازې نه را وړاندې شول. هغه بلې جینۍ هم ورسره وژړل. فرښته سلګو نیولې وه . ده ورته ویل مه ژاړه . ته خو وو ایه څه خبره ده؟ هغې په ژړا کې وویل ګلابه پلار مې پیدا نشو. خامخا یې وژلي دي. ده وې بس بس د لارې سر دی فرښتې محصلین ګوري وړه خو نه یې چې ژاړې ؟ په دې وخت کې د مرکزي لیلیې مخې ته د علي اباد روغتون پلو راواوختل. فرښتې بیا په ژړغوني غږ وویل. څنګه به نه ژاړم . خدای خبر چې پلار یې راته په څه ډول مرګ وژلی دی ؟
دې لوښکي ورته په قهر شو وې ویل . ای لیونۍ هسې فکر مه کوه ګني چې ستا او زما پلار به یې وژلي وي. کیدی شي په کوم زندان کې بندیان یې. ستا په ذهن کې د مرګ خبره ګرځي خوشي سوچونه مه کوه. اخر به یې ځای معلوم شي. بس دی اوښکې پاکې کړه. هغې اوښکې وچې کړې. ګلاب ته یې وروکاته وې ویل . دا شونډې دې ولې داسې وچې دي. رنګ دې هم زیړ دی. ده وښکی کوږ کړ وې خندل. ویل دا خو دا دوه ورځې لږ ناروغه ووم. هغې وویل ته چې ناروغه وې نو زه دې ولې نه خبرولم. ما ویل چې زهیره نشې. پدې وجه مې خبر نه کړې. د هغې بیا زنه ورپیده اوښکې یې راماتې شوې. ویل نه نه سمه خبره راته وکړه. ګلابه ده ویل فرښتې په خدای قسم چې زه ناروغه ووم. اصلي خبره خو یې ترې پټه کړه. چې د دوارو پلرونه په څرخي پله زندان او هم په نورو زندانو کې یې درک خرک ونه لګید . په زړه یې تیره کړه خو هغې ته یې څه ونه ویل. هغې بلې جینۍ ته یې مخ ورواړاوه ورته وې ویل خورې دا خو زما نه اوري. ته ورته ووایه چې دا اوښکې بې ځایه نه تویوي. دا دې دا اوس هم زه له چا

سره ګورم.همدا وظیفه مې ورکړې ده.ورځمه چې څه یې راوړي دي.دا خبرې یې کولې او په لاره روان وو.تر څو د علي اباد په سړک ان د نسوانو لیلیې ته ورسیدل.هلته ده بیا هغې ته وویل فرښتې ته بې ځایه ځان له مرۍ مه نیسه.سبا ته به په کتابخانه کې ګورو.اوس نو زه درنه لاړم.د خدای په امان.هغوي دواړه خپلې لیلیې ته ننوتلې او ګلاب مرکزي لیلیې ته لاړ.ګلابه په مړو مړو قدمونو تر لیلیې ورسید.څنګه چې خپلې کوټې ته ننوت په بستره کې کښیناست زړه کې یې تیر شول.(زه فکر کوم چې موږ دواړه به هم ونیسي ښه به دا وي چې دا پوهنتون ورته پریږدو.موږ نور د لته تحصیل ته دوام نشو ورکولی.هو همدا سې ده.ماته چې ښکاري ښه به دا وي چې په وخت ځانونه اوباسو.سبا ته به فرښتې سره مشوره کوم).

ده د ماښام ډوډۍ تر پیله همدا سوچ کاوه.له دې نه یې بله لار نه وه.سبا ته له تدریسي نه وروسته دواړه د پوهنتون کتابتون ته ورغلل.ځانته په یوه میز سره کښیناستل فرښتې ته یې وویل څه دې اوریدلي دي؟هغې سوړ اسویلی ویوست وې ویل بیګاه مې له یوې جینۍ نه چې هغه هم خلقي ده پوښتنه وکړه.ما ویل دا دولت چې دا فیوډالان او خانان نیسي څه ورسره کوي؟هغې لومړي په کټ کټ وخندل.بیا یې وویل هغه کسان چې د دولت په ضد یې بد تبلیغ کړی وي.ژوندي یې نه پریږدي.او ځینې نور خاین او ملي غداران هم له منځه وړي.او ځینې په پلځرخي کې بندیانوي.ولې؟څنګه دې پوښتنه وکړه؟دې ویل هسې دا ځینې محصلین چې په نورو تنظیمونو او ګوندونو کې دي لکه اخوانیان، افغان ملتیان، شعله یان او داسې نور چې نیول کیږي هغوي سره څه کیږي؟هغې یو ځل بیا مغروره شان خندا وکړه وې ویل.خو له دوي هم دغه سلوک کیږي.څوک چې ډېر ضد فعالیت کوي هغه نابودیږي.او ځینې چې خالي د بل ګوند غړي وي.د هغوي ځای د څرخي پله زندان دي

. په دې خبره یې زما د سر غوټې زیګ شو. نور مې ورته هیڅ ونه ویل . ګلاب ورته غلي شان داسې وویل. د ظالم زامن هره ورځ محصلین نیسي او چیرته یې وړي. کله مې ویره په دې وشي چې نه خلقي یم او نه په بل کوم ګوند کې . خامخا انسان دی که له خولې نه مو غیر ارادي ضد خبره وشي بې مرګه مې نه پریږدي. خو زه درته یو وړاندیز کوم. ته پکې څه وایې ؟
هغه ښه متوجې شوه وې ویل ګلابه د څه وړاندیز ؟ ده وې فرښتې زۀ خو وایم چې یو ځل کلی ته تللی وای . هلته مو د حالاتو نه ځان خبر کړی وای . بیا به مو تصحیم نیولی وای. ما ډېر کوښش وکاوه هیڅ معلومات مې تر لاسه نکړو. ته پکې څه وایې ؟ هغه د ګلاب په دې خبره لږ څه راضي او خوشحاله شوهـ سمدستي یې وویل که زما او ستا د پلرونو نیولو نه دلته زموږ ټولګي وال ګوندیان خبر شي باور وکه چې نیسي مو . همدا ستا نظر زما نظر دی. یو ځل خو به تر کلي لاړ شو . بیا به ګورو ګلاب پوهـ شو چې فرښته ورسره هم نظره ده . وې ویل. بسترې به نه تحویلوو ځکه چې بیا رابانډې پوهیږي . خالي خپل سامان به په بکسونو کې واچوو او سبا ته به زه د سهار په نهو بجو لیلیه نسوانو مخې ته درته ولاړ یم. ته به دې ضروري شیان درسره راواخلې او نور په پرېږدې چې څوک دربانډې پوهـ نشي. دواړو دا پریکړه وکړه. او د کتابتون نه راووتل او لیلیې ته لاړل.
په دغه شپه ګلاب ډېر خفه وو ټوله شپه په دې سوچ کې وو چې ګني له تحصیل نه به پاتې شي. هاغه د تحصیل او زدکړې سره ډېره علاقه ده. سهار چې د کوټې ملګري یې درس ته خپلو پوهنځیو ته روان وو . ده سوړ اسویلی ویوست. تر څو د کوټې ملګري یې ټول ووتل او دی یوازې پاتې شو . خپل ځینې ضروري سامان یې بکس کې واچول. او د لیلیې نسوانو په لور رهی شو. په سړک کې یې یوه ټکسي موټر ته لاس ونیو . دی په پوره نهو بجو لیلیه نسوانو ته ورغی کتل چې فرښته ولاړه وه . دی زر له

ټکسي ور ښکته شو او د هغې بکس يې په ټکسي کې کيښود ـ ټکسي چلونکي ته يې وويل استاد ځه چې پل محمود خان ته ځوو ـ دوي دواړه په شاته سيټ کې ناست وو ـ ګلاب هغې ته وويل څه مشکل خو نشته ؟ نه نه مشکل نشته مګر ګلابه ته پوهيږې چې پرون رايسې مې وضعه پدې ښه نه ده چې تحصيل مو پاتې کيږي ـ والله که مې بيګا ټکی خوب کړی وي ـ سهار چې نورې جونې درس ته روانيدې له معمول سره سم يې ما سره يو ځای تللې ـ خو نن مې ورته وويل ـ يو چاته انتظار کوم ـ لږ وروسته به درشم ـ
بيخي ژړا نيولې ووم ـ په دغه ساعت هم د هغې ستوني راډک شو او ښکې يې راماتې شوې ـ هغه زر دستمال ورکړ ورته وې ويل دا څه کړې ـ دا د ژړا وخت دی چې اوښکې دې روانې دي؟ پروا نه لري هر څه به په خير سره پخپل وخت سره کيږي ـ يو ځل خو په خير کلي ته ورسيږو ـ بيا به ګورو ـ نور به په دې باب هيڅ تشويش نه کوي ـ
دوي لا په دې خبرو کې وو چې ټکسي د محمود خان پل په هډه ودريد ـ له ټکسي نه يې خپل بکسونه له ځان سره واخيستل او د جلال اباد د موټرو هډې ته ورغلل ـ په هډه کې يو سوريس موټر تيار وو چې حرکت وکړي ـ دوي هم ورپورته شول ـ او دواړه په څوکۍ څنګ په څنګ سره کښيناستل ـ لږه شيبه وروسته کلينر استاذه ځه په خير غږ د سرويس له شانه وکړ او موټر روان شو ـ تر تنګي پورې کله چې سرويس د حربي پوهنتون نه تير شو ـ او د تنګي خولې ته ورسيد ـ دوي دواړه پخپل چورت کې غرق ول ـ ګلاب له حان سره څه فکر کړی وو ـ زر يې هغه په څنګل ووهله ورته وې ويل ـ لکه چې هر څه دې له لاسه ورکړل ولې خبرې نه کوې ؟ د هغې رواني حالت هغسې نه وو لکه څنګه به چې پخوا وو ـ يوازې دومره يې وويل ښه دي چې ته راسره يې لکه ټوله دنيا چې راسره وي ـ نو بيا چُپ ولې يې ؟ چُپ خو پدې ووم ګلابه زما او ستا هغه وعده چې د لوړو زده کړو سرته

رسولو په حقله مو کړې وه. فکر کوم چې ماته شي. ما خو درته مخکې وویل چې ددې په باب هیڅ فکر مه کوه. ته خو دومره صبر وکړه. چې کورته خو ورسیږو په حال احوال به سره پوه شو. بیا به هغه وخت دا خبرې کوو. سمه ده نور به پرې سوچ نه کوم. په دې وخت کې ده هغه له نورو پټه وسکونډله. هغې لومړی آخ وکړ او بیا یې وخندل. سرویس هم د ماهیپر په کږلیچي ورکوزیده. فرښتې ده ته سر را وړاندې کړ. غلی شان یې ورته وویل. خدای دې خیر کړي. نوروې وعدې مو ماتې نشي ؟ ده ورته وویل. نورې وعدې په ما او تا پورې اړه لري. دواړو په سترګو کې سره یو بل ته په مینه خواږه خواږه کتل. له سروبي نه چې ورښکته شول. ګلاب د هغې څنګل پخپله څنګل ووهله وې ویل فرښتې دا هغه ځای دی چې لومړي ځل لپاره مو پکې دمه کړې وه. ګوره هاغه لاندې د سین غاړې ته چې ورښکته شو او هلته د غره په لمن کې چې کوچیانو اړولي وو. هغې لکه د سهار ګل سرې شونډې بیرته کړې له ځان سره یې وخندل. ورو یې وویل. هو ، هو همدغه زموږ د مینې دمه ځای. هو فرښتې هغه شیبه خو لږه را په زړه که. بیا یې مسکا په شونډو تیره شوه. د هغې په لاس یې زور وکړ. دواړه د هغه وخت او شیبو د مینې خوند ته سوچ واخیستل په فکر کې پاتې شول. د هغې شیبې ناسته او مینه یې په زړونو کې لره بره کیده. تر ننګرهاره یې بیا نورې خبرې ونکړې. کله چې سرویس ودرید. کلینر غږ وکړ ښکته شئ. وروره خپل سامان هیر نه کړئ. دوي له موټر نه ښکته شول. بکسونه یې دواړه جوالي ته ورکړل. د کلي د موټرو تم ځای ( هډې ) ته ورغلل. په یوه جیف موټر کې کښیناستل ده فرښتې ته وویل. فرښتې کلي ته روان یو که دریشي دیبدل کړې. د کلي جامې واغوندې بده به نه وي. لا سورلۍ پوره نه دي. راځه دغه سرایې ته به ورشو چې جامې بدل کړې. په چالاکۍ سره سرایې ته ورننوتل. له سرایې وان نه یې هیله وکړه. هاغه ورته یوه کوټه په ګوته کړه. هغې زر زر جامې بدل کړې. واپس دواړه

جیف ته راغلل. د موټر چلونکي د جیف تر څنګه ولاړ وو. وې ویل خیږئ چې ځو له خیره. دوي په بیړه جیف ته ورپورته شول. او موټروان دومره وویل دعا د خیر ده. غرشي جیف روان شو ماښام نزدې وو چې جیف کلي ته ورسید هر څوک خپلو کورونو ته روان شول. دوي خپل بکسونه ورسره واخیستل او کلي ته ور وخوځیدل. په لاره کې ګلاب فرښتې ته وویل. فرښتې هر څه چې وي د الله نه به پیښ وي. ځان به له مرۍ نه نیسې او نه بې ځای خپګان وکړې. زه به سبا ته خامخا ستاسو کور ته راشم. چې په احوال سره ځان پوهـ کړو. هغې ویل سمه ده ګلابه که سبا ته رانغلې زړه به مې وچوي. ده ویل هیڅ تشویش مه کوه. ټول کارونه به سم شي. د فرښتې دو کلا راورسیده. ګلاب ته یې وویل را ځه همدلته به ماښام تیر کړې. ماسخوتن ناوخته به درسره دهقان بکس یوسي. ده ویل مننه زموږ د دواړو کورته تلوار ده. ښه به دا وي چې اوس کور ته لاړشم. نورې خبرې به سبا ته کوو. دواړو سره لاس ورکړل خدای په امان یې سره واخیسته. ګلاب خپل کور ته لاړ او فرښته خپلې کلا ته ننوته. کله چې فرښته کور ته ورننوته. د مور یې پرې سترګې ولګیدې. د ماښام خړه په تورتم اوختې وه. هغې له لیرې دالانه نه په مور ورغږ کړ. مورې زه یم. فرښته. مور او د کور لوی واړه د هغې مخې ته راپاڅیدل.

مور یې ورغاړې وته دواړو په چیغو چیغو وژړل. د کور نورو ماشومانو هم وژړل. مشر ورور یې په کور کې نه وو. ټولو ښه ډیر وژړل. فرښته تر ډیره سلګو نیولې وه. مور یې ورته ویلې بس دی لورې مه ژاړه. څه چې د خدای نه راپیښه وي. قبوله مو ده. په ژړا هیڅ نه کیږي. هغه چې په ژړا ښه سترې شوه. بیا یې له موره داسې اوپوښتلې. مور جاني د پلار په حصه کې څوک څه نه وایي چې مړ دی او که بندي دی ؟ مور یې وویل نه نه لورې خو هیڅوک څه نه وایي. د کلي خلقیانو ته هم څه معلومات نه کیږي. آبله ورځ سیداګل کور ته ورغلم. ما وې که څه معلومات یې تر

لاسه کړي اوسي. هغه بیچاره هم ډېر پسې په عذاب شوي دي. دا ټول زندانونه يې ورپسې کتلي دي هغه ډېر ښه سړی دی. کاشکې ټول خلقيان دده پشان وای. بیچاره راته وویل تر مرکزي کمیټې پورې مې پوښتنه کړې ده چا ورته څۀ معلومات نه دي ورکړي. ورور دې بیا والي ته نن ورغلی دی. لا واپس بیرته کور ته رانغی. فرښتې وویل. مورجاني ګلاب په کابل کې ډېرې مندې رامنډې ووهلې. تر پل څرخي زندان پورې پوښتنه کړې ده. لا ځینو ورته ویلي دي په دغو کسانو پسې مه ګرځه. خطره به اوګورې. او رښتیا هم مورجاني کابل کې نیول رانیول زیات شوي دي. مور دواړه په کوم ګوند مند کې د چا سره نه یو. مګر په ځان وډار شو. بس کلي ته راغلو. مور يې د هغې خبره پرې کړه وې ویل. ښه مو کړي چې راغلې؟ ورور دې ویلې چې فرښتې پسې کابل ته ځمه خو هغه بیچاره وخت نه دی موندلی او دا چې پخپله راغلئ ډېر مو ښه کړی دی. رښتیا فرښتې لورې چې د ګلاب د پلار هم څه درک نه دی شوی؟ نه مورجاني ګلاب په دواړو پسې هر چیرې پوښتنې ګرویږنې وکړې. خو هیڅ يې لاس ته رانه وړل. اخر د پوهنتون د محصلینو نیول رانیول چې پیل شول دی هم په ځان وډار شو. اګرچې په هیڅ ګوند کې نه دي ولې پینځه وخته لمونځ کوي. کله به يې ماته وویل. حیران په دې یم چې دا ډېر لمونځ کول راته بد نشي. د کوم خلقي له پامه به ورته اخواني ښکاره شوی یم. د څرخي پله زندان به يې راته ځای کړی وي. هلته په پوهنتون کې ډاریده. څو کسانو ورته ویلي وو چې پټښې باسه ګني نیسي دي. په دې وخت کې د فرښتې ورور هم راغی. هغه ورپاڅیده ورور ته ورغاړې وته. بیا يې په سلګو سلګو وژړل. ورور يې ورته وویل خورجاني مه ژاړه حوصله کوه. خدای مهربانه دی. د خور په سر يې لاس تیر کړ کټ ته کښیناستل دستي يې مور ترې پوښتنې وکړه. بچې څه احوال دې راوړي دي؟ مورجاني والي صیب زما په مخ کې کابل ته ټیلیفونونه وکړل. ډیره

خواري يې وکړه . اخر کوم غټ څوک به وه ورته ويلې دي چې زه به ورپسې وګرځم. يوه اونۍ وخت راکړه. ما ته يې وويل چې يوه اونۍ وروسته به بيا راشې معلومات به مې اخيستي وي. مور يې وويل بچې لاس پورته کړئ الله ته سوال وکړئ چې پلار مو پيدا شي. ټولو لاس جګ کړل دعا يې وکړه.
هغه وويل مورجاني والي دا هم وويل چې هغه کس راته ويلې دي زه به دومره هڅه وکړم که مړ نه وو نو راخلاص به يې کړم. په دې خبره هغوي خوشحاله شول. په دې وخت کې د فرښتې ورينداړ راغله وې ويل. ډوډۍ تياره ده. ټول ډوډۍ ته لاړل. له ډوډۍ وروسته ماسخوتن تيره پورې په سالون کې سره په خبرو اترو مصروف وو. مور يې وويل فرښته ستومانه ده. بايد ارام خوب وکړي. ټولو وويل هو دا بايد ويده شي. وريندارې ورته د هغې پخپله کوټه کې د پخوا پشان کټ بستره جوړ کړل. هر څوک خيلو ځايونو ته د خوب لپاره لاړل. فرښته چې خپلې کوټې ته ننوته د خپل کټ په بازو کښيناسته په زړه کې يې ورتير شول.
( عجبه پيښې رامنځ ته کيږي. زما او د ګلاب غمونه او خويونه يو شان دي. سبا ته چې راغی لږ څه ډاډ مې خبرې به ورته وکړم. هاغه به هم يو څه خو اوريدلي يې راته اوبه يې وايې سبا يې د روځې درې بجې وې چې ګلاب له کوره راووت او د فرښتې کور ته ور روان شو. د هغې د کلا مخې ته چې ورسيد . د هغوي د دهقان وړوکي زوی يې کلا ته ورننويست تر څو فرښته خبر کړي. د دهقان زوی فرښتې ته د ګلاب د راتلو وويل. هغه لکه ګل وغوړيده. له ځايه راپاځيده وار خطا شوه. مور ته يې نارې کړې. مور جاني وا مور جاني. بيا اينې ته ودريده. په ځان يې ګوتې متې ووهلې. په منډه د کلا دا لار ته راووتله. بيا يې مور ته ورنارې کړې. مور جاني مور يې غږ واوريد وې ويل. څه وايې لورې. هغې ويلې مور جاني ګلاب دروازې ته راغلی دی. مور يې وويل. حجرې ته يې راوله. ښه ده دا دی

ورغلم - په چالاکۍ سره د کلا دروازې ته ورغله - ګلاب وړاندې د باغ دروازې ته ولاړ وو - په خندا د هاغه خوا ته ورغله ستړې مشي یې سره وکړه ویلې راځه په دننه حجره کې به سره کښېنو - هغه ورسره حجرې ته لاړ - حجرې ته چې ننوتل لا مور یې دننه وه او وروریې ولسوالۍ ته تللی وو - ورینداریې په پخلنځي کې مصروفه وه - فرښتې د لومړي ځل لپاره د ګلاب پغاړه ورپریوته - وې ویل ګلابه ایله مې په مرۍ کې ساه وچلیده - ښه دي چې راغلې ؟ ګلاب ورته وویل - زړه دې ډېر نرۍ شوی دی لږ احتیاط کوه چې .... ! دې د هغې له اوږې نه سر راپورته کړ - هغه ته یې وویل مهرباني وکړه - دې څوکۍ ته کښېنه - چې زه مې مور راولم - په دې وخت کې یې مور هخم راغله - ګلاب ورپاڅید د فرښتې د مور لاسونه یې ښکل کړل - هغې هم ستړې مشي ورسره وکړه په دواړو یې ښکل کړو - بیا درې واړه کښېناستل - پوره احوال پوښتنه یې سره وکړه - مزدورې چاې ورته راوړو - تر ډېرو اړودو خبرو وروسته د فرښتې مور وویل - ګلاب زویه بیګاه ته به له مور سره پاتې شې - ډېره به خوشحاله یم - اشرف خان به هم راشي - ده ویلې ډېره مننه مورجاني - یوازې ستاسو سلام ته راغلم ما وې چې یو ساعت د زړه خواله درسره وکړم - ما وې اشرف خان به هم ووینم - خو خیر هغه به بیا وینم لږ ساعت به فرښتې سره خبرې وکړم - بیا ځم کورته - د فرښتې مور له ست او زارۍ نه وروسته وویل - ښه نو چې نه پاتې کېږې لورې ده ته په باغ کې چکر ورکړه - چې پام یې بدل شي - هغې ویلې ښه مور جاني موږ به باغ کې چکر ووهو - همداسې پاڅیدل او باغ ته ووتل - په ګلونو کې یو ساعت وګرځیدل راوګرځیدل په پخوانۍ د ګلونو د منځ چوتره باندې کښېناستل - له نورو خبرو وروسته یې ګلاب ته وویل ډېر تشویش مه کوه - مقاومت په کار دی - هغه ویل هو فرښتې ستا خبره په ځای ده - تشویش سړی له ژونده باسي - ژوند کې دا تودې سړې شته دی - موږ باید زړونه کلک کړو - دواړو پوره د مینې خواله وکړه - بیا

ګلاب وويل اوس په ستا په اجازه درنه لاړ شم .دواړه د باغ دروازې ته ورو ورو لاس پلاس روان شول. تر څو له باغه ووتل. ګلاب ترې مخه ښه او خیسته او د کور په لور لاړ .فرښتې سوړ اسویلی ویوست او کلا ته ننوته.

اشرف خان چې ماښام کور ته راغی مور یې ترې داسې پوښتنه وکړه . بچی څرنګه ولسوال دې ولید ؟هو مرې د ورځې ورغلی وو م ډېر ساعت ورسره ناست ووم.زه چې څنګه د هغه دفتر ته ورننوتم.دستي له ځایه راجګ شو.ښه په مینه یې راسره بړګندی وکړه.هغه مې له پخوا نه اشنا وو .ورسره کښیناستم څه کسان نور هم ناست وو .د هغوي کار یې ورخلاص کړ.بیا یې ماته مخ را واړولو وې ویل.اشرف خانه څه حال دی. دا ډېره موده پس دې رابېښه وکړه .ما وې د پلار په کارونو پسې سرګردانه یم.اوس هم دا دی تاته راغلم چې که کوم معلومات دې تر لاسه کړي وي .هاغه خپل قلم په میز کېښود لومړی یې شاو خوا وکتل بیا یې راته داسې وويل.اشرف خانه دوست مې یې درباندې خفه کېږم.خو څه کولی شم چې رښتیا درته ووایم ددې زون د امر نه بیخي قارون جوړ شوی دی.مخې ته یې ورتلی نشم.هر څه دده پلاس کې دي.دا هر څه چې کیږي دده په امر کېږي.په هغو لومړیو ورځو کې مې ورته همدا ستا د پلار په حصه کې ورته وويل.راباندې رابرګ شو هغه څه یې چې ماته ویلي دي زه یې درته نشم ویلی.په مرګ یې تهدید کړم.زموږ په دغو خبرو کې لاس نه رسیږي.هو رښتیا یو کار کولی شم چې په یوه تن به لیک درکړم.کابل ته سبا ته لاړ شه هغه به هر څه چې شوي درته پوره معلومات درکړي.په هاغه سرې کې ټکي برګي نشته دی.یو لیک یې ورته ولیکلو.دا دې مور ته یې لیک وښود .مور یې وويل.چې داسې ده زویه سر له سبا نه لاړ شه.هو مور جاني سبا ته به وختي که ژوند باقي وو کابل ته لاړ شم.

سبا يي چې کابل ته روانيده فرښته ورسره د کلا له دروازې نه راووتله .او ورته وې ويل .لالا ته خو بې له هغه کابل ته ځې د ګلاب د پلار په باب هم ترې پوښتنه وکړه .هغه وويل په سترګو خوري ولې نه د دواړو به پوره پوره معلومات راوړم .خور جاني د خدای په امان .فرښته چې کور ته بيرته ننوته مور ته يې وويل .مور جاني لالا ته مې د ګلاب د پلار هم وويل .هغې په ځواب کې ورته وويل .ډېر دې ښه وکړل لورې بيا يې هغه ته ووايه چې خبر شي .ښه ده مورې له غرمې وروسته به ورپسې د دهقان زوی ور ولیږم چې يو ځل راشي او له نزدې نه ورسره وغږيږم .سمه ده لورې خدای دې ورحميږي .فرښته د مور په خبره خوشحاله شوه . سمدستي خپلې کوټې ته لاړه .په زړه کې يې تير شول .( خدای دې وکړي چې ګلاب په کور کې وي که هلک ورشي او هغه په کور کې نه يې نو بيا ؟ په کور کې به ورته داسې ځواب پرېږدي چې هر وخت راغی د فرښتې کره دې راشي .همدغه خبره غوره ده .زه به هلک قانع کړم ) له غرمې وروسته د هلک تر لیږلو پورې دغه وخت په دې سخت تيريده تلوسه يې وه چې هغه سره ملاقات وکړي او هم ورته د اشرف خان د تګ خبره وکړي. دوه بجې وخت چې را ورسيد .فرښتې مزدورې ته وويل.ته ورشه د سليم اکا زوی نور ګل ما ته راوله.هغې ويلې ښه بې بې دا دی ورپسې لاړم.دا هم ورپسې د کلا دروازې ته ورغله.هلک چې راغی دې ورته وويل.نور ګله ته لاړ شه د ګلاب دوي کور ته پخپله به ګلاب ته ووايې چې يو ځل راشه فرښتې غوښتے يې .هلک په منډه روان شو .هغې ور غږ کړ ته ودريږه په خبره ښه ځان پوه کړه .هغه راوګرځيده مخې ته يې ودريد دې ورته بيا وويل که چيرې کور کې نه وو .ځواب به ورته پرېږدې ورته ووايه هر کله چې کور ته راغی د فرښتې دوي کره دې لاړ شي .پوه شوې .هغه سر وخوځاوه او روان شو .

لږ ساعت وروسته نور ګل ساه نیولی راغی .کلا ته ورننوت .راساً د فرښتې خوا ته ورغې.ورته ویل.ګلاب په کور کې وو ویلې میلمانه مې دي چې دوي لاړل درځمه .هغه خوشحاله شوه هلک ته یې پیسې هم ورکړې .دولس کلن نور ګل چې پیسې ولیدې خوله ترې ورانه شوه فرښتې ته یې وخندل او په چابکو ګامونو له کوره ووت .فرښته کوټې ته ننوته جامې یې بدلې کړې.وربل یې ږمنځ کړ.اینې ته ودریده.خپل مخ او ښایست ته حیرانه شوه .له ځان سره یې وویل .( پریږده چې د هغه سترګې راباندې خوږې شي بې له هغې بیچاره ډېر خفه او ستومانه دی . نن به ورسره په باغ کې تر ډېره کښېنم چې یو د بل په مینه ماړه شو .دا د ظالم زوی په ما څومره ګران دی؟ )هغه ته هم ګرانه یم بدبختانه چې دې پېښو هر څه له موږه واخیستل.مخکې له مخکې یې په مزدورې باندې چاې تیار کړ ورته په میز کیښود .هغه پخپله د کلا دروازې ته څو ځلې ووته.د هغه پام یې کاوه.دا ځل چې دروازې ته ورغله.وې لیدل چې هغه له ورایه را روان دی .دې په منډه له دننه نه چاې پخپله راوخیست او بیرون ته ووته.د باغ دروازه یې خلاصه کړه د باغ دروازه کې ورته ودریده .ګلاب هم د بڼ دروازې ته راورسید .هغې له دننه نه ده ته په جامو کې نه ځایدله.د ډیرې خوښۍ نه یې ځان له دروازې نه پناه کړ .ګلاب باغ ته ورننوت.هغې زر دروازه پورې کړه او ځنځیر یې ورواچاوه.بیا یې ګلاب ته لاس ورکړ.هاغه لاس را اوږد کړ.سره مخامخ سترګه په سترګه شول. خړپ شو دواړو یو بل سره ښکل کړل.فرښتې چاې له مځکې نه پورته کړ. په باغ کې د چوترې پلو ورغلل .لومړې یې د خپل ورور اشرف خان خبره ورته وکړه.او ورته وې ویل.ستا د پلار مې هم ورته وویل.ورور مې ویلې د دواړو پته به ولګوم.هیله ده چې څه پته خو به راوړي.رښتیا تا څه اوریدلي دي ؟ما خو داسې څه نه دي اوریدلي چې کومه هیله دې پکې وي.صبر به وکړو چې اشرف خان څه راوړي.دې له تر موزه چاې

ورته پیاله کې توې کړ او بیا یې پیاله هغه ته ونیوه . بیا یې یوه شیرنې دانه د هغه خولې ته ونیوه . هاغه ترې مننه وکړه . دواړو یو بل ته کتل او چای څښلې . وروسته بیا فرښتې له ګلابه داسې پوښتنه وکړه . لکه څومره چې ماته ګران یې ایا تاته زه ګرانه یم ؟ د خپل زړه نه دې تپوس وکړه . هغه مسکی شوه وې ویل . خیر چې داسې ده زموږ د دواړو د مینې توله سره برابره ده . خو په دې هیله چې دا زموږ مینه همداسې پاتې شي . حالات بل ډول را روان دي ګلابه څه به کیږي ؟ لیونی دې خبرو پسې مه ګرځه دا د پلرونو خبره مو یوې خوا ته شي بیا به ګورو . یعنې څنګه به ګورو . هغه لږ مسکی غوندې شو . ګورو خو به هسې چې واده به کوو . ګمان مې نشي ګلابه دا اوسنی وضعه راته بدله ښکاري . فرښتې دومره صبر خو وکړه چې دا حالت روښانه خو شي . بې صبره نه یم ګلابه دا تودې سرې او ورپسې به لار نور څه کیږي . سرې هیڅ نشي ویلی . دا خبره زه څکه کوم زما او ستا د وعدې نه یوه ماته شوه چې هغه د تحصیل خبره وه . لکه موږ چې وعده کړې وه کله چې مو زده کړه او تحصیل سرته ورسیږي بیا به واده کوو او دا را روان حالت هم راته سم نه بریښي . خیر په هر صورت فرښتې موږ به د بندګۍ وسه کوو دا چې بې وخته تقدیرونه بدلیږي . زموږ ګناه به نه وي . ګلابه انسان باید همیشه د خپل تقدیر په بام کې اوسي . کله خو انسان د پېښو او حوادثو په لړۍ کې ځان بایلي په هر پښې ایږدي او تیریږي وارخطایي به نه کوو . فرښتې وخت او حالات به څارو . ستا نظر سم دی خو زه وایم چې عمر ګړندی تیریږي . د ځینو بې نصیبو د زړونو هیلې ماتې او ناکامې شي . فکر کوم فرښتې چې په دې دوه شپو کې دې کوم د مینې ناکام داستانونه لوستي دي که څنګه ؟ ګلابه داسې نه ده د هر چا ژوند یو داستان دی . ژوند کامیابي او ناکامي دواړه لري . خو زه وایم چې دا د ځوانۍ شیبې د ځینو پېښو ښکار شي .

ګلاب له خپل ځای نه پاڅید د هغې تر څنګه کښیناست او له غاړې نه یې خپل لاس چاپیر کړ وې ویل . نن دې د خبرو او مینې منطق راباندې زور دی . او دومره ښکلې یې چې د چا پلار به درته ټینګ شي . هر څه دې رانه د مغزو نه ویستل . افرین دې ماته وي چې لکه د سندان داسې کلک یم که بل څوک وای خو .... ! ګلابه ته پوهیږې چې زما د ګلاب ګل څومره خوښیږي . ای هلکه تا ځانته کتلي دي . هندوانۍ درته مسلمانیږي . ده وخندل او هغه یې غیږې ته راجوخته کړه . دواړه ښه شیبه یو بل کې سره ورک شول . یو وخت فرښتې سر راپورته کړ . خولې خولې شوې وه . زلفې یې په مخ دانه وانه شوې وې . وې ویل ګلابه بس دی . درځه چې ځوو . هغه وویل هو ناوخته دی ځو به چې زما ملیمانه راځي . رښتیا چې فرښتې همدا نن مو ایله د مینې تنده ماته شوه . دواړه په ورو او درنو قدمونو د باغ دروازې ته ور روان شول . دروازې ته چې ورسیدل . فرښته ودریده وې ویل . ګلابه داسې نه کیږي . هر مازدیګر دلته راځه چې سره وینو . بې له دې نه کیږي . ولې خیریت خو دی ؟ دا خلک به څه وایي جینۍ دا خو کلی دی کابل خو نه دی ؟ نه نه زموږ ژوند او ستونزې سره یو شان دي په موږ هیڅوک بل ګمان نه کوي . زه به مې مور ته ځینې خبرې وکړم . چې د هغې قناعت حاصل وي . زموږ د کور لوی واړه په تا لکه د رښتیا او فرښتې ګمان کوي . په ټولو ګران یې او ماته چې معلومات دي . د کلي په ټولو خلکو ګران یې . په دې باب هیڅ فکر مه کوه . پخپل نوم کې دې زه هم درشریک کړم . زما په هر څه کې شریکه ګلابه . اوس دې په مخه ښه شه . سبا ته به هم پدغه وخت زه درته همدلته ولاړه یم . هغه ورته د هو سر وخوځاوه . او لاړ . څنګه چې تر کوره ورسید . وې لیدل چې د کوڅې خلک جومات ته د مازدیګر مانځه ته تلل . ده هم په کور کې اودس تازه کړ او په چالاکۍ سره جومات ته لاړ . د کلي ډیر خلکو ولید چې ګلاب بیا له کابله راغلی دی . هر چا به ویل چې دی به د پلار له نیولو نه خبر شوی خو ځکه

کلي ته راغلی دی. ده چې د کلي د خلکو خبرې واورېدې د رژيم په ضد ټولو خپلو کې سره خبرې کولې. يوه تن لږ څه په جګ اواز وويل. بيګاه يې د پورې کلي ښوونځی وسوزولو. لمبې يې اسمان ته پورته شوې. د هغه تر څنګه يو د پاخه عمر سړي ووي ويل خلکو لښکر جوړ کړی دی. نن سبا به ګوري، چې دا ټوله سيمه به ترې ونيسي. ده چې دا خبرې واورېدې. په سوچ او فکر کې پاتې شو. کور ته چې راغی په کور کې يې مور ته د شپې له خوا دا خبرې را واخيستې. مور يې وويل زويه خدای دې برې ورکړي. د کفر حکومت دی ستا پلار يې ونيو د دې کلي خان د فرښتې پلار ونيو. اورېدلي مې دي چې له ځينو خلکو نه ځمکې اخلي او بې ځمکو کسانو ته يې ورکوي. دی ورته غلی ناست وو. همدا خبرې يې په ذهن کې ښکته پورته کولې. سبا چې د فرښتې دوي کور ته ورغی. هغه ورته په ټاکلي وخت د باغ په دروازه کې ولاړه وه. دی چې د باغ په دروازه ورننوت. فرښتې بيا د باغ دروازه ځنځير کړه. هغه سره يې ښه په مينه ستړي مشي وکړه. ده ورته وويل فرښتې ما چې احوال واخيست حالات ښه نه دي. د دولت په مقابله د درو او باندو خلکو لښکر جوړ کړی دی. ځينې ښوونځي سوي دي. مرګ ژوبه هم رامنځ ته شوې ده. ددې کلي خلکو هم په جومات کې بس همدا خبرې کولې. هغې وويل ګلابه ددې وطن راتلونکي راته ښه نه ښکاري. خو زه وايم چې د کلي د خلکو چې څه حال وو هغه به زموږ هم وي. چې دا ورور مې په خير له کابل نه راوګرځي تر هغې به حالات ځارو. اوس راځه چې دواړه ددې ګلونو منځ کې کښېنو. دواړه د ګڼو هر ډول ګلونو د منځ په چوتره کښېناستل. د ګلاب فکر لکه د نورو ورځو پشان نه وو. لږ څه مايوسه ښکارېده. دې ترې سمد ستي پوښتنه وکړه ورته وې ويل. هر څه چې دې اورېدلي دي وې وايه. چې زه هم خبر شم. څه خبره ده ؟ دی زر ځانته متوجې شو غير عادي خندا يې وکړه. وې ويل. نور څه لا نشته يوازې په دې سوچ کې يم چې که دا وضعه

پسې خرابه شي دا د کلي خلک او مور به څه تدبير نيسو ـ هسې په دې فکر کې يم ـ بله خبره نشته دی ـ ته تشويش مه کوه ـ زه څنګه تشويش ونکړم ـ ګلاب به زما ټول فکر، سوچ او خيال ستا په حالت پورې تړلی دی ـ نور څه نوې پيښه نشته دی ـ يوازې د پلار د کاروبار او د هغه د ژوند ټوله سرمايه په سين لاهو شوه ـ ما ته د هغه د کاروبار هيڅ معلومات نشته دی څه وکړم له چانه پوښتنه وکړم ـ حالت به روښانه شي ـ هيڅ شی پټ نه پاتې کيږي ـ ته دومره زر مه وارخطا کيږه ـ هر څه به سم شي ـ په دې ورځ د ګلاب زړه مات وو ـ خو د فرښتې په خبرو يې زړه تسلي وا خيسته ـ وې ويل ـ د وخت او پيښو سره به سم خپله فيصله کوو ـ اوس هيڅ نشو ويلی ـ بالکل ګلاب به سمه خبره دې وکړه ـ يوازې مور نه يو د دې کلي د خلکو چې څه حال وو هغه به زموږه هم وي ـ ما خو درته دا خبره مخکې هم وکړه ـ نور په دې باب هيڅ فکر مه کوه ـ هغسې خو د دواړو يو شان مشکلات وو مګر د ګلاب د پلار مشر زوی همدا يو ګلاب وو ـ نور اولادونه يې واړه وو ـ نو ځکه ټول غمونه دده په سر راغلل ـ او له بله پلوه د پلار د پيسو او کاروبار ده ته هيڅ پته نه وه ـ له دغه ستونزې سره مخامخ وو ـ په دې ورځ يې د فرښتې سره د مينې خبرې اترې دومره نه وې ـ هر څومره چې به هغې ورسره د مينې شوخي کوله دی لکه د مړاوي ګلاب غوندې ښکاريده ـ فرښتې يې لاس راونيو بيا يې ترې هيله وکړه ورته وې ويل ـ د اشرف لالا د راتګ پوره هيڅ تشويش مه کوه ـ په خندا او لوړ غږ يې ورته په داسې حال کې وويل چې د هغه دواړه لاسونه يې ورپنجه کړي وو ـ زور يې پرې کاوه ـ د هغه هم غونې رازيګ شو ـ خپل لاسونه يې د هغې د لاسونو نه خلاص کړل او ځانته يې راجوخته کړه ـ هغې ترې ځان راښکود پاڅيده دوه ګامه ترې وړاندې ودريده وې ويل ـ نوره اجازه نه لري ـ دی بينوا ودريد وې ويل چې داسې ده نو زه به لاړ شم ـ د تلو زړه که دې کيږي مهرباني وکړه ـ وې خندل ويلی ارمان چې زړه مې له تا سره دی کنه درځنې

تلم ـ زه په دې ویره کې شوم ګلا به کیدی شي حالت دې له دې نه هم بدل شي بیا خو به ما له یاده اوباسي ـ خبره دومره لیرې او وړاندې مه بیایه ـ ښه ده چې د یوه کلي یو ـ یو کلی خو د یوه کاله مثال لري ـ فرښتې زموږ هر څه سره یو دي ـ موږ خو په لومړۍ ورځ د مینې قسم خوړلی دی ـ هو یو شی به مو بیلوي چې هاغه مرګ دی ـ بس بس نور به وړاندې نه ځې ګلا به ـ دا سوال او دعا به کوو چې دا مشکلات یوې خواته شي بیا به زموږ د خپلې وعدې سره سم د مینې غوټۍ په غوړیدو شي ـ نو چې دا سې ده ولې دې رانه ځان راښکه ؟ ددې لپاره چې زموږ د مینې یادګارونه خو پاتې شي ـ کله ام خو نارینه د محبت او اومه تار ټینګ نه دي پاتې شوي ـ رښتیا فرښتې را یاد شول ـ زه سبا ته یو ځل هغه ځای ته ځم کم چې زما پلار پکې کاروبار کاوه ـ یو ځل به د هغه ځای له خلکو نه پوښتنه وکړم ـ د هاغه د نیولو او د کاروبار په حقله به یې هم معلومات تر لاسه کړم ـ علي سید به له ځان سره بوځم ـ هغه مې اشنا دی خلقي هم دی ـ د هغه په واسطه سره به د هر څه معلومات تر لاسه کړم ـ درې څلور ورځې وروسته به واپس راشم ـ چې ته خبر اوسې ـ هغې اخ وکړ ویلې زه به څه کوم ګلا به ـ باور وکړه چې د ورځې خو په هر صورت وخت تیریږي مګر د شپې له خوا مې فکر او سوچ له تاسره وي ـ

ټوله شپه مې په خیال کې ګرځې راګرځې ـ او اوس چې دې دا خبره وکړه ـ پما به دا درې شپې ورځې څنګه تیرې شي ـ کائیو سکي نالونه به درته راولیږم ـ هغه مطالعه کوه ـ وخت په دې ښه تیریږي ـ را وې لیږه ـ خو دا د خپل ناول قیصه به مو څنګه شي ؟

زموږ قیصه لا نیمګړې ده ـ اوس به زه ستا په اجازه سره درنه خوځیږم ـ چې یو ځل هغه هلک سره خبرې وکړم چې را سره ځي او کنه ـ سبا ته که رانغلم نو ته پوهه شه چې زه به تلای یم ـ (تللای) یم ـ سمه ده ـ هغې غلې وویل ـ هو سمه ده ـ د بڼ دروازې ته ورسیدل ـ فرښتې هغه ځانته مخامخ

ودرولو ورته وې ویل- له درې ورځو نه به زیاتي نه تیروې- چې زړه به مې وچوي-لا د دروازې ځنځیر یې خلاص کړی نه وو چې ګلاب خپل دواړه لاسونه هغې ته خلاص ونیول-تر څو تر غاړې وزي هغه زړه نا زړه کیده- سترګې یې سرې وا وختې- پغاړه ورپریوته-د دواړو له سینونه د محبت او مینې تودې لمبې پورته کیدې-ګلاب وویل لکه چې خوب یو وړې- فرښتې سر راپورته کړ -مخ یې لکه د کابل سره منه او سترګې تکې سرې اوختې وې -ده ورته وویل ته همدلته یوه شیبه ودریږه چې په هوښ راشې بیا کلا ته ننوځه-لاس راکه زه درنه لاړم-د خدای په امان-هغې لاس مړ ور اوږد کړ-ژړغونې یې وویل-ګلابه خدای دې مل شه-هغه په چابکو ګامونو له دروازې ووت او لاړ دا ورته تر هغې ولاړه وه تر څو چې پناه شو -او دا ننوته-

سبایې وختي ګلاب او علي سید له کلي نه د کونړ په لور وخوځیدل-په سړک یې یوه سرویس ته لاس ونیو -سرویس ودرید او دوي ورپورته شول-مازدیګر لا نه وو چې وتړه پورته ورسیدل-ګلاب کونړ نه وو لیدلی- نو ځکه خو یې څوک پکې نه پیژندل-د سړک پغاړه یې له یوه سړي نه پوښتنه وکړه -چې دوي ته د کوم خلقي کورور په ګوته کړي -هاغه سړي ورته وویل وروره دلته خو په هر کور کې خلقیان شته دی -د کوم خلقي کور دې پکار دی ؟علي سید ورته وویل-د کوم یوه چې دلته نږدې کور وي راویې ښا یاست -هغه سمدستي د سړک د غاړې یوې کلا ته ګوته ونیوه -ویلې دغه کلا کې پوښتنه وکړئ دوي هلته د کلا مخې ته ورغلل یوه هلک نه یې داسې پوښتنه وکړه -ورورکې ته ددې کلا یې ؟هغه ویلې هو -علي سید ورته وویل -ته ننوزه هغه خلقي مشر ورور ته دې ووایه بیرون درته څوک ولاړ دي-لږه شیبه وروسته یو بریتور زلمی رااووت چې ویښتان یې تر څټ تیرول په چابکو ګامونو د دوي خوا ته راغی -لومړی یې ستړي مشي وکړه -بیا یې وویل راځئ چې حجرې ته ننوزو -دوي

ورسره حجرې ته ننوتل. لومړی ورته چاې راوړل شو. لږه شيبه وروسته څو ګونديان د وسلې سره راننوتل. له دوی سره يې روغبړ وکړ. علي سيد ورته ځان وروپيژانده. ګلاب يې هم ور معرفي کړ. د کور والا وويل ملګرو دوي لا ما ته هم ځان نه دی را پيژندلی. له تاسو نه لږ مخکې راغلل ما لا سمه پوښتنه ترې نه ده کړې. علي سيد وويل. ملګرو زه د ګوند غړی يم. او دا زما دوست زموږ د کلي ګلاب کابل کې د پوهنتون محصل دی. زه ده له دې لپاره دلته راوستی يم چې د ده پلار دلته او د پيچ په دره کې د لرګيو تجارت او کاروبار کاوه. يو تن پاکستانی هم ورسره په کار کې ملګری وو. موږ د هغوي په پوښتنه راغلي يو. ناستو خلقيانو په دغه نوم کوم تجار نه پيژندلو. ورته وې ويل کيدی شي چې پيچ دره کې به يې کاروبار درلود. مګر ما اوريدلي چې څو تنه د لرګيو تجاران او د ځنګلونو وهونکي يې نيولي دي. فکر کوم چې دا کار به پيچ کې شوی وي. خو اوس د پيچ حالات خراب دي. لاره بنده ده. هلته تاسو تلای نشئ. مګر په ولايت کې د دې خبرې پوښتنه د ولايت د مقام نه کولی شئ. علي سيد وويل ملګريه که تکليف درته نه وي. په ولايتي کميټه که يو ليک راکړې چې هلته د ګوند ملګرو نه په دې باب پوښتنه وکړو. هغه وويل. ولې نه په دواړو سترګو. زه به ليک درته درکړم. هاغه ليک ورته وليکلو. په دې وخت کې له بره نه يعني د پيچ درې نه د لين موټر راغی. علي سيد وويل. ملګرو ستاسې په اجازه به موږ ولايت ته په دغه موټر کې لاړ شو. هغوي ورته ډېر ست وکړو. ورته د شپې پاتې کيدو يې وويل خو هغوي خپل عذر وړاندې کولو هغو نه يې اجازت را واخيست او موټر ته وختل. په څو دقيقو کې مرکز ته لاړل. مازديګر نزدې وو چې ليک يې ولايتي کمېټې ته ورووړو. علي سيد ليک د ولايتي کميټې منشي ته ورکړ. په کوټه کې ورسره نور کسان هم ناست وو. لومړی يې له دوي سره ستړي مشي وکړه. بيا يې ليک ولوست. هغه د ليک لوستلو نه وروسته د خپل

میز جابه راکش کړه ـ څه کاغذونه یې ترې راویستل ـ یوه پاڼه کاغذ یې مخې ته ونیو وې لوست ـ بیا یې بیرته کیښود ـ څه یې ونه ویل ـ ټیلیفون ورته راغی ـ لږ په ټیلیفون کې بوخت پاتې شو ـ د ټیلیفون غوږۍ چې یې کیښوده یو بل تن ورته رامخې ته شو ـ له هغه سره یې څه د ګوندي چارو په حقله څه وویل ـ دوي ته یې چاې راوړې ـ یوه ملګري ورته د چاې پیالي ورته په میز کیښودې ـ ډېر ساعت وروسته د کمیټې منشي وویل ـ ملګرو پدغو نومونو چې تاسې یې پوښتنې ته راغلي یاست ـ د ولایت مقام له خوا نه نیول شي او مرکز کابل ته بیول شوي دي ـ موږ پرې خبر یو ـ نور کارونه یې په دولت پورې اړه لري ـ که کوم ګوندي کاروي او موږ پورې اړه ولري ـ په منډه به یې کوو ـ خو که والي صیب ته هم ورشئ ـ هغه درته همدغه خبره کوي ـ چې هغوي په هغه ورځ مرکز ته لیږل شوي ـ نور ترې هغه هم نه دی خبر ـ چې ایا بندیان دي خوشي شوي دي په دې حقله به دا معلومات د مرکز ملګرو ته وي کوم چې په دې برخه کې کار کوي ـ که بل کوم خدمت موږ ته وي ستاسو په خدمت یو ـ علي سید ترې مننه وکړه ـ ماښام تیر وو چې له منشي نه یې د تلو اجازت واخیست او راووتل ـ بازار ته ورغلل ـ د ماښام ډوډۍ یې په یوه هوټل کې وخوړه ـ علي سید ګلاب ته وویل ـ ددې ملګرو خبرې دې واوریدې ـ دا څنګه چې یې موږ ته وویل همدغسې شوي دي ـ نور ته پکې څه وایې ـ هاغه ته خو د کابل خبره لا پخوا تثبیت شوې وه ـ یوازې دومره یې وویل ـ اندیواله بس همدغه معلومات مې غوښتل چې تر لاسه یې کړم ـ اوس به که موټر پیدا شي کلي ته به ځوو ـ ده ورته وویل ـ راځه چې بیرون ووځو ـ او ګورو چې موټر ځي که نه ؟

بیرون چې د موټرو تر هډې ورغلل ـ وې لیدل چې دوه درې موټرې د ننګرهار په لین تګ ته ولاړې دي ـ سمدستي یوه موټر ته وختل او ننګرهار ته لاړل ـ د شپې ناوخته ورسیدل یوه سرایې ته د شپې تیرولو

لپاره ورغلل.سبایي دواړه د ننګرهار په ښار کې تر غرمې وځنډېدل. علي سید د خپلو ملګرو یعني ګوندیانو سره د څه کارونو لپاره پاتې شو .ګلاب ته یې وویل مازدیګر څلور بجې د کلي د موټرو تم ځای ته راشه چې یو ځای کلي ته لاړ شو .ده ویل ښه پوره په څلورو بجو به ځان راورسوم .دی د ښار په بیل بیل بازار کې وګرځید .د ښار او بازار د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وه.هرې خواته سرې توتې راځړېدلې وې.په سپین لیک پرې شعارونه لیکل شوي وو .په بازار کې ځینې ګوندیان د وسلو سره اخوا دیخوا ګړندي ګړندي ګرځیدل.یو نیم عسکري موټر به په پوره سرعت او ګړندیتوب سره روان وو .هغوي دواړه په څلورو بجو د کلي په موټر کې کلي ته لاړل.ماښام ته لا څه وخت پاتې وو چې موټر د کلي په هډه ودرید .هغوي د موټر نه ښکته شول.ګلاب د علي سید نه مننه وکړه دواړه د کلي په بیلو بیلو لارو روان شول.ګلاب له ځان سره وویل ( زړه مې دی چې د فرښتې د کور په لاره ورتاو شم او دا جریان ورته ووایم او هم کیدی شي چې اشرف خان له کابله راغلی وي او څه نوې خبر یې راوړی وي ) په دوه لاره کې له همدغه فکر کولو سره لږ ودرید .او فیصله یې راغله چې د فرښتې کور ته ورځم.په سوچ او فکر کې د هغې کور ته روان شو .کله چې د هغوي د کلا مخې ته ورسید یوه ماشوم ته یې د فرښتې د خبرولو وویل او خپله وړاندې ودرید .لږه شیبه وروسته فرښته د کلا دروازې ته راغله.وې لیدل چې دی ولاړ دی.په چابکو قدمونو د هغه خوا ته په ناز او مکیز د خندا ډکه خوله ورغله.ستړي مشي یې وکړه هغې بې له ځنډه د باغ دروازه خلاصه کړه .ویلې راځه مهرباني وکړه ګلابه چې ته پخیر راغلې .ما خو فکر کاوه ګني چې ته به درې څلور ورځې تیروې.ده ویلې فرښتې همدلته ودرېږه نا وخته دی چې څو خبرې سره وکړو زه درنه ځم.هغه ویلې ستا اروا به هم رانه لاړه نشي.ایله د باغ د چکر وخت دی.ته خو راځه چې هلته کینښنو .څه دې راوړي دي .دا

نوري خبرې پرېږده . هغوی د بڼ د لښتي پغاړه د لرګي په یوه اوږده څوکۍ کښیناستل. فرښتې هغه ته وروکتل وې ویل. رنګ دې لږ تغیر شوی دی ګلابه ولې ؟ ده ویلې خامخا نو څه خو د کونړ په سړک چې موټر کې څوک لاړ شي له کاره یې باسي . کندې کندې خامه سړک دی په ځینو نیغو پیچومو کې ترې سورلۍ کوزیږي پخپلو پښو له لوړو غونډیو اوړي. دوړې او خاورې پکې بادیږي لکه د سمر خیلو ژرندنګړی د سړي نه جوړ کړي. او بل خوبې خوبې هم سړی خرابوي.

ښه ربښتیا ګلابه خبره کوه څه دې وکړل ؟ ده ورته د کونړ د تلو قیصه تیره کړه . د هغې په مخ کې د خپګان نخښې نښانې ښکاره شوې او وې ویل د اشرف خان لالا راتګ ته به هم اوګورو خدای مهربانه دی ګندې کوم ښه خبر راوړي . هغه وویل موږ پسې ان تر پیچ تلو . خو وضعه خرابه وه . د هغې ځای ګوندیانو ویلې . پورته نور تاسو ته خطره ده تلای نشئ . او هم څه پلاس نه درځي . بیګاه شپه مو جلال اباد کې وکړه . نور نو څه حیله نشته دی . یوازې به د اشرف خان په انتظار شو چې هغه څه راوړي. اوس به ستا په اجازه کور ته لاړ شم چې ځان وینځم بیخي د خاورو نه مې ځان ډک شوی او خیرن شوی دی . هغې ورته وویل مړه راځه چې ننوزو د ننه به دې په تشناب کې سم پریمنځم . هغه لږ څه په خندا شو په سرو شونډو کې یې سپین غاښ اوبریښیده وې ویل فرښتې زما د زړه خبرې کوې خو ....
!هغې وویل په دې حیله یم ګلابه چې دا ارمان مو هم پوره شي . هر څه به وشي فرښتې خو چې دا مشکلات خدای حل کړي. په خوله دې امین شه.

ګلابه په دې وخت کې د ماښام اذان وشو . ګلاب وویل فرښتې لاس راکه ځان جمعې ته رسوم. ویلې سمه ده په دعا کې مې یاده کړه. په مخه دې ښه شه. دې د باغ دروازه ونړله او لکه ساه ختلې مرغۍ کلاته ننوته.

یوه اونۍ وروسته اشرف خان له کابله راغی . ماښام ناوخته کور ته ورسید . له ستړي مشي نه وروسته موري ترې سمد ستي د هغه د پلار

پوښتنه وکړه . اشرف خان په څیره کې پوره ستړتیا او خپګان ښکاریده .
لومړی یې پو ګلاس اوبه او غوښتلې اوبه یې چې وڅښلې په شونډو یې د
جیب د دستمال پیڅکی راښکد . پخپل دروند غږ یې وویل . مور جانې
ډېرې دروازې مې وټکولې د څرخي پله زندان ته هم لاړم . د یوه چا په
واسطه مې ځان ور ورساوه . هغه هم ټول لستونه وکتل . ویلې په دې
نومونو یې څوک نه دي راوستلي . د کورنیو چارو په وزارت کې مې هم د
یوه چا په واسطه سره پوښتنه وکړه . هغه ته یې دومره ویلي وو چې کوم
کسان چې په ننګرهار او کونړ کې نیول شوي وو . کابل ته نه دي راوړل
شوي که ژوندي وي هم هلته به وي او که مړه وي . هم هلته به له منځه تللي
وي . ویلی تاسې یې هلته پوښتنه وکړه . په جلال اباد کې مې له یوه باخبره
او په واک کې خلقي نه پوښتنه وکړه هغه راته برالا او ښکاره وویل .
وروکیه هغوي پسې مه ګرځه . کیدی شي چې صدمه در ورسیږي . بس
مورې نور نو په ځان پوهـ شوم . هور به یې په خدای وسپارو .
فرښته په ژړا شوه . مور یې هم وژړل . اشرف خان له سترګو اوښکې توې
شوې . میرمن یې چې هغه ولید . هغه هم په ژړا شوه . ښه شیبه ټولو وژړل .
ډیره شیبه پس اشرف خان وویل بس دی نور مه ژاړی. په ژړا هیڅ نه کیږي .
دعا ورته وکړئ . مور یې په ټیکري اوښکې وچې کړې وې ویل فرښتې
لورې بس دې خدای ته صبر وکړئ . بیا یې زنه ورپیده . غبرګې اوښکې
یې راماتې شوې . فرښته یې په غیږ کې ورولویده . سلګې یې وهلې په
ساند وکې یې په زوره وویل . پلار جانه چې ته به یې چیرې وژلی یې ؟
اشرف خان بیا وویل بس دی ژړا بس کړئ پوازی لاس پورته کړئ چې په
دې ظالمانو خدای زر چپه کړي .
په دې وخت کې د کوځې یو وړوکی هلک راننوزي . اشرف خان ته وایي .
کاکا بیرون دوه تنه سړي ولاړ دي . ته یې په کار یې . دی له خپل ځایه
سپک پاڅیږي ور وځي . هغه دوه تنه سړي دده خوا ته راځي . دی ورسره

روغبړ کوي ـ هغه يو ورته وايي اشرف خانه موږ د درې د لوی کلي نه جرګې راليږلې يو ـ خلکو ويلې چې ستا پلار نشته دی ته به جرګې ته راشې ـ ده ويلې راځئ چاي به وڅښئ بيا به يو ځای ځوو ـ هغوي دواړو وويل نه چاې درسره نشو څښلای ـ نور کسان هم خبروو ـ خو ته کوښش وکړه چې همدا اوس حرکت وکړې ـ اشرف خان د اقتصاد پوهنځي لوستلی وو ـ خو لا کار يې په کومه اداره کې نه وو پيل کړی ـ دی پوره هوښيار ، مهربانه او لکه د پلار غوندې په هر څه پوهـ سړی وو ـ
کورته چې ننوت مورته يې وويل ـ مور جاني له درې نه راپسې دوه تنه راغلی وو ـ ويلې جرګې ته يې غوښتی يې ـ هغې ورته په ځواب کې وويل ـ زويه خامخا به ځې چې د پلار ځای دې راټينګ کړې ـ ښه ده مور جاني يو دهقان به له ځان سره بوځم سمد ستي يې يو وړوکی په دهقان پسې وليږلو ـ وروسته دی هم له کوره ووت ـ او لاړ ـ کله چې دی او دهقان يې درې ته ورسيدل ـ وې ليدل چې ډېر خلک يوه جومات ته راټول شوي دي ـ خلکو دی وليد چې ورغی ـ يو تن ملا د دين مسئلې کولې ـ وروسته يو بل سپين ږيری پاڅيد هغه وويل مسلمانانو وروڼو تاسو وليدل چې د کوز کلي خان او څو تنه د نورو کليو مخور کسان يې ونيول او تر ننه يې مړي او ژوندي ورک دي ـ دلته د هغو کليو څوک شته دی ؟ اشرف خان د خپل ځايه پورته شو ودريد په جرګه کې ناستو کسانو وويل ـ دا د کوز کلي د خان زوی اشرف خان دی ـ ټولو ورته پام شو ـ دی بيا کښيناست هغه سړي دا خبره په جګ اواز وکړه وې ويل دا خلقي دولت د کافرو دولت دی ـ ددې دولت په خلاف به ټول مسلمانان د يوه الله اکبر په ناره ودريږي ـ او په ضد به يې جهاد کوي ـ سر له نن ورځې نه بايد ددې کفري نظام په مقابل کې لښکر منظم او ټينګ شي ـ عمومي دعا وشوه ـ د رژيم په ضد د پاڅون چيغه پورته شوه ـ په پای کې يوه ملا ډوله سپين روبي په جګ غږ

دا خبره وکړه. ورونږو هوښیار اوسئ. د کلیو خلک په ځان پسې ودروئ خو چې خلقیان دربانديې خبر نشي.
جرګه خوره شوه. هر څوک پخپله مخه خواره شول. اشرف خان هم مازدیګر او د ماښام ترمنځ کاله ته راورسید. د ماښام ډوډۍ نه وروسته د کور ټول غړي په سالون کې سره ناست وو. مور یې بیا ترې د جرګې په باب له اشرف خان نه پوښتنه وکړه ده ورته د جرګې ټول جریان تیر کړ. مور یې وویل. بچی په دې کلي کې هم اوازه ګډه ده چې نن سبا به لښکر راوځي. او په حکومت به حملې کوي.
ده وویل هو په ځینو ځایونو کې جګړه روانه ده. مور جاني موږ به حالاتو ته ګورو. د دې کلي د خلکو چې څه حال وو هغه به زموږه هم وي. تر دغه نیټې لا چا د جهاد نوم نه پیژانده. خالي په ځینو ځایونو کې د رژیم په ضد پاڅونو نه پیل شوي وو. ځینې ښوونځي هم سوي وو. دوه کاله لا وتي نه وو چې خلقي مشرانو د بې اتفاقۍ په نتیجه کې خپل سرونه وخوړل او روسانو دویم شاه شجاع کارمل او د هغوي ډله پرچم د واک په ګدۍ کښینوله. ورسره جوخت د روس سرې لښکرې افغانستان ته راغلې. د روسانو د راتګ سره افغان اولس ټول ملک کې د الله اکبر او ناره یې تکبیر چیغه پورته کړه. او د جهاد په نوم ټولو خلکو د روسانو او د هغې ګوډاګي دولت په خلاف ځانونه تنظیم کړل. ورو ورو کلی او ښارونه له خلکو نه تشیدل. پاکستان او ایران ته کډه کول پیل شول.
د اشرف خان دوي کلی هم له خلکو خالي کیده. هره ورځ به کډه د غرو په کنډوونو ور اوختې. په لږه موده کې کلی خالي شو. صرف د کلي په ځینو کورنو کې به یو نیم بوډا او بوډۍ ښکاریده. اشرف خان د سیمې د جبهې قوماندان وټاکل شو. سمدستي خرپ او ترپ پیل شو. ښوونځي سوزول. سړکونه او پلونه روانول په علاقداریو او ولسوالیو حملې او جګړې ونښتې. د خلقیانو کورونه هم وسول. د افغانستان نه بهر په پاکستان او

ایران کې د مجاهدینو تنظیمونه جوړ شول .په ځاص ډول سره د پاکستان ایس اي او سي آئي ای په لاس تنظمونه جوړ او په سر کې یې ورته خپل ګوډاګیان وټاکل.کډه شویو افغانانو ته یې کمیونه جوړ کړل.چې د امریکا او د نړۍ ځینو هیوادونو چې په خاصه توګه سره عربي نړۍ نه د پاکستان په لاس مرستې راوغزیدې .چې د دغو مرستو لسمه برخه به مهاجرو ته ورکول کیده.او په نورو به پاکستان خوله راښکده.چې له دغه وخت نه د پاکستان غوا لنګه شوه.

ټوپکیانو خپلې مبارزې ا جګړې ته زور ورکړ .د مجاهدو لیکي پیا وړي شوي خطرناکې حملې او جګړې ونښتې.د دغو جګړو سترګو لیدلی حال او یوه ځانګړې بیلګه به له یوه سپین ږیري نه واورو.د نوم خلقي مال زمکه یې نیوله.اوچې خلقیان به یې ونیول.سمد ستي یې وژل.د دغو جګړو سترګو لیدلي حال او یوه ځانګړې بیلګه به له یوه سپین ږیري نه واورو.

د خیوې جګړه

ما وی بلی هو د خیوې جګړه .او زما د دې پوښتنې سره جوخت د سپین ږیري په مخ د ډېر سخت غم غصې نخښې نښانې راڅرګندې شوې.په مخ یې توره څپه ښوره شوه .ښکته پورته یې وکتل .د سترګو د دید په امتداد یې شاو خوا ټوله سیمه د سترګو را لاندې کړه .ما هم په زیر زیر ورته کاته.چې دمرۍ غوټۍ یې ښکته پورته لاړه راغله.شونډې یې ورپیدې د ښو په څوکو یې رڼې اوښکې راماتې شوې.پوهـ شوم چې سپین ږیری د ډیرو ناوړه پیښو شاهد دی .او له ګوګله یې سرې لمبې پورته کیږي.تلوسه مې لا پسې زیاته شوه.چوپه چوپتیا وه زه هم ه: پک پاتې ووم.د خبرو او پوښتنو جرات راکې نه وو .د ښایست زیاتې شیبې وروسته سپین ږیري پخپله غټه منګل په ویښاتو ببر لاس د شنې لونګۍ په خیرنه شمله خپلې اوښکې وچې کړې.او چې یو څه اوسون یې برابر

شو .نو په ډېرو لنډو ټکو کې يې وويل .بچيه بې وسي او بې کسي ده او رښتيا دا زما لپاره هم نوې خبره وه چې داسې يو عمر خوړلى يا تجربه د کليوال پښتون په سترګو او مخ داسې اوښکې ؟
پښتانه خو په خپل ننګ ، غيرت ، وطن پالنه او ناموس ساتنه کې جهاني شهرت لري .هر ډول پېښو ته ځانګړي ټولنيز قوانين او رواجونه لري .او چاته خپل بدل هر ګز نه پرېږدي .لکه چې د پښتنو په دښمنۍ کې دا متل خاص ځاى لري چې وايي .
له دښمن څخه ئې سل کاله وروسته بدل واخيست .خو بيا يې هم پرې تادي وکړه .خو سره له دغه ډول تسکين او متل سره د سپين ږيري اوښکو داسې ښووله چې د بدل اخستلو اميد او ډاډ ورسره بيخي نه وو .
ځکه خو په زړه د خفګان ډېر دروند پېټى په سترګو او څيره کې له ورايه بريښنده .هغه زما د خبرو په ځواب کې خپلو خبرو ته ادامه ورکړه .وې ويل بچيه !زه د ډېر عمر خاوند يم .جنګونه ، دښمنۍ او تربګنۍ مې هم ليدلي او هم اوريدلي دي .غمونه او دردونه مې ليدل او اوريدلي خو د خيوې جګړه مې ډير زوروي .او چې راياد يږي بيخي مې اوبه کوي .او له دې خبرې سره يې بيا اوږده ساه واخيسته وې ويل .
د حيوان حلالول خو مې ليدلي وو .خو د انسان حلالول مې په دې جګړه کې وليدل او چې ددې پيښې په ويلو يې خوله پرانيسته .بيا يې ستوني وننښت په ښکته شونډه يې زيړ غاښونه کميندل .او د مغزو فشار يې د تندي ګونځې لا پسې زياتې کړې .ما بيا پوښتنه راغبرګه کړه چې د انسان حلالول .
سپين ږيري وې بچيه وار وکا قيصه درته کوم .د انځر ګل زوى چې ديارلس کالو يا څوارلس کالو به وو .يعنې ږيرې خط يې نه وو راغلى .
چې عربانو ونيو .په زمکه يې څملاوه .نورو ګڼو مجاهدينو ورته کتل چې په مرۍ يې ورته چاړه راکش کړه ما بيا نور څه ونه ليدل .په سترګو

مې شپه شوه۔ملا مې ونیوه ورو شانې په زمکه کښیناستم خو یوائې د الله اکبر چیغې مې واوریدې ۔ په خیوه کې د انځر ګل د زوي په څیر ماشومانو بوډاګانو او تور سرو باندې تش په اصطلاح مجاهدینو دغه ډول اسلامي غذا او اسلامي جهاد تر سره کړو ۔او زموږ بې ګناه مسلمانان د تورو خاورو خوراک شول۔دغه د محشر ورځ وه۔او د قیامت شپه وه۔څوک یو د بل نه وو خبر کلي د عربانو وهابیانو او تش په نامه مجاهدینو څخه ډک ول ۔د درندو او سپکو وسلو ګمپې ډزې کیدې ۔په کوڅو کې منډې رامنډې ژړا او انګولا وه ۔وهنه ، وژنه ، تښتونه ، رانښکدنه ، چور او چپاول په ټوله خیوه کې ګډ وو ۔څوک به په پیغلو انجونو پسې ګرځیدل انجونه او ښځې یې د غنیمت په توګه نیولې او رانښکدلې ۔چې د غنیمت په دې جګړه کې په سلګونو پیغلې انجونې او ځوانې ښځې دغه د اسلام د لارې تش په نامه مجاهدینو ، عربانو او وهابیانو د غنیمت په توګه وتښتولې۔په دې جګړه کې د پښتون غیرت او پت لوټ شو ۔د پښتنو شمله په زمکه پریوته۔پښتون چې څومره بې اتفاقه قوم دی خو د ننګ او پت ساتلو په کار کې سره یو دی ۔او په دې جګړه کې د پښتون عزت او ننګ تر پښو لاندې شو ۔د پښتنو په کلچر کې خو دا متل ډیر اوچت ځای لري چې وایی ۔مال او دولت مې له سره زار او سر مې له ناموسه۔دا مال چې د سپین ږیري د سترګو اوښکې بیخې وچې شوي وي۔یو څه په نرمه لهجه بې له احساساتو یې دا خبره وکړه چې په دې کې به هم الله حکمت وي چې د پردیو په لمسون خرڅ شوي یو۔

ما بیا ترې وپوښتل ۔کاکا جانه د هغو تور سرو وروسته څه پته ونه لګیده ؟ وې ویل۔دا خو د خر دجال علامه وه۔یو له بله څوک نه خبریدل۔خو ډیر وروسته چې بیا لږ خبر شو ۔درې جینکۍ د اوبو په ټانک کې د کونړ ولایت مرکز چغه سرایې ته وړل شوې وې ۔چې البته ټانک خالي وو او به پکې نه وې۔خو دا چې د ټانک سر تړل شوی وو ۔او هوا یې بنده

شوې وه. هغه دوه جینکۍ پکې مړې شوې وې او يوه کوما په حال کې وه. په مرګوني حال ژوندۍ پاتې وه. وروسته ښه شوې وه. کوم ټوپک والا پرې نکاح تړلې وه. او دوه جینکۍ نورې یوه جهادي قوماندان پېښور ته وړې وې. او هلته يې په دوه تنو عربانو د خرڅولو مارچه لګولې وه. عرب ورته ویلي وو چې جینکۍ زما کور ته راوله. چې زه يې له نزدې څخه وګورم. چې ځواني دي که زړې ښایسته دي که بد رنګه. په دې صورت کې به د قیمت په باب درسره خبرې وکړم. بې ننګه قوماندان جینکۍ د عرب کور ته وروستې وې. عرب هم د جینکو پرده پورته کړې وه. يوه يې په دې خوښه نه کړه چې جینکتوب يې له لاسه ورکړی وو. او يو وړوکی ماشوم ترې ان په کور کې خاد زده چاته پاتې شوی وو. او هغه بله يې په څلویښت زره کلدارو اخیستې وه. قوماندان چې په خپل ډاټسن موټر کې کله په پېښور او کله په باجوړ کې ګرځیده. په خپلو مزو چرچو کې ډوب وو. مدعیانو يې نوم او څیره پیژندلې وه. هغوي ورپسې په پټه پېښور او باجوړ کې ښکته پورته ګرځیدل. يوه ورځ خبر شو چې قوماندان يې په پېښور کې د سپین جومات يو څه لږ ورکوز د ټاؤن څلور لاري په کین اړخ کې د چرګانو د کوڅې خولې ته نزدې د سماوار مخې ته د سړک په غاړه ماز دیګر مهال په کټ کې ناست وو. او په خیرن غوړ میز ورته د شیدو چاې ایښې وو. مدعیانو يې د سترګو را لاندې ویست چې د قوماندان رسوايي پدې مسئله کې له همدې ځایه پورته شوه. د هیواد په ټولو ولایتونو کې دغه شان لا څه چې له دغې نه سختې جګړې وشوې. اشرف خان هم د خپلې سیمې په مربوطه ساحه کې د روسانو د قطار سره په مخامخ جګړه کې ښکیل شو. کله چې د روسانو قطار په سړک تیریده. ده يې مخه ونیوله په یوه داسې ځای کې چې لاندې ترې سیند او له پاسه پرې غر وو. د تیښتې لاره نه وه. هغوي له غره نه غټې غټې تیګې سړک ته رارغړولې وې. سړک يې بند کړی وو. د اشرف خان وسله والو له پاسه نه

پرې ډزې پیل کړې .لومړنی ټانک یې ورته په راکټ ویشتو لمبې یې پورته شوې. له قطاره عسکر ښکته شول په ډزو یې پیل وکړو. ټینکونو ، توپونو ، وړو ماشین ګنونو اور بل کړ. له دواړو خواو نه مړي زخمیان وشول. له ښایسته ډېر وخت نه وروسته الوتکې راغلې. جنګي الوتکو له پاسه په غره باندې ګولۍ راوغورزولې. بمونه یې هم د اشرف خان په ټوپک والو را وارتول. ډیر مړي وشول. اشرف خان دوي مجبور شول چې مورچې پریږدي او شاته شي. مازدیګر مهال وو. چې قطار سړک له تیګو پاک کړ او قطار یې تیر کړ.بې شمیره مړي او زخمیان یې ورکړي وو. همدا شان د قوماندان اشرف هم ډېر سړي وژل شوي وو .زخمیان یې هم کلیو ته وچلول. د شپې له خوا نه اشرف خان د کلیو خلکو ته کوم چې په کلیو کې پاتې وو .وویل چې سهار وختي به کلی پریږدئ او پاکستان ته به اوړئ. د شپې ناوخته په تورتم کې هغه د خپلو کسانو سره کور ته لاړ. تر څو په کور کې پاتې مور یې او فرښته له کلا نه اوباسي او د شپې یې له کرښې واړوي. دده خپل واړه او د کورنۍ نور غړي څه مده مخکې پاکستان ته کډه شوي وو .دوه غوښتل چې مور او فرښته هم هلته ورسوي دوه تنه نږدې خپلوان یې ورسره کړل چې دوي پیښور ته ورسوي .د دوي د کلي زیات خلک پیښور ته مهاجر شوي وو .ګلاب هم وختي خپله کورنۍ پیښور ته رسولې وه او هغه د خپل ګروپ په مشرۍ د جګړې جبهې ته تللی وو .اشرف د خپلو وسله والو سره سبایي وختي غره ته پورته شو .په غره کې پاس باندې وته لاړل .څه کسان یې د سړک تر څنګ خپلو مورچو کې پرېښودل .تر څو د دښمن په مقابل کې خپلې پخوانۍ مورچې وساتي .د کلي نه ټول خلک وتلي وو .سهار د لمر د وړانګو سره سم لومړۍ څرخي الوتکې راغلې په کلي یې بمبارد وکړ .ورپسې جنګي الوتکې راغلې په کلي یې د ساې بمونه وغورزول چې ټول کلي اور واخیست.ورپسې یې د غرونو او خوړونو هره خوا بمبارد کړه باندې یې

هم بمبارد کړې - چې د بانډې ځينې خلک ښځې او ماشومان پکې مړه شول - اشرف خان يوه څرخي الوتکه راوغورزوله - په ستينګر يې داسې رسا ويشته چې په هوا کې لولپه شوه - په همدغه ځای روسي قوا او ډله ايز اوربل کړو - الوتکو ، ټينکونو او توپونو بانډه په بل مخ واړوله - اشرف خان سره د ديارلسو تنو شهيد شو - د مجاهدينو د جبهې مورال کمزوری شو - په تيښته شاته مجبور شول - خپل مړي او زخميان يې يوووړل - جنګ ودريد ډېره غلې شوه - باور وکړئ چې ټوله فضا د باروتو تور ګرد نيولې وه -

تيره شپه چې کله فرښته او مور يې د دوه تنو خپلوانو سره د شپې له کوره د پاکستان په نيت ووتل - د کلا دروازه يې قلف کړه - د کلي نه د غره په لور په ډاګ کې په نرۍ لاره روان شول - له يوه ساعت مزل نه وروسته د غره لمن ته ورسيدل - د غره ډېره سپيره وه او له بلې خوا ته سپينه سپوږمۍ وه - لاره ښه ښکاريده - دوي ښه د خرپ مزل کاوه - په لاره فرښتې د ګلاب په حقله سوچ اخيستې وه - د نور څه فکر ورسره نه وو - په همدې سوچ کې غره ته ورسيدل - کله نا کله خو به هغو دوه خپلوانو پرې غږ کاوه چې ګني ستړې خو به وي - د فرښتې مور له بدنه چاغه ښځه وه - او کله خو دومره پخپلو پښو هم نه وه تللې - په تکليف کې وه - وې ويل بچې په قرار قرار ځئ چې زه ستړې کيږم - يوه تن ورته وويل ترور سمه ده په قرار به ځوو - ددې غونډۍ په سر به دمه وکړو - لږه شيبه وروسته د غونډۍ په سر کښيناستل - نور نو له هغوي نه کلی وړاندې پاتې شو - نوره لاره مخ نيغه نه وه - په غره کې پرته لاره وه - ځای پر ځای ګڼې ونې لکه څيرۍ ، پلوځې ، غوړاځکي د غره ډېره نيولې وه ماسخوتن تير وه چې فرښته دوي په غره کې زياته لاره وهلې وه دويمې دمې ته بيا هغوي په يوه هوار ځای کې چې شنه واښه پکې ولاړ وو - کښيناستل - د فرښتې مور په يوه هواره تيګه کښيناسته او پښې يې ښکته وغزولې - په دې وخت کې يو پش غونډې

وشو ـ چې دا پش ټولو واوریده ـ سمدستي د فرښتې مور اخ ناري کړې وې ویل څه شي وچیچلم ـ ټول له ځایه راپاڅیدل ـ هغه یو تن د تیګې لاندې پام وکړ چې یو مار په څخیدو څخیدو روان شو ـ ویل مار دی ـ زر یې تیګې ته لاس کړ ـ تر څو چې ده تیګه راخیسته او په مار پسې ګوزار له مار تېرې تللی وو ـ دویم سړي په بیړه له خپلې هوښیارۍ نه کار واخیست یو د جیب په دستمال یې د هغې پښه کلکه وتړله ـ ورته وې ویل ـ ترور کوم ځای درته وچیچلو ؟ هغې د مار په چیچلي ځای ګوته کېښوده ـ وې ویل خوله مې وچه شوه ـ سړي په هم هغه ځای خوله ولګوله کوم چې مار چیچلی وو ـ بیا یې د خپلې خولې لاړې په زمکه توکلې ـ چې دا کار یې څو ځلې تکرار کړ ـ فرښته هم وار خطا شوه ـ همدا به یې ویل مور جانې ځنګه شوې ؟ مور یې په لړ وخت کې په زبیرګو پیل وکړ ـ لومړۍ خو درې واړه ورته وار خطا شول ـ بیا هغه یوه وویل ـ داسې نه کیږي ـ لاره اوس دومره ډیره نه ده پاتې ـ په شا به یې وړو ـ بله چاره نشته دی ـ سمدستي یې پشا کړه ـ او روان شول ـ هغه خو چاغه ښځه وه ـ دواړو به وار په وار وړله ـ تر څو چې د سبایي رڼا یې لګیده ـ د موټرو ځای ته ورسیدل ـ سمدستي یې ګاډی دربس کرایې ونیو د پیښور هسپتال ته روان شول ـ د سهار رڼا چې ولګیده ـ د ښځې رنګ تک تور واوخت ـ هغه سپینه ښځه بیخي توره واوخته ـ له خبرو ودریدلې وه ـ فرښتې ورته وویل مورجانې یه مورجانې ـ هغه پټې سترګې پرته وه ـ له ځانه خبر نه وه ـ ګاډی چلونکي وویل ـ خورجانې تاسو هیڅ فکر مه کوئ ـ اوس به له خیره هسپتال ته ورسو ـ د مار زهر خو ظالم شی دی ـ بې هوښه کړې ئې ده ـ د فلاینکوچ په شا ته څوکۍ کې یې سپین څادر پرې خور کړی وو ـ فرښته یې څنګ ته ناسته وه ـ کله به په ژړا شوه او کله خو به داسې سوچ واخیسته چې خدای نا خواسته مور مې مړه نشي ـ ورور مې جبهه کې دی نور د کور غړي په پیندۍ کې دي ـ دا به څه کیږي له ډیرې شیبې نه وروسته یې بیا د مور د

مخ نه د څادر پيڅکه پورته کړه ـ مور جاني غږ يې وکړ ـ په زړه يې ورته خپل لاس کيښود ـ د مور سترګې يې رډې رډې راوتلې وې ـ خوله يې خلاصه وه ـ ويې خوځوله ـ مور جاني يه مور جاني ـ هغې يوه شيبه مخکې پور خلاص کړی وو ـ مړه وه ـ زر زر يې ورته لاس پښې وکتلې ـ پښې يې لکه د سيند تيګه هسې يخې وې ـ هغه نور دوه خپلوان يې په راټيټ شول ـ واې ړوله راواې ړوله ـ بکه ساه پکې نه وه ـ

ګاډی يې يو خوا ته ودرولو ـ ډريور هم رابښکته شو ـ هغه د پوخ عمر سړی وو ـ وې ويل ـ ورورره دا خو مړه ده ـ سترګې او خوله ، لاس پښې يې ورسمې کړئ ـ فرښته په چيغو شوه ټول يو ساعت هک پک ودريدل ـ بيا وروسته موټر چلونکي وويل ـ ورورره اغيړمه ودريږئ ـ د مړي په باب فيصله کوئ ـ په کومه ئې وړئ؟ فرښتې په داسې حال کې چې ژړل يې وې ويل ـ پېښور کې مې د کاکا د زوی کور دی ـ هغو نورو دواړو هم وويل هو د نعمت خان کور خو پېښور کې دی ـ هله استاذه ځه له خيره چې تر څو لمر تودېږي او موږ رسيدلي يو ـ موټروان په چالاکۍ سره ګاډی چالان کړ او مخ په پېښور يې پښه پرې ټينګه کړه ـ فرښتې هم هغسې په موټر کې د مور مړي ته په سلګو سلګو ژړل او چيغې يې وهلې ـ هغه نور دواړه هم خفه ستومانه ناست وو ـ کله به موټر چلونکي وويل د خدای رضا ده خورې بس دی مه ژاړه ـ دعا ورته وکړه ـ الله دې د زړه صبر درکړي ـ مخکې وويل شول چې د موټر چلونکی د پاخه عمر سړی وو ـ ولې د ژوند تودې سړې پرې تيرې شوې وې ـ د تجربې والا سړی وو ـ په ټوله لاره يې فرښتې ته ډاډ ورکاوه ـ د هغوي په ټوله قيصه يې ځان اګاه کړ ـ وې ويل الله دې په روسانو تندر راپرې باسي چې زموږ پښتانه يې در په در کړل ـ د هغه په همدې ډاډګيرنه او خبرو خبرو کې د نعمت خان د کور مخې ته ګاډی ودريد ـ د کور دروازه يې ټک ټک کړه ـ يو هلک راووت ورپسې يو بل وړوکی راووت ـ هغه دوه تنه ننوتل ـ چې کټ را اوباسي ـ سمدستي ښځې

او نر لوی واړه دروازې ته راغلل. ګوري چې فرښته د مور مړي تر څنګه ولاړه ده. په چالاکۍ یې مړی په کټ کې واچاوه. موټروان هم ورسره د کټ بازو ونیو او دننه ننوتل. مړی یې د کور په دالانه کې کېښود او سړي حجرې ته ننوتل. نعمت خان هم د اشرف خان سره په جبهه کې وو. هغه هلته د اشرف خان په مړي ژړل. خو له کوره لا خبر نه وو. د هغه میرمن او دوه زلموټي زامن په کور کې وو. موټر چلونکي وویل. لاس پورته کړئ دعا وکړئ. خدای دې دا ستاسې مور او بخښي. جنتونه یې دې په نصیب شي. زه به درنه رخصت شم چې غریبي راپغاړه ده. هغو دوه کسانو نه یوه د موټر کرایه ورکړه او لاړ.

په کور کې ژړا وه. لوی وړو ژړل. ښه شیبه وروسته بیا څه نږدې شاوخوا وطنداران راغلل. خوا ته د جومات ملا هم راغی ځوک چې د هغوي د کلي نه دلته او سیدل. ټول راټول شول. د مړي د ښخیدو پریکړه وشوه. چې د پېښور ښار تر څنګ لویه هدیره کې یې ښخه کړئ. هماغه وو چې تر مازدیګره د مړي د ښخیدو مراسم تر سره شول. په همدې ورځ د جنګ له جبهې نه احوال راورسید چې قوماندان اشرف په جنګ کې شهید شوی دی. او هم هلته له نورو شهیدانو سره یو ځای ښخ شوي. خو دا احوال په کور کې چا فرښتې ته ونه وایه. ځکه چې خلک پوهیدل که فرښته د ورور له مرګه خبر شي نو د دوه غبرګو غمونو ګالل ورته ډیر ګران پریوزي. یوازې د مور مړینې هغه له ژونده ایستلې وه. په سبا ته هغو دوه تنو د فرښتې خپلوانو له فرښتې څخه د تلو اجازت وغوښت. هغه په ژړا شوه او ښکې یې په مخ روانې شوې. وې ویل وروڼو ستاسې ښه به هیڅکله هیر نه کړم. لالا مې له موره مه خبروئ. کله چې راغی پخپله به خبر شي. په دې خبره د دواړو حالت واوښت. د دواړو خولې ته اسویلي راغلل. خو زر یې فکر شو. یوه وویل نه نه. خورجاني هغه موږ نه خبرو. بې غمه اوسه. دواړو ترې مخه ښه واخیسته او لاړل.

ګلاب د حالاتو او جنګ جګړو په غوبل کې هغه پخوانی ګلاب پاتې نشو .هغه د خپلې جبهې پیاوړی قوماندان شو .مرګ او ژوبله ورته عادي شی ښکاریده.د ډېرو خلقیانو کورونه یې وسیزل.د روسانو او رژیم قطارونه یې ووهل .سپکې او درندې وسلې یې پلاس راوړې . دومره زړور او هوښیار قوماندان شو چې په ټوله سیمه کې یې نوم ویوست.څو ځلې پاکستان ته وغوښتل شو.هلته د آئي ایس آئي د ځینو لوړو رتبو والاؤ سره یې ملاقات وشو .او له ده سره په همیشنۍ رابطه کې شول.ځینې مادي اکمالات یې ورسره وکړل.د خوښیو په محلونو او محفلونو یې وګرځاوه .د هغه اسلامي او دیني روحیه یې لا پسې ورکمزورې کړه.بیا یې له هر څه سره په ډاډه زړه د جبهې په لور رخصت کړ.جنګ جګړې ، پیسو او آئي ایس آئي د هغه فکر او کرکټر بدل کړل.د کور ، کلي ، خپلوانو په قیصه کې نور نه وو.ځکه چې هغه به هر درې میاشتو کې د اسلام اباد او لاهور دوره ښه په مستۍ تیروله.فرښته یې هم تقریباً له یاده وتې وه.دنیا دولت هم عجیبه شی دی.پخې ارادې څه چې پولادي عزمونه ماتوي.مینه ناکې سینې لکه د کاڼو هسې سختوي. دي خو د جهاد په نیت جهاد ته ورګډ شوي وو مګر په جهاد کې ترې بل شی جوړ شو.ورو ورو بدلیده.آخر د داسې چا پلاس ورغی چې پخواني هر څه یې ترې هیر کړل.په اسلام اباد کې دده په رستورانت کې به د Special میلمنو لپاره انجونه لکه حورې په خدمت کې وې.د فرښتې مینه یې له یاده ووته.خپلې کورنۍ ته یې په اسلام اباد کې ښکلی کور او باغ جوړ کړی وو.چې ټوله کورنۍ یې په ارامه توګه پکې اوسیدله. ګلاب دومره بوختیاوې درلودې چې په کال کې به هم د کورنۍ د لیدو لپاره نه وزګاریده.

## پينځم څپرکې

د مور له مړينې نه وروسته فرښته د کاکا زوی نعمت خان له کاله نه پيندۍ ته د ورور کره لاړه . اشرف خان خو لوی ښکلی کور په پيندۍ کې اخيستی وو . مخې ته يې ښکلې باغچه هم درلوده . د کور ټول غړي ښه خوشحاله په دغه کور کې خوندي او سيدل . د هيڅ کمی يې نه وو . هغوي د فرښتې د مور او اشرف خان له مرګه نه وو خبر . فرښته هم د هغه د مرګ نه خبر نه وه . ورنداره يې ددې په ورتګ ډېره خوشحاله وه . خو کله چې يې فرښته وليده . چې رنګ يې زيړ او ښتی له خپګانه يې شونډو پتري نيولي وو . او هم له يوه خپلوان سره ځانته په کور ورغله . پوښتنې يې په زړه کې ورپيدا وې . خو لا دوه ورځې تيرې نه وې چې ورنداري يې ترې پوښتنه وکړه . وې ويل فرښتې دا راته ووايه چې دا رنګ دې ولې زيړ دی ؟ او د مور په باب او د ورور نه دې راته هيڅ ونه ويل . د کور او کلي دې څه راته نه دي ويلي . دا پوښتنې ترې ورندار په ځانته کوټه کې وکړې . د کور نور کسان له دوي سره نه وو . فرښته په زړه کلکه جينۍ وه . ځکه چې په لومړۍ ورځ يې ځان غلی نيولی وو . خو په دغه ساعت يې زنه ورپيده . د ورنداري غيږ ته يې ځان وغورزو . په ژړات يې وويل . ورنداري مور مې رانه په لار کې د شپې مار وچيچله او مړه شوه . ورندار يې وارخطا شوه ويل آخ دا څه وايې . هغه هم ورسره په چغو شوه . دواړو په کوټه کې په وير او ژړا پيل وکړ . ښه شيبه يې وژړل . بيا ترې ورنداري پوښتنه وکړه . فرښتې بس دې مه ژاړه د کور نور خلک به خبر شي . خو ته رښتيا ټول قيصه وکړه . هغې اوښکې پاکې کړې . په ژړغوني اواز يې ټوله قيصه خپلې ورنداري ته وکړه . ورندار يې بيا په ژړا شوه . په ژړا کې بيا وويل ورور دې خبر نه دی ؟ نه هغه خو جبهه کې وو . تر اوسه چا نه دی خبر کړی .

که خبر وای خو وخته به راغلی وو ـ خو ښه دي چې خبر نه دی ـ دوا ړو ښه په ژړا ځانونه ستړي کړل ـ د دوي کلیوال چې په پینډۍ کې اوسیدل ـ فرښتې ته د فاتحې لپاره راغلل ـ څو ورځې د دوي په کور کې د کلیوالو او وطنداړانو ګڼه ګوڼه تیره شوه ـ لږه موده وروسته فرښتې د یوه او بل له خولې واوریدل چې ګلاب په اسلام اباد کې ډیر ښکلی هوټل جوړ کړی دی ـ او هم د ډیرو شتو او پیسو خاوند شوی دی ـ په ټول هیواد کې یې اوازه پورته شوې ده ـ د مجاهدینو لوی قوماندان دی ـ
فرښتې سره هم دا فکر پیدا شو چې دا څنګه په دا دومره اوږده موده کې ګلاب هیڅ زما پوښتنه ام ونه کړه ـ دومره مصروف دی چې زه یې هیره کړې یم ـ بس همدا سوچونه چې له یوې خوا نه د مور او پلار په غم او له بلې خوا د ګلاب په فکر کې خیالونو او سوچونو پسې واخیسته ـ ورځ په ورځ یې حالت خرابیده ـ یوه ورځ سهار وختي چې له خوبه راویښه شوه ـ له ځان سره یې په زړه کې وویل ـ ( نن زه باید په څه بهانه له کوره اوځم او د ګلاب د هوټل په پیدا کولو پسې ان اسلام اباد ته لاړه شم ـ هغه خو زما پوښتنه ونه کړه چې زه یې یو ځل په ولګوم ـ چې دا څه علت دی ؟ ) هغه له کټ نه پاڅیده په منډه لاړه تشناب یې وکړ ـ بیا یې جامې بدلې کړې له چایو وروسته یې ورندار ته وویل ـ ورنداري ډیره خفه شوې یم یو ځل پېښور ته ځمه ـ نعمت خان دوي کره څو شپې کوم چې دا سوچ او فکر مې لږ بدل شي ـ ورنداري یې ورسره ومنله ـ هغې خپله بورقه ورکړه ـ ورته وې ویل تر هغه ځای دا بورقه په ځان واچوه ـ سمدستي یې د تلو نیت وکړ ـ ورنداري یې پیسې ورکړې ـ فرښتې وویل ما سره هم شته خو کیدی شي چې که په کار شي پیسې یې په جیب کې کیښودې او څه یې په بکس کې ځای پر ځای کړې ـ خپل د جامو وړوکی بکس یې هم ورسره واخیست او له کوره ووته ـ په ټانګه کې یې ځان د ګاډو هډې ته ورساوه د اسلام اباد په ګاډي کې کښیناسته لږه شیبه وروسته ګاډی د اسلام اباد په لور

روران شو ـ غرمه وه چې د اسلام اباد په هډه ګاډي ودرید ـ هغه راکوزه شوه ـ زړه نا زړه د نامعلوم سفر په لور په ارام ارام ګامونو له ګاډو هډې نه ووته ـ حیرانه وه چې څه وکړي ـ تشویش خو یې دا وو چې هغه په دې ښار کې نابلده وه پیغله وه او یوازې وه ـ یو ځای کې ودریده له ځان سره یې فیصله وکړه چې کوم رستورانت کې به ډوډۍ وخورم ـ او د ګلاب د هوټل پوښتنه به هم وکړم ـ بس همدغه فیصله یې له ځان سره وکړه ـ او د کوم رستورانت په لټه روانه شوه ـ څو ګامه وړاندې یې په یوه رستورانت سترګې ولګیدې ـ د هم هغې رستورانت په لوري ورغله ـ هلته چې ور ورسیده یو لوی رستورانت وو ـ په څنګ کې یې واړه واړه د خوراکي توکو دوکانونه وو ـ وړاندې د کومې دولتي ودانۍ مخې ته یو پولیس د ټوپک سره ولاړ وو ـ په چابکو ګامونو پولیس ته ورغله ـ په انګلیسي یې ترې د ګلاب د هوټل پوښتنه وکړه ـ پولیس چې پوره د پوخ عمر سړی وو ـ وې ویل ـ ګلاب هوټل له دې ځایه وړاندې دی ـ هر ټکسي دې ورته رسولی شي ـ تشکر یې ترې وکړ ـ او ترې روانه شوه ـ یوه وړوکی خوراکه فروشۍ ته وننوته ـ ډوډۍ یې وخوړه ـ سمدستي راووته او په یوه ټکسي کې کښیناسته ټکسي وان ته یې وویل ـ ګلاب هوټل ته ـ هغه بل غږ ونکړ ټکسي یې راتاو کړ د ګلاب هوټل په لور رهی شو ـ په څو دقیقو کې د ګلاب هوټل مخې ته ټکسي ودرید ـ فرښتې ټکسي وان ته کرایه ورکړه ـ ورته وې ویل ـ لاس یې هوټل ته ونیو ویلې دغه څلور منزله هوټل چې مخې ته یې بڼ دی ـ همدغه ګلاب هوټل دی ورځه ـ ټکسي لاړ او دا حیرانه ودریده ـ بکس یې پلاس کې ټینګ ونیو د هوټل دروازې په لور روانه شوه ـ کله چې هغه د هوټل مخې ته ورغله ـ وې لیدل څو تنه له هوټل نه راووتل ـ په نویو ګاډو کې کښیناستل او لاړل ـ فرښته د هوټل په دروازه زړوره ننوته ـ په ورو ورو روانه وه ـ شاو خوا یې په سترګو کې څارله ـ خو په زړه کې ورتیر شول ـ ( دا لوکس هوټل او ګلاب ـ دا به کوم بل ګلاب وي

.نه نه دا هوټل د هغه ګلاب نشي کیدی یو ځل به د هوټل اداري ته ورشم . پوښتنه به وکړم ) .له دننه څخه د هوټل مسؤل سړی چې دفتر یې د اصلي هوټل نه بهر وو .ولیده له خپله ځایه سپک راپاڅید په زړه کې وویل چې دا هوټل او دغه د بورقي والا ښځه.حتمي یې لار غلطه کړې ده.راووت ورغږ یې کړو.په وردو کې یې وویل ودریږه.هغه ودریده.یو نری لوړ تور سړی راغی.ورته وې ویل.څه غواړې ؟فرښته خو په ودو کې نه پوهیده.په انګلیسي یې ورته وویل.دا د ګلاب هوټل دی ؟ This is Gulab Hotel ویل Yes یس هو .د هوټل سړی پوهـ شو چې دا ښځه به کیدی شي افغانه وي او د ګلاب پوښتنه ځکه کوي .په خبرو او مطلب ورسره پوهـ نشو ورته وې ویل راځه.خپل دفتر ته یې بوتله.دفتر یې ډېر ښکلی وو .ښکلي سیټونه پکې پراته وو .میز ، ټیلیفون پرې ایښي وو . هغه سړي سمد ستي ټیلیفون چاته وکړ ډیرې خبرې یې ورته وکړې .بیا یې د ټیلیفون غوږۍ کیښوده.بیا څه په اردو کې وویل.خو دا پرې پوهـ نشوه.پنجابي وویل کښینه.په کوچ کې.فرښتې خپل بکس نزدې څنګ ته کیښود او کوچ ته کښیناسته .لږه شیبه وروسته یوه ښځه راغله پنجابي جامې یې تن کې وې.د عمر نه زړه ښځه وه خو چاغه لوړه سره سپینه وه رنګ یې د پنجابیانو د ښځو پشان نه وو .د فرښتې خوا ته کښیناسته.لومړی چې هغه په دروازه راننوته له لیرې یې ماته راوکاته. هغه سړي ورته وویل دې سره وګړیږه .هغې ماته لاس را اوږد کړ په پښتو کې یې وویل خور ستړې مشې .دې وې ما هم لاس ورکړ روغبړ مو سره وکړو.سترګې یې راپکې واچولې.راته یې کړو راځه بي بي چې ځو. سمدستي یې روانه کړم.په یوه بله لاره یې هوټل ته ننویستم.په لفټ کې څلورم منزل ته وختو .له لفټ نه چې ووتو وړاندې په دهلیز کې لاړو .اوله نمره ( کمره ) وه ( کوټه ) وه ننوتو .هغه مخکې او زۀ ورپسې ووم.دننه کوټه ډېره ښکلې وه د ننوتو سره مې خپل ځان په شیشه کې ولید .

دیوالونه ټوله شیشه وو ـ په کوټه کې میز چوکۍ ایښې وو ـ یو چپرکټ چې تقریباً دوه تنه هم پکې ځائیدل پروت وو ـ په چپرکټ ښکلې روجایې خوره وه ـ د کوټې په څنګ کې تشناب وو ـ په کوټه کې هر څه موجود وو ـ ماته یې وویل ته کښېنه زه دستي واپس راځم ـ ښځه ووته دروازه یې راپسې پورې کړه ـ ما خپل بکس د میز په سر کېښود ـ د کوټې ښکلا او ددې هوټل ښکلا ته فکر وړې ووم ـ په زړه کې مې بیا تیر شول ما وې دا ممکنه نه ده چې دا هوټل دې د ګلاب وي ـ دا هوټل او هغه زما ګلاب ؟ دا کله کیدی شي ـ په دې کې هغه ښځه راغله ـ څه جامې یې په غیږ کې نیولې وې ـ رانتوته ـ وې ویل ښه خورکۍ اوس ووایه چې نوم دې څه دې ؟ له کومې راغلې یې ؟ څه غواړې ؟ د چا سره دې کار دی ؟ ما د هغې پوښتنو له ځواب نه مخکې ورته وویل ـ دا هوټل خو د ګلاب دی ؟ هغې په ځواب کې وویل هو دا د ګلاب هوټل دی ـ ترور جانې د کوم ګلاب هغه د کوم ځای دی او څه دنده لري ؟ ګلاب د افغانستان دی ـ مجاهدینو کې قوماندان دی ـ کورنۍ یې دلته په اسلام اباد کې اوسیږي ـ نور خپلوان یې او کلیوال یې پینډۍ کې هم شته ـ دلته کله کله په دوره راځي ـ هغه ډیر ښکلی ځوان دی ـ زه پوهـ شوم چې دا هم هغه زما ګلاپ دی ـ هغې دستي په دستي وویل ـ ښه اوس ته راته ځان را اوپیژنه ـ ما فکر وکړ چې پوره هر څه ورته نه وایم بدل نوم او بدله پیژندنه ـ ما وې ترور جانې نوم مې زرپاڼه دی ـ د افغانستان نه راغلې یم ـ پلار مې مجاهدینو له کوره بیولی ـ هلته راته ځینو خلکو ویلي دي چې ګلاب نومې قوماندان دی په اسلام اباد کې یې هوټل دی له نزدې ورته ورشه ګوندې د پلار په راخلاصولو کې درسره مرسته وکړي ـ وروڼه نه لرم مور مې مړه ده ـ بس ایکې یو پلار مې دی نور مې هیڅوک نشته دی ـ هغې سمدستي وویل میړه دې نه دی کړی ؟ واده شوې هم نه یې ؟ نه ترور جانې تر اوسه په کور یم ـ

هغه خوشحاله شوه . د واره پوهـ شوه چې جینۍ خو د پلار په مشکل پسې راغلې ده . وې ویل . هله ته لومړی تشناب وکړه او دا جامې واغونده. خدای به خیر کړي. ته چې د قوماندان صیب وطنداره یې. زه خو هم برنۍ یم. ستا وطنداره یم. پوهـ شوم چې دا ښځه به ګلاب دې هوټل ته راوستې وي. کار به کوي. ډاډه شوم. ما له بکسه خپلې جامې راواخیستې خو هغې پرینښودم . ویلې نه نه دا جامې واغونده . هغې پخپله جامې تشناب ته یووړې. زه هم ښه د زړوره ورغلم. له تشناب نه وروسته مې جامې واغوستې. نوې جامې او ډیرې ښکلې وې. چې ما هغسې ښکلې جامې کله ام نه وې اغوستې . په تشناب کې د سینګارولو ټول شیان موجود وو . ما له هغو شیانو سره غرض ونکړ. خالي جامې مې واغوستې او راووتم په انیه کې مې چې ځان ولید له خپل ښایست نه وشرمیدم. کوټې ته چې ننوتم . ښځه نه وه په څوکۍ کښیناستم ماښام خړه لګید لې وه . څو دقیقې وروسته هغه راغله . زه یې چې ولیدم په خنداشوه. وې ویل ماشاء الله. څومره ښکلې یې له نظره دې نه کړم. ویلې راځه چې ډوډۍ وخورو . ما ویل ترور ډوډۍ مې خوړلې ده. ویلې نه ته خو زما خاص میلمنه یې. اخر وطنداره مې یې. قدر به دې څنګه نه کوم. پاڅیږه چې ځوو . مجبوره یې کړم او ورسره روانه شوم. په لاندیني منزل کې د ډوډۍ خوړلو ځای ته یې بوتلم. کتل مې چې ډیره ښایسته (د ډوډۍ خوړلو خونه) وه. په میز ډوډۍ تیاره شوې وه. یوې پنجابۍ جینۍ هلته کارکاوه. څه کسان وړاندې پخلنځي کې لګیا وو . اصلي هوټل خو مخې ته وو . دا یې شاته مخصوصه غونډې ځایونه وو . له ډوډۍ خوړلو نه وروسته بیرته څلورم منزل ته وختو . په دهلیزه کې مې د هرې کوټې نمبر لیده په دغه پوړ کې لس کوټې وې . د اول نه تر لسم نمبر پورې په دروازو لیکل شوي وو. خدا زده چې په کوټو کې به څوک وو. زه یې خپلې کوټې ته بوتلم. ښځه راسره په میز کښیناسته. وې ویل. زرپاڼې لورې خپه نشې

.دلته به ستا ښۀ خدمت کیږي .تر څو چې ګلاب له بره نه دلته په دوره راځي تر هغې به له ما سره اوسېږې .ستا پلار په پیدا کولو او راخلاصیدو کې به درسره خامخا مرسته کوي .ته هیڅ فکر مه کوه .زما د لور پشان یې د مور غوندې خدمت به دې کوم.
په زړه کې مې وویل (دا ښځه څومره مهربانه ده.بیخي د مور مینه راکوي .خو هغې هیڅ خپل کلی او اصلي ځای او دلته یې خپل کاروبار رانه ونښود .صرف دا سې وویل چې زه هم ستا وطنداره یم .کیدی شي وروسته راته هر څه ووایي) د هغې د خبرو لهجه لکه زموږه پشان نه ده. اردو یې زده ده.په انګلیسي هم لږه لږه پوهیږي.لیک لوست په اردو ژبه او پښتو کې کولی شي .لوړه دنګه سره سپینه ښځه وه په عمر پخه وه په ظاهره یې لکه د پیغلې جینۍ په ناز او مکیز خبرې کولې تل یې خوله د خندا نه ډکه وه.په دغه شپه راسره تر ماسخوتن تیره په خبرو لګیا وه. پوښتنه مې ترې وکړه چې په دې نورو کوټو کې څوک اوسیږي؟ هغې راته وویل.دا د هوټل کوټې دي خارجي میلمانه چې راشي پکې اوسیږي.د یوې کوټې د شپې کرایه لس زره کلداري دي .زه په زړه کې په تعجب کې شوم.ما وې ترور زه خو دومره پیسې نه لرم.هغه پوهـ شوه.له ما یې خبره ونیوه.وې ویل نه نه ستا لپاره دا کوټه بې پیسو ده.اخر ته خو د ګلاب وطنداره یې.زه به هغه ته څه ځواب وایم.پوهـ شوم چې دا ښځه د هغه باوري ده.او په دې هم پوهـ شوم چې دا هر څه ددې ښځې پلاس کې دي.د شپې ناوخته وو چې هغې راته وویل.ته به اوس ویده شې ارام وکړه.سبا ته به بیا ګورو.هغه ووته او دروازه یې په ځان پسې پورې کړه.زه هم ډیره ستړې ووم.په بستر کې وغزیدم.تر سبا مې ښه خوب وکړ.سبایي چې له خوبه جګه شوم .له مخ لاس وینځلو نه وروسته میز ته کښیناستم . تلویزیون مې روښانه کړ او روته کتل مې چې په دې کې هغه ښځه کوټې ته راننوته.سهار په خیر ئې راته وویل.زر پاڅې خوب دې وکړ.ما وې هو

ترور تر سهاره مې ښه پوره خوب وکړ. ویلې راځه چې چاې ته لاړ شو. بیا هم لاندې راکیوتو. ډوډۍ خوړلو خونه کې چاې ته په میز کښیناستو. هغې راته د هوټل د ننه او په رستورانت کې چې د ډوډۍ خوړلو، چاې او نورو څښاک خوراک بیل ځایونه یې راته یوازې بې لیدو نه راپیژندل. ما ترې پوښتنه وکړه. چې ګلاب دا هوټل په څو اخیستی دی ؟ هغې وې نه پوهیږم زرپانې لور. یره د کروړونو خبره ده. غریب سړی دلته نه راځي. بس زیات میلمانه خارجي کسان دلته کې راځي. ددې ښار او چت هوټل دی. هلته په رستورانت کې چې کوم کسان کار کوي هغوي ټول په انګلیسي اردو کې پوهیږي. رستورانت خپل دفتر او مشر لري. ټول په جګو تنخوا ګانو کار کوي. دې هوټل ته کله کله د فوځ لوړ افسران هم راځي. زیاتره یې د ګلاب سره بلد دي. کله خو چې ګلاب نیک راشي ورسره د فوځ افسران هم وي. ترورو جاني چې دا ګلاب په عمر څومره دی ؟ هغه په اردو ژبه پوهیږي ؟ نه نه هغه په اردو کې خبرې نشي کولی په انګلیسي کې خبرې کولی شي. د عمر نه ځوان دی. جګه ونه توري غټې غټې سترګې یې دي. له رنګه سپین دی. بونډۍ ږیره یې په مخ ده. سپین غاښونه یې دي. همیشه سپینې جامې او تور واسکټ یې پغاړه وي. وړه خوله او جګه پوزه یې ده. خبرې چې کوي د خندا په حالت کې په قرار قرار غږیږي. بس او پوهیدم چې دا خو هماغه ګلاب دی. له ځان سره مې وویل .( د ظالم زویه زما درپسې زړه وچاوده او ستا راپسې هیڅ پروا نشته دی ) هغې زر ما ته وویل. تا هغه بیخي نه دی لیدلی. نه ترور. خالي مې د هغه نوم اوریدلی دی. خو چې خدای پاک یې زر راولي. ته هیڅ فکر مه کوه ډیر زر به راشي. مسکۍ شوه وې ستا څه بچي ژاړي. لونډه جینۍ یې چې کله راغی ورسره ملاو به شې. له چاې څښلو نه پس ته کوټې ته وختلو. د هوټل جوړښت په پیچلې توګه سره وو. یوازې د ورځې د کښیناستلو رستورانت له هوټله بیل وو. په هوټل کې د اوسیدو کوټې او ځینې نور

بیل بیل ځایونه لیدل کیده .د هوټل څلور منزله کې د اوسیدو کوټې وې . خو هیڅوک په دې نه پوهیده چې په هره کوټه کې څوک او د کوم ځای کس اوسیږي . ما د ښځې نه پوښتنه وکړه ترور جانې رښتیا تا خو ماته پوره ځان راونه پیژانده .هغه وخندل یو طلاي غاښ یې اوبریښیده .په خاص نزاکت یې وویل .زر پانې ما خو درته وویل چې زۀ هم له برې خوا یم .ما وې نه نه ترور .زموږ له خوا نه یې .ژبه دې بدله ده .خپل نوم دې هم راته تر اوسه نه دی ویلی.نوم خو مې تاج بي بي دی اصلي د سوات یم. پخوا دلته راغلې یم.پدې ښار کې اوسیږو .نو ته څنګه بیګاه کور ته لاړې.کور مې لوټکي وړاندې دی.کله په میاشت کې یو ځل کور ته ځم. بس نوره همدلته په دې نوکرۍ کې بوخته یم .یو دم له ځایه پاڅیده وې ویل.ته ټیوي ته ګوره زه یو ځل په هوټل ورګرځم.ما وې ښه ترورجانې. هغه توندده ووته س دروازه یې په ځان پسې پورې کړه .زه چُرت او فکر واخیستم چې دا به څه کیږي.نه پوهیږم چې ګلاب به کله راځي.په همدې سوچ کې پاڅیدم له دروازې مې سر بیرون کړ.چې وړاندې په دهلیز کې یوه ښکلې ښځه ولاړه وه .یو سړی هم ورسره په دروازه کې ولاړ وو .بیا دواړه کوټې ته ننوتل .لږ وروسته له یوې بلې کوټې نه بله جینۍ د خوب په جامو کې چې سینې یې په ګریوانه کې ښکاریدې سر رابهر کړی وو . ما ولیده خو په ما یې هم سترګې ولګیدې.بیرته زر دننه شوه .په زړه کې مې تیر شول.ما وې څوک کرایي والا به وي.میلمانه به راغلي وي.ما لا خپل سر نه وو دننه کړی چې زما مخامخ یو تن عرب له دروازې نه راووت زر مې دروازه پورې کړه .باور مې راغی چې په هوټل کې مسافر میلمانه دي.په هره کوټه کې بیل بیل د هر ځای خلک اوسیږي.بیا به مې له ځان سره وویل چې دا خلک څومره شتمن دي چې د یوې شپې لس زره کلداري کرایه ورکوي.نه نه زه باید زیاته په دې هوټل کې پاتې نشم.بیا به د ګلاب په زړه کې راته څه تیریږي.

هغه ښځه لاړه د خپل دفتر نه يې ټيليفون وکړ. کله چې يې د ټيليفون غوږۍ پورته کړه په اردو کې يې وويل. کرنيل صيب داسې پيغله مې درته راوستې ده. چې تر اوسه يې ځواني او ښکلا خوندي ده. په حسن کې يې په ګرد پاکستان کې ساري نه ليدل کيږي. بيګاه ته ځان را ورسوه. په اول نمبر کې ده. نور خپله پوهيږې. هاغه ورسره هوکې کړه.
يو شيبه وروسته تاج بي بي کوټې ته راننوته. د خندا په حالت کې وه. وې ويل. بي بي خپه شنې. زه درنه لا لهانده يم. ته په ټيوي کې خپل سيل کوه. ته خو ځوانه يې عشقي فلمونه ګوره هو زه به درته اوس دا دی يو فلم به درته په دې CD کښې وښايم چې قيد نشئ. هغې يوه سي ډي ور واچوله. کتل مې چې يو ډير عشق فلم شروع شو. هغه ښځه بيا ووتله. زه يوازې شوم. دومره بې حيا او بربنډ فلم وو چې هيڅ مې ورته نه کتل. د فلم يوه صحنه له بلې نه بدتره لوڅه او بې حيا وه. ډير ساعت وروسته هغه راغله. ويلې څنګه فلم دی. په تبه برابر دی که نه؟ ما وې هله ترور زر يې ليرې کوه ډير بې حيا فلم دی. هغې وخندل وې ويل. دا خو مې ستا د خوښۍ لپاره ما وې چې ځوانه يې او مسافره يې چې ساعت دې تير شي. نه ترور زه هيڅکله داسې فلمونه نه وينم. په ښځه مې شک غونډې راغی چې دا ښځه خو پښتنه ده او داسې فلمونه ګوري. ډيرې پوښتنې مې زړه کې راپيدا شوې. بيا مې فکر وکړ چې دا ښځه به کيدی شي زما د خوښۍ لپاره ګني چې خپه نشي داسې فلمونه راته ښايي. هغه پما پوهـ شوه چې زه په هسې فلمونو ليد و باندې خوښيږم نه بلکې ځوريږم. هغه سکسي فلم يې ايسته کړ. بل هندي فلم يې راته چالان کړ. تر مازديګره يې په فلمونو مصروفه وساتلم. د مازديګر چکر يې په همدغه د هوټل په مربوطه باغ کې راکړو. دغه بڼ دومره ښکلي ګلونه درلودل. چې ما بل چيرې هغسې ګلونه ليدلي نه وو. ماښام خړه لګيده چې دوباره د هوټل نمبر (۱ ! کوټې ته راغلم. لږه شيبه وروسته د ماښام ډوډۍ ته ښکته شو.

د رستورانت ډوډۍ په لوړه کچه وه ـ خو زما یې په قیمت او پیسو ورکولو کې کار نه وو ـ له ډوډۍ نه وروسته تر ما سخوتنه مې ټیلیویژن ته کتل ـ ناوخته ښځه راننوته ویلې زر پاڅې زه هلته مصروفه شوم ته یواځې پاتې شوې ـ بخښنه غواړم ـ هن دادي د خوب کالي مې درته هم راوړل ـ ناوخته دی ته دا واغونده او قرار ویده شه ـ په لاس کې یې د شربت بوتل هم نیولی وو ـ هغه یې په میز کیښود ـ په الماریو کې قطار ډ کې بوتلې ایښې وې ـ پوهیدم چې د شرابو او واینو بوتلې دي ـ ما وې د هوټل مال دی وي به نو ـ هغې راته کړو د خوب کالي دي واغونده چې درکې برابر دي که نه ؟ ما وې ښه ده ترور دادي اغوندم یې ـ تشناب کې مې د خوب کالي واغوستل چې اینه کې مې ځانته وکتل ګلابي رنګه د خوب نرۍ جامې چې لاندې بدن پکې ښکاریده ـ دومره ښکلې وې چې هکه پکه ځانته ودریدم ـ او له ځان سره مې فکر کاوه چې دا دومره قیمتي جامې یې راته راواغوستې دا ښځه مې ډیر قدر کوي ـ یا خو یې زما او د ګلاب په باره کې څه معلومات تر لاسه کړي دي او یا خو څه بله خبره ده ـ نه پوهیږم چې دا څنګه چل دی ؟ په همدې سوچ کې له تشناب نه راووتم ـ کوټې ته چې راغلم ـ په کوټه کې خوش بوي شیندل شوې ده ـ په میز پاک ګلاسونه او درې څلور ډوله بوتلې ایښودل شوي دي ـ د میز په سر په یوه خاص ښکلې نالبکي کې شمع بله ده ـ په دې وخت کې هغه راننوته په خندا یې ویل دا میز مې ستا په خوښئ داسې برابر کړی دی ـ دلته همداسې کولتور دی ـ ته د ګلاب میلمنه یې چې بیا ونه وایې چې قدر دې چا نه دی کړی ـ راته وې ویل له دې بوتلو نه درته کوم یو نه درواچوم ـ ما وې ترور ته خو پوهیږې چې زه اوبهٔ څښم دا نور شیان زما لپاره نه دي ـ هغې وویل هو هو هسې د خپل میلمه د هوټل د کلتور مطابق مې درنه پوښتنه وکړه ـ هغې راته د اوبو له بوتل نه په ګلاس کې اوبه راکړې اوبه مې چې وڅښلې ـ هغې راته وویل زه نن شپه کور ته ځم ته بې غمه ویده شه سبا ته په ګورو ـ

په ډیر کوم وخت کې ماته سمد ستي خوب راغی سترګې مې پټې پټې کیدې. چې په دې کې په بستره ویده شوې ووم. یو وخت مې په مخ څوک لاس وهي مګر زه خوزیدلې نشم. له خوبه راباندې سترګې پټې دي. یو وخت مې پښې پورته شوې. پرتوګ رانه راښکل شو. بیا راباندې څوک راپریوت. په سینو یې راته لاسونه ووهل. بیا یې خوله زما په شونډو کېښوده. په زړه بیداره ووم مال ګني چې خوب وینم. څوک راباندې له پاسه سولیده سولیده. ما هیڅ ځان نشو ښورولې. یو وخت مې د پښو منځ کې یو درد حس کړ. ځان مې لږ څه تاو راتاو کړ. خو پوهیدم چې چا داسې ټینګه نیولې ووم چې د خلاصون امکان مې نه وو. هر څوک چې وه او هر څه چې وه تیر شول. ټوله شپه کې مې دوه ځل دغه شان درد احساس کړو. نوره په ځان نه پوهیدم. ولې دومره پوهیدم چې څوک راسره پروت دی. یو وخت چې راویښه شوم ځانته مې چې وکتل بې حیا شوې ووم. پرتوګ مې پښو کې نه وو. په روجائي وینې پرتې وې. زما حالت بیخي خراب تراب شوی وو. ډیره تږې شوې ووم. په تشناب کې مې د نل اوبهٔ وڅښلې. په لاره نشوم تلای. مخامخ مې ساعت ته وکتل د ورځې دولس بجې وې. په ځان پوهـ شوم چې دا هر څه چې وه دغه ښځې راباندې وکړل. په کټ کې کښیناستم ښهٔ شیبه مې وژړل. بیا پاڅیدم تشناب مې وکړ. خپلې جامې مې واغوستې. کوټې ته چې راغلم یوه بله پنجابي ښځه په کوټه کې وه. زه چې ورننوتم. هغه په خندا زما خوا ته راغله. له رنګه سپینه وه دومره توره نه وه. ګرد مخ یې وو. ښکلې وه د هغه بلې ښځې نه ځوانه وه او ښکلې وه. رانږدې شوه لاس یې را اوږد کړ. ما هیڅ لاس ورنه کړ. په ژړا شوم. هغه راباندې پوهـ شوه. چې جینۍ خو ددې کار نه ده. دوکه شوې ده. زه چې په ژړا شوم هغې هم راسره وژړل. خو هغې په ژړا کې څه ویلې. او ځانته به یې لاس نیوه ځینې حرکات به یې کول چې زه یې پوهولم یعني ستا کار پخوا په ما هم شوی دی. زما په حال هغه ډیره خپه

شوه. په سر یې راته لاس راښکود. په غیږ کې یې ونیوم. د مخ او ښکې یې راته پاکې کړې. ما ژړا بس کړه. خپلې جامې مې راټولې کړې. پخپل بکس کې مې سنبال کړې. د وتلو اراده مې وکړه. هغه په خندا شوه. په خپله ژبه یې ډیر څه وویلې. زه یې پوه کړم ګنې چې لومړې چاې وچښه بیا به ځې زه خو په سلګو کې ووم چاې مې څه کاوه بکس ته مې لاس کړ. هغه او پوهیده چې جینۍ رانه ځي. په چالاکۍ له کوټې نه ووتله. او دروازه یې په ځان پسې له بیرون نه قلف کړه. هر څو مې چې دروازه په لغتو ووهله. خوند یې ونه کړ. زما په چیغو او عالمغال د دروازې په وهلو د دهلیزه د ټولو کوټو نه میلمانه راوتلي وو. زه بیا په ژړا شوم په دروازه وهلو لګیا ووم چې په دې وخت کې دروازه خلاصه شوه. کتل مې چې دوه تنه پنجابیان سړي چې په بدن قوي هیکل ښکاریدل او یوه ښځه چې هغه ځوانه ښکلې وه راننوتل. دروازه یې بنده کړه. یوه پنجابي سړي هغه ښځې ته وویل چې ته ورته ووایه دا ولې ؟ څه چل شوی دی ؟ ورسره راغلې ښځه ماته را وړاندې شوه وې ویل. خورجاني څه چل شوی دی ؟ ما ورته خپله قیصه وکړه. او ورته مې وویل چې د ګلاب لیدو ته د یوه مشکل لپاره راغلې ووم. د غسې غیر انساني چلن راسره وشو. هغوي لومړیزما قیصې ته حیران شول بیا یې خپلو کې سره څه وویل. وې خندل. خو ماته قهر راغی. هغوي ته مې وویل. زه به له تاسو سره ګورم. یو ځل چې ګلاب ووینم بیا به خبرې کوو. هغې ښځې بیا پوښتنه وکړه وې ویل خورجاني خیر دی. ته ماته ګوره زه هم لکه ستا غوندې له خپل وطن نه راغلې ووم. د خپلې کونډې مور او یوې وړوکې خور سره مې په لاهور کې د ګلدوزۍ په دوکان کې کار کولو. همدغسې په یوه دوکه سره قیصه یې اوږده ده تردې ځاې یې په چل چودو راوستم. دا مې څلورم کال دی چې دلته د پردو د حوس نه لوګی کیږم. اوس مې همدا کار دی. وطن ، کور کلی او هر څه رانه دغو حالاتو واخیستل. او چې ته مې ولیدې خپل

حال مې را یاد شو .هغې ښځې هغو نورو بنجابیانو ته په اردو ژبه څه وویل.هغه ټولو سر وخوځاوه.
هغې ښځې خپلې خبرې په داسې حال کې پیل کړې چې رنګ یې له احساساتو نه سور اوختی وو .وې ویل خور جانې د جهاد او مهاجرت په نتیجه کې ما او تا غوندې ډیرې پښتنې بیبیانې سرتورې او بې عفته شوي دي .زۀ هم پدغسې دوکه کې دلته راوړې شوې یم او په تا هم لکه زما پشان ناروا وشوه دا خلک ملامت نه دي.ټوله ګناه په مونږ کې ده.
ګوره خورجانې چې رښتیا راباندې وایې لوی مرده ګاو همدا ګلاب چې ته یې مرستې ته راغلې او له ده مرسته او کمک غواړې دا هوټل اصلاً د فاحشو ځای دی.او دا هغه د نورو پیسو ګټلو د پاره اخیستی دی.د آئي ایس آئي د وچتو څوکیو والا ورسره شریک دي .دا زمونږ د جهاد قوماندان دی .کلهچې هغه دلته راځي او څه وخت تیروي له همدغو فاحشو سره یې تیروي.له ما نیولې او بیا نورې.ښه نو اوس ته فکر وکړه چې هغه کې اوس پښتو ، ننګ ، غیرت او اسلام پاتې دی .هغو نورو په کوټه کې حاضرو کسانو دا فکر کاوه ګني چې جینۍ یې په خبرو کړه او لکه چې پاتې کیږي .فرښتې ویلې زه ورته حیرانه پاتې ووم چې هغه ګلاب او دا کارونه .بیا مې زړه کې تیر شول چې کیدی شي دا بل ګلاب نه یې ؟ ما هغې ته وویل خورې ددې هوټل د ټیلیفون نمبر خو ماته راکړه.
هغې زر هغو نورو ته وکتل بیا یې وویل .ښه ده ټیلیفون نمبر به درته درکړم.اوس راځه چې له دې ځایه دې اوباسم.زه په زړه کې خوشحاله شوم.ما وې چې دا پښتنه مې په کار شوه.زما بکې هغې واخیست.بیا یې هغو نورو ته په اردو کې یو څه وویل.هغو ورته د تائید سر وخوځاوه.
هغه ښځه مخکې او زه ورپسې شوم هغه دوه تنه سړي هم په مونږ پسې شاته راپسې شول.اول منزل (پوړ) ته ورښکته شو ښځې راته وویل.دلته به زما سره نن شپه وکړې.اخر زه خو دې خپله وطنداره یم.ته زیاتي نور

هیڅ سوچ مه کوه ـ زه چې درسره یم خفه کېدی رانه نشې ـ ما وې نه نه خور زه له دې ځایه ځمه ـ ګلاب نه مې پس توبه ده ـ هغه په خندا شوه او راغاړې وته وې ویل ـ سبا ته به وختي لاړه شې ـ بس دا یوه شپه ما سره وکړه ـ ته چیرې او سیږې ـ همدلته هغه ده زما کوټه ـ ته راځه کنه ـ بکسې یې رانه یووړ خپلې کوټې ته یې ننویست ـ زه یې له لاسه ونیولم او کوټې ته یې ورننویستم ـ هغه دوه تنه سړي پوهـ نشوم چې چیرې لاړل ـ دومره پوهـ شوم چې د هوټل په هر پوړ کې یو تن ساتونکی لیدل کیده ـ د ښځې سره چې کوټې ته ننوتلم ـ دا کوټه هغسې نه وه لکه د هغه لومړی لمبر کوټه چې وه ـ هر څه یې بدل وو ـ ولې هماغسې ښکلې وه ـ دننه د کوټې یوه اړخ ته تشناب وو ـ ددې کوټې په دروازه نمبر نه وو ـ زړه ته مې ولویده چې داکوټه به دې ښځې نیولې ـ راځه یوه شپه ورسره تیره کړه د ګلاب په باب ترې پوره معلومات ترلاسه کړه ـ سبا به وختي ترې لاړه شې ـ دا ښځه ډیره قدرمنه وه ـ زما یې پوره خیال ساتلو ـ زه یې فکر او سوچ کولو ته تر مازدیګره پرې نۀ ښودم ـ ډوډۍ او چاې یې همدې کوټې ته راوړلو ـ د پښتو ډرامې او ویډیوي فلمونه به یې راته ښودل ـ ماسخوتن تیره پورې یې ماته دا موقع رانکړه ـ چې اقلاً ترې پوښتنه وکړم له یوې شیبې نه بلې ته خوب نیولم ـ په ځان نه پوهیدم چې دا دومره خوب ماته ولې راتلو ـ هغې راته وویل خور جاني خوب نیولې یې راځه چې د خوب کوټې ته دې بوځم یوې بلې کوټې ته یې بوتلم ـ د کوټې دروازې ته مې وکتل په هغې هم نمبر نه وو لګیدلی ـ په زړه کې مې وویل چې دا کوټې به هغسې نه وي ـ کوټه کې یو چپرکټ پروت وو ـ په څنګ کې ورسره تشناب هم وو ـ سمدستي په چپرکټ کې وغزیدم ـ هغې راباندې یوه روجایي راخوره کړه ـ هوا ګرمه وه ـ هغه چې په دروازه کې وتله وې ویل ـ خورې ښه خوب درته غواړم ـ د خدای په امان ـ هغه لاړه ـ ما چې څنګه سر ولګو ( ولګاوه ) دستي مې سترګې پټې شوې ویده شوم ـ یو وخت په ځان دومره پوهـ شوم

چې پرتوګ رانه چا په چالاکۍ وویست او سمد ستي راباندې د بې ستۍ کولو پیل وکړ. سترګې مې چې وغړولې. ګورم چې یو تور غټ چارشانه سړی راباندې پروت دی. ما زر په خپیړه وواهه. خو هغه دومره قوي ځناور وو چې داسې زور یې راکړ چې مال ګني هډوکي مې ټول چرچور شول. دومره پرزیدل ولاړیدل مو سره وکړل چې زه نوره د حرکت نه ولویدم ـ د هغه د نیولو او د ځان د ژغورلو طاقت راپکې نه وو. په خپل ځناورتوب یې زه بې حیا کړم. هغه وحشي تر سهاره خوب ته پرې نه ښودم. سبایې چې رانه لاړ. ما بیا په ژړا پیل وکړ. ځانته به مې قهر راغی چې ولې پرون نه تلم. له ځان سره مې فکر وکړ چې په ژړا څه نه کیږي پښې باسه. کټ نه د پاڅیدو نه ووم. خو ورو ورو تشناب ته لاړم. له تشناب نه وروسته غوښتل مې چې خپل بکس راواخلم. او ځان اوباسم. دروازه مې راخلاصه کړه. هغه بلې کوټې ته ورغلم. کتل مې چې په هغې کوټې کې یوه بله ښځه ناسته وه. نیم زالې غوندې ښځه وه له رنګه توره وه خو کړه وړه یې برابر وو. بد بد مې ورته وکتل. هغه په خندا شوه. راپاڅیده په پنجابۍ کې یې راته څه وویل. ما پرې څه غرض ونه لاره بس خپل بکس ته مې لاس کړ. بکس مې راوخیست له کوټې نه ووتم. هغه ښځه هم راپسې را روانه وه. څنګه چې دروازې ته ورغلم یو سړی دروازه کې په څوکۍ ناست وو. تور پنجابي وو. زه چې دروازې ته ورسیدم. هغه راپاڅید ودرید او ماه یې کتلې. چې هغه ته ورنزدې شوم. ورته کتل مې نه. په دروازه کې چې وتلم لاس یې را اوږد کړ وې ویل ټکټ لرې. هغه په پنجابۍ کې وویل خو زه پرې پوهـ شوم ګني چې د وتلو اجازه نامه لرې؟ هر څو مې چې ورسره غالمغال جوړ کړ څه خوند یې ونه کړ. په دې کې هغه ښځه هم لاړه. نور کسان راغلل. ورپسې یوه سپینه ښایسته ښځه راغله په فارسي یې وویل. چې ګپ است؟ ما هم په فارسي ورته وویل دا سړی مې بیرون نه پریږدي. هغې وویل ته ما سره راځه چې زه دې پوهـ کړم. بیا

به درته اجازه واخلم. زه په زړه کې خوشحاله شوم ما وې رښتیا به اجازه راته اخلي. راځه چې څه درته وایي. ورسره لاړم. په یوه کوټه یې ننویستم. په کوټه کې یې په څوکۍ کښېنولم. وې ویل. خورجاني دا هوټل د ګلاب دی او هغه په افغانستان کې د مجاهدینو اوچت قوماندان دی د غسې هوټل یې یو په لاهور کې دی. کله کله دلته راځي خپلې مزې چرچې وکړي .بیا واپس ځي. دلته چې دا څلور پوړه ودانۍ ګورې دا په میلونو کلدارو هغه د همدې کارونو لپاره اخیستي ده. په دې کې ځینې ښځې د دې ښار دي هغوي اجازت لري چې هوټل ته داخل شي او خارج شي. هغه ښځې چې په دوکه راغلي وي تر څو چې دلته عادت شي. زه هم په دوکه کې دلته راوړل شوې یم. دا مې نهمه میاشت ده. چې دلته یم. سوړ اسویلی یې له خولې ووت. وې ویل. ستا هم بله چاره نشته. تر هغې به دلته یې چې تر څو پخپله ګلاب دې له دې ځایه اوباسي. د یوې افغانۍ په ژبه درته وایم چې خوشې ځان له مرګ مه نیسه. اوس خو دې سرته راغلې ده. تر یو وخته یې په ځان قبوله کړه. خورجاني بله لاره دې نشته. رښتیا رښتیا مې درته وویلې. دلته انسان دوستي او مسلماني نشته دی. دلته انسانیت خرڅېږي. دا د ښځو د عزت د لوټولو ځای دی. خور جاني دا د دې ښار د لوړ قیمت اوچته فاحشه خانه ده اوس دې پرې سر خلاص شو. دلته ستا په سر دا هوټل د شپې لس زره کلدارې اخلي. نو اوس وواېه ته څنګه له دې هوټله وتلای شې. وچه کلکه کښېناستم خوله مې وچه شوه. ما وې خورجاني لرې اوبه خو راکه. هغې ویل په سترګو هغه په اوبو پسې لاړه. زه په چوکۍ باندې په ژور فکر کې پاتې شوم. سمدستي مې ذهن ان تر خپل کلي کور ورسید له نوم مجاهد نه مې بد راغلل. د خپل ورور نه مې چې هغه هم قوماندان وو. بد راغلل له ځان سره مې دا فکر کولو چې د جهاد ټول قوماندانان لکه چې داسې دي. جینۍ چې اوبه راوړې. دومره مې خوله وچه شوې وه. چې په یوه ساه مې ګلاس تش کړ.

ورته مې وویل خورجاني دا ټولې ښځې په زور راوستې شوې دي.نه نه دا ټولې پخپله خوښه راځي خپل وخت تیروي پیسې اخلي او کورونو ته ځي.دلته چې کومې ښځې اوسیږي هغه څو تنه دي.چې په دوکه او چل کې لومړی راوستل شوي دي .هغوي له شرمه واپس خپل کور ته نشي تلای.تنخوا ورکوي او دلته اوسیږي.زه هم لکه تا غوندې یوه میاشت دلته بندي ووم.بیرون ته یې نه پریښودم.تر څو چې بله چاره مې نه وه. ډېر مې وژړل چیغې مې ووهلې .مګر هیڅ ګټه یې نه راته کوله .له مجبوریه مې تن کیښود .زه هم ستا پشان افغانه یم.زړه لرم ورکې دې شي هغه پیسې چې په دغه ډول یې څوک پیدا کوي که زه درته خپله قیصه وکړم بیا به دې باور پما وشي.د هغې په دې خبره مې تلوسه شي چې ددې قیصه به څه ډول وي ؟او هم ګچي ګول شوم.چې دا څه راباندې وشول .هغه مې خوا ته ناسته وه لکه د هغو نورو ښځو پشان خوشحالي یې په څیره کې نه ښکاریده.د عمر نه ځوانه وه.خو د مخ په سپینوالي کې یې زیړ زیړ د پوستکي رنګ ښکاریده.زما په حال هم پوره غمجنه شوه وې ویل خورجاني کله راغلې یې ؟دوه شپې مې وشوې.تعجب یې وکاوه.وې ویل.ته خو دې دا خپل سرګذشت راته ووایه ډیره مې درته سودا شوه .دې هوټل ته چا څنګه راوستې ؟په مات زړه مې ورته خپله قیصه لکه څنګه چې مې آبلې ښځې ته کړې وه دې ته هم وکړه .ما چې ورته خپله قیصه تیره کړه .د هغې په شونډو لږه مسکا ښکاره شوه وې ویل ستا خبره خو بالکل بل ډول ده .تا سره خو ددې هوټل والاو دوکه کړې ده.اوس چې خبره داسې ده .هیڅ فکر مه کوه خالي ستا ځنډیدل به تر ګلاب راتګ پورې وي.اسانه ده.نور به هیڅ تشویش نه کوي.خو یوازې د افسوس خبره دا ده چې عزت دې لوټل شوی دی .خو خیر دی یوازې د ګلاب تر راتګ پورې دلته اوسیږه .هغه چې راشي ستا مشکل حلیږي.وایه زما د بدبختۍ.پخوا به هغه زر زر په دوره راتلو .مګر دا زه

چې راغلې یم. دا یوه میاشت مې کیږي چې هغه نه دې راغلی. خدای مهربانه دی ګوندې په دې ورځو کې راشي. ما وې خورجاني د هغه تر راتګه به زما سره همدا سې غیر انساني سلوک کیږي ؟ هغه لږه مسکۍ غوندې شوه. وې ویل. او به چې تر مرۍ ورسیږي څه یې له سره او ختې. چې ګلاب راشي او کار دې وشو. په کور کې دا خبرې بیا هیرې کړه. ژوند کې په انسان هر ډول حالات راځي. سړی باید مجادله او مبارزه وکړي. ته نور هیڅ فکر مه کوه. زه به اوس درته چاې راوړم. ما وې خورجاني یوه هیله درنه لرم چې زه به تا سره یو ځای اوسم په دا دوه شپو کې چې کومه ښځه را سره وي. بله ورځ یې بیا نه ګورم. دا څه ډول کار دی ؟ هغه بیا وښکی کوږ کړ وې وخندل دلته رښتیا چې بل ډول سیستم دی. ته چې څو شپې تیرې کړې درته به هر څه روښانه شي زه راځم نورې خبرې به وروسته کوو. هغه په چاې پسې لاړه زه د ګلاب سوچونو واخیستم. (ده خو ما سره لوظ کړے وو چې د ژوند تر پایه به موږ دواړه یو ځای د مینې ګډ ژوند کوو. خو هغه نه لکه چې پیسو او قوماندانۍ زما مینه هیره کړې ده. ګلاب خو زه نشوم هیرولی ما خیال کاوه چې ګني د مجاهدینو سره به د جګړې په جبهه کې مصروف پاتې شوي وي. مګر دا چې دا دریم کال پیل کیږي چې زما هډو پوښتنه نه کوي ) په دې وخت کې هغه وطنداري چاې راوړو. په میز یې کلچې چاې او نور خوراکي مواد هوار کړل. په پوره مهربانۍ یې راته وویل. خور جاني وښیسه چاې وڅښه. سوچ او فکر شاته وغورزوه. هر څه به خدای وکړي. زه ډیره خفه ووم. د هغې په ډیر اسرار سره مې یوه پیاله چاې وڅښو. زما یې لکه د خپلې خور پشان خیال ساتلو. په دغه ورځ یې تر ما زدیګره تشویش ته پرې نه ښودم. زما هم ورسره ساعت تیریده. ما ته ګوډه پښتو یې هم ویله. څو شپې ورځې مې همدغې جینۍ سره یو ځای په داسې حال کې تیرې کړې چې د شپې به د هغې د کوټې تر څنګ په بله کوټه کې ویده کیدم. د هوټل په ټولو

کوټو کې به ځینو خارجي میلمنو د شپې خپله ساعت تیري کوله ـ زه د هوټل کولتور سره روږدې شوم ـ راسره څه چې هیلې او ارزوګانې وې په سین لاهو شوې ـ یوازې مې په ځان ټولې نا خوالې د ګلاب تر راتګه په ځان منلې وې ـ درې اونۍ همدغسې تیرې شوې ـ یوه شپه سر له ماښامه له تشویش او خپګان له لاسه په وخت ویده شوم ـ ښخه ویده ووم ـ چې یو وخت مې چا روجایي راکش کړه ـ په ځان پوه شوم چې بیا به کوم ځناور وي ـ ورو مې سترګې پرانستې د چپرکټ په بازو یو سړی ناست دی خپلې سترګې مې ښې وغړولې او پخپل ځای کښیناستم هغه ماته کتل او ما هغه ته ـ شک مې زړه کې پیدا شو ځکه چې د ګلاب څیره مې نیغه مخې ته ودریده ـ او هغه هم په شک کې شو ګني چې زه ورته په کټ کې ناسته یم ـ هغه لږ مسکی شو سم د واره مې له غاښونو او نورو کړو وړو نه او پیژانده ـ دستي یې وویل ـ ته څوک یې ؟ ما وې ته څوک یې ؟ هغه او پیژندم وې ویل آخ ته فرښته دلته ؟ هو زه فرښته ووم خو اوس هغه فرښته نه یم ـ زما له مخې لیرې شه ـ بې ننګه ، بې غیرته ، بې پښتو انسانه ، ستا د جهاد دا نتیجه وه چې ان زما پت او عزت دې هم په پنجابیانو خرخ کړ ـ هغه حیرات پاتې شو ـ له کټ نه پاڅید ودرید ـ هک پک شو ژبه یې ګونګۍ شوه ـ په لړځیدلي غږ یې وویل ـ ته دلته څه کوې ؟ مال ته دلته څه کوې ؟ ما وې زه اوس د هر چا یم خو ته بې ننګه مې خوا ته هم نشې راتلای ـ وړاندې ودریږه زما خبرې په غور واوره ـ چې څه درته وایم ـ ګلابه تا خو زما سره په پښتو ژبه د مینې لوظ کړی وو ـ زه ستا د هغه لوظ په اساس تر دې ځای رارسیدلې یم ـ ولې دې زما په ژوند لوبې وکړې ؟ ولې دې د خپلې قوماندانۍ د حوسونو ښکار کړم ؟ تاسو ته په جهاد کې دا ویل شوي دي چې د بې وځلو افغانانو په وینو داسې حالت ته ځان ورسوئ ؟ جهاد دا دی چې داسې هوټلونه او فاحشه خانې جوړې کړئ ـ د مسلمانو او افغانۍ بیبیانو عفت او عزت پکې لوټ کړئ ؟ هغه وارخطا

شو له خولې یې غږ نه راووت.وې ویل.فرښتې بخښنه غواړم.یو ځل خو ته خپله اصلي قیصه وکړه.هو زه درته اصلي قیصه وکړم.زما اصلي قیصه خو ستا سره ده.زما قیصه خو تا پورې وه.نامرده ولې دې زما قیصه هیره کړه.که ته زما د ژوند داستان هیر کړې نو زه به ستا د جهاد او ستا د قوماندانۍ قیصه د پښتون قام په تاریخ کې ثبت کړم.خیر دی که زه د خپلې مینې په تس کې قرباني ورکړم دا به د پښتنو پیغلو لپاره د ننګ او پښتونولۍ د عبرت ډکه قیصه شي .د ګلاب تمانچه هلته د کوټې په منځ کې په میز ایښې وه.ما ځان په هغه تمانچې باندې د وژلو نیت وکړ.سمدستي مې په تمانچې ورحمله کړه.تمانچه مې راواخیسته او ګلاب ته مې ونیوه.لاسونه دې پورته ونیسه.په قرار له کوټې ووځه. هغه خپل لاسونه پورته کړو.او دروازې ته یې ګامونه واخیستل.که دې شاته وکتل.ما غزه دې خورم.هغه مخکې او زه ورپسې ووم.له هوټل نه مې ویوست د رستورانت دفتر ته مې بوتلو.کوم چې زه لومړۍ ورځ له هغه ځایه هماغه تور مخي پنجابي میجر زه هوټل ته ورننویستې ووم.او په ځناورو یې لوټ کړم.څنګه چې دفتر ته ننوتو .سمدستي هماغه پنجابي راپاڅید د ګلاب مخې ته یې رامنډه کړه.ما پرې دوه ډزې وکړې په سر ولګید او په زمکه پریوت.بیا مې خپل سر ته تمانچه ونیوه.د هوټل یوه تن ویلې کله چې زه ور ورسیدم.فرښته په زمکه پرته وه ګلاب پرې راټیټ شوی وو.فرښتې ، فرښتې غږ یې کاوه.رنګ یې زیړ اوښتی وو.فرښتې سلګۍ وهلې سترګې یې ګلاب ته نیولې وې.اخره خبره یې دا وکړه.ګلابه ، په ورو او غلي اواز په داسې حال کې چې په وخکې یې وینې روانې وې.ژبه یې چلیده.بیا یې وویل.ګلابه وه ګلابه.ګلاب خجالته ولاړ وو.پولیس او د هوټل خلک راغلل.هم هغه افغانه جینۍ چې فرښتې ورسره څو شپې کړې وې.د فرښتې مخې ته کښیناسته سر یې ورله په غیږ کې کیښود.ورته وې ویل.دا دې څه وکړل خورې.دا ولې

؟ زنه یې ورپیده او په ژړا شوه ـ هغې په ډېره سختۍ سره چې اخري سلګۍ یې وهلې وې ویل خورجاني زما او د ګلاب قیصه به ټولو افغانانو ته وکړې ـ ما خپل ځان د ګلاب په تمانچه وواژه ـ او هم دغه پنجابی چې زما په عزت یې لوبې وکړې ـ مړ مې کړو ـ زما نوم فرښته دی ـ هیر دې نشي ـ

---

## د محمدا جان یار چاپ شوي اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | کوکارې | شعري ټولګه |
| ۲ | سره ډولۍ | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۳ | د کونړ تاترې | تحقیقي او تاریخي اثر |
| ۴ | ویر | شعري ټولګه |
| ۵ | تړلې کڅوړه | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۶ | د لیلیې دښته | ناول ، سترګو لیدلی حال |
| ۷ | ځانګه | ناول |
| ۸ | هوسۍ | ناول |
| ۹ | په قربان | شعري ټولګه |
| ۱۰ | دا ژوند او دا خیري | ناول |
| ۱۱ | ګلاب او فرښته | ناول |

## چاپ ته چمتو اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ویرونه او بهیرونه | ناول، سترګو لیدلی حال |
| ۲ | کلونه تالانونه | ناول |
| ۳ | اوښکې | شعري ټولګه |
| ۴ | سفرنامه | بحرونه او ساحلونه |

# ویـــرونـــــه

# بـــهـــیـــرونـــه

( ناول )

## کتاب پېژندنه


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ــــــ | ویرونه بهیرونه ( ناول ) |
| لیکوال | ــــــ | محمدا جان یار |
| خپرونکی | ــــــ | د پښتونخوا د پوهنې دېره ، پېښور |
| د چاپ شمېر | ــــــ | ۵۰۰ ټوکه |
| چاپ نېټه | ــــــ | اګست ۲۰۱۱ء |
| چاپ وار | ــــــ | لومړی |
| چاپ زیار | ــــــ | بصیر بیدار ستوری |
| کمپوزنګ | ــــــ | ارشاد خان ( پښتو اکېډیمي ) |
| چاپ ځای | ــــــ | ضیاء سنز پرنټرز پېښور |
| قیمت | ــــــ | ۱۵۰ روپۍ |

د ملاوېدو درکونه

- یونیورسټي بُک ایجنسي خېبربازار پېښور پښتونخواه
- دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي پېښور ، پښتونخواه

# ډ الــــی

د هغو ماشومانو او بوډاګانو ارواګانو ته

کوم چې په

فرعوني او قاتلو لاسونو

د پلۀ له سره

سیند ته غورزول شوي دي۔

یار

## د پلهٔ له سره

دا د کونړ یو داستان دی .د داستانونو څخه یو داستان .او له فریادونو څخه یو فریاد .هلته داسې ښودل شوي دي .چې د غرونو څوکې یو بل ته مخامخ ولاړې دي .په هغو نښترې او څیړې هم یو بل ته مخامخ ولاړې دي.ناوونه او خوړونه هم یو بل ته مخامخ له غرونو رابهیږي .خو په سیند کې سره یو ځای کیږي.دا د کونړ د طبیعت یو داستان دی.خو ددې کاپې او ددې مثال د کونړ په کلیو او بانډو کې هم په حرکت کې دی. هلته لکه دوه مخامخ غرونه لکه دوه مخامخ ځنګلونه او لکه دوه داسمان په لمن کې د وریځوغړمباری .د سپینتمان زردشت اهورا او اهریمن بیا په مقابله اخته وي.هلته په کلیو کې موسی له فرعون سره چمبړ دي. خلیل اسماعیل روان کړی او د قربانۍ ډګر ته یې بیایي او مسیح ته دار رسۍ تیاره شوې ده.شمر بیا حسین ته توره راویستلې ده.یزید بیا له خولې ځګونه باسي.

نو د پلهٔ له سره داسې یو کیسه ده.هلته شمر او فرعون او قارون او شداد او یزید او په جمع کې اهریمن د اسلام تر بیرغ لاندې تېغ راویستی دی. او د ماشومانو له پاره بې د څیړۍ کونده ایښی ، ساطول یې په لاس دی خو د خدای پاک په نوم بیوزلي ماشومان ټوټه کوي.نو یارصیب په خپلو ساده کلماتو دا انځور کښنه کړې ده.

یار چې یو وخت لا زه نوی کابل ته راغلی وم د ښوونځي په اوم او اتم ټولګي کې وم .چې زما له ورور سره د یار ملګرتیا وه او زه هم ورسره اشنا شوم.هغه وخت یار ښوونکی و .هغه وخت یار و .ښه مست زلمی او ښه یاغي ښوونکی.خو دویم نوم یې غمیار و .خو کله چې له غمونو سره روږدی شو.او د غمونو په اړوند فکرونو واخیست.غمونو یې د تن او

وجود ، روح او روان برخه شوه نو بیا یې د غم اړه له نامه سره ونه لیده نو ،،یار،، شو ـ خاموش شو چوپ شو او لړ څه د فکرونو خوا ته راواوښت ـ وایي چې په هنري اثر کې د لیکوال دروني شخصیت یا ،،ځلاقه شخصیت،، هم دخیل وي ـ د یار په دې ناولیت کې دوه ځواکونه سره په ډغره دي ـ یوې خوا ته وحشت، بربریت ، حیوانیت، بې عاطفه والی او ځناوریت چې له بده مرغه د اسلام تر نامه لاندې حرکت کوي ـ بلې خوا ته پښتنواله ، انسانیت ، عاطفه ، ناریتنوب ، میړانه ، زړه خوږی او مردانګي ده ـ د ناول ټوله محتوي ددغه دوه یادو شویو ارزښتونو مقابله او ډغره ده ـ د کونړ د غرونو او ځنګلونو سترګې او طبیعت یې شهادت ورکوي ـ هغوي په سره سینه او ارام او سکون سره دا پیښې په سترګو لیدلې دي ـ او په پوره زغم وایي ـ داسې پیښې ډیرې تیرې شوي ډیرو پردو چې کله دلته قدم ایښی او د خلکو په وینو یې ژرندې ګرځولې ، پخپله هم سالم نه دي تللي ـ

په تورات کې راغلي دي ـ انسان یوا ځینی موجود دی چې ورته ویل کیږي ـ چې ته به وژل کیږې او هغه په دې پوهیږي هم خو په دې ناولیت کې چې مور د خپل زړه د غوښو مرګ ویني څو څو وارې وژل کیږي او هغه هم د جهاد په نوم د خدای او اسلام د دعوې دارانو له خوا ـ

کله چې په دې ناولیت کې ماشومان د پلۀ سر ته ورنږدې کیږي نو بیا پل د پل صراط په مقابله کې د په اصطلاح د جهادي خدایانو پل جوړیږي ـ هغه چې د پل صراط په خیر تري ګناهګاران نه غورځول کیږي ـ چې په دوزخ کې ولویږي ـ بلکې دلته دا هر څۀ اپوټه دي ـ دلته دا پل د بیوزلو د اعدام دړه ده ـ چې تنکي ماشومان یې له پله په مرمیو سوري کوي او بیا یې ترې ارتوي ـ دلته د جنت او دوزخ ټیکه دارانو او د جهاد په نوم د کونړ د ټولو ښو دودونو او د هغو د انسانانو او د پښتنوالې د قاتلانو کارنامه ده ـ داسې چې د انسان په نوم د شرم او پیغور رټه ده ـ دلته ګناهګار نه

اعدامیږي ـ بلکې بیوزلي هغوي چې د ګناه په مفهوم نه پوهیږي ـ هغوي چې ګناه نه پیژني ـ هغوي چې د ژوند یو تنکی سباوون یې لا په مړه ګیډه اوغړیدلو سترګو نه دي لیدلی ، غورځول کیږي او بیا یې هډوکي هم نه موندل کیږي د کونړ سیند لکه تاریخ لکه زموږ د اولسونو په وینو رنګ شوی او په وینو لیکل شوی تاریخ د اهوار او د اهریمن د جګړې شاهد دی.او دا جګړه یارصیب ښه ترسیم کړې ده.

په ناولیټ کې ساده چوپان چې ځان یو ساپی او یو پښتون بولي ـ د انسانیت په دونیا کې عروج پیدا کوي.په دې کلماتو ته زما خوریږي.زه یو پښتون یم.تاته به څوک پورته هم ونه ګوري.زۀ به دې خدمت کوم.د زړۀ تسل درکوم.خو هغه چې د شپې د لارو یو لار څاري او د بل په دستور او لارښوو نه بیوزلي ماشومان او یو بوډا پلار په پله دروي او بیا پرې اوربلوي او د ماشومانو سره د اوبو د ماهیانو خوراک ګرځي .نو د ځناورو ، وحشي او درنده حیواناتو حیثیت پیدا کوي.وګورئ ساده پښتونواله او د اسلام په دروغجنه دعوه کې څومرتوپیر دی پوښتنه پیدا کیږي ـ یوه قاتل چې ماشوم یې په غیږ کې نیولی او زور کوي چې کوچنی ماشوم سیند ته وغورځوي خو ماشوم هغه له تنیو کلک نیولی او ځان له قاتله نه خوشي کوي او چیغې وهي ـ ایا د ماشوم د هغه پنجې او نازکو ګوتو سره نږدې یعني د قاتل په ټټر کې دننه کوم زړۀ نه وو ؟ایا دغه قاتل مور نه وو زیږولی ـ چې د احساس او عاطفې خپسه یې د وجود وینښته راپورته او نیغ ودروي ؟ارومرو چې نه وو هغه مور هم نه وو زیږولی بلکې داسې بریښي چې دغــه قاتل به پلار هم درلود ـ یارصیب په ښه توګه دغه کړه وړه ترسیم کړې دي.

د لوی ذات په قانون کې هیڅ زوی د پلار په جرم نه محاکمه کیږي.نه ویل کیږي چې پلار دا جرم کړی دی نو زوی دې د پلار په بدل کې دوزخ ته

ولاړ شي. خو جهادي فرعونيانو دا کار وکړ. دوي داسې نظام جوړ کړ. خو له بده مرغه چې د اسلام نوم يې پرې ايښودلو.
زه په خپل وار سره د يار صيب د دې ناول کښلو قدرداني کوم او مبارکي ورته وايم.

اکبر کرګر
لندن
نومبر ۲۰۱۰ء

## سلګۍ سلګۍ

زۀ یو ځل بیا د فکرونو سیلاب په مخه کړم .زما په احساساتو یو ځل بیا د اور لمبې بلې شوې او زما په هره ساه کښې یو ځل بیا لړزان راغے . ځکه چې دې حالا تو په ما ډېرې لوېې اوکړې.زما د وجود زما د روایاتو زما د اقدارو له مینځه وړو لپاره ئې ټولې دسیسې په کار واچولې.او دغه سلسله لا تر اوسه دوام لري.
محمدا جان یار هم لکه زما د پښتون قام غم خوړلے دے .د هغۀ په سینه کښې هم یو داسې پښتون زړۀ په درزا دے کوم چې د خپل زړۀ قیصه هم د خپل قلم سره کولے شي.د هغه چې تر اوسه څومره اثار چاپ شوي دي. په هاغه ټولو کښې قامي رنګ واضحه او جوت ښکاري او هم دغه د یو پښتون لیکوال فریضه ده چې د قلم په ژبه د خپل قام ژوبل ژوبل زخمونه اوچیړي.او دغه رنګ په غېر شعوري توګه خپل قام تـه وریاده کړي چې په تا کوم کوم جبر په کوم کوم نوم شوے دے.
،، ویرونه بهیرونه ،، دا یوه داسې رښتینې قیصه ده چې په تصور ئې هره ساه اوبوږنیګي .یو خوا د یوې مور سلګۍ سلګۍ احساسات چې د خپلو بچو د سرونو د حفاظت دپاره هاغه خاوره پرېږدي چرته چې هغې خرپوسې کړي وي د کومې خاورې د هر ګودر ، هر چنار او هر تنور سره چې د هغې تنکي تنکي یادونه تړلي وي.خو دا هر څۀ هغه د خپلې وینې په خاطر پرېږدي.او بیا چې کله په دې ارمان کلي ته واپس روانېږي چې د خپل د سر ،، ګلاب،، څوک چې په بره وطن کښې پاتې دے اووینې.د شلیدلو یادونو مزي سره بیا اوتړي نو د داسې پښتنو په لاس ورځي څوک چې ځان تـه د اسلام واکداران وائي.هغوي ددغه بې کوره مور

تنکي تنکي بچي د سیند د پل نه لاندې ګذاروي . مور دا هر څهٔ ویني . د هغې د زړهٔ د تل نه وتې سلګۍ لامکان ته رسي . پورته په عرش کښې لړزان راځي . او فطرت د دغه سنګدلو د ظلم او جبر تماشې کوي . خو مجبوره مور په داسې حال کښې هیڅ نشي وئیلې .
هغه په ځان پسې پښې راکاږي . د هغې ټول ارمانونه تالا والا شوي وي . په دې ارمان خپل وطن ته ځي چې خپل خاوند ته په چیغو چیغو اوژاړي . او ورته دا ټوله قیصه تیره کړي . خو ... چې کله هلته رسي نو خاوند ئې د ژوند لاره بدله کړې وي . د هغه نه دا هیر وي چې زما داسې یوه بې وسه ښځه هم وه څوک چې زما د بچو د سرونو د بچ کولو په خاطر د کوره وتې وه . هغه ځان له بل کور اباد کړے وي . او دغه بوره مور هم داسې بې منزله او بې اسرې پاتې کیږي .
ښاغلي محمدا جان یار د حقیقت دې واقعاتو ته یو داسې ادبي رنګ ورکړے دے چې لوستونکي د ځان سره د ګوتې نه اونیسي او د ظلمونو او وحشتونو په دې یو یو پړاؤ ئې ګرځوي . دا د محمدا جان یار د زیرک او پوهه ذهن کمال دے چې هغه د واقعاتو په تسلسل پوهیږي . هغه اوس یو منلے شوے ناول نګار دے . چې وختونه به ئې د لیک او پوهې اعتراف کوي .
په مجموعي توګه د دې کتاب نه څرګندیږي چې لیکوال خپلو پښتنو ته دا ښودل غواړي چې په مونږ دې استعماري قوتونو په کوم کوم انداز لوبې کړي دي . کله ئې په یو نوم اوټکولو او کله ئې په بل نوم . خو د دې هر څهٔ باوجود د پښتون قام ته لا د خپل وجود احساس نشته . پښتون ته د خپل اجتماعیت احساس نشته او چې تر څو دغه بې حسي وي . تر څو دغه ځان ځاني وي د ډېرو میندو بچي به د هغوي وړاندې قتلولے شي . خو آخر تر کومه .... نن .... نن که زمونږ رهبران اودهٔ دي زمونږ اتلان خپلو

غرضونو په مخه کړي دي خو په دې لمبه لمبه ماحول کښې په دې سلګۍ سلګۍ ماحول کښې د یو ژوبل ژوبل پښتون احساس دا اواز کوي چې:-

چــې راتــول شــم د ســلګو بــدل بــه اخلــم
ددې واړه محرومـــو بـــدل بـــه اخلـــم
د هـــر جبــر او ســختو بــدل بــه اخلــم
لا مــړ نــۀ یــم خــو پــه طمــع د ,, بـدلون،، یــم
زمـــا لو یـــه ګنــاه دا ده چــې پښـــتون یـــم

لایق زاده لایق
پېښور
۲ اګست ۲۰۱۱ء

# ویرونه بهیرونه

## لومړی ځپرکی

په خرپ مزل خو مې ځکه کاوه چې ډېره اوږده لاره مې په مخکې پرته وه . چې قدم به مې اخیست د سړک زیګو کاڼو مې پښې وهلې . عجیبه خو دا وه د لارې په اوږدو کې مې سترګې په شنو کښونو ، د غرونو په ځنګلونو او تاترو لګیدې . یو ډول خوښي به مې احساسوله . دا نه وه ګني چې ستړی دې شم . د اوړي ګرنګه ورځ او د ځوانۍ تودې شیبې له لاسه مې د تندې خوله نه وچیده . ساعت پس به مې لپې لپې اوبه څښلې.

سړک د غره په کږلیچونو کې ، کوږ وږ تللی ؤ . سیند له سړکه لاندې او له سینده پورې ځای پر ځای کلي پراته ول . د طبیعت د ښکلاګانو په لیدو او سوچ کی روان وم . چې ناڅاپه مې مخې ته له یوه وړوکي کلي نه ورا راووتله . شل دیرش ښځې او څو تنه سړي ئې په مخکې روان وو . یوه تن په کجاوه کې ناوې پشا کړې وه . چې تقریباً د اتئؤ کالو به وه . ګامونه مې ښه ګړندي کړل . ما وی چې سیل یې وکړم . واده له سړک نه لاندې تیریده . ښځو غبرګې چمبې وهلې . په جګ اواز یې سندرې ویلې . بیخي لکه د زرځانکې پشان خواږه اوازونه یې راتلل . په زړه کې مې تیر شول . ما وې چې پدې درو کې هم څومره سندر ماري شته دی . د همدغه اوږده مزل لاره د ښکلاګانو په کتو سره لنډیدله . د غرو لمنې سرګړو او غوړاځکو ، ممانړو ، ګورګرو ، غوړولې وې . په ګړنګونو کی د کجیرانو الوتل او د یو نیم باز مرغه چې له پاسه به په کومه مرغۍ داسې راغوټه شو لکه د ګولۍ په څیر . یو ناڅاپي شغ کی به له سترګو پناه شو . د غو ټولو

ښائستونو د مزله سترياته نه يم پريښې .له ډېرو کليو او د غرونو په پيچومو واوښتم .مخې ته مې يو وړوکی کلی راغی چې يوازې څو کورونه ښکاريدل .دغه کلي د غره په يوه ډډه کې د ځيړيو تر منځ اباد وه . چوپان بزې اړولې وې .پخپله په يو جګ کمره ناست و .شپيلۍ يې غږوله .د سړک نه لاندې سيند بهيده .د سيند ځپو شور او د شپيلۍ خواږه غږ انګازې مې خدای راستي که اوس هم له خوږونو نه وتلې دي .هلته مې پښه ونيوه .د يو کمره په سر مې پخپل ځادر کوناتی ولګاوه .يو شيبه مې دمه وکړه .په سړک نور لاروي هم تيريده .د هيڅ شي په کيسه کې هم نه و. ولې زه د هغو درو او سر درو په ښائستونو نه مړيدم .تر هغې ناست وم چې د بزو کنډک په بله موړه واوښت .بيا روان شوم .ښه شيبه مزل مې چې وکاوه .په يوه جګه چړايي وختم .کتل مې چې په جګه غونډۍ کلی پروت ؤ .مخامخ ترې له سينده پورې هم يو بل کلی د غره بيخ کې د سيند پغاړه اباد وه .د کلي مخې ته شين کڅ غوړيدلی ؤ چې پورته ترې ډير جګ غر ختلی ؤ .څومره به چې تلم .دره تنګيدله .غرونه به لکه غاړه غړۍ يو بل ته ښکاريدل .ما به چې له هغو کليو او غرونو ، درو او خوږونو نه سترګې راړولې پوره لار به مې وهلې وه .پام مې کاوه د يوه جګ پاڼ په سر کلاګانې او کورونه مخې ته راغلل .سړک هم د کلي په منځ کې وتلی ؤ .د کلي له منځه تير شوم .سمدستي مې مخې ته د اوبو ډک خوړ راغی . ودريدم لومړی مې چې د خوړ چړندې اوبه وليدې .ورو ، ورو ورنژدې شوم .او مې ليدل چې د دغه ډک خوړ اوبه دومره زياتې وې چې له پاسه پرې پل پروت ؤ .همدغه خوړ د چپې درې سيند ؤ .په پله پورې وتم مخامخ په يو کيلو مترۍ کې لويه کلا ښکاريده .په يوه ګوټ کې د افغانستان بيرغ رپيده .پوه شوم چې علاقداري وه .په کيڼ اړخ مې کاته چې په جګه تپه کې د ښوونځي ودانۍ تر سترګو کيده .لږه شيبه د لارې په سر ودريدم .ښي لوري ته په ټيټه فاصله کې شنه پټي او سيند

ښکاریده. د سترګو د دید په امتداد مخامخ وړاندې کلي او کلاګانې ښکاریدې. شاو خوا ته یې په ځنګله ډک غرونه ختلی و . په کیڼ لوري یــو نری رود د ترخو په منځ کې ختلی ؤ . ساه نیولی په هغه روګې ورسم شوم. ښه چې پورته وروختم د ښوونځي په ودانۍ مې سترګې ولګیدې. دعکاسي ونې د ښوونځي په دالانه کې واړې وې. لاره مخ په نیغه وه. مزل پکې غوځه نه کوله. د یوه لاسي بکس سره ورو ، ورو تلمه. تر څو چې د روګې سر د ښوونځي دیواله ته رسیدلی ؤ. په زړه کې مې تیره شوه. ګنې چې ښوونځي ته راکابو شوم . سینه مې تله راتله سم پشیدمه . ودریدم. خپل اوسون مې په ځای کړ. بیا روان شوم. دا ځل مې له لیرې نه ولیدل چې د ختو او ګټو نه جوړه شوې ودانۍ د چپې درې ښونځي دي. د ښوونځي تر څنګ وړاندې دوالیبال میدان ښکاریده . په ډاډه زړه د ښوونځي ودانۍ ته ورنزدې کیدم. هلته وړاندې څو تنه د عکاسې ونې لاندې په څوکیو ناست وو. په زړه کې خو مې تیر شول چې دا به خامخا ښوونکي وي. په همدې سوچ کې ورنزدې کیدم د هغوي هم راپام شو. پیژندم خو یې پدې چې پخوا یې لیدلی وم. ښه چې هغوي ته ورنزدې شوم راپاخیدل ما هم سلام ورواچاوه . هر یوه راسره په غیږ سترې مشې وکړۀ. ناست لا نه وم چې یوه وویل اقلاً شپږ میاشتې یې هم په لیسه کې پرې نښودې ؟ یو بل تن چې له سګرټ نه یې ښه کش پورته کړ. لوګی یې په خوله او پوزه راووت. په ښتني غږ یې وویل. دا ورسره بلد دی. یو بل تور رنګي ځوان چې تورو ویښتانو یې په څټ شاته منجیلې جوړې کړې وې . اوږده بریتان یې په شونډو راځړیدلي وو . د څنو ویښتان یې هم تبرګي پشان ښکاریدل. خپله څوکۍ یې ماته خوشې کړه. چپړاسي ته یې د بلې څوکۍ وویل. ورسره یې دا هم وویل چای زر راوړه. د ونې ستې ته څیر مه په څوکۍ کښیناست په کرار او درووند غږ یې وویل: طبقاتي مبارزه کې دا شته دی. دا خو لا بدلي ده له مرګه باید ډار ونشي. ددې زوړ

فاسد نظام په ضد باید کلکه مبارزه وشي . یو تن د پاخه عمر ښوونکي چې د مرۍ رګونه یې له خوارتیا نه ښکته پورته تلل ټول ناست ښوونکي یې یو یو را اوپیژندل . په یوه تن مې سترګې ولګیدې . هغه هم پدې چې شیبه په شیبه یې غاړه تازه کوله . غلی ناست وو . هیڅ خبرې یې نه کولې . خالي ټولو ته یې غوږ ایښی ؤ . پدې کې درې تنو په غبرګ اواز وویل استاذه مونږ درې واړه دې پخوا د څوکۍ جمعیت لیسه کې شاګردان وو . ما هغو درې واړه له سترګو تیر کړل . هغه یو یې له ونې ټیټ چار شانه زلمی ؤ . وې ویل استاذه په اوم ټولګي کې دې مونږ ته د انګلیسي او سپورت درس راکاوه . آبل بې واره وویل کانفراسونه دې جوړول . تل به دې شعرونه ویل . هغه دریم یې وویل کسم دې داسې مې یاد پرې لکه دا اوس . په صنف کې به دې سیاسي خبرې کولې . رښتیا استاذه ږیره دې هم نه وه راغلې چې زمونږ معلم وې . یو ډرامه چې دې جوړه کړې ؤ . د ولسوال د زوی نه دې پکې جینۍ جوړه کړې وه . ټولو په دې خبره وخندل . زهٔ لږ چپ پاتې شوم . هاغه بیا ویل استاذه لکه چې هیر دې شول . په خبرو یې راوستم . مجبور شوم او مې ویل . هو ولې نه ښهٔ مې یاد شي . د ۱۳۴۰ کال خبره ده . دا د نن خبرې هغه وخت کې نه وې . یوازې کابل پوهنتون کې د نو یو ایډیولوجیو خبرې روانې وې . نورو ولایتونو ته یې لا انګازې نه وې غزیدلې . د هغه وخت شاهي نظام په خلاف هیڅا څه نشو ویلې . په ټول ملک کې چوپه چوپتیا وه . رښتیا چې هغه د څوکۍ حاکم څومره ښه سړی ؤ . مونږ یې د زوي نه په ډرامه کې جینۍ جوړه کړې وه . او له بله پلوه مو د حکومت په خلاف ډرامه تمثیل کړه . خو هاغه مونږ ته هیڅ نه ویل . هغسې ولسوالان به بیا پیدا نشي . ماته یې بیا ویل: معلم صیب په دا دومره لوی کونړ کې دې زما د زوي نه جینۍ جوړه کړې وه . ما ورته په درناوي وویل . ولسوال صیب زما هم په ټول کونړ کې په تاسو زړه درتلو . هغه موسکی شو . وې ویل . پام کوه چې ضرر درپیښ نشي . هماغه ؤ چې

د پوهنې مدیر جزائي تبدیل کړم. پدې وخت کې یوه تن ښوونکې چیلم ته تیلی وواهه. د چیلم سر ته یې چې تیلی ولګاوۀ. په خوټ خوټ یې چیلم راښکه. سترګې یې سرې راویستې. بیا یې خوا ته یوه بل تن ته چې ګرده غوندې خولۍ یې په سر وه. تور شډل بریتونه سپین څادر یې په ولو خور کړی ؤ. هغه ته یې چیلم ونیو. هغه هم په یوه ساه چیلم کش کړو. د ښوونځي یوه چپړاسي په تور چاې جوش کې چاې راوړه. هر یوه ته یې د چاې پیالۍ ډکې کړې او په میز یې مخې ته کیښودې. چاې څښل کیده د ځوکۍ ښوونکو د خبرو په جریان کې یوه نیمه ټوکه هم کوله. هسې خوبې له هغه د کونړ خلک په ټوکو او دوړو ویلو کې نوم لري. په تیره بیا د پیچ او ځوکۍ ساپي، چې په هره حجره او ویستل کې ټوکې ټکالې او خنداګانې وي. باور وکړئ په لږه شیبه کې مې د مزل سترتیا او ستومانې ووته. تر مازدیګره پوه نشوم چې د اوړي دا دومره اوږده ورځ څنګه زر ووته.

یو تن ښوونکي چې لوړ قد په تن نرۍ په خوله کې یې یو غاښ توربخن ؤ. له خپلې کوټې نه په چابکو ګامونو راووت. لومړی یې له ما سره روغبړ وکړ. چې مې ولید لوټکي وارخطا او سودائي راته ښکاره شو. په ډېر وارخطایۍ سره له نورو ښوونکو نه جدا شو. د اوبو په لور د خوړ غاړې ته ورغی. غوښتل یې چې اودس تازه کړي. نورو خپلو کې سره وویل. د چکر وخت دی. لمر پریوت. هوا ښه شوه درځۍ چې ځوؤ. زما بکس چپړاسي کوټې ته یووړو. هماغه د ځوکۍ درې سره ښوونکي رانه تاوول. ویلې استاذه خپه نشې موږ درسره یو هغه ښونکي چې هر دم به یې غاړه تازه کوله خوا ته رانزدې شو لکه څنګه چې ارام ښکاریده. په ورو یې راته وویل. استاذه زه دې له پخوا نه پیژنم. مونږ د ننګرهار دارلمعلمین کې ول. چې تۀ راته ملګرو راپیژندلی وې. او په لیسه کې چې دې وظیفه وه هم مې پیژندلې. ما وې هو له نیکه مرغه. چې دا کوم ځای ته تللی یم.

هلته زموږ ملګري ډیر وي ـ ما چې د هغو کریکټر ولیدل خوښ مې شو ـ چې وروسته بیا د همده سره مې پخه انډیوالي شوه ـ ما به ورته پخپل زړه کې ارام صیب ویلې ـ په ښکاره به مې ورته خپله نامه اخسته ـ له همده او ځو نورو ښوونکو سره مې یو ځاې شپې ورځې شوې ـ د چیپې درې ښکلا خو پدې زیاته ده ـ چې په جګو غرونو کې دا دره پورته ختلې ده ـ د درې مخامخ هم غرونه دي ـ دغه ټول غرونه شنه او ښکلي دي ـ په زړه پورې منظرې او تاترې لري ـ په دې دره کې یو په بل پسې له کنډې کلي نه پورته ان تر سلیمان شاه پورې کلي پراته دي ـ د درې او کلیو تر منځ د چیپې درې سیند ښه په شور او مستۍ بهیږي ـ د شنو فصلونو او ځنګلونو په زړه پورې ورمې پدغه له کشمیره ښکلې سیمه کې چلیږي ـ زموږ شپې او ورځې ښې تیریدې ـ د هرې جمعې په ورځ به د نزدې ځایونو ښوونکي خپلو کورونو ته تلل ـ ټول ښوونکي مې ښه یاران وو ـ ولې ارام صیب راباندې ګران په دې ؤ چې د جمعې په ورځ به هم زما لپاره پاتې کیده ـ زۀ به یې په بیلو درو او سر درو کې ګرځولم ـ باور وکړئ چې ددغې سیمې د غرو رغونو ، ځنګلونو د جګو نښترو ځوکې دومره زړه راښکونکې دي چې هر څوک به ددې لیواله ؤ چې یو ځل خو له نزدې نه دغه ښکلاګانې اوګوري ـ کله خو به خلکو ددغو غرونو د کانونونه خبرې کولې ـ چا به د یوې درې او چا به د بلې درې د ښائستونو کیسې کولې ـ یوه ورځ د څو تنو تر منځ د لینډ لام د سر د جهیل ( ولاړو اوبو ډنډ ) خبره وشوه ـ یوه تن چې د هغه ځای د نزدې کلیو د ښوونځي ښوونکی له موږ سره میلمه ؤ ـ ویې ویل ـ ما د سلیمان شاه خلکو له خولې نه اوریدلي دي هغه ډنډ ته ښاپیرۍ راځي ـ یوه بل وویل ـ هلته څوک نشي ختلی ـ د لینډ لام سر ته ډېر کم کسان تلای شي ـ میلمه د خپل تندي خوله پلاس وچه کړه ـ ویې ویل ـ چې داسې ده ـ خو راځئ دا یې ګز او دا میدان ـ سبا ته د پنجشنبې ورځ ده ـ چې رخصت شویې ـ شپې ته به زموږ ځای ته لاړ شو ـ سبا یې به وخت

حرکت وکړو ـ ارام صيب په ارام غږ وويل ـ ما هم دد غه ډنډ قيصې اوريدلي دي ـ که مو خوښه وي ـ بسم الله ـ څوک چې ځئ و دې وو ايي ـ د شپږ تنو صلاح پدې شوه ـ چې سبا ته څنګه رخصت شو پس له ډوډۍ نه به روانيږو ـ حسن خان دې خداى اوبخښي وې ويل ـ زه به کمره له ځان سره واخلم ـ تاسو به پياز خامخا له ځان سره ولرئ ـ تر څو هلته د غره په سر کې بيا پکار راځي ـ سبا ته له غرمې وروسته مو د چپې درې لاره ونيوه ـ او د حسن خان ځاى ته روان شو ـ په لاره د سوتماري او دري خوت له کليو نه تير شو ـ د چمبړک د جګې غونډۍ په مخه ورتاؤ شو ـ لاره راته شيبه په شيبه مخ پورته کيده ـ پدغه دره کې لا سړک نه ؤ وهل شوى ـ يوازې د پښو پياده لار ختلې وه ـ مازديګر د حسن خان دوي ابتدايي ( لومړني ) ښوونځي ته ورسيدو ـ د ښوونځي ځينې ښوونکي کورونو ته تللي وو ـ ماسخوتن له ډوډۍ نه وروسته په چايو ټولو د ډنډ خبرې کولې ـ ارام صيب لومړى د هغه د عادت له مخې غاړه تازه کړه ـ وى ويل ـ سبا ته چې موږ سليمان شاه ته ورسيدو يو ځل به د مدير صيب کره ورځو ـ تر څو د هغه په مشوره به د ډنډ ليدو ته ځوؤ ـ موږ ته د مدير صيب نامه نابلده وه ـ خو هغه وويل ـ زه يې پيژنم تاسو به هم ورسره بلد شئ ـ ډير ښه يار سړى دى ـ پخوا په حکومت کې مدير وه ـ اوس په کور دى ـ ټولو ورسره اومنله ـ سبايي وختي خداى بخښلي حسن خان چاې تيارې کړې ـ د مانځه نه وروسته چې چاې وڅښل شوې ـ د ليندۍ لام د سر ډنډ ليدو په نيت مو يون پيل شو ـ

موږ سره يو تن چپړاسي هم ملګرى و ـ هغه د وچې ډوډۍ او پيازو غوټه شا پورې تړلې وه ـ هغه په لاره له ټولو نه اجازت وغوښت وې ويل ـ زه به مخکې شم چې لاره راته معلومه ده ـ تر څو چې لمر پلوشې په غرونو خورولې ـ موږ سليمان شاه ته ورکابو شو ـ په لاره له ډيرو کليو نه تير شو ـ

مزل ټول په غره کې و ـ مګر د غره د بوټو او شنه ځنګل نه خوړې وړمې پورته کیدې.ستړي ذهنونه يې تازه کول.
د چپې دري کلي يو د بل له پاسه پراته دي ـ شنه فصلونه ، څېړيو ، نښترو ، خترېزو ، د هر ډول مرغيو اوازونو د خوړونو د رڼو اوبو غړوسکې ، غړوسکې اوازونو ، د ګړنګونو او تاترو ښکلاګانو په ليدو زړونه خنديدل ـ ارام صيب پښه ونيوه ويې ويل انډيواله د مديرصيب کور ښکاره شو ـ په ښي لار وګرځئ ـ د عمومي لارې نه د هغه کورته نرۍ لاره بيله شوې وه ـ په هغې ورسم شوو ـ پس له لږې شيبې مزل نه د مدير صيب کور ته ورسيدو ـ د هغه کور د نښترو ګڼ ځنګل ته نزدې په يوه جګه د غره په لمن کې پروت ؤ ـ د کور مخې ته په ښکلي حجره کې کښيناستو ـ کتل مو چې مدير صيب حجرې ته رااننوت ـ هغه وچ نرۍ د ننګ سړی و ـ له هر يوه سره يې د غيږې روغبړ ښه په مينه وکړ ـ د ټولو مخامخ په کټ کې کښيناست.ارام صيب ته يې وويل.دا دوستان راته راوپيژنه.ده ورته بيل بيل وښود ـ ورسره جوخت يې وويل ـ مدير صيب موږ د ډنډ ليدو په نيت راغلي يو ـ ستا رايه څۀ ده ؟ هغه وويل ښه خبره ده ـ همدا وخت د ډنډ د ليدو ځکه دی چې واؤرې ويلې شوي دي ـ ورځې هم اوږدې دي ـ په اسانۍ سره کولای شئ چې لاړ شئ ـ خو بايد چې پياز درسره موجود وي ـ ځکه چې پاس د غره په سر کې يو ډول ګلونه دي ـ چې په سړي رړی کيږي ـ بيا چې پياز وخوري واپس جوړيږي ـ د هاغه دمرۍ غوټه د خبرو په وخت کې ښکته پورته تله ـ ښه سړی پدې ؤ چې په ورين تندي په پستو او نرمو خبرو يې د سړي ذهن روښانه کيده ـ هغه لا په خبرو لګيا ؤ چې ما د ليرې شا ؤ خوا باندې د غرونو لوړې څوکې او د نښترو ټلونه او ځنګلونه د خپلو سترګو را لاندې کړل ـ هر څۀ ښکلي ښکاريدل ـ د چاې څښلو نه وروسته ارام صيب وويل ـ مدير صيب ستا په اجازه به موږ حرکت وکړو ـ تر څو لمر توديږي تر يوه ځای خو ځانونه ورسوؤ ـ هغه وويل ـ هو چې د

ډنډ په نیت راغلي یاست او ځئ ـ نو لومړی ستاسو مخې ته یو ستر ځنګل راځي ـ چې هم هغه ځنګل کې نرۍ لار ختلې ده ـ په هغه لار به د ځنګل سر ته او ځئ ـ پورته بیا خالي نیغ غر دی ـ ونې او ځنګل نشته ـ که چرته درباندې شپه راغله ـ پاس د غره په سر فراریان او سیږي ـ د هغوي سره به شپه تیره کړئ ـ خو پام مو وي چې هغوي حکومت او قانون نه پیژني ـ په ډیر احتیاط ورسره چلن وکړئ ـ د مدیر له کوره را ووتو ـ او د هغه ځنګل په لور مو یون پیل کړو ـ د سلیمان شاه نه چې دوه کیلو متره جګ وختو ـ رښتیا هم چې هماغه ځنګل ته ورسیدو ـ د ځنګل تر څنګه په ژور خوړ کې د واؤرو روڼې او به بهیدلې ـ په کیڼ اړخ کې مخ پورته په ځنګل کې د ننه نرۍ لار وتلې ده ـ د یوه نښتر په سته کې د زیلې په منځ کې د چینې یخې پاکې روڼې او به بهیدې ـ له پخوا نه چوپانانو د نښتر همدغه زیله ورته ناوه جوړه کړې وه هر چا ترې او به وڅښلې ـ دومره یخې او به وې چې هډو لاس ورته نه نیول کیده ـ باور وکړئ د هغو او بو مزه مې نه هیریږي له لږې دمې وروسته مو په ځنګل کې د یوه ستوي کتار په شکل روان شو ـ له یوه ساعت مزل نه وروسته د ځنګل منځ ته ورسیدو ـ د هر نښتر سته دومره پیړه وه چې عقل ورته چپه کید او پورته چې دې ورته کتل د سر خولۍ دې لویده ـ دومره لوی او ګڼ ځنګل ؤ چې موږ شپږو تنو پکې ډار احساساوه ـ کله چې له ځنګل نه ووتو داسې وو لکه سړی چې د تورتم کوټې نه بهر ته اوځي ـ په یوه جګه موړه کې دمه ځای مخې ته راغی ـ ټول ستړي شوي وو ـ په دمه ځای کې په تیګو کښیناستو ـ یوه تن وویل ـ هغه دې د چلس کنډو لاندې ښکاري ـ دمه ځای ته نزدې بانډه وه ـ څو کوټې او د بزو چاپالونه ښکاریدل ـ هلته وړاندې په یوه ډډه کې سپینې واؤرې پرتې وې ـ تر څنګ یې چوپان بزو ته د خیړې ځانګې وهلې ـ د بانډې خلکو او چوپانانو ولیدو ـ لږه شیبه وروسته یې یوه تن چوپان په کاسه کې متر راوړو ـ چې په متر کې یې واوره هم ګډه کړې وه ـ موږ هر یو پوره

اوړي شوي وو ـ ډوډۍ او د واؤرو يخ متر مو په شوق او مينه سره وخوړل ـ له دغه ځای نه د کونړ او لغمان د غرونو سرونه راختلي وو ـ خو د لينډ لام غر په ټولو غرونو جګ او هسک ؤ ـ ما خپلو ملګرو تـه وويـل انډيوالـه زه خو دې ځنګلونو ته خوښ پدې يم ـ چې دا دومره لويه ملي شتمني ده کـه پـه راتلـونکي وخـت کـې کـوم زړه سـواندي رژيـم رامـنځ تـه شـي ـ ددې ځنګلونو او غرونو نه په فني توګه سره استفاده وکړي باور لرم چې ملک ته به پوره ګټه ورسوي ـ موږ لا په خبرو اختـه وو چې کتـل مـو يـو تـن ډک ګوډی پشا ، ټوپـک تـر څنګ پـه دمـه ځـای راواوښت ـ لـومړی يې سلام واچاوه بيا يې ګوډی يوې تيګې ته لګاوه موږ سره يې ستړي مشي وکړه ـ لږه شيبه پس يې وويل:

وروره له کومه ځایه مو راپيښنه کړې ده ؟

چپراسي چې د هغه په ژبه او خصلت ښه پوهيده ـ په ځواب کې يې وويـل ـ موږ د کنډۍ نه راغلي يو ـ غواړو چې پاس ډنډ وونيو ـ هغه چې د ديرشو کالو سړی ؤ ـ لږ څۀ موسکی غوندې شو ـ ټوپـک يې خپـل څنګ تـه پـه ځمکه کيښود ويې ويل تاسو په ښه وخت کې د ډنډ ليدو ته راغلئ ـ اوس هوا توده ده مګر پاس د غره په سر ډېره يخني ده ـ زه د هغه په خبره حيـران شوم په تلوسه مې تـرې پوښتنه وکړه ـ مـاويې وروره ددې غـره سـر نـور هـم ليرې دی ؟ او بل دا چې تا دا څۀ شی راؤړل او څنګه دې پشا راوخيژول ؟ بيا موسکی غوندې شو ـ ويې ويل خدای سړی تـه طاقت ورکـوي ـ زمـوږ خو بس همدا ژوند دی ـ پـه دريمـه او څلورمـه همدغـه ډک ګـوډی خيژوو ـ لاندې موږ ژوند ـ دا څو کاله کيږي چې زه سمې ته نه يم ښکته شوی ـ کلـه نا کله زموږ کسان د يو ګل ته کوزيږي هغه هم د ځينو ضروري کـارونو او د خپلوانو ليدو تـه ـ نور مـوږ فراريـان پـه همـدې غرونـو او ځنګلونـو کـې عمر تيروو ـ

راځئ راپاڅئ چې مزل لا پاتې دی. هغه ګوډی پښا کړ او نیغ روان شو.
موږ په هغه پسې تښ نښو وررسیدی. زما په نس شدشد درد شو. ټولو
ویلې دا د یخ متر او واؤرو نه دی. لږه شیبه چې پورته په غره کې وختو.
درد مې لا پسې سیوا شو. چا ویل پیاز ورکړئ. ګلونه پرې رږی شول. چا
وې. خیټه یې متر او شړومبو یخه کړې ده. تاوده څڅۀ ورته پکار دي.
څومره چې د غره سر ته ورپورته کیدو. هوا یخیدله. ونې او بوټي نه و
خالي د یــوې لویشتې په منګ او زیړ ګلونه ولاړ ؤ. د غره سپیرې تیګې
وې. زما درد شیبه په شیبه زیاتیده. کتل مو چې له پاسه فراري د ګوډي
پښا غږ وکړ. راځئ راورسیدو. له لاندې نه موږ ورکتل. چې هغه دمه
ایښې وه. خپل ګوډی یې تکیې کړی ؤ. موږ ور ورسیدو. هغه وخندل.
وې ویل. هلکانو معلومېږي چې کله مو د غره مزل ندی کړی. زه خو ارام
صیب له لاسه نیولی وم. خپله خیټه مې په دواړو لاسونو ټینګه نیولې
فریاد مې هم کاوۀ. ما خو به ځان له شرمه هم ټینګاوه. مګر درد مې زیات
وو. چاره نه وه. سره له دومره درده مې پام کاوه چې په غواو، بزو، میږو
مې سترګې ولګیدې. د فراریانو باندې ښکاره شوې. د سپو غپا پورته
شوه. فراري وویل هغه چې ښکاري دغه زموږ کورونه دي. موږ دمه ونیوه
کښیناستو بس هر یوه دا ویلې د ټولو غرونو نه دا سر لکه د بام هسې دی
زه یوې هوارې تیګې باندې پریوتم. د درد له لاسه مې په سترګو تورتم
راغلی وو. په دې کې هغه فراري له ورایه غږ وکړ ویلې راځئ. موږ لاړو
یوې کوټې ته یې وننویستو. چې د کوټې دیوالونه او چت د تختو اوږدو
تیګو نه جوړ شوی و. سمدستي یې ماته اوس مې هیره ده څه ګرمه دوا یې
په چاې کې راکړه. اور یې بل کړ. یوه پیړه توده شړۍ یې را باندې خوره
کړه. لږه شیبه وروسته مې حالت لوټکي ښه شو. له شړۍ مې سر رابهر کړ.
هغوي چاې څښلې. فراري وویل تاسو همدا اوس د ډنډ لیدو ته لاړ شئ.
یوه ځوان چې ټوپک ئې اوږې ته پروت وو لاس ونیو. وې ویل. دا زما

وروربه درسره وي-ترڅو واپس مو راورسوي-ټولو وويیل سمه ده-خو دا مریض به.... ؟ ما چې دا خبره واوریده سپک راپورته شوم-ما وې زۀ اوس ښه یم بریخ مې کم شوی دی-د ډنډ لیدو په نیت وخوځیدو-دغه ځای هواره دښته وه-له یوې شیبې مزل نه وروسته ډنډ ښکاره شو-د ټولو دا تلوسه وه چې د ډنډ پغاړه به ښاپیرۍ راته پنډې وي-په ګرندي تګ سره زما درد بیا زیات شو-هغوي ته مې څۀ نه ویل-د ډنډ غاړې ته ورسیدو-اومو لیدل چې د غره په سر لوی جهیل (ولاړې اوبه) ډنډ شوي دي-دومره لوی ډنډ و چې سړی فکر کاوه که چیرې دا دومره اوبه پدې غره ښکته روانې شي نو د سمې ټوله سیمه به لاهو کړي-د ډنډ بل اړخ ته څه نه لیدل کیدل-د اوبو پغاړه مرغان، او ځینې حیوانات تر سترګو کیدل-خو د ښاپیریو پته نه لګیده-په ډنډ کی ځینو لاسونه پرینځل-عکاسي پکې وشوه-یوه ښه شیبه د ډنډ غاړې ته ناست وو-یوه تن وویل نورې ټولې خبرې ربنتیا وختې خو د ښاپیرو خبره دروغ وخته-بل تن پرې رامنډه کړه-وې ویل نه نه داسې نه ده-خامخا به دلته په چا ښاپیري راپیښ شوي وي-ځکه چې د پخوانیو خلکو دا خبرې دروغ نه دي-په همدي خبرو کې له ډنډ د غاړې نه را روان شو-او د فراري کور ته راغلو-
مازدیګر لمر په غرونو پریوت-په موږ کې یوه وویل اوس به ستاسو په اجازه سره لاړ شو-فراري لومړی ښه په برق، برق وخندل بیا یې وویل-په لیوانو ځان ماتوئ؟دا غرونه او ځنګلونه د خطرناکو حیواناتو نه ډک دي-بل دا چې موږ درته پښتانۀ نه ښکارو؟دا یوه شپه به د غریبۍ او سختۍ له موږ سره تیره کړئ-ویلې راځئ-چې اور درته بل کړم-په دې سرطان میاشت کې دلته یخني وي-موږ پریمانه لرګي لرو-کوټې ته ننوتو-په نغري کې یې په لمبو، لمبو اور بل کړو-زما لپاره یې توده غذا چې د غره د بوټو خاصه دوائي وه-راته راکړه-دوه شرۍ یې راباندې خورې کړې-تر سهاره له ځانه خبر نه ووم-سبایي چې له خوبه پاڅیدم-

درد مې لږ شوی و ـ وروسته له چاې څښلو نه موږ د فراري بانډوالو نه خدای په اماني راواخسته ـ ټولو ترې مننه وکړه ـ او د لینډ لام له سره مو مخ ښکته لار ونیوه ـ تر یوې فاصلې پورې مې درد کم ؤ ـ خو په مزل سره مې درد پسې زیاتیده ـ ځای پر ځای به کښیناستم ـ ارام صیب به راسره په عذاب وو ـ اخر دا چې هغو نورو ملګرو ته مې وویل ـ تاسو ځئ ما سره به ارام صیب پاتې شي ـ په کرار ، کرار به د مدیر صیب ځای ته ځان ورسوؤ ـ هغوي لاړل زه او دوست مې کرار ، او ورو ورو تلو ـ اګرچې لاره مخ ښکته وه ـ ګړندي مزل کیده ـ ولې زه سخت په عذاب وم ـ چې لس ګامه به لاړم طاقت مې ځان کې نه ؤ ـ کښیبه ناستم ـ لږ شیبه پس به بیا روان شوم ـ هغه له لاسه نیولی ووم ـ په ډېر تکلیف سره مو ځان د مدیر صیب کور ته ورساوه ـ مدیر صیب چې زما حالت ولید ـ سمدستي کور ته ننوت ـ له څو دقیقو نه وروسته توده او ګرمه شیري راوړه ـ څۀ دوائي ، سنډ او ګرمانه یې پکې اچولي وو ـ راته وې ویل ـ دا شیري په قاشق توده ، توده وخوره او بیا بړستن په سر راکاږه ـ هماغسې مې وکړل ـ کله چې را پاڅیدم روغ رمټ وم ـ مدیر صیب ته مې د دوعا لپه پورته کړه ـ او له هغه نه مو د تلو اجازه واخسته ـ موږ دواړه مازدیګر لوړ ښوونځي ته را ورسیدو ـ ارام صیب را ته دستي ډاکټر راوغوښت ـ څه پیچکاري ګانې راته وکړې ـ د شپې مې ښه خوب وکړ ـ سبایي مې درد بیخي ورک شوی و ـ د څو ورځو لپاره رخصتي کور ته لاړم ـ د پیچ په ډیرو درو کې ارام صیب وګرځولم ـ ټول کلي او بانډې مې ولیدې ـ هغه وخت د پیچ سړک خامه او کنډې کپرې ؤ ـ په اونۍ کې به کوم جیپ موټر تر کنډۍ رسیده ـ ما به چې کله د پنجشنبې په ورځ د کور لیدو ته د تلو نیت وکړ ـ سهار وختي به مې چې روڼا په لا نه وه لګیدلې ـ حرکت وکړ ـ پخپلو پښو به د ماښام په خړه په کور وررننوتم ـ هغه وخت رښتیا چې په ټول ملک کې ارامه ارامي وه هیڅا

سره په هیڅ ځای د شپې او ورځې د ګرځیدو څه خطره نه وه.بې امنیتي او ددې سره نورې ورته خبرې هډو وې نه.
خو له کله نه چې پردی، ایډیالوجی، ملک ته راننوتې.تاسو ولیدل چې له هغه وخت تر نن پورې په دې غریب هیواد څومره ناخوالي تیرې شوې او لا روانې دي.

## دویم څپرکی

هاغه د خپل عادت له مخې غاړه تازه کړه۔ په زړه کې یې څۀ ور وګرزیدل۔ پخپل ځای ودرید ۔مخ یې راستون کړ وې ویل۔ انډیواله سبا ته خو بې له هغې پنجشنبه ده۔ دواړه به زموږ کلي ته ځوؤ۔ زه پوهـ شوم چې دی د خپلو بچیانو لیدو ته سبا نیت کړی دی ۔ما وې ته ولې زما له خاطره په ځان ظلم کوې۔ بچیان به دې درته سترګې په لار وي۔ خو ته هره اونۍ زما لپاره پاتې کېږې۔ سبا ته به برابر چې رخصت شوئ۔ کور ته به لاړ شئ۔ هغه بیا غاړه تازه کړه۔ وې ویل۔ هو ځم به خو تابه هم له ځان سره بیا یم۔ اخر مې ورسره د هغه کره د تلو سر وخوځاو ۔سبا ته چې څنګه ښوونځي رخصت شو ۔د نزدې کلیو ښوونکي د خپلو کورونو په لور وخوځیدل ۔د بیهسودو استاد هم پدغه ورځ نیت کړی ؤ چې بیهسودو ته لاړ شي۔ د ماسپښن ډوډۍ په سر هغه ډیر وار خطا ؤ ۔همدا یې ویلې۔ هله زر کوئ چې بیشانه ډیر مزل مو مخې ته پروت دی۔ د ماسپښین دوه بجې کیدې چې د چپې درې د علاقداری نه پخپلو پښو وخوځیدو ۔د خرپ مزل مو پیل کړو ۔په خبرو خبرو مو لاره وهله۔ د ګړندي مزل او تودې هوا له لاسه مو په تندي خولې روانې وې۔ ځای پر ځای به د تندې له لاسه د سیند یخې اوبه په لپو لپو څښلې۔ له څو کلیو چې واوښتو۔ د ارام صیب کلی مخې ته راغی۔ د دوه لارو په سر ودریدو ۔یوه لار د هغه کلي ته تللې وه او بله لار چې باچهي سرک ؤ ۔بیهسودو استاد پرې د تلو هڅه درلوده۔ هر څومره چې ده ورته ست وکړ هاغه به په وار خطایی بس همدا ویل۔ خیر یوسې۔ اجازه راکړه چې راباندې ناوخته نشي۔

ما وې انډیواله ځه په مخه دې ښه شه. ځان د موټرو ځای ته ورسوه. په روانیدو کې یې وویل. هو چې موټر ته ځان ورسوم. هغه له موږه بیل شو او سم په چټکو ګامونو یې لار وهله. موږ هم د ارام صیب کلي ته د کڅ په لاره روان شو. هغه راته د سین دواړو غاړو ته لوی او واړه کلي راښودل. په لاره مې هرې خوا ته پدې کتل چې هره دره ، شیله او بانډې په غرونو کې ښکاریدې. دومره په زړه پورې چې هیڅ سترګې مې ترې نه اوښتې. اخر هغه راته کړو. ته څنګه او تر او تر ګورې پښه نیولی روان یې. ما ې انډیواله دا هره تړه او هره ونه د لیدو ده. خیر دی سیل به هم کوو او لاره به هم وهو. هغه وویل رښتیا چې زموږ ددې درو او سردرو ښکلاګانې له کشمیره کمې نه دي. بلې جمعې ته دې مورچل او دیګل درې ته بیا یم. د څاریګل په دره به هم راتاؤ شو. یو ځل چې هغه ښکلاګانې هم اوګورې بیا به دې لا باور وشي. په ګپ شپ او خبروکې د هاغه کلي ته ورسیدو. کتل مې چې کلی د د سیند په غاړه د شنه کڅ مخې ته پروت ؤ.

موږ د کلي دوستل تر څنګه په اوږده کوڅه د هغه کور ته ورتاؤ شو. کور یې د کلي منځ کې ؤ. حجرې ته ورننوتو. په حجره کې کټونه پراته وو. یوه کټ ته کښیناستم. هغه راته دوه بالښتونه کیښودل. وې ویل زه یو ځل دننه ورځم بیرته راځم. ما وې سمه ده. ورځه د حجرې کړکۍ بیرته پرته وه. ما چې له کړکۍ نه بهر ته وکاته. کلي ته نزدې یوه بزګر د پټي کنۍ وهله. وړاندې په شنو پټو کې ښځو واښه کول. د کټ له بازو نه مې خپل سر ټیټ کړ په کړکۍ کې مې د غره د سر سپینې واورې تر سترګو شوې. تور ځنګل او د نښترو جګې ونې ښکاریدې. زه لا د هغې په تماشا وم چې غاړه تازه شوه. پتنوس پلاس ارام صیب راننوت. پتنوس یې کیښود. وې ویل انډیواله قید نشئ دا زموږ کور د کلي په منځ کې دی. د سړي پکې ساه خپه کیږي. له چایو نه وروسته به په چکر اوځو.

ما وې ته خو دا خبره کړې ـ ولې د پېچ دري،د هر کلي موقعیت دا طبیعي ښکلاګانې دومره په زړه پورې دي چې هیڅ حد نه لري ـ زما خو دا ستاسې کلی او په تېره بیا د ټولې دري کلی ډېر خوښېږي ـ هاغه راته د چاې پیاله په میز کېښوده ـ په دې کې یو جګ ، چارشانه مونجې ږیره سور او سپین سړی راننوت ـ لومړی یې سلام وا چاوه ـ ارام صیب له ځایه سپک پورته شو زه هم جګ شوم هغه وویل دا مې پلار دی ـ هاغه راترغاړې وت ستړي مشي یې راسره په ورین تندي وکړه ـ زه یې ورته ورپېژندلم ـ له روغبړ نه یې وروسته په کټ کې بالښت ته تکیه ووهله ـ د چاې پیاله یې پورته کړه ـ لاګوټ یې ترې نه ؤ کړی وې ویل تاسو دواړه یو ځاې او سیږئ ؟ هاغه ورته وویل هو پلاره موږ څو تنه ښوونکي په یوه کوټه کې اوسیږو ـ خو ما چې تاته کله کله یادوۀ ـ هغه دا دی ـ پلار یې وویل ډېر ښه ماته یې مخ راواړو ـ وې ویل ستاسې کور و کلی ؟ما یې زر په ځواب کې وویل ـ کاکاجانه زه هم ددې کونړ یم ـ ارام صیب زما نه خبره ونیوه وې ویل ـ پلار جانه ما خو درته د دوي ځای درښودلی ؤ ـ د هاغه فکر شو ـ په جګ اواز یې وویل هو ،هو تا راته ویلي وو ـ فکر مې شو ـ رایاد شو ـ رښتیا معلم صیب ستاسې پلو خو د خلکو مځکې زیاتې دي ـ مګر زموږ په پېچ کې هر سړی څو ګیډې پټې ته ناست دي ـ دلته بل کار و کسب نشته ـ یوازې داکرکیله او مالداري ده ـ د خلکو ژوند خراب دی ـ د چاې پیاله یې وڅښله ـ بیا یې جیب ته لاس تیر کړ ـ د نسوارو دبلی یې راویوست ـ ټونګه نسوار یې واچول ـ یوه شیبه چوپ کښیناست ـ بیا یې هغه ته داسې ویل ـ بچی زه د بهادر خان دوي کلي ته ځمه ـ ځواب یې رالیږلی دی ـ د چا سره یې د خپلوئ خبره ده ـ دا میلمه درنه خفه نشي ـ هغه وویل موږ هم چکر ته ځو ـ هغه له حجرې نه ووت او لاړ ـ مونږ دواړه هم په چکر ووتو ـ په وستل وربرابر شو ـ

هوا ګرمه وه هر چا ځان د ونو سیورو ته رساوه ـ وستل ته چې ورنژدې شو ـد توتانو ونو لاندې د وستل په تیګو او دالانه کې ډیری خلک پنډ وو ـ لا وستل ته رسیدلي نه وو ـ چې په وستل کې ناست خلک پخپلو ځایونو ودریدل ـ ټولو د سیند پورې سرک ته کتل ـ زما ملګری راته کړو ـ خیر کړي پورې د پله په سر موټر ودریدو ـ څۀ چل به شوی وي ـ زموږ د کلي ډیری کسان بهر ښارونو کې دي ـ کتل مې چې هغه هم لږ وار خطا غوندې شو ـ وړاندې په پټیو کې هم ځینو کسانو منډې وهلې د کلي نه لوی وړو ښځو منډې جوړې کړې وې ـ هر چا تر موټره ځان رسولو ـ موږ دواړه د وستل تر څنګه ودریدو ـ له سینده پورې د پله په سر مو موټر څاره ـ د کلي ډیري کسان له موټره راتاؤ شوي وو ـ پدې کې یو تن دهقان پداسې حال کې چې د قلبې غوایان یې په مخکې وو جغ او چوکه ورسره وه ـ په خولو کې یې جامې لمدې ښکاریدې ـ ویې ویل ـ الله دې خیر کړي له موټر نه کلیوال بیا تاؤ شوي دي ـ څوک مړه نه وي ـ
بس هر چا سره همداسې ورته پوښتنې په زړه کې پیدا وې ـ لږه شیبه وروسته څه کسان ، ښځې او ماشومان له پله نه راپورې وتل ـ ټول ورته حیران پاتې وو ـ چې دا څۀ پېښه ده ـ کله چې هغوی کلي ته ښۀ رانژدې شول ـ په وستل کې دوه تنو غبرګ وویل دا خو د سامدل زوی دی ـ موږ حیران شو چې د سامدل زوی ولې ؟ څنګه چې موږ ته رانژدې شو او د کلي په کوڅه ورسم شو ـ عسکري دریشې یې اغوستې وه ـ په اوږه یې د ،، V ،، علامه وه ـ زما څنګ ته ارام صیب ولاړ وو ـ غاړه یې تازه کړه ـ وې ویل ـ موږ حیران شو چې څه چل وشو ـ دا د سپیره زوی خورد ظابط شوی دی ـ ټول کلی ئې وخوځاوه ـ د وستل خلک پخپلو ځایونو کښیناستل ـ یوه تن وویل ته یې څۀ کوې ـ تنخوا خورې ـ موږ ته خو ، خورد ظابطې غټه خبره ده ـ یوه بل تن چې ځوانۀ په جګ اواز یې وویل ـ اوس خو د پیچ په هر کلي کې لوی لوی افسران شته ـ ما مورین او معلمان شته دی ـ اوس

خو هغه پخوانی وخت نه دی .د ونې ډډ ته په یوه پلنه تیګه یو د پاخه عمر سړی ناست وو .د چیلم په سری یې تیلی وواهه. په خوټ خوټ یې چیلم راښکه. لوګی یې په خوله او پوزه راووت. سترګې یې هم غرکې غرکې سرې شوې .وې ویل وروره دا ناست کسان چې ګوري دا ټول بې کاره بې کسبه او بې کماله دي. کرۍ ورځ پدې وستل کې ناست وي. بس خالي ټوکې او دوړې وايي. چیلمونه څکوي او د وستل دا تیګې یې په نسوارو ولړلې.

دا زموږ روزګار دی. ده یې خبره ونیوه. ویې ویل ته ښه وايې مګر د خلکو بې کاري ، بې سوادي او داسې نورې ددې ملک وروسته والی ، ددې شاهي نظام ګناه او ملامتیا ده. مطلقه باچهي ده. د ژوند په ټولو چارو کې ټپه تیاره ده. یوازې د واکمن رژیم مزې دي. نور خو د ګرد ملت ستړه ووته. لازم دي چې ټول خلک سره په یو اتفاق لاسونه سره ورکړي. زاړه او فاسد رژیم په ضد مبارزه وکړي. دده خبرې د وستل خلکو ته نوې وې. په زیاتو ښې ولګیدې. یوه تن وویل معلم صیب ستا خبرې ډیرې ښې دي. خو کاشکې چې ټول خلک پوهـ شي .هغه ته مې کړو ما وې راځه چې سیند غاړې ته لاړ شو .له خلکو نه یې اجازت وغوښت د شنو پټیو منځ کې سیند غاړې ته وخوځیدو .سیند په مستۍ او شور سره روان وو .موږ په شنه جولګه سیوري ته کښیناستو .د سیند له اوبو یخه څپه راپورته کیده .د ونې سیوري هم یخ او دروند وو .لومړی مو په اوبو کې مخ او لاس پرینمځل .بیا مو په هغه شته جولګه څادرې وغوړولې او کښیناستو .ما له هغه نه د پیچ د خلکو او د نویو سیاسي ایډیالوجیو د راتګ په هکله ترې اوپوښتلې. هغه داسې وویل: دلته په پیچ دره کې ټول عوام خلک په دین او مذهب ولاړ دي .یوازې د ګوتو په شمیر متعلمین ، مامورین او افسران د نویو سیاسي ډلو ټپلو سره سر خوځوي هغه هم دلته یوازې د خلق دموکراتیک ګوند لارویان شته دي دویم د

اخوانیانو ډله هم پوره فعاله ده .د ننګلام مولوي حسین شعوري د اخوانیانو په روزنه او تربیې کې پوره فعالیت کوي او هغه د جمعې په ورځ په منبر باندې د حکومت او خلقیانو په ضد وعظ کوي .د پیچ ټول خلک یې د خپل تاثیر لاندې راوستي دي.او غواړي چې په ننګلام کې یوه دیني مدرسه جوړه کړي .د لویې مدرسې د ودانۍ دیوالونه یې رسولي دي .ما وې هو ستا خبره ټیک ده .ما یې له نزدې نه خبرې اوریدلي دي.لوی عالم دی.د بل هر چا نه یې خبره ښه تاثیر کولی شي. هغه هم د تائید سر وخوځاوه .ویې ویل انډیواله په ټول کونړ کې په دې دره مذهبي زور ډیر دی.ما وې دا راته ووایه چې په دې ستاسو کلي کې افسران او ښوونکیو شمیر به څو وي ؟ هغه د خپلې غاړې تازه کولو سره سم وویل په دې کلي کې دوه لومړی برید منان ، څلور پینځه واړه طاظان ، دوه تنه ښوونکي دي.د دولسم ټولګي متعلمین پکې ډیر دي.د غسې په هر کلي کې تعلیم والا کسان شته دی.پلار مې کله کله وایی .پخوا وختونو کې به چې چا کوم لیک چاته لیږلو.ماښوګي ته به ولاړ.په کوم مامور به ئې خط ولیکلو.په دې کلیو کې میرزا نه پیدا کیده.یوازې به د کلي په جومات کې ملا امام د کلي ماشومانو ته د قرآن شریف او خلاصې سبق ویلو .په ټول پیچ کې یوازې د لیچه لام ابتدائي ښوونځي او بیا د ماښوګي او ننګلام ښوونځي جوړ شو .تر شپږم ټولګي پورې زده کړه کیده.یو نیم هلک به تصادفي په ډیرو واسطو سره په کوم ملکي یا عسکري لیسه کې شامل شو.اوس خو ورځ په ورځ معارف ترقي کړې. انجونې او هلکان په هر ځای کې په زده کړه بوخت دي.او بله دا چې اوس خلک د زده کړې او تعلیم سره زیاته علاقه لري.ما یې ټوله ومنله خو د یوه نکل په رایادیدو سره خندا راغله.هغه په شک کې شو.وې ویل. څنګ دې وخندل ؟ ماته د پیچ د خلکو پخوانی نکل رایاد شو.

ما وې خپه نشې اشنا د پیچ د خلکو یو نکل مې اوریدلی دی .پخوا بیستو چار(۲۴) کې او که له هغې نه هم وړاندې ستا یې په لښکر مخ ښکته وتلي وو .تروټه پورې چې رسیدلي وو .په چور او تالان یې لاس پورې کړی ؤ .هر څۀ به چې لاس ته ورغلل پیچ ته ئې رارسول.یوه تن چې په مټ ښه غښتلی ؤ .بیاسته یې تر ملا وه .په یو کور وننوتی ؤ.له یوه وړوکي کندو نه یې بیاسته چاپیر کړې وه .فکر یې دا ؤ ګني چې د وړو ډک دي چې تر کوره یې ورسوم.دروند کندو یې پشا کړی ؤ .خدازده چې په څومره تکلیف به یې رسولی وي.خو چې کله کور ته رسیدلی ؤ .ستړی ستومانه ؤ .کټ ته یې تکیه وهلې وه .میرمن یې ترې پوښتنه کړې وه . سړیه څۀ دې راوړي دي ؟ هغه چې ډېر ساؤ تیګاؤ ، ویلي ؤ .ښځې غړ مکړه وژلی یې یم.وړه دي جو کتلي مې نۀ دي چې د جوارو دي او که د غنمو .ته خو یې اوګوره.ښځې یې لګن راخیستی چې وړوه د کندو له موري نه راتوي کړي.بسم الله یې ویلې وه .د کند موری یې چې را ایله کړې وه.ایرې ترې راتوې شوې وې.

په دې خبره هغه په کټ ، کټ وخندل.د خندا په حالت کې یې وویل.دا زموږ پیچوال هم ډېر کم عقل دي.بیا مې ورته وویل انډیواله یوه بله مې خولې ته راغله .د شوریک مغدود (ساپي) چې کوم شعر په ساپو پورې ویلې دی.تابه اوریدلی وي.هغه وویل.نه هغه څنګه ؟ هغه خو داسې چې .پخوا د پیچ خلکو سپوږمۍ ته دام ایښی ؤ .ټولو دا ویلې چې د خدای پاک لور ده په دام کې یې نیسو .مالګه یې کرلې وه .چې ګني راشنه به شي او تر عمره به یې د اخیستلو نه بې غمه شو .همدغسې نورې ورپسې خلک وائي.

هغه راته شین د خندا اوښتی ؤ.ویلې راځه چې ځو بس دی.د کور په نیت له ځایه پاځیدو .لمر په غړغړه ؤ .د کڅ په نرۍ باره په ورو ګامونو روان شو .ما چې د پیچ د ساپو میمله پالنه په ښتني کولتور ولاړ ، د اتفاق او

یو والي ځوا کمنتیاله پخوا نه لیدلې وه . هغه ته مې وویل . ما چې د افغانستان د خلکو بیلې ، بیلې پرګنې د خپلې دندې د اجراء په لړ کې لیدلې کتلې دي . یو تر بله خورا توپیر لري . په ځانګړې ډول پښتانه چې د قبیلوي سیستم په ځاړه ( زاړه ) جال کې دا سې نښتي دي . چې د ژوند انه د نویو ترقي پسندو او د بشري هځو او پرمختګ نه ګوښې بې خبره پاتې دي . یوازې د علم و معارف لاره د دې خلکو لپاره د کامیابۍ وسیله کیدی شي او بس . په خبرو ، خبرو کې د هغوي ترکوره ورسیدو .
له څۀ مودې وروسته له پیچ نه راووتم . په یو سفر بهر ملک ته لاړم . له ډیرې مودې تیرولو نه وروسته مې خپل وطن ته د راتلو نیت وکړ . په سفر کې مې له ځان سره فیصله وکړه چې په ایران به ورتاویږم او د هغې ملک ځینې ښارونه به له نزدې نه د موټر په سورلۍ کې اوګورم . هماغۀ چې دا بادان په هوائي ډګر کې ښکته شوم . د سرطان د میاشتې لومړۍ اونۍ وه . هوا ډېره توده وه . له هوائي ډګره چې راووتم نیمه شپه وه . یوه رستورانت ته لاړم . هلته مې ارام وکړ . سبایي وختي مې د اصفهان په ګاډي کې ټکټ واخیست . لا لمر نه ؤ راختلی چې سرویس روان شو . په لاره مخې ته ځینې وړوکي ښارونه او کلي راتلل . غرونه او ځنګلونه هم لیدل کیده . ماښام خړه لګیده چې د اصفهان ښکلي ښار ته ورسیدو . له نورو مسافرو سره زۀ هم له ګاډي نه ښکته شوم . بکس مې تر څنګ او یو پنج صدو سي ټایپ مې پلاس کې ونیو . روان شوم . یو ځای ته ورغلم چې کتل مې لاندې سیند بهیده . او د سیند پغاړه په یوه رستورانت کې ډیرۍ خلک ناست وو . زۀ هم وروګرځیدم . په یوه څوکۍ میز ته کښیناستم . رستورانت د ښځو او نرو ډک ؤ . شاو خوا د ونو ځنګل او په یو اړخ کې د اوبو فواره او رنګ په رنګ ګلونه وو . ډیره په زړه پورې منظره وه . دومره مې خوښه شوه چې ان تر سهاره ورته ناست ووم . سباي وختي وروسته له چاې نه مې د تهران د موټرو تم ځای وموند . یوه ښکلی نوی سرویس کې

مې ځای ونیو . په څو دقیقو کې ګاډی ډک شو . او د تهران په لور یې حرکت وکړ . ډیرې اوږدې لارې دي . خو ماته هر څۀ نوي وو . رښتیا هم چې څومره ایران ښکلی دی . هغومره یې هر ښار، کلی او کروندنې ښکلې دي . تهران ته نیمه شپه راورسیدو . د تهران هوا هم ګرمه وه . په یوه مساپرخانه کې مې شپه تیره کړه . له سبایي تشناب کولو نه وروسته بازار ته ووتلم یوه هوټل کې مې سباناری وکړو . د مشهد د موټرو هډې پوښتنه مې وکړه . له هوټله لوټکي لیری ؤ . په ټکسي کې تر هغه ځای لاړم . لمر وړانګې خپرې کړې وې چې د مشهد په ګاډي کې کښیناستم . په تهران کې د یوه غره په سر کوم زیارت دی او هلته یوه چینه هم ده . موټر ورته ودرید . هر چا په هغه چینه کې په لپو ، لپو اوبه وڅښلې . ما هم دوه درې لپې اوبه وڅښلې . لپه نیمه مې مخ ته هم وارتله . د هغې چینې د اوبو خوند او یخوالی مې بیا په نوم چینه کې لا نه وی لیدلی . له هغه ځای نه موټر حرکت پیل کړو . په ښارونو او غرونو راتیریده تر څو چې دما زنده ران په ځنګل او کروندو موټر ورګډ شو . ډیرې وطنې مې لیدلي دي . خو د ما زنده دان دښتې او د شولو پراخې کروندې مې اوس هم له یاده نه اوځي له تهرانه تر مشهده زښته اوږده لاره ده . د مازنده دان په کروندو کې موټر ټوله شپه ځغلیده . یوه ورځ او یوه شپه یې لار ووهله . د سهار په لمر راختو سره مشهد ته ورسیدو . په مشهد کې مې د زیارت لیدو نه وروسته د افغانستان او ایران سرحدي ښار ته یوه بس موټر کې لاړم . په سرحد کې څنګه چې د ایران سرحدي پولیسو له تلاشي نه تیر شوم . افغاني پولیسو رانه پاسپورټ واخیست . او زه بیا د اسلام کلا نه هرات ښار ته لاړم . په دغه وخت کې پخواني داود خان رژیم نسکور شوی ؤ . په ځای یې خلقي دولت منځ ته راغلی ؤ . هره خوا سره بیرغونه رپیدل . د نوې رژیم نوې ډمامې غږیدلې . په یوه هوټل کې مې شپه تیره کړه . سبایي وختي د کابل په سي صدو دوکې کښیناستم . غرمه مو کندهار ته

ورسوله. په کندهار کې هم ټول ښار په سرو بیرغونو ډک ؤ. د قندهار د ګرمۍ څپو ووهلو. له ښاره تیر شو. د زابل پلو سړک باندې موټر په بیړه روان ؤ. مازدیګر لوړ کابل ته ورسیدو. کابل هغه پخوانی کابل نهٔ ؤ. د ښار په ځینو چهار راهیو کې ، ټانکونه ولاړ ؤ. د کابل رنګ سور اوښتی ؤ.

په ټکسي موټر کې لوړ مازدیګر ؤ چې کور ته ورسیدم. د کور غړي مې په ورتلو ډېر خوشاله شول. نزدې خپلوان او دوستان په لومړیو ورځو کې زما ستړي مشي ته په مینه راغلل. ټول خو په دې خوښ ښکاریدل چې په هیواد کې نوی رژیم راغلی ؤ. هر چا به د انقلاب خبرې کولې. کودتا چا نه یادوله. بس همدا د ثور اومي د الوتکو د بمبارۍ او د اسلم وطن جار د ټانک ، خانه خلق ( د خلکو کور ) خبرې کیدلې. د خلق دموکراتیک ګوند غړي د خوشالۍ نه په جامو کې نه ځائیدل. هر یو چې به مې لیده داسې ښکاریه . چې ته وا د ګرد ملک اختیار دده سره دی. د سرو بیرغونو سره د انقلابي حالت سره بې ستړګې سرې شوې وې. له ځینو سره بیخي خبرې نه کېدې. سیاسي واک هم عجیبه شی دی. ټولنیزو ، بنیادي بدلونونو او اوښتونو سره بنیادم بدلیږي. کرکټرونه اوړي راوړي .

ددغه وخت په دسنیو ، راډیو او تلویزیون کې د حکومت له خوا د وطن او خلکو لپاره ښې خبرې کیدې. ډیرۍ خلک په تمه وو ګڼې چې نوي رژیم به ورته یو څه ورکوي. نو ځکه خو د ښارونو خلک خوښ ښکاریدل. هره ورځ به میټنګونه او مارشونه کیدل. تر اوه اته میاشتو پورې د دولت ماشین ښه چلیده. ددې لپاره چې د هغه وخت حالاتو ته ګوته ونیول شي. د داستان اصلي پیښو او عوامل ، ځای او وخت د ستړګو لیدلی حال رانه کرکټرونه څنګه راپیدا شول ؟

د رژیم د سرو سترګو نه اولس سخت ډارېده . هر څوک هرې خوا ته ، تیت و پرک شول. هر چا او هر ګوند د رژیم په ضد راواخیسته. له بل پلوه سور لاس هم را اوږد شو. او ورسره جوخت د خلکو حساسیت راوپارید . له همدغه شیبو نه داستان پیلیږي.

## دریم څپرکی

زۀ چې کوټې ته ورننوتم ـ هغوي چوپ شول ـ ارام صیب وروسته له ډیرې مودې نه پما سترګې ولګیدې ـ له ځایه سپک راپاڅید ـ په داسې حال کې چې رنګ یې زیړ اوښتی ؤ ـ د جګړنې دریشي یې اغوستې وه ـ راغاړې وت ـ ښه شیبه مو یو بل په غیږ کې ونیول ـ ورپسې هغو درې نورو چې یو تن پکې له کلي نه راغلی زلمی ښکاریده ـ دوه تنه نور هم ناست افسران وو ـ هغوي زه پیژندلم ـ هر یوه راسره ښه د زړه په مینه روغبړ او احوال پرستي وکړه ـ ما هغه ځوان ته ور وکتل ـ ارام صیب وویل دا زما خپلوان دي ـ له کلي نه پرون راغلي دي ـ په زړه کې مې تیر شول ـ ( ښه شوه دې ځوان به راته د پیچ او کونړ نه ډیر څۀ راوړي وي ) بیا مې هغه ته پام وکړ ـ هغه پخوانی ارام نه وو ـ د غاړې تازه کولو عادت یې لا نه و پریښی ـ مګر هغه رنګ او دړه یې نه وه ـ شونډې یې وچې ، ډنګر بدن ، بیخي خپه ستومانه ، په څوکۍ ناست ؤ ـ ما وې ( دا خو هغه سړی نه دی پاتې شوی، نه پوهیږم چې څه پرې راغلي دي ) هغه یو تن افسر وویل ته دې هغه نیمګړې خبره سرته اورسوه ـ ما ته یې راوکاته ـ وې ویل ستا په اجازه ده یوه خبره رانیولې وه ـ نیمګړې پاتې شوه ـ وروسته به نور ګړیږو ـ ما ویل ولې نه ـ زۀ به یې هم واورم ـ هغه وویل خبره مې د خپلې ولسوالۍ راخیستې وه ـ زموږ سره یو ځای پخوا معلم ؤ ـ ډیر ښه سړی ؤ هر چا سره یې ډیره ښه ګذاره کوله ـ هغه به خپله ویل ـ موږ د فراجغان په ولسوالۍ کې میسګران یو ـ خو کله چې انقلاب وشو هغه بیا میسګر پاتې نشو ـ زموږ په ځای کې ولسوال شو داسې کارونه یې وکړل چې ټول خلک یې غره ته وخیژول ـ دده په خبره هغه بل افسر هم خپل سر خوځاوه ـ زړه یې د

دغسې خبرو ډک ؤ ـ خو دده خبرو ته يې غوږ ایښی ؤ۔ او په دې تلوسه کې ؤ چې کله به د خبرو وار ورځي ـ ده ویلې ښه ، هغه پخپلو خبرو کې لږ څه جدي شو ـ وې ویل ـ غره ته يې په دې وخيژول چې زموږ په ولسوالۍ کې خان او فيوډال له کومه وه ـ یو تن حيدر خان نوميده د کليو د نورو بزګرانو نه يې کم سل منه غله دانه زياته کيده ـ یو درونډ او ښه مهربانه سپين ږيری ؤ ـ په ټولو کليو کې هر چا ته ګران ؤ ـ هغه يې راونيو کور يې ورته تلاشي کړ ـ ولسوالۍ کې يې څو ورځې بندي کړ ـ بس وچ په وچه يې ورته ويلې چې ته فيوډال يې ـ موږ فيوډالان نه پريږدو اخر يې لاس تړلی مرکز ته ولیږه چې تر اوسه يې مړی ژوندی ورک دی ـ د هاغه د نیولو او بندي کولو سره سم د کلي خلکو کډې پورته کړې ، د مودو ، مودو د کليو امامان يې وتښتول ـ ارام صيب غلی او چپ ناست ؤ ـ هغه بل افسر د خبرو وار ونيو وې ويل دغه خو عادي کار دي ـ زموږ په ځای کې د ولايت واکمنو څو تنه لومړي ووژل ـ بيا يې سيند ته وغورزول ـ ځينې کسانو نه يې چې مځکه څه نا څه زياته وه ـ د مځکو د اصلاحاتو په ټس کې ترې په زور واخيسته ـ هغه کډه وکړه ـ د هغه د کډې سره ډيرې کډې وخوځيدې ـ کسم دی چې له موږه خرابه ده ـ

دا يې وويل يوه شيبه غلی ؤ ـ بيا يې ناڅاپه وويل ـ زموږ په ولسوالۍ کې هم ناوړه کارونه وشول ـ او دا ټول پخپله همدغه د حکومت واکمنو کسانو کول ـ د ننګلام کلی يې چې وسیزه مرګ او ژوبله پيل شوه ـ خلک مجبور شول چې غرونو ته پورته شول او د جهاد چيغه يې پورته کړه ـ خو کله چې روسان راغلل د ټولو کليو نه کډې پاڅيدې ـ پاکستان ته واوښتې ـ د روسيانو ټانکونه تر کنډو ورسيدل ـ د ټول پيچ خلک له پاکستان نه د وسلې سره راتلل او په روسانو يې حملې کولې څو ځلې د پيچ په سړک خوني جنګونه شوي دي ـ د دولت او روسانو کتارونه ووهل شول ـ دا يو ځل نه ؤ ـ بلکې څو ځلې دغسې خونړي جنګونه وشول ـ کوم

وخت چې ځينې کلي له دولتي ولکې نه ازاديدل او هلته به د کوم خلقي د کورنۍ غړي پاتې کيدل .مجاهدو سمدستي له منځه وړل .که به د خلقيانو سره په لاره تللی ؤ هم تـرې ژوندي نشـو پاتې کيداى .د مجاهدينو امريتونه جوړ شول .له کليو نه هيڅوک د حکومت په لور نشواى راتلاى.مجاهدينو هم داسې نادودي وکړې.چې د ټولو پښتنو او مسلمانانو نوم يې بد کړو .ما يې په خبرو کې وروداننګل .ما وې انديواله ته ودره.چې دا له کلي راغلی زلمی څۀ ووائي ؟
هغوي راته وويل.هو سمه ده.موږ به هم دده خبرې واورو .هاغه لومړی ارام صيب ته وکتل.هغه پوهـ شو چې دې له ما اجازه غواړي.ورته ويې ويل .دوي ته څه چې دې ليدلي ووايه هغه پخپله ځوکۍ ځان خبرو ته برابر کړ.ويې ويل صيب زه به هر څه چې مې مخکې تير شوي دي ووايم.ما پخوا غوښتل چې کابل ته راشم د کانکور ازموينه ورکړم.خو هلته شرايط ګډ وډ شو .د راوتلو چاره مې نه کيده.همداسې تر اوسه پورې پاتې شوم.کله چې دا نوی حکومت جوړ شو .زموږ د ټولو کليو ، خلکو يې ملاتړ کاوه.باور وکه چې په هر کلي او بانډه کې سره بيرغونه رپيدله.
لږه موده نه وه تيره شوې چې يو بل شان حالت منځ ته راغی .هغه خبرې چې له دې حکومت نه مخکې خلقيانو کولې بل ډول شوې .ګونديانو او سازمانيانو د اب و حيا خلک بې حيا کړل.نيول رانيول ، بنديانول پيل شول .د کليو د مشرانو او عالمانو سپکاوی کيده .دې ځينو خلقيانو خلک پاڅول.که د کوم خلقي ښځه يا د کور ماشومان په کلي کې پاتې شوي وو .په هغوي د راوتلو بنديز لګيدلی ؤ.ضمانتونه ترې اخيستل شوي وو.چې په دغه ټس کې د ارام لالا واړه هم وو.
ددې خبرې په اوريدو سره هغه موږ ته مخ راواړو .پداسې حال کې چې شونډې يې وچې وې.رنګ يې لکه د زعفران زيړ اوښتي ؤ.ويې ويل په هيچا داسې ندي شوي لکه پما چې وشول.دا خبره يې په ستوني کې

ونښته.غاړه يې تازه کړه. شونډې يې وړپيدې.زه پوهـ شوم چې کومه پېښه شوې ده. ما ورته دستي وويل. ولې ؟ څه پېښه شوې ده ؟ يو بل ته مې وکاته. ټول غلي او چپ پاتې شول.د پېښې نه هغه دوې تنه افسران خبر شوي وو. يوازې زه ترې نه وم خبر. بيا مې او پوښتل. څه چل شوى ماته کيسه وکړئ. هغوي بيا هم څه ونه ويل. زه لا پسې جدي او توند شوم .ولې نه وايا ست ؟ څه پېښ شوي دي. ؟

په غلي او ټيټ اواز ، يوه دومره وويل. څه چې شوي د ويلو نه دي. او مې ليدل چې د ارام له له سترګو اوښکې رواني وې. زه بې صبره شوم. ولې راته نه وايې. زه بايد خبر شم. اخر څه شوي دي ؟

هغه يوه افسر ساعت ته وکتل وې ويل موږ دواړه درنه اجازت غواړو . ارام صيب ته راښکاره شوي وو. اوس ځو. چې کارونه مو په مخکې پراته دي. هغوي لاړل. موږ درې واړه پاتې شو. پدې وخت کې يوه عسکر چاې راوړو. له چاې نه مو لا ګوټ نه ؤ کړى. بيا مې هغه ته مخ واړو. ورته او مې ويل. زما خو له تا سره وروري ده. له ما يې څنګه پټوې. اخر څه پېښ شوي دي؟ هغه د خپل عادت له مخې غاړه تازه کړه. وې ويل. موږ او تاسو چې پدې ګوند کې دا دومره هلې ځلې کولې. ددې لپاره ګني چې که کوم بنيادي تغير پدې ټولنه کې رامنځ ته شي. او ددې غريب ملک او خلکو لپاره په ټينګ صداقت سره خدمت وشي. خپل کور و کلى ، بچي مو پرېښي وو . ددې دولت او ګوند لپاره ، چې د ملګرو د انتقاد لاندې رانشو . خو خلقيانو داسې کارونه وکړل چې خپل خلک يې راته دښمنان کړل. دوي خو اوس خپلې مزې کوي. زما غوندې کسانو پکې هر څه له لاسه ورکړل. اوس نو زما په دې ژوند څۀ ؟ اوس که راته دا ټوله دنيا سره زر شي څه يې کوم . ددې خبرې سره يې ستونى راډک شو نورې خبرې يې په ستوني کې پاتې شوې. په هغه مې نور کار ونه لاره. د کلي نه راغلي ځوان ته مې وويل. وراره ته خو به خبر يې ؟ که راته ووايې ؟ هغه سترګې

د ارام په لور وروا ړولې. هغه پداسې حال کې چې ژړل یې. په ژړغوني غږ یې وویل هلکه ټوله کیسه ورته وکړه. هغه کیسې ته ځان سازه وه. ما وې دی به دلته پریږدو ما او تا به هلته په چمن کې کښینو. ټوله تیره شوې کیسه به راته وکړې. هاغه ته مې وویل. ارام صیب ته دا چاې وخښه چې سړیږي زه او دا زلمی به هلته کښینو. چې ماته اصلي پیښه بیان کړي. هغه یو ازې سر وخوځاوه. له خپګانه یې له ستوني نه اواز نه راخوت. زه د هغه خپګان وچ کلک کړی ووم. تلوسه مې وه مال چې اوس راته میلمه زر کیسه راواخلي. د هغه د کار له کوټې نه بهر په چمن کې له یوې ونې سیوري ته کښیناستو. نور په ما کې هم صبر ختم شوی ؤ. ما وې ښه وراره غوږ مې دی. هغه شا و خوا له سترګو را لاندې کړه. خپل څادر یې د کوناټې لاندې کړ. په خبرو یې داسې پیل وکړ. صیب ښه دې وکړل. چې دلته رابیل شو. د هغه په مخکې ددې خبرو کول راته ښه نه ښکاریدل او نه ما سره دا جرأت وه چې د هغه په مخکې مې کیسه درته کړې واې. خبره داسې ده چې تاته به ددې پته نه وه چې دده میرمن هلته په کلي کې بنده پاتې شوې وه. کله چې د پیچ درې نه روسان او حکومت نظامي قوتونه د ولایت مرکز اسعد اباد ته راووتل. د پیچ درې ولو تنګي کې عمومي امریت جوړ شوی ؤ. همدا شان نور واړه، واړه امریتونه په هر کلي او محله کې د ټوپکیانو د ښه تنظیم او د خلکو تر منځ کنټرول لپاره جوړ شول. هیچا ته دا اجازه نه وه چې بې له امریت د اجازې نه حتّٰی له خپل کلي نه اوځي. او که چا به سرغړونه وکړه. هغه ته به کلکه سزا ورکول کیده. همدغه شان څو ځلې دده میرمن او بچیان یې له نیمایي لارې نه ګرځولي وو. څو کاله وروست یې چې د بیا راوتلو نیت کړی ؤ. د هغوي د تیرې پیښې ټوله کیسه دده د میرمنې له خولې داسې پیل کیږي.

## څلورم څپرکی

یوه ورځ د خپل کور په انګڼ کې د کټ لنګې ته لاس تر زنې فکر وړې ووم .( ډیره موده تیره شوه چې دا لعنتي جګړه روانه ده .د وړو د پلار هم کوم احوال نه راځي .مړ به یې که ژوندی به یې ؟ دلته نه مکتب شته نه د جومات سبق ، ملایان هم تښتیدلي دي .بچي مې بې زده کړې پاتې شول . چې دا به کوم سرته رسیږي ؟ ) په دې کې مې خوابښې راغله .د کټ په بازو راته کښیناسته وې ویل .لورې ولې ؟ څنګه لاس تر زنې فکر وړې یې ؟

ما وې بابې ، هسې دې ستا لمسیانو ته سوچ یوړم .خواران بې تعلیمه پاتې شول .د سبق وخت یې دی .خو حالاتو ترې هر څه واخیستل .هغې خپل پړونی په سره ساز کړ .وې ویل .د ظالمانو دې کور وران شي .چې تاسو ته د وتلو او کابل ته د تللو اجازه نه درکوي .وطن اور اخیستی دی .نه مې بچي راتلای شي او نه دوي ته د تلو امر ورکوي .لاس یې پاس ته ونیول .یا الله زما په زوی ورحمیږې .یا الله ته خو دا ماشومان یې ورسره یو ځای کړې .د بوډۍ په مخ اوښکې راماتې شوې ما هم ورسره وژول .د کور په دروازه کې خسر کاکا مې په بیړه او ساه نیولی راننوت .له وراندې یې خپلې میرمنې ته غږ کړ وې ویل ښځې هله زر کوه .پیسې راواخله ، خوابښې او زه دواړه سپکې له کټه پاڅیدو .هغه زموږ خوا ته راغی وار خطا ښکاریده .خوابښې ترې پوښتنه وکړه .خیر خو دی څنګه بې واره ښکارې ؟ هغه لومړی ما ته راوکاته بیا یې ښځې ته وویل نقیب تروررزي یې د خیوې له جګړې نه راوړو .دوه تنه ورسره د کلي ځوانان نور هم شهیدان شوي دي .خوابښې په چالاکۍ سره کوټې ته ننوته .پیسې یې

راوړې او هغه ته یې ورکړې. پیسې یې لومړې وشمیرلې. خدا زده چې څو به وې خو هغه جیب ته کړې او دواړه په چالاکۍ سره له کوره ووتل. درې جنازې کلي ته رانتوتې. ټول کلی ځکه په ویر ګډ شو چې د کلي خلک یو تر بله خپلوان دي. د یوه شهید کور زموږ د کور تر څنګه ؤ. د کوټې په زینه ورپورته شوم. غوږ مې کیښود. د ژړا او چیغو انګازې راتلې. د ښځو د ژړا په غږ کې ستاینې کیدې. زه هم د زینې په سر ژړا ونیوم بې له هغې مې زړه نری ؤ. په هټکو، هټکو مې وژړل، زړۀ مې تش کړ بیا راکیوتم. دوه واړه زامن مې د کور په غولي کې په لوبو اخته وو. هغه نور دواړه چې لوټکي لوی ګاڼې وو له کوره بهر وو. ډېر ساعت پس خوابښې مې په دروازه کې راغله. سترګې یې لمدې وې. پوزه یې د زوړه کي (ټیکري) په پیڅکه پاکه کړه. همدا یې ویلې. خدایه توبه مې دي. الله ستا رضا ده. زه مخې ته ورغلم. بابۍ سترې مشې. سترګو سترګو ته مې ورته کتل. ما وې چې څه به وایي په ژړغونو سترګو یې راوکاته. وې ویل. لورې لاس پورته که. چې پاک خدای زما زوی روغ رمټ ولري. موږ دواړو د دوعا لپه پورته کړه. امین مې ورسره ووایه. هغه کټ ته کښیناسته وې ویل. بچې خوله مې وچه ده. که یو ګوټ اوبه دې راکړې په منډه مې ورته اوبه ورکړې. غاړه یې تازه شوه په کرار مې ترې اوپوښتلې مورجانې ته خو راته ووایه څنګه پیښه شوې ده؟ لورې د خیوي په جنګ کې درې واړه مړه شوي دي. ټول کلی په ویر اخته دی. په درې واړو شهیدانو ور وګرځیدو. په کلي کې د محشر ورځ ده. ویرونه، ژړاګانې دي. د پیچ د ډیرو کسانو پکې مړي او ژوندي ورک دي. د هر شهید میندو او خویندو یې ځانونه وژل. خاورې یې په سر بادولې. او اې رښتیا خواته مې یوه ښځه ناسته وه. هغه د فضل جان ښځه نه ده؟ هو پیژنم یې. څه یې ویل؟ هغه د یوې بلې ښځې سره لګیا وه. ویلې د لر کلي د شیر احمد خان یو زوی او مشر وراره یې هم ورک دي. نه یې په مړو کې

پیدا کړي او نه یې په ژوندو کې - سړي یې ورپسې اچولي دي تر اوسه یې لا درک نه دی لګیدلی - او دا یې هم وویل - د پیچ په هر کلي کې مجاهدین یو یا دوه شهیدان شوي دي - هغې خپل دواړه لاسونه سره وموښل - څو توبې یې له خولې ویستې - بیا یې زنه ورپیده - پړینګ شي په ژړا شوه - د ژړا په حالت کې یې همدا ویلې - الله ته مې بچی سهي سلامت وساتې - ماته د هغې په دې خبره ژړا راغله - پاڅیدم - د ننه کوټې ته شوم - ښه ډیر مې وژړل وړوکي زوی مې راپسې راغی - په ښنتې او تنکۍ خبرو یې وویل مول جاني ته ولې جالې ؟ زما سترګو ته یې کتل او همدا یې ویلې - مول جاني ولې جالې ؟

ما خپلې اوښکې پاکې کړې - هغه مې غیږ کې وینو منډو ته راووتم - مازدیګر مانځه ته خوابې پاڅیدلې وه - زه پخلنځي کې په پخلي بوخته شوم - په دغه ماښام چا ډوډۍ هم ونه خوړه - هر څوک له خپګان نه له مرۍ نه نیول شوی ؤ - خسر کاکا ماخستن تیر کور ته راغی - د ډوډۍ مې ورته وویل - هغه ډیر خپه ستومانه وو - وې ویل - ډوډۍ مې خوړلې ده - کټ ته یې بالښت ته تکیه ووهله - سوړ اسویلی یې له خولې ووت - وړوکي لمسي ته یې ورنارې کړې - هغه په منډه ورته راغی - غیږ کې یې کښیناست په سر یې ورته لاس تیر کړ - حالت یې لږ څه ښه شو - ټول لمسیان پرې ګران وو خو دغه کشری هلک یې د زړه سر ؤ - د هغه سره یې ورو ورو خبرې کولې - چې ما ترې په کرار داسې پوښتنه وکړه - کاکا جانه مړي ښخ شول ؟ هغه لومړی خپل پټکی د کټ پښې ته واچاوه - پخپل تندي یې لاس تیر کړ - وې ویل - هو لورې - درې واړه مړي خاورو ته وسپارل شول - یوازې دانه ، په ټول ولایت کې هر کلي ته د خیوي جګړې مړي ورکړل - دا خو لا پریږده - یوسف د کوزو کورونو خلکو ته ګړیده ویلې د خیوي جنګ کې مور او زوي جدا کیدل - ده ویلې پرون نه آبل پرون د سهار نهه بجې به وې چې مجاهدینو لښکر په خیوه ورغی -

دولتي پوستي او قواوي مخکې نه په مورچو کې د دفاع په حالت کې ناست وو. لښکر چې ور داخل شو. په یو وار یې د ډزو پیل وکړو. توپې، ټانکونه، چارمیله او نور هر ډول وسله ډزیده. مجاهدین داسې وژل کیدل لکه په مرغیو چې د چریز ډزوشي. بې شمیره مجاهد د خیوي په جنګ کې په قتل ورسیدل. د خلقیانو په کورونو ور واوښتل. ښځې او نرلوی واړه یې له تیغه تیر کړل. مجاهدو قوماندانانو له کورونو نه پیغلې انجونې وښتولې. په عربو یې خرڅې کړې. کسم یې کاوه. ویلې ما چې دغه حالت پخپلو سترګو ولید. ویره مې وشوه. په سترګو مې ولیدل چې په خیوه کې لس کلن ماشومان یې حلال کړل. ده ویل بیخي مې له دغسې جهاده زړه تور شو. ډیرې داسې کسان هم ول چې د جهاد په نیت نه ؤ یوازې بیستي یې تر ملا تړلې وي. چور، چپاول پسې تللي وو. هیڅ ډول وسله ورسره نه وه. او زیات هم دغه شان کسان ووژل شول. او دا یې هم وویل ځینو غواګانې او نورمالونه له ځان سره بوتلل. ویلې په خیوه او شګه بالکل قیامت تیر شو. ده دا خبرې کولې چې یو تن کاکا خسرو په دروازه کې راننوت. لا ناست نه ؤ چې وې ویل یره لالا رب دې خیر کړي. ټول ملک اور اخیستی دی. د مسلمانانو زړونه د کاڼونه هم کلک شوي دي. تا خو د هغه سړي خبرې واوریدې چې د خیوي د جګړې نه تازه راغلی ؤ. هو وامې وریدې. غونې مې رازیګ شو. دغسې ناروا په اسلام کې نشته دی. چې ماشومان حلالوه. ښځو او ماشومانو څهٔ ګناه کړې ده. دا ټول دالله قهراوغضب دی. چې دې مسلمانانو ته شوی دی. خوانبې بیا توبه ویسته وې ویل. خدای دې زموږ ایمان ته خیر کړي. بس ټول په همدې خبرو اخته وو. کاکا خسر وویل لالا رښتیا اوس خو ولایت له روسانو او دولت نه خالي شو. خوښه دې نه ده چې دا واړه کابل ته بوځو. خسر کاکا یوه شیبه غلی ؤ. بیا یې وویل. ته ښه وایې وروره خبره تازه په تازه ده. پریږده چې دا ګرمه څپه تیره شي. بیا به ګورو. هغه بیا راغبرګه

کړه وې ويل.تر چغه سرايې خو هيڅ خبره نشته.له هغه ځاى نه د نوا پاس په لاره ګاډي ځي راځي.ده په ځواب کې وويل.فکر مې دى.څو ورځې به صبر وکړو.حالات به وڅارو.اګرچې وضعه معلومه نه ده.کيدى شي دولتي قواوي بيا راشي.په دې څو ورځو کې به حالت ته ګورو.دا خبرې پما ښې ولګيدې.هغوي خپلو کې سره ګړيدل.ما په زړه کې کرل ريبل( کله به مې وې چې دا بچي مې کابل ته پلار ته ورسوم؟) زۀ لا په دې سوچ کې وم.چې کاکا خسر پاڅيد د کور په اراده روان شو.په دروازه کې چې وتلو وې ويل لالا زه به د ځينو کسانو نه پوره احوال واخلم.په دې نزدې ورځو کې به که خداى کول د تلو نيت تړو.ده ورسره مخه ښه وکړه.او هغه لاړ.له همدغسې شپې نه وروسته زما سره څه نا څه هيله پيدا شوه.ګني چې يوه ورځ به که خداى کول کابل ته د تلو په نيت له دې کوره ووځو.يوه غرمه زامن مې څلور واړه په دسترخوان ناست وو.له خولې مې ورته وخاته.د پلار ليدو ته به په خير سره لاړ شئ.نيکه مو ويلي دي.په دې ورځو کې لاره خلاصيږي.کابل ته ځوو.ټولو په دې خبره ما ته را وکاته.د هر يوه په څيره کې د خوښۍ نخښې ښکاره شوې.له ټولو نه وړوکي وويل( مول جاني مور.کابل ته ځو؟) هغه له دسترخوان نه راولاړ شو.خواته مې راغى.مولې کله جو؟هغه ځان بيخي زما غيږ ته را جوخت کړ ما وې تۀ اوس ډوډۍ وخوره.دوه ورځې وروسته ځو په خير.مشر زوى مې لورګانۍ ؤ.په هر څه پوهيده.له ځان سره يې وويل په دې خو مور غولوي.څو کاله تير شول.ته همدا وايې چې کابل ته ځو.د هغه زړه نه لويده.هغو دوه تنو يو بل ته سره وويل.مورې کابل ته ځو.په دې خبرو کې هلکانو ښه په خوشحالۍ سره ډوډۍ وخوړه.خپله لپه مې دوعا ته ونيوه.يا الله ته خو د دوي زړونو ته وګورې.پخپل فضل سره مې دا واړه خپل پلار ته ورسوې.زمونږ تمه پيدا شوه.هر ساعت ګړۍ رابانديې اوږديده.خسر مې دا ټينګتيا په مونږ کړې وه چې د خپل تګ په باب چاته ونه وايو

. په هره شيبه به رانه زامنو پوښتنه کوله. همدا به يې ويلې. ابۍ کله به
ځوو ؟
ما به ورته ويلې. په دې ورځو کې به ځوو. خو پام کوۍ چې بيرون چاته
څۀ ونه وایاست. چې د کوځې او کلي واړه درنه خبر نشي. هغوي ټول په
دې پوه شوي وو . چې د خپل تګ خبره به چاته نه کوي . څو ورځې
وروسته يوه شپه خسر کاکا مې او خوابښې ته په احتياط سره وويل.
بيګاه ته به په خير سره ماخستن له کوره وځو. ماشومان به ښه سنبال کړې
. خالي خپلې جامې به ورسره واخلې . خو بيا هم درته وايم چې څوک درنه
خبر نشي. خوابښې ورته سترګو ، سترګو ته کتل. وې ويل يه سړيه څنګه
دې يو دم داسې زر د تلو فيصله وکړه ؟ هغه ورته وويل ښځې حالت به له
دې نه پسې ګډ وډ شي. بيا به هيڅ نشو کولی. همدا وخت په دې ښه دی.
چې تازه په تازه ولايت آزاد شوی دی. ښه په اسانۍ سړی په نوا پاس
اوختلی (اوښتلی ) شي. دا يې سم وخت دی. د خوابښې په سترګو کې
اوښکې وځليدې. وې ويلې. زما خو دې هلکانو پسې زړه ورانيږي. دا به
څنګ شي ؟ خاوند يې لږ څه غصه ناک شو. داسې يې وويل. د هغه زوی
دې هيڅ فکر درسره نشته دی ؟ اخر خو هغه ددې تنکيو زامنو پـلار نـه
دی ؟ هغه غلې شوه بيا يې څه ونه ويل. يوازې د دوعا لپه يې پاس ونيوه.
ويې ويل. يا الله ته خو مې بچی سهي سلامت ولرې. او ددې خپلو بچو
سره يې نصيب وکړې. کاکا په بيړه بهرته ووت. په دروازه کې يې مخ
راستون کړ. ماته يې کړو. لورې بيګاه ته درسره چرګ حلال کړه. ډوډۍ
تياره کړه چې هغه نور کاکاګان دې هم راځي له دې خبرې سره له دروازې
ووت. دغه ورځ راباندې لږ څه په خوشالتيا او هم په خپګان تيره شوه.
خوشاله په دې ووم چې بچيان به مې د خپل پلار سره اوګوري. او خپه خو
په دې ووم چې مجاهدين مو واپس راستانه نه کړي . بس ټوله ورځ مې
همدا سوچونه وهل. تر څو چې ماښام شو. مالا ان د ورځې نه د خپلو

ماشومانو جامې او خپل ضروري شیان برابر کړي وو ـ د ماښام په خړه کاکا خسر دوي هم راغلل ـ ټولو په یوه دسترخوان ډوډۍ یو ځای وخوړه ـ وروسته بیا چای څښلو په وخت کې خبرې راوچول شوې ـ لومړی کاکا وویل ـ لاس پورته کړئ ـ چې په وطن کې ارامي راشي ـ او دا زموږه سفر هم الله په ښه شان سره تر منزله ورسوي ـ ټولو په ګډه دوعا وکړه ـ هغه بیا خپلو خبرو ته داسې دوام ورکړ ـ داسې خبره ده ـ چې زما په فکر سره کابل ته د تلو همدا نن سبا ورځې دي ـ کیدای شي حالات تغیر وخوري ـ لا به بد تره مخې ته راشي ـ ډیر کلونه ووتل دا د پیچ ساپي به وایي ـ دا څنګه کمزوري دي چې خپل واړه پلار ته نشي رسولی ـ د پښتو ملک دی ـ په بې غیرتۍ خو ژوند نه کیږي ـ توکل په خدای دی ـ همدا نن شپه به له کوره وځوو ـ تر څو سبایي روڼا لګیږي ـ په نوا پاس به واوړو ـ له کوره چې څنګه ووتو ـ ددې کلیو پغاړه د غره د بیخ په لاره به ځانونه تروټه پوره رسوو ـ په سړک به نه ځو ـ ځکه چې په سړک مجاهد ښکته پورته کیږي ـ خطر راته پیښه نشي ـ زما دا فیصله دا تاسو څۀ نظر لرئ ؟

کشر کاکا خسر ، خپله د چاې پیاله کېښوده ـ په تونده او جدي لهجه یې وویل ـ لالا ددې مجاهدینو سره خو موږ لر بر کیږو ـ دا په امریت کې چې کار کوي ـ د امیر نه رانیولي ټول د ظلم او ناروا په مورچل ناست دي ـ داسې ظالمانه چلن یې له خلکو سره راخیستی دی ـ چې په اسلام کې هډو چا کړی نه دی ـ

دا یوه اونۍ مخکې یې د یوه خلقي بوډا پلار باندې یې د چار ماریۍ فیصله وکړه ـ او هغه بوډا سړی چې ټول عمر یې په دې سیمه کې تیر کړی یو مسلمان او پښتون سپین روبي یې دولو تنګي کې په دې نامه چې د خلقي پلار وو ـ د تیګو لاندې چارماري کړو ـ هغه به نارې او چیغې وهلې ـ همدا یې ویلې ـ یه ورونو زۀ خو ستاسو ساپي پښتون مسلمان یم ـ ولې

مې وژني. خلکو ویلې. دغه بیچاره بوډا یې په دغسې مرګ ووژلو. نو ځکه وایم چې خدا مه کړه له کوم مشکل سره مخامخ نشو.
مشر کاکا خسر وویل. وروره ستا خبره په ځای ده. خو دده دا د تګ پروګرام هم د سړي زړه ته لوئیږي. د دولت د قواؤ وتلو سره د خلکو خوځښت او تګ راتګ زیات شوي دي. توکل په خدای. په ډیر احتیاط سره به ددې پیچ د خاورې نه ځانونه اوباسی. اخوا ته بیا خطره نشته دی. ټول په دې رضا شول چې په دې شپه له پیچ نه لاړ شو. کاکا خسر وویل یو ځل بیا لاس پورته کړئ خدای ته سوال وکړئ. چې په خیر سره تر کابله ورسیږئ. دوعا وشوه. وخت ماختن وو چې کاکا خسر وویل تاسو ټول به هم دلته په کور پاتې کیږئ. بې له هغې مور سره واړه دي. دوه تنه وریرونه، ورور مې، څلور تنه لمسیان، اینګور مې، شکر لویه ډله یُو. په احتیاط سره به ځوو. دا خوابنې مې زنه ورپیده. اوښکې یې په مخ راماتې شوې. په ژړا کې یې وویل. دا واړه لمسي به په دې لاره په دې توره شپه کې څنګه لاړ شي.
خاوند یې ورغبرګه کړه. بیا دې په ژړا پیل وکړ. یوازې دوعا کوه چې دا نمسیان دې خپل پلار ته ورسیږي. بیا یې ناستو کسانو ته وویل مونږ به حرکت وکړو. ماته یې وویل. لورې ته خو تیاره یې؟ ما وې هو کاکا جانه. هلکانو ته مې پاکې جامې اغوستې دي. بوټان مې ورپښو کړل. د کور په دالانه کې مو د کور د نورو غړونه مخه ښه واخیسته. په دروازه کې چې راوتو کاکا خسر مې خپلې میرمن پسې راستون شو ورته وې ویل په ښځې زموږ د تګ نه چاته څه ونه وایې. هغې د ژړا په حالت کې په ژړغوني ږغ وویل. سمه ده خپل هر لمسي یې په سترګو، سترګو ښکل کړل. ماته راغاړې وته. دواړو په پټو سلګو سلګو وژړل. په توره شپه کې د خپل کور او کلي نه راووتلو. د تور او بد نصیب د ناکامه یون لومړني ګامونه مو واخیستل. د کلي نه بهر د غره بیخ ته مو لوی لارې ته

ځانو رساوه. کله چې په لاره ورسم شو. کاکا خسر وويل. ماشومان راسره دي. په کرار، کرار به ځوو. هلکان هم چابکه روان وو. خوشاله په دې وو چې د پلار ليدو ته کابل ته تلل. کشرۍ زوی مې له لاسه نيولی وو. له هغه نه چې مشر وو. هغه خپل نيکه له لاسه نيولی وو. هغه نور دواړه پخپله روان وو. کاکا خسر د خپلو دوه زامنو سره مخکې روان وو. په ټول کلي چوپتيا خوره وه. له کوم کوره به يو نيم سپي غپلې. هوا دومره توده نه وه. په دې شپه سپوږمۍ نيمې ته ورغلې وه. لاره سمه ښکاريده. د سيند شور اوريدل کيده. د کلي هديرې نه چې تيريدو. د بګوئ دولۍ راتلې. خلک وايي چې بګوئ دولۍ وهلې. ايرې پسې بايد وارتول شي. ځکه چې خوله يې سپيره ده. خامخا مړي کيږي. ما د بګوئ په اواز پسې په زړه کې وويل. (الله دي خوله د ايرو نه ډکه کړه). په تلو تلو کې د خپل کلي د شنه غوړيدلي کڅ او د غره د راغزيدلي غيږې نه واوښتلو. د يوه بل لوي کلي په خوا ورغلو. د شپې رښتيا چې مزل ښه غوځه کوي. هلکان هم ګړندي روان وو. يوازې کشري هلک به هم دا ويل. (مولې کله به لسيږو؟) ما به يې لاس پلاس کې کيکاږه. ورته به مې وويل. اوس رسيږو. کله به چې ډير ستړی شو پشا به مې کړو. پرې پوهيدمه چې ستړی به شو. مزل به يې وران شو. نو هله به مې پشا کاوه. هغه نور په نيکه پسې ګړندي روان وو. د دوبي شپې وې. بيا خو چې مزل هم شي. د سړي خامخا ګرمي کيږي. په دغه شپه سپوږمۍ د اخرو شپو وه. کله به چ د غرونو سيوري شو او سپوږمۍ له غره نه پناه شوه. لاره به تورتم شوه. هلکان به زما خوا ته وررو ورو تلل. ماشومان وو ډاريدل. کله خو پداسې توره شپه کې له کوره نه وو وتلي. په يوه دمه ځای کې مو دمه وکړه. د تيګو په سر کښيناستو. يوه زوی مې له نيکه نه پوښتنه وکړه. ويې ويل بابا کله به رسيږو؟ هغه لومړی ورته وويل. چوپ شه خبرې مه کوه. څوک به يې واوري. رسيږو مه ورخطا کيږه. بيا يې ماته وروشانې وويل. لورې دغه

هلک به زه پښا کړم.ته درسره دا هلک له لاسه ونیسه.له دمې نه وروسته مې هغه بل له لاسه ونیو ـ او روان شو ـ له څلور پنځه و کلیو نه تیر شولو ـ په اسمان کې پیرونې پریوتلي وې او تلې راختلې وې ـ کاکا خسر وویل شپه وتې ده ـ اسمان کې تلي راختلي دي ـ پاڅیږه چې ځوو په خیر ـ خسر مې وویل لږ څۀ ګړندي به ځو ـ چې د دې کلیو نه ځان اوباسو ـ وړو ته مې وویل ـ شابسې زر زر ځئ چې ورسیږو ښه شیبه مزل مو وکړو ـ د یوې لارې سر ته ودریدو ـ کاکا په ورو شانې وویل ـ اوس به په دغه لاندې کلي کې پله ته ځان اوباسو ـ خو خیال ساتئ چې په کوځه کې ورو ورو ګامونه ږدئ ـ چې څوک خبر نشي ـ دا اخري کلی دی ـ اخوا ته بیا دمره څه خطره نشته دی ـ په نرۍ لاره وړاندې سیند ته څیرمه کلي ته ورستانه شو ـ دغه لاره له پاسه په پټیو کې کلي ته تللې وه ـ موږ په احتیاط سره د کلي سره ته یوه کوځه چې د کلي په منځ کې تیره شوې وه ـ ګامونه اخیستل ـ کلی پوره ګڼ د غره بیخ کې د سیند په غاړه پروت وو ـ په دغه کلي کې ارامه ارامي وه ـ یوازې د سپو غپا راتله ـ او ورسره د سیند شور اوریدل کیده ځکه چې د کلي مخې ته سیند له لویو تیګو نه تیریده ـ اوبه یې ډیرې په دې وې چې دغه موسم کې د غرونو واورې ویلې کیږي ـ سیند بیخي په شاړو روان وي ـ اوبه یې دومره یخې وې چې څوک پکې له ډیره یخه هډو لاس نشي ښکته کولی ـ کله چې موږ د کلي د منځ کوځه لا نه وه سرته رسولې ـ چې یو سړي ناڅاپه د یوې بلې لنډې کوڅې نه راووت ـ له وړاندې یې داسې غږ وکړ ـ ودریږئ ـ نور چې دیخوا ته قدم راوانخلئ ـ پخپل ځای ودریږئ ـ هغه شپیلی وکړ ـ لږه شیبه ودرید ـ یو بل تن هم راپیدا شو ـ خپلو کې یې څۀ سره وویل ـ بیا دواړه موږ پلو را روان شول ـ خسر مې ورمخې ته شو ـ هغوي پرې غږ وکړ ـ مه ښوره ـ ځای پر ځای ولاړ اوسه ـ دې ودرید ـ موږ ته یې وویل تاسو به هیڅ نه وایاست ـ زه ورسره ګړیږم ـ هغوي دواړه چې زموږ خوا ته راغلل ـ یو یې ودرید ـ ټوپک یې

وکړه څاوه موږ ته یې د ټوپک شپیلۍ ونیوه . هغه بل ښه پسې زموږ خوا ته راغی وې ویل . څوک یې وې . چیرته ځې . ده ورته کړو . وروره موږ ددې پیچ یو . د خپل کلي نوم یې ورته واخیست . ویلې چیرې ځې ؟ بارکنډۍ کې مو یو خپلوان سخت ناروغه دی . د هغه تپوس ته ځوو . هغه وویل . دا ماشومان په دې توره شپه کې او د مریض پوښتنې ته ؟ نه نه داسې نشي کېدی . راځی چې امریت ته ځوو . ده ورته په عاجزۍ وویل . وروره . امریت د تلو څه ضرورت دی ؟ په موږ باور ولره . خپل نوم او د ورور نوم یې ورته واخیست . خو هاغه کله منله . وې ویل . راځه چې امر صیب ته دې یو ځل بوځم . هغه سره دا خبره وکړه . هغه بل ټوپک والا ته یې وویل . ته دې نورو ته ګوره چې زه دی بوځم . کاکا ورسره لاړ . کاکا خسر د هغه بل نه پوښتنه وکړه . ورته وېې ویل . وروره ته ددې کلي یې ؟ هغه ځواب ورکړ وې ویل نه کاکا زه د تنګي یم . په تنګي کې د چا څوک یې ؟ هغه خو پدې پوهیده چې دا خو زما ټوله کورنۍ پیژني . ضرورت نشته چې ځان وروښیم . وې ویل کاکا د نورو خبرو اجازت نه لري . غلی ودریږه . تر څو چې هغوي راځي . امر صیب امر کړی دی . چې د شپې به هیڅوک نه پریږدې چې ښکته لاړ شي . ده ورته وویل موږ خو ددې پیچ خلک یو . شکر دی مسلمانان یو . ساپي پښتانه یو . تاسو هم ددې وطن کور و کلي خلک یاست . دا مو څه راخیستي دي ؟ هغه وویل کاکا نور د خبرې حق نه لرې . غلی ودریږه . ده ورسره نور څه ونه ویل . یوازې دمره یې وویل چې امر صیب مو ښکته نه پریږدي تر څو د مریض پوښتنه وکړو . خیر دی واپس به کور ته ځوو .

په دې کې لا لږه شیبه تیره شوې وه وه . چې هغوي له امریته راغلل . هغه ټوپک والا وویل . امر صیب امر وکړ . چې دوي له پله نه تیر کړئ . واړه ورسره دي . موږ دا فکر وکړو . ګني چې امر صیب د مرستې لپاره ورته دا خبره کړې ده . زه هم په زړه کې خوشاله شوم . فکر مې کاوه چې سهار ته به

که خدای کول چفسرای ته ځان ورسوو - يو تن له موړه مخکې او بل رانه وروسته روان وو - ما ورو غوندې له خسر کاکا نه پوښتنه وکړه چې اميريت کې يې درته څه وويل ؟ کاکا وويل زه يې امر صيب ته نږدې ورپرې نښودم - خو کله چې دغه ټوپک والا د امريت د کوټې نه راووت - دومره يې وويل - امر صيب وايي چې له پله نه يې تير کړئ - چې د پله پيره دار يې راستانه نه کړي - همدغه خبره زما زړه ته ولويده - نور ورسره ما هم څه ونه ويل - په دې وخت کې له کلي نه ووتلو - سيند ته ورنږدې شو - د سيند له څپو او د تيګو له غوليو نه سړه څپه تر موږه رارسيده - پل مو وليد چې د لرګيو اوږدې پيړې تختې د سيند په سر د تيګو په ډيريو پرتې وې - له اوبو د سطحې نه پل لوړ پروت وو - د پله ډيرۍ ته چې ورسيدو - هغه مخکې چې روان وو - دې بل ته ورنږدې شو - پټ يې ورته څه وويل - خو کله چې په پله ور روان شو - خسر کاکا يو هلک پښا کړی وو - او مشر يې له لاسه نيولی وو - او د ټولو نه چې مشر وه - هغه پخپله روان وو - همدا شان کاکا خسر هم يو هلک له لاسه نيولی وو - او هغه بل پخپله په پله روان وو - کاکا چې څنګه په پله ورسم شو - مخ يې راواړو - ويې ويل - هلک ټينګ ونيسه - پل ړچيږي - چې ونه لويږې - هغوي ټول په پله ور روان شول - ما مې کشر زوي پښا کړو - له ټولو نه وروسته ووم - په دې کې ډزې شوې - ما داسې فکر کاوه - چې ګني له پله نه هغې غاړې نه ډزې وشوې - څه خبره به وي - چې څنګه مې د پله په دړه پښه کيښوده هغه ټوپک والا رانه مخکې شو - ويې ويل خورې دا هلک ماته راکړه تا نه به ولويږي - د هغه خبره مې زړه ته ولويده - هلک يې رانه واخيست - په غيږ کې يې ونيو - له مانه مخکې شو - چې په دې وخت کې بيا د کلاشنکوف ضربه وچليده - د سيند شور دومره زيات وو چې ډزې پکې هيڅ نه اوريدل کيدې - او به چړندې روانې وې - د تيګو سره د سيند دغرې او زوږ غوږونه کڼول - سپوږمۍ هم له دغه نادودې نه خپلې وړانګې راټولې کړې وې - پل

هیڅ نه ښکاریده. په دې کې د پله له سره څه شور مې تر غوږه شوه. بیا دوه ډزې وشوې. شکمنه شوم ما وې چې دا ډزې ولې کیږي. هغه ټوپک وال وویل. خورې په ما پسې راځه. هغه رانه دوه ګامه مخې د پله په دړه کیښودل. سترګې مې د پله دړې ته نیولې وې. غوښتل مې چې پورې وزم. په مخکې مې وکاته چې د پله له اوږدې دړې نه هغه سړي هلک له خپلې غیږې نه پورې وهي چې سیند ته یې وغورزوي. هاغه ترې له غاړې نه دواړه لاسونه چاپیر کړي. اومې لید چې د هغه لاسونه یې له خپلې غاړې نه خلاص کړل. ما په دې وخت کې فکر وکړ چې هلک یا ډاریږي او یا د پردۍ غیږې خوند نه دی ورکړی. چې په دې کې د هلک داسې چیغه مې واوریده. یا ابۍ ؟ نیغ مې ذهن ته ودریدل. چې ګني هلک د سړي له غیږې ولوید. د پله له دړي نه شاته راغلم. ما وې چې د ډیرۍ نه پورې غاړه پام وکړم. بیا مې یه ابۍ غږ ته فکر شو. نوره بیا په ځان نه ووم پوه شوې. د پله ډیرۍ لاندې د بوټو په جاخ کې ښکته لویدلې ووم. بیا نو په ځان نه ووم خبره شوې.

تر هغې پرته ووم چې دوباره په هوښ شوم. سترګې مې وغړولې چې سپین سبا دی. ورور مې د ګڼو بوټو له جاخه سر راپورته کړ. د خپل شا و خوا د بوټو او غنو جاخ مې له سترګو تیر کړ. بیا مې په مځکه لاس وتپولو. چې خپل ماشوم مې غیږ کې راونیسم. سر مې ښه پورته کړ. په سیند او پله مې سترګې ولګیدې. د یه ابۍ ، یه ابۍ ناري مې تر غوږه شوې. هله پوه شوم چې زه یوازې یم. په ځان کې مې طاقت ومونډ راپورته شوم له ځان سره په دې فکر شوم. (هغوي به له پله پورې وتلې وي. ته بیمانه یې. له پله او سینده ډاریږې. هله زر شه رونیا یې لګیدلې ده. هغوي درته له سیند پورې انتظار باسي. او ته په دې بوټو کې پټه شوې یې ؟ ) ورو ورو د پله په ډیرۍ ودریدم شا و خوا مې بیا له سترګو رالاندې کړه. نه د پله په نزدې شا و خوا کې څوک ښکاریدل او نه له سیند

پورې - د بیګانیو د پله په سر د ډزو او د زوي د یــه ابۍ چیغه په غوږونو کې انګازې جوړې کړې - او فکر ته راغله - چې هغه دوه قاتلان به راتـه د وژلو په تمه چیرې انتظار کوي - په زړه مې بیا د غم څپه راواوښته - د خپل کمیس لمن مې خوله کې ونیوه - ټیکرې مې د غنو له چاخه راخلاص کړ په سر مې راخور کړ - همدلته پوه شومه چې بیګاه یې هغوي ټول د پله له سره وویشتل - او سیند ته غورزیدل - اوس له دې ځایه پښې باسه - سپینه رڼا ده - نوره باید دلته ځنډ ونه کړم - ما چې هر څو غوښت - له پله نه روانه شم - پښو مې حرکت نه کاوه - بس دا مې په فکر کې ګرزیدل چې یوازې څنګه ؟ چیرې لاړه شم؟ هغوي به راسره .... ښه شیبه وچه کلکه ولاړه ووم - بیا مې په ذهن فشار او زور راوست - لـه ځان سره مې دا فیصله وکړه - دلتـه دې ودریدل څه ګټه نه لري - په کلي هم نه ورځم - ښه به دا وي - چې مخ ښکته په مټینه ورشم - د پله ډیرۍ نه روانه شوم - څو ګامـه د سیند پغاړه لاړم - د سیند پـه غـاړه پـه لوړ ځـای ودریدم - پلـه تــه مې ورپـام کـړ - زړه کې مې وګرزیدل - ( کیدی شي له دې ځای نه یو ځل پورې غـاړې تـه پـام وکـړم کـه هغوي ..... ؟ یوه شیبه چې مې ټوله شا و خوا له سترګو تیره کړه - نور څه مې په نظر رانغلل یوازې د یه ابۍ نارې غوږ ته راتلې - په ځان نـه ووم پـوه شوې لـه هوښـه وتـې ووم - کلـه چې بیـا رابیداره شوم - کلیمـه مـې وویلـه رښتیا چې انسـان لـه اوسپنې کلک او لـه ګل نـه نـازک دی - پاڅیدم څو ګامه په چابکو او ګړندیو قدمونو لاړم - شاته شاته مې کتل - ما وې چې له کلي نـه راپسـې هغـه قـاتلان رانشـي - مـرګ هـم بد شی دی - څوک ورتـه د ټینګې نهٔ دي -

په زړه کې مې ویلې - په هر ډول چې کیږي له دې کلیو او ددې عـامې لارې نه ځان په څنګ کړم - تر څو د کلیو او کورونو نـه خلک راوځي - او زه لـه دې ځای نه تللې یم - پښو تـه مـې زور ورکړ - یوازې پـه دې سـوچ کـې ووم - چې هر څومره زر لـه دې ځـای نـه ځـان اوباسم - کتـل مـې چې مخـې تـه څو

کورونه راغلل.د څیرېو ونې ، شا و خوا څو پټې وو.لاندې سین بهیده.
بیا مې چې په دغه خوني سیند سترګې ولګیدې.د یه ابی انګازه مې
غوږونو کې وچورلیده.مغزو مې کرنګ وهل.د یوې تیګې څنګ ته
کښیناستم.خدازده چې څومره وخت ناسته ووم په دې کې مې خبرې
واوریدې.سترګې مې وغړولې.کتل مې چې یو زوړ سړی او یو هلک په
لاره تیریدل.خپلو کې یې څهٔ سره ویل.ما پړونی په مخ راخور کړ.هغوي
یوازې زما پلو راوکتل او ګړندي تیر شول.ایله بیله مې ساه راکې
وګرزیده.ځکه چې د نوم بني بشر نه مې ویره کیده.هغوي چې مې له
سترګو پناه شول.له ځان سره مې وویل.دا عمومي د تلو راتلو لار ده.
ځان به له دې لارې نه په څنګ کړم.پام مې کاوه.ښي لوري ته لږ څه پټي
او هواره ځمکه ، ونې ښکاریدې.او ورسره جوخت جګ غر او ځنګل وو.
پاڅیدم له لارې نه په ښي لوري پټو کې روانه شوم.لا تر دغه وخته په
پټیو کې څوک نه ښکاریدل.د غره بیخ ته مې ځان ورساوه.ما وې چې تر
څو لمر راخیژي په دې غره وخیژم لکه د لېونی پشان په غره ورسمه شوم.
نه لار وه او نه مې څهٔ پیژندل.بس له ویرې نه په دې فکر روانه ووم چې له
کلیو او خلکو نه ځان پناه کړم.په دغه غره کې به چې مخ پورته ختمه ساه
به مې لنډه لنډه شوه.او له بل پلوه بوټي ، ځنګل وو تیګې وې ، مزل به
مې غوڅه نه کوله.له بله پوله مې زړه کې ځيني پوښتني راپیدا کیدې.(
لکه چې زهٔ لیونی شوې یم.مغزو مې کار پریښی وي.بچی دې د پله په
سر پریښودل.او ته ترې راوتښتیدلې ؟اوبه دریدم.نه نه دا خو پښتو او
غیرت نه دی.ته باید هغوي سره تللی وای.ته واچې هغوي یې سیند ته
وغورزول.هو رښتیا د هغو دوه مشرانو هلکانو لامبو زده وه.نه ولې ؟
ډزې یې پرې وکړې.ښه ، ښه ډزې.... ؟ولې نه.د کشري زوی د یه آبی
نارې دې وانه وریدې ؟ ) دروپ رالویدلې ووم.یو وخت ګورم چې د لمر
تودې وړانګې راباندې ولګیدې.سترګې مې وغړولې.لاندې مې چې

وکاته سیند او سمه رانه پناه شوې وه . د غره د یوې جګې مورې نه اوښتې ووم . ګڼ بوټي د غره په ډډه کې ولاړول . د څیړیو ، غوړاځکو ، ګورګورو ، ممانیو ، څانګو او غنو رانه ټیکری له سره غورزولی وو . د سر ویښتان مې په ځان راخواره شوي وو . په ځنګنو مې زور وکه له مځکې راجګه شوم . بیا روانه شوم . مخې ته مې کړپه راغله . په خوارو خوارو مې لاس او پښې لګولې . او پورته کیدم . یو ځای کې ورغښتم . له پښو نه مې بوټان ووتل . د یوې ونې څانګې ته مې لاس واچول . ځان مې ورپورې ټینګ کړ . تیګو او بوټو مې پښې ووهلې . په درد او د ځان په خوږو نه ووم . یو ځای کې مې چې مخ شاته واړو . د غره بیخ ته ډېر وړاندې مې په سیند سترګې ولګیدې . دا ځای د غره جګه راوتلې څنډه وه . بیا مې په ذهن کې بیګانی حالت لر ، بر شو . پښې مې اړو پړ شوې ، سترګې مې هم تورې تورې شوې . ځای پر ځای ولویدم . زما په لویدو او خرپ خروپ باندې د سارا هوسۍ وتریده . زه خو پخپله ځان نه پوهیدم خو چې کله مې بیا سترګې وغړولې . او سر مې راپورته کړ . وړاندې مې په هوسۍ نظر شو . لک څک ولاړه لکۍ یې رپوله د خپل پنغالي نه بې ځای شوې وه . د سرګړو په منځ کې ولاړه وه . زما پلو یې کتل . زه چې وخوځیدم . هغې ترپ لګول د سترګو په رپ کې پناه شوه . زما له پښو وینې بهیدې ویښته په مخ خواره شوي وو . هیڅ نه پوهیدم چې زهٔ څوک یم . چیرته د کوم یون په لور ځم . په همدې چورت کې روانه شوم . په تیګو مې د پښو د وینو خاپونه پاتې شول . زه روانه ووم . څه شیبه مزل مې وکاوه . د غره له یوې جګې څنډې واوښتم . په غره کې هم نه ځایدم . سمه او غر هر څه راته بلا شوي وو . کله خو به مې له ځان نه زړه بد شو . په زړه کې به مې وویل څه بد دې کړي چې له خپلو بچو نه رابیله شوې . دا ځان درته دومره خوږ ښکاریده؟ نه نه ، په رب چې ماته مې له ځانه بچي خواږه وو خو داسې وشو نو ...... ! د نامعلومه هدف په لور مې د غره په ډډه کې بیا مزل پیل

کړ. په یوه داسې ځای برابره شوم. چې یو ازې ، د څیرې ونې او خونان هم پکې ولاړ وو. په غره کې د ځیریو تور ځنګل ښکاریده. زما فکر بیا خپل ځانته شو. (ډیره بې غیرته یې ، د خپلو بچو سره دې څه وکړل ؟ نو اوس په تا څه چې ژوندۍ هم پاتې شې. بیا به هسې په سوچ کې شوم. پریږده چې د پیچ درې د ساپیو د جهاد او د دغه اسلام چې دوي یې کوي زما د بچیانو بګانۍ د یه ابۍ چیغه ټولو ، افغانانو او د نړۍ خلکو ته ورسوم ) له خولې مې چیغه پورته شوه. خپل و یښتان مې و شکول. زما په ژړا او چیغه وړاندې پورې ډډې نه د سپو غپا راغله. زه لا په خپل ویر او ژړا اخته ووم چې د سپو غپا رانږدې شوه. خپل ویښتان مې له سترګو واړول. پام چې مې وکړ. سپي رانږدې شول. پوه شوم چې دا سپي دې خامخا داړي. بیا راته ځان خوږ ښکاره شو. د یوې څیرې ونې ته وختم پاس د څیرې په یوه پیړ منډه کښیناستم. سپي هم سمدستي راورسیدل. دواړه سپي چې لا د څیرې ستې ته نه وو رارسیدلي ما خپل ویښتان د څیرې له څانګو نه راخلاصول چې لاندې مې په سپو سترګې ولګیدې. هغه خړ سپي د څیرې په سته راټوپ کړو. ورپسې آبل تور برګ سپي چې ژبه یې راویستې وه. له سترګو یې اور څځیده. په ما پسې یې پورته ټوپونه وهل .

په دې وخت کې د سړو خبرې اوریدل کیدې. داسې ښکاریده چې پورې غره کې کومه بانډه وه. د خلکو خبرې راتلې. لږه شیبه وروسته یو تن چوپان له وړاندې څخه یې په سپو د کورې کورې غږ وکړ. خو سپو هماغسې خولې لګولې او غپل یې. چوپان په سپو پسې د قهر او غضب غږ وکړ او کاڼي یې په سپو پسې وارتول. سپي لږ څه غلي شو او د څیرې د ستې نه جدا شول. هاغه سپي وځغلول. په غپا غپا وړاندې لاړل. بانډې پلو یې منډې وهلې. چوپان پورته څیرې ته په ما پسې راپام کړو. ټوپک یې له اوږې نه پلاس کې ونیو. کارتوس یې ورتیر کړ بیا یې ماته غږ وکړ.

ویې ویل څوک یې دلته څه کوې ؟ زه چې له ټوپکوالو نه ویریدم . ځان مې غلی ونیو . هغه بیا راغږ کړو ویلې څوک یې ؟ټوپک یې وکړچاوه . څو ګامه رامخې ته شو . د څیرې نه رالاندې وت . زه خو لکه د توري بلا په ونه کې ناسته ووم . ویښته مې راخواره شوي وو . هغه راته د ټوپک شپیلۍ پورته راونیوه . ویې ویل خبرې وکه ګني ولم دې . سترګه یې راته پټه کړه . ډز ته یې ځان تیار کړ . په کرار مې ورته وویل . ورورره زه بې ګناه یم . چې او مې نه ولې . هغه د ونې ستې ته ښه رانزدې شو . لاندې په وینو سره تیګه یې ولیده . پورته ئې ماته وکتل . چې له پښو نه مې لاندې وینې څڅیدلې . ټوپک یې اوږې ته واچاوه . ویې ویل . خورې له ونې نه راکوزه شه . ویریږه مه . په عاجزه لهجه مې ورته کړو . ورورره که وژنې مې نه نو .... . نه ولې دې وژنم . هیڅ فکر مه کوه . ورو ، ورو راښکته شه . د هغه ددې خبرې سره مې د څیرې له څانګو نه خپل ویښتان راخلاص کړل . هاغه ته مې په یوه سترګه وروکتل . څو ګامه د ونې نه وړاندې ودرید . زۀ له څیرې نه راکوزه شوم . د ونې ستې ته ودریدم . چوپان خپل څادر ماته راکړ . ویې ویل . خورې دا څادر په سر واچوه . له دې خبرې سره هغه روان شو . ویې ویل . په ما پسې راځه . زه پښه نیولې شوم له خولې مې ورته وختل . ورورره چیرې مې بیایې ؟ مخ یې راواړوه ویې ویل خورې زړه مه ښکته پورته کوه . دلته زموږ بانډه ده . کورته دې بیایم . زړه نا زړه ورپسې روانه شوم . هواره لړځیدمه په زړه کې مې تیریدل . ( بیا د ټوپک والا سره مخامخ شوم که ده ته خپله کیسه وکړم او دا پوه شي چې زه د یوه خلقي ښځه یم خامخا به مې اوژني ) . د هغوي کورته لا نه وو رسیدلي . په لار کې هغه ودریده د ټوپک غاړه کې یې پخپله اوږه سمه کړه . ویې ویل خورې ته د کوم ځای یې څوک یې څه دربانډې شوي دي ؟ ما وې ورورره زه ددې پیچ ساپۍ یم بل څوک نه یم . ډیر ظلم او تا دا راباندې وشوه . نور مې څه ونه ویلې . هغه بیا وویل . پیښه څۀ شوې ده ؟ زه بیا غلې شوم . هغه

سمدستي ویل. راځه راځه. په کور کې به نورې خبرې کوو. د کور مخې ته یې ورسیدو. د ګڼو او ګورو خیړیو منځ کې څو کورونه وو. دده کور په لوړه د دوه خیړیو په منځ کې وو. د کور مخې ته د بزو چوپال وو. څو تنکي ورغمي په چوپال کې ګرځیدل. چوپان له وړاندې نه خپلې ښځې ته ورغږ کړ. که سپي له بزو نه راغلي وي ویې تړه. ښځه یې په وره کې راووته زما په لیدو حیرانه شوه. ودریده. ویې ویل. راځۍ سپي نشته دی. بزو کې دي. موږ چې دروازې ته ورنژدې شو. هغې پما کې ستر ګې ښخې کړې وې. زما حالت چې یې وکوت. آخ دا ولې؟ دا څوک ده ؟ سړي ورته وویل یه ښځې دا خور بیچاره دننه ننباسه. د پښو غم یې خوره. زه د بزو مخې ته ورځم. بیرته به زر راشم.
د چوپان ښځې کور ته ننویستم. هغې خپل تور پړونی راپسر کړ. وې ویل. هله خورې دغه کټکې ته کښینه. د غوړ لښتي د لښتو نه او بدل شوي څو کټکي پراته وو. زۀ لومړي کټکي ته کښیناستم هغه دننه کوټې ته ننوته. په کوزه کې یې اوبه راوړې ماته یې کړه. مخ لاس او پښې دې په کرار کرار پریمنځه چې زه درته کورکمن او څه دارو برابر کړم. ما کوزه واخیسته او د منډو په کنج کې مې لاس ، مخ او پښې له وینو نه پاکې کړې. ښځې راته خپلې څپړه کې راوړې. لږه شیبه وروسته هغې د کورکمن نه جوړه کړې پټۍ راوړه. پښې یې راته وتړلې بیا یې راته ویښتان ږمنځ او سنبال کړل. ورپسې یې سمدستي په شیدو او غوړیو کې ماته کړې ډوډۍ مخې ته کیښوده. ویې ویل. خورې ته لومړې ډوډۍ وخوره بیا به نورې خبرې کوو. زه رښتیا چې ډیره وږې ، تږې شوې ووم. لږ څه ډوډۍ مې وخوړه حالت مې لږ څه سم شو. چوپان راننوت. ښځې ته یې وویل. ددې خور د پښو غم دې خوړلی دی؟ ښځې یې وویل. هو په پښو مې ورته کورکمن په غوړیو کې پټۍ کړې دي. دا بیچاره خو ډیره په بد حالت کې تردې ځای راغلې ده. دا څه پیښه شوې ده ؟

ښځې ته دا خبره اوس پرېږده.دې ته ډوډۍ تیاره کړه.ما وې وروره ډوډۍ مې وخوړه.خدای دې تاسو ژوندي لري.له ما سره په تکلیف کې شوی. نه نه خورې دا څه تکلیف نه دی.ته خو یوه تور سرې یې.بیا مونږ خو پښتانه یو .مسلمانان یو .په دې کې بیرون چوپال ته بزې راننوتې. مازدیګر وو.بزو او ورغمو غبرګې رمبارې جوړې کړې.چوپان سپک پاڅید ویې ویل.مالونه راغلل.چې لومړی باید هغه سنبال شي.بیرون چوپال ته په چالاکۍ سره ووت.وروسته یې ښځه هم ورپسې ووته.ډیره شیبه وروسته چې مالونه یې لوشلي وو ښځه او څښتن سره د دوه زلموټو زامنو سره راننوتل.

## پنځم څپرکی

د ماښام ډوډۍ نه وروسته چوپان د بروزې نه پرې غښتلو . لاړې یې په لاس توپ کړې د بروزې څو خلي یې لاس کې واخیستل پرې یې تاؤ کړ ویې ویل . خورجاني اوس راته ووایه چې د کوم ځای د چا څوک یې او څه پیښه شوې ده ؟
ما ورته د خپل کلي او خسر نامه او بیا مې د خپل پلار نوم ورته واخیست . نوره خبره مې خوله کې غړه کنده شوه . هغه راباندې پوه شو . ښځه یې هم راته یو غوړ وه . ویې ویل زموږ په باب هیڅ فکر مه کوه . یوازې خپل سرګذشت ووایه . ما ورته وویل وروره زما کیسه د اوریدلو نه ده . ښځې راباندې راغږ کړ . ما خپله خور او زما خاوند ورور وګڼه . یو ځل خو موږ باید ستا په حالت پوه شو . د لږ سکوت وروسته مې زړه رالوی کړ . هغوي راته غوږ نیولی وو . او ما ټوله کیسه ورته له سره راواخیسته . د پله د سر خبره مې لا پوره کړې نه وه چې د چوپان ښځه پړینګ شوه په ژړا شوه . چوپان د پړي غښتل بند کړل . سترګې یې راویستې . هک پک پاتې شو . نوره زه هم د خبرو نه ووم . سلګو ټینګه کړم . د کور ښځه راسره هم پـه ویر اخته شوه . چوپان ډیره شیبه چوپ پاتې شو . بیا یې په کرار وویل . خورجاني بیا څنګ چل وشو . اوښکې مې وچې کړې او مې ویل . وروره په ځان نه پوهیدم . خو له ویرې نه له کلي او خلکو نه رابیله شوم . په سختو ، لوځو پو څو مې د سمې هواره لار پریښوه . په دې غره راسمه شوم . خپل خوار نصیب تر دې ځایه راوستم . نه پوهیږم چې نور به څه کیږي ؟ هغه زما د قیصې په اوریدو سره لومړی سوړ اسویلی ویوست . بیا یې وویل . دغسې کار خو مسلمانان نه کوي چې په دې خلکو څه اور ولګید . داسې کارونه خو په هیڅ دین او مذهب کې ندي شوي دې ساپیو دا څه راخیستي دي . هو دا منم چې خاوند به دې د حکومت سړی وي .

مګر ستا ماشومانو څه ګناه کړې وه۔ خورې نوره مه ژاړه۔ الله دې د زړه صبر درکړي۔ ما خپل ورور وګڼه۔ که د خدای رضا وه۔ سبا ته به دې خپل کور ته ورسوم۔ کومو کسانو چې ستا په اولادونو دا ظلم کړی دی۔ په دنیا او اخیرت یې شرمنده غواړم۔

خورجاني که رښتیا درته وو ایم۔ دا ښځه مې ګواه ده۔ زه چې په ښه او بد پوه شوی یم۔ تر چغسراې ښکته نه یم تللی۔ که وژل شوې وای هم۔ ته مې بیولې۔ خو مګر دا کولی شم۔ چې واپس دې خپل کلي ته ورسوم۔ اخر زه هم ساپي یم څوک به درته پورته هم ونه ګوري۔ لکه د خور غوندې خدمت به دې وکړم۔ هیڅ فکر ونه کړې۔ تر سبا پورې دا خپل کور وګڼه۔ سهار چې لمر راخیژي سمې ته به رسیدلي یو۔ میرمن یې اوښکې وچې کړې۔ وې ویل۔ زمور دین په دنیا خور یې په ژړغوني ږغ یې وویل۔ خدایه توبه مې دي۔ دا څنګه مسلماني شوه۔ په کافرو کې به هم داسې ونشي۔ دا بې دینه روسان چې په شوریک راوختل هم داسې ناروا یې نه ده کړې۔ خالي جګړه یې وکړه او بیرته ښکته شول۔ هغې ستړې اسویلی وکړ۔ له ځایه پاڅیده ویې ویل۔ زه به درته بستره برابره کړم۔ چې ارام وکړې۔ الله دې د زړه صبر درکړي۔ څښتن یې وویل۔ ته خوب وکړه۔ چې ماغزه دې په ځای شي۔ دا یې وویل او لاړ۔ د کاله میرمن هم زما خوا ته پریوته۔ زما ټول بدن خوږیده۔ په سوچونو او فریادونو مې شپه سبا کړه۔ سهار وختي د چوپان خبرې غوږ ته راغلې۔ میرمن یې راغږ کړ۔ خورې پاځه۔ سبا دی۔ ما چې مخ او لاس پریمنځل۔ هغې راته په ګیلاس کې تاوده شیده راوړل۔ ویلې دا وڅښه زما کله زړه ته کیده۔ هغې رابانده شیدې وڅښلې۔ چوپان لومړې ښځې ته د کور او مالونو ټینګتیا وکړه۔ وې ویل زه به دا خور تر کوره ورسوم۔ ما زدیګر به که خدای کول ځان بیرته راورسوم۔ ښځې یې راسره تر دروازې بیرون د مخه ښې په وخت کې سم وژړل۔ لا روڼایي نه وه لګیدلې چې له بانډې مو حرکت وکړو۔

هغه ته خو لاره معلومه وه .په اسانۍ سره تر څو چې لمر راختو سمې ته راښکته شو .هاغه ته مې وویل.وروره... موږ باید سړک ته پورې وزو . ځکه چې پدې غاړه دکلیو لاره ده.ځای پر ځای مجاهد دي.چې بیا...... !

هغه چې رانه مخکې روان وو .ودرید .ټوپک باندې یې لاس تیر کړ.ویې ویل.خورې تر څو چې زه ژوندی یم.ته غم مه کوه د هغه جامې د وړیو زونډي داره خولۍ ، پیتاوي او کرکتر یې بیل ښکاریده .کړه وړه یې د سمې د کلیو د خلکو پشان نه وو . په ټول اکر کې یې د غیرت نخښې ښکاریدې.نور یې څه ونه ویل.روان شو .کله چې د سیند غاړې او کلیو لوې لارې ته ووتو .زما سترګې چې په سیند ونښتې.په زړه کې مې ټکه تیره شوه .(کیدی شي چې د هغه پله پورې غاړه ، راته هغوي انتظار کې وي.پما به بل څه چل شوی ؤ .نه به پوهیدم.هسې د آبلې شپې پیښه به دې په ذهن کې ناحقه انځور کړي اوسي نه ، نه چې یو ځل خو تر پله ورسیږو ؟ ) په دې وخت کې مې چې د سیند شور واورید او هغه صحنه نو سر مې وځرخیده ځای پر ځای کښیناستم.هغه رانه وړاندې تللی وو . له هوښه وتې وم.یو وخت مې په مخ اوبه راوشیندل شوې.سترګې مې وغړولې ګورم چوپان ورور راته خوا ته ناست وو .ویې ویل خورجانې پاڅه لار ده .چې ځوو .هغه کلې اوپله ته چې کله ورسیدو ماته یې راوښایه.ما ویل ښه.وروره ، دومره لاره ورته نه ده پاتې.هغه رانه بیا مخکې او زه ورپسې شوم.مخې ته څو کورونه راغلل.له هغې نه چې تیر شو .لمر راوخوت.هوا ګرمه وه.زما ژبه له تندې نه وچه شوې وه.د ویالې نه مې لپه اوبه اوڅښلې.لږه شیبه وروسته هماغه پله او کلي ته ورسیدو . په چوپان ورور پسې مې ورغږ کړ.هغه ودرید .ما ورته کړه.وروره هغه پل دا دی.ما خپلې سترګې څلور کړې.زړه مې ښه راټینګ کړ.ما وې چې ښه دا پل او پورې شاو خوا سمه ووینم کیدی شي چې هغوي.... !

سیند ، پل او ټوله شا و خوا مې له سترګو تیره کړه .یوازې د یه ابې غړونه مې غوږ ته راتلل .مغزو مې شینګاري وکړ .سر مې وخوځید . تروپ شو راولویدم بیا په ځان نه ووم پوه شوې .یوازې مې د بې هوښۍ په حالت کې په زړه کې داسې ګرزیدل .( زما د ځیګر ټوټې ، د ګلونو پشان ښکلي تنکي بچي به مې په کوم چړه ختلي وي ، کــه نه ماهیانو به خوړلي وي .له کومه ګټهو د سیند غولیو او ګردابونو کې به ډوب شوي وي ؟ ) کله چې په خود شوم چوپان ورور ته مې وویل .ورور جانه یو ځل به د پله ډیرۍ ته ورشو .هاغه لومړۍ لږ څه په سوچ کې شو .بیا یې وویل راځه چې ورشو .دا ځل هغه زما نه لیرې نه تلو .ځکه پوهیده چې ګني بیا به بې هوښه کیږم .دوه ګامه رانه مخکې روان شو .زه تش ګوګل په ماتو هیلو بیا لکه د صراط په پله ورسمه شوم .هماغه د پله ډیرۍ ته مې ځان ورساوه .کم چې یوه شپه مخکې مې پکې هغه څه لیدلي وو چې د هیڅ انسان فکر ته نشي راتلای .د پله په ډیرۍ ودریدم .لومړۍ مې پله او بیا ښکته سیند ته ، هغه ځای ته ، کم چې مې دواړه بچي د یه آبۍ نارې اوریدلې وې ورپام کړ .پورې غاړې ته په څو کورونو او ونو مې سترګې ولګیدې .بیا مې د کشر زوی شور او د هغه ظالم او بې عاطفي انسان وژونکې په زور سره د هغه سیند ته غورزول رایاد شول .غیر ارادي چیغه مې له خولې ووته .هماغه مې زر لاس ونیو .ورو یې کښینولم .ښه شیبه د خوني پله په ډیرۍ وشتیدم ، وسنګیدم ، وژړیدم ، له لاسه مې هیڅ نه کیده .لپه مې پورته ونیوه .د الله نه مې د خپل مرګ سوال وکړ .خو د مرګ بخت مې هم کوټه ؤ .د چوپان ورور له سترګو نه هم او ،ښکې جاري وې . له ما نه څو ګامه وړاندې په تیګه ناست ؤ څه ئې له ځان سره ویل .ډیره شیبه وروسته زما خوا ته راغی ویې ویل .خور جانې .دوعا ورته کوه .د خدای نه درته صبر غواړم .لمر تودیږي .مزل مو مخکې دی .بسم الله کړه چې روانیږو .ما ورته په ژړغوني غږ په ځواب کې وویل .وروره له دې

ځایه څنګه لاړه شم ـ په کلي کې به چاته څه وایم ـ چې څنګه راغلم ؟ نه نه وروره ته څه اوزه به...... ؟ هغه ماته متوجې شوه ـ زه له ځایه پاڅیدم ـ غوښتل مې چې ځان له پله نه وغورزوم ـ ناڅاپه مې لکه د لیونۍ د پله په تخته منډۀ واخیسته ـ په زړه کې مې ویلې زما په دې ژوندنو څه ؟ هغه راپسې لاس را اوږدو کړ ـ ویې نیولم ـ ویلې خورجاني ودریږه ـ ما ویل پرې مې ږده وروره نور ژوند نه غواړم ـ هلته له پورې نه یو سړی او ښځه په پله راپورې وتل ـ ده راته وویل ـ هغه دي خلک په پله را روان دي ـ که دا ستا په حال خبر شي نو بیا ؟ موږ لا پدې ګوتو لګولو کې وو ـ چې هغوي راورسیدل ـ د پله د لوې دړې نه راپورې وتل ـ له لیرې یې راغږ کړ ـ ویلې دا ولې ؟ څه خبره ده ؟ چوپان ورته په ځواب کې وویل ـ دا خور مې لږ تکلیف لري ـ کومه بله خبره نشته دی ـ هغوي له موږ لاړل ـ د کلي لار یې ونیوه ـ چوپان ورور زما لاس ټینګ ونیو ـ ویې ویل بس خور جاني نور دې دا لیونتوب پریږده ـ راځه چې کور ته دې ورسوم ـ فکر وکړه دلته دا نزدې کلي دي ـ د هاغه په دې خبره مې چې کلي ته وکتل ـ هماغه لعنتي کلی ؤ ـ هغه کلی چې اسلامي اوریکو او قاتلانو له دې پل نه د پل صراط کار واخیست ـ چې دغسې بې ګناه او معصوم ماشومان او پاک سپین ږیري مسلمانان ترې غورزوي ـ ښه ده وروره ستا به ولې نه منم ـ څه چې ددې ځایه پښې باسو ـ په ژړا ژړا د هغه ځایه را روان شوم ـ ټیکری مې په مخ راخور کړو ـ ما وې چې له دې کافرو له کلي نه زر تر زره ځان اوباسو ـ په کلي کې هم هغه یوه لاره وه ـ چې د کلي له منځه تیره شوې وه ـ چوپان پــه کلي کې اوچت معلومیده ـ چې له غره نه راکوز شوی دی ـ په هغه پسې مې خپل قدمونه ګړندي کړل ـ ځکه چې همدغه کلي رانه بچې واخیستل ـ بدن مې له ویرې لړځیده ـ شیبه په شیبه مې زړه کې ګرځیدل ـ چې هغه دوه تنه قاتلان بیا راونه وځي ـ خیر کلی دومره لوی نه وو ـ زر ترې ووتو ـ وړاندې مخې ته شنه پټي راغلل ـ له یوه بل وړوکي کلي نه هم

پسې واوښتو. له سیند پورې د غره بېخ کې لوی کلی ښکارېده. لاندې ترې لویه هدیره وه. چوپان ورور چې شل ګامه مخکې روان ؤ. ودرید. مخې یې راوړو. ویې ویل خورجانې هغه پورې هدیرې ګورې؟ مال هو. پروسږ کال زمونږ یو ډېر خوږ دوست د روسانو سره په جنګ کې شهید شوی ؤ. په دغه هدیره کې مو ښخ کړو. بیا راپورې وتو. ددې خبرې سره یې خوله ونیوه. په فکر کې ودرید. ما وې ښه وروره.
هغه وویل ښه دې چې رایاد شول. په دغه کوز سیند غاړې کلي کې زما د پلار پخوانی دوست دی. ددې ټولې سیمې او کلیو مشر دی. هغه ته به ورشو. دا ټول جریان به ورته ووایو. او بله دا چې د امریت نه به راته ضمانت هم واخلي. تاته به بیا هیڅوک څه نشي ویلی. دده خبره مې زړه واخیسته. ما وې ښه وروره چې ته څنګه وایې نو..... !ویلې توکل په خدای راځه راپسې. په یوه نرۍ لاره چې هغه کلي ته ستنه شوې وه. ور وګرزیدو. کلي نزدې ؤ. زر ورسیدو. د هغه کلا ته لا نه وو رسیدلي چې یو سپین روبی سړی د هغه کلا ته نزدې د یوې توت ونې لاندې ولاړ ؤ. ده پرې سلام واچاوه. هغه وعلیک ووایه. ویلې په خیر راغلئ ستړي مشئ. ده ترې د هغه سړي پوښتنه وکړه. سپین ږیري غړه کنده شو. بیا یې وویل .هغه خو...... ! ده سمدستي بیا وویل هغه څنګه ولې ؟وې ویل هغه یوه میاشت مخکې د مناګي په جنګ کې روسانو شهید کړی دی. دده له خولې یو ازې آخ وخوت. ویې ویل کله یوه میاشت مخکې ؟مونږ خو چا نه یو خبر کړي. هاغه وویل د جنګ په دې بد حالت کې یو تر بله ځوک څه خبرېږي. تاسو له کومه راغلی ؟ده ماته راوکاته. بیا یې هغه ته. حیران شو چې څه ووایي ؟ هغه وویل بچی څنګه غلی شوې ؟ده ورته وویل کاکا جانه د هغه سره مو لږ څه کار ؤ. خو افسوس چې هغه شهید شوی دی. هاغه بیا وویل. هو د خدای کار دی. هغه دې الله اوبخښي اوس د بخښنې شو. ددې ټول قام په خیر او خدمتګار ؤ. ستاسې څۀ کار ؤ ؟ دې

لوړتکي بیا ساکته غوندې شو . له لږې خپه لهجې سره یې وویل . کاکا جانه د لارې سر دی زموږ کار او کیسه ستا د اوریدو نه ده . که اجازت وي موږ بیرته ستنیږو . هغه ته په زړه کې تراه پیدا شوه . ګني چې دا د غره چوپان او دا ښځه د کومې ترخې پیښې لاروي دي . زر یې وویل زه هم ساپي یم . راځئ یو چاې چیلم ښو درکولی شم خپله امسا یې وکړه پوله . روان شو . ویلې راځئ ډیر مو نه معطلوم . موږ هم په صافیواله کې ورسره راغلو . کور ته یې بوتلو . د خپل کور حجرې ته یې ننویستو . هغه له دروازې نه خپلې ښځې ته ورغږ کړ . ښځه یې راغله . ستړې مشي یې وویله . ده ورته کړو . دې میلمنو ته چاې راوړه .

هاغه خپله امسا د کټ لنګې ته ودروله . وې ویل . هلکان پخوا باجوړ ته اوښتي دي . کله چې یې د جهاد جبهې ته راشي راښکاره کیږي . پدا هر کور کې چې اوګورې ځوانان پکې نشته دی . زه او دا ښځه مې دې کور او فصل ته ناست یو . ښه اوس راته ووایه چې څنګه راپیښه کړې وه ؟ ده لا ورته کیسه نه وه راخیستې چې ښځې یې چاې راوړو . د وویل کاکا دا زما خدایي خور ده . زه د اینځر بانډې یم . سړی او میرمن یې دواړه د چوپان ورور خبرو ته غوږ نیولي وو . ده ورته زما ټوله کیسه تیره کړه . د کور ښځه په ژړا شوه . زه هم سلګو ونیولم . هاغه هم ډیر خپه ستومانه شو . ده ورته اخري خبره دا وکړه کاکا موږ ددې لپاره راستانه شو . موږ ویلې چې هاغه به راته د مجاهدینو له امریته ددې خور لپاره ضمانت خط واخلي . بل څه کار مو نه درلود . سړی سمدستي له خپل ځایه پاڅید . امسا یې راواخیسته ښځې ته یې وویل یه ښځې زه ځم امریت ته ته دوي ته ډوډۍ تیاره کړه . زه به دیر زر واپس راوګرځم . نورې خبرې یې ونکړې . په وره کې چې وتلو . ویې ویل تاسو چاې څښئ زه زر راځم . ښځه کور ته ننوته . چوپان بیرون ته ووت . ویلې خور زه لږ بیرون ته ځم . هغه له حجرې نه بهر ته ووت . ما له د چاې پیاله چښله چې د کور کاکا راغی . لږه شیبه

وروسته چوپان وروور هم راننوت ب کاکا جیب ته لاس کړ.کاغذ یې له جیب نه راویوست.وې ویل.امریت کې یوازې څو تنه د چپې دري ناست وو.امر صیب ته مې یوازې په بله کوټه کې ددې لور قیصه ورته واوروله. هاغه د هر څه نه خبر ؤ.بچې د هغوي زړونه د کاڼو نه هم کلک دي.یوازې دومره یې وویل.ستا زامن تکړه مجاهدین دي.ته چې راغلې یې یوازې به هغې ته ستا ضمانت قبول کړم.مګر هیڅکله به دغه ښځه له پیچ نه نه وځي.ما وې بیخي به نه وځي.کاغذ یې راکړو.ډوډۍ مو وخوړه.چې د هغوي له کوره را روانیدو.سپین ږیري وویل.زه هم درسره ځم.چوپان ورته کړه کاکا جانه دا چې موږ سره دې دومره تکلیف ویوست.الله دې ژوندی لره.زه به دا خور پخپل کور و کلي وسپارم.بیرته به خامخا کور ته ځم.ځکه چې کور مې څه نه دي ویلي.بچې تا چې دومره زحمت ګاللی دی.زه هم ددې پیچ ساپي یم.او بیا همدغه خلک خو زه پیژنم.د هغه کلي ټول مشران پیژنم.دواړه به ورسره ځوو.ما وې کاکاجانه په ما دې لکه د خپل پلار دومره مهرباني وکړه.ځان دې په تکلیف کړ.نور ځان مه په عذابوه.هغه ویلې نه لورې.خامخا درسره ځم.ښځې ته یې وویل زه مازدیګر ته بیرته ځان کور ته رارسوم.

د کور میرمن په دروازه کې ودریده.د مخه ښه په وخت کې یې په مخ اوښکې رواني شوې.کاکا مخکې او موږ ورپسې شو.د کلي په لور روان شو.د کڅ په لاره مو ځان پاس عمومي لارې ته رساوه.د یوه پټي پولې په سر کاکا ودرید.وې ویــل...د جهاد په نوم دې جهادیانو داسې کارونه وکړل.چې په هیڅ دین کې چا نه دي کړي.دا د الله یو قهر او غضب دوي ته شوی دی.دغسې بې ګناه ماشومان په داسې مرګ وژل، دوي ته جهاد ښکاري.دا پیبجوال خو کمعقل او ساده بې علمه خلک دي.خو په اصل کې یې مشران ورته وایي.هغه پخپلو خبرو کې په غصه ناکه لهجه وویل.په دې ګنهګارو مې ولیدل (خپلو سترګو ته یې اشاره وکړه) چې په

ښکته کلیو او دوکانونو پلو چې کله دوي حمله ور وړي .له ملا نه بیاستې ترې .تر څو د خلکو مالونه لوټ او غلا کړي .دې ته دوي جهاد وایي .هغه بیا روان شو .لږه شیبه وروسته هماغې لارې ته وختو کم چې پرې تیره غم لړلې شپه راغلي وو .په دغه ټوله لاره مې ان تر کلي اوښکې نه ودریدې .ماسپښین قضا ؤ چې خپل کلي ته ورسیدو .ټیکرۍ مې په مخ راخور کړ .په دغه شیبه موږ درې واړه چا نه پیژندو .کلي ته چې ور داخلیدو .کاکا وویل .بچی ته مخکې شه موږ ته ستاسې کور نه دې معلوم .ما وې کاکا جانه په دغه مخامخ کوڅه ورځی .هلته مخې ته زموږه کور راځي .زه درته بیا وایم .شل ګامه را وړاندې زه ترې مخکې شوم .د لاس په اشاره مې هغوي ته خپل کور وښود .په دې کې زما خوابښې له دروازې راووته .غوښتل یې د یوه خپلوان کره لاړه شي .موږ ته یې راوکاته.ویې نه پیژندو .ځکه چې زما حالت او وضعه د هغې د پیژندنې نه وه.ما ورغږ کړ .هغه ودریده.او په زیر سره یې راپام کړ . هغوي دواړه ودریدل.زه ورمخې ته شوم.ښه چې ورنزدې شوم.ورغږ مې کړو .بابی چیرې ځې ؟هغې زما سترګو ته کتل.خو لا نه یې وم پېژندلي . خپل نوم مې ورته واخیست.په هیبت سره یې وویل.دا ته ؟دا ولې ؟زه نوره ټینګه نه شوم د هغې غیږې ته مې ځان وغورزاوه .چیغه مې له خولې ووته.نور نو بیا په ځان نه ووم پوه شوې.د چم ګاونډ او خپلوان رابانډې راټول شوي وو .څوک لا نه پوهیدل چې ولې ؟خدا زده چې څومره وخت به بې هوښه ووم.یو وخت ګورم چې کور د خلکو ډک دی.خپلوان راته نزدې ناست وو .ما هغوي ته وویل.بیرون دوه تنه میلمانه راسره راغلي دي.حجرې ته یې راولی .هر څه به هغوي درته ووایي.د خوابښې لــه خولې نه مې په دغه وخت کې واوریدل.خدایه خیر راپیښ کړې.زما بیا حالت خراب شوی ؤ .هغوي دواړه یې حجرې ته بیولي وو .ټوله کیسه یې ورته کړې وه.څه چې خلک وو .ټولو ژړلې وو .څه شیبه وروسته زه په

چابکو ګامونو حجرې ته ورغلم. حجره له ښځو نرو ډکه وه. کاکا خسر مې د میلمنو سره نژدې ناست وو. ماته یې داسې وویل دا څنګه چل شوی دی. دامیلمانه څه وایي؟ ټولو ماته کتل چې څه ورته ووایم. ما خو نور څه نشو ویلی. یوازې مې دومره وویل که دې میلمنو درته څه ویلي وي هماغسې شوي. اوس مې حالت ښه نه دی. لږ څه وروسته به درته کیسه وکړم. لومړی مې چوپان وروره خلکو ته ور اوپیژند. او د هغه د مرستې او ساپیوالې مې ورته وویل. بیا مې د کاکا ورته ټوله کیسه وکړه. ما وې دا مې دین په دونیا وروراو زه یې خوریم. دده احسان به تر مرګه نه هیروم. او دا مې کاکا ته لاس ونیو. ما وې دا مې خپل پلار ګڼم. په دې ټول پیچ کې یې زما ضمانت وکړ. او دې دواړو تر دې کوره راورسولم. ویر ژړا دومره زیاته وه چې زما خبرې هډو چا اوریدې نه.
ښه شیبه ټولو خپلو پردو وژړل. بیا سپین ږیري کاکا داسې وویل. ناسو غوږ کیدئ. د قرآن شریف ایت مبارک یې ولوست وې ویل. لاس پورته کړئ. چې خدای پاک شهیدان او بخښي باقي دې رب خیر کړي. دوعا وشوه. بیا یې وویل. تاسو اوس زر تر زره کسان ښکته په سیند کې د مړو په لټو پسې وکاږئ. د نرنګ تر بیلو خلک خواره کړئ. اوس به درنه موږ لاړ شو. چوپان ته یې لاس ونیو. دا چوپان سړی دی. کور او مالونه یې پریښي دي. زه هم په کور کې یوازې یم. چې ځان ورسوم. ما وې نه کاکا خامخا به شپه راسره کوئ. زه به بیا تاسو چیرې وینم. بیا مې ستونی راډک شو. هغوي دواړو غبرګ وویل. موږ به هرو مرو ستا پوښتنې ته بیا راځو. ستاسو مشران او ددې کلي ډیر خلک پیژنم. کاکا خسر مې وویل کاکا جانه ستاسو دواړو نه یوه دونیا مننه چې موږ سره مو دومره تکلیف ګاللی. موږ به هم همدا اوس ، اوس څه کسان ښکته لیږو تر څو د مړو څه لټون وکړي. هغوي پاخیدل په دروازه کې چې وتل ما چوپان وورور ته داسې وویل. هغه خوني پله ته چې ورسیدې زما دبچو درسره پام وکړه.

په دې خبره ټولو وژړل. هر چا د جیب دستمال سترګو ته نیولی ؤ. میلمانه په همدې ویر ژړا کې له کلي نه ووتل.
ما هم د کلي نه راغلي میلمه چې د ارام صیب خپلوان هم ؤ. تر دې ځایې خبرې وا وریدې. له سترګو مې اوښکې روانې وې. په ژړغوني غږ مې ترې پوښتنه وکړه. مړي پیدا شوي دي ؟ نه تر اوسه نه دي پیدا شوي. خلک پسې ګرزي. مال ښه نور بیا څه وشول. هغه د چاې پیاله ځان ته نزدې ایښې وه ګوټ یې وکړ. د هغې د خولې یې داسې وویل. هغوي چې لاړل مور. له حجرې نه کور ته واوښتو. کور او کوځه حجره او دیره د خلکو نه ډکه شوه. په کلي ام کله خو داسې غم نه ؤ راغلی.
میلمه ځوان لومړی سوړ اسویلی له خولې ویوست. وې ویل. زه چې له کلي نه راتلم. تر دغه وخته لا څه خبره نه وه. یو مړی هم نه ؤ پیدا شوی. ارام صیب په دې وخت کې له تشناب نه راووت. خپلې کوټې ته ننوت. ما ده ته وویل. راځه چې ورشو. یوه فاتحه به ورته وکړو. زه به درنه بیا ځمه. هلته چې ورغلو. هاغه زما حالت ولید. چې سترګې مې په اوښکو لمدې وې. اومې ویل. لاس به پورته کړو. د مړو په حق کې به دوعا وکړو. فاتحه مې واخیسته. بیا مې ورته وویل.
وروره خدای دې د زړه صبر درکړي. پدا لوی غم ې درسره ځان شریک ګڼم. په ګرد افغانستان کې د هر چا په هر کور کې مړي شوي دي. خو داسې مې نه وو اوریدلي. د ډیرو خلکو د چا وروړ د چا زوی او د چا پلار ژوندي ورک شوي دي. هډو قبر یې نه دی معلوم شوی. ډیرې ناخوالې په دې وطن تیرې شوې. چې لا نور به څۀ کیږي. اوس نو له پیښې نه تیښته نشته دی. ډیر تشویش مه کوه. خدای دې صبر درکړي. زه به درنه اوس لاړ شم. بیا به دې خامخا په نزدې وختونو کې اوګورم.

هاغه یوازې پخپلو وچو شونډو چې پاترې یې نیولې وو. ژبه وګرزوله. په ټیټ اواز یې وویل. له تا نه ډیره مننه. وره پورې راسره لاړ. مخه ښه یې راسره وکړه. ترې را روان شوم.

## شپږم څپرکی

کوم وخت چې د کونړ ولایت د روسي او د وخت دولتي پوځي قوتونو نه خالي شو .د جنګي مورچلو بریدونه په ګمبیري او بنغدو ودریدل .د ولایت واګې د مجاهدو په لاس کې شوې .د رژیم او ټوپکیانو تر منځ ، جګړې لا پسې اوج کې شوې .په تیره بیا د ختیځو سیمو په ځنډو د ډزو او باروتو لوخړې د وامداره پورته وې .د دغه وخت جنګونه تاسو ټولو لیدلي دلته یې د بیانولو ضرورت نشته .د اصلي کیسې او پیښو لوري ته راځم.په ګرد ولایت کې د مودو ، مودو بندیزونه مات شول.هر څوک په کلیو او د ولایت په هره خوا کې ښه ازاد ګرځیدل شوای .د لږې مودې نه وروسته د ارام صیب نور دوه ترونه چې په کلي کې اوسیدل.دواړو خپلو کې سره وویل .کشر ، مشر ته د خپل کور دننه چې په کوټه کې نور څوک ورسره نه وو .داسې وویل.دې ویلې.زۀ پخلنځي کې بوختـه ووم . د هغوي دواړو د خبرو ، ګړهاري مې غوږ ته راورسید .د مشر کاکا خبره مې واوریده .وې ویل.څو ورځې به صبر وکړو.پریده چې دا حالت نور هم پس ښه شي بیا به ګورو.

زه پوهـ شوم چې زما د بیولو په حقله څه سره وایي.له ډیرې مودې وروسته زما پخواني د زړه د زخم څړیکه په ګوګل کې پورته شوه. هغه ترخه یادونه مې بیا ځل مخې ، مخې ته شول.ژړا ونیوم.پټ مې په هټکو ، هټکو وژړل .خوابښې مې چې ولیدم رابانـدې پوهـه شـوه .چې ژړلي مې وو.وې ویل لورې بلا دې واخلم.مه ژاړه.کونړ ازاد شو.خدای به ټول وطن ازاد کړي خپل څښتن ته به لاړه شې.مخ یې پاس ته ونیو .لپه یې پورته کړه.وې ویل.یا الله د خپل بچي سره مې د لیدو نصیب وکړې خدایه په دې ارمان مې مه وژنې .هغه چې د خپل خاوند او لمسیانو

غمونو رنځولې وه. بیخي ډنګره او کمزورې شوې وه تل به یې په زوي پسې ژړل.
دوه اونۍ وروسته دواړه کاکا خسران غبرګ په وره راننوتل زه له مانښې نه لاندې راښکته شوم. هغوي د کور برنډه کې کټونو ته ناست وو. ما ورته چاې تیارېکړې. په میز مې ورته پیالې کیښودې. خوابښې ته مې هم پیاله ونیوه. زه د کور په کارونو مصروفه شوم. هغوي سره پخپلو کې په خبرو اخته وو. څو شیبې وروسته یې په ما پسې را نارې کړې. زه ورغلم. هغه مشر کاکا خسر راته وویل. ځان تیاره وه. په خیر سبا ته بې واقعې په خیر سره کابل ته د تلو نیت لرو. زه لومړې چوپ پاتې شوم. بیا مې په خواره خوله ورته کړو. کاکا جانه د کابل په تلو کې موږ ټوله کورنۍ له لاسه ورکړې
ده. که خپه کېږې نه د غه نوم هیڅ په خوله مه اخله.
هغه هم لوټکي موسکی شو. وې ویل. بي بي ستا خبره په ځای ده. خو اوس هغه پخواني بندیزونه ایسته شوي دي. بل دا چې کونړ ازاد شوی دی. مجاهد پکې ښکته پورته ګرځي. پوښتنه مې کړې ده. څه خطره نشته دی. ما ورته دومره وویل. دا پیچوال اوس هغه پخوانی ساپي نه دی پاتې. بدل شوی دی. د همدې کلي خلک به راپورې بد شي. هغه دا ځل ښه په زغرده وویل. نه نه اوس حالات بدل شوي دي. ما وې نور تاسو ښه پوهېږئ. هغه بل کشر کاکا خسر چې ځوان هم ؤ او ټوکې هم کولې. لومړې یې وخندل او بیا یې وویل ته خو دا خبرې کوې. بي بي، که چیرته دې خاوند بله ښځه وکړي نو بیا ؟ ما وې اوس راته دا خبرې هیڅ اهمیت نه لري. مشر کاکا خسر وویل خبرو د ټوکو نه ده. سبا ته به د بر کلي په واز موټر کې ځو په خیر. کشر ورور یې ورته وویل. نه نه لالا. موږ په موټر کې نه ځو. څوک به مو شیطاني وکړي. ښه به دا وي چې پخپلو پښو په غره کې ځان تر وټه پوره ورسوو. ایسته بیا اسانه ده. هغه ومنله ویلې سمه ده

. همدغسې به وکړو . مور ته يې وويل پام کوئ چې د خپل کور هم څوک درنه خبر نشي . هغوي د مازديګر مانځه ته لاړل . ما دغه خبره ټوکه ګڼله . ما وې هغوي ستا د زړه د خوشالولو لپاره دا خبره وکړه . همدغه شپه مې ټکی خوب ونکړ . تر سهاره مې سترګه ورنغله . سبايي وختي رښتيا چې کشر کاکا خسر مور کره رانوت . سمد ستي يې ماته وويل . پاخيږه چې ځوو په خير . زه او خوانبې مې د هغه په خبره حيران پاتې شو . بيا يې راغبرګه کړه . ويلې هله زر شه . چې د خدايي مزل مو په مخ کې دی .
زما زړه ته ولويده . ګني چې خبره يې رښتيا شوه . زر مې جامې بدلې کړې . خپله غاړه غوټه مې راواخيستله . د کورنه راوتلو په وخت کې مې خوانبې بابي غېږ کې ونيوم . دواړه سم په چيغو ، چيغو وژړل . له کوره راووتو . په لار کې هاغه بل کاکا خسر هم زموږ انتظار کاوه . له کلي نه سړک ته پورې وتلو . تر ماښوګې په سړک لاړو . د وايګل پلو وګرزيدو غره ته ورپورته شو . په کوږ کلي ورتير شو . په ډير تکليف سره مو شپه کرونګ ته واړوله . ماخستن تير وو چې د کاکا دوي کوم پخوانی دوست ؤ . ورکره ورغلو . په ډير مزل مې پښې پړسيدلې وې . له ډيرې مودې وروسته هغه اشنا کره ورغلي وو . څنګه چې د هغوي کور ته ننوتو . په دروازه کې يو هلک چې د دولسو کالو به وه . مخې ته راغی . وې ويل . چا سره مو کار دی . کاکا ورته يو نوم واخيست . هلک ودريد . چوپ پاتې شو . مشر کاکا ورته بيا وويل . څنګه وروره ودې نه ويل . هاغه په کور دی ؟ هغه وويل تاسو لږ ودريږئ . زۀ اوس بيرته راځم . موږ په دروازه کې ودريدو . يو سړی راووت پلوزه يې لګولې وه . زموږ خوا ته راغی . لومړی يې موږ ته ستړې مشي وويله . بيا يې سمد ستي وويل . راځئ دننه . دويم چت ته يې وخيژولو . په يوه کوټه يې وننويستو . لاټين ته يې تيلی وواهه . کوټه رڼا شوه . لويه کوټه وه . څلور کټونه پکې پراته وو . لاندې په مځکه سترنجی خوره وه . هغه سړي وويل . تاسو کټونو ته کښينئ . پخپله ووت . موږ

دومره ستړي شوي وو چې نور له حرکته لویدلي وو ـ وریې خو دومره نه وو ـ ځکه چې په لاره مو ډودۍ خوړلې وه ـ لږه شیبه وروسته هغوي ډوډۍ راوړه وروپسې یې چاې راوړو ـ د چاې څښلو کې مشر کاکا خسر له هغه سړي نه بیا پوښتنه وکړه ـ د هاغه نامه یې واخیسته وې ویل ـ ته مې نه یې لیدلې ـ مګر هغه مې د پلار سره څو ځلې پیج ته موږ کره راغلی وو ـ زه هم د پلار سره دوه ځلې دلته پخوا راغلی ووم ـ ښه دا راته وو ایه چې کاکا چیري دی؟ او ته یې څه کیږې ؟ هغه وویل د روسانو په بمبارۍ کې هغه ووژل شو ـ ده ویل آخ دا کله ؟ پینځه میاشتې مخکې ـ روسي څرخي الوتکو په دې کرونګ ، څانګار او کټار د هوز باندې بمباري کوله ـ په هر کلي کې درې او څلور مړي شوي وو ـ زما پلار هم د جومات په دروازه کې لګیدلی وو ـ یوه شیبه کاکادو دواړو هې پې وکړو ـ بیا یې وویل لاس پورته کړې ـ چې خدای ورته بهتر جنتونه ورکړي ـ فاتحه واخیستل شوه ـ ماخستن تیره پورې یې د روسانو د بمبارۍ نه هاغه سر ټکاوه ـ مشر کاکا ترې پوښتنه وکړه ـ چې لاندې کلي او ولایت ته څه حال دي ـ خلک څه وائي ـ هغه یو ډیر ساده سړی ښکاریده ـ په حالاتو چندان نه و خبر ـ وې ویل په جومات کې ویل کیږي چې روسان هوایي بمباري بیا په دې کلیو کوي خلک په ویره کې شپې ورځې تیروي ـ ده ویل ښه بیا یې د هاغه د تسلي لپاره وویل ـ روسان او دولت نور ددې ولایت نه په کشه کې دي ـ هیڅ سودا مه کوی ـ خدای مهربانه دی ـ مجاهدین وروپسې دي ـ انشاء الله چې ډیر زر به له دې وطن نه ورک شي ـ په دې خبرو یې طبعه لږه سازه شوه ـ بیا یې ورته وویل ـ موږ به لږ څه ارام وکړو ـ سبایي وختي وته پورته کوزیږو ـ هغه په چالاکۍ پاڅید ـ په کټونو یې بسترې هوارې کړې ـ او بیا یې وویل ـ تاسو ویده شې هغه ووت ـ او موږ تر سهاره ښه خوب وکړ ـ سبایي وختي د چاې څښلو نه وروسته د کور له خاونده مو د تلو اجازت واخیست ـ مخ په وته پورمو د قورو لاره ونیوه ـ په وته پور کې د کاکادو

اشنایان ول. خو د جنګي شرایطو له کبله لا پخوا د کلي نه وتلي وو. مور په دې نیت چې په دې ورځ ځان له نوا پاس نه واړو. لمر لا نه وو تود شوی. مور وته پور د شاه میر کوټ د موټرو تم ځای ته ورسیدو. د اسعد اباد مرکز لین موټر ولاړ وو. سمدستي ورپورته شو. د چغه سراي په بازار کې د نوا پاس ګاډي تیار په لین کې وو. په دغه وخت او دغه ورځ د چغه سراي په بازار کې بیخي ډیر خلک خوځیدل. زمور د نوا پاس ګاډی په لړه شیبه کې ډک شو او کلینر غږ وکړ. دوعا د خیر... غر شو موټر روان شو. کله چې د نوا باد په پله پورې وتو. او له سرکاټو نه ووتو. مشر کاکا ته مې کاته له ځان سره یې ورو وویل. شکر خدایه چې تردې ځای خو را ورسیدو. په نوا پاس واوښتو. په دغو ورځو کې په دغه لار ډیر ګاډي چلیدل. مازدیګر لوړ د جلوزو کمپ ته ورسیدو. هلته له پخوا نه زمور یو خپلوان اوسیده. د هغوي کره مو شپه تیره کړه. سبایې د لمر ختو سره د تورخم په ګاډي کې کښیناستو. د تورخم مزی ازاد وو. تګ راتګ کې مشکلات نه وو. له تورخم نه چې تیر شو. سمدستي په یوه بس موټر کې جلال آباد ته لاړو. مابنام خړه لا نه وه لګیدلې چې د جلال آباد فارم هډه کې د یوه پیچوال پخواني افسر کور ته ورغلو. هغه د کاکا دوي نږدې نسبي وو. له پخوا نه یې ورسره راشه درشه درلوده. هغه چې ډیر سپین ږیری شوی وو. پخپله له کار نه تقاعد شوی پکور ناست وو. یو زوی یې په پوځ کې افسر وو. هغوي زمور ډیر قدر وکړ. د بلې شپې یې راته وویل. کاکا ترې مننه وکړه. سبایې چې د هغوي له کوره راووتو کابل ته د تلو په نیت د موټرو هډې ته ورغلو. څو لویې او وړې موټرې ځای پر ځای ولاړې وې. پوښتنه مو چې وکړه. د کابل او جلال آباد تر منځ لاره بنده وه. خو ځینو کسانو دا هم ویلې چې ګني د روسانو کتار کابل ته ځي. هر څوک د کتار په تمه انتظار کې وو. د ورځې لس بجې شوې. ناڅاپه خبر وشو چې کتار حرکت وکړو. ټولې موټرې له سورلۍ نه ډکې شوې. سړک

ته وو تلې ـ موږ هم په یوه فلاینکوچ کې کښیناستو ـ د رونتې پورې ملکي د لین موټرې وچلیدې ـ له د رونتې نه اخوا ته د روسانو کتار ولاړ وو ـ کتار خو له ټانکونو او توپونو سره پوره وو ـ دولتي پولیسو ډ کې موټرې هم په کتار کې وروسته ولاړې وې ـ کتار چې کله حرکت وکړو ـ وروسته ورپسې ملکي موټرو هم حرکت پیل کړو ـ د لغمان کڅ نه ښه په بیړه تیر شو ـ په موټر کې ځینو کسانو وویل ـ د ریښمو تنګي کې په کتار حمله کیږي ـ موږ د ریښمو تنګي نه پیژندو ـ خو کله چې کتار هلته ورسید ـ له پاسه پرې ډزې شوې ـ کتار هم پرې ډزې کولې ـ د کتار عسکري موټرې یې وویشتلې ـ اور یې واخیست ـ داسې سره ډزه پیل شوه چې په ګاډو کې ناست کسان ټول د تیګو شاته شول ـ یو ساعت جګړه روانه وه ـ موږ هم د سیند په غاړه د تیګو تر منځ پټ ناست وو ـ کله چې ډزه ودریده ـ خلک موټرو ته وختل ـ کتار روان شو ـ موږ چې د کتار ځای ته ورسیدو ـ سوې موټرې چې لوګي ترې ختل ـ په سړک وینې لیدل کیدې ـ دا نه وه معلومه ـ چې څومره عسکر به مړه شوي وو ـ سروبي ته چې ورسیدو ـ ایله د خلکو لاړې تیرې شوې ـ کابو مازدیګر وځ چې کابل ته ورسیدو ـ پل محمود خان کې چې څنګه ښکته شو ـ سمدستي په ټکسي موټر کې خیرخاني ته لاړو د څارندوي بلاکونو کې له ټکسي نه ښکته شو ـ د څارندوي بلاکونو ته ورغلو ـ تر څو له چا نه زما د خاوند د کور پوښتنه وکړو ـ د یوه بلاک مخې ته یوه ښځه ولاړه وه ـ چې د کونړ د ښځو جامې یې په ځان کې وې ـ له هغې نه مو وپوښتل ـ د هغې څنګ ته یو ماشوم ولاړ وو ـ وې ویل ـ زه په دغه نوم څوک نه پیژنم ـ ښځه یم ـ څښتن مې هم نشته چې پوښتنه مو ترې کړې وای ـ هغه هم د څارندوي فسر وو ـ دا یوه میاشت مخکې شهید شوی ـ خو په دا بل بلاک کې یو کونړي صاحب منصب دی ـ که له هغه نه پوښتنه وکړې ـ کاکا مې په چابکو ګامونو د بلاک مخې ته ورغی ـ موږ دواړه ولاړ وو چې بیرته راغی ـ وې ویل ـ هغه کس وویل چې زه یې پیژنم ـ مګر

دومره پوهيږم. چې د خيرخاني په دريمه برخه کې يې کور دی. کاکا وويل ـ موږ بايد په ټکسي کې ځان ورسوم ـ هلته به يې د کوم دوکاندار ، يا بل چا نه پوښتنه وکړو ـ د خيرخاني په دريم سړک له ټکسي نه ښکته شو ـ د سړک په غاړه څو دوکانونه ول ـ له يوه دوکاندار نه يې پوښتنه وکړه ـ هغه په داسې حال کې چې چاته يې له تلې نه د هلک په ځولۍ کې څه وراچول ـ وې ويل ـ وروره لږ وار وکه ـ چې دا هلک خلاص کړم ـ هغه چې وزګار شو ـ بيا يې وويل ـ ښه ورور څه دې ويل ؟ ده ورته کړو ـ وروره د يوه کونړي څارندوي افسر کور لټوم ـ که تاته يې معلوم وي ؟ وې ويل ـ ورور جانه زه يې نه پيژنم ـ خو دغه مخامخ کوڅه کې وړاندې د کوم افسر په کور کې واده دی ـ همغلته (غلته) چې ورشئ ـ پوښتنه وکړه ـ خامخا ستاسې وطنداران به پکې وي ـ موږ په کوڅه روان شو ـ د کوڅې نيمايي ته چې ورسيدو ـ په ښي اړخ يوه بله کوڅه ستنه شوې وه ـ مخې ته مو درې څلور هلکان راووتل ـ کاکا ترې پوښتنه وکړه ـ دوه هلکانو غبرګ وويل ـ هو پدې کوڅه کې مخامخ لاړ شئ ـ د هغوي د کور مخې ته ډير خلک لر بر کيږي ـ پوښتنه به وکړئ ـ رښتيا کله چې موږ د کوڅې بر سرته ورسيدو ـ هلته وړاندې د يوه کور مخې ته خلک خوځيدل ـ کشر کاکا خسر مې وويل ـ فکر کوم لالا چې همدغه ځای کې به يې کور وي ـ هغه وويل کېدی شي ـ کله چې هغه د خلکو ګڼه ګوڼې ته ورسيدو ـ له يوه ځوان هلک نه چې پکول يې په سر وو ـ څادر يې په اوږه پروت وو ـ پوښتنه وشوه ـ هغه په کونړۍ لهجه وويل ـ دغه د واده کور يې دی کنه ـ کاکا دوي يو تر بله سره وکتل ـ د واده کور يې دی ؟ په دې کې هماغه هلک زموږ نه مخې ته شو ـ وې ويل ـ راځۍ چې زه مو په هغه وسپارم ـ کاکا ورته وويل ـ خدای دې خير درکړي ـ هغه مخکې او موږ ورپسې شو ـ هلک په چابکو ګامونو له دروازې ننوت ـ موږ پسې مخ راواړو ـ په ډاډه زړه يې وويل ـ ازاد راځۍ مه دريږۍ ـ د کور بيرون او دننه له خلکو نه ډک ؤ ـ ماشومانو هم منډې

رامنډې وهلې - ځینې خلک په کوټو کې ډوډۍ ته ناست وو - هلک د کور دننه وویل- تاسو په دې برنډه کې ودریږئ- زه ورته غږ کوم- چې راشي- ما خو پخپله پړونې کې ځان تاؤ کړی وو - یوازې دوه سترګې مې ښکاریدې- مور دري واړو ځای پر ځای ودریدو - د هلک د بیرته راتګ لاره مو څارله-

لږه شیبه وروسته د کور دننه یوې کوټې نه هماغه هلک

راووت- ورپسې د سپین سر او سپینو بریتو سړی راووت چې سپینې جامې او تور واسکټ یې اغوستی وو - زمور پلو را روان وو - ماله مزل نه او پیژندو - مګر په ویښتانو او بریتونو یې شکمنه شوم - ځکه چې بیخي سپین اوښتی وو - دواړو کاکانو غبرګ وویل- همدغه دی- ښه چې مور ته رانزدې شو - ویې خندل- لومړی یې مشر کاکا ته غیږه خلاصه کړه - په روغبړ اخته شول- بیا یې کشر تره ته غاړه ورکړه - یو بل یې په غیږ سره ټینګ ونیول- کشر تره یې په ژړا شو - مشر تره یې وویل- دا دې میرمن ده- نور یې زنه ورپیده - ټینګ نشو - زما خو وار پار خطا شو - نوره ټینګه نشوم- چیغه مې له خولې ووته - هغه حیران ، حیران ماته راکتل- یو دم سلګو ونیو - یوازې دومره یې راته وویل- بچیان مې څۀ شول ؟ د هاغه په دې خبره مور څلورو واړو چیغې کړې - ټول خلک هک پک او حیران ودریدل- ناوې چې خبره شوه - هغې هم رامنډه کړل- زمور په منځ کې ودریده - څښتن مې د ژړا په حالت کې وویل- دامې ناوې ده نن مې واده دی- ناوې ته یې ور وکتل- ورته وې ویل- دا زما پخوانۍ ښځه ده - هغې هم سلګۍ پیل کړې- ماته راغاړې وته- له یو پلوه د ښادۍ شیبې وې او له بله پلوه زور ماتم له نوي سره یو ځای کیده-

# اووم څپرکی

غم د پاسه غم دی:

پینځه ویشت کاله وروسته:

جرمني د کولن ښار په روګنډ ورف نومې کلي کې ، پخپل کور کې په لیکلو بوخت ووم. چې کړنګ شو . د ټیلیفون زنګ راغی. غوږۍ مې چې پورته کړه. غږ راغی ویلې السلام علیکم. ما وې وعلیکم سلام. خپل کورنی نوم مې ورته واخیست. هاغه وویل. زه د کابل نه ستا پخوانی دوست ارام یم . د هاغه په دې خبره له څوکۍ نه جګ شوم . ودریدم . لومړی خو د هغه د نوم په اوریدو سره حیران پاتې شوم. د ټیلیفون غوږۍ مې لاس کې پاتې شوه. یوه شیبه چوپ پاتې شوم. هغه راباندې غږ کړ . وې ویل لکه چې ودې نه پیژندم که څنګه ؟ ما وې اومې پیژندې . خو فکر او سوچ ستاسې د تیر ژوند خوا ته ولاړ . ربښتیا دا راته ووایه چې ستا هغه دواړه میرمنې دې اوس درسره دي ؟ وې ویل هغه پخوانۍ میرمن مې شته ژوندۍ ده. هغه دویمه میرمن مې یوه میاشت مخکې مړه شوه . یوازې د هغې نه یوه لور لرم. چې اوس پوهنتون کې زده کړې کوي. ما وې ډیر ښه. ستاسې میرمن چې زه یې خپله خور ګڼم. زما سلام ورته وکړه. وروره هغه څنګه ده ؟ شکر ښه ده. اوس لږ څه بوډۍ شوې ده. خو روغتیا یې ښه ده. ما وې غوږ ونیسه. څه درته وایم. هغه ویلې ښه. غوږ مې دی. ما وې که ستا فکر وي پخوا کلونو کې مې ستا د کورنۍ د ترخه حقیقت او ترخې تراژیدۍ انځور کاږلي وو . اوس مې د هغه داستان په باب پریکړه کړې . چې په کتابي بڼه یې بیا ځلې خوندي کړم اند یوالـه تا خوپه تړلې کڅوړه کتاب کې د هغه داستان اخري برخه پریښې وه ما وې دا خو به لاښه شي چې هغه پاتې برخه راته همدا اوس په ټیلیفون کې ووایې. داسې یې وویل کوم وخت چې هغو زما دوه تنو کاکا ګانو زما میرمن

کابل ته راوستې وه. هغوي څو شپې راسره وکړې. بیا یې غوښتل چې بیرته کلي ته ستانه شي .ما ورته ویل څو شپې نورې راسره یو ځای تیرې کړه. هغوي دا خبره کوله چې په کلي کې زمونږ کارونه نیمګړي پاتې دي. او هم مونږ دواړه راغلي یو . په کور کې بل سرپرست نشته دی. باید چې کلي ته بیرته زر ستانه شو .زه ورسره نور ټینګ نشوم. هغوي سره مې مخه ښه وکړه او لاړل.

کله چې کلي ته رسیدلي وو چا یې د مجاهدینو امریت ته شیطانت کړی وو .چې دوي زما میرمن کابل ته راوستې وه دواړه یې له کوره بیولي وو . لومړی یې ترې تحقیقات او پوښتنې کړې وې. څو ورځې یې بندیان کړي وو. بیا یې لاس تړلي شیندرې په کلي کې د بلا په کنده کې وژلي وو. پس له مرګه یې په مړو د پاسه اور بل کړی وو .وروسته یې د هغوي هډوکي او ایره سیند ته غورزولې وه .په دې خبره زما لاس کې د ټیلیفون غوږۍ ورپیده. هغه ته مې دومره وویل. پوه شوم د خدای په امان.

یوه شیبه پخپل ځای زینګر کښیناستم. د سوچ او فکر نیلی مې د اصلي پیښې نه پنځه ویشت کاله وروسته ان تر هغو کلیو او غرونو ، ځنګلونو ، خوړونو ، درو او تاترو تر کاږو بوټو وځغلید .ما خو هلته هر څه پخپلو سترګو لیدلي او کتلي وو . په هغو خلکو کې څومره مینه او محبت ، یو له بله ځاریدل ول. د کلیو په جوماتونو کې په امامانو پسې درنې درنې جمعې ، په ممبر د واعظانو خواږه واعظونه ، ساپیواله پښتو غیرت ، اخترونه ، اشرونه ، او دغه شان ټولې ، ټولنیزې خواخوږۍ په هغو زړونو او سرونو کې موجودې وې .لکه چې دا هر څه چا واخیستل ؟ باور مې دی چې دا ټولې نادودې ددې یوویشتمې پیړۍ دي.

پای

## د محمدا جان یار چاپ شوي اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | کوکارۍ | شعري ټولګه |
| ۲ | سره ډولۍ | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۳ | د کونړ تاتري | تحقیقي او تاریخي اثر |
| ۴ | ویر | شعري ټولګه |
| ۵ | تړلې کځوړه | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۶ | د لیلیې دښته | ناول،سترګو لیدلی حال |
| ۷ | هوسۍ | ناول |
| ۸ | ځانګه | ناول |
| ۹ | یه قربان | شعري ټولګه |
| ۱۰ | دا ژوند او دا ځیري | ناول |
| ۱۱ | ګلاب او فرښته | ناول |
| ۱۲ | ویرونه بهیرونه | همدا ناول |

## چاپ ته چمتو اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | اوښکې | شعري ټولګه |
| ۲ | بحرونه او ساحلونه | سفرنامه |

www.pashtoonkhwa.com

# دا ژوند او دا خيرې


## کتاب پېژندنه

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | ــــــــ | دا ژوند او دا خيرې (ناول) |
| ليکوال | ــــــــ | محمدا جان يار |
| خپرونکی | ــــــــ | د پښتونخوا د پوهنې ديره ، پېښور |
| د چاپ شمېر | ــــــــ | ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ نېټه | ــــــــ | ۱۳۸۲ل / ۲۰۰۸ م |
| چاپ وار | ــــــــ | لومړی |
| چاپ زيار | ــــــــ | بصير بيدار ستوری |
| کمپوزنګ | ــــــــ | ارشاد خان (پښتو اکېډيمي ) |
| قيمت | ــــــــ | ۱۳۰ کلدارې |

## د ملاوېدو درکونه

- يونيورسټي بُک ايجنسي خيبربازارپيښور، پښتونخواه
- دانش کتابخانه ډهکي نعلبندي پېښور ، پښتونخواه

# ډالــۍ

د افغانستان

زوريدلو خلکو ته

## څو خبرې

په تیرو درې لسیزو کې زموږ په هېواد کې د ژوندانه د بېلو بېلو پړاوونو خوندونه ، رنګونه او شکلونه ولیدل شول .هر چا خپل ځان او نور یې د دغه بهیر په هنداره کې ولیدل.هرې ډلې ټپلې خپل خپل کردار ادا کړ. ځینو پکې سرونه وخوړل د چا پکې سټه وختـه ځنې پکې قوماندانان سالاران شول.دنیا هم لکه د ارهټ منګوټې داسې ده.یو پر بل پسسې اوړي راوړي .د وخت جبر او د اولسونو زور هم د سړي ستونې وچوي د پردیو ایډیالوژیو زمونږ اولس خوار او تالا ترغۍ کړ او څوک یې په دار پورته کړل .د مودو مودو واعظانو منبر پرېښود .امامانو او طالبانو جومات چورلټ خوشې کړ .د ملک ورانوونکو پکول سرونو ، ورسره د سپینو قبا قسم خوړونکو پاټک واکیانو ، د شمال ګوری کله چپا ولګرو د اسلام د سر مغروره او کبر جن جاه طلب او لوی قاتل ، پیت پوزو ، مطلب موږ ټولو د خپل غریب افغانستان بې وزله اولس په وینو کې ولمباوه.د هېواد هر څه تالا شول.کلي ، کورونه ، ښارونه وران شول. کابل یې لوټې لوټې کړ.د خلکو په عزت او ناموس لوبې وشوې.دا ټول وژنې او وحشت د افغان په تاریخ کې د شرم او بې ننګۍ خوشی باب ګڼل کېږي.ددغو غم لړلو پېښو داستاني کول او راتلونکو نسلو ته پرېښودل د قلموالو کار دی.ګرانو لوستونکو زه کوم داسې تکړه لیکوال نه یم.خو باور وکړئ چې د تېرو ناوړه پېښنو چې زموږ په مخکې تېرې شوې دي. دې ته اړیستلی یم.چې یوه یوه یې ناول او داستان کړم.ځکه چې د وخت په تېرېدو سره دغه قیصې او پېښې چې ژوندۍ او رښتیانۍ دي له یاده اوځي او مړې کېږي .ښه به دا وي چې هره یوه یې ولیکل شي او د ناول ،

داستان او لنډو قیصو په انداز کې راوستل شي او خوندي شي .نو ځکه مې په همدې هیله دا ژوند او دا ثیری د سریال ډوله ناول په چوکاټ کې سره له ډېرو نیمګړتیاؤ ستاسو په مخ کې کېښود .دا تاسې او دا ناول.

محمدا جان یار

## لومړی څپرکی

سیمر په احتیاط سره د ژرندې په جاروګۍ اوړه د پل له غاړې نه راجاور کول. ژرنده ښه په درز ګرځېده. ګنا یې ته وړه راتوئیدل. د هغه په خړ پکول او برېتانو پورې اوړه سپین ښتي ؤ. جارو پلاس یې سر له ژرندې نه بهر کړ. یو لاس یې پاس په درشل کېښود. په ښي لاس کې یې جاروګۍ نیولې وه. بېرون یې شاو خوا یې له سترګو را لاندې کړه. د خان په کلا او باغ باندې یې هم سترګې تیرې کړې. د ژرندې بهر انګڼ کې درې تنه پخپلو بوجیو د پاسه ناست ول. څنې بوجۍ او ګوډې سر په سر یو د بل له پاسه ایښې و. یوه بوډا سړي وړاندې د یوې زړې ونې ډډ ته تکیه وهلې وه. شپېه پس به یې یو نیم درونند ټوخی کاوه. د ژرندې تر څنګ د یوې بلې کوټې څنګ ته د سیمر مور په تبۍ سوکړک پخاوه. خواته یې یوه چرګه له بچو سره ګرځېده. چې په خانک به ورغوټه شوه. زړې به چرګه کشې کړه. میراته شې به یې ورسره وویل. کله خو به ظالمې چرګې پخپله مښوکه کې د اوړو غونډاري وتښتولو. چورګوړو به هم ورپسې منډه کړل. قت قت چرګې به بچو ته اوړه په مښوکه ور وښېندل. ټول به پرې لګیا شول. د توت ونې په منډه به ټېس ددغې چرګې بچو ته سترګې ډومارلې. خو د ظالم چرګې نه یې په خدای که چورګړي وړای شوای. چرګه له بچو سره کلک سترګې وه. د لاس په خوزولو او کشې نه وه. بوډۍ به د خپل تور ټیکري په پیڅکه پوزه پاکه کړه. په قهر به یې وویل. کشې حلاله شې. څومره اوږې سترګې دې دي. بیا به یې لاس د اوبو په کاسه کې ورښکته کړ په خانک به یې د اوړو له پاسه اوبه وروشیندلې. سوکړک یې جوړولو. د ژرندې اړخ ته دیواله ته نزدې غوا تړلې وه. خوا ته یې اخور ته نزدې خوسکی هم تړلی و. یوه بله کوټه د

ژرندې شاته د سيمر دوې د اوسيدو وه . د ژرندې نه لاندې د ځمکې تل کې سيند بهېده . د سيند په دواړو خواو غرونه په شنو ځنګلونو ډک ښکاري . د ژرندې له پاسه ښي اړخ ته سړک تېر شوی دی . د سړک پغاړه د کلي د خان د بڼ ديوال ان د عره ډډې ته ختلی دی . په باغ کې چينارونه او ديوال ته څېرمه د سبر او ناجو ونې جګې ختلې دي . د خان د کلا برجونه خو له ليرې ښکاري . دننه بڼ کې د چينار لاندې صوفې کې څو تنه ناست دي . ملک هم په کټ کې پلتی ـ وهلې ده . ټولو ته چاې په ميز ايښې دي . ملک وويل ، اجمير خانه تاسو پوهېږئ چې په دې وختونو کې هغه پخوانی ـ خبرې په دې ځينو کسانو ښې نه لګي . په تېره بيا دا نوی نسل چې کم دی . اجمير پياله کېښوده له جيب نه يې د نسوارو ډبلی راويوست ، نسوار يې وتوږل په دوه ګوتو يې نسوار خپل او خکې ته تېر کړل او شونډې يې پورې کړې . وې ويل . ملکه ستا خبره سمه ده . پخوانی ـ خبرې لاړې . نوي حالات را روان دي الله مو دې ايمان ته خير کړي . دننه کلا کې د خان مېرمن له خپلې خور سره په کټ کې ناسته ده . چاې ورته مزدورې راوړو څو ماشومان هم په حويلی ـ کې سره لوبې کوي .
زرکه له ښوونځي نه راغله . مورې سلام عليکم . وعليکم لورې راغلې . ستړې مشې . زرکه د مور کټ ته نزدې راغله . بکس ترې مزدورې ونيوه . هغې خپل سر د مور په غېږ کې کېښود . وې ويل مور جانې ستړې شوم . د مکتب لاره ډېره ليرې ده . زرکه د ملک ايکي يوه لوره وه او يو مشر زوی او دوه نور واړه زامن يې درلودل . زرکه په نهم ټولګي کې وه . هغه ډېره ښکلې وه رښتيا ام چې زرکه وه . په ټول کلي کې څه چې په ګرده سيمه کې د زرکې د ښائست اوازه خپره شوې وه . د زرکې دنګې ونې او سپين مخ ، تورو سترګو د کليو ډېر ځوانان په تمه ناست وو د زرکې مور مزدورې ته وويل . کشمالی ـ زرکې ته ډوډی ـ راوړه کشمالی ـ ښه بي بي دستي يې راوړم . زرکه تشناب ته لاړه لاسونه يې پريمنځل او بيا يې په آئينه کې د

خپل مخ او ښکلا په تماشه نه مړيده .لږه شېبه وروسته د خپلې کوټې مخې ته ډوډۍ ته په مېز کښېناسته .دوه درې مړۍ يې وکړې په سوچ کې لاړه .( سيمر يې په زړه را واوښت.له وړوکتوبه يې هاغه سره لوبې کړې وې.د تنکۍ ځوانۍ په وخت کې يې لومړۍ هاغه شېبه په زړه کې تېره شوه کم چې په لومړي ځل دواړو په باغ کې لوبې کولې او د مينې په خبرو اخته وو.دواړو يو پر بل مينه ورغلې وه ) له ډوډۍ خوړلو نه وروسته هغې غوښتل چې ژرندې ته ورشي او په سيمر يې سترګې ولګېږي.د سيمر مور خپل زوی ته ورغږ کړو .سيمره وا سيمره زويه ، هاغه خو دننه ژرنده کې وو کله يې د مور اوازونه اوريدل.مور يې کله چې خپل بوډا ته ډوډۍ کېښوده بيا د ژرندې وره ته نزدې راغله وې ويل سيمره زويه ډوډۍ تياره ده .زه به ژرندې ته ودرېږم.ته ورځه پلار سره دې يو ځای وخوره .سيمر له ژرندې راووت خپلې جامې يې وڅنډلې په لښتي کې يې مخ او لاس وينځل په خادر يې مخ وچ کړو .د پلار سره په ډوډۍ کښېناست.په شکور کې سوکړک په يوه کاسه کې سابه او په بله کې ورته شوملې ايښې وې.د شوملو په کاسه کې يوه څمڅۍ پرته وه.وار په وار به پلار او زوی ګوټ په څمڅۍ کاوه د ډوډۍ په سر د سيمر په زړه کې ور وګرزېدل.سيمره دغه دې حال دی.وړوکی وې را لوی شوی بس همدا سوکړک او سابه دې خوراک دی .دې ژرندې هم د هلکانو سره د لوبو نه ايستلی يې.دا خو پرېږده چې څوک به خور و لور هم درنه کړي څکه چې ژرنده ګړي ته څوک خور لور ورکوي ؟رښتيا چې د زړکې سره خو زه بې شانه مينه لرم او هاغه ؟نه پوهېږم چې څنګه به شي ؟د ملک لور زرکه او زه.نه نه فکر نه کوم.هغه به دا ژوند له ما سره کله قبول کړي ؟مور يې د فکر او سوچ تار وشلاوه وې ويل:-

سيمره زويه خان څواب رالېږلی چې په باغ کې د ګلونو پټی په بيل واړوې.د ژرندې کار ته به زه ودرېږم.ته باغ ته لاړ شه.سيمر د سوکړک

مړی په لاس کې وه چې په تونده لهجه یې وویل ـ مورې د ملک دې ډېرو بیګارونو لېونی کړی یم ـ بېرته یې په زړه کې ور تېر شول ( خوار شې کېدی شي چې هلته باغ ته زرکه هم راشي ـ لا ښه ده د هغې سره به اوګورم ) زر یې مور ته وویل ښه ده مور جانې ورځمه ـ

سیمر له ډوډۍ نه وروسته خپل لاس په ویاله کې د ژرندې د ګنایې په سر وینځل خپل څادر باندې یې له ځانه د اوړو دوړې وڅنډلې ـ د باغ په لور په کرار کرار روان شو ـ هغه د بڼ دروازه خلاصه کړه او ورننوت ـ باغ کې هر راز ونې ولاړې وې ـ میوه دارې ونې لکه مالټې، سنترې ، الوکاټ ، انار ، انګور ، منې ، زردالو ، الوبالو ، الوچې ، نارنجان ، چکوترې او داسې نورې میوه دارې ونې ولاړې وې ـ د باغ سرته د حجرو مخې ته لویه جګه د چینار پخوانۍ ونه ولاړه وه چې لاندې ترې د ناستې لویه صوفه وه کټونه پکې پراته و ـ شا و خوا په نریو سمنټي لښتو کې روڼې اوبه بهېدلې ـ په دغه دېره کې به تل یو تن خدمتګار خدمت کاوه ـ له بڼ نه شا و خوا درې متره لوړ دیوال احاطه شوی و ـ له لیرې نه ددغه باغ د ناجوګانو ونې ښکارېدې ـ لاندې د باغ تر څنګه سیند بهیده ـ د باغ بل اړخ نه پورته د غره جګه موړه راښکته شوې وه ـ سیمر باغ ته ننوت او په بیل وهلو یې پیل وکړ ـ په پټي کې یې بیل واهه او خولې ترې بهیدلې ـ خپل څادر او پکول یې د ګلونو پټي په باره ایښی و ـ د سر وېښتان یې په چپه خوا خواره واره پراته و ـ سیمر ښکلې ځواني درلوده ـ لوړه ونه ، سپین سور رنګ ، غټې سترګې پوه او ارام زلمی و ـ لا د اوولسو کالو ژړنکی و مګر په خوي کې د پوره سړي نه کم نه و ـ د کلي په خلکو ګران و ـ بیل وهل یې بس کړل هاغه بیل په پټي کې ښخ کړو ـ د مخ خولې یې وچې کړې ـ د ونې لاندې سیوري ته کښېناست ـ په سوچ او فکر کې غلی ناست و ـ ( په زړه کې یې ویلی ، عجب دنیا ده ، د چا هسې ژوند دی د چا یوه لویشت مځکه نشته څوک څنګه او څوک څنګه پېدا دي ـ

د خان د دېرې مزدور يو باسواده پوه سړی ، ولې غريب او د بدن نه خوار زليله او ناورغه و. د سيمر او زرکې ټوله قيصه يې راته پخپله کوله.
ده ويلي د ملک لور زرکې خپل وړوکی ورور له لاسه نيولی و. باغ ته راننوته. ماته يې غږ کړو. پيرو اکا سيمر ته د ښبلو اوبه يو سه چې بيچاره تږی به وي. ما وی ښه دا دی اوبه ور وړم ما د اوبو لوټه سيمر ته يوړه. کتل مې چې هغه په سوچ او فکر کې غرک ناست و. ور غږ مې کړو. سيمره څنګه په ځُرت کې ناست يې؟
هغه وی ستړی مشی پيرو اکا. خبر يو سې. لکه چې ستړی شوی يې که څنګه؟ نه نه ستړی نه يم. هسې دې ګرمۍ په عذاب کړم دا سيوری راباندې ښه ولګېد خدای دې ژوندی لره چې دا اوبه دې راته راوړې. ثواب دې راباندې وګاټه. اخ وای ثواب دې راباندې وګاټه. دا خو راته د ملک لور زرکې وويل. دا څه وايې؟ دې خلکو کې ګني دومره انصاف شته دی؟ زه هم دې ته حېران يم. دوي خو غېر له ترخو او بدو خبرو نه چاته سمه خوله نه خوزوی مګر....؟ هغه ده زرکه د خپل وړوکي ورور سره را روانه ده. لکه چې همدلته راځي. رښتيا سيمره زرکې سره خو تا ډېرې لوبې کړي دي. زمادرته خيال دی د وړوکوالي تاسې دواړه ملګري ياست. نه پوهېږم اوس پېغله شوې ده. چې څنګه؟ يره پيرو اکا ستا هر څه ته فکر دی. ولې ستا څه خيال دی چې درباندې نه پوهېږم. په خوله دې برکت شه. هغه د وړوکتوب خبرې لاړې. اوس هغه چيرته او موږ چيرته؟ د ظالم زويه ته چې دا ځواني لرې هندوې درته مسلمانېږي. ګوره ماته چې نه مې ځواني معلومه شوه او نه مې څه وليدل. بس همدا د ملک د حجرې او دېرې کارونو دې حال ته ورسولم. زه درنه ځمه هغه درباندې چکر را وړي. پيرو لاړ روان شو. خان يې ديرې ته ورسواؤ په کټ کې يې تکيه ووهله. سيمر د اوبو لوټه بيا په سر واړوله اوبه يې وڅښلې او په بيل وهلو يې پيل وکړ. له ځان سره يې نرۍ نرۍ دا لوبه زمزمه کوله.

محبت چې سرې لمبې لمبې نه وای
لـېـونی بــه تـــا پسـې نـــه وای

زرکې چې وروړ یې له لاسه نیولی و ـ په باغ کې چکر واهه ـ پیرو اکا ویـل سیمر به په ډډه یوه سترګه د زرکې خوا ته وروکتل او لوبه یې هم هغسې په خوند ویله ـ زرکه د ګلونو په پټو کې کوزه ورتاوه شوه او د سیمر خوا ته ورنږدې شوه ـ له یوې ونې یې ځان پناه کړ او د سیمر لوبې ته یې غوږ ونیو ـ د هغـه د لـوبې غـږ ددې د زړه نـه تېـر و بېـر وتلو ـ ورو ورو ور روانـه شوه ـ تر څو د سیمر تر شا د ګلاب بوټي تر شا ودریده ـ پـه یـوه لوټـه یـې سیمر وویشت ـ هاغه زر مخ راواړاوه ـ څه یې په سترګو ونه لیدل ـ او تر اوتر یې وکاته ـ په دې وخت کې زرکـه پـه خندا شوه د ګلاب لـه بـوټي نـه راووتله او د سیمر خوا ته را روانه شوه وی ویل ـ

سیمره څومره خوږ غـږ دې دی ـ سم دم خیال محمد یې ـ سیمر د تندي خولې په ګوته وڅنډلې وی ویل ـ زرکې زه خو درته معلوم یم له وړوکتوبـه مې پیژنې ـ ولې ته نن سبا ته د ځوانۍ پـه مستۍ کې یې او زه یو ژرنده ګړی سیمر ـ د ظالم بچیـه ماتـه خو ژرنده ګړی نـه بلکې هماغـه مرغـه ښکارې کوم چې سیمر یاد برې ـ زرکې ته ربښتیا وایې ؟

زرکې وروړ له لاسه ونیو لاندې پټي ته کیوته د کلا له دروازې او د برې نه پناه شوه د سیمر خوا ته ورغله ـ وروړ یې د ګلونو بوټو کې د ګلونو سره مصروف و ـ زرکې خپل وربل ته څنډ ورکړ ـ وی ویل ـ درباندې پوهـ یمه چې هغه د وړوکوالي مینـه محبت دې اوس بـــل ډول شــوی دی ـ زه ګنې درباندې نه یم پوهـ ؟ چې ربښتیا راباندې وایې زما او ستا مینـه اوس ربښتیاني مینه ده ـ خو ...

د زرکې اننګې سره اوښتې و ـ په موسکا یې وویل ـ دا خو دې څنګه وویل ؟ دا خو مې ځکه وویل چې زما غریبي او ستا سره مینه ؟ بس بس دا خبره چې بیا ونه کړې ـ مینه په دولت نه خرڅېږي نو چې دا سې ده پرېږده پرېږده

.دا وخت د دې خبرو نه دی ؟بیا به ګورو .دواړه سترګه په سترګه شول. زرکې لاندنۍ شونډه وچیچله په مخ یې دانه دانه خولې پرتې وې.دواړو ښه شېبه د مینې تنده ماته کړه .زرکې وویل ته احتیاط کوه چې څوک رانه دې پوه نشي.هغه روانه شوه.سیمر وویل سمه ده خو مینه کله پټه پاتې کېږي.زرکه روانه شوه خو دا لنډۍ یې نېغه زړه ته ودربده.

مینــه دې پــټـه پاتې مه شه

رب دې رسوا که چې تاوان درباندې شمه

ورور یې له لاسه ونیو او باغ کې د کور په لور روانه شوه .په تلو تلو کې به یې سیمر ته کتل تر څو د کلا په دروازه ننوته.

سیمر په چالاکۍ سره څو بیلونه ووهل په زړه کې یې ورتېر شول (سیمره لکه چې کار دې کېږي خو حېران دې ته یم چې د ژرنده ګړي او د ملک به ګني وشي .یره ګمان خو نه کوم .هغه ودرید د بیل لاستی یې زنې ته ولګاوه له ځان سره یې وویل .همدغه یوه لاره یې شته چې زرکه راسره کلکه ودرېږي.په هغه صورت کې هر څه کېدای شي.هو هر څه کېدی شي .نن دا کار بس دی.چې لاړ شم مور بیچاره مې یواځې ده) بیل یې په مځکه نال کړو او د کور په لوري له باغه ووت.په چابکو ګامونو یې ځان ژرندې ته ورساوه.له ورایه یې مور ته ورناري کړې.ادې و ادې ، مور یې دننه په ژرنده کې وه.راساً ژرندې ته ورننوت.مور جانې لکه چې ستړې شوې به یې.نه نه زویه دومره کار مې نه دی کړی چې ستړې مې کړي. یوازې دغه یوه بوجۍ غنم پاتې دي.اوس خلاصېږي.ته که چیرې کار لرې کولی شې.چې لاړ شې.ښه مور جانې یو ځل به بابا او ګورم چې څنګه دی .هغه بلې کوټې ته ورغی پلار ته یې سلام واچاوه وعلیکم سلام بچی ستړی مشی.بابا په جګ اواز وویل.پلاره څنګه یې ؟څه شي ته خو ضرورت نه لرې .نه بچی هیڅ ته ضرورت نه لرم د خدای فضل دی ښه یم.لږ وروسته جومات ته مانځه ته ځم.ماسپښین نزدې دی بابا زه هم

د کلي وستل ته ښکاره کېږم. ښه بچې ځه لاړ شه. سيمر له ژرندې نه د کلي وستل ته روانېږي.

سيمر يو هوښيار او زيرک چالاکه زلمی و. په کلی کې بل دغسې ښکلی ځلمی نه و. ډېر دوستان او همزولی يې درلودل په ټولو ګران و. هغه په چابکو ګامونو تر کلي ورسېد لا وستل ته نه ورسېدلی چې دوه درې د ټوپک ډزې يې واورېدې. هک پک شو شا و خوا يې وکتل. لا يې ګامونه چټک کړل. په څو قدمونو کې وستل ته ورسېد. په وستل کې د کلي خلک پنډ شوي وو.

## دویم پړک ( دویم څپرکې )

نائي (ګلابی) د وستل په منځ کې ناست و سرونه یې جوړول.له کلي نه یو تن ساه نیولی هلک ګړندی وستل ته راغی .په شیرو اکا یې زیری وکړ ویلی کاکا زیری مې دربانديې زوې دې وشو .دا ډزې یې ستا په زوی وکړې.
د کلي ناستو کسانو شیرو ته مبارکي ورکړه .له ډېرې خوشحالۍ نه د شیرو خوله نه راغونډېده سمد ستي له ځایه پاڅید او کورته روان شو . ځینو ورپورې ټوکې ټکالې هم وکړې خو هغه په ځان نه پوهېده په چابکو ګامونو کور ته لاړ .د سترګو په رپ کې د خلکو له نظره پناه شو .سیمر د وستل څنګ ته خپل دوه تنه اندېوالان ولیدل د هغوي سره یو ځای شو دواړو ورسره د لاس سترې مشې وکړه .یوه وویل سیمره خبر شوې د شیرو اکا زوی وشو .ډزې دې واوریدې.هو وامې وریدې.یوه هلک په شیرو اکا زیری هم وکړو .او هغه په چالاکۍ سره کور ته لاړ .اندېوالـه دا ډېره موده کېږي چې هیڅ ډز مو نه و اوریدلی.د شیرو په زوی کې درې ډزې وشوې.یو وویل سیمره دلته خو ډزې یوازې په واده او یا زوی کې کېږي نو بل وویل هر چا کره خو ټوپک هم نشته.یو نیم کور کې که کوم چرا یز یا شلخی ملخی وي ، وي به.دریم هلک وویل دا خبرې پرېږدۍ مازدیګر دی ځئ چې د ګودر په لور چکر ووهو.سیمر وویل لکه چې نوی مین شوی یې ؟ په دې کې د مینتوب څه دی .د کلي ځوانان خو هر مازدیګر د ګودر خوا ته روان وي او ته ولې دا خبره کوې .د ظالم زویه ستا غوندې ځواني مې که درلودې یوه ام رانه والله که بچ پاتې وای.مونږ ته ګوره هسې میلو غوندې چې نه مې رنګ شته او نه مې ځواني.والله که جینکۍ راته اوم ګوري .هلکه پرویزه داسې ده که نه ؟ مایوسه کېږه مه

زموږ دې څه چیناري ونه ولیده .یوازې سیمر دی چې جینکۍ ورپسې کړې رواني وي.اولې بیا وویل خدای دې په ده خپله ځواني پیرزو کړي. راځئ چې چکر ووهو .سیمر او انډیوالان یې په چکر چکر ګودر ته روان شول.
په کلي کې ګڼه ګوڼه د خلکو زیاته وه.د شیرو اکا په کور کې خوشالي وه .ښځې او نر ورکره ښکته پورته کېدل .هغه په حجره کې د ځو تنو نږدې خپلوانو سره ناست و .یو تن چاینک په لاس خلکو ته په پیالو کې چاې وراچاوه.د چم ګاوڼ ښځې او ماشومان ورکره تله راتلل.
په حجره کې یو تن شیرو ته وای .زوی ته دې نوم خوښ کړی دی ؟شیرو چې د تندي ګونځې یې هوارې ښکارېدې له خوښۍ نه یې زر زر یو بل ته کتل وی ویل .زما خو طالب جان خوښ دی.زړه مې دی چې طالب جان پرې کېږدم.ناستو کسانو وویل چې ستا خوښ وي همدغه نوم ښه نوم دی.
یوه وویل بس طالب جان یې نوم شو .ټولو لاس پورته کړل په ګډه دعا وشوه.شیریني وویشل شوه.یوه تن وویل.ملا ورته په غوږ کې اذان کړی دی ؟شیرو وویل هو پرون ملا امام ورته په غوږ کې اذان کړی دی.
یوه د پاخه عمر سړي وویل.د مانځه وخت دی ځئ چې جومات ته لاړ شو. خدای دې شیرو ته طالب جان پاتې کړي.ټولو په یو اواز وویل.الله دې صالحه رالوی کړي.له کوره اوځي.او جومات ته روانېږي.د کلي په تنګو کوڅو کې خلک ځي راځي کلی پوره لوی کلی دی .ډېر خلک پکې اوسېږي.کلی د سیند پغاړه پروت دی.د غره پښه ان کلي ته راغزېدلې ده.ددغې غره بل اړخ ته هم په نږدې فاصله کې دوه کلي پراته دي.په هغو کلیو کې هم پوره ګڼ مخلوق ژوند کوي.په هر کلي کې خامخا لس دولس دوکانونه موجود دي .د ضرورت وړ شیان پکې پلورل کېږي .په دوکانونو کې د خلکو ګڼه ګوڼه زیاته وي ځوک له کلي نه کڅ ته راوځي

ځینې په پټیو کې کارونه کي .شنه فصلونه ، سیندونه او غرونه د کلیو ښکلا لا پسې زیاته کړې ده.
لومړۍ څپرکې :- سیمر په ژرنده کې دننه په کار اخته دی په ورو یې مخ او جامې سپینې ښکاري.لګیا دی په بوجۍ کې وړه اچوي.بیاد بوجۍ خوله تړی.بوجۍ یې له ژرندې نه بهر راویسته.په نورو بوجیو پورې یې تکیه کړه .پخپله دوباره ژرندې ته ننوت.زرکه د خپل باغ دیواله پورې نزدې د ژرندې خوا ته په چابکو ګامونو را روانه ده.خپلې سترګې یې ژرندې ته نیولې دي.تونده روانه ده.هغه هره ورځ ژرندې ته راتله.د هغوي خپله ژرنده وه او هم هغوي دواړوله وړوکوالي به په دغه ژرنده کې سره لوبې کړې وې.زرکه د نوې ځوانۍ په مستۍ کې راغلې وه.او د سیمر سره یې مینه درلوده.څومره چې ښکلې وه.هغسې ښکلې جامې اغوستلې.په دغه شېبه کې هم هغې ښکلې جامې اغوستې وې.ژرندې ته رانزدې شوه.
سیمر بله بوجۍ په ژرنده واړوله چې زرکه د ژرندې په وره کې ولاړه وه. په ژرنده دانې وړه کېدې.سیمر ورته کتل یو لاس یې پاس نیولی و او په بل لاس کې یې جارو وه.په سوچ کې ولاړو په زړه کې یې ور تېر شول ( زرکه راسره مینه لري .خو خبره دا ده چې پخپله وعده راسره ټینګه ودرېږي.نه پوهېږم د خان لور ده او ته یو پمن ژرنده ګړی.چیرته هغه او چیرته ته ؟ دا څنګ کېدی شي.او که پلار یې راباندې خبر شي والله چې ژوندی مې ښخ نکړي.لږ چوپ ودرید ) زرکې پرې غږ کړو سیمره ده د ژرندې له ګړه زا نه ، څه نه اوریدل.یوازې ورو ته یې کتل.بیا یې پرې غږ کړ.سیمره دا ځل یې د هغې غږ واورید مخ یې را واړاوه.هاغې هم ده ته مخ ور واړاوه اخ یې له خولې ووت .وی ویل که د ایمان سوال مې کړی وی خدای قبلا وه.څنګه د ایمان سوال دې کړی وی ؟

دا ته مې په زړه کې اوس ښکته پورته کېدې. وې خندل وی ویل په زړه کې مې له ځانه سره همدا ویل چې زرکه در سره تګې ونه کړي. دا زما غریبي او د هغې... بس همدا مې په فکر کې ګرزیدل چې ته راغلې. سیمره زما او ستا د ماشومتوب لوبې په مینه واوښتې. دا خبرې دې له سره اوباسه مینه خاني او غریبي نه غواړي. ته خو راځه رانوزه دننه ژرندې ته راشه. نه څوک به راشي. ژرندې ته خو سل کسان د ورځې راځي. دا سې وکړه چې د باغ کار ته راشه چې هلته سره اوګورو. ښه ده زه درځمه. زرکه له ژرندې روانیده چې سیمر ور غږ کړ. ګوره زرکې په منډه دروازې ته راغې زرکې مخ ور واړاوه. دواړه سترګه په سترګه شول. زرکه موسکۍ شوه. څه دې ویل؟ سیمر ځای پر ځای ودرید یوازې د هغې سترګو ته یې کتل وی ویل څه به وو ایم. زرکې هم ترې سترګې نه ایستې په کتو کتو کې ترې را روانه شوه. د باغ دیوال پورې د خپلې کلا په لور ورو ورو روانه وه او سیمر ته یې شېبه په شېبه مخ وراړاوه. سیمر ام ورته د ژرندې په دروازه کې ولاړ و. تر څو چې زرکه د کلا په ګوټ ترې راپناه شوه. دننه په کلا کې ملک په کټ کې بالښت ته تکیه وهلې وه. میرمن یې مخامخ ورته په څوکۍ ناسته وه. وړوکې زوی یې وړاندې د کوم دهقان له زوی سره په لوبو اخته و. د ملک مشر زوی په ښار کې لوړې زده کړې کولې. کله به کلي ته په رخصتۍ راغی. ملک ورو ورو میرمنې سره خبرې کولې. دا خبره یې ورته راواخستله چې د کوز کلي خان یې د لور پوښتنه د خپل زوی لپاره کړې ده. ولې ما ورته لا څه نه دي ویلي. زوی یې په ښار کې لوړې زده کړې نه دي کړي. خالي دلته یې دولسم پاس کړی دی. زرکه دا خبره د پلار د کلا په دروازه کې اوري. ښه نیولې کېږي. ملک ښځې ته وای. ښځې تا خو به لیدلی وي که نه؟ نه ما څه لیدلي. پلار یې پېژنم چې کله کله تا سره راځي. سړیه زه فکر کوم چې ښه شتمن سړی دی. هو ډېرې مځکې او مالداري لري بل داسې څوک شته ام نه. د

زوی نوم یې دلبر دی ـ ښه جګ زلمی دی ـ کله نا کله په اس سپور دې کلي ته هم راځي ـ زما خوښ شوی دی ـ نه پوهېږم چې ته پکې څه وایې ؟ نه پوهېږم سړیه چې د زرکې به رضا وي که نه ؟
زرکه څه کوي ـ د هغې رضا وي که نه ـ دا کار به کېږي ـ د کلا په دروازه کې ټولې خبرې زرکې واوریدې ـ په ګړندي ګامونو هغه ورغله د مور او پلار نه په ډډه تیره شوه ـ خپلې کوټې ته وختله ـ مور یې خان ته وویل لکه چې زموږ خبرې زرکې اوریدلي دي ـ ځکه په څنګ تیره شوه ـ حالت یې خراب راته معلومیده ـ خو بیا هم زه به یې وپوښتم چې څه وایي ـ اوس خو داسې وخت دی چې د اولاد نه باید په دې هکله پوښتنه وشي ـ هغه پخوانی وخت نه دی ـ ملک وویل ـ ته ورسره وغږېږه زه خو دا کار نه کوم ـ زما په کار کې به هغوي څه وکړای شي ـ ته دا خبرې ماته پرېږده ـ تا خو لا چاته تر اوسه سر نه دی خوځولی ـ زموږ لور زرکه لا وړه ده د ورکړې نه ده ـ کله چې ښه پېغله شوه او د ورکړې وخت یې راورسېد بیا به ګورو ـ زرکه د کلا دویم پوړ خپلې کوټې نه د سیمر لاره څارله چې هیڅ وخت پرې نه تیریده ـ کله به سراچې ته ختله او کله به راکوزیده ـ رښتیا ام چې د ځوانۍ په دغه وخت کې چې په چا د مینې او محبت څپې هم راشي سم لېونتوب ته ورغاړې وزي ـ
ایشنده غرمه وه چې سیمر باغ ته د تلو تکل وکړو ـ له ژرندې ووت او د باغ په لور رهی شو ـ د ژرندې په وتې یې مخ او لاس پریمنځل ، جامې یې له وړو نه وڅنډلې بیا د بڼ خوا ته روان شو کله چې د باغ دروازې ته ورسېد ـ د کلا دروازې ته یې وروکتل ـ او په باغ ورننوت ـ وړاندې پیرو اکا د معمول سره سم په دېره کې په کار مصروف و ـ سیمر ترې په لیرې مصافه کې په یوه نرۍ لار د بڼ منځ ته د خپل کار ځای ته ځان رسا وه ـ پیرو دی ولید ـ چې کار ته ځي ـ خو دې هم هغسې د دېرې شا و خوا بوټي په وابنو نه پاکول او په کار بوخت و ـ

سیمر هم د خپل کار ځای ته ورسېد .څادر يې په باره کېښود او د بیل په وهلو يې پیل وکړو .ښه شېبه يې بیل وواهه.بیا يې بیل ښخ ودراوه.او د نارنج ونې سیوري ته کښېناست.ګرمي زیاته وه.د کار وخت نه و خو هغه ته زړکې ویلي وو چې باغ ته راشه.نو ځکه خو سیمر هڅه و په ګرمۍ نه پوهېده.په خرپ يې بیل واهه او له تندې به يې خولې دارې وهلې.ترې شو او دېرې ته ورغی تر څو پیرو اکا ورته یخې اوبه له منګي ورکړې. کله چې دېرې ته ورسېد په پیرو يې سلام واچاوه.هاغه وعلیکم ورته وواېه .بیا يې سیمر ته وویل .وراره لکه چې تندې راخستی یې . سمدستي يې له منګي نه په جام کې سیمر ته اوبه ورکړې.هاغه په یوه ساه جام تش کړو.ویل کور دې ودان پیرو اکا.څه وکړو غریبي دې ورکه شي.که نه يې کوو چاره نه لرو.موږ یوائې د همدې خلکو بګارونو ته پېدا یو.په دې ایشنده ګرمۍ کې خلک سیورو ته ارام کوي.موږ لګیا یو د خان دېره او باغ سنبالوو.یا په لعنتي ژرندې کې بوخت یو او یا خو بیلونه وهو.

پیرو له ځایه روان شه او سیمر ته يې وویل راځه یو ساعت دواړه دې یخ سیوري ته کښېنو دربار کوو.سیمر وخندل پیرو اکا ما او تا د دربار خلک نه یو.زموږ تندې سپېره دي.هاغه لږ څه په جګ اواز وویل.ولې نااميده کېږي.دنیا په امېد خوړل کېږي.دا څنګه امېد دی.زه وړوکی را زلمی شوم چې تا وینم بس د ملک دا دېره ده او ته يې .او زه خو ژرندې اوخوړم.ټول ځان او جامې مې تل په وړو سپینې وي.خدای مې دې نه ګنهګاروي پیرو اکا الله خو دې یو غیبي تغیرات په هر څه کې راولي.دې ژوند خو دا خلک ډېر په تنګ کړي دي.

پیرو وویل.هر څه تغیرات چې راشي د غریب پکې خبر نشته.دوي لا په دې خبرو کې وو چې وړاندې د باغ په دروازه کې زرکه د خپل واړه ورور سره راننوته.هغې ولیدل چې دوي دواړه په دېره کې ناست دي.د باغ په

بله لاره د ونو په منځ کې روانه شوه ـ سیمر وویل ـ پیرو اکا زه به لاړ شم ـ چې زرکه پلار ته بیا ونه وایي چې دوي کار نه کوي ـ پیرو اوښکی کوږ کړ وې خندل ـ نه یره ځوانه ستا په حصه کې به هغه غږ ام ونه کړي ـ خوار شې هغه خو ستا د ماشومتوب ملګرې ده ـ ستا خو مزې دي ـ مګر زه به څه وکړم ـ سیمر له کټ نه پورته شو او پیرو ته یې وویل کاکا جانه زه درنه لاړم ـ چې یوه شیبه کار وکړم ـ بیا غارمه لا پسې تودېږي ـ ښه ده څه ورځه په مخ دې ښه شه ـ سیمر په کرار کرار سره د خپل کار ځای ته روان شو ـ وی لیدل چې زرکه وړاندې د ورور سره په ګلونو کې ځغلې راځغلي ـ ده د بیل په وهلو بینا وکړه ـ په چټکۍ چټکۍ یې څو بیلونه ووهل ـ بیا ودرید او د زرکې خوا ته یې وروکاته ـ زرکې هم ورور له لاسه ونیو او د ده خوا ته رارهي شوه ـ هغه پخپل بیل وهلو لګیا و ـ غرمه په تودیدو وه د سیمر کمیس پوره په خولو لوند ښکاریده ـ غارمو یې مخ سور اړولی و ـ ښه په خرپ یې بیل واهه ـ تر شایې زرکه د وړوکي ورور سره ودریده ـ په شونډو یې خندا خوره وه ـ یوه شېبه د هاغه تماشې او لیدو ته ولاړه وه ـ موسکا یې په سرو شونډو خوره وه ـ په ناز یې ورغږ کړ ـ سیمره ـ ده مخ ورواړاوه له بیل وهلو نه ځای په ځای ودرید ـ هو زرکې ته ؟

هو زه داسې په خرپ بیل وهی لکه اجاره چې دې نیولې وي ـ پرېږده راځه دې سیور ته ـ هغه بیل په پټي کې ښخ کړ ـ د هغې خو ته ورغی ـ خپل څادر یې د بارې نه راپورته کړ خپل مخ یې له خولو نه په څادر وچ کړ ـ بیا یې څادر له کوناټي نه لاندې کړ ونې ته یې تکیه ووهله اوږده ساه یې کش کړه ـ وی ویل زرکې د ډاډ یره مو کېږي بل ډول شوی یم ـ هغې خپلې تورې اوږدې سترګې وروا ړولې وی ویل څه دربانده شوی دی ؟ زرکې باور وکه چې په ناسته ولاړه نه پوهېږم ـ خوب مې نشته ژوند خوند نه راکوي ـ هره شېبه مې نیغه په زړه کې ولاړه یې ـ او یو ته یې چې ـ ـ ـ ـ ؟ هغه موسکۍ شوه او دا لنډۍ یې په شونډو کې زمزمه کوله ـ

کــه بــه مې یــو ساعت هېرېږي
زه چې قدم په قدم ږدم تا یادومه

سیمره د خپل زړه نه دې پوښتنه وکړه ـ زما حال به درمعلوم شي ـ ستا په مرض زه هم اخته یم ـ کوښښ به کوو چې زمونږ مینه رسوا نشي ـ زرکې پوهېږم چې د مینې او محبت په ننګ راسره ولاړه یې خو هیله لرم چې تر اخره ولاړه اوسې ـ هغې سیمر ته لږ څه په تنده لهجه وویل ـ

سیمره دا د پښتو او پښتنو وطن دی ـ که رسوا شو نو د دواړو مرګ حتمي دی ـ دلته په ښکاره مینه کول ګناه ده ـ هسې نه چې بې وخته ځان د خلکو د خندا کړو ـ هر څه به پرده کی کېږي

زرکې چې رښتیا راباندې وایې مینه کله پټه پاتې کېږي ـ خو د خدای نه به خبر غواړو ـ مونږ به د خپلې مینې په لاره سم ځوو ـ ته غم مه کوه ـ ولې اخر مینه کې قرباني شته دی ـ د زرکې وړوکي ورور وړاندې د اوبو په لښتني کې ځان لوند کړی و ـ ټولې جامې یې لمدې خشتې شوې وې ـ له لښتني نه را ووت او خور ته یې ځان راورساوه ـ زرکې وویل اخ سپین ګله تا خو ټول ځان لوند کړی دی ـ هله راځه چې کور ته ځو ـ سیمر ته یې وویل اوس زما او ستا هم دومره ـ بیا به ووینو ـ دا هلک بیا یم چې جامې وربدلې کړم ـ د خدای په امان ـ هغه له خپل ورور سره له باغه کور ته ځی ـ سیمر په باغ کې پاتې کیږي ـ سیمر بیا له ځان سره د شونډو په سر وایی ـ دا لږ ځایې پاتې دی چې دا خلاص کړم بیا به ځم ـ

بیل راخلي او په چالاکۍ سره ښه شېبه بیل وهي او وروسته بیا بیل په مځکه کې ښخوي او خپل څادر په اوږه اچوي او په چټکۍ سره له باغه اوځي ـ کله چې هغه د باغ له دروازې بیرون ته راوځي ـ زرکه ورته په دروازه کې ولاړه وي ورته وایي ـ سیمره سبا ته د زیارت میلې ته د کلي انجونې او هلکان ځي زه هم ځمه او ته به هم راځې ـ هغه ته خو د ژرندې کار وریغاړه دی ـ لږ ساکته کېږي ـ بیا وای زه هم درشم ؟ ولې به نه راځې ؟

تا بیخي له ځانه چهل کار جوړ کړی دی. کله په باغ کې لګیا یې او کله له ژرندې نه راوځې نه ؟ د سیمر په شونډو د بې وسۍ خندا ګرځي . ورو غوندې وایي. زرکې ته د خپلې خانۍ خبرې کوي. او زه د خپل ناچارۍ دا خبرې پرېږده سیمره هېڅ شی په یو حال نه پاتې کېږي . دا خبرې ماته مه کوه . سمه ده نه یې کوم سبا به زه له تا نه مخکې د هلکانو سره د زیارت میلې ته تلای یم. د ظالم بچیه خو د غسې خبرې کوه کنه. سیمر د هغې سترګو ته کتل او د مینې محبت پلوشې یې په بدن خوریدلې وې ویل. زرکې د لارې سر دی خو یوه خبره درته کوم . د څه خبره بیا دې په زړه کې څه تېر شول ؟ خبره خو مې دا کوله چې دا ستا سترګو ته محض او ګورم . خوله کې مې لاړې وچې شي . په دې خبره یې د باغ او کلا شا و خوا یې د خپلو سترګو نه تیره کړه بیا یې هغې ته په سترګو کې خپلې سترګې ښخې کړې. غرک شې دا ځای د دې خبرې نه دی. روانه شوه او د ټیکرې پلو یې په سینه خور کړ د خپلې کلا دروازې ته ورنزدې شوه. سیمر پخپله لاره ورو ورو په فکر کې ډوب روان و. زرکه چې د کلا په دروازه ننوتله په سیمر پسې یې شاته ورپام کړو . په کلا ورننوته او سوړ اسویلی یې ویوست.

په سبا ته له کلي نه ښځې او نر لوی واړه د زیارت میلې ته روان وو. د کلي د هرې کوڅې نه ښځې او ماشومان میلې پلو په تلو کې وو . د کوڅو خاورې د خلکو په خپو کې بادیدلې او دوړې یې هوا ته پورته کېدې. له معمول سره سم چې به څنګه په چارشنبې له کلي نه ووتلې او پام به یې وکړو . په بیلو بیلو لارو به د جینکو او هلکانو ډلې روانې وې. که د چا په ډېر ضروري کارونه هم وو. د زیارت په ورځ شاته غورزیدل. په دې ورځ هم هوا توده وه. د هر چا په مخ خولې روانې وې. ټولو ښځو نرو نوې او پاکې جامې اغوستې وې . انجونو رنګینې او ښکلې لوپټې په سر کړې وې. له لیرې ټوله سیمه ښکلې ښکارېده. په دغه توده هوا کې به د سیند

اوبه دومره یخې وې چې هډو چا لاس پکې نشو ښکته کولی ـ ځای پر ځای هر چا د سیند یخې اوبه څښلې او هم به یې لپه نیمه مخ ته اچوله ـ
سیمر د خپلو ملګرو سره له کلي نه ووت او په پټو کې یې د زیارت لاره ونیوه ـ خپل همزولي ورسره په ډله روان وو ـ خپلو کې یې سره ټوکې ټکالې کولې ـ سیمر به چې څو قدمه لاړ ـ واپس به یې د زرکې د راتلو لاره څارله ـ د هغوي کلا او د باغ ونې او شا و خوا به یې له سترګو تیرې کړې بیا به همزولو سره روان شو ـ څو وارې شاته وکتل خو زرکه یې په نظر نه راتله ـ یوه اندېښنه یې تر اوبوښتلې ـ سیمره څنګه شاته شاته ګورې؟ هسې ددې کلي خلکو ته حیران یم چې له کلي نه راوځي او زیارت ته ځي ـ کلی له خلکو تش شو ـ هو کنه ـ د زیارت ورځ نه ده څه ؟ یوه بل وویل ـ که په کلي غله راوارړي نو څوک به یې مخه ونیسي ـ سیمر وویل دلته خو هډو غلا نه کیږي ـ دا وطن د غلو ملو نه پاک دی ـ له دې خبرې سره یې بیا شاته پام کړ ـ ګني زرکه راشي ـ د زرکې لا پته نه وه ـ ده نورو اندېښنو الانو ته وویل : ددغې ونې سیورې ته به کښینو وخت لا ډېر دی ـ هغوي ټول سیورې ته ورستنېږي ـ په ویالې کې مخ او لاسونه پریمنځي او بیا د ونې لاندې کښېني ـ د زرکې خپلې همزولې راغلې ـ او د کلا و مخې ته د هغې انتظار کوي ـ دننه په خپل کور کې زرکه نوې جامې اغوندي او ځان ښه سینګاروي ـ له موره اجازت اخلي او له کلا نه راوځي ـ د کلي انجونــه د زرکې ښکلا ته حېرانېږي په دروازه کې ورته یوه جینۍ وائي ـ له نظره نشې ـ د بدو سترګو دې رب وساته ـ بله جینۍ ورته وائي د ملک کاکا لورې نن به د زیارت لوی وارړه درته ګوري ـ په والله چې ښاپیرۍ درباندې مئینېږي ـ د ظالم لورې د پردې زامن په چړو ورکوي ـ زرکه محض خاندي واي نامردې ماته خو تاسې ټولې د ګلاب ګلونه ښکارئ ـ هسې ټوکې راپورې مه کوئ ـ هم هغې جینۍ بیا وویل ـ د ټوکو خبره نه ده ـ ته خو ودرېږه او جینکو ته مخ راوارړوه ـ او ګورئ ورته ـ زرکه ټولو ته مخامخ

ودریده . سمدستي یوې وویل کوم بختور به دې اخلي په دې خبره ټولو جونو وخندل او بیا په کوڅه کې زیارت ته رواني شوې . له کلي نه ووتلې د کڅ په لاره ورو ورو رواني دي . خپلو کې سره په ټوکو ټکالو او خنداګانو اخته وې ؟ زرکې لاڅنګ چې له کلي نه راووتله . وړاندې یې د لارې سرته کتل ګوندې خپل مین یې د سترګو شوي وای . هغې به کله شاته او کله د کلي نه راوتلو لارو ته شېبه په شېبه کتل . خو سیمر یې نه تر سترګو کېده . په لارو کې دښځو او نرو لوی وړو ډلې زیارت ته وچلیدلې . زیارت له کلي نه څلور کیلو میټره لیرې د غره په لمن کې په یوه جګه تپه پروت و . د میا ولي بابا په نوم یادیده خدا زده چې نوره شجره به یې څه وه خو خلکو ورته پخه عقیده درلوده . دوه درې منجاوران پکې او سیدل . له پخوا نه دغه زیارت په ټوله سیمه کې شهرت درلود . په زیارت لویه ګونبده ( ګونبزه ) راتاؤ شوې ده . په قبر پخې د لرګیو کټارې جوړې شوې وې . تر څنګ یې یوه کوټه وه چې منجاوران پکې اوسیدل . سیمر ودرید او سمدستي په لار کې په زرکه سترګې ولګېدې . خپلو ملګرو ته یې وویل هلکانو دمه بس دی راځئ چې ځوو . ټول د ونې له سیوري نه زیارت پلو وخوځیدل . هغوي چې په لاره د انجونو ټولګې ولید چې زیارت ته ځي یو بل ته یې سره وویل د ښاپېرو ټولګې هم راغی . یوه وویل هله زر ځئ چې رانه مخکې نشي . چې دا د چا لونه دي . سیمر وویل هلکه څه یې کوئ د کلي جینکۍ دي . زیارت ته ځي څه یې کوئ . بل تن وویل دا ګوره چې له ځان نه یې بزرګ جوړ کړ . وای څه یې کوې؟ ولې سترګې نه لرو . ځواني لرو . او ای دې زیارت میلې ته خو د همدې لپاره ځوو چې ساعت مو تېر شي . سیل صفا وکړو . سترګو ته اوبه ورکړو . څه واورو څه ووینو . یو خو ته یې چې ټوله ورځ به دا غریبي غریبي او خوارې خبرې کوې . سیمر ښه ښه ام ستا خبره سمه ده . خو پردو جینکو پسې زړه مه تړئ . یوه د لنډې ونې هلک چې غټه ککرۍ او د کمزوري بدن خاوند

وو مګر ډېر چالاک او تږوکي و ـ وی ویل ، هو سیمره ته څه پروا لري ـ په موږ ټولو کې دې ځواني ښکلې ده ـ جینکۍ دې خوښوي ـ وایه زما د چیتاکۍ ـ چېرته مې چې جینکۍ وویني مسخرې راپورې کوي ـ سیمر رامنډه کړ او د هم هغې چیتاکۍ نه یې غېږ واخیسته په غېږ کې یې پورته کړو او په خندا یې وویل ته خو پما ګران یې زما یار یې په جینکو څه وې هغه پاس پښې خوځولې وی ویل ـ ولې زه زړه نه لرم ـ په دې خبره ټولو وخندل ـ د دوي په خندا وړاندې زرکې او د هغې سره ټولو همزولو یې مخ راواړاوه ـ زرکې او سیمر دواړو سره ولیدل د سیمر په زړه کې داسې تېر شو ـ ( زرکې څومره ښکلې جامې اغوستې دي ـ پوهېږم چې د زیارت ټول خلک به ورته ګوري په موږ دواړو دا هلکان پوهـ نشي راځه توکل په خدای په دې چُرت کې سیمر د نورو هلکانو نه لږ وروسته شو ـ یوه پرې غږ وکړ ـ سیمره راچټک شه څنګه غلی غلی کېږې ؟ده په ګړندیو ګامونو تر هغو ځان ورساوه ـ وی ویل ـ اندایوالـه نن دا ورځ راته ډېره ښکلې ښکاري ـ تاسو ګورئ کنه هر څه ښائسته دي ـ دا کڅ دا غرونه ، دا سیند ، دا خلک هر څه راته خدایږو ښائسته ښکاري ـ ټولو هغه ته مخ واړاوه ـ یوه وویل سیمره بچو د شاعرانو او مینیانو خبرې کوي ـ هلکه کړتېږي څله ـ زه خو ژرنده ګړی سړی یم ماته ګوره او دا خبرې ـ چیتاکۍ هلک چې په دوي کې لږ څه هوښیار هم و ـ وی ویل سیمره انسانیت، عواطف ، مینه ، سړیتوب دا ټول ژرنده مرنده نه غواړي ـ رب تاته دومره ښکلې ځواني درکړې ده چې راتلونکی ژوند به دې پې ښه وي ـ هیڅکله داسې مه وایه ـ

د قد او ونې نه لنډ پنډ ( چیتاکۍ ) هلک خبرې په ټولو هلکانو ښې ولګیدلې او ورسره تائید یې کړې ـ هغوي په ګړندي ګامونو د خرپ مزل کاوه ـ زرکه د خپلو همزولو سره وړاندې سیند غاړې ته ښکته شوې

جینکو او به وڅښلې او هرې یوې لپې لپې او به مخ ته واچولې .بیا یې د زیارت لاره ونیوله.

سیمر دوي له هغوي نه مخکې شول. زیارت ته ورنږدې شول. وړاندې د زیارت تر څنګه خلک راجمع شوي وو. په یوه اړخ کې لوګی پورته کېده. د زیارت شاو خوا له خلکو ډکه وه. د زیارت په تپه د ناجو ونې ولاړې وې .منځ تر منځه د ونو سیوریو ته خلک پنډ شوي وو.

د سیمر دوي ډله د زیارت تپې ته ورسېدله .زرکه دوي هم هغوي ته رانږدې شول. د زیارت په شا و خوا کې نورې د انجونو او هلکانو ډلې تر سترګو کېدې. ګڼ خلک په زیارت کې ښکته پورته کېدل. ځینو خلکو خوارکي شیان پلورل او چا نور د ضرورت وړ شیان د خرڅولو لپاره د زیارت په تپه کې ځای پر ځای ایښي و. ځینو کبابونه پخول او د زیارت بل اړخ ته د ټنګ ټکور غږ پورته کېده. په یوه هوار مېدان کې مداري خپل مداري توب جاري کړی و. ډېر خلک ترې راټاؤ وو. د زیارت شاو خوا د خلکو شور او هر ډول اوازونه له لیرې د هر چا غوږ ته رسېدل. د زرکې دوي ډله د زیارت تپې ته ورسېده .مخامخ زیارت ته په یوه نرۍ لاره زرکه له خپلو ملګرو سره روانه وه. هغه د انجونو په منځ کې تله ، تپې ته لاره نېغه ورغلې وه .هغوي ستړې شوې .زرکې وویل جینکو ستړې شوم راځئ چې لږ دمه وکړو. ټولو په ګډه وویل هو دمه کوو. لاره ګرانه ده. یوې وویل زما خو زړه ځي او راځي. ساه او تیګاه شومه. د یوې ونې لاندې کښېناستې د ټولو ساه له ستړتیا نه بنده بنده کېده .له بلې خوا نه ګرمۍ ام خوله لګوله. د هر چا په مخ خولې روانې وې. د زرکې مخ لکه د کابل سره منه داسې اوختی و. د سیمر ډله هم تپې ته راورسېده. هاغه له لاندې نه د زرکې په لور کتل او د تپې سرته په نېغه ورختل .په چالاکۍ سره یې مخ پورته مزل کاوه .په یوه شیبه کې د تپې سرته وختل د ونو سیوري ته یې دمه وکړه. چیټاکۍ وویل. انډیواله په منډو منډو مې

له سترتیا نه سینه څي او راځي. ظالمانو تاسو خو په صورت روغ یاست.
وایه زما د خوار چې په دې ځان درپسې ځان درسوم. یوه ورته وویل بلا نه
یې وهلی. دغوښو سوټکوری یې چټک مزل کوه. نورو ورپورې وخندل.
سیمر وویل والکه دا زما یار مه په عذابوۍ. هغه بل یې وویل چې یار دې
دی خو په خپلو ولو یې کښېنوه چینار قدر لوړ یې. هلکانو بیا وخندل. له
دوي سره نزدې په تپه کې په یوه بله لاره زرکه دوي د خلکو له ګڼې ګوڼې
سره یو ځای زیارت ته ورنږدې کېدې. د سیمر له ملګرو نه یوه وویل
ګورۍ چې هغه دې د کلي انجونې هم راورسېدې. ټولو هغوي ته پام کړو.
زرکې د سترګو لاندې سیمر ساتلو. ټول د زیارت انګڼ ته ورغلل. خو د
خلکو تېل ما تېل دومره زیات وه چې د زیارت دروازې ته خو هډو څوک
ورنږدې کېدی نشول. دننه په زیارت کې به ښځو نرو د زیارت دیوالونه ،
بېرغونه او درشلي ښکلولې. د بېرغونو ټوټې یې پخپلو سترګو پورې
مښلې او دوعا به یې کوله. زړو ښځو به لاسونه او خولې پورته نیولې وې
. خدا زده چې څه به یې ویلې. څه دوعا وي خو به یې ویلې. بیا به په چټکو
ګامونو له قبر نه تاویدلې. د زیارت په قبر سرې بخملې ټوټې غوړېدلې
وې. دننه زیارت ګونبزه نقش و نګار او پردو ښکلی وه. ښکلې رسا مې
خطاطي پکې شوې وه د معمارۍ هم پکې پوره پوره خواري شوې وه. نو
ځکه خو هر څوک به په پوره مینه او شوق سره زیارت ته ورننوتل. او له
نزدې نه به یې زیارت کاوه.
زرکه دوي هم زیارت ته ورننوتي ، سیمر دوي ډله بېرون ولاړه وه. نارینه
خو دومره زیارت ته نه ورننوتل ، خالي یو نیم سړی به ورغی. سیمر د
خلکو په زوروره ګڼه ګوڼه کې ځان د زیارت دروازې ته ورساوه. تر څو د
زرکې د واپس راوتلو لاره ونیسي. د هاغه نورو ملګرو هم د زیارت نه
نزدې لیدنه وکړه. هر یوه هرې خوا ته خپل سیل کاوه. د هر ډول خلکو او
ښځو نرو په لیدو مصروف وو. سیمر د زیارت دروازې پورې جوخت ولاړ

وو ـ زرکې لا ان له د ننه څخه هغه ليده چې دروازه يې نيولې وه ـ د راوتلو په وخت کې زرکه له نورو نه مخکې شوه ـ په دروازه کې ورته سيمر وويل ـ زرکې سترې مشې ـ خير يوسې ـ راغلی يې ـ په ټولـه لاره دې ليدلې يم ـ خو دا ووايه چې څه دوعا دې وکړه ؟ سيمره بلـه دوعا مې خولې تـه نـه راځي ـ په دې خبره مسکۍ شوه او شاته يې وکتل په نورو ملګرو پسې ـ د کلي همزولې يې هم راووتې ـ هغه ورتـه ولاړه وه ـ سيمره تـه ځـه نـور مـه دربېږه ـ چې انجونه راباندې پوه نشي ـ د ظالم لورې دا نـن دې پـه ځان څـه کړي دي ؟ دا ټول خلک تاته ګوري ـ زه خو په غير له تانه نور څوک نه وينم ـ ځه ورځه ـ هغه دي ملګرې مې راغلې ـ سيمر روان شو ـ هاغې ورتـه کتـل په تلو تلو کې مخ ورواړاوه د لاس په اشاره يې د خپل تګ لوری وروښود ـ زرکې چې خپلې سترګې په هاغه کې ښخې کړې وې ـ پـوه شـوه ـ دی هم د سر په خوځولو هاغـه پـوه کړ ـ سيمر پـه کرار کرار ګامونـه اخيسـتل او د خلکو پـه ګڼه ګوڼـه کـې پناه شو ـ دې هم ببرتـه د زيارت دروازې تـه مـخ راواړوه ـ تـر څـو خپلې ملګرې ووينـي ـ هغـوي هـم يـوه پربلې پسـې لـه دروازې نه راووتلې ـ يوې وويـل مـونږ پتـا پسـې د ننـه پـام کـاوه ـ تـه دلتـه ببرون ولاړه يې ؟ هغه په خندا شوه وې ويل ما هم دروازه درتـه نيـولې ده ـ هله ځئی چې ځو ـ دا خلک راته داسې ګوري فقط چې دوي هيڅ ليدلي نـه وي ـ يوې وويل ما درته نه ويل چې د زيارت خلک بـه ليـوني کـړې ـ نـورو ورپورې وخندل ـ دې بيا وويل راځئی چې ځوو لـه دې ځايـه پښـې باسـو ـ يوې بلې جينۍ ورته وويل مونږ ته دې څوک اوګوري کنه ـ تاته خو الله بـل شانته ښائست درکړی دی ـ خو رجانې څنګه چې کور ته ورسېدې ـ مـور تـه دې ووايه چې سپېلني درته لوګی کړي ـ

موري ماښو ورته لوګی کړه
زيارت له تللې چا به يې مخ ليدلی وينه

يوې د ونې نه لنډې جينۍ پې رامنډه کړه وې ويل ـ که بيا زيارت ته راتلې داسې ډول سينګار مه کوه ـ خرّه پرّه راځه چې دومره ځوک درته نه ګوري ـ ته دا خلک نه پېژنې چې څومره ورې سترګي دي ـ راځئی چې ځوو ـ خلک به خپل کار کوي ـ موږ ته اهميت نه لري ـ
زرکې نورو جينکو ته وويل ـ له دې ګڼې ګوڼې نه اوځو ـ د تپې بل اړخ ته به ورشو ـ (هغه ځاى ته يې لاس وينو کم چې سيمر ورښودلى وو) انجونې په هم هغه لوري وخوځيدې ـ په لاره کې ځينو ځوانانو به هغوي ته ازار ورکاوه ـ خو هغوي هيڅ اهميت نه ورکاوه ـ زرکې به د سترګو لاندې وړاندې شا و خوا څارله ـ تر څو سيمر په نظر ورشي ـ وړاندې د ډول غږ اوريدل کېده ـ يوې جينۍ وويل ګورۍ هلته د ونو منځ کې خلک ښکاري د ډول غږ هم هغې ځاى نه راځي ـ زرکې نورو جينکو ته مخ وګرځو وې ويل ـ جينکو د ډول خوا ته موږ نه ورځو خو له ليرې به يې تماشا وکړو ـ دوي لا په تپه کې رواني وې چې د ډول خوا ته سيمر دوي هم ولاړ وو ـ ډول ته ځوانانو اتڼ اچولى و ـ سيمر وليدل چې زرکه دوي هم د دوي خوا ته راځي ـ هغه له خلکو نه رابېل شو او په يوه تيګه ودرېد ـ د زرکې پې سترګې ولګېدې ـ دواړو له ليرې نه يو تر بله وليدل ـ کله چې هغوي ډول ته رانږدې شوې ـ تقريباً پنځوس متره وړاندې د ونو سيوري ته کښيناستې ـ شا و خوا خلک څوک ځي او څوک راځي ـ خرې دوړې جوړې دي ـ نږدې ماسپښين دى ـ يوې جينۍ وويل ـ ددغو ونو منځ کې ډول ته اتڼ کېږي ـ ډېر خلک ورته ولاړ دي له دې ځاى نه يې ګورو ـ يخ سيورى دى پوره دمه به وکړو ـ او دلته به ډوډۍ هم وخورو ـ انجونو خو ځانونو سره د غرمې خواړه وړي وو ـ هرې يوې خپل خپل د خوړو شيان راواخستل او ټولو په ګډه سره د ډوډۍ په خوړلو پيل وکړو ـ خوا ته يې روڼې يخې اوبه بهېدلې ـ ټولو په ښه ټوکه ټکاله سره ډوډۍ او خوړه ـ او هم يې د اتڼ ليدنه کوله ـ سيمر او زرکې له ليرې نه يو پر بل کې سترګې

اچولې وې. د مينې راز و نياز کې غرک وو. د ډول او اتڼ په قيصه کې هم نه وو. انجونو ډېر وخت دمه وکړه. بيا يې خپل منځ کې سره وويل چې هلته کوز د تپې په بيخ کې څومره ډېر خلک ښځې او نر سره په يو ځای ټول شوي دي. کومه تماشا يا څه خو دي. موږ بايد هلته هم ورشو. ټولو ميلو ته به سر ښکاره کړو. يوې جينۍ وويل خويندو پس له غرمې ګرمي زياته وي کلي ته تلل په لاره ګران دي. ښه چې سيوري راکاږه شول بيا به ځوو. ټولو ورسره او منل. هو همدغسې به کوو. ټولې يو ځای د تپې په څنګ کې او خوځېدې. او د خلکو په ټولي او ګڼه ګوڼه پسې روانې شوې. سيمر ورته کتل چې دوي کومې خوا ته ورتلې. هغه ځان له نورو نه رابېل کړ او هغوي پسې په بله لاره ګړندی روان و. زړکې د سترګو لاندې څاره کله چې زړکې دوي هوارې ته راکيوتې ويې ليدل چې مداري د خلکو په منځ کې ولاړ دی او خپل په لاس کې نيولی ډولکی وهي او په ميدان کې ورته په کڅوړه کې د هغه د کار شيان پراته دي. يو تن جمبوري هم خواره خوله ولاړ دي. دوي چې بله ليري نه د مداري نه راتاؤ خلک وليدل ودريدې. يوې وويل جينکو هلته خو زموږ ورتګ نه دی ښه. اخر د کلي خلک به مو ووينی. زړکې وويل زموږ د پښتنو دا ځينې رواجونه دې سر او خوري. ښځې له هر څه نه محرومې دي. راځئ راځئ چې کومې بلې خوا ته لاړې شو. ګورئ ګورئ هغه دي د چرګانو جنګ ته خلک ولاړ دي. هلته هم نشو ورتلای. يوې بلې جينۍ وويل زړکې ته ګوره هلته د ونو په منځ کې ډېرې ښځې ښکاري. تاسو راځئ چې هلته څه دي. سيمر له ورايه دوي څاري. دوي چې هلته ورسېدې ګوري چې بنګړي والې ناستې دي. دا خدای ډېرې ښځې ترې راتاو دي. هم هغې جينۍ بيا وويل. وينئ چې په بنګړي والو مې راوا ړولې. له بنګړي والو نه ځوانې زړې ، وړې راتاوې دي. يو نيم سړی هم دې خوا ته په هره خوا د خلکو بير و بار جوړ دی. دوي هم له بنګړي والو نه راتاؤ شوې هرې يوې ځانته بنګړي خوښول

ـ زرکې شاته کتل او سيمر يې څاره ـ لږه شيبه وروسته سيمر را واوخت او د بنګړي والو خوا ته رانژدې شو ـ زرکې ورپام کړ او په اشاره يې هغه پوه کړو چې يو ساعت وروسته کلي ته ستنيږو ـ سيمر د تپې لاره ونيوه او د خپلو ملګرو په لور لاړ ـ د لاس په اشاره يې زرکه وپوهوله چې موږ هم پتاسو پسې وروسته د کلي خوا ته حرکت کوو ـ هاغه خپلو انډيوالانو ته ورغی ـ هغوي دده انتظار کاوه ـ د ونې لنډي هلک ( چيتاکی ) وويل ـ هلکانو درځئ چې په کرار کرار اوخوځيږو ـ لمر سوړ دی د ګرمی جوش ناست دی ـ ټولو وويل سمه ده ځئ چې حرکت وکړو ـ يوه وويل په لاره به بيا د زاړه چينار سره په سين کې ولامبو ـ دا خبره په ټولو ښه ولګيده ـ هلکانو په چټکو ګامونو د زيارت له سيمې نه کلي ته حرکت پېل کړو ـ زيارت د ميلې خلک نور په کشه وو ـ ډلې ډلې مخ په کورونو روان وو ـ سيمر د تګ په وخت کې شاته پام وکړ ـ مګر د زرکې دوي لا پته نه وه ـ په نورو هلکانو يې ورغږ کړ ـ انډيواله په کرار کرار به ځوو چې د ګرمی دوپ ( توف ) دی ـ دوه کيلو متره ولاړ چې د زوړ چينار د پخوانی زمانې چينار و ـ مخې ته د چينار سيند بهيده ـ هلکانو سمدستي جامې ويستلې او په سيند ورغلل ـ چيتاکی هم ګنډې وارتول او خپله لنډی ونه يې لوڅه کړه ـ د سيند پغاړه يې اوبو کې خيته واچوله ـ د نورو چې پرې نظر شو ټولو ورپورې وخندل ـ دی د اوبو په غاړه ودريد وې ويل ځنګه راپورې خاندي زه ستاسو نه ښه لامبوزن يم ـ يوه ورته وويل هو بيخي د ماهي زوی يې ـ په دې خبره ټولو وخندل ـ سيمر وويل راځه زما په اوږو کښېنه ـ هغه ورته په ځواب کې وويل ته خو د اوبن نه لوړ يې دا سيند دی لينګو پورې دی ـ بيا ټولو وخندل ـ هغوي په سيند کې غوپې ووهلې بيا په شيګو کې څملاستل او په تودو سپينو شيګو کې ورغړيدل ـ له لمبا وروسته يې جامې واغوستې چې په دغه وخت کې زرکه دوي هم چينار ته راورسيدې ـ سيمر دوي ډله يې وليده ـ د چينار تر ځنګه لاره تيره شوې وه

ـ جينکو خندل ښه په مزه يې خپلو کې سره خبرې کولې او د کلي په لور رهي وې ـ سيمر او زرکې سره وليدل او خپلو کې يې يو ځل بيا اشارې سره تيرې کړې ـ د دوي په اشارو نور نه پوهېدل او نه هغوي دا خيال کاوه ګني چې دوي به سره مينه لري ـ انجونې چې د سيمر دو له خوا نه په لاره تيرې شوې ـ سيمر دوي هم وروسته ورپسې روان شول ـ تر څو چې په کلي پناه شول ـ

## دریم پړک ( دریم څپرکې )

د کلي په جومات کې سهار وختي د کلي هلکان ملا امام ته ناست دي سبقونه وايي. طالب جان هم د ملا تر څنګه لګیا دی سبق وايي. ملا طالب جان ته وايي. که زه کله نه وم دې هلکانو ته به ته سبق وايې. طالب جان وویل ښه استازه. د خپل سر په خوځولو یې ملا لا پسې قانع کړ. طالب جان به د هر مانځه په وخت کې له نورو کلیوالو سره په ملا پسې جمه کوله. نو ځکه خو په کلیوالو ګران و. یو اوریدونکی لایق او د ښه خوي خاوند و. په ښوونځي کې هم په درسونو کې یې خواري کوله. د لوست او لیک سره یې خاصه علاقه وه. د کلي له ښوونځي نه په لومړۍ درجه فارغ شو. منځني ښوونځي یې پخپله ولسوالۍ کې بشپړ کړو. بیا د ولایت په لیسه کې شامل شو. لکه د پخوا پشان معمولاً لمونځ ګذاره او دین داره هلک و. ښکلې دنګه ځواني یې درلوده. د کلي د یوه دولتي مامور لور چې د انجونو په لیسه کې د یوولسم ټولګي متعلمه وه په طالب جان مینه شوه. قیصه یې څه داسې وه چې:-
یوه ورځ د استقلال د ورځې نمانځلو په میټنګ کې چې انجونو او هلکانو پکې ګډون درلود. طالب جان په کنفرانس کې مقاله وویله چې د ټولو خلکو د پام وړ وګرځېده او ښې چک چکې ورپسې وشوې. په دغه میټنګ کې د مامور لور تاجو هم ناسته وه. طالب جان یې په دغه میټنګ کې د ستیژ په سر ولید د هغه کرکتر او ښکلا ، ځواني یې خوښه شوه. تودې تودې چک چکې یې ورته کولې. په زړه کې یې ور تیر شول. ( طالب جان څومره ښکلی دی. له ده سره به څنګه خبرې وکړم. دا به څنګه شي... خدای مهربانه دی ) همدا نن چې راته موقع برابره شي له نزدې نه

ورسره ګورم.هو همدا نن... ا رښتیا چې د جینۍ د زړه خبره وشوه.په کانفرانس کې د لسو د قیقو لپاره تفریح اعلان شوه .د مامور لور سمدستي له ځایه پاڅېده د خپلو همضفیانو په قیصه کې هم نه وه . یوازې طالب جان یې د خپل نظر لاندې ونیوه او ورپسې روانه شوه .هغه د خلکو او متعلمینو له تېل نه ووت.د اوبو نل ته ورغی اوبه یې څښلې. جینۍ ته زمینه برابره شوه.په منډه ورپسې ورغله.هغه چې اوبه وڅښلې د جیب په دستمال یې لاس او خوله پاکه کړه.له اړخه یې جینۍ ودریده لومړی یې سلام واچاوه .بیا یې وویل طالب جانه بخښنه غواړم که اجازت وي درسره غږیږم.هو هو ولې نه.مهرباني وکړه.
زه د مامور عبید لور یم د ولسوالۍ تر څنګ مې کلا ده.نوم مې تاجو دی .ستا مقاله مې ډېره خوښه شوه او ته مې هم... موسکۍ شوه د شونډو په سر یې زیاته کړه.بیا به سره چیرې اوګورو.طالب جان هک پک پاتې شو .د جینۍ ښائسته او د هغې دغه وړاندیز ته په سوچ کې پاتې شو .په سترګو کې یې جینې ته داسې زیر شو .چې نورې هیڅ نه لیدل.یوازې دومره یې وویل.هو ولې نه بیا به سره اوګورو .ښه نو چې داسې ده.سبا ته زموږ لیسې مخې ته راشه دواړه به بیا نورې خبرې وکړو .طالب جان ښه شوه اوس به لاړ شو چې میټنګ بیا پیل شو .طالب جان مخکې روان و او جینۍ ته یې شاته شاته کتل .جینۍ هم موسکۍ کېده او محفل ته ورغله .طالب جان تر هغې پورې شاته شاته په تاجو پسې ورکتل تر څو چې پخپل ځای کښېناست.هغه نور د میټنګ او کانفرانس په قیصه کې نه و .یوازې یې وړاندې مخامخ د ونې څانګې ته ورکتل چې باد وړه راوړه.له ځان سره یې په زړه کې تیر شول (ا لکه...دا څنګه چل وشو...خدایګو لکه چې ښاپیرې راباندې کښېناستل له ډېرو نه مې اوریدلي و چې ښاپیرې ښکلي دي ځینو کسانو ته همدغه شان ځان ښکاره کوي .مګر زه خو روغ رمټ یم نو د ښاپیرو خو بیله ژبه ده ) هاغه

له ځانه وخوځیده . مخامخ یې ولیدل چې په ستیج کې موسیقي غږیږي . ایوب استاد دا سندره وای:-

ای عشقـــه نـــا مـــراده ، تـــا څه په غمو سر کړم
عالم دې خپل روزګار کړه تا زه خوني جګر کړم

د سندرې له اوریدو سره هغه له ځایه سپک پاڅید . د څوکیو لین کې ووت د محفل تر شا راتاو شو . د انجونو پلو یې وکتل . بیا د اوبو نل په لور مخ واړاوه . خو نه ښا پیرۍ وه او نه ... بیا یې ناستو انجونو کتار ته زیر شو . ګني که یو ځل بیا هغه ووینې . له ځان سره یې وویل ( نوم یې راته ووایه خو دا زما سر د ماتیدو دی . هېر مې شو ...) یوازې بس دا خبره یې چې سهار به زموږ د لیسې مخې ته ولاړ اوسې . په دې موسکی شو هو سبا ته به وختي ورشمه . د جینکو د چوکیو کتارونه یې بیا له سترګو تېر کړل . تاجو یې په نظر ورنه غله .

تاجو د جونو په یوه کتار کې په څوکۍ ناسته وه او دده خوا ته یې په نیم کښ پلو لاندې ورکتل او له ځانه سره یې خندل . د سر سپین پړونی یې په مخ راخور کړی و . د هاغه وار خطایي او هلې ځلې یې چې اولیدلې له ځان سره به موسکۍ شوه . موسیقي ښه په خوند غږیدله . هر چا د زړه په غوږو نه اوریده طالب جان د انجونو د څوکیو کتار تر څنګ ور تېر شو خو هاغه پکې تاجو ونه مونده . ځکه چې د انجونو شمېر زیات وو او بیا خو په یو ډول یو نیو فورم ( لباس ) کې یې پیژندل ګران و هسې خو بې له هغې د طالب جان ځوانۍ ته هر چا ورکتل . هغه ښکلې ځواني درلوده . دنګه ونه یې وه . سور سپین مخ ، تورې غټې سترګې ، ښکلي وېښتان ، جګه پوزه ، سپینو غاښونو یې په سرو شونډو کې لکه د زمردو پشان ښکاریدل . د کلیو ډېرې انجونو په زړه کې دا ارمان وه چې یو ځل خو د هاغه سره یوازې خبرې وکړي . ناڅاپه د کانفرانس له ستج نه اعلان وشو وچې محفل ختم شو . ټول خلک له خپلو ځایونو نه راولاړ شول . طالب

جان په یو ځای ولاړ و. او هره جینۍ یې له سترګو تیره وله. تر څو کابو ټولې انجونه او هلکان د کانفرانس له ځایه خواره شول او هر څوک پخپله خوا لاړل. طالب جان لکه وزر ماتي مرغه د ښوونځي په ونو کې ورو ورو ګامونه واخیستل او له دروازې نه ووت. د ښوونځي هلکان او جینکۍ خپلو کورونو ته په بیلو بیلو لارو روانې وې. هغه به هرې جینۍ ته ورکتل. خو هغه یې کله تر سترګو کېده. لکه څه چې ترې ورک شوي و. هرې خوا ته یې کتل. د یوه سرویس موټر تم ځای کې ودرید. نور هلکان او جونې هم د بس راتلو ته ولاړ وو. دی په چُرت کې ودرید له ځانه سره واي (سبا سهار به وختي د مکتب دروازې ته ځان ورسوم. هو ان دروازې ته ، تر څو مې لیدلې نه وي نه راځم) د لین سرویس راورسېد ټول خلک ورپورته شول. دی هم سرویس ته ورپورته شو. څو تنه همصنفان (ټولګي وال) یې ولیدل. د هغوي خوا ته په څوکۍ کښېناست. یوه ورته وویل. طالب جانه نن خو ډېره ښه مقاله ولوستله. یوه بل وویل. نه به یې وائي لوستلی. د ټولګي اول نمره دي. همغه لومړنی ټولګي وال یې وویل. طالب جانه داسې غرېند او مړاوی غوندې معلومېږې. خیریت خو به یې ؟ ده د هغه سترګو ته ورکتل وي ویل خیریت دی څه نشته. خالي لږ ستړی شانې یم. ښه چې څه مشکل نه وي. ستړتیا به دې ښه شي. هو نه... تشکر بل مشکل نشته دی. سرویس موټر د کلي سرته ودریده. انجونې او هلکان ترې ښکته شول او د خپلو کورونو په لور یې لار خپله کړه. طالب جان هم له ملګرو نه خدای په اماني واخیسته او کور ته روان شو. په کور کې هم د هاغه ساعت نه تیریده. همدې سوچ کې و چې کله به سهار کیږي چې د انجونو ښوونځي ته ځان ورسوي. شپه پرې نا ارامه ووته شیبه په شیبه یې خپل ساعت ته کتل تر څو د ښوونځي د تلو وخت را ورسي. هغه په دې سهار مخکې له کوره ووت او د ښوونځي په لور رهی شو. په ګړندیو ګامونو د جینکو د ښوونځي لاره یې ونیوه. په لاره کې لا زده

کوونکې نه ښکاریدل یوازې همدا وه چې له ځان سره په فکرونو کې روان و . یو ساعت وختې د انجونو ښوونځي مخې ته ودرید . ساعت یې ولید چې وخت لا ډیر دی . وړاندې د ښوونځي تر څنګه دوکانونو ته ورغی. ښکته پورته یې چکر وواهه. انجونې ښوونحي ته راماتې شوې. له کلیو نه په بیلو بیلو لارو ډلې ډلې را روانې وې. دی لاړ د ښوونځي دروازې ته نزدې له یوې ونې لاندې ودرید . د ښوونځي جینکۍ چې به راتلې ده به هرې یوې ته کتل . تاجو هم له خپلو کلیوالو سره ښوونځي ته رانزدې شوه . هغې هم له ورایه د ښوونځي دروازې مخه له سترګو نه تیره کړه . له لیرې یې ولید چې طالب جان د ونې لاندې ولاړ دی له خپلو کلیوالو جینکو نه بیله شوه او د طالب جان پخوا د شا له خوا نه راتاوه شوه. کله چې هغه ته ورنزدې شوه ور غږ یې کړ په ما پسې شاته راځه. هغه چې مخ راواړاوه . ویې لیده چې تاجو ده بې واره په هغې پسې ور روان شو . له ښوونځي نه وړاندې د ګنو پټي ته په یوه تنګه لاره پناه شول. هلته هیڅوک نه و . تاجو لاس اوږد کړ او طالب جان ته یې وویل. ستړی مشې هغه هم لاس ورکړو . تاجو وویل په وعده خو وفا دار یې. طالب جان د تاجو ستر ګو ته کتل. له خولې نه یې غږ نه خوت.

تاجو وویل. اوس خو ښوونځی پیل کیږي او مازدیګر هغه باغ وینې ؟ خپل باغ ته یې لاس ونیوه . راشې . زه به درته پوره څلور بجې هلته ولاړه یم. طالب جان وویل سمه ده . زه به هم ښوونځي ته لاړ شم. ځان به ورسوم تر څو غیر حاضر نشم. هغه په چټکو ګامونو د خپل ښوونځي په لاره رهی شو . په لاره روان و او تاجو ته یې شیبه په شیبه مخ راړاوه. تاجو هم هاغه له سترګو نه نه ویستو . طالب جان چې د ښوونځي دروازې ته ورسېد . د ښوونځي زنګ ووهل شو . د ښوونځي شاګردان په منډه منډه خپلو ټولګیو ته ورننوتل.

پینځه دقیقې د تدریسي ساعت د پیل نه تیرې شوې وې چې طالب جان د ټولګي دروازې ته ورسېد .ښوونکی په ټولګي کې ولاړ و .اجازه یې وغوښته .ښوونکي ورته وویل طالب جانه نن لومړۍ ورځ ده چې ته ناوخته ټولګي ته راځې .خیریت خو به وي ؟ معلم صاحب خیریت دی .نن راباندې لږ ناوخته شو .طالب جان خو اول نمره و .معمولاً په مخکې لین کې په لومړۍ څوکۍ کښېناستلو .په ټولو درسونو کې لایق و کوښښ او د ښو اخلاقو خاوند و .نو ځکه خو په ټولو ښوونکو ګران و .د تاجو لیدو سره له همدغې ورځې څخه لو ټکې سودائي غوندې ښکاریده .ولې بیا هم خپلو درسونو ته متوجې و .مازدیګر یې له تاجو سره د لیدلو وعده وه .له کوره د هغې لیدو په نیت وخوځید .دده له کوره د تاجو تر کوره درې کیلو میتره لار وه .څلور بجې کېدې چې هاغه د تاجو دوي باغ ته ورسېد .د باغ اړخ ته د هغې کلا وه .او کلی ترې په څو ګامه کې جدا پروت و .دی د باغ په یو ګوټ ورتاو شو او تاجو د باغ په بل ګوټ کې دده انتظار کاوه .ده ولیدل چې هغه نشته .شا و خوا یې کڅ ته پام وکړ .زړه یې درزا پیل کړه .خو زر یې فکر وکړ چې ګني د باغ و بل اړخ ته ورشي .په ګړندیو ګامونو د بڼ بل ګوټ ته ورتاو شو .له وړاندې نه یې ولیده چې هغه ولاړه وه .دی ور روان و .او شا و خوا به یې پام کاوه چې څوک خو نشته .په زړه کې یې تېر شو .( وا لکه .وا هلکه .داسې روان یې لکه د نیا کور ته چې ځې .دا خو د پښتو وطن دی که چا ولیدې چې تاجو سره یو ځای ولاړ یې خو د بوسو خسی به درنه جوړوي ) ځان ته متوجې شو .شا و خوا یې وکتل .قدمونه یې ورو کړل .د باغ تر څنګ د یوې ونې لاندې تاجو ولاړه وه .وې لیدل چې هغه زړه نا زړه ددې په لور راځي .له ځان سره موسکۍ موسکۍ کېده .وربل یې نیمائي مخ نیولی و .په شونډو یې دنداسه وهلې وه .خپلې خداې تورې سترګې یې لا پسې په کجلو تورې کړې وې .په سپین مخ کې یې د زنې د سر شین خال د تاجو ښایست څو چنده کړی و

ـ شین ټیکرې ، ګلابي کمیس او شین پرتوګ کې لکه د غاټول ګل ښکاریده ـ دی ورنږدې شو ـ هغې لاس ور اوږد کړ ـ موسکۍ شوه وې ویل ستړی مشې ـ ده هم خپل لاس زړه نا زړه ور اوږد کړ ستړي مشي یې وکړه ـ دواړه سترګه په سترګه شول ـ یوه شیبه د سترګو بیم اخیستي وو ـ بانه یې نه رپیدل ـ په خوله یې هم څه نشو سره ویلې ـ چوپ ولاړ وو ـ طالب جان زړه رالوی کړ وې ویل ـ د مامور لورې په چا مې دوړه نه کړې ـ څوک مو ونه ګوري ـ دا ځای زما او ستا د ودریدو دی ؟ نه نه دا د لارې سر دی ـ پما پسې راځه په هغه کنډو زموږ باغ ته ور اوړو ـ هغه مخکې شوه په څو ګامونو کې وړاندې د باغ په یوه کنډو واوخته ـ ورپسې دی هم ورغی شاته شاته یې پام کاوه چې د باغ په کنډو ور واوخت ـ هغه ورته ولاړه وه ـ ویلې راځه اوس مه ویرېږه ـ دا زمونږ خپل باغ دی ـ د باغ دروازه قلف ده ـ کیلي هم له ما سره ده ـ هو رښتیا ته ودریږه چې په دا کنډو کې دا دړه کلکه کړم ـ دا خو ترې ما ایسته کړې وه هم دا دی کنډو مې بند کړو ـ هیڅ پروا مه کوه ـ هو رښتیا تاجو چې کار دې پوخ رانیولی دی ـ دواړو غبرګه خندا وکړه ـ په باغ کې د بوټو او جګو جګو ونو منځ کې وړاندې لاړل ـ هلته د لرګیو په اوږده څوکۍ د ګلونو منځ کې کښیناستل ـ

طالب جان لومړی د باغ په ونو او ګڼو بوټو کې سترګې هرې خوا ته واړولې ـ هر څه یې له سترګو رالاندې کړل ـ په باغ کې بني بشر نه ښکاریده ـ خالي مرغیو شور راخیستی و ـ تاجو ته یې غلي او په ویره وویل ـ باغ ته ستا پلار ورونه رانشي ؟ هغې ورته د باغ کیلي ورښکاره کړه وې ویل ـ د باغ دروازې کیلي ما سره ده ـ پلار مې ښار ته تللی دی ـ مور مې هم ورسره د ځینو شیانو او سودا رانیولو لپاره تللې ده ـ کېدی شي ماز دیګر ناوخته راشي ـ نور څوک دلته نه راځي ـ زړه مه ښکته پورته کوه ـ ښه رښتیا زه دې پخوا چیرې لیدلې وم ؟ نه نه یوازې همدغه کانفرانس کې چې دې مقاله وویله ـ ما چې درته پام شو سترګې مې

دربانديِ خوړيِ ولګيدي ـ ستا جرأت او دا ځواني دي زما ډيره خوښه شوه ـ نو ځکه مي درسره د ليدلو او خبرو کولو نيت وکړ ـ هماغه وچي سره اومولیدل ـ او دادی دا مو دریم ملاقات دی ـ نور څه واي ؟ نوري خبري خو ته راته وکړه تاجو له کومه وخته مي چي ليدلی يي ـ زما زړه په ګوګل کي نشته دی ـ هغي وخندل ـ اننګي يي سره واوختل ـ په چپ لاس يي په ګوتو وربل له سترګو واړاوه ـ د طالب جان په سترګو کي يي خپلي سترګي ښخي کړي وي ـ وي ويل ـ والله چي زه هم ځانته حيرانه يم ـ په دا دومره وخت کي دا دي تر يوولسم ټولګي را رسيدلي يم ـ که به مي چاته کتلي او يا راسره نورو هلکانو خبري کړي وي ـ هو سمه ده چي ځينو هلکانو به ازار راکړی اوسي ـ خامخا د ځواني په وخت کي دا خبري کيږي ولي ما په چا پسي هډو کتلي هم نه دي ـ کله کله په ښکلو جينکو پوري خپل ښايست اور شي ـ خو ته مي چي له کله نه ليدلی يي زما زړه هم بل ډول شوی دی ـ خوب او ارام مي نشته هيڅ ژوند خوند نه راکوي ـ هر وخت مي په سوچ او فکر کی اوړي راوړي ـ له دي خبري سره دواړو يو بل کي سترګي ښخي کړي ـ طالب جان تعجبي خندا وکړه وي ويل ـ زه حيران دي ته يم چي په کلي کي ښځو نرو ته يو سپيځلی دينداره هلک ښکارم ـ په ټولګي کي د اول صنف نه تر دا يولسمه اول نمره يم ـ د ښوونځي په اداره او ښوونکو ګران يم ـ او دادی اوس چي داسي مسئله رامنځ ته شوه ـ دي سره به څه کوم ؟ تاجو موسکی شوه وي ويل ـ ته خو ماته وارخطا غوندي هلک ښکاري ـ ولي څه شوي دي ؟ خو پس له دي به هم خپل درسونه مخکي وړي ـ نور د ژوند چاري دي څنګه چي وي همغسي وړاندي بيايي وارخطا ورته ولي يي ؟ ای لېونۍ دا وطن ددي خبرو نه دی ـ دلته څوک مينه نشي کولای ـ ستا خبره سمه ده ـ مګر هر څه په پرده کي کيدی شي ـ د ژوند دغسي چاري بايد په خپل چوکاټ او پرده کي تر سره شي ـ دا خو زما او ستا لومړۍ د ميني او محبت شيبي دي ـ تر څو يو بل سره او پيژنو

او ښه سره معرفي شوو .رښتیا تاجو یوه خبره درته کوم.پلار خو دې چا ته ورکړې نه یې ؟ هغه په خندا شوه د خندا په حالت کې یې هغه ته وویل . نه نه تر اوسه یې چاته نه یم ورکړې .هسې خو ډېرې مرکې پسې راغلي دي مګر ټول یې ځواب کړي دي.بله دا چې ما مې مور ته ویلي دي.تر څو چې مې تحصیل پای ته نه وي رسیدلی میړه نه کوم او تر څو مې چې خپله خوښه نه وي په سر نوشت مې څوک لوبې نشي کولی .اخ د نر لورې دغسې نرې خبرې کوه.طالب جان په داسې حالت کې دا خبره وکړه چې له ځایه پاڅېده پام یې کاوه ګني چې څوک خو نشته.کښېنه کښېنه زه خو په حقله درته وارخطا یم.ته څه تشویش کوې ؟احتیاط ښه شی دی.هغې ته را وړاندې شو غلي شان یې ورته وویل.مینه به کوو خو په احتیاط سره. هو رښتیا یوه خبره درته کوم .همدا اوس سري وخت دی .هن ونیسه لومړی دې لاس زما په لاس کې کېده چې دواړه د مینې قسم سره وکړو. او په ټینګ ایمان او وعدې سره راتلونکی ژوند شریک کړو .هغې وخندل خپل لاس یې د هغه پلاس کې کېښود دواړو د مینې قسم سره وکړو تاجو موږ دواړه به راتلونکي وخت کې په څه ډول سره ملاقات کوو .چې کله دې وخت درلود سهار له خوا به په هماغه د ګنو پټې سره د ونو لاندې ملاقات کوو .د ښوونځي دروازه کې مه دریږه.ځکه چې زموږ ټولګي والې راباندې پوه نشي.بس دا زما او ستا د وعدې ځای شو. اوس نو ته لاړ شه.چې زه هم کور ته ځمه تر څو چې څوک راباندې پوه نشي.طالب جان ودرید وې ویل.تاجو زه به په همدغه کنډاو اوځم.هو همدغه رنېدلي دیوال په کنډاو واوړه .زه به کنډاو ته دا لرګی او دړه واپس کېدم.لاس یې ور اوږدو کړ ځه په خدای دې سپارم.د خدای په امان.طالب جان وویل.او له باغه راووت.په کڅ کې یې د کور پلو لاره ونیوه او لاړ.

## څلورم پړک ( څلورم څپرکی )

مازدیګر نزدې و چې سیمر ژرندې ته ورسېد .مور یې په دغه ساعت له ژرندې نه راووته. په سیمر یې سترګې ولګېدې. ویل بچی ستړی مشې. میلې نه راغلې ؟ هو مورې نن د زیارت میلې ته بلا ډېر خلک راغلي وو. ښه سیلونه و .ښه زویه چې ساعت دې تېر شوی یې. زویه ته دننه ژرندې ته ننوزه د وړو پام درسره کوه چې زه ډوډۍ تیاره کړم .وړاندې د سیمر پلار امسا پلاس کړوپ کړوپ دویمې کوټې پلو را روان دی. په دالانه کې ودرید او ژرندې ته یې په داسې حالت کې ورپام کړو چې یو لاس کې یې امسا او بل لاس یې په تندي کېښود .سترګو ته یې سیوری جوړ کړ او د ژرندې دروازه یې له خپلو سترګو نه تیره کړه. بیا ورو ورو کوټې ته ننوت. سیمر په ژرنده کې د ژرندې پله ته نزدې جارو پلاس ولاړ دی. شیبه په شیبه د پل له غاړو اوړه راجارو کوي. یو لاس یې پاس په تخته پورې ټینګ نیولی دی .د زرکې په چُرت کې تللی پخپل سوچ کې له ځان سره وایي .( سیمره خدایږو د لېونو پیښې دې راخیستي دي که د زرکې پلار درباندې خبر شي ژوندی به دې پرې نهږدي .زرکه ام جینۍ ده نه پوهېږي. په نیمائي لار کې دې پرې نه ږدي. نه نه هغې خو ما سره په مینه قسم کړی دی. دی په دې چُرت کې پاتې دی هلته زرکه پخپل کور کې خپله کوټه کې ناسته ده. لاس یې زنې ته لګولی دی. په فکر کې تللې ده. ( پلار مې په هېڅ شان سره سیمر ته نه ورکوي. هو نه مې ورکوي. مور او پلار مې دواړه په دې خبره نه راضي کېږي .ما خو سیمر سره په پښتو او مینې قسم خوړلی. هر څنګ چې کېږي هغه زما د ژوند ملګری دی. زه به د هغه سره خپل ژوند شریکوم.) مور یې ور نارې کړې. زرکې لورې وا

زرکې ، زرکه له ځایه پاڅېده په چالاکۍ سره له کوټې نه راووته وې ویل مور جانې څه دې ویل ؟ هو لور جانې ته راشه څه درته وایم ـ ښه مور جانې دادی درغلم ـ مور یې په داسې حال کې چې له اشپز خانې نه راووتله ـ میز ته کښېناسته لور ته یې وویل راځه زرکې دلته په دغه څوکۍ کښېنه ـ زرکه د خپلې مور خوا ته کښېنې ـ لور جانې یوه خبره درته کوم چې ته پکې څه وایې ؟ زرکه د مور سترګو ته ورګوري ـ مور یې ورته وای ـ لورې خبره خو داده چې د کوز کلي ملک دې د زوی لپاره پوښتنه کړې ده دلبر نومې زوی یې دی ـ پلار دې ورته ویلي دي چې په کور کې به مور خپلو کې مشوره وکړو ـ پلار دې دا خبره ماته وکړه لکه چې پلار دې راضي دی ـ هغه ویلې د ملک زوی دلبر ښه ښکلی زلمی دی ـ تر دولسمه یې ښوونځي ویلی دی ـ ډېر بادر هلک دی ـ نو ما وی چې ستا څه نظر دی ـ څه پکې وایې ؟ زرکه سمدستي له ځایه پاڅېده وې ویل ـ مورجانې زه هیڅکله مېړه درنه نه غواړم ـ په قهر له ځان سره اوبنګېده او د مور له خوا نه لاړه وړاندې بلې کوټې ته ننوته ـ په څوکۍ کښېناسته لاس تر زنې په سوچ کې ډوبه لاړه ـ رنګ یې له غصې نه سور اوختی و ـ (له ځان سره یې په زړه کې وویل چې مړه هم شم بل څوک به وانخلم ) سیمر باید له دې خبرې نه خبر کړم ـ له کوټې نه راووته او د سیمر د لیدو په نیت د کلا په دالانه کې روانه شوه ـ مور یې ور غږ کړل ـ زرکې لورې مه خفه کېږه څه چې د خدای رضا وي هغه به کېږي ـ هغې په غصه ناکه لهجه کې وویل ـ مور جانې چې مړه هم شم ـ دغه کار به ونه کړم ـ چیرې ځې لورې ؟ هسې باغ ته اوځمه زړه مې راتنګ شو ـ ښه ده لورې بلا دې واخلم مه دلګیره کېږه ـ ځه ورځه باغ ته لاړه شه ـ زرکه په ګړندیو ګامونو له کلا نه اوځي ـ راسا د ژرندې لار نیسي ـ په خپل خیال کې تر ژرندې رسېږي ـ د ژرندې په دروازه کې سیمر ولاړ و ـ ګوري چې زرکه ورنږدې شوه ـ هغه هم ورته مخې ته ورغی ـ کله چې زرکه د هغې خوا ته ورغله ـ سمدستي یې سیمر ته وویل

همدا اوس باغ ته راشه چې څه خبره ده په هغې سره دواړه وګړېږو ـ ده ویل ښه ده ته ځه زه درځم ـ زرکه واپس د باغ په لور وګرځېده ـ په سترو ګامونو باغ ته ننوتله ـ په ورو ورو ګامونو سره د باغ په ګلونو کې د ګلونو په لیدو مصروفه شوه ـ سیمر مور ته وویل ـ مور جانې ژرندې ته ګوره ـ زه چیرې ځمه څه کار مې دی ـ بیرته راځم ـ مور یې ورته وویل ښه زویه لاړ شه زه یمه هیڅ فکر مه کوه ـ

سیمر خپل څادر په ولي سم کړ او د باغ په لور روان شو ـ له ځان سره په دې سوچ کې وه چې زرکه به راته څه وایي ؟ د باغ په دروازه ننوت ـ وړاندې یې د باغ ونې او د ګلونو بیلې بیلې باغچې د سترګو را لاندې کړې ـ وې لیدل چې هلته وړاندې د باغ په منځ کې د یوې لوې صوپې په څنډه زرکه د سبز ونې سره جوخته ولاړه ده ـ هغې ولیدل چې سیمر راغی ور روانه شوه ـ مخې ته ورغله ورته وې ویل ته ورځه زه به د باغ دروازه ځنځیر کړم ـ هغه یو څه ګړندی د بڼ دروازې ته ورغله ـ دروازه یې ځنځیر کړه او واپس په سیمر پسې شاته روانه شوه ـ په دغه وخت کې د باغ باغوان چیرې تللی و ـ په باغ کې نه معلومیده ـ سیمر خو بې له هغې هره ورځ په باغ کې کار کاوه ـ د کار ځای یې معلوم و ـ په دغه وخت هم هغه نېغ د خپل کار ځای ته ورغی ـ څادر یې په پوله کېښود ـ بیل یې را واخیست ځان یې مصروف کړ ـ چې زرکه ورغله ـ سیمر ته یې د خندا په حال کې لاس ور اوږد کړ ـ سترې مشي یې وکړه ـ د بوټو او ونو په مینځ کې دواړه کښېناستل ـ زرکې وویل سیمره نن درته یوه نوې خبره کوم ـ سیمر په حیرانتیا سره خپل څادر له کوناټې لاندې کړ او د زرکې سترګو ته یې په زیر زیر سره کتل په داسې حال کې چې خپل بانه یې نه رپول وې ویل ـ څه دې اوریدلي دي وایه که نه ـ نن سبایي مور مې راته وویل چې د کوز کلي ملک دې له پلاره خپل زوی لپاره چې دلبر نومیږي غوښتې یې ـ پلار دې لا څه نه دې ورته ویلي ـ نو تا څه ورته وویل ؟ ما مې مور ته

یوازې دومره وویل چې ځان به مړ کړم مګر دا کار نشي کېدی د نر لورې ـ سمه خبره دې ورته کړې ده ـ پوهېږم چې پخپله ژبه ولاړه یې ـ نو ته څه فکر کوې چې زما او ستا هوډ به ګټني مات شي ـ نه نه هیڅکله ام نه ـ له خپله ځانه پتا ډېر باور لرم ـ خو یره زرکې افسوس چې.... ! د څه شي افسوس پاکه خبره کوه ـ پاکه خبره خو دا ده چې زما حالت او ستا د پلار سره به زما او ستا راتلونکی ژوند څنګه شي هیڅ نه پوهېږم ـ سیمره زه پوهېږم چې پلار مې ورکوي هغه کله ام زما نه پوښتنه نه کوي او نه خو زه د هغه په مخکې څه ویلی شم ـ خو زمونږ تصمیم (فیصله) به دا وي چې که چیرې مې پلار ورکړي ـ نو بیا به هغه وخت کې دواړه بله چاره سنجوو ـ سیمر د زرکې نه سترګې واړولې وې ویل ـ زرکې ستا خبره په ځای ده ـ الله پاک په یو حال دی نور هر څه بدلېږي ـ ته ډېر تشویش مه کوه ـ چې زما او ستا ټینګ عزم وي او د مینې لوظ په منځ کې موجود وي ـ هر څه به سم شي چُرت مه خرابوه ـ سیمره پوهېږې چې دلته مینه کول د هلک او جینۍ پخپله خوښه سره خپلو کې د ژوند پېوند تړل ګران کار دی ـ ودونه د پلار او مور په خوښه کېږي ـ د جینۍ او هلک پکې هډو کار نشته دی ـ زه فکر کوم چې یوازې زه او ته به دا پابندي ماتوو ـ هو ولې نه ـ هر شی او هر سخت کار سر ته رسول قرباني غواړي ـ زرکې زه خو دومره ویلی شم چې په دې مشکلاتو کې به بری خامخا زمونږ وي ـ په دې خبره د زرکې خوا ته ورنږدې شو ـ په داسې حال کې چې هغه د ونې ستې ته جوخته ناسته وه ـ خپل وربل ته یې ټکان ورکړ ـ موسکۍ شوه له ډېرې مینې نه یې مخ سور واوخت ـ سیمر په کرار سره ښه ورنږدې شو ـ د هغې لاسونه یې پخپلو لاسونو کې ونیول وی پنجه یې کړه ـ دواړه لاسونه یې پنجه کړل ـ سیمر د هغې په لاسونو لږ زور وکړو او خپلې شونډې یې د هغې شونډو ته ورنږدې کړې ـ زرکې د خندا په حالت کې یوې خوا ته او بلې خوا ته مخ کوږ کړ خو خړاپ شي چې سیمر ترې کوکۍ واخیستله ـ پرېږده ، پرېږده

څوک به مو ووينې. سترګې يې سرې واوختې. بدن خوله خوله شو. خوله يې وچه شوه. سيمر لاس سوست کړل. غوني يې زيګ شو. څه يې په زړه کې و خو لا ويلې يې نشول. د هغې لاس يې پرېښودل او دومره جوخت ورسره کښېناست چې زړه يې و لاس پرې واړوي. خو زرکې ځان راغونډ کړ. او ترې وړاندې شوه. وې ويل. سيمره اوس همدومره بس دی. ځم چې مور به مې راپسې راشي. سيمر وويل ښه ده کله چې يادېدم ژرنده خو ستاسو خپله ده. سيمره پوهېږي چې همدغه ژرنده راته اوس تاج محل ښکاري. سيمر کټ کټ وخندل. ويل منم دې زما ګرانې زرکې. په رب چې سترګې دې لکه د زرکې پشان سرې اوختې. لاس دې راکه چې درنه لږ څه مخکې له باغه اوځم. دواړو د يو بل په لاسونو ښه زور وکړو. سيمر روان شو. شاته شاته يې هغې ته کتل او له باغه ووت. ورپسې وروسته زرکه هم د باغ له دروازې نه پناه شوه. له همدې ورځې نه وروسته د زرکې مينه د سيمر سره بې کچه شوه. هاغه به يې خامخا د ورځې يو ځل دوه ليده. سيمر هم له يوې خوا د نوې ځوانۍ په مستۍ او له بلې خوا هغه ډېر ښکلی ځلمی و. که ژرندګړی هم وه خو د ځوانۍ غرور او مستي يې ان له شهزادګانو نه هم پورته وه. څو ورځې وروسته زرکې ښه صفا مور ته وويلې. که مو چاته ورکړم ځان به ووژنم. مور خو يې دا خبره خان ته کړې وه. مګر هغه سخت زړی سړی و. خبره يې خبره وه.

## پینځم پړک ( پینځم څپرکی )

سبايي د طالب جان دوي په ښوونځي کې سره ببرغونه ځړېدلي وو . کله چې هغه ښوونځي ته ورننوت کتل يې چې د ښوونځي شاګردان او ښوونکي د ښوونځي په ميدان کې راټول شوي وو . ميټنګ جوړ دی . په سرو ټوټو يې شعرونه ليکلي وو ځينو سره په لاس کې د نور محمد تره کي عکسونه ښکاريدل د ونو په تنو هم سرې ټوټې تاو شوې وې . يوه تن ښوونکي په لوړ اواز د نوي رژيم خبرې کولې . دی يوې ګوښې ته ودرېد خبر و ته يې غوږ ونيو . ښوونکي په لوړ غږ وويل . پخواني حکومت له منځه لاړ . په ځای يې خلقي رژيم د نور محمد تره کي په مشرۍ منځ ته راغی . دا خلقي دولت به زموږ خوار اولس ته کور ، کالی ، ډوډۍ ورکوي . پس له دې به ظلم ، بې عدالتي او رشوت خوري مطلقه ورکه شي . د ظلم او استبداد لمن د تل لپاره له هيواده ټوله شوه . د طالب جان په زړه کې ورو ګرزيدل ( هلکه ربښتيا به دا ظلمونه ورکېږي او که... ؟) هغه شا و خوا کتل چې ګني کوم همضيفي پيدا کړي. اخر يې څو تنه ټولګي وال وليدل. دی ورپسې ورغی. غلی د هغوي خوا ته ودريد . يو همضيفي يې نيغ په څنګل وواهه. هغه چې مخ راواړاوه . طالب جان يې وليد . سترګې يې ورته رابټې کړې په اشاره يې پوه کړ چې په خوله دې لاس کېده . خالي غوږ نيسه په خبرو کې به وړاندې د کوم ځای نه ناڅاپه داسې شعارو ورکړ شو .

ژوندی دې وي ستر لار ښود نور محمد تره کی

ژوندی دې وي به وروسته وويل شول. تر غرمې ميټنګ روان وو . په دغه ورځ درس نه وو . کله چې طالب جان کور ته لاړ . د داود خان د مرګ يې

پلار ته وویل. د نوي خلقي دولت خبره يې ورته وکړه. پلار يې چُرت کې لاړ. بیا يې وویل بچی نورو چې څه کول هغه ته هم کوه. داسې څه مه وایه او کوه. چې ځوک دربانديې ګوته کیدي. اوبه ګورو چې نور خلک څه کوي ؟ اوس لا هر څه نوي دي. په کلي کی خلک څه وايي. خلک لا نه دي خبر. ځینې کسان د داود په مرګ خفه کیږي. همدغه شان په لږه موده کې په کلیو کې د رژیم په پلوی خبرې کېدې. اتحادي جوړیدلې ، غونډې او ټولنې کیدلې. ورځ په ورځ د خلقي دولت طرفدار زیاتیدل. او ښځو نرو ورسره خوځاوه. په ټول دولت کې نوی تشکیل ، نوې مقرري ګانې وشوې. په کمه موده کې نوي نوي فرمانونه راووتل. یو فرمان به له بل نه پسې تند و. په ځینو فرمانونو خلک خوښیدل او په ځینو به په غصه کېدل. خلکو ته ددغه ډول حکومت نوې چارې او چال چلن بیخي نوې خبره وه. اولسونه ټولو چارو ته متوجې وو. په لومړیو څو میاشتو کې دغه نوی رژیم د خلکو خوښیده. خو کله چې د ځمکو فرمان راووت. او د ډېرو ځمکو خاوندانو نه ځمکې په بې ځمکې بزګرانو ته ویشل کېدې یو عمومي زونګ زونګ په اولس کې پیل شو. عجبه خو دا وه چې په ځینو ځایونو کې به د بعضو ځمکو ویشونکو ګروپونو له خوا د خان او ارباب په ځمکه کې میټنګ جوړولو. د کلي خلک او بزګران به راټول شوي وو خان او د ډیرو ځمکو څښتن به هم موجود وو. ځمکه به يې ترې واخیستله او بیا به يې رد بد هم ورته ویلې چې دغه کار دولت ته سخت مشکلات رامنځ ته کړل. همدغه شان نویو علاقدارانو ، ولسوالانو او والیانو د بې تجروبګۍ او بې مسلکۍ له مخې اشتباه ګانې وکړې او اولس يې له ځانه وترولو. له دغه حالت او وخت سره سم بهرنیې لاسونه را اوږده شول. نوي دولت ته يې ورځ په ورځ ستونزې را ولاړیدې.

طالب جان په دا بل کال ښوونځی پایې ته ورساوه. په کانکور کې يې پخپله خوښه د ساینس پوهنځې ته کلی و کامیاب شو. د پوهنتون په

ویلو یې پیل وکړ.هغه په کلي کې لمونځ ګذاره او اخلاقي زلمی و.تل یې بونډۍ ږیره پرېښې وه.یوه ورځ د پوهنتون ادیتوریم مخې ته د څو کسانو سره ولاړو یوه همصفي ورته وویل.وا لکه طالب جانه یوه د پیرزو خبره درته کوم چې لومړی خو دې دا ږیره وخروه.او بل په لیلیه کې دا مونځونه کم که.والله چې دا سره خلقیان دې نیسي.هر یوه ورسره دغه ډول ټوکې کولې.هاغه به ورو په ږیره لاس تیر کړ او ورته اوبه یې ویلې.زه خو څه اخوانی نه یم چې نیسي مې.بس دا ډول ټوکې او ګپ شپ به ورسره خپلو ټولګي والو ویشتو.مګر هغه رښتیا هم په زړه کې ډارېده ګني چې د پوهنځي د سا زمان منشي یې د نیولو تصحیح ونه نېسي.خوار به په لیلیه کې لمونځ نه کاوه.چیرې وړاندې کوم جومات ته به د مانځه لپاره لاړ.خو دې ټولو ته پوره معلوم و چې په هیڅ سیاسي کوم ګوند او سازمان کې تنظیم نه و.پخپل اسلامي عقیده کلک ولاړو.ورسره یې ښه لوړ اخلاق او د همصفیانو (ټولګیوالو) په زړونو کې یې ځاې درلود.ځینې خلقي ځوانان چې د کابل پوهنتون په بیلو بیلو پوهنځیو کې یې مسئولیت درلود او ګوندي اختیار یې پلاس کې و.په ځینو لمونځ ګذاره او عادي محصلین چې اخوانیان به هم نه وو.د اخواني باور کاوه او د نیولو په لټه کې به و.دغه شان ځینې غیري اخواني عادي لمونځ ګذاره محصلین پکې هم دوړه شوي وو.

تاجو په دا بل کال ادبیاتو پوهنځي ته کامیابه شوه.د هغې په بریالیتوب طالب جان ډېره خوشحاله شو.یوه ورځ د پوهنتون په کتابخانه کې دواړه ناست و.تاجو هغې ته وویل.رښتیا ته خو راته ووایه چې پوهنتون کې سیاسي حالت څنګه دی.زه خو به درته ددې ځاې ټولې خبرې وکړم.مګر ته راته ووایه چې هلته په کلیو کې څه حال و؟هلته خو چې ددې نوي حکومت شپږ اووه میاشتې لا وتې نه وې چې په کلیو کې د دوي په خلاف خبرې پیل شوې.په ځینو ځایونو کې د حکومت په پوستو او

سنګرونو حملې کیدلې .د کلیو خانان او ملکان د دې دولت نه ډېر په عذاب دي.مځکې یې ترې په بزګرانو وویشلې.کوم خان او ملک چې د دولت په ضد څه ووایي دستي نیول کیږي او بندي کیږي.ډېر خلک له ډاره څه نشي ویلې .اخوانیان یې سم وټکول.چیرې چې اخوانی سر پورته کړي نیسي یې او بیا یې هډو پته نه لګي.تاجو حالات بدل دي دلته هم پوهنتون کې اخوانیان او د نورو ګوندونو محصلین نیول کیږي او له پوهنتون نه ورک کیږي.او بیا په تیره د لیلیې نه هره شپه ډلې ډلې دغه شان محصلین ورک کیږي .د نسوانو لیلیې نه هم ځینې انجونې ونیول شوې او نامعلومه ځای ته یې وړي.فکر دی اوسه تاجو چې دې دولت په خلاف څه ونه وایې.زه خو په کوم ګوند کې نه یم.دا خبره نه ده چې هسې شک یې درباندې راغی هم دې نه پرېږدي .پام دې وي چې چیرته څه ونه وایې.

د خلقي جونو سره زیات تماس او ناسته پاسته کوه.ښه ده پس له دې به ورسره ښه تود سلام علیک کوم.

آبله ورځ رانه د فارمیسي پوهنځي یوې جینۍ پوښتنه وکړه.د کوم ځای یې په سازمان کې یې که نه؟ما ورته ووې هو په سازمان کې ووم.له ډاره مې ورته دروغ وویل.خو راته موسکۍ غوندې شوه.له هغې ورځې راهیسې مې چې چیرته ووینې سلام علیک راسره کوي.تاجو په غلې غږ په داسې حال کې چې شا و خوا یې لومړی پام وکړ او بیا یې هغه ته وویل.

ا بله شپه د نسوانو لیلیې ته دوه تنه راغلي وو.موږ تلویزیون ته ناست وو.او مو لیدل چې هغوي دننه لیلیې ته ورغلل.لږه شیبه وروسته یې دوه جینکۍ له ځان سره د لیلیې نه ویستلې او موټر ته یې پورته کړې.

یوې بلې جینۍ راته وویل.لا تر اوسه یې بیرته څه پته نده لګیدلې.خو ته ګوره طالب جانه دوه ورځې مخکې زمونږه په کوټه کې یوې جینۍ راته د خپلې همضفۍ داسې قیصه وکړه.هغې وې زما یوه ټولګي واله

چې ملګرې مې هم ده هغه یې هم نیولې وه. ویلې کله چې یې د شپې بوتلم په جیپ موټر کې یې د کورنۍ چارو وزارت ته یې ورننویستلم. له جیپ نه چې یې ښکته کړم. یوې لاندې تاه کاوۍ ته یې بوتلم. په یوه کوټه کې یې کښېنولم. د کوټې رڼا کمزورې او زیړ بخښنه وه. هغوي رانه لاړل. غوږ ته مې مړه شومه ، مړه شومه اواز راتلو. په زړه کې مې تیر شول (دا حکومت خو د ظلم او ناروا نه بد وړي ، د مساواتو نارې وهي مګر دا ولې ؟) ویل لږه شیبه وروسته یو تن ځلمی چې توره دریشي یې اغوستې وه. سره نکټائي تړلې وه راننوت. سترګې یې تکې سرې او ختې وې. له دروازې نه یې راغږ کړو. افغان ملتۍ ولې خلقي رژیم پسې بد تبلیغ کوې. اوس به دې مذهب پلاس کې درکړم. را وړاندې شو او د زنې سر یې رانه په خوله کې ونیوه. په ښي لاس یې کلکه څپېړه ورکړه. هغه رانه لاس تاو کړل او په مځکه یې څملولم. لکه د ځناور داسې قوت کې وو. مال ګنې هډوکي یې راباندې چر چور کړل. له دې خبرې سره یې مړې او ښکې راتوې شوې. ویل بیا یې په مځکه پورې کلکه ونیولم. ما ورسره تر اخره مقاومت وکړ. په مخ مې ورته لاړې تو کړې. هر څو مې چې ورسره زور ازمایي وکړه. هغه نه کراریده. تر څو مې دومره سترې شوم چې له هوښه ووتم هغه د لیوه زوی راباندې د پاسه شوی و. یو وخت په هوښ کې شوم. ځان مې راغونډ کړ. عزت مې لوټ شوی و. له یخنۍ مې جامې وګرزیدې. شیبه پس راپسې یو تن راغی له وره نه یې غږ کړو. خورې راځه چې پاس کوټې ته وخیږو. په هغه پسې ور روانه شوم. په یوه کوټه یې وننویستلم. تقریباً شپه په وتو وه. یو سړی میز ته ناست و. څه یې لیکل. ماته یې کړل خور کښېنه. په چوکۍ کې کښېناستم. هغه بیا سر راپورته کړ ښکلی زلمی و. له څیرې نه ښه سړی معلومیده. په ښه خوږه لهجه یې وویل. خورجانې بخښنه غواړم. خفه نشې یو څو پوښتنې به درنه وکړم ته به یې ځواب کړې. ما وې ښه. په زړه کې مې تېر شول. (ښه

خلک هم پکې شته دي او هغسې د ظالم زامن هم پکې دي ) له څو پوښتنو وروسته هغه سړی لاړ کاغذونه یې له ځان سره یووړل. ما ته یې وویل خوري ته دلته کښینه. زه واپس راځم کتل مې چې هغه لاړ. یو بل تن چې کلاشنکوف یې څنګ کې نیولی و. د کوټې دروازې ته راغی. ما ته یې راوکتل او بیا په دروازه کې په چوکۍ کښیناست. سهار شو رڼا ولګیده. د پولیسو افسران او هم نور خلک بیرون لیدل کېدل. یو عسکر راته یوه پیاله چاې او ډوډۍ راوړه. د ورځې لس بجې شوې چې هماغه سړی راغی کم چې له مانه تحقیقات کړي و. کله چې دفتر ته راغی. له ما یې بخښنه وغوښته. وې ویل. خوري زموږ اشتباه رفعه شوه. فعلاً ته کومه ګناه نه لرې. ولې یوه خبره درته زه کوم چې په دې انقلابي وخت کې احتیاط کوه. موږ بې ګناه څوک نشو نیولای له دغه راتګ نه دې معذرت غواړم. ته تلای شې. هماغه و چې واپس ببرته لیلیې ته راغلم. له دې خبرې سره یې خپلې اوښکې پاکې کړې وې ویل راځه چې تدریس ته ځو ناوخته دی نو طالب جانه دغسې حالت دې څنګه به شي ؟ تاجو قسم دی چې زه له ویرې په لیلیه کې لمونځ نه کوم. وړاندې جومات ته ځم اګرچې زما ناسته پاسته له دوي سره بده نه ده. څه نه راته وایي. پخپله زیره یې لاس تېر کړ. وې ویل له دې بوندۍ زیرې له لاسه به راباندې کېږي. نو ولې یې نه ښروئی. چاړه پرې راکاږه چې ترې بې غمه شې. همدغه نیت مې ورته کړی دی زیاتې مې په ډنډ ورګډوي. سر له سبا نه ترې خرپ اوباسم. ساعت ته ګوري چې د رخصتۍ وخت رارسیدلی تاجو ته وایې اوس به له کتابخانې نه لاړ شو چې ناوخته دی. سبا ته به وختي راشو. دواړه له کتابخانې نه اوځي او د نسوانو لیلیې خوا ته رهی کېږي.

قدم په قدم د علي اباد په سړک مخامخ ابن سینا او دارالمعلمین سړک ته ور روان وو.

## شپږم پړک ( شپږم څپرکې )

د زرکې دوي په حجره کې د کوز کلي ملک د دلبر پلار سره د څو تنو مشرانو د کلي ملا د شپې له خوا یو ځای ناست وو. یو تن کلیوال سپین ږیری د زرکې پلار ته وویل. ملکه موږ خو د کوز کلي ملک چې دا دی دلته ناست دی. ستاسې سره د خپلوۍ کولو په نیت راوستي یو. په کور کې چې لور ، خور پېغله شي ورکول یې ضروري دي. د سړي پرې غاړه بندېږي. دې ته له موږه ښه پېژني. زوی یې هم تعلیم والا دی. ډېر ښه زلمی دی. موږ دا راغلي کسان درته عذر کوو او هیله لرو چې تش به مو نه لېږې. یوه بل مشر هم دا خبره راغبرګه کړه وې ویل. ملکه ستاسو تر منځ چې د خپلوۍ دا تار ټینګ شي موږ ټول پرې خوشالېږو. او تاته مو دغه وړاندیز راوړی دی. د زرکې پلار یوه شیبه غلی و بیا یې ناستو د جرګې او راغلي مرکې ته وویل. وروڼو تاسې ټول زما سر سترګې یاست. ما له خپلې لور سره په دې باب هیڅ نه دي ویلي. یوه سپین روبې ترې له خولې نه خبرې ونیوه وې ویل. ملکه دا د پښتو وطن دی. دلته هیڅوک له لور او زوی نه په دې خبرو کې پوښتنه نه کوي. د زرکې پلار وویل. دا نوی خلقي حکومت راغلی ددې ډول خبرو هرو مرو پوښتنه شته دی. یوه بل وویل. ددې خبرو سره د حکومت څه کار دی. دا زمونږ خپل اولسي کارونه دي د زرکې پلار وویل. دا چې پخپله د کوز کلي ملک او تاسې د کلي مشران او ملا صېب راغلي یاست. ستاسو وړاندیز چې زموږ د دواړو د خپلوۍ په حقله ماته منظور دي. ټولو وویل ملکه کور دې ودان یوه وویل ملا صېب یو سورة ووایه چې دعا وکړو. ملا د قرآن یو سورة قرأت کړ. بیا یې دعا وکړه. د دعا په پایې کې ټولو راغلو کسانو د کوز

کلي ملک ته مبارکي وویله ـ ګوړ ماتې وشو ـ د خپلوۍ دستمال یې ورکړو ـ د چاې پیالۍ وچښل شوې او د مرکې خلک د زرکې د پلار څخه رخصت واخیست او لاړل ـ د زرکې پلار چې کلا ته ننوت ـ د زرکې مور چې تیاره په دروازه کې ولاړه وه ـ وې پوښتل ـ سړیه څنګ چل وشو ـ هاغه بې واره له خولې ووتل ـ زرکه مې ورکړه ـ دا خبره زرکې دننه واوریده ـ سمدستي یې رنګ زیړ واوښت ـ په منډه پاس خپلې کوټې ته وختله او په ژړا یې پیل وکړ ـ مور یې لاندې برنډه کې هک پک ودریده ـ ملک په څوکۍ کې کښیناست واپس زر پاڅېد او کټ کې یې بالښت ته تکیه ووهله ـ وې ویل د زرکې مورې ـ په دې خبره کې زړه مه ښکته بورته کوه ـ دا عامه لار ده ـ ته څنګه د پلار له کوره را واده شوې یوه خور لور د پلار په کور نه پاتې کېږي ـ دا څه نوې خبره نه ده ـ زرکې ته هم قناعت ورکړه ـ زرکه پخپله کوټه کې ناسته وه په هټکو هټکو یې ژړل ـ تر څو پخپل بستر خوب یووړه او ویده شوه ـ

سبا ته د ورځې په لسو بجو د ملک په مځکه کې د مځکو د اصلاحاتو ګروپ له نورو ډیرو د کلیو خلکو په شمول راټول شوي وو ـ یوه تن چې توره دریشي یې اغوستې وه ـ د دیرشو کالو په عمر به وه ـ په لوړ ځای ولاړ وو ـ د ځمکو د اصلاحاتو فرمان یې تشریح کاوه ـ پخپلو خبرو کې به یې خانان او فیوډالان غندل ـ د خبرو په پای کې یې وویل ـ نن هغه وخت رارسیدلی دی چې انقلابي دولت د مځکو د فرمان له مخې دا دی د دغې فیوډال لاس یې د زرکې پلار ته ونیو ـ مځکه دهقانانو ته ورکول کېږي ـ دده به یوه سترګه ژاړي او بله به یې خاندي مځکه به ترې اخیستل کېږي ـ په دې وخت کې د زرکې پلار لاس جګ کړ وې ویل ـ له تاسو نه هیله کوم چې مځکه مې واخلئ خو ردې بدې راته مه وایاست ـ یوه ځلمی له دغې ډلې د منځه په لوړ غږ د احساساتو په ډکه ناره وویل ـ ته لا دا خبره کوي ته باید بندي شې ـ فیوډالان غداران دي په دې انقلابي دولت کې به

خامخا خپل سرونه خوري. د زرکې پلار خبره په خوله کې پاتې شوه. د هغې څنګ ته سیمر حیران ولاړ و. کله به یې انقلابیانو ته کتل او کله به یې د زرکې پلار ته ورکتل. د خپګان او غصې نخښې یې په سترګو کې معلومېدې. هاغه د زرکې په پلار زهیریده. څو ګامه وړاندې لاړ دیوالـه ته یې تکیه ووهله او د مځکې د ویش راغلي هئیت ته یې کتل. په پای کې د خان مځکه یې بې مځکو بزګرانو ته ورکړه. ولې بزګران زړه نا زړه وو. دا جرأت ورسره نه و چې ځمکه ځانته تسلیم کړي خو له ویرې یې څه نشو ویلې. تر ناوخته پورې دغه لړۍ روانه وه. سیمر ته یې یوه برخه مځکه بیله کړه. خو هغه په جرأت ورته وویل. تاسو مه خفه کېږۍ زه د ملک ځمکه نه اخلم همدغه یوه ژرنده یې چې راکړې ده قناعت پرې لرم. د ګروپ مشر ورته وویل مورږ خو ستاسې لپاره انقلاب کړی دی دا انقلابي دولت د بزګرانو او زحمتکشانو دولت دی. تاسې ته ټوکه ښکاري. نه نه صیب رښتیا ده چې د غریبو په ګټه دي خو ما د ملک صیب خوړلې څښلې ده حرام نمکه نه یم کوم بل چا ته یې ورکړئی. خپل څادر یې په اوږه واړاوه او له ګڼې ګونې نه ووت. د خپلې ژرندې په لور یې د کلي لاره ونیوه روان شو. په دې وخت کې د غره په سر کې څو ډزې وشوې. په خلکو کې سمدستي ګونګسی شو چې پورې دره کې تانه باندې ډزې وشوې. میټنګ پای ته ورسېد. سیمر هم خپلې ژرندې ته ورنږدې شو. د کلي خلک او د زرکې پلار د لمانځه کولو لپاره جومات ته لاړل. د کلي د خلکو په منځ کې هر چا هر راز خبرې کولې. چا به نوي حکومت پسې بد ویل چا به ورپسې ښه ویل. ملایان او شتمنو به خپلو کې سره په نوي رژیم پسې بد تبلیغ کاوه. ځینو به هیڅ نه ویل. د خلقي دولت پلویانو او د خلق دموکراتیک ګوند غړو په هر کلي ، ښار او ښوونځیو کې د پرلـه پسې فرمانونو تجلیل او د خوشالۍ او تائید میټنګونه او غونډې کولې. هرې خوا ته سرې ټوټې ځوړندې وې. څو میاشتې همدغه حالت د خلکو

زړونو ته لږ څه د خوښۍ هيله پيدا کېده . مګر دغه حالت بيخي کم وخت دوام وکړ . يوې ورځې نه بلې ته په بيلو بيلو ځايونو کې د رژيم په ضد پټې کار روايۍ کېدلې . حکومت هم د کليو خانان او ځينې اخوانيان ملايان نيول او بندي کول يې . په ښکاره چا څه نشو ويلی . مګر په پټه دولت په ضد تخريب او مخالفت کېده . د زرکې پلار يې په دريمه ورځ د هغه د مځکې د ويش نه وروسته ونيو او مرکز ته يې ولېږه چې د هغه په نيولو د کلي ټول خلک سخت خفه شول . سهار وختي و چې سيمر او مور و پلار يې د زرکې کره لاړل . تر څو د زرکې مور او نورې کورنۍ ته يې ډاډګيرنه ورکړي . د کلا په دروازه چې ورننوتل زرکه او مور يې او نور د کور غړي په کور کې خفه ناست وو . د سيمر پلار امسا لګوله او د کلا په دالانه کې کټ ته کښېناست . زرکې او مور يې هغوي سره رو غبړ وکړ . بيا د سيمر پلار وويل . بي بي مه خفه کېږه . دا به د الله رضا وي . ملک کومه ګناه نه ده کړې . خالي ددې نوي حکومت به څه اشتباه وي . واپس به راځي په خير . تاسو هيڅ تشويش مه کوئی . د هغوي دهقانان هم ورکره وتل او ننوتل . د زرکې له سترګو نه اوښکې څڅېدلې . سيمر به ورته په يوه سترګه کتل . زړه يې راډک شو . وې ويل . تاسې ځان له مرۍ مه نيسۍ . دا هر څه به تېر شي . نا معلومه حالت دی . خدای پوهېږي چې څه به کېږي . زمونږ د وس خبره نه ده ملک کاکا به خدای راولي . ډېر تشويش مه کوئی . د ملک ميرمنې لور ته مخ واړاوه وې ويل . زرکې لورې سيمر دوي ته چاې راوړه . زرکه په پلار پسې ډېره خفه وه . د سيمر په ليدو خوشحاله شوه . له پخلنځی نه يې په لږه شيبه کې چاې راوړې مزدوره يې له بهر نه راننوته او په چالاکۍ سره يې ټولو ته د چاې پيالۍ مخې ته کېښودې . زرکه د سيمر سره مخامخ کښېناسته . دواړو د يو بل سترګو ته کتل او موسکې کېدل . د چاې له څښلو نه وروسته سيمر دوي د زرکې له موره اجازت واخيسته . او له کلا نه ووتل . زرکې په دروازه کې سيمر ته په

غلي غږ وویل .باغ ته ورشه چې څه درته وایم .هغه ویل ښه ده له کلا نه چې راووتل سیمر هغوي ته وویل بابا تاسې کور ته لاړ شئی .زه باغ ته ورځم مور یې وویل زویه ژرندې ته زر راشه چې نن دانې ډېرې راغلې دي .سیمر وې ښه مور جانې دستي راځمه .سیمر باغ ته ننوت په دغه وخت کې باغ کې هیڅوک نه و .هغه وړاندې نږدې ګلونو ته ورغی .د باغ دروازه یې څارله تر څو زرکه راشي .زرکې مور ته وویل .مورجانې زړه مې راتنګ شوی دی باغ ته اوځمه .ښه لورې ځه لاړه شه .په چابکو ګامونو له دروازې نه راووتله او د باغ په دروازه کې چې ننوتله دروازه یې ځنځیر کړه .د سیمر خوا ته راغله .هغه ته یې ورناري کړې .سیمره راځه چې هلته د سبرونو په صوفه کښېنو هغه ځای د باغ په منځ کې د ګڼو ناجوګانو سیوري ته ښکلې صوفه وه چې شا و خوا یې د اوبو لښتی تاو شوی و .رڼې اوبه پکې بهېدلې .د صوفې په څلورو خواو کې د ګلونو واړه واړه پټي و چې هر راز ګلونه پکې ولاړ و .د ګلابو ګلونو ډ کې ځانګې ځای په ځای په صوفه راتاو شوې وې .همدغه صوفه لکه د یوې ښکلې کوټې پشان جوړه شوې وه .د لرګي اوږدې څوکۍ پکې پرتې وې .دوي دواړه په یوه څوکۍ کښېناستل .زرکې خپلې خبرې داسې پیل کړې .سیمره خبر شوې ؟له څه نه ؟ زما د ورکړې نه ؟هاغه زرکې ته سترګې برګې کړې څنګه؟ څنګه خو داسې چې پلار مې آبله شپه د کوز کلي ملک زوی دلبر ته ورکړم .آخ دا څه وایې ؟هو رښتیا درته وایم دا دوه ورځې مې له ژړا نه ځان وژلی دی .دې رنګ ته مې نه ګورې .له یوې خوا مې د پلار نیول شول او د بلې خوا دې خبرې لکه زعفران زیړه کړم .سیمر له دې خبرې سره پخپل ځای چُپ پاتې شو .سترګې یې نه رپولې یوازې یوې نقطې ته متوجې و .بیا یې سوړ اسویلی ویوست زرکې ته یې پام کړ چې هغې په مخ اوښکې روانې وې .ده وویل اوس به څه کېږي ؟زرکې په داسې حال کې چې اوښکې یې پاکې کړې وې ویل .څه به کېږي هیڅ نشي

کېدی.داسې مه وایه زړه به مې وچوي.سیمر د زرکې لاس د هغې له سترګو نه ایسته کړو.وې ویل.زرکې په ژړا خو څه نه کېږي.خو سمې خبرې باید دواړه وکړو ما خو درته لومړی ویلي و چې زه یو غریب ژرنده ګړی یم او ته د خان لور.سیمره زه درسره پخپله ژبه ټینګه ولاړه یم.ته دې چې هر تصمیم (پریکړه) لرې همغسې به کوو .هیڅ زړه ښکته پورته نه کړې .سیمر لږ د خندا اوښکی کوږ کړ وې ویل اې جینۍ اوریدلي دې نه دي.د ملنګانو نه څه ځي یو کچکول.د پلار خانۍ پسې ته زړه مه تړه. دواړه به داسې ځای ته لاړ شو چې د دلبر پلار به مو پیدا نه کړي.فقط په لوظ راسره ټینګه اوسه.زرکې یو ځل بیا خپل ښی لاس د هغه لاس کې ورکړ.وې ویل.ما درسره په پښتو ژبه لوړه کړې ده.نو چې داسې ده سر له نن نه زما او ستا همدا وعده شو چې کله موقع راغله بیا به هماغسې کوو.سمه ده.هو سمه.خو رښتیا زرکې دا راته ووایه چې د کوز کلي ملک به له تاسې نه د واده غوښتنه څه وخت کوي ؟زه څه خبر یم.اوس خو لا حالات خراب دي.دا د وروسته وخت خبره ده.

سیمر یوه شیبه غلی په فکر کې لاړ.په زړه کې یې له ځان سره ویل (ته که د زرکې سره له کور کلي نه وتښتې نو دا بوډا سپین ږیری پلار او بوډۍ مور به دې چاته پرېږدې) د زرکې وړپام شو هغه لا هماغسې په سوچ کې ډوب و د تندي ګونځې یې زیاتې شوې وې.دې ویل څنګه په فکر کې شوې ؟ده ویل هسې دې خپل نصیب ته حیران یم .زرکې د مشکلاتو شپول رانه تاو دی.سیمره زه مې د پلار حالت ته فکر وړې یم چې بندي یې نه کړي.زرکې ستا د پلار په حال خو زه هم سخت ستومانه یم.آ بله ورځ چې خلقیانو ستاسې مځکه کې تنابونه وهل ویشله یې .ویشل یې لا څه کوې چې ستا د پلار یې ډېره بې عزتي وکړه .ځمکه یې ام ترې واخیسته او په خلکو کې یې بې عزته کړو.ما چې په هغې ورځ دغه حال ولید .له دغه خلقي دولت نه مې زړه تور شو.خو څه کولی شو د حکومت

سره د چا زور نه سمېږي ـ نو سیمره اخر دا به څه کېږي ؟ نه پوهېږم خو دومره ویلی شم چې دا حالات نور هم پسې خرابېږي ـ ځکه چې د دې کلیو او درو ملایان او نور ځیني خلک په دې حکومت رضا نه دي ـ له خلکو نه اورم چې نن سبا به د دې حکومت په مقابل کې خلک پاڅېږي ـ زرکې ته دا خبرې پرېږده ـ خپلې خبرې کوو ـ هغې په مخ راخواره شوي وېښتان چپ خوا ته ځنډوال وې خندل ـ خپلې خبرې خو هماغه یوه خبره ده ـ چې مخکې مو وکړه ـ دی هم په خندا شو وې ویل ـ ویشتلی په زړه بېدار وي ـ سیمره بس دی اوس به لاړ شو ـ مور به مې راپسې راشي ـ نن همدومره ته سبا ته ولسوالۍ ته یو چکر ورشه په پټه توګه پوښتنه وکړه ـ اګر چې د کلیو ډېر مشران مرکز ته ورپسې تللي دي ـ سمه ده زه به سهار ته د کلي د خلقیانو نه پوښتنه وکړم ـ ماسپښین به درته احوال راوړم ـ راځه چې ځوو ـ دواړه د باغ نه د وتلو په نیت روان شول ـ زرکې سیمر ته وویل ـ ته مخکې لاړ شه زه به وروسته دروازه پورې کړم ـ هغه چې له دروازې ووت ـ زرکې ته یې لاس ورا وږد کړ ـ دواړو خدای په اماني وکړه ـ او د مینې خندا یې وکړه ـ سیمر په چابکو ګامونو لاره وهله تر څو ژرندې ته ځان ورسوي ـ زرکې د بڼ دروازه کلکه کړه او کلا ته ننوته ـ مور جانې مورجانې غږ یې وکړ ـ وړوکي ورور یې د نورو درې ماشومانو سره د کلا په دالانه کې لوبې کولې ـ مور یې په کوټه کې دننه مصروفه وه ـ د زرکې غږ یې واورید ـ راووتله ـ وې ویل لورې راغلې ـ هو مور جانې راغلم ـ رښتیا مور جانې چا خو څه نوې خبر نه دی راوړی ـ نه لورې تر اوسه هیڅ پته نده لګېدلې ـ کوم کسان چې ورپسې تللي دي واپس یې احوال نه دې راغلی ـ نن به تر مازدیګره خدای مهربانه دی څه احوال راشي ـ مور جانې زما زړه وار ونه کړ ـ سیمر مې د کلي خلقیانو پسې ورولېږلو که له هغوي نه کوم معلومات راوړي ـ ښه دې وکړل لورې کېدی شي هغوي ته معلومات وي ـ سیمر وویل سبا ته به زه معلومات راوړم ـ خدای دې ورحمېږي لورې ـ

سیمر خو ډېر ښه هلک دی . په مور خفه کېږي .زموږ حال ورته خپل ښکاري. ښه اورېدونکی ګلالی سړی دی.
زرکه له ځان سره اومسکېده. وې ویل. مور جانې حالات ډېر خراب دي. اخر څه به کېږي. خدای پوهېږي لورکۍ چې څه به پېښېږي. ګډې وډې خبرې کېږي .الله دې خپل خېر پېښ کړي . پلار دې رب راخلاص که . سپین ږیری دی .زرکې ته ورشه دهقان ته وو ایه چې د شپې له خوا د حجرو دروازې کلکې کړي خړه لګېږي. ښه ده مور جانې ورته وایمه. هغه له کلا نه ووته په څنګ کې یې دهقانان دیره و .یوه ته یې په دروازه کې وویل شاهزاد اکا د حجرو دروازې درسره کلکې کړه. هغه دروازې راغی وریې تاله (قُلف) کړو .فکر مې دی زرکې لورې تاسې بې غمه خپل خوب کوئی. هیڅ فکر مه کوئی. یوازې د کلا دروازه پورې ساتی. زه د شپې له خوا بېداره یم. له کلا نه چا پیره ګرځم. تشویش ونه کړې. هغه واپس کلا ته ننوتله او د کلا دروازه یې ځنځیر کړه. مور ته یې د دهقان خبرې وکړې. ډاډه شوه. له ډوډۍ خوړلو نه وروسته مور یې ورته وویل. ځه لورې خپل ځای کې ویده شه .زه او وړوکی ورور دې هم ویده کېږو . هغوي ټول پخپلو ځایونو کې ویده شول. سهار چې زرکه راویښه شوه .له تشناب کولو وروسته د مور کوټې ته ورغله غږ یې کړ .مور جانې وا مور جانې. مور یې چاې تیارا وه. وې ویل زرکې بچې راغلې. هو مورجانې ټوله شپه مې سیمر په خوب کې لیده ما وې چې د پلار احوال به راوړي کنه. لورې خدای مهربانه دی. هغه به دغه ورځ تر غرمې پورې کله پاس کوټې ته ختله او کله به ښکته کېده او کله به بهر را ووته. تر څو د ورځې دوه بجې وې چې سیمر د باغ په کوز سر راواوخت. زرکې له لیرې ولید چې هغه را روان و. هغه په منډه دننه کلا ته ننوته. مور ته یې وویل. مور جانې زه ځمه چې د سیمر په حال ځان پوه کړم. ښه ده لور جانې ورشه. هغه په چالاکۍ راووتله او د باغ دروازه یې بیرته کړه. سیمر هم راورسېد.

دواړه باغ ته ننوتل. دروازه يې کلکه کړه دواړو سره لاس ورکړل ګړه بړه يې وکړه .بيا دواړه د باغ په منځ کې په سړک روان شول خپلې ناستې ځای ته ورسېدل. د بڼ د منځ صوفه د دوي د ناستې پاستې او ملاقات ځای و. زرکې ترې سمد ستي پوښتنه وکړه. څنګه څه احوال دي راوړي که نه ؟ سيمر هغې ته ور وکتل وې ويل. زرکې ولسوالۍ ته تللی وم لومړی مې له شير احمد نه پوښتنه وکړه. هغه زما اندېوال دی ښه او چت خلقی دی په اولسوالۍ کې منشي دی. هغه را ته وويل. خان کاکا يې مرکز ته سره له نورو کسانو لېږلی دی. ده ويل تاسو خو ترې خبر نه ياست هغه نورو کسانو سره په دولت پسې ضد خبرې کړي دي. راپور يې د کلي دوه تنو خلقيانو راوړی و. اولسوالۍ د ګوند د دستور سره سم مرکز ته استولی دی. نور پکې زموږ څه لاس نه رسېږي. ښاي زر را خلاص شي واپس کلی ته راشي ، کېدی شي د څه مودې لپاره بنديان شي دا شرايط انقلابي دي نه واسطه چلېږي او نه پيسې. ښه به دا وي چې ورته انتظار اوشي. انشاء الله ډېر زر به که خيري راشي. کورنۍ ته يې ډاډ ورکړه. که دلته په ولسوالۍ کې مو کوم خدمت وي. زه ستاسو مخکې يم. بس همدا يې وويل او ترې را روان شوم. ته څه فکر کوې سيمره چې پلار به مې راخوشې کړي. اې لېونۍ ستا پلار خو څه مړی نه دی کړی. د خلکو تر منځ به يې څه ويلي وي. دا وخت دې خبرو کله دی. ځکه يې ترې اخيستې ده. زړه په يې سوی يې اخر دومره څه خو به يې ويل. د بندي کېدو پرې د چا څه دي ؟ په خوله دې برکت شه سيمره. ده ورته وخندل وې ويل د ملک لورې پس له دې خپل غم خوره د دلبر سره به څه کوې ؟ د هغې سترګې راګونځې شوې د تندي منځ کې هم دوه ګونځې ښکاره شولې. لږه غلې پاتې شوه. بيا يې وويل. مرګ مې قبول دی سيمره خو دغه کار ته به زړه ښه نه کړم. هغه خندا شو لږ څه په ټوکه کې يې ورته وويل. زرکې له مانه هم بهادره معلومېږې. او زه خو چې ګورم يوې خوا

ته پاڼ دی او بلې خوا ته پړانګ. دا خبره پرېږده سیمره زموږ په فیصله بله نه خبرېږي بزدله کېږي به نه. کړت کړت سیمر وخندل. د نر لورې د نخښې منځ دې وویشت ستا د دې حسن سره د دې مال دولت سره دومره په وعده او عزم ولاړه یې چې هیڅ ثاني دې نشته دی. د خپلې خبرې ته بیا ځان جوړ کړ وې ویل زرکې ستا په حسن او مینه قسم خورم چې د زړه ارمان به دې تر سره کړم. نور څه غواړې. دغه شان خبرې کوه چې خوشاله اوسم. چې ته په څه خوشحالېږې هغسې به کېږي زرکې نور څه وایې. زرکې د ګلاب د ګل پاڼې راوشکولې او هغه یې پرې وویشت. د سیمرزړه ته نیغ د نغمې دا سندره ودریده.

په ګل دې وویشتم زرې زرې دې کړمه یاره
په لار کې ناسته یم خپل ځان راټولومه یاره

د سیمر بدن د مینې احساس وا خیست غوني یې زیګ شو. په خوله یې لاړې هم وچې شوې. ( په زړه کې حیا ورتله له ځان سره یې فکر کاوه چې سیمره بنده څومره بې جرأته یې هغه دې په ګل ولې مګر ته ) . اغیږ ورته ناسته یې. زړه یې رالوی کړ. خپل ښی لاس یې ترې تاو کړل. او په غېږ کې یې ښه ټینګه راونیوله. خراپ شي په مخ یې ښکل کړه. د هغې وربل په مخ را خور شو. لاس یې ورله ایسته کړ ځان یې ترې خلاص کړ له څنګه یې لږ څه وړاندې شوه د مخ اننګې یې لکه د انارو سره اوښتي ول. د سترګو تور والی یې په سوروالي بدل شوی و. هماغسې یې د مخ نیمایي تورو ویښتانو نیولی و. د سیمر سترګې هم سرې وې زړه یې ټوپونه وهل. د بیا ځل موچکې ته یې نیت و خو هغه ترې ښه پسې وړاندې شوه. ورو یې وویل هلکه په څه دې شروع وکړه ؟ په څه مې شروع وکړه. د ظالم لورې. د چا پلار به درته ټینګ شي. دواړو یو د بل په سترګو کې سره ځانونه ورک کړل. جینۍ لاندینۍ شونډه وچیچله مخامخ هاغه ته کښېناسته. ده ورته وویل. زه به څنګ ته درشم له ځایه پاڅید او د هغې

تر څنګه جوخت کښېناست. بیا دواړه د مینې په خوږو کې ورک شول. د هغې لاس یې په خپل لاس کې ټینګ نیولی و . دده له زنې نه خولې څڅېدلې. له یوې خوا ګرمي وه او له بله خوا د مینې ګرمي هم ورسره وه. د زړکې په مخ خولو د مرغلرو دانې جوړې کړې وې. سینه یې تله راتله. سیمر بیا د مینې نیشې واخیست. هغه یې ځانته سمه رانږدې کړه. لومړی یې ورله سترګې ښکل کړې بیا یې خپلې شونډې د هغې شونډو ته ورنږدې کړې. خو هغې ځان ترې لکه د غرځنۍ پشان په یوه ټوپ خلاص کړ. ودریده. ټیکرۍ یې دده په لاسونو کې پاتې شو. هغه ولاړه پاتې شوه. وې ویل. زه کور ته ځم. چې ستا ځواب مور ته ووایم. ځواب به یوسې زړکې خو ته یوه شیبه راته مخامخ کښېنه. ولې لیدلې دې نه یم که څنګه؟ لیدل د لیدلو پورې ده لېونۍ. ته کښېنه کنه وخت ډېر دی لاړه به شې. هغه د خندا په حالت کې کښېناسته وې ویل ټیکری مې راوارتوه. هن دا دی واخله. ور پاڅید ټیکری یې ورته په سر راخور کړ. لکه د ناوې پشان کښېنه. زه به درته مخامخ کښېنم. له زنې نه یې لاس ور لاندې کړ. ورته وې ویل. رښتیا زړکې ته چې کله په اینه کې ګورې ځان څنګه احساسوې. هغې وخندل ویل میرات شې له آینې نه مې بیخي زړه نه کېږي چې ترې جدا شم. نو ما ولې ملامتوې. پوهېږم چې که دواړه تر سبا پورې کښېنو ام کمه ده خو بس دی ځمه چې مور مې باغ ته رانه شي. سمه ده ځه چې ځوو. دواړه په کرار کرار د باغ دروازې ته را روان شول. په دروازه کې سیمر وویل زه به درنه مخکې او ځم ته به لږه وروسته راوځې. لاس دې را. هغې لاس ور اوږد کړ دی وړاندې شو د مخ نه یې موچکه واخیسته هغې مړې وروکتلې. ویل په مخ دې ښه شه. هغه لاړ. ورپسې هغه راووته. دروازه یې کلکه کړه. او کلا ته ننوتله. له دالانه څخه یې مور ته ورغږ کړ. مورجانې وا مورجانې. مور یې له کوټې راووتله وې ویل څه وایې لورې. هغه په منډه ورنږدې شوه. ورته وې ویل. مور جانې سیمر مې ولید راته

وې ویل چې پلار مې یې مرکز ته بیولی دی.سره له نورو کسانو.څه پوښتنې ترې کوي ویلې نن سبا به واپس کور ته راځی.په خوله دې امین شه لورې.ما خو ویلې چې سیمر د کار سړی دی.په موږ خفه کیږي.دهقانان خو ډېر دي مګر دا پکې بې شانه ښه سړی دی.ما ته په زړه کې ګران دی لورې.هغه موسکۍ شوه ښه پرې ولګېده.مور جانې خپګان مه کوه.خدای مهربانه دی.پلار به مې نن سبا له خیره راشي.سیمر راسا ژرندې ته لاړ.وې لیدل چې په ژرنده کې دوه تنه سړي په داسې حال کې چې خپلو د غنمو بوجو ته یې تکیه وهلې وې د ژرندې نوبت (وار) ته یې انتظار کاوه.سیمر لومړی په هغوي سلام واچاوه.بیا یې ورته وویل.وروره معلومېږي چې له لیرې نه راغلي یاست؟یوه ورته په ځواب کې وویل هو موږ له درې نه راغلي یُو.تاسو خو ما نه یۍ لیدلي لکه چې د لیرې درې نه راغلي یاست.هو موږ په دې فکر راغلي یًو چې زر تر زره وړه ورسوو.په کورونو کې راته خلک ناست دي ډوډۍ رانه غواړي.سیمر پښه نیولی شو.وې ویل څنګه په کورونو خلک؟هو لښکر راوتی دی د حکومت په ضد راپورته شوی دی.د وسلو سره راغلي دي.نن سبا په اوګورې چې دلته هوارې ته به رانښکته کیږي.د ټولو په خوله کې ملایانو د جهاد خبرې ورکړي دي.دایي چې ددې دولت په مقابل کې جهاد کوو.بس په موږ ناست دي په زور رابانديې ډوډۍ پخوي.دلته له حکومت نه په ویره او هلته له هغوي نه په ویره کې یو.که زموږ وړه بې واره وکړې وروره کمک به دې وي.سیمر هغوي دواړو ته په زیر زیر کتل بیا یې ورته وویل.راځئ بوجۍ مو راوړئ.ستاسې وار دی.سمدستي یې ورته بوجۍ په ژرنده واوړلې.ژرنده چې چالان شوه.سیمر هغوي ته وویل راځئ بیرون دغه د ولې سیوري ته کښېنئ.چې ګرمي مو ونشي.هغوي ته یې مخ واړوه.وې ویل اندېوالـه دا لښکر آخر څه وایي.یوه وویل خدایږو وروره ټولو سره بېرغونه دي.سلاګانې ورسره دي.له هر

مانځه نه وروسته ملا په دعا کې وایې خدایه مجاهدینو ته بری ورکړې. ټول اولس د الله اکبر او نعرې تکبیر نارې وهي. قسم په خدای چې ویره ترې په کار ده. هیڅ دلیل ورسره نشي ویلې. یوازې دا وایي چې دا حکومت ملحد دی، جهاد پرې روا دی. خلقیان کافر دي. بس همدغه خبرې دي. څوک چې ډوډۍ ورنه کړي وهي او ټکوي یې. نن سبا به دا خبرې دلته رارسېږي. سیمر د ژرندې په دروازه کې په داسې حال کې چې یوه پښه یې دننه کړه وه. ودرید وې ویل. چې داسې ده نو دا اوسنی حکومت د ټینګې نه راته ښکاري. هو همدغسې یې وګڼه. او ای ته ګوره چې زمونږ خان صیب یې هم نیولی دی. پته یې نه لګي چې لا مړ یې نکړي. ځکه چې دا حکومت خانان او ملکان له یو سره نیسي. ځمکې هم ترې اخلي او له پاسه یې نیسي وژني او بندیانوي یې. والله څه بل شان حالت را روان دی نو. هغه بل تن وویل آ بله شپه لښکر یو مکتب وسوزاوه. دوه تنه معلمان یې ووژل. سیمر وویل. زه فکر کوم چې ددې سمې خلک به هم ورسره یو ځای کېږي. هو اندېیواله د کفر او اسلام جنګ دی. په جوماتونو کې ملایان همدا خبرې کوي. پورته غرو او درو ته حکومت نشي ورتلای. سیمر وویل زه چې ورته ګورم خو دا خلقیان ډېر ښه نظر لري. د مساواتو او عدالت خبرې کوي. د غریبو خلکو او دهقانانو خبرې کوي. مګر نه پوهېږم چې دا ولې؟ هغه یوه سړي ورته وویل همدا خبرې ورته روسانو راورې دي. دا خو د روس نه یې ملاتړ کېږي. وایي چې کمونستان کافر دي. ګنې دا خلقیان خو ټول پښتانه او زیاتره یې ددې کلیو هلکان دي. رښتیا چې نور ډېر ښه خلک دي ولې لمونځ نه کوي. همدغه خبره ده چې ملایانو ورپسې راخیستې ده. د دوي په دې خبرو کې غنم وړه شول بوجۍ یې پشا کړې او دواړه له ژرندې نه مخ په دره روان شول. سیمر ورته مخه ښه وویلې او لاړل.

## اووم پړک ( اووم څپرکې )

تاجو د نسوانو لیلیې ته لاړه او طالب جان واپس په همغه لاره پوهنتون مرکزي لیلیې ته روان شو .په لاره روان و چې ناڅاپه یې زړه کې ور ورګرځېدل ( که مونځ نه کوم ګنهګاربږم ، او که کوم یې دوي ته اخواني معلومېږم ، حېران یم چې څه وکړم ) په همدې سوچونو کې مرکزي لیلیې ته ورسېد .کتل یې چې دننه په طعام خوری کې خلیقانو میټنګ جوړ کړی دی.دی هم ورغی نزدې د خلیقانو خواته ودرېد .هغوي ولید چې طالب جان یې خوا ته د میټنګ خبرې اوري یو تن له ستیجه وائي .دا خلقي ځنځیر نه شکېږي .اشراف زاده ګان ټول غرب ته وتښتېدل . اخواني او ستمي ارمانونه له خاورو سره خاورې شول .دا او داسې نور شعارونه ښه په درز بدرګه کېدل.ده به هم له هغوي سره شعار په شونډو کې وایه.د صنف خلقي هلکانو دی لیده چې شعار بدرګه کوي.د میټنګ په پای کې له هغوي سره یو ځای ډوډۍ خوړلو ته لاړ .په همدغه ترتیب سره ده ته خلقیانو څه نه ویل.او دی هم په دې خوښ و.خپل درسونه یې په شوق او ذوق سره ویل.په خپل صنف کې په لومړۍ درجه و.تاجو ته خو یې ویلي و چې ګوندې جینکو سره ځان پېوند کړې.هغه به هره ورځ د خپلې خلقۍ همضفۍ سره په تماس کې وه .ناسته ولاړه یې ورسره یو ځای وه .خو دا چې تاجو په صنف کې نه بلکې په ګرد پوهنتون کې ښکلې جینۍ وه .په لاره ، په صنف ، په کتابخانه او په سړک به هلکانو ورته کتل او پرزې به یې پرې ویلې.خپل ښایست ورپورې بلا شوی و.حتا ځینو د صنف او لیلیې جونو به هغه تنګوله .چا به یې ښکلیو تورو اوږدو سترګو ته کتل چا به یې د بدن بیلې بیلې برخې او اندامونه ستایل.دې ام

پوهېده چې خپل ښایست ور پورې اور شوی دی. تل به یې ده ته خپل شکایتونه کول. هغه به ویلې خبر دی. تاجو د هیڅچا زړه مه بد وه. هر قسم خلک دي څوک به څه وایي او څوک به څه. خو ته پسې زړه مه تړه. ښه ګذاره او نیک بر خورد هر چا سره کوه. دا پوهنتون دی. کلی نه دی ګذاره کوه. تاجو د طالب جان خبره په غوږ کې نیولې وه. دوي دواړو باندې هر چا داسې ګمان کاوه چې ګنې خور او ورور دي. تل به دواړه جوړه ګرځېدل. هیڅکله دواړو هډو د مینې خواله یې نه سره کوله. یوه ورځ دواړه د پوهنتون په کتابخانه کې په یوه میز ناست و مطالعه یې کوله. له ډېر وخت وروسته طالب جان تاجو ته مخ ور واړاوه وې ویل. تاجو ما او تا خو به په کلي کې مینه کوله. دلته خو دواړه داسې شوي یو لکه نزدې خپلوان او یا خور او ورور. دا خبره یې وکړه تاجو ته یې کتل غلی ناست و. هغه هم لږه موسکۍ شوه کتاب یې پورې کړ وې ویلې. هو والله رښتیا دې وویل. څنګه څنګه شوي یو. هاغه بیا وویل. همدغسې ښه یو. که نه خیر داسې به وکړو چې په هفته کې به یوه ورځ دمې او چکر ته اوباسو تاجو په داسې حال کې چې قلم یې ګوتو کې اړو راړو هغه ته یې خواږه خواږه کتل وې ویل. کومه ورځ به وټاکو. د جمعې ورځ. نورې ورځې خو ټولې ډکې دي. چیرې لیرې په چکر نشو تلای. حالات ښه نه دي. همدې پوهنتون په ساحه کې به ګرځوو هغې ویل سمه ده. له همدغې ورځې وروسته هغوي له پوهنتون له ساحې نه بیرون ونه وتل. په همدغه ترتیب یې خپل تحصیل او درسونو ته دوام ورکړو. کله چې ملک ته روسان راغلل حالات بیخي خراب شول په ټول ملک کې د جهاد چیغه پورته شوه. په هر کور کې به د شپې د الله اکبر نارې وهلې کېدې. لاریونو نه ووتل. ډېر مسلمانان د کابل ښار په ځینو واټونو کې خلک پداسې حال کې چې د اسلام او الله اکبر نارې تکبیر چیغې ویستلې د ببرک کارمل او روسي ټانکونو پورې ډزې کولې. او لکه د مرغیو پشان به یې په مځکه

غورزول. ډله ايز مرګونه يې کول. د پوهنتون ځينې محصلين وتښتېدل. ځيني محصلين چې مخکې يې پرچميان محصلين نيولي او بنديان کړي او يا وژلي وو. هغوي به يې نيول او د تير پشان يې هغه عمل تکرار راوه. يوه ورځ طالب جان سهار پوهنځي ته د درس لپاره د تلو نيت وکړ او غوښتل يې چې له ليليې نه اوځي. په دروازه کې يو تن پرچمي محصيل راوګرځاوه او د ليليې مديريت په سالون کې يې کښېناوه. لږه شيبه وروسته ورپسې دوه تنه راغلل او هغه يې په جيپ موټر کې يو وړو کتابونه يې پلاس کې و. حېران هک پک و چې څه ګناه مې کړې ده. په موټر کې وار خطا و. په فکر کې ډوب لاړ په زړه کې يې وروګرزېدل. ( اخري کال مې و له پوهنتون نه فارغيدمه تاجو هم يوازې پاتې شوه. نه نه. مانه بندي کوي. ځکه چې کومه ګناه مې نه ده کړې. خامخا به واپس پوهنتون ته راځمه ) په همدې سوچ کې لا وه چې غر شي په صدارت يې ورننويست دننه يې کوم ځاى ته يوور. ده ويل لومړى يې يوې تورتم کوټې ته ننويستم. کتل مې چې په همدغه کوټه کې درې تنه نور هم غلي ناست دي. په کوټه کې دومره رڼا شته چې يوازې همدغه درې تنه ووينم. هغوي هيڅ خبرې نه کولې. چوپ ناست وو له ځان سره مې څه ويره پېدا شوه. په کرار مې کتابونه په څنګ کې ټينګ نيولي و پخپل ځاى کښېناستم. بيا مې ښې سترګې وغړولې. د کوټې کونجونه مې له سترګو تير کړل. د کوټې ديوالونه تک تور ښکاريدل. په يوه ديوال کې پاس وړوکۍ کړکې وه د کړکۍ د شيشې شاته يې اوسپنيزه جالۍ ورلګولې وه. تته غوند رڼا ترې راالويدلې وه. په دې کې هغه يو تن وويل. ځوانه څوک يې ؟ ما زر د هغوي خوا ته مخ ورواړاوه. اومې ويل. وروره زه محصل يم. هغه وويل په کوم پوهنځي کې يې ؟ ساينس پوهنځي کې د څلورم کال محصل يم. څنګه يې راوستې ؟ والله که پوهېږم سباي درس ته تلمه د ليليې په دروازه کې ونيولم ويلې راځه چې زموږ درسره کار دى.

پـه جیـپ کـې چـې دلتـه راورم ـ هغـوي درې واړو خپلـو کـې سـره وویـل ـ ظالمان دي ګوره بیچاره یې کتابونو سره راوړی دی ـ ما هم لـه هغـوي نـه پوښتنه وکړه ـ تاسو یې څنګه راوستي یاست؟ موږ یې د خلقیـانو پـه نـوم راوستي یو ـ پته یې نه وه چې څوک دي ـ خو دا یې وویـل او زه تـرې غلـی شـوم ـ هغـوي هـم درې واړه پښـتانه وو ـ زړه مـې وار ونـه کـړ ـ بیـا مـې تـرې پوښتنه وکړه وروره تاسې یې دلته څه وخت راوستي یاست؟ یـوه وویـل موږ یې هم همدا نن سهار خو کله چې موږ دلته راغلو شـپږ تنـه یـې لـه دې ځای نه ویستل ـ کوم بل ځای ته بـه یـې وړلـي دي ـ بیـا یـې وویـل انډیوالـه خلقی یې که... ما وې نه زه خلقي نه یم ـ نه یوازې خلقي بلکې په هیڅ کوم سیاسي ګونـد یـا سـازمان کـې نـه یـم ـ یـو پښـتون مسـلمان سـړی یـم ـ هغـه وویـل ـ خو همد غسې کسان بندي کوي ـ نـور مـې غـږ ونـه کـړ ـ لـږه شـیبه پـس دروازه خلاصه شوه ـ یو چا غږ وکړ ـ هغه درې تنه چې نن سهار راغلـي دي راځئ ـ هغـوي پاځېـدل او چـې تلـل درې واړو لاس راکـړو ـ وې ویـل ورور کیه خدای دې مل شه د خدای په امان ـ هغوي چې ووتل وسله وال دروازه راپسې بنده کړه ـ په کوټه کې ځانته پاتې شوم ـ د تاجو په فکـر کـې لاړم ـ ( هغه به د ساینس پوهنځي مخې ته راغلې ، هرې خوا تـه بـه یـې پـه مـا پسـې کتلـي راکتلـي زه بـه سـهار د لیلیـې نـه چـې تـدریس تـه تلـم نـو د سـاینس فاکولتې مخې ته به مې په تاجو پسې ځان رساوه ـ هغه به څومره وارخطا شوې یې ـ او دا مې ورته ویلي هم وه چې ګوا کې زه که کوم سهار دلتـه نـه وم ولاړ ـ نو مانا دا چې یا به سخت ناروغه یم او ئا بـه پـه لیلیـه کـې نـه وم ـ خو هغه به ډېر ساعت ودریدلې وي ـ څو څو ځل به یې سترګې هرې خوا تـه اړولـې وي ـ چـې زه یـې نـه یـم لیـدلی ـ خامخـا بـه یـې زمـا لـه همضـفانو نـه پوښتنه کړې وي ـ بیا به په نیم زړه درس ته تللې وي ـ هـو دادی اوس بـه لـه تدریس نه رخصت شي ـ په چابکو ګامونو به د کافي تریا Kafeteya مخې

ته رسيدلې وي. تر څو ما پېدا کړي. بيا هم زه نه يم. تر ډېره به ولاړه او سي. خو اوس به د نسوانو ليليې ته روانه شوې يي ).
دی لا په دې سوچ کې و چې دروازه خلاصه شوه. يوه تن ورته يوه مړۍ ډوډۍ راوړه. په ګيلاس کې يې اوبه هم ورسره راوړې زه خو وږی وم. زر زر مې هغه ډوډۍ مړې وخوړه. او بيا مې اوبه هم وڅښلې. عسکر راغی وې ويل. راځه غوښتی يې. د ورځې دوه بجې وې. چې له دغه کوټې نه يې بوتلم. پاس يې په کوم دفتر ننويستلم. يو بريتور سړی ناست و. هغه راته د استعلام پاڼه راکړه. خپل شهرت او مکمل معلومات مې ورته وليکل. بيا يې رانه نور تحقيق او پوښتنې پيل کړې. تر ماښام پورې يې رانه تحقيقي تر سره کړ. اخري پوښتنه يې دا وه چې تا ولې ببرک کارمل پسې ويلي دي چې کارمل دويم شاه شجاع دی. ددې پوښتنې ځوابولو ته غلی شوم. ځکه چې يوه ورځ په ليليه کې د غرمې ډوډۍ په ميز کې څو تنه خلقيان او په څنګ کې راسره يو پرچمي هلک چې اصلاً د ميدان وردګو وه. زمونږ سره په يوه صنف کې و. د کارمل په ضد خلقيانو خپرې کولې. بې واره زما له خولې هم ووتل. کارمل دويم شاه شجاع دی. دا خبره هم هلک اوريدلې وه. سمدستي پوه شوم چې دا خو هماغه محصل زما راپوور ورکړی دی. قلم مې پلاس کې ټکنی غوندې شو. ولې زه منکر شوم. ما وې دا خبره هډو ما کړې نه ده. په دې وخت کې هماغه هلک راننوت او په ما يې شاهدي وويله. د هاغه شاهدۍ وروسته تحقيق کونکي راته ووې. ددې نه نور څه ثبوت. زه يې له دوسيې سره د ماښام په خړه کې ان پل چرخي ( د څرخي پله ) زندان ته بوتلم. دويم بلاک په کوټه قلفۍ کې يې واچولم. په يوه وړه کوټه کې چې سميټي لمده بل فرش يې و بندي شوم. شپه او ورځ به په همدغه کوټه قلفۍ کې پروت وم. يوازې يې متيازو کولو ته بوتلم. په شپه او ورځ کې يې يو ځل د څو دقيقو لپاره ويستلم نور نو بس په همدغه تورتم کوټه کې کله ناست او کله پروت وم

درې میاشتې مې په کوټه قلفۍ کې تېرې کړې. بیخي ضعیفه شوی وم. بیا یې له هغې کوټې نه د بلاک بلې کوټې ته ورکړم. چې په یوه کوټه کې ډېر کسان او سیدل. د پښو د اینښودلو ځای پکې نه و. ما ته خو دغه کوټه ښه ښکاریده. ځکه چې کوټه قلفي خو لکه د قبر شپې ورځې وې. د محبس هره کوټه له خلکو ډکه وه. د محبوسینو سره ښه چلن نه کېده. ډوډۍ بیخي خرابه وه. بیلې بیلې شکنجې او جزاګانې یې راکولې. په همدغه ترتیب سره درې کاله په دوهم بلاک کې وم او بیا د څارندوي بلاک ته تبدیل شوم. هلته رابانديې لږه سودګي راغله. زما خو هیڅ پاې وازې نه و. د زندان خلکو به راسره مرسته کوله. چا به جامه راکړه. چا به یو شی راکړو او ځینو به بل شی. ما لمونځ نه قضا کاوه. په ټولو بندیانو ګران وم. له تاجو نه هیڅ نه وم خبر. خو دومره پوهېدم چې هغه به یې هم بندي کړې وي او یا به پرې کومه بله پیښه راغلې وي. نو ځکه خو په دا دریو کالو کې یې زما پته ونه لګوله. دا خو لا څه کوې چې پلار او نوره کورنۍ مې هم پوښتنې ته رانغلل. په زړه کې یې ور وګرځېدل ( هغوي به هم په بدو شرایطو کې شپې ورځې تیروي. هلته هم جنګ دی. خدای دې خیر پیښ کړي. زموږ کلی بیخي د سړک په خوله کې پروت دی. روسانو بمبارد کړی نه وي ) همدا شاه ډېر پوښتنې د هغه په زړه کې ښکته پورته کېدې. د هاغه دغه سوچ په ځای و. ځکه چې لا ان دوه میاشتې مخکې د هغوي کلی بمبارد شوی و. ډېرې ډېرې خلک ښځې نر واړه زاړه پکې له منځه تللي وو. په کوم سهار چې د هغوي کلی بمبارد کېده. دده مور او پلار او د کورنۍ نور غړي یې د کلا په برنډه کې چایو ته ناست وو. پلار یې وویل. ښځې دلته نوره ګذاره ګرانه ده. د نورو کلیو خلک پخوا پاکستان ته اوښتي دي. موږ به هم نن مازدیګر ته د تګ لپاره ځان جوړو. سر له ننه د کلي کلی خلک کلی خالي کوي. میرمن یې وویل. د طالب جان پلاره دا ډک کور به څنګه کوو؟ یوازې د ځان لپاره ضروري شیان به

ورسره اخلو ـ نور کالي به په کرار کرار سره وروسته چلوو ـ چې یو ځل خو مو ځای ځګی معلوم شي بیا اسانه ده ـ په همدې وخت کې دوه جنګي الوتکې د غره په سر راوړې او په همدې کلي راښکته کېږې ټول کلی د مخه بمبارد کوي ـ د کلي هر دویم کور بمباري کېږي ـ مخامخ د سړک له غاړې نه د ټانکونو خولې همدغه کلي ته راستنېږي ـ او په درنو درنو ګولیو کلی ولي ـ له کلي نه لمبې او دوړې پورته کېږي ـ د طالب جان پلار په منډه د کلا بورج ته پورته کېږي ـ ګوري چې په ټول کلي کې دوړې او د اور لمبې دي ـ چیغې او نارې اوري ـ خپلو وړو ته په وار خطایۍ سره غږ کوي هله زر شئ دننه د بورج کوټې ته ننوزئی ـ ښځه او ماشومان یې د بورج کوټې ته ورننوزي ـ او پخپله هغه پاس د بورج په دویم پوړ کې له کړکۍ نه کلی ګوري ـ په دې وخت کې بیا دوه الوتکې راواوښتې ـ د دوي په کلا یې بمونه را وغورزول چې په نتیجه کې نیمایي بورج ونړید د کلا کوټو اور واخیست ـ د طالب جان پلار خو په بورج کې د بورج د نړیدو سره یو ځای ښکته مځکې ته لویدلی و او ځای پر ځای مړ شوی و ـ ښځه او ماشومان یې د بورج لاندینۍ کوټه کې ژوندي پاتې و ـ ولې د کوټې لرګي او لوټې پرې رالویدلې وې او هر یو یې لږ څه زخمي کړي وو ـ خو د کلا د نورو کوټو د اور لمبو سره سخت په عذاب کې وو ـ همغه و چې ټولې کلا اور واخیست شا و خوا د کلي کورونو کې هم اور لګېدلی و ـ د کلي خلک یو له بله هیڅ خبر نه و ـ په کومو کورونو چې بمونه رالویدلي نه و خلک یې روغ رمټ له کورونو نه وتلي و او د غره سمځو ته یې ځانونه رسولي وو ـ د ماښام خړې پورې یې له غره نه د خپلې کلي د اور لمبې او دوړې لیدلې ـ ښځو او ماشومانو ژړل ـ د هر چا په مخ اوښکې روانې وې ـ د طالب جان مور د کوټې له دروازې نه سر په داسې حال کې راببرون کړ چې د اور لمبه او تاو یې مخ ورته وسیزلو ـ د سر په ویښتانو یې خاورې پرتې وې ـ په بیړه یې دروازه پورې کړه ـ پخپلو بچو یې لاس

تیر کړ- هغوي له ویري غلي د کوټې کنج ته راټول شوي وو- یوې لس کلنې لور یې وویل- مور جانې پلار مې څه شو ؟ لورې خبره نه یم چې چیرې دی- د اور لمبې دي بیرون له دې کوټې نه نشم وتلای- ټولې کلا اور اخیستی - ته ودره چې له دې دروازې نه غږ ورته وکړم- چې دلته ځان راورسوي- طالب جان پلاره- طالب جان پلاره- وا طالب جان پلاره- هیڅ ځواب نه راځي -یوازې د اور لمبې او د لرګیو د ماتیدو ټکا ده -څه نه اوریدل کېږي لورې- پرې چې دا ډېرې لمبې کمې شي- بیا به ګورو- ماښام تورتم شو -شپه شوه- تر نیمې شپې پورې په کلا کې اور بلیده- هغې بیا سر له دروازې رابهر کړ -د کوټو اور لمبې کمې شوې وې -یوازې لوګي او د سکروټو تاو ته څوک د ټینګې نه و -دوي د برج په کوټه کې له نورو کوټو نه تقریباً په لسو او شلو مترو فاصله کې لږ څه خوندي ناست وو- هغې له دروازې نه سر رابهر کړ ورو ورو په خاورو او لوټو کې د کوټې مخې ته راووتله- بیا یې څو نارې د طالب جان په پلار پسې ووهلې- څه یې وانه وریدل- لړزه پرې راغله ژامې یې هم وکړزیدې- شا و خوا د کلا د کوټو اور او لوګو ته یې ور وکتل اندامونه یې ولړځېدل -مخ یې د اور تاو وواهه واپس کوټې ته ننوتله- خپله سینه یې په ښي لاس دوه درې ځلې ووهله په ژړغوني اواز یې وویل د پلار دې هیڅ پته ونه لګیده هغه خو بیرون ته هم نه دی وتلی- پاس مانۍ ته خپلی و- الله دې خیر کړي چې په اور کې سوی نه وی- نور یې هم دننه په کوټه کې ښه ډېر ځنډو کاوه- د کلا د کوټو لمبې غلې شوې -نیمه شپه وه هغه بیا یو ځل د کلا دالانه ته راووته- په زوره زوره یې نارې کړې- د طالب جان پلاره وا د طالب جان پلاره- د طالب جان پلار غږ نه راتلو -پوه شو چې هغه به حتمي په کومه کوټه کې شوی وي- خپلو بچو ته یې ورغږ کړو- ګل څانګې لورې تاسو دننه اوسئ -زه د کلا دروازه ګورم -په منډه تر دروازې ورغله -دروازه ځنځیر وه- توره تیاره وه- څه نه ښکاریدل- یوازې سرې سکروټې وې- او

ځینې بشونه لا پوره نه و سوي۔ رڼا او لوګي ترې ختل۔ په چالاکۍ سره د بورج په کوټه ورننوته۔ ګل ځانګې ورته وویل۔ موجانې څه وشول ؟ لورې بلا دې واخلم۔ د پلار درک خرک نشته ټوله کلا سوې ده۔ هر څه سوي دي۔ یوازې دا کوټه او د کلا دروازه نه ده سوې۔ ټولو په ژړا پیل کړو۔ ښه شیبه ټولو په ګډه سره وژړل۔ تر سبا یې سترګه پټه نه کړه۔ ټوله شپه یې په ژړا او چیغو تیره کړه۔ سبایي وختي د کلا دروازه وټکېده۔ هغه په منډه دروازې ته ورغله ویلې څوک یې ؟. ببو زه یم سور ګل۔ وې پېژانده چې د لیوره زوی سور ګل دی۔ ور یې ورته بیرته کړ۔ سمدستي په ژړا شوه۔ هغه چې کلا ته ورننوت په لوګو او د اور په لمبو یې سترګې ونښتې اخ یې له خولې ویوست۔ په تنده لهجه یې وویل کاکا مې چیرې ی ؟ د کاکا میرمنې د ژړا په حال کې وویل۔ هغه بیګاه مازدیګر پاس کوټو ته ختلی و۔ ماته یې دومره وویلې چې له پاس مانۍ نه پام کوم چې کلي ته څه حال دی۔ مور. له ویرې د بورج کوټه کې غلي کښېناستو الوتکو بمباري کوله۔ بیا چا ځان نه دی لیدلی۔ د بورج په دویم پوړ کې یو هیبتي ډز وشو۔ لاندې په مور. هم لوټې راولویدې۔ دا ماشومان یې زخمیان کړل۔ هغه د منځ کوټې اور واخیست۔ دا نورې کوټې ترې هم وسوځیدې۔ په کلا کې د اور لمبې تر اسمانه پورته شوې۔ مور. د کوټې ورپورې کړی و۔ ځکه چې د لمبو تاو ته د ټینګېدو نه و۔ سور ګل څو نارې په کاکا پسې وکړې۔ خو کاکا بیچاره یې د بورج د دویم پور په کوټه کې سر له مازدیګره لا مړ و۔ په لوټو کې او خاورو کې ډوب شوی و۔ ملا یې ماته شوې وه۔ شپه زیاتې تیره وه۔ د سهار رڼا ئي لګیدلې وه۔ سورګل وویل۔ تندار زه یو ځل د بورج دویم پوړ ته په څه چل ورخېژم پام کوم۔ هغه په ډېر تکلیف سره ځان پاس کوټې ته وروخېژاوه۔ کوټه خو په بمبارد کې رالویدلې وه۔ هغه د دویم پوړ په دیوال ودرید دیوالونه او د کوټې چت په ځمکه پروت و۔ د سور ګل په وسه او قدرت کې دا نه وه چې ګني هغه دې خپل کاکا د راپریوتې

کوټې په خاورو او لوټو کې ومومي ـ نا هیلی بیرته راښکته شو ـ وې ویل ـ تندار تاسې مه وارخطا کېږئ ـ زه کلي ته ورځم او ګورم چې څوک راولم ـ او کمک راسره وکړي هغه ګړندی ووت او لاړ په کوڅه کې په ګړندیو ګامونو لومړی تر خپله کوره ورسېد ـ د کور غړو مور او پلار او نور ورونه او د کور لویو وړو ته یې په داسې حال کې د کاکا د کلا د سوزیدو قیصه راواخیسته چې هغوي ټول دده احوال ته لک څک ناست وو ـ د سور ګل بوډا پلار چې تسبیح یې اړولې وې ویل ـ بچی جومات ته چې د لمانځه لپاره لاړم ـ نه ملا امام و او نه د کلی خلک ـ یوازې مورږ دري تنو سپین ږیرو لمونځ وکړو ـ هغوي راته وویل چې کلی ټول بمبارد شوی دی ـ مړي او زخمیان له حده ډېر دي ـ نورو کلیو ته استازي خواره شوي دي ـ تر څو د کلیو خلک مرسته وکړي او دا مړي ښخ کړي ـ پاتې ښځو او ماشومانو ته ویل شوي دي چې له کلي اوځي او غره ته ځانونه وخېژوي ـ سور ګل دادا دومره څوک پیدا شي ـ چې د کاکا د پیدا کېدو چاره راسره وکړي ـ نه نه بچی په دې وخت کې هیڅوک نشته د کلي په ټولو خلکو دغه حال دی ـ درځئ چې مورږ ټول په ګډه لاړ شو ـ یو څه به وکړو ـ یوازې بوډۍ مور دې او دا ماشومان دې وي ـ ټول په ډله سره په یوه منډه کلا ته راځي ـ سور ګل او دوه تنه زلمي ورونه یې سره د نورو تور سرو پاس د دویم چت لوټې او خاورې ، لرګي په لاسونو ښکته را غورزوي ـ ګوري چې شیرو ملک د لوټو او خاورو لاندې پروت و ـ سور ګل چیغې کړې وې ویل ـ اخ کاکا مې پیدا شو ـ په چالاکۍ سره یې د لوټو له منځه راویوست ـ مړ وه ـ په کرار کرار یې ترې خاورې واړولې ـ لاس او پښې یې ورسمې کړې ـ ملا یې غوټه ماته شوې وه ـ نور د بدن غړی یې هم مات شوی و ـ په مشکلاتو سره یې لاندې راښکته کړو ـ له خاورو او دوړو نه یې پاک کړو ـ په کټ کی یې واچاوه ـ ټولو ورته په ویر پیل وکړو ـ سور ګل وویل ـ زه کلي ته ښکاره کېږم ـ چې او ګورم حالات څنګه دي ـ هغه په منډه له کلا نه راووت او کلي

ته په يوه کوڅه ورننوت .په هره کوڅه کې يې ژړا اوريده .د کلي نه هماغسې لوګي روان و .د جومات کوڅه يې ونيوه او نيغ جومات ته ورغی.د جومات تر څنګه لوی وستل و.کتل يې چې څو تنه ولاړ وو.په چالاکۍ سره د هغوی خوا ته ورغی.سترې مشي يې سره وکړل.هغوي درې تنو غبرګ وويل.سور ګله خيريت دی.دی لږ څه ژړغونی شو وې ويل د کاکا دوي کلا سوې ده.کاکا مې مړ دی.نور يې څه نشو ويلی. هغو درې سړو هم ورته وويل.سور ګله په هر کور کې همدغه حال دی. مور، سړي نورو کليو ته ليږلي دي.کېدی شي خلک راورسېږي.چې دا مړي ښخ کړي.د زخميانو سره به څه کوو.خو ته يو شی وکړه چې نورو لوی وړو ته ووايه چې له کلي نه اوځي او غره ته لاړ شي.سور ګل ويل ښه ده .هغه په چابکو ګامونو واپس کلا ته راغی .د خپل کور ښځې او ماشومان يې سره د بوډا پلار له کلا راويستل او د غره په تللې لاره يې ورسم کړل.د کلي ښځې او نر څوک چې ژوندي پاتې وو.په دغه لاره غره ته روان وو.په دغه لاره ژړاګانې وې.د ښځو او ماشومانو مخکې سر ان تر غره رسيدلی و او بل سر يې لا په کلي کې و .زړو ښځو او بوډۍ ګانو په لاره ستيانې کولې.ځينو به پرې غږ وکړ.شاه باس ځان ورسوئ.چيرې بيا بمبارد ونه کړي.ځانونه د غره خوندي سمڅو ته ورسوئ.هغوي به ښه پسې چالاکه مزل کاوه او مخ پورته غره ته روان و.په کلي کې پاتې خلک څه زخميان و او ځينې د مرګ په حال کې و .د کلي کوزې سويل برخې ته په يوه کور کې بيګاه تازه واده شوی و .د يوه سړي د خدای په دنيا کې يکې يو زوی و هغه ته يې په مينه واده وکړ ناوې راوسته خو په همدغه شپه د هغوي په کور هم بم غورزيدلی و .شاه او ناوې دواړه پکې مړه شوي وو .زيات خلک په هغوي ډېر زيات خفه وو .لمر لا راختلی نه و چې له نورو کليو خلک راورسېدل د کلي مړي يې هديرې ته کړل .د خلکو شمېر زيات و .تر څو چې غرمه کېده مړي يې ښخ کړل.زخميانو ته په هر

کور کې یو او دوه دوه تنه پاتې شول. نورو خلکو ډوډۍ او پوره توښه له ځان سره واخیسته او غره ته تللو ښځو او ماشومانو ته یې یووړه. په سبا ته د همدغه کلي پاتې خلک ټول پاکستان ته واوختل. په پرله پسې توګه د ټولو کلیو خلک پاکستان ته مهاجر شول. ورځ په ورځ د روس په ضد او د هغې ګوډاګي کارمل حکومت په خلاف د جهاد چیغه پورته شوه. پاکستان کې د بیلو بیلو تنظیمونو کړې جوړې او ټینګې شوې. د جهاد په لیکو کې افغانان تنظیم شول. د روس او د کارمل د حکومت په خلاف د جهاد عمومي چیغه پورته شوه.

په تاجو پسې د ښاد دوه تنه د شپې ورغلي و. تر څو هغه د لیلیې نه اوباسي او له ځان سره یې بوځي. اصلا په دغو دوه تنو کې یو د ښاد غړی و. او هغه بل د ادبیاتو د پوهنځي د دویم کال محصل و. هغه نه پرچمي و او نه خلقي. بس په تاجو مین و. د دغه ښاد د ښیځې سره یې پټه داسې جوړه کړې وه چې تاجو به په همدې توګه سره وتښتوو. هماغه و چې هغوي دواړه یوه شپه د نسوانو لیلیې ته ورغلي و او د لیلیې معلمې په مرسته یې تاجو و هغوي ته ورتسلیم کړې وه. تاجو چې له خپلې کوټې نه راوتله وې ویل. معلمه صاحب زه خو په کوم ګوند کې نه یم او نه کوم ضد سیاسي فعالیت کوم. پما څه کوئی چیرې مې بیایې ؟ معلمې وویل تاجو ته مه وار خطا کېږه خالي پوښتنې درنه کوي. ښاد ته یې غوښتې همدا نن شپه تا بیرته دوي لیلیې ته راولي. زړه مه ښکته پورته کوه. تاجو زړه کې وویل. (ښاي د طالب جان په باب رانه پوښتنې وکړي ګني زه خو هیڅ نه لرم. طالب جان هم څه نه لري خو ...) هغه اصلي ښادي ورته وویل خور جانې خالي څو پوښتنې درنه کېږي. یو ساعت وروسته به دې واپس راولو. د تاجو زړه لږ په کرار شو. ورسره روانه شوه. یو کراې شخصي موټر کې یې کښېنوله. موټروان موټر په بیړه چالان کړ د دارالامان په سړک موټر تاو شو. په وروسته سیټ کې تاجو او محصل کښېناستل

ښادست مخکې له ډیور سره کښېناست. تاجو قیصه کوله ویلې د ښاد والا به غلې شان د موټر چلونکي په غوږ کې څه وویل . ګاډی په لږه شیبه کې دارالامان په ماڼې واوښت. ګاډی بیا د سړک پغاړه ودرید . ښادس بیا د موټروان په غوږ کې څه وویل او له موټر نه ښکته شو لاړ . موټر ته یې بیا حرکت ورکړو دې ویلې زه پوه شوم چې بل چیرې مې بیائي . هغوي ته مې وویل اې وروره د خدای په خاطر چیرې مې وړې ؟ زه خو تاسو له ښاره راویستلم. ستاسو ښاد خو په کابل ښار کې دی . دلته راباندې څه کوئی ؟ هغه محصل راته وویل . د ښاد یو مدیریت دلته دی . د لږ ساعت لپاره ورځوو . دوباره راګرځوو . ته تشویش مه کوه . په دې وخت کې موټر په ریشخورو ورواوخت ان تر چهاراسیاب ورسېد . د چهار اسیاب موسه یې کلي کې د یوه کور مخې ته موټر ودرید . موټروان ښکته شو دروازه یې وټکوله . دې ویلې زه پوه شوم چې دا د ښاد خبره نه ده کومه بله دسیسه درته جوړه شوې ده . کلیمه مې په ځان وویلې او له ځان سرهمې داسې فیصله وکړه ( تاجو دا د ښاد کومه سیاسي خبره نه ده . هر څه چې دي ستا د تښتولو دسیسه ده . خو زه باید اګاه اوسم او کوښښ به کوم چې که سلا لاس ته راغله همدا هلک چې په څنګ کې مې ناست دی وژنم او له منځه یې وړم . بیا که مړه هم شم پروا نه کوي ) له دروازې نه یو سړی راووت کلاشنکوف یې لاس کې و . یو پټکی یې هم محصل ته ورکړو . کلاشنکوف یې په مخکې سیټ کې ډریور څنګ ته کېښود . ما په ژړا پیل وکړ . چیغې مې کړې ما وې که له دې کلي څوک راوځي ما به ترې خلاصه کړي . په چالاکۍ سره مې د موټر دروازه خلاصه کړه . چیغې مې کړې . اې د کلي خلکو د خدای لپاره ترې خلاصه مې کړې . څو چیغې مې ووهلې . محصل او موټر چلونکي ونیولم او په زور یې موټر ته کړم . په څادر یې راته خوله او سترګې وتړلې . دواړه لاسوه یې راته هم وتړل . په سیټ کې یې واچولم . د خبرو نه وو تلم لومړی مې ښه ډېر وژړل سترې

ستومانه شوم. موټر همغسې روان و. یو وخت دوي دواړو خبرې وکړې سمدستي ډزې پیل شوې څو مرمۍ په موټر ولګېدې. موټر یې غاړې ته ودرولو. دوي هم ډزې پیل کړې. جګړه ونښته. زه په موټر کې غلې ځملاستم. سترګې او خوله مې تړلي و. لاسونه مې هم تړلي و. دومره ډېرې ډزې کېدلې چې اخر په موټر کې وار خطا شوم ځان مې له چوکۍ نه لاندې وغورزولو د سیټ لاندې غلې پریوتم. دوي دواړو هم ډزې کولې. اخر د موټر خوا ته یو اخ وشو. وروسته بیا ځیګروي او فریاد پیل شو. غوږ ته مې راورسېد. سلا کېده تسلیم شه. شا و خوا عسکرو محاصره کړې یاست. سمدستي د موټر خوا ته غربا شوه. خبرې شوې. د موټر دروازه خلاصه شوه. یو تن دا دی موټر کې پروت دی. بل تن پرې غږ وکړ. پام چې ډز پرې ونه کړې. ژوندی یې ونیسئ. ما چې دا خبره واورېده سر مې راپورته کړ. څه مې نه لیدل خو غږ یې راباندې وکړ. چې شورونه خوري. سلا دې کېده لاس دې پورته ونیسه له موټره رابنکته شه. ما خپل تړلي لاس په موټر کې پورته نیولي و په پښه مې د موټر دروازه ووهله. یوه دروازه راپسې خلاصه کړه. وې ویل رابنکته شه. لاسونه مې مخې ته نیولي و. له ګاډي نه ښکته شوم. وا مې وریدل چې یوه تن وویل. دا خو ښځه ده خوله او سترګې تړلې دي. سترګې او خوله راته خلاصه کړه. لاسونه یې هم راته خوشي کړل. وې ویل. ته څوک یې او چا دلته راوستې یې؟ یوه بل عسکر له وړاندې نه راغږ کړ وې ویل. دلته دوه تنه مړه پراته دي. یو کلاشنکوف هم ورسره خوا ته پروت دی. ما ورته وویل. وروره زه دوي دواړو د پوهنتون د لیلیې نه په دې بهانه چې ښاد غوښتې یې. راوستې یم. یو تن بل هم ورسره و هغه ترې لار کې ښکته شو او زه دوي په زوره په داسې حال کې چې لاس او سترګې، لاسونه یې راته تړلي و. تر دې ځای راوړم. خدای زده چې چیرې بیولم دا خو د الله فضل وشو چې تاسو ترې خلاصه کړم. د پوستي عسکرو له ځان سره بوتلم. د عسکرو

قوماندان پښتون و ـ راته وې ويل ـ خورجانې هيڅ تشويش ونکړې دا سې فکر وکړه چې له خپل وروړ سره يې ـ سبا تـه پـه دې پـه پوهنتـون وسـپارم ـ يـوازې هغـوي زمـا نـوم او مکمـل ادرس واخيسـت ـ بيـا يـې وويـل د ښـاد ستانو همدا کار دی ـ هغـه دوه تنـه چې پـه ډزو کـې مـړه دي ـ دوا ړو سره د جمعيت د تنظيم کارتونه پـه جيب کـې و ـ او هغـه يـو تـن چې تـرې لار کـې ښکته شوی دی ـ هغه د ښاد غړی دی ـ ښه شوه چې زمـوږ ګزمـه ورپـانـدې راغلـه ـ ګني دې بې ناموسانو بـه چيـرې بيـولې وې ـ موږ څارندويان يـو پوسته مې ډېره وړاندې ده ـ تر دې ځای خالي ګزمه راغلي يو ـ خوشاله پـه دې يم چې تاته مو نجات درکړو ـ تاجو اوښکې پاکې کړې وې ويـل ـ وروړ جانه ښه شوه چې تاسې دغـه د ظـالم زامـن لـه منځـه يـووړل ـ غيـر حق يـې بيګاه په چل کې له ليليې نه راويستلم راته کړه يې چې ښـاد دې غـواړي ـ يو څه پوښتنې درنه کوي ـ زما دا خيـال شـو چې ګنـي زمـا د خاونـد طالـب جان په باب راځنې پوښتنه کوي ـ د پوليسو افسر رانه پوښتنه وکړه ويلې خاوند دې چيرې دی ؟ وروره خاوند مې د سيا ينس پـو هنځـي پـه اخر کـال وه چې ښاد بندي کړ ـ دا يې دريم کال دی چې هـيڅ معلومـات تـرې نـه لـرم ـ وژلی يې دی او که بندي دی ـ افسر بيا وويل ـ هغـه پـه کـوم سياسـي حزب کې و ؟ هغه په هيڅ سياسي حزب او کوم سازمان کې نه و ـ خالي يو لمونځ ګذاره سړی و ـ يوازې ناسته پاسته يې د خلقيانو سره وه ـ پخپله خلقـي نـه و ـ له اوله صنف نه ان تر د پوهنتون پورې اول نمره و ـ زه ادبيـاتو پـو هنځـي دريم صنف کې يم ـ وروړ جانه د خدای لپـاره مرسـته راسره وکـړې ليليـې نسوانو تـه مـې ورسـوې ـ هغـه وويـل پـه سـترګو خـور جـانې ـ دا دی سـهار کېږي ـ تـر څـو چې تـه چـاې مـاې چښـې اوه بجـې کېږي همـدا زه بـه دې د پوهنتون په ليليه وسپارم ـ مننه ـ وروړ جانـه ـ د چـاې چښـلو نـه وروسـته د پوليسو افسر سره د دوه تنو پوليسانو پـه جيپ موټرکې د نسـوانو ليليـې تـه راوړم ـ د سـهار لـس بجـې وې چې د نسـوانو ليليـې پـه دروازه کـې يـې

ښکته کړم ـ مننه او کور ودانی مې ورته وو ایه له هغه نه مې هیله وکړه ما وی وروره بخښنه غواړم ـ ستا نوم او ځای دې که راته وو ایې ؟خور جانې نوم مې پرویز رتبه مې جګړنی او د ننګرهار د کامې یم ـ ډېر ښه وروره جانه زه به ستا دا مرسته تر مرګه هیره نه کړم ـ په خدای مو سپارم په مخه دې ښه شه ـ ورته کتل مې چې هغوي جیپ په بیړه راوګرځاوه او د همزنګ پلو یې حرکت وکړو ـ او د سترګو په رپ کې زما له سترګو پناه شو ـ زه په چالاکۍ سره لیلیې ته ننوتلم ـ خپل سامان ، کتابونه او نورې جامې هر څه مې پخپل بکس کې سنبال کړل ـ په کوټه کې نورې جینکۍ نه وې ـ هغوي پوهنتون ته درس ته تللې وې ـ د لیلیې معمله هم په دغه موقع نه وه ـ بیرون ته ووتلم ټکسي موټر مې راوست بکس مې پکې کېښود او پل محمود خان ته لاړم تر څو ننګرهار ته لاړه شم ـ له ځان سره مې دا فیصله کړې وه چې له پوهنتون نه تیره خو چې خپلې کورنۍ او خپل کلي ته ورسېږم ـ

د ننګرهار په هډه کې له ټکسي نه ښکته شوم ـ پام مې وکړ چې هلته ولاړې کلینر نارې وهي ـ جلال اباد والا ، جلال اباد والا یوه جوالي ته مې د بکس وویل ـ هغه بکس په اوږه کړ او سرویس موټر ته یې ورپورته کړ ـ سرویس کې ټولې څوکۍ ډکې وې ـ په یوه سیټ کې یوه بوډۍ ښځه ناسته وه ـ ناجوړه هم وه ـ د هغې سره په څوکۍ کېښېناستم ـ سرویس روان شو ـ کلینر وویل استاده څه له خیره ـ اوړی و ګرمي زیاته وه ـ سړک هم ځای پر ځای خراب شوی و ـ خپل تور ټیکری مې له بکس نه راویوست او په سر مې کړ ـ د ورځې درې بجې وې چې سرویس سروبي ته ورسېد ـ هلته موټروان وویل ورونو دلته ډوډۍ وخورئ لمونځونه وکړئ بې کتاره د سروبي د تنګي نه تیریدی نشو ـ پاس د غره له سره مجاهد ډزې کوي ـ هیڅ موټر ترې روغ نشي تیریدی ـ او رښتیا هم د دې ځای جنګونه او حملې د هر چا غوږ ته رسیدلې وې ـ دا د سروبي تنګي ډېر خلک خوړلي

وو ـ هغسې خو په سرویس کې ویل کېدل چې تر جلال اباده پورې په لاره کې ځای پر ځای ټوپکیان حملې کوي ـ موټرې تلاشي کوي کتارونه وهي ـ موږ په سروبی کې ډوډۍ وخوړه ـ خلکو لمونځونه وکړل ـ مازدیګر نژدې و ـ چې له کابله عسکري کتار راغی ـ زموږ د سرویس چلونکي سرویس ته وخوت ورپسې سورلۍ هم په سرویس کې ځای په ځای شوه ـ د کتار نه مخکې ټانک روان و ـ د سروبي له بازاره تیر شو ورپسې نور کتار حرکت ور وکړ ـ ملکي موټرې له کتاره وروسته روانې وې ـ زموږ د سورلۍ ګاډي له کتاره درې موټرې وروسته ور روان شو ـ د تنګي په خوله کې کتار ودرید ـ د کتار په سر کې ټانک د غره ډډې ویشتلې ـ ډزې یې کولې او روان و ـ کتار ورپسې ورو ورو په حرکت کې و ـ له پاسه پرې اور بل شو ـ سپکې او درنې ډزې کېدلې ـ داسې جګړه ونښته چې هیڅ فکر نه کېده په ملکي موټرو ډزې نه کېدې ـ یوازې په کتار عسکري موټرو باندې سختې ډزې کېدلې ـ یوه عسکري موټر اور واخیست لمبې یې پورته شوې ـ زمونږ له سرویس نه خلک ښکته شول او د غره د تیږو لاندې پټ شول ـ زه یوازې د زړې بوډۍ سره پاتې شوم ـ ما وې مرګ خو بې له هغې په سترګو ویني پرې چې په دې موټر کې مړه شم ـ ځکه چې یو نیم مردکی به په سرویس لګیده ـ ډزو لوګو او دوړو بخې وار خطا کړم ـ د سرویس یوه شیشه هم ماته شوه ـ نور مې زړه ټینګ نشو ټیکری مې له مخ تاو کړـ یوازې سترګې مې ښکاره کېدې ـ په کرار سره له سرویسه راکوزه شوم ـ د سین پغاړه له یوې لوې یتګې د لاندې پریوتم ـ نور هیڅوک نه و ـ دومره مې وکړو چې هغه بوډۍ ښځه مې د سیټ د لاندې پریستله ـ هغه هم نوره د ړاق او خوځېدو نه وه ـ د عسکرو له خوا ګڼې ډزې کېدې ـ تر څو خلک له تیګو نه راپاڅېدل ګاډو ته وختل زه هم د تیګې له بیخه راووتم او سرویس ته پورته شوم ـ زموږ د سرویس سورلۍ راپوره شوې ـ ډریور وویل ورونو دعا وکړئ چې الله مو له دې ځای نه روغ اوباسي ـ ټولو لاس

پورته کړل دعا وشوه .بیا کتار حرکت وکړ .په بیلدوزر یې هغه سوی ګاډی له سړک نه ښکته غورزولی و .کتار ورو ورو له تنګي نه تیر شو . زموږ موټر چې تنګي ته راورسېد موټر وان په پوره سرعت سره ګاډی له تنګي نه واړاوه ټول کتار په بیړه له تنګي نه تیر شو .وروسته په لاره بیا ځل په کتار حمله ونشوه .ماښام نزدې و چې جلال اباد ته ورسېدو .په جلال اباد کې سمد ستي له سرویس نه ښکته شوم .بکس مې هم ښکته کړو.د کلي هډې ته ورغلم.د موټر پوښتنه مې وکړه.یو تن راته وویل خور جانې هډه له دې ځای نه تللې.راځه چې زه دې ورته بوځم.د کلي هډې ته ولاړه.دوه درې موټرې د کلي په هډه کې ولاړې وې.له دغې هډې نه نورو ډېرو کلیو ته ګاډي تلل.تاجو یوه د لین ګاډي ته ورپورته شوه. بکس یې له ځان سره په څنګ کې کېښود .تر کلي پورې شل کیلو متره لاره وه.ماښام نزدې و موټر حرکت وکړ .خړه لیګده چې ګاډی کلي ته ورسېد .سورلۍ له ګاډي ښکته شوې.تاجو هم خپل بکس له ځان سره واخیست د کور په لور روانه شوه .کله چې د خپل کور دروازې ته ورسېده.وې لیدل چې د کلا دروازه کلکه ده.دروازه یې ووهله.لږه شیبه پس یوه بوډۍ ښځه دروازې ته راغله ویلې څوک یې ؟زه یم تاجو .دروازه خلاصه شوه.ښځې تاجو ته سترې مشي وویله.بیا یې وویل ته د مامور صیب لور یې ؟هو مورې.مور و پلار مې چیرې دي ؟زړې ښځې وویل. ته راځه لورې دننه راننوزه.تاجو بکس پلاس کلا ته ننوته.د کلا دننه یې سترګې هرې خوا ته واړولې .خو خپله مور او د کور نور غړي یې ونه لیدل .بوډۍ ورته وویل لورې ستا ټوله کورنۍ خو پروسږ کال چې بمباري زیاته شوه هغوي پاکستان ته لاړل .موږ ته یې کالي او کلا پرېښوده.زه او خاوند مې یوازې دلته اوسېږو.په کلي کې څوک نه دي پاتې یو نیم سړی او کومه زړه ښځه پکې اوسي نور ټول کلیوال اوختي دي.

تاجو پوښتنه وکړه موريې تاسو د کوم ځای یاست ؟لوريې مور خو د پاس باندې یو - ستا د مور و پلار سره له پخوا نه پېژنو - هغوي به پاس غره ته راختل مور کره به یې شپې کولې - مور به هم دلته راتلو - ته وړوکې وې مور سره دې زمور باندې ته راختلې وې - ته ګلناره ترور نه یې ؟ولې نه یم لوريې - زړه شوې یم ځکه خو دې ونه پېژندم - بابا چیرې دی ؟ هغه به هم بوډا شوی وي ؟ هو بچی بابا دې بیخي بودا شوی دی - د کاروبار نه دی - زموږ د کور نور لوی واړه باجوړ ته اوختي دي - دا ستاسې ځمکه مې د غرونو خلکو ته په اجاره ورکړې ده - ترور جانې ته دا خبرې پرېږده - دا راته ووايه چې پلار و مور مې ژوندي دي که نه ؟ ګلناره ترور لومړی لږه غلې شوه بیا یې وویل - هو هو لوريې شکر دی هغوي ژوندي دي - پاکستان کې دي - ښه ترور جانې ته دا قیصه وکړه چې دا دومره ډک کلی څنګه له خلکو نه خالي پروت دی ؟

لوريې دوه کاله مخکې دلته روسانو بمباري وکړه - ډېر خلک په بمبارو کې ووژل شول - حال دا چې د تاجو پلار پکې هم مړ شوی و - خو هغه خبره بوډۍ ونکړه - نو ګوره لوريې اوس خو شپه ده سبا ته به دې کلي کې وګرځوم - زړه به دې یې زرې زرې شي - په کلي کې ولاړه لوټه نه ده پاتې - هغه لوی د خلکو ډک کلی شاړ پروت دی - رښتیا ترور جانې دا دوه کاله مور په رخصتۍ کې هم نه یو راغلي - نو ځکه هر څه راته بل ډول ښکاري - هغې ورته وویل - لوريې نورې خبرې به بیا کوو - اوس به درته زه ډوډۍ تیاره کړم - ګلنارې ترور د چرګې هګۍ یې پخې کړې او ښې ډېرې مستې یې تاجو ته په دسترخوان کېښودې - د ګلنارې ترور خاوند له جومات نه راغی - میرمنې یې تاجو ورته ور اوپېژندله - تاجو هم اوپېژند ورته وې ویل شیرو اکا خو بیخي سپین ږیری شوی دی - شیرو اکا تاجو په غېږ کې ونیوه - په سر یې ښکل کړه - ویلې دا تاجو خو مې وړوکې لیدلې وه - اوس دا دی غټه شوې ده - شکر دی ، شکر دی چې تاجو مې غټه شوې ده - دوه

درې زاړه زاړه توخي يې وکړل ـ په دسترخوان کښېناست او درې واړو په ګډه ډوډۍ خوړله ـ ورپسې يې چاې وڅښلې ـ وروسته بيا تاجو وويل زه به ستاسو په اجازه يو ځل د کلا په ټولو کوټو کې وګرځم ـ هسې سودا مې ده ـ دويم پوړ خپلې مانۍ ته به وخېژم ـ ګلنارې ترور وويل ډېره ښه ده لورې وګرځه ـ هن دا لالټين درسره واخله تورتم دی ـ تاجو لالټين ورسره واخيست او په کلا کې وګرځېده کله چې هغه پاس مانۍ ته وختله ګلناره د خپل خاوند غوږ کې وويل ـ پام کوه چې د پلار په حقله يې څه ونه وايې ـ هغه له پلاره خبر نه ده ـ چې مړ دی ـ بوډا سر وخوځاوه ـ وې ويل ښه ده نه وايم تاجو په ټوله کلا کې وګرځېده ـ خپلې کوټې ته هم ورغله ـ يو ساعت پخپله کوټه کې تم شوه ـ تېر وخت يادونه يې ورپه ياد شول ـ څو اوښکې يې توې کړې ـ بيا واپس راښکته شوه ـ د ګلنارې سره په کټ کې کښېناستله ـ له هغوي نه يې پوښتنه وکړه ـ ترور جانې کله چې يې دا کلی بمبارد کاوه تاسو خو به پخپل ځای کې وېئ ـ هو لورې موږ په غره کې و ـ خالي الوتکې مو ليدلې چې راتلې به او دا کلی به يې بمبارد کاوه ـ يواځې دا کلی نه نور کلي يې هم ويشتل ـ دا څه کلي چې دي ټول يې بمبارد کړي دي ـ سهار به درته د پاس بام نه دروښيم ـ لورې په ټولو خلکو ډېره سخته تيره شوې ده ـ ډېر مخلوق تباه شوی دی ـ

د بوډۍ سترګو له اوښکې راغلې د خپل ټيکري پلو يې سترګو ته ونيو ـ ژړغونې شوه ـ بيا يې تاجو ته وويلې ـ لورې ته به ستړې يې ځای به درته جوړ کړم ـ چې ارام وکړې ـ سبا به هر څه پخپلو سترګو وينې ـ سمه ده مور جانې تاسې راسره په تکليف کې شوېئ ـ تاجو ځانته په بيله کوټه کې په بستره کې وغزېده ـ ستړې وه ځای پر ځای خوب يووړه ـ سبای تر نهو بجو يې پوره خوب وکړ ـ سهار چې کله له خوبه پاڅېده په چټکۍ سره يې مخ او لاس پرې مينځل له چای نه مخکې تنده تنده په کلا کې وګرځېده د کلا يو ګوټ روسي الوتکې بمبارد کړی و ـ بيا زر له کلا نه بهر ووتله ـ

تهوله سیمه او کلی یې له سترګو را لاندې کړ- وړاندې کڅ ته یې ورپام کړ- یو نیم سړی یې په نظر راتلو - بیا یې د خپل باغ دروازه بیرته کړه او دننه باغ ته ننوتله باغ له پخوا نه لا شین او ګڼ شوی و - ونې او ګلونه یې لکه د یوه ځنګل دا سې شوي و - دې به د بڼ هرې ونې او ګلونو ته کتل - بوټي ، وابنه ، ګلونه او نورې ونې ځنګل شوې وې - د ګرځېدو تګ راتګ شان پکې نه و - د باغ هغه پخوانی کنډو کم چې به تاجو او طالب جان ورباندې باغ ته او ختل - هماغه شان پروت و - وچې ونې او لرګي په کنډو شوي دیواله کې پراته و د چا در او ختلو لاره نه وه - تاجو همدغه کنډو ته په فکر کې شوه ( په زړه کې یې تیر شول په دې کندو به زه او طالب جان باغ ته راوختلو او په باغ کې به مو د مینې او محبت لیدنه کتنه سره کوله - په همدې سوچ او فکر کې لاړه - مړې مړې اوښکې یې په مخ راماتې شوې - طالب جان یې یاد کې راغی - بیا یې اوښکې وچې کړې سوړ اسویلی یې ویویست - روانه شوه - په ګڼو بوټو کې یې ځان هغه ځای ته ورساوه کم چې به طالب جان سره هلته کښېناستله - بیا یې زنه ورپیده په هټکو هټکو یې وژړل - تر ډېره پر هغه ځای ودریده - همغسې یې اوښکې روانې وې - نوره په باغ کې وړاندې لانه ړه - بیرته راستنه شوه - له باغ نه راووتله - او کلا ته ننوته - ګلنارې ترور پرې ورغږ کړ تاجو لورې باغ ته وتلې وې ؟ هو ترور جانې باغ مې ولید بیخي شاړ شوی دی - لکه یو وحشي ځنګل داسې شوی دی - هو لورې څوک نشته دی چې کار پکې وکړي - خدای مهربانه دی لورې - وطن به ازاد شي دا کلی او دا مځکې به بیا جوړې شي - ته مه خفه کېږه راځه چاې تیار دي - د چاې له څښلو نه وروسته ګلناره ترور او تاجو دواړه د کلا جګ بام ته وختلې - تاجو ته یې وویل - لورې هغه وړاندې کلی وینې هغه د ملک کلی ، ګلنارې ترور د طالب جان کلي ته لاس ونیوه - همدغه کلی روسانو په بمونو لوټې لوټې کړ - ټول کلی وران شوی دی - د کلي نیماي خلک د روسانو الوتکو ویشتلي او له

منځه تللي دي .د تاجو په زړه کې ټکه شوه له ځان سره یې وویل والله لکه چې د طالب جان دوي کورنۍ به له منځه تللي .ځکه خو په دا دومره وخت کې یې د هغه پوښتنه ونکړه .خامخا یې مور و پلار او ورونه وژل شوي دي.خدای دې خیر کړي.دا ګلناره ترور راته اصلي خبره نه کوي لکه چې زما کورمۍ هم له منځه تللې ده.دا په همدې سوچ کې وه.ګلنارې ترور لا هماغه شان له ځان سره لګیا وه.هغه بل کلی چې د سین پغاړه پروت دی هغې کې خوبیخي ولاړه لوټه ام نشته.خو دا ټول کلي یې بمبارد کړی دی .د هغې په خوله کې خبره وه.خو تاجو یې په خوله کې خبره وچه کړه وې ویل .ګلنار ترور رښتیا راته ووایه چې پلار و مور خو مې مړه نه دي ؟ ګلنار ترور غړه کنده شوه.لورې ته پما اعتبار نه کوې.ستا کورنۍ او ترونه دې سره ددې ټولو کلیوالو ډېر پخوا پاکستان ته تللي دي.ته ولې سودایي شوې.ترور جانې ډېره په تشویش کې یم.زړه مې په ګوګل کې نشته دی.نه نه لورې پام کوه چې خپګان زړه ته ونه نیسې.هر څه به پخپلو سترګو اوګورې.تر هغې چې مور او پلار دې ګوري.څو شپې به په دې خپل کور کې له مورږ سره یو ځای تیرې کړې باور وکړه چې ډېره درته خوشحاله شوم شکر دی چې ددې کلي او بیا ددې کور څوک خو پیدا شول.خدای مهربانه دی همدغسې ستاسې خپل څوک به را پیدا شي ورسره لاړه به شې.مور او پلار ته به ورسېږې.زه دې هم مور یم مورږ خپل مور و پلار وګڼه.لورې زړه مه ښکته پورته کوه کور دې خپل دی. غله دې خپله ده.مځکه دې شته دی.هیڅ فکر مه کوه.جنګ جګړې په کلیو نشته دی.مجاهدین او د حکومت خبره ده.یو تر بله سره په جنګ اخته دي.دا کلی ترې خلاص دی.تاجو چې د خپلې کورنۍ په باب یې فکر کاوه.د ګلنارې ترور خبرو یې تاثیر وکړ.وې ویل ښه ده ترور جانې ته مې هم مور یې ستا خبره سمه ده.

## اتم پړک ( اتم څپرکې )

د یوه غره په ګنړو ونو کې یوه وړوکې کوټه کې سیمر د څو تنو وسله والو سره ناست و ـ هسې ښکاریده چې هغه د هغوي مشر ( قوماندان ) و ـ سیمر وویل ـ زه خو یو غریب سړی وم ـ همدغې خلقي حکومت راته مځکه هم راکوله کوم تکلیف راته نه و ـ ولې زه دوه شیانو مجبوره کړم ـ چې د جهاد په لیکو کې ودربږم ـ لومړی دا چې ملک ته روسان راغلل دویم دا چې بل سخت مجبوریت لرم هغه اوس تاسو ته نشم ویلی ـ وروسته پرې بیا پخپله پوهیږئی ـ جهاد ته مجبور شوی یم ـ کفارو زموږ په وطن تجاوز کړی دی ـ د ټول افغانستان خلک د روسانو او کارمل د حکومت په خلاف پاڅیدلي دي ـ موږ باید د هغوي په مقابل کې جهاد وکړو ـ خپل ټوپک یې پلاس کې ونیوو وې ویل تر څو چې روسان مو له خاورې ویستلي نه وي ټوپک به په مځکه کې نږدو ـ په دې وخت کې یو تن رانونزي ـ وای ـ قوماندان صیب خبر راورسید ویلې د روسانو کتار راځي ما وې چې تاسې خبر اوسئ ـ سیمر اوس قوماندان شوی و ـ سپک له ځایه پاڅید وې ویل راځئی چې ځو ـ په منډه او چالاکۍ سره له غره نه مخ ښکته سړک پلو د غره په ډډه کې په یوه نري لاره روان شول ـ د ټولو سره سلاګانې وې له یوه تن سره په اوږه راکټ ایښی و له ټولو نه وروسته روان و ـ د سړک له پاسه د غره په غټو غټو تیګو کې پټ کښیناستل ـ لږه شیبه وروسته د کتار سر کې یو ټانک رابنکاره شو ـ سمدستي یې په ډزو پیل وکړ ـ همدغه غر چې سیمر دوي پکې ناست وو ـ په نخښه کړی و ـ دوي ورته غلي ناست وو ـ تر څو کتار دوي ته رانزدې شو او تیریده ـ د سیمر راکټ چې په کتار راکټ ورخوشی کړ ـ ډز شو یو عسکري موټر یې

وويشت. اور يې وا خيست كتار په سړک بند پاتې شو. سيمر قوماندان او نورو ملګرو يې په كتار ډزې پيل كړې. له يوه ساعت جګړې نه وروسته كتار تار و مار شو. څه عسكر ووژل شول. ځيني زخميان شول له دوي نه هم دوه تنه مړه شول او پنځه زخميان. څه روسان په وروسته موټرو كې وتښتېدل. سيمر دوي سړک ته ورښكته شول پوره سلاګانې او مرمۍ يې لاس ته راوړې. ځرخي الوتكې راغلې. دوي په يوه منډه غره ته ور پورته شول. ځانونه يې غره ته وخېژول. سيمر په لنډه موده كې د وسلو او پيسو خاوند شو. په ټولو مجاهدينو كې يې شهرت وموند. د خپلې ټولې سيمې قوماندان شو.

له بله پلوه دلبر د كوز كلي د ملک زوی د زركې مور ته د واده كولو لپاره خپل پلار او مور سره د نورو دوو كليوالي سپين ږيرو ورولېږل. تر څو د واده كولو نيټه او د ولور خبرې وكړې. مازديګر كې د زركې كره ورغلل. د ماښام ډوډۍ نه وروسته يې داسې خبرې پيل كړې. لومړی يوه د كلي سپين ږيري وويل خور جانې څومره به ښه وی چې ملک په كور وی او هغه ته مو دا خبرې كولای. خو خير ياد دی په خير وي. اخر به يې خدای راولي. خورې خبره خو داسې ده چې موږه ددې ملک سره راغلي يو چې كه كوم مشكلات او ستونزه موجود نه وي. د واده او ولور په باب ورسره وغږېږئ ځكه چې نن سبا شرايط خراب دي. جګړه ده. كلی له خلكو نه تش شوی دی. دا موږ چې ګوري نن سبا به په خير سره موږ هم ځوو. دلته نوره ګذاره ګرانه ده. نو كه دا د خېر او خـوشالۍ كار په ښه شان سره سرته ورسېږي بده به نه وي. د زركې تره ورته وويل ورونو خبره داسې ده چې موږ هيڅ دې خبرو ته جوړ نه يو ځكه چې ورور مې هم كور كې نشته او دا حالات هم واده ته نه دي برابر. ملک د دلبر پلار وويل. ستا خبره سمه ده خو زه چې دا حالات وينم نوره ام له دې نه بدتره راځي. مخې ته

بد حالت را روان دی. نوره ستاسو خوښه ده. زه به د زرکې مور سره دننه وګرځم چې هغه څه وايي. د زرکې تره دا خبره وکړه او ووت.
لږه شیبه وروسته راغی له کښیناستو سره یې وویل. ملکه ته کولی شې چې واده ته تیاري ونیسې. اتیا زره افغانۍ به ولور راوړې او د واده ګاڼې جامې او سامانونه مکمل راوړئ کولی شئ چې واده وکړئ. یوه شیبه ټول غلي ناست وو. بیا ملک وویل د واده نیټه به کله وي ؟د زرکې کاکا وویل. په راتلونکې جمعې ورځ به د واده نیټه وټاکو. بس په همدغه خبره دعا وشوه. او جرګه را رخصت شوه. زرکه چې خبر شوه. خپلې کوټې ته وختله ټوله ورځ یې وژړل. له همغې ورځې نه یې رنګ زیړیده له یوې ورځې نه یې بلې ته حالت خرابېده. تر څو چې د واده ورځ راورسېده. زرکه په دې تمه وه چې سیمر راشي او له واده نه خبر شي. خو سیمر چې د جبهې قوماندان و د جنګ جګړې مسؤلیت ورپغاړه و. کلي ته هیڅ راپیښ نشو. خو د واده په ورځ چا خبر کړی و چې زرکه ودېږي. له ځان سره یې خپل څو تنه وسله وال روان کړل. د خپل کلي په لور یې حرکت وکړ و. د غره نه یې ولیدل چې د واده ډولۍ په کڅ کې روانه ده. ښځې او نر روپسې دي. ده خپلو ملګرو ته وویل. موږ به ځوو او له ډولۍ نه به ناوې راښکته کوو. او خپل ځای ته به یې رسوو. خو تاسو اوس خبروم چې زرکه له ما سره ژوند کول غواړي نه د ملک زوی دلبر سره. هغې زما سره پخوا وعده کړې ده. تاسې به یې پخپلو سترګو ووینئ. د زور او ظلم خبره نه ده. ټولو اندېوالانو یې وویل ښه ده قوماندان صیب څنګه چې ته وایې هغسې به کوو. دوي په چټکۍ سره د واده ډولۍ ته ځانونه ورسول. سیمر د واده په خلکو غږ وکړ خویندو ، وروڼو تاسې کوم بل فکر ونه کړئ. د زرکې او زما په حال به اوس پوه شئ. د زور زیاتي خبره نه ده. ټول خلک ښځې او نر لوی واړه ځای پر ځای ودریدل. سیمر ډولۍ ته ورغی زرکه له دولۍ نه راووته داسې یې وویل. موږ دواړو له پخوا نه

وعده کړې وه ـ سیمر نورو خبرو ته پرې نښوده ـ او ناوې یې روانه کړه ـ د غره په ډډه ورپورته شول ـ ښځې او نر هک پک پاتې شول ـ تشه ډولۍ د ملک کره لاړه ـ دا ډول کار هیڅکله نه و شوی ـ ملک چې د موضوع نه خبر شو ټوپکې او تبرونه یې راواخستل او د هغې د ټول کلي چیغه راووته ـ په سیمر قوماندان پسې د غره په لمن کې مخ پورته روان وو او ډزې یې کولې ـ سیمر دوي له بره په دوي ډزې پیل کړې ـ تر مازدیګره په غره کې دواړو خوا و یو پر بل ډزې کولې ـ تر څو د ماښام له خړې سره سیمر ناوې خپلې قرارګاه ته ورسوله ـ بس له همدغې ورځې نه وروسته د سیمر په زړه کې رحم او زړه سوی ورک شو ـ یوازې ټوپک یې چلاوه ـ ژوبلې ، مرګونه یې کول ـ کتارونه یې لوټل ، د کلیو او دولت پلوه کسان ترې ژوندي نشوای پاتې کېدی ـ د کوز کلي ملک مجبور شو دولت په طرفدارۍ ودرید ـ د واده مکمل رپوټ یې حکومت ته ورکړو ـ په سبا ته د حکومت له خوا نه عسکر او هم ملک د کلیوالو سره وسله پلاس د سیمر په مقابل کې په غره ورجګ شول ـ د هغوي قرارګاه او د اوسېدو ځای ددغه غره نه اخوا پلوته وه ـ هلته یې په یوه جګه څوکه کور جوړ کړی و ـ خوا ته یې نورې څو کوټې او باندې موجودې وې چې یوازې جنګي ټوپک وال پکې اوسېدل ـ د کوز کلي ملک سره له لښکره د هغوي په پوستو ور وختل ـ سخته جګړه ونښته ـ تر مازدیګره وډزیدل ـ په پای کې له دواړو خوا و نه مړي او زخمیان وشول ـ د ملک زوی دلبر په جګ اواز وویل راځئ راپسې له دې ژوند نه مې مرګ بهتر دی ـ نه یې پرېږدم ـ پې ورځمه ـ مازدیګر نزدې و چې هغه له څو تنو سره د سیمر په یوه پوسته ور ووخوت ـ هغه پخپله د پوسته دوه تنه وویشتل ـ اخر دی هم په سینه ولګید او ځای پر ځای ساه ورکړه ـ درې تنه ترې سخت ټپیان شول ـ د پوستې پاتې کسان وتښتېدل ـ د سیمر قوه پرې زیاته وه ـ هجوم یې پرې راوړو ـ څه یې مړه کړل او څه ژوندي تر سړکه ځانونه ژوندي راخلاص کړل

. عسکرونه هم دوه تنه زخمیان شوي وو . له دغې جګړې نه وروسته سیمر پاکستان ته وغوښتل شو . د جهاد مخکښانو له خوا و نازول شو . د I.S.I له نظره تیر شو . په شا یې وټپاوه د پوره واک او امتیازاتو سره راستون شو . په دریمه ورځ یې زرکه وارولـه او په پاکستان کې یې د نورو لوړو پوړو جهادیانو سره په خوا کې وارول . مور او پلار یې لا وختي راوستي و . نور خپلوان یې هم ځانته رانزدې کړل . هر چاته یې راشن پاسونه جوړ کړل . سیمر قوماندان ښه قوي او مضبوط شو . نورنو د چا پرې زور نه رسیده . د زرکې مور او د کورنۍ نور غړي یې پاکستان ته راوستل . ځکه چې له یوې ورځې نه بلې ته جنګ توديده . د افغانستان په ټولو ولایتونو کې په هره ولسوالۍ او علاقدارۍ کلیو ، باندو ، درو ، غرونو او په سمه د جنګ اور بل و . هدیرې په مړو ډکې شوې . لکه د سیمر غوندې قوماندانان زیات شول . پاکستان په افغانانو کې بیل تنظیمونه جوړ کړل . هر تنظیم خپل خپل فعالیتونه کول هر تنظیم به چې څومره ډېر افغانان ووژل او خرابي به یې وکړه . پاکستان ته هم هغه ښاغلی و . سیمر د خپل تنظیم وتلی او نامي قوماندان جوړ شو . هغه په هماغه شپه چې زرکه له ډولۍ نه راښکته کړه او له ځان سره یې راوتښتوله . په هماغه شپه یې نکاح ورسره وتړله . په داسې حال کې چې بې شمېره مرګ ژوبله هم شوې وه . ولې قوماندان سیمر ته بې تفاوته وه . وروسته چې د زرکې مور او د هغې تره او نورو خپلوانو ته د سیمر قوماندانې معلومه شوه . په دغه کار خوښ وو . ولې چې هغوي ټول یې وساتل . هم یې مځکه کورونه ورته د نورو له تیرې نه وساتل او هم یې د ژوند ضروریات ورپوره کول . په پاکستان کې یې بې تکلیفه شپې ورځې تیرولې . د قوماندان سیمر ارګاه بارګاه دومره شوه چې ده ته به د ائ، ایس، آئ غټان راتلل او ښودنه به یې ورته کوله . د زرکې او سیمر د مینې خوږې شپې ورځې وې . قوماندان سیمر به زیات وخت په جنګي جبهه کې و . کور ته به ډېر کم ورتلو . کله به

چې کور ته لاړ. زړکه به په جامو کې نه ځایدله. د زړکې دوه زامن وشول. سیمر د کوز کلي د ملک کورنۍ بیخي ختمه کړه. کم چې پاتې هم و د هغه له ډاره یې ورته نوم هم په خوله نشو اخستلای. همدا شان قوماندان سیمر د سیمې د ډېرو درنو کورنیو په حیا اسره ونه کړه. په نوم د خلقي او پرچمي څوک به چې ګیر ته ورغلل له منځه یې وړل. پلونه او سړکونه یې تخریبول. کله چې دولتي قوت مات شو او ځینې کلي او حتیٰ ولایتونه د هغه وخت رژیم له واکه وتل د مجاهدو امر او کاروای پکې چلیدله. سیمر قوماندان د خپل کلي د خان زړکې د پلار په ځمکه کې یو پوخ ښکلی کور جوړ کړ. مخې ته یې د تماشو باغ هم جوړ کړ. په دغه کور کې د هغه خپل کسان اوسېدل. کله کله به قوماندان سیمر هم ورته راتلو. دغسې ښکلی کور بل هیچرې نه و. د ۱۳۵۷هـ ش کال او م د ثور بدلون نه راپه دیخوا ډېر زر د خلکو د ژوند او نورو ټولنیزو اړخونو کې بدلونونه پیښ شول. داسې څه رامنځ ته شول چې هیڅ فکر یې نه کېده. زه د پیښو اصلي بڼو ته نه ځم سیاسي برخه باندې یې زما کار نشته. دې خالي ځینو پیښو ته چې ددې ناول اصلي مسیر ټاکي او د هغو پیښو اصلي انځور کاږي. نو ځکه ورسره باید تماس ونیول شي. دغو نویو حالاتو راتګ ته هر څوک حیران و. دا چې ښه و او که بد و. خو تغیرات او بدلونونه و. ورسره سم مرګونه او د وینو تویدل هم. د هر کور نه جنازه ووته. ددغه وخت پیښو له ټول ملک نه د حیا پرده ایسته کړه. سترې بیبیانې بې ستره شوې. نااشنا شپې ورځې په هر چا راغلې وې. کلي او کورونه وسول اولسونه بې کوره شول. هرې خوا ته خلک اوکوچیدل. د اولس په منځ کې زاړه تشکیلات مات شول. ځکه چې د روسانو په راتګ سره د جهاد لیکې ښې پیاوړې شوې. د کلیو او بانډو او د ځینو ښارونو تللي مهاجر خلک په بیلو بیلو تنظیمونو کې سره د خپلو سیمو د قوماندانانو په واک کې شول. نو ځکه خو سیمر د خپلې سیمې لوړ جنګي ځواک جوړ

شو ـهر څه یې په اختیار کې و ـهیڅ یې مخه نشوه نیولای ـد دولت څو خرخې الوتکې یې راوغورزولې ـد روسانو او دولتي عسکري کتارونه یې وهل ـځینې عسکر چې ژوندي به یې ونیول ـپخپل شخصي زندان کې اچول که خلقي عسکر یا افسر به ژوندی لاس ته ورغی ـسمدستي یې له منځه وړو ـد هغه د وژنې او مرګونو یو مثال ګرانو لوستونکو ته ور په ګوته کوم ـ
سترګو لیدلی حال دی :ـ د خانو خلقي میرمن او ماشومان یې په کلي کې پاتې شوي و ـاو هغه د خپلو ملګرو او عسکري قوي سره مرکز ته وتلی و ـد کلي یوه جهادي د خانو د میرمنې او ماشومانو رپوټ سیمر قوماندان ته ورکړی و ـهغه ورپسې خپل دوه تنه کلي ته رالیږلي و ـتر څو هغوي له ځان سره بوځي ـد غرمې لس بجې وې چې د خانو میرمن او بچي ورله امریت ته روان کړل ـد کلي خلکو له ډاره څه ویلې نشول ـاګر چې په کلي کې دومره څوک پاتې هم نه وو ـځکه چې زیات خلک لا مخکې اخوا ته کډه شوي وو ـکله چې یې د خانو واړه د کلي په کوڅه کې روان کړل ـماشومانو ژړل ـدوه تنه ماشومان چې دواړه هلکان یو د پنځه و کالو وه او بل یې ایله د درې کالو و ـمور یې له لاسونو نه ینولي و او له کلي نه ووتل ـد ماشومانو د مور په مخ اوښکې روانې وې ـیوازې دومره یې وویل ـوروره پما او زما په دې وړو ماشومانو څه کوې؟ هغو دوو وسله والو وویل ـخورې دا زموږ کار نه دی ـستاسې له کلي نه راپور ورکړل شوی دی ـاو موږ ته یې امر کړی دی چې تاسو امریت ته بوځوو ـخبر دی مه خفه کیږه واپس به کور ته راځې ـخالي امر صیب درنه پوښتنې کوي ـوار خطا کیږه مه ـکومه خبره نشته دی ـکله چې یې امریت ته ورسبدل راسا یې ښځه او ماشومان د سیمر مخې ته وروستل ـسیمر چې ښځه د دوو ماشومانو سره ولیده ـسمدستي یې وویل ـد خلقیانو مال او هر څه مجاهدینو ته غنیمت دی ـاوس یې زندان ته بوځئی ـبیا به ترې پوښتنې

وکړو .هو رښتیا د محبس امر ته ووایه چې ځانته کوټه کې یې واچوي .
ښځه یې د دوه اولادونو سره کوټې ته واچوله .په کوټه کې مالونو غوجله
وه .یوازې یو زوړ کټ پکې پروت و.په کټ کې بالښت بستره خو لا څه
چې د کټ پیرمې په مځکه پرتې وې.کوټه غټه وه دوه کندوان پکې یوه
دیواله پورې ولاړ و.غله مله پکې نه وه خالي پراته وو .یوه د دروزو
ګیډۍ د کوټې کنج ته ځوړنده وه س د کوټې په دیواله کې وړو کې کړکۍ
وه چې خالي رڼا پکې راتله.د ماشومانو مور ویلې.کله چې یې د محبس
مسؤل سړي ته وسپارلم.هغه یو پوخ سړی و .بوڼدۍ ږیره یې وه.سترګې
یې خړبخنې وې تور بریتان ، لوړه ونه ښه چارشانه سړی و .خړ پکول یې
په سر و .کوم وخت چې یې کوټې ته ننویستلم راته وې ویل.خلقۍ بې بې
ننوځه.کوټې ته ننوتلم.هغه یوه تنبه نیولې وه.بیا یې په غلي اواز وویل.
دې ماشومانو ته به اوبه ډوډۍ درته راوړي.زه هم درته راځم.دروازه یې
راپسې قلف کړه او لاړ .کوټه کې مې سترګې وغړولې په کټ مې سترګې
ولګېدې.بیا مې په کندوانو او غوجله سترګې ولګېدې.ټوله کوټه مې
له سترګو ویسته.کټ کې مې دواړه ماشومان کښېنول خو هغو دواړو
ژړل.داسې ژړل چې ان بیرون یې د ژړا غږ وتلو .ښه شیبه وروسته یو تن
دروازه خلاصه کړه .د اوبو لوټه، ګیلاس او وچه ډوډۍ یې راوړه .په
دروازه کې یې اوبه او ډوډۍ راکړل ویلې خورې دا ډوډۍ اوبه واخله.په
دروازه کې مې ترې راونیول.او هغه لاړ.د دروازې د قلفولو کړس مې
واورید .هلکان مې کرار کړل.ډودۍ اوبه مې ورکړل.دواړه په شلیدلي
کټ کې کراروېده شول .زه ورته د کټ په بازو ناسته وم ستونې مې راډک
شو په سلګو سلګو مې وژړل.په ژړا ستړې شوم.د هلکانو خواته مې سر
کېښود په ځای خوب وړې وم.

یو وخت دروازه وټکېده.راویښه شوم.یوه تن ډوډۍ راوړه په کاسه کې
څه ښوروا وه.د چرګ پتون پکې پروت و .یوه ډوډۍ په لاس کې نیولې

وه ـ د کوټې لوټه يې ويستله ـ تازه اوبه يې پکې راوړې ـ ما د هغه سړي نه پوښتنه وکړه ـ مال څو بجې دي وې ويل ـ ماښام دی ـ خوړې تاسو خو بې له هغې مونځ نه کوئ بس همدومره يې وويل او لاړ هغه په وتو کې و چې ورغږ مې کړ وروره د خدای لپاره مسلماني ده ـ دا واړه مې په دې وچ کټ کې خوب نشي کولی ـ که کوم نمځی يا پزکی راوړې ـ هغه وويل زه به کوښښ وکړم که څه لاس ته راغلل درته رابه يې وړم لږه شېبه پس هغه سړی يوه زړه غوندې بړستن نيولې وه ـ رايې وړه ـ خدای دې خير درکړي وروره ـ نيمه بړستن مې له وړو لاندې کړه او نيمه مې له پاسه پې خوره کړه ـ د ډوډۍ خوړلو نه وروسته هغوي بيا ويده شول ـ زه ورته هکه پکه د کټ سر ته ناسته وم ـ د شپې ناوخته خوب وځنګولم ـ سترګې مې پټې شوې وې ـ سهار بيا دروازه خلاصه شوه ـ يوه تن چاې راوړو او په لوټه کې يې اوبه راوړې ـ ماشومان هم راويښ شول ـ مخ لاس مې ورته پرې مينځل ـ چاې مو وڅښلو ـ لږه شيبه وروسته دوه تنه راغلل ـ موږ يې بيرون ته ويستلو ـ کتل مې چې د ماما زوی مې له ښځې سره راغلي وو ـ وړاندې په دورازه کې ولاړ و د محبس امر وويل تاسو راشئ هغو دواړو ته يې اشاره وکړه ـ دا ماشومان له ځان سره بوځئ ـ موږ به له دې مور نه يې پوښتنې وکړو ـ بيا به يې درپرېږدو ـ دلته به دغه ماشومان په تکليف کې شي ـ د ماما ښځې مې زنه وربيده اوښکې يې راماتې شوې ـ وې ويل ـ وروره دا ماشومان به ژاړي مور به غواړي ـ د خدای په خاطر چې.... ! نه نه خورې دومره يې نه معطلوو ـ خالي څو پوښتنې ترې کوو ـ کېدی شي تر مازديګره درشي ـ تاسې اوس تلای شئ ـ ماشومان يې له لاسه ونيول او هغوي د کور په لور روان شول ـ د ماشومانو مور يې بلې کوټې ته بوتله ـ هلته د محبس د امر دفتر و ـ ځوکړ ېيری سړی چې و کلکې جامې يې نيغې ختلې وې ـ توره زړه قره قل خولۍ يې په سر وه ـ ماته يې کړه کښېنه ـ لومړۍ پوښتنه يې رانه وکړه ويلې ستا نوم څه شی دی ـ د ميړه نوم دې او

د پلار نوم دې وو ایه ؟ ما ورته خپل نوم د خاوند او پلار نوم وو ایه ـ بیا یې وویل ستا میره خلقي دی ـ ستا سې کور کې سلا شته دی که نه؟ که رښتیا رښتیا وو ایې نو ډېر زر به کور ته لاړه شې ـ ما وې وروره میره خو مې خلقي دی مګر سلا په کور کې نشته دی ـ یو ازې هغه سره تمانچه وه له ځان سره یې وړې ده ـ نوره وسله نشته دی ـ په دې خبره هغه وچ مخی سترګې رابټې کړې ـ وې ویل ته د یوه کافر ښځه یې ته هم ملحده یې ـ پرې ږدم دې نه تر څو وسله را ونه ښایې ـ صبب مړه مې کړئ مګر په کور کې وسله نلرو ـ بیرون ته یې غږ وکړ ـ یوه تن ته یې وویل وا لکه د توتانو لښتې راوړه دا خلقی حال نه وایي ـ سړی په منډه ووت لږه شیبه پس راغی ـ د توت ونې شنې لښتې یې راوړې ـ هغه سړی ووت او د دفتر سړي راته لښتې ونیوې ـ په پښو یې ووهلم ـ دومره یې ووهلم چې له پښو نه مې وینې راووتې ـ د لښتې ګذار چې کاوه ویلې یې حال وایې که نه ؟ ما به څه ویلې وایې ـ بس خالي چیغې مې له خولې وتلې ـ هغه به چې ستړی شو اوبه دریده راباندې راټیټ به شو داسې به یې راته وویل ـ په دې ټولو مجاهدو دې.... کوم تر څو حال راته نه وایې ـ غږ یې وکړ والکه راشه اوبه پرې واړوه ـ هغه به اوبه راباندې واړولې ـ زه خو به بې حاله پرته وم ـ چې په خود به شومه بیا به یې راباندې د وهلو شروع وکړه ـ بیا یې هماغې کوټې ته بوتلم چې مخکې پکې وم ـ هلته په هماغه شلیدلې کټ کې بې هوښه پریوتم ـ دومره مې واوریدل چې نن شپه دې مرداري ته ډوډۍ ورنکړئ او نه درنه خوب وکړي ـ نور بیا په څه نه پوهېدم پخپل درد اخته وم ـ تر څو چې یو وخت یو تن کوټې ته راغی ـ لومړی یې راته ورو غږ وکړ پا څېږه ـ پا څېږه چې ځوو ـ زه خو له ځایه ښوریدا ای نشوم ـ او نه مې له خولې نه غږ خوت ـ ورو مې وویل وروره خوځېدی نشم ځان مې خوږېږي ـ هغه راباندې راټیټ شو په مخ یې راته لاس تیر کړ ـ بیا یې له سینې نه ونیولم ـ ما ځان راټول کړ ـ هغه د ځناور زوی راباندې د عزت د لوټولو

پیل وکړ.هر څو مې چې ځان تاو راتاو کړ.نه کېده.هغه خپل کار وکړ او لاړ.زه دومره درد منده وم.چې په غبر له ژړا نه مې خپل ځان هم نشو سنبالولی.یوه شیبه وروسته مې ځان ورو او خوځاوه.پښې مې له کټه راځوړندې کړې .غوښتل مې چې ځپلکې پښو کړم .او په کوټه کې وګرځم.پام مې چې وکړ تورتم لګېدلی و شپه وه.ژبه مې وچه شوې وه.مال چې یو ګوټ اوبه وڅښم.لوټه مې په سر واړوله.ورو مې بیا پښې ولګولې.په کوټه کې روانه شوم.تر دروازې پورې لاړم.په دروازه کې مې چې غوږ کېښود بیرون یوازې یو چاله ځان سره څه کومه سندره زمزمه کوله .بیا به یې غاړه تازه کړه .هسې ښکارېده چې د محبس ساتونکی و.په دوه دریو کوټو کې نور سړي هم بندیان وو.په دې هم پوه شوم چې همدا بیرون چې هر څوک دی همدغه پما پسې راننوتی و .دغه شپه تیره شوه.سبایې یو سړی دروازې ته راغی او ډېره ډېره یې وه.زړې خړې جامې یې تن کې وې.دروازه یې خلاصه کړه.وې ویل.خورې راځه چې امر صیب غوښتې یې .له دروازې نه چې ووتم غوښتل مې چې سمدستي سړي ته لاس واچوم او بیا به یې کړم.هغه سمدستي وویل.خورې ته بیګاه دلته وې ؟ په حیاناکه سلوک یې دا خبره وکړه.بیا یې مخ رانه واړو.ویلې راځه چې ځوو.هغه زما په وضع پوه شو.ځکه چې زما حالت د کتلو نه و.ګوډه ګوډه روانه شوم.خو په ډېره سختته سره یې بیا د هغه وچ جامې کوټې ته وروستم .هغه سړي ورته وویل امر صیب هغه ښځه مې راوسته.رایې وله.ورننوتم.هوارہ لړځېدمه.ژړل مې.هغه راپاڅېد وې ویل .ژړا دې په درد نه خورې ښه صفا ووایه چې وسله شته دی او که دې اقرار ونه کړ.په ژوند کې به دې رانه بیا خپل ماشومان ونه وینې .او داسې مجاهد ته دې ورکوم چې په خپل ژوند کې هډو دا وطن ونه ګورې.زړه مې رالوی کړ ما وی چې دا بیګانی موضوع ورته ووایم.بیامې له ځان سره فکر وکړ چې دا خو پخپله راته وای نو ضرورت څه دی

چې دا ورته وایي. هغه وویل وو ایه کنه. وسله مو په کور کې او یا د بل چا کره ساتلې ده که نه ؟ ما وې صبب په خدای قسم درته خورم چې وسله مو ږ کره نشته دی . ښه چې نه یې وایې د خپل اولاد او کور و کلي نه دې لاس وینځه. یوه ته یې ورغږ کړ. له بیرون نه یو تن راغی ورته وې ویل. دا ښځه تر هغې پورې هم هغه کوټه کې بندی وساته تر څو چې کوم لونډ مجاهد ورته پیدا کړو او له ځان سره یې بوځي او نکاح پرې وتړي. دا خو مجاهدو ته لوی غنیمت دی نور به رانه د خلقي سترګې ونه ګورې. هم هغې کوټې ته بوتلم. همدغه سړی چې زه یې راوستې وم. راته وې ویل. خور جانې زموږ د لاسه درسره څه نه کیږي. خدای دې مل شه. ډېره مه ژاړه. کوټې ته یې واچولم. وې ویل زه به درته ډوډۍ اوبه راوړم. د کټ په بازو کښېناستم او په چیغو چیغو مې ژړل. زما ژړا بیرون اوریدل کېده. دواړه ماشومان یې د ماما د ښځې سره په کور کې و . په همدغه لحظه کې هغوي دواړو هم ژړل . د کلي چم ګاونډ ښځې او نر په دې کار خفه او ستومانه و . همدا ویل کېدل چې دا خو د پښتو او اسلام نه لیرې کار دی. د کلي امام او یو تن مجاهد سپین ږیری په امر جرګه شول څو د ماشومانو مور خوشې کړي . هغه ورته وویل . دا زما کار نه دی . دا د قوماندان سیمر کار دی . څو تنه نور جهادیان یې له ځان سره ملګري کړل هماغه کسان په قوماندان سیمر پسې غره ته ورغلل . عذر یې ورته وکړو. د ماشومانو ژړا او کړېدل یې ورته وویل . په ډېر عذرونو سیمر قوماندان دومره وویل . ستاسو په خاطر به یې خوشې کړم خو په یو شرط چې ستاسو نه یو تن یې ضمانت وکړي تر څو حکومت ته لاړه نشي او میړه سره ونه ګوري. که له کلي نه مرکز ته تللې وه دوه لکه افغانۍ جریمه او یو کال بند به مني. د کلي یو سپین ږیری چې د هغوي خپلوان هم و. وویل زه یې ضمانت کوم.

سیمر وویل ـ ښه ده زما یو تن مجاهد به درسره ولاړ شي اوس تلای شئ ـ مازدیګر ناوخته امریت ته راورسېدل ـ د سیمر قوماندان د جرګې سره راغلی سړی امر ته د قوماندان خبره تکرار کړه ـ ښځه یې ورسره کړه او کلي ته لاړل ـ د ماشومانو مور چې کورته ورسېده ـ هغوي ورغاړې وتل ـ دواړه په خندا شول ـ خو مور یې بیا په زوره زوره ساندې وکړې له خولې یې ستیانې ویشتلې ـ ناستو کسانو ورسره ټولو اوژړل ـ ښځه د ماشومانو سره تر پایه په کلي کې پاتې شوه ـ
دغسې مثالونه ډېر قوماندان سیمر په ټوله دوره کې تیر کړي و ـ ډېرې ښځې یې کونډې کړې وې ـ د ډېرو ماشومانو ازار یې اخیستی و ـ

## نهم پړک ( نهم څپرکې )

تاجو یوه میاشت د زړې بوډۍ او د هغې خاوند چې بیخي سپین ږیری شوی و ـ تیرې کړې ـ د خپلې کورنۍ هیڅوک یې را پیدا نشول ـ بلـه ورځ د تاجو دوي ګاونډي نظیر اکا له پېښوره کلي ته راغی ـ تاجو د هغې لیدو او سترې مشي تـه ورغلـه ـ چې وې لیـده ـ نظیـر اکـا لـه پخـوا نـه د کلـي پخوانی سپین ږیری و ـ د سترګو لیدل یې کمزوري شوي و ـ تاجو یې نه پېژنده ـ خو هغې ورته خپله ځان ور او پېژندلو ـ د خپلې کورنۍ پـه حقلـه یې ترې پوښتنه وکړه ـ هغه ورته وویل ـ لورې لـه کومې ورځې نـه چې زه پاکستان تـه تللی یم ـ بیا مې ستاسې د کالـه خلک نـه دي لیدلي ـ خو داسې کېږي چې سړی په کمپونو کې پوښتنه وکړي ـ کېدی شي چې پـه کوم کمپ کې به وي ـ تاجو ورته وویل کاکا جانه ته چې کله بیرتـه تلې زه درسره ځمه ـ تر څو د خپل مور پلار پته ولګوم ـ هغه ورتـه وویـل ډیره ښـه ده ـ څلور ورځې وروسته زه واپس د جلوزو کمپ تـه ګرځمـه ـ تابـه هم لـه ځان سره خپل کور ته بوځم ـ هلته به بیا ستا د کورنۍ د غړو پوښتنه کوو ـ نظیر اکا تاجو خپل کور ته راوست ـ د هغه کور په بمبارۍ کې نړیدلی و ـ او هم یې څوک نه و چې وخت یې ورسره تیر کړی وای ـ پـه څلورمـه ورځ سهار وختي تاجو او نظیر اکا پاکستان ته د تلو نیت وکړو ـ سبای وختـي یې له کلي نه راووتل ـ او د غره په لوري یې د ډاګ د منځ لاره ونیوه ـ تر څو چې لمر په غرونو راخوت دوي کنډو ته ختلي و ـ نظیـر اکـا د لاس امسـا لګوله ـ سپینې زړې عینکې یې په سترګو وې ـ له تاجو نـه مخکـې پـه لاره روان و ـ تاجو کله پخپلو پښو لیرې مزل نه و کړی ـ ډیره زر سترې کېده ـ کله چې کنډو ته وختل نظیر اکا تاجو ته وویل ـ تاجو لورې دا کنډو پخوا

چې زه ځلموټې وم دلته ګڼ د نښترو ځنګلو . داسې ګڼ ځنګل و چې په اسانه ترې څوک نشو وتلای. اوس ګورې چې سپیره غر دی. دا ځنګل ټول پاکستان وچلوو . ګوره کنه تر هغې وړاندې د دوو غرونو څوکو پورې د افغانستان برید دی. دې خوا ته سړک روان دی او له هغې خوا نه پوخ سړک راختلی دی. د افغانستان حکومت له پخوا نه د خپل وطن او سرحدي برید نه خبر هم نه دی. تاجو وویل کاکا جانه اخوا د موټرو ځای ته څومره لاره نوره پاتې ده ؟ بچی ډېره کمه لاره پاتې ده . اوس به که خدای کول ورسېږو . پوهېږم چې ستړې شوې. کاکا جانه کله دومره په پښو نه یم تللې. پښې مې په بوټونو کې اوپړسېدلې. خبر دی لورې لږه لاره پاتې ده. موټر ته رسېږو . دمه ځای نه پاڅېدل او په کرار کرار دواړه روان شول له یوه ساعت مزله نه وروسته د ګاډو تم ځای ته ورسېدل. تاجو نوره د تګ نه وه. د پېښور په ګاډي کې کښېناستل. مازدیګر نزدې و چې د جلوزو کمپ ته ورسېدل . د نظیر اکا دوي په کمپ کې صرف دوه کوټې کور و . دوي هم درې تنه د کور غړي و . د نظیر اکا میرمن بوډۍ شوې وه . یو معیوبه شان لور یې په کور کې وه. دوه تنه زامن یې ترې بېل شوي و . بوډۍ تاجو ډېر ساعت په سینه پورې نیولې وه . له سترګو نه یې اوښکې بهېدلې خو له کمزورۍ نه یې د ژړا غږ له خولې نه نه راوت . تاجو هم اوښکې وسره توې کړې. دننه کوټې ته ننوتل. بوډۍ د تاجو په لیدو ډېره خوشاله شوه . د کښېناستو سره سم یې ترې پوښتنه وکړه . تاجو لورې د طالب جان سره دې واده شوی دی که نه ؟ نه نه واده مو نه دی کړی . تاجو لږه خفه غوندې شوه اسویلی یې له خولې ویوست وې ویل . ادې هغه خو دا درې کاله کېږي چې حکومت بندي کړې دی . په دا دریو کالو کې ترې هیڅ نه یم خبره. اخر زه هم په تېښته راغلم. بلاګۍ دې واخلم لورې دا خو ډېر بد کار شوی دی. مورې په دې تمه یو چې تاسو به واده کړی وي. خیر دی په دې کې به ستاسې خبر وي. هغه لا څه کړې ادې چې ځینو کسانو

راته ویلې هغه یې وژلی دی ـ ځکه چې په دا دریو کالونو کې یې ماته سوال ځواب رانغی ـ مجبوره شوم زیاتي دیخوا ته مې ځان راواړاوه ـ خو له بده مرغه چې نه مې مور وه او نه مې پلار وه ـ تاجو لورې د خدای کار دی ـ پلار دې خدای اوبخښه ـ تاجو حیرانه پاتې شوه نظیر اکا خو جومات ته تللی و ـ معیوبه لور یې په کټ کې ناسته وه ـ له ځان سره بنګېده ـ تاجو د بوډۍ خوا ته ور وړاندې شوه وې ویل ـ ادې جانې څنګه د مور خبره مې راته تهوله وکړه ـ ای لورې مور خو دې لا دلته په کولرا مرض مړه شوه ـ او پلار بیچاره خو دې په کلي کې مزایل وهلی و ـ هلته دوه کاله مخکې شهید شوی و ـ ورور دې چیرته کوم لیرې وطن کې په کومه مدرسه کې سبق وای ـ تاجو اوپوهیده چې مور و پلار یې دواړه مړه شوي دي ـ هغې له خولې نه یوه چیغه ویوسته او له کوټې نه ووتله ـ بیرون په کټ کې کښیناسته ـ خپل سر یې په زنګنو کړ اوږدې اوږدې چیغې یې ووهلې ـ بوډۍ پوه شوه چې تاجو خو له مور و پلاره نه وه خبره او تا بې وخته خبره کړه ـ دا دې څه وکړل ـ په ځان پورې خجالت شوه ـ بیرون په تاجو پسې ووتله ـ او هغه یې غېږ کې راونیوه ـ ورسره وې ژړل ـ دوي لا په ژړا کې وو ـ چې د کاله بوډا نظیر اکا راغی تسپې یې اړولې ـ وې ویل ـ دا ولې څه چل دی ـ بوډۍ وویل دا ما خدای والې ناڅاپي له مور او پلاره خبره کړه ـ هیڅ فکر مې نه و ـ ما داسې فکر کاوه چې دا خو به لا پخوا خبره یې ـ که زه داسې خبر وای نو ولې به مې دا بد کول ـ بوډا چې د تاجو ژړا له دروازې نه واوریده امسا یې ټینګه ټینګه لګوله ـ د تاجو خوا ته راورسېد ولې لورې ولې ـ څه شوي دي ؟ بیا یې خپلې کچۍ سترګې چې په سپینو وروځو کې پټې ښکارېدې خپلې ښځې ته ور وکتل وې ویل ـ ښځې دا څه چل شوی دی ؟ خبره وکړه ـ ښځې یې لږ څه ډارن غږ وویل ـ سړیه خدای وشرمولم ـ تاجو رانه د مور و پلار پوښتنه وکړه ـ ما ورته د هغوي ټول حال وواېه ـ د هغوي د مړینې ټوله قیصه مې ورته وکړه ـ دا غریبه خو خبره نه وه ـ ناڅاپه

خبر شوه نو بد دې وکړل. دا ما سره يې دا يوه اونۍ وشوه چې لا په دې باب مې ورسره هيڅ نه دي ويلي . دې چې خوله د خپل پلار او مور په حقله راساره کړې ده. ما خبره په بله اړولې ده. چې مال هډو فکر هم په دې باب ونه کړې. او دلته لا رارسېدلې نه ده چې ګلونه دې وکړل. بوډۍ بيا وويل. سر په سر مې د خرولو دی. نظير اکا تاجو له لاسه ونيوه. او په کټ کې يې له ځان سره کښېنوله. په سر يې ورته لاس تير کړ وې ويل خبر دی بچې د خدای پاک لار ده . مور ټول په دغه لاره روان يو. مرګ حق دی ځوک په يو شکل سره او څوک په بل شکل له دې فاني دنيا نه سترګې پټوي. مه ژاړه الله دې د زړه صبر درکړي لورې. تر ماسخوتن تيره تاجو سلګۍ وهلې. له دوي سره په خوا کې د نظير اکا د مشر زوی کور و. د هغه ښځه راغله دوي سره يې له روغبړ نه وروسته ډوډۍ تياره کړه. تاجو ډوډۍ نه خوړه. نظير اکا وويل تاجو لورې راځه چې لږه ډوډۍ او خورې. له لاسه يې ونيوه. په زارو زارو يې په دسترخوان کښېنوله. هغوي ټول په دسترخوان کښېناستل. د بوډا اينګور هم تاجو ته د ډوډۍ خوړلو زارۍ کولې. تاجو خالي دوه مړۍ وکړې يو ګوټ اوبه يې وڅښلې بس يې کړل. په دغه شپه ټولو چندان ډوډۍ ونه خوړه . تر نيمې شپې وروسته تاجو د زړې بوډۍ سره يو ځای په يوه کوټه کې ويده شوه. سبا يې ورته په کمپ کې نور نږدې کليوال راغلل. څو ورځې همدغه شان د وطن څوک چې خبريدل ورته راتلل لاس يې ورته پورته کول. تاجو ته يې فاتحه کوله او بيا تلل. د تاجو کورنۍ پلار يې مامور صېب او د هغې مور له منځه تللي و. د ورور يې هم چيرته پته نه لګيده. بيچاره ايکي تنها پاتې شوه. له طالب جان څخه يې هم زړه جمعه شوی و . د نظير اکا دوي سره د جلوزو په کمپ کې پاتې شوه. هسې خو تاجو ته په کلي کې د خپل کور او ځمکې حاصلاتو ښې ډېرې پيسې ورکړې وې . خو دا چې مور او پلار يې له منځه تللي وو . په دنيا او پيسو به يې څه کړي وای. هغې ځان ډېر بدبخته

فکر کاوه. هغه دومره ښکلې تاجو د وخت پېښو او حالاتو په دغسې حال کړه. ورځ په ورځ رنځېدله. هفته، میاشتې او کلونه یې تېر شول. د نظیر اکا له کاله نه خو درې میاشتې وروسته یې ترور پیدا شوه. او هغې له ځان سره کور ته بوتله. د ترور کره یو کال وروسته یې یوې کونډې ښځې د خپل زوی لپاره چې یو ښکلی زلمی و. کله نا کله به د نورو مجاهدو سره د روسانو سره جګړې ته روان شو او په جګړه کې به هغه خامخا پوره میړانه کوله. تاجو د لومړي ځل لپاره همدغه زلمی ولید خوښ یې شو. له ځان سره یې پریکړه وکړه چې تر څو به د ترور کره او سېږي. کېدی شي وضعه ښه شي وطن ازاد شي او بیا د همدې هلک سره خپل کلي او جایداد ته لاړه شي او د خپل کور او مځکې وارث وکړي. هم هغه و چې د تاجو ترور له دې نه موافقه واخیسته. او د کونډې زوی ته یې ورکړه. لږه موده وروسته یې واده ترسره شو. د تاجو د خاوند نوم نواز خان و. نواز خان په رښتیا هم ښکلی او بادر زلمی و. پخپلو همزولو کې ښه لمونځ ګذاره او صادق سړی و. د تاجو ورسره پوره مینه وه. د دواړو روحي تطابق سم و. شپږ میاشتې وروسته نواز خان جبهې ته ولاړ. له نورو مجاهدو سره یې د روسانو په یوه کتار حمله وکړه. د روسانو کتار یې تار و مار کړ. روسان یې ووژل. له بده مرغه نواز خان په سینه مرمۍ وخوړه او د یوې ونې لاندې یې ساه ورکړه. ورسره ملګرو یې کور ته په ناڅاپي توګه راورساوه. تاجو چې کله د هغه جنازه ولیده. پرې راوغوړېده. په ژړا کې یې وویل. زما د بدنصیبي خدایه. مخې له مې سمه نه راځي. په ژړا ژړا یې نواز خان پسې ځان ستړی کړ. د چم ګاونړ او کلي ښځو به هم ویلې چې تاجو ډېره بدقسمته ده. د هغې د خاوند د مرګ نه وروسته د نواز خان مور او تاجو دوه په دوه کور کې پاتې شوې. چې وروسته بیا د نواز مور تاجو ته وویل. تاجو لورې ته پوهېږې چې زه او ته په دې کور کې بې نارینه دوه په دوه پاتې شوو. خوشی ازار دې نشم اخیستلای ته

کولی شي چې خپل کور ته لاړه شي. زما له خوا نه ازاده یې ته ځوانه یې. تر څو به له ما سره په دې کمپ کې نښې جوړې (ژوی) ښه به دا وي چې واپس د خپلې ترور کره په خوښه او ازادانه ډول لاړه شي. تاجو وویل. مورې ستا نظر خو ښه دی ولې زه د شپږو میاشتو اولاد په نس لرم. چې یو ځل په خیر سره د دې معلومات وشي. بیا به ګورو. خوابښې یې په داسې حال کې چې په کټ کې ناسته وه په ستن او تار یې څه شی ګنډل. وویل. هو لورې ریښتیا دغه خبرې ته خو زما هیڅ فکر نه و. خدای مهربانه دی که د زوی نخښه مې په دې کور کې پیدا شي ایله به مې لاړې تیرې شي. هو لورې څنګه چې ستا خوښه او رضایت وي هم هغسې به کوو. تاجو او خوابښې یې د کمپ په راشن پاس شپې ورځې تیرولې. کله کله به چې تاجو کلي ته د چا په خوله د تاجو دوي په کور کې بوډا سړي ته د حاصل پیسو غوښتنې ځواب لیږه. نو هغوي ورته پیسې رالیږلې. د پیسو نه حیرانه نه وه. د تاجو زوی پیدا شو. خوابښې یې ډېره خوشاله وه. تاجو هم ورته موتی موتی غوړېدله. هلک د دوه کالو شو په کمپ کې د دوي خوا ته د شمالي سیمې یوه کورنۍ اوسیدله چې یو ځلمی هلک او مور وروڼه او خویندې یې درلودلې. هلک علي جان نومیده. ده کوښښ کاوه چې کوم اروپایي ملک ته ځان مهاجر کړي خو د پیسو وس او قدرت یې نه رسیده. نور همزولي یې جرمني ته رسېدلي وو. دې بیچاره به د ورځې دیاړي کوله او خپل کور به یې پرې ساتلو. یوه ورځ یې په ناڅاپي توګه سره تاجو په کوڅه کې ولیده. دواړه سترګه په سترګه شول. تاجو ښکلې وه ډېره به نه ګرځېده. د هلک خوښه شوې وه. څو ځلې نور هم هغه تاجو ته بوخ بوخ شو. تاجو پرې کار نه درلود. خو لړه په زړه وهل شوې وه. علي جان مور ته وویل. مورې که د تاجو پوښتنه وکړې. مور یې وویل. زویه هغه خو پردۍ ښځه ده. یو وړوکی زوی لري. خوابښې ده. هغه خو بل لیور او یا نزدې بل داسې څوک نه لري ګني چې نکاح پرې وتړي.

او اي مور جانې دغه جینۍ ډېر شته او جایداد په وطن کې لري ـ که خدای مهربانه شي ـ او ددې د پیسو په واسطه سره بهر ملک ته ووتلی شم ـ ته څه فکر کوې مورې ـ یره زو یه درباندې پوه یم ـ چې د ښځې قیصه کې هم نه یې ـ خو بهر ته د تلو درسره زیاته تلوسه ده ـ علي جان ځان تاو راتاو کړ ـ مور ته راوړاندې شو ځان یې مکري مکري کړ ـ هله مور جان ـ هغه پخپله ژبه ( مادر جان به خدا صاحب زندگی مے شویم ... ) مور یې لږه په فکر کې ډوبه لاړه ـ وې ویل خوب درست است ما کتی خشو یش گپ می زنم په بله ورځ د علي جان مور د تاجو کره ورغله ـ له ځان سره یې څه تازه میوه او ځینې نور شیان یوړل ـ په دغه ساعت تاجو د یوه نزدې خپلوانو کره تللې وه ـ د علي جان مور په ټوکه کې د تاجو خوابنې ته د تاجو خبره وریاده کړه ـ د تاجو خوابنې لومړی غلې او چوپ پاتې شوه ـ بیا سوړ اسویلی له خولې ووت وې ویل خورې زما خو ایکې یو زوی و هغه هم رانه خدای واخیست ـ تاجو مې خپل اختیار ته پرېښې ده ـ زما لمسی هم شکر لوی ګانې دي ـ د علي جان مور په چالاکۍ سره ورته وویل ـ خورې زما زوی به هم لتاسو سره په همدغه کور کې اوسېږي ـ ته به پرې ډاډه یې ـ هغه به بالکل ستا په خدمت کې وي خپل زوی یې وګڼه ـ هغې ورته په ځواب کې وویل ـ سمه ده زه به تاجو نه پوښتنه وکړم ـ د هغې چې څنګه خوښه وه هغسې به کېږي ـ د چاې چښلو نه وروسته د علي جان مور ترې اجازت اخلي ورته واي ـ خورې زه به که خیر وي سبا ته بیا راشم ـ اوس درنه رخصت اخلم ـ د خدای په امان ـ په مخه دې ښه شه خورې ـ کله چې تاجو کور ته راغله ـ خوابنې یې ورته د علي جان خبره وریاده کړه ـ هغه په ظاهره ځان خفه ونیو ولې په زړه کې یې د علي جان سره لا پخوا دانې اچولې وې ـ د تاجو په زړه کې ور وګرځېدل ـ ( تاجو تر څو به داسې ژوند تیروې ـ هغه خو راته دا هم ویلي دي چې وطن ته به ځوو پخپله کلا کې به

او سېږو ـ د دې کمپ د چټل ژوند نه به خلاص شو ـ خپله کلا ، ځمکه او باغ یې په زړه را اوریدل ـ)
د لږې شیبې نه وروسته یې وویل ـ زه به په دې خبره فکر وکړم ـ په دې څو ورځې تیرې شوې ـ علي جان به په پټه د تاجو سره لیده کاته کول ـ خپل د زړه خواله او هر څه یې ورسره شریکول ـ د علي جان چالاکي او لاپې شاپې یې خوښېدلې ـ فکر یې کاوه ګني چې دی خو همدا دی ـ لږه موده وروسته د تاجو او د علي جان پیوند ټینګ شو ـ او د کمپ د څو تنو کلیوالو په مخکې د خپلوۍ او نکاح مراسم سرته ورسېدل ـ علي جان د تاجو دوي په کور کښېناست ـ له څه مودې وروسته علي جان تاجو ته وویل که دې خوښه وي تاجو یوه خبره درته کوم ـ دواړه پرې مشوره کوو ـ وایه کنه په کومه خبره ؟ تاجو خبره خو داسې ده چې په دې کمپ کې شپې ورځې ګرانې دي ـ ډېر خلک جرمني ته روان دي ـ راځه زه او ته هم ولاړ شو ـ تاجو خو له کمپ نه زاره چاودې وه ـ داسې خو یې له خدایه غوښتل ـ هغه ته یې وویل ـ په څه ترتیب به لاړ شو ـ ترتیب خو یې اسان دی ـ قاچا قبر ته به پیسې ورکړو ـ هغه موږ راسا په ضیمه جرمني ته رسوي ـ چې داسې ده خو زما رضا ده ـ تاجو تګ اسانه دی مګر ...؟ نو مګر یې لا څه یې ؟ علي جان له اسویلي نه وروسته وویل ـ پیسې نشته دی ـ زموږ د دوه تنو به څو پیسې اخلي ـ پوره لس زره ډالر ... لس زره ډالر خو ډېرې پیسې دي ـ یو کار کېږي چې زموږ د وطن څه ځمکه ګرو کړم ـ علي جان مکرۍ غوندې خندا وکړه ـ وې ویل ـ تاجو که دې خوښه وي نو دا کار زر کول غواړي ـ سمده ده ـ زه به وطن ته خپل دهقان ته ځواب ولیږم چې د سیند غاړې ځمکه ګرو کړي او زر تر زره پیسې راورسوي ـ علي جان چې پېښور کې یې پښتو یاده کړې وه ـ ښه په پښتو غږېدلی شو ـ وې ویل ـ تاجو هر چاته چې ځواب ورکوې ور یې کړه ـ ولې ښه به دا وي چې زه خپله ورسره لاړ شم هم به ستاسې کلی کور ووینم او هم به پیسې پخپل لاس راوړم ـ تاجو

موسکۍ شوه وې ویل.دا خو به لا ښه وي.چې ته پخپله لاړ شې.هغه زموږ د دهقان زوی ته به ځواب ووایم.هغه سره به یو ځای لاړ شې.دواړه په همدې خبره راضي شول.سبای وختي علي جان دوي په ګاډي کې کښېناستل او کلي ته لاړل.د تاجو دوي کور ته ورسېدل.په کلا کې بوډا او بوډۍ دوه په دوه ناست و.دوي چې یې ولیدل پوره خوشاله شول.بوډا د خپل لمسي نه پوښتنه وکړه.بچی دا هلک درسره څوک دی؟ هغه وویل بابا دا خو علي جان نومېږي.د تاجو خور ښځښتن دی دوي په اصل کې د لغمان دي.هلته له موږ سره په کمپ کې یو ځای اوسېږي.بابا ماته تاجو خور ځواب راکړی دی.ویلې بابا ته ووایه چې د سیند غاړې ځمکه ګرو کړه او پیسې علي جان ته ورکړه.چې راې وړي.دومره پیسې یې څه ته پکار دي؟ نه پوهېږم بابا خالي ماته یې دا ځواب ویلی و.علي جان سمدستي وویل.بابا تاجو له ما سره مشوره وکړه.دې نتیجې ته رسیدلي یو چې څه کاروبار پیل کړو او که وشوه یو کور به واخلو.سپین ږیري دروند ټوخی وکړ.غاړه یې په ډېر تکلیف سره تازه کړه.او سون یې چې په ځای شو بیا یې په ډډ اواز وویل ښه خبره ده.بچی خپل کاروبار او کور خو ښه شی دی.دلته په دې کلي کې خو چندان خلک نشته دی.یوازې د برچم د ملک دهقان شته دی.یوازې هغه پیسې لري.زامن یې جهاد کې پوره ماړه شوي دي.په تنګۍ پورې حیران وو.خو کتارونه یې ووهل.سلاګانې یې خرڅې کړې.اوس دومره مست شوي دي چې اسمان ته منجیلې غړي.له هغه سره به د ځمکې د ګروۍ خبرې وکړو.او ای بچی ښه به دا وي چې تاسې دواړه همدا اوس ورشئ.او دا خبره ورته یاده کړئ.علي جان وویل ښه بابا موږ دواړه ورشو.لمسي یې وویل.بابا اوس به لاړ شو.دوي پاڅېدل لمسي خپلې نیا ته وویل نیا بي بي ته ډوډۍ تیاره کړه.موږ بیرته راځوو.هغې ویلې ښه زویه بلا دې واخلم.تاسو چې راځئ ما به ډوډۍ تیاره کړې وي.موږ لاړو بابا اوس د خدای په

امان. دواړه د برچم د ملک دهقانانو کره روان شول. له کلا نه چې ووتل علي جان ترې پوښتنه وکړه. اندېوالـه د تـاجو دوي ځمکـه او جایـداد خو راوښیوه. علي جانه دا کلا د تاجو ده او دغه لوی باغ چې ګوري او د بـاغ نه چاپېره ان تر هغه وړاندې چینار پورې دا ټوله مځکه د دوي ده. او دغه کورونه چې ښکاري دغه یې دهقانان دي. او د سیند غاړې ځمکه یې وړاندې سیند پغاړه ده. هغه هم ډېره ځمکه ده. علي جان وویل تاجو دوي خو ډېر جایداد لري. هو د تاجو پلار ددې ټول کلي خان و. علي جان خوشاله شو. دواړه ګرندي د برچم په کوڅه ورسم شول. د ملک دهقان کور ته ورسېدل. دروازه یې ټک ټک کړه. مشر دهقان راووت. له دواړو سره یې روغبړ و کړ. بیا یې وویل راځئ چې حجرې ته ننوځوو. دواړه ورسره حجرې ته ننوتل. دهقان اکا ترې د ځینو کلیوالو پوښتنه وکړه کم چې کوزه خوا په کمپ کې اوسېږي. وروسته بیا چاې راوړل شو. د چاې په چښلو کې د بابا لمسي د تاجو د خولې ځواب و هغه ته وو ایـه. دهقان اکا لږه شیبه غلی و بیا یې وویل ښه ده زه به یې ګرو واخلم. خو دا راته ووایه چې څومره روپۍ یې پکار دي. د لسو زرو ډالرو په اندازه. هغه نور مال پاڅېد وې ویل. تاسو چاې چښئ زه بېرته زر راځم. دهقان اکا کور ته ننوت لږه شیبه پس راغی یو زلمی زوی یې هم ورسره و. وې ویل. بچی ډوډۍ ته راسره پاتې کېږئ کنه؟ هغوي وویل نه کاکا جانه ډوډۍ ته نشو پاتې کېدی. راځئ چې ځوو. په وتو کې یې وویل. بابا مو په کور کې و؟ هو بابا کور کې دی. راځئ چې د کلي میرزا سید علي له ځان سره واخلو چې سند پرې ولیکو. د کلي میرزا سید علي یې هم له ځان سره روان کړ لومړی یې بابا ولید. اجازه یې ترې واخیستله. بیا د سیند غاړې ځمکې ته روان شول. هغه ځمکه یوه ټوټه مځکه وه چې ټوله یو ځای پرته وه. دهقان اکا د کلي میرزا ته وویل. ددې ځمکې سند د تاجو له خوا نه ولیکه. لومړی د مځکې حدود او بیا د لسو زرو ډالرو معادل افغانیو په

بدل کې د ګرویې په توګه سره سند ولیکه. او امضا یې کړه. دا دواړه به یې هم امضا کړي. لیکونکي سند ولیکلو او په ټولو یې امضا کړو. بیا یې پیسې ورته وشمېرلې او د کور په لور لاړل. علي جان او د بابا لمسی یوه شپه تیره کړه او په سبا ته دواړه واپس پېښور ته ورسېدل. کله چې علي جان کور ته ورغی. تاجو ته یې پیسې وشمارلې او د بابا او زړې ادې سلامونه یې هغې ته وویل. تاجو خوشاله شوه چې ګني د جرمني د تګ چاره یې وشوه. علي جان په لږه موده کې قاچا قبر سره خبره پخه کړه. د تلو نیټه راورسېده. تاجو زوی خپلې نیا ته وسپاره. خو کله چې یې هغه نیا ته ورتسلیما وه. د تاجو په مخ غبرګې اوښکې روانې وې. هلک د خپلې مور نه سترګې نه ویستلې. تاجو په ژړا د پخوانۍ خوانبې له کوره راووته. په لارې یې په سلګو سلګو ژړل. علي جان ډاډ ورکاوه خو مګر اولاد بد شی دی. زړه ترې نه صبرېږي. سبای وختي په خره کې له کوره راووتل او هوایي ډګر ته د قاچا قبر سره یو ځای لاړل. قاچا قبر یې کارونه خلاص کړل. او په الوتکه کې د جرمني په نیت راوالوتل. له کراچۍ نه دوبۍ او بیا د فرانکفورت په میدان کې ښکته شول له میدان نه راووتل او د فرانکفورت په ښار کې یې پولیسو ته سیاسي پناه ورکړه. دواړه یې یوه لاګر ته ورکړل چې په لاګر کې سره یو ځای اوسېدل. د هغوي سیاسي پنا هندګي ومنل شوه. دواړه قبول شول د لاګر د نه ووتل او د فرانکفورت په ښارکې یې کورونیو. پس له یوه کال یوه وورسته د علي جان خوي او عادت بدل شو. ټوله ورځ به له کوره بهر ګرځېده. د تاجو سره یې علاقه ورو ورو کموله. چیري کار یې هم کاوه. پیسې یې خپلې کورنۍ ته ورلیږلې. تاجو لومړی پرې نه پوهېده. فکر یې کاوه چې ګني هغه کار کوي. سترې وي. د کور سره یې په ځینو برخو کې علاقه کمه شوې ده. ولې خبر نه وه چې ان له وطنه هغه په بل فکر کې و. خالي په تاجو یې ځان تر المانه رارساوه. له ډېرې مودې وروسته هغه او پوهیده چې علي جان

بل شوم نیت په زړه لري . هماغه و چې بله ورځ علي جان له کاره راغی ځان یې خرش پرش نیولی و . په قهر او غضب یې تاجو ته وویل. دلته اروپا ده. هر سړی ازاد دی. ته کولی شې چې نور یما پسې زړه ونه تړې. زه له تانه بیلېږم. بل کور نیسم. تاجو په حوصله مندۍ سره په کرار ورته وویل. که سترې شوی یې دمه وکړه. څو ورځې کرنک ورکړه. (د ناروغۍ خبر د کار ځای ته) چې ښه دمه دې جوړه شوه. بیا کار پیل کړه. هغه وویل نه نه تاجو د ستړیا خبره نه ده س اصلاً نور زه نه غواړم چې لتا سره یو ځای ژوند وکړم. ولې ولې څه پیښه ده علي جانه ؟ په تا څه شوي دي که ددې ځای سرو سپینو لېونی کړی یې. هم پروا نکړې. هر څه چې کوې کوه یې. خو دا خبرې د یوه افغان سره نه ښایي. بس بس دغه فکر دې تاته امانت وي. زه سر له سبا نور دلته نه راځم. خپل سامان یې له کوره راټول کړ په بکس کې یې واچول. تیلیفون یې وکړ. لږه شیبه وروسته یوه المانۍ جینۍ راغله په دروازه کې یې څه خبرې وکړې. بیا علي جان خپل بکس واخیست او ګړندی ووت. تاجو په منډه له وره نه ووته په علي جان پسې یې وروسته پام وکړ. هغه بکس راښکلو او له یوې جینۍ سره روان و. تاجو ورته کتل خپله بې کسي او بد قسمتي ور په زړه شوه. په مخ یې اوښکې راماتې شوې. طالب جان یې هم په زړه را اووريد . هغه لومړی ملاقات چې یې له هغه سره په لومړیو شیبو کې په کانفرانس کې شوی و . ان د کابل پوهنتون ورځې یې له هاغه سره په زړه کې لرې برې شوې . ستوني یې راډک شو سلګو ټینګه کړه. علي جان یې له سترګو پناه شو . زړه نا زړه کور ته ننوته. لاس تر زنې په کوچ کښیناسته. د خپل نصیب قسمت نه یې په ټکو ټکو وژړل. کوچ ته یې تکیه وهلې وه. مرې مرې اوښکې یې په مخ روانې وې. طالب جان یې په زړه راوریدلی و .

## لسم پړک (لسم څپرکې)

طالب جان د پل چرخي زندان په دروازه کې له نورو بنديانو سره بيرون ته را روان دی .بنديان د جهادي لومړني حکومت په عفوه کولو سره خوښي او خوشالي کوي له محبس نه د راوتلو په حال کې دي .کله چې طالب جان د پل چرخي زندان له دروازې نه راووت.شا و خوا يې کتل.د هغه څوک نه و چې ورسره ليدلی يې وای.څه پنډکی يې غېږ کې نيولی و .او روان و .سرويس کې کښېناست او ښار ته روان شو .کله چې د کابل ښار د ميوند جادي سره ښکته شو .يوې خوا ته ودريد .په فکر کې شو چې کومه خوا لاړ شي.له لږې شيبې نه وروسته يې له ځان سره فکر وکړ.(زه بايد يو ځل د پوهنتون نسوانو ليليې ته د تاجو پوښتنې ته لاړ شم.بيا يې خپلو زړو جامو ته کتل.موسکی شو .تاجو به دې زما زړو جامو پورې ځومره وخاندي.خير دی راځه چې ليليې نسوانو ته ورشم).
په جاده کې روان شو پيسې هم ورسره په جيب کې نه وې.د خپل فکر په تال کې ځوړند سر په جاده کې سنيماي پامير پلو روان و .هلته بيا يوه بس موټر ته وخوت .او د پوهنتون په لوري د بس موټر په دروازه کې ودريد .د سرويس کلينر ترې کرايه وغوښته.ده ورته وويل ببخشيد من پول ندارم .کلينر ورته بد بد وکتل او ترې تير شو .کله چې د ليليه نسوانو مخې ته ښکته شو .زړه نا زړه د ليليې دروازې پلو روان شو .دننه ليليې ته ورننوت.د ليليې مديريت ته ورغی.د تاجو پوښتنه يې وکړه.د ليليې مديره د ليليې معلمه راوغوښته د تاجو پوښتنه يې ترې وکړه.
هغې چې کتاب وکوت وې ويل تاجو درې کاله مخکې له ليليې نه د هغه وخت ښاد بيولې ده.تر اوسه پورې يې بيا پته نه ده لګېدلې.طالب جان

آخ هغه هم نیولې وه. خپله شونډه یې وچیچله. مدیرې ترې پوښتنه وکړه. وروره ته که خپل ځان معرفي کړې او د تاجو په باب هم څه ووایې. هغه خپل ځان معرفي کړ وې ویل. زه د ساینس پوهنځي د اخر کال محصل وم چې بندي شوم. تر اوسه بندي وم. تاجو زما نامزد وه. هغه د ادبیاتو پوهنځي په دریم ټولګي کې وه. زه چې بندي شوم له هغې نیټې نه تر نن پورې نه د هغې او نه د پلار و مور نه کوم خبر لرم. او نه مې په محبس کې پاې وازې درلودله. دا ټوله موده بند مې د نورو بندیانو په مرسته او کمک تېر کړ. تا څه کړي و چې بندي شوی وې. ما یو وازې پینځه وخته لمونځ کاوه او خپل درسونه مې ویل په صنف کې اول نمره وم. یوه ورځ مې په صنف کې له خولې نه وتلي و چې کارمل او شاه شجاع څه فرق ( توپیر ) لري. بس په همدغه خبره یې نیولی وم. د لیلیې مدیرې جیب ته لاس کړ څه پیسې یې طالب جان ته ونیوې. هغه نه اخستې خو هغې په زوره په جیب کې ورته کېښودې. یو څه پیسې ورته د لیلیې معلمې هم ورکړې. ورته وې ویل. د پوهنتون ریاست ته عارض شه خپله ټوله قیصه دې د پوهنتون رئیس او د محصلینو مدیر ته وکړه. چې دوباره درته په پوهنځي کې د شمول امر درکړي. ده ویل ښه ده. طالب جان ته یې د تاجو هم وویل چې هغه که دې راوسته هم به ښه وي. هغه ورته د هو سر وخوځاوه. او د نسوانو لیلیې نه راووت. د خپل کلي پخواني اوسیدونکي کره چې په خیر خانه مینه کې یې کور و لاړ. د هغوي د کور دروازه یې ورو ټکوله. یو هلک راووت. ده ورته خپل نوم او د پلار نوم ووایه او هلک بیرته ننوت. لږه شیبه وروسته پخپله کلیوال سپین ږیری راووت. طالب جان ته یې غېږ خلاصه کړه. او ټینګ یې په غېږ کې ونیو. ګړه بړه یې وکړه. دننه یې کور ته ننویست. په حجره کې د کور نورو کسانو هم ورته ستړې مشي ووېله. د کور مشر ترې بیا داسې پوښتنه وکړه. طالب جانه بچی یوازې دومره درنه خبر شوی وم. چې د کارمل

وخت کې بندې شوی وې .مګر بیا وروسته مې داسې فکر کاوه چې واپس به له بنده وتلی او کور و کلي ته به تللی یې .ښه ته خو دې قیصه راته وکړه ؟
طالب جان خپله ټوله قیصه ورته وکړه .هغه ډېر خفه شو .له پلاره یې هم خبر وو چې د روسانو په بمبارد کې له منځه تللی و او کورنۍ یې پاکستان ته مهاجره شوې ده .له چای ډوډۍ نه مخکې یې هغه ته په تشناب کې پاکې جامې کېښودې.ورته وې ویل طالب جانه ورشه لومړی تشناب وکړه هلته درته پاکې جامې ایښې دي.بیا به نورې خبرې کوو . طالب جان د کلي وال سره دوه شپې وکړې.دریشي یې ورته واخیسته.په دریمه ورځ پوهنتون ته لاړ.دوباره یې ساینس پوهنځي کې ځان شامل کړ .لیلیه کې یې بستره واخیسته خپل تیر اخري کال درسونه یې پیل کړل.
ډېر پلټنې او پوښتنې یې په تاجو پسې وکړې .مګر د تاجو هیڅیرې څه پته ونه لګیده.یو تن کلیوال یې چې د ویترنرۍ پوهنځي کې محصل و چا وروښود .هغه ته ورغی.ورسره کښېناست.لومړی یې ځان وروپېژاند .بیا یې ترې د خپل کور و کلي پوښتنه وکړه .هغه ورته وویل.پوه شوم چې تا په دې وختونو کې خپل کلی نه دی لیدلی.یواځې زمونږ کلی نه بلکې ټول کلي په جنګونو کې له منځه تللي دي.د کلیو ډېر خلک څه مړه دي او ځینې پاکستان ته مهاجر شوي دي .لا تر اوسه پورې د کلیو اوسېدونکي کلیو ته نه دي راستانه شوي .ده د طالب جان کورنۍ نه پېژندله.او نه یې د کلي خلک لیدلي وو .دی هم د مجاهدو د راتګ په وخت کې راغلی و .طالب جان پوه شو چې په دا دریو کالو کې مې د کورنۍ څوک پېدا نشو .خامخا به پاکستان ته تللي وي.په زړه کې یې وویل ( د کال په اخر کې به کله چې له پوهنځي نه فارغ شوم پاکستان ته لاړشم تر څو د خپلې کورنۍ او تاجو څه پته ولګوم) هغه په ډېرو مشکلاتو سره چې اقتصادي او فکري ستونزې یې درلولې.بیا هم د کال

په پاې کې په لومړۍ درجه سره د ساينس پوهنځي نه فارغ شو او راساً کلي ته لاړ ـ کله چې کلي ته ورسېد اووې ليدل چې د کلي هغه لوی جومات د کلي وستل او جګ چينار نشته ـ ټول کلی کنډر کنډر پروت دی ـ خپل کور يې لوټې لوټې پورت وليد ـ په ټول کلي کې يې صرف درې څلور کوټې وداني تر سترګو شوې ـ د کلي په هره کوڅه کې يو نيم کور ودان پاتې و ـ په پټو کې هم څوک نه ښکاريدل د کلي د مخې وياله وچه پرته وه ـ هغه زر زر په ټول کلي کې وګرځېد ـ په کلي کې چې کوم يو نيم سړی ليدل کېده هغه هم د کلي اصلي اوسيدونکی نه و ـ د غرونو او باندو نه ورته رانښکته شوي و ـ طالب جان له يوه نه پوښتنه وکړه ـ هغه ورته ځان د غره د لوړې باندې وښوده ـ خو دومره يې ورته وويل ـ ددې کلي پاتې اوسيدونکي پاکستان ته تللي دي ـ او هلته په کمپونو کې ژوند کوي ـ کله کله د فصل رسيدو په وخت کې راپيښېږي ـ دلته د کلي اصلي خلک نشته دی ـ دې پوه شو چې دا خلک د کلي نه دي ـ بيا يې نيت وکړ چې د تاجو دوي کلي ته ورشي ـ له ځان سره يې وويل (ناوخته هم دی خو راځه يو ځل به د تاجو دوي کلي ته سر ورښکاره کړم) په ګړندیو ګامونو روان شو ـ د کڅ په منځ نرۍ لاره باندې يې ځان د هغوي کلي ته ورساوه ـ وې ليدل چې په عين شکل کټ مټ لکه د خپل کلي پشان يې د تاجو دوي کلی هم وران وليد ـ د تاجو د کلا چاپيره ديوالونه لا روغ و ـ باغ يې هم بيخي پس ځنګل شوی و ـ د باغ په هم هغه کنډو ودريد کم چې د دوي د مينې لومړۍ نخښه وه ـ تير يادونه يې په زړه کې ښکته پورته شول ـ سوړ اسويلی يې ويوست ـ بيا روان شو د کلا دروازه يې وټکوله ـ ګوري چې يوه بوډۍ ښځه راووته ـ ده ته يې سترې مشي ووېله ـ بچې سترې مشی ـ ته څوک يې او دلته څه کوې ؟ مور جانې يوه پوښتنه درنه کوم ـ چې ددې کلا اصلي خلک چيرې دي ؟ هغې بيا وويل زويه ته څوک يې چې د هغوي پوښتنه کوې ـ ادې زما نوم طالب جان دی ـ د بر کلي يم ـ له

کابل ته راغلم.ما وې چې د تاجو دوي پوښتنه وکړم.ته هغوي څنګه... !
ادې تاجو زما نامزد ده .ته ودرېږه چې زه مې سړي ته ووایم چې راشي.
بوډۍ ننو ته خپل سړي ته یې وویل.یه سړیه بیرون یو هلک ولاړ دی.وای
تاجو مې نامزد ده .د تاجو خاوند خو هغه بل کال راغلی و .زموږ د لمسي
سره .هغه خو دا هلک نه دی.ته خو یو ځل ورشه چې دا څه خبره ده .بوډا
خپله امسا د کټ له لنګې نه راویسته په تکلیف سره د امسا په زور
پاڅېد او دروازې ته ورغی .طالب جان ته یې خپل درانه او زاړه لاسونه
په داسې حال کې چې رپېدل ورکړل.له روغبر نه وروسته بوډا ورته وویل
.بچی زه د ودرېدو توان نه لرم .راځه دننه به ګړېږو.دی ورپسې وروسته
ور روان شو او دننه ننوتل .طالب جان بوډا ته مخامخ په کټ کې
کښېناست.زړه ادې هم د دواړو تر منځ په کټکي کښېناسته.
بوډا وویل بچی ته خو لومړی موږ ته ځان راوښیه .نوم دې څه دی ؟د چا
زوی یې ؟ده وې نوم مې طالب جان دی بابا زه د هغه چینار د کلي شیرو
ملک زوی یم.دا څو کاله مخکې په کابل کې بندي وم.دا یو کال کېږي
چې راخلاص شوی یم.له هغې نه د کابل پوهنتون ساینس پوهنځي کې
محصل وم .د کارمل په حکومت کې بندي شوی وم .تیر کال چې
مجاهدینو حکومت منځ ته راغی.راخلاص شوم.د پوهنځي اخري کال
مې سرته ورساوه.اوس دا دی راغلم ما وی چې د کلي کور احوال واخلم.
زموږ کلی خو ټول لکه ددې کلي پشان لوټې لوټې پروت دی.بابا تاجو
هم د کابل پوهنتون ادبیاتو فاکولته کې وه .هغه یې پلار پخوا ماته
راکړې وه.واده مو لا نه و شوی هغه وخت چې زه بندي شوم.تر ننه پورې
ترې خبر نه یم .چې هغه چیرې ده ؟نو ځکه دلته راغلم تاسو سره مې
ملاقات وشو اوس له تاسو نه هیله لرم چې هر څه به راته سپین ووایې.
چې زه خبر شم.بوډا او ښځې یې خپلو کې سره وکتل.حیران پاتې شول.
بیا یې ښځې وویل.سړیه هر څه ورته رښتیا رښتیا ووایه چې خبر شي.

بوډا بالښت ته تکيه ووهله ـ له دروند ټوخي نه يې وروسته وويل ـ بچې غوږ کېږده چې ټوله قيصه درته وکړم:-
موږ لا هغه وخت پاس بانډه کې اوسيدو ـ کوم وخت کې چې روسان راغلل او په دې کليو يې بمباري کولې ـ موږ به له غره نه ليدل ـ يوه ورځ د روسانو څرخي الوتکې راغلې دا ټول کلي يې بمبارد کړل ـ ښه مو ورته کتل چې له دې کليو نه لمبې ختلې دوړې او لوګي ان تر اسمانه پورته کېدل ـ کله چې ګوله ماري ودريده ـ له هر کلي نه لوګي روان و ـ موږ فکر کاوه چې د کليو ټول خلک به په قتل رسيدلي وي ـ موږ استازي راولېږل چې موږ ته معلومات راوړي ـ بيرته خبر راکړای شو چې د خدای لپاره مړي پراته دي د ښخيدو يې څوک نشته دی ـ موږ نورو بانډو او کليو ته سړي ولېږل چې خلک بمبارد شويو کليو سره مرسته وکړي ـ هماغه و چې له نورو ځايونو نه خلک راغلل او مړي يې ښخ کړل ـ زخميان يې پاکستان ته له ځان سره يووړل ـ ياني څه خلک چې ژوندي و ـ پاکستان ته کډه شول ـ ټول کلی شاړ پاتې شول ـ کوم کور چې ودان شوی و ـ په هغې کې يو نيم سړی وروسته بيا راپيدا شوی و ـ نور لوی واړه ښځې او ماشومان پاکستان ته لاړل ـ هلته ورته بيل بيل کمپونه جوړ شول ـ ډېره موده وروسته له غرونو نه ځينې خلک راښکته شول او په دې ځمکو او کليو ديره شول ـ هر څوک چې د چا نزدې خپلوان او شناخت و په ځمکه يې کښيناستل ـ چې موږ هم ددې ملک کلا ته راغلو ـ ملک دې خدای اوبخښي پخپل لاس مو ښخ کړو ـ د تاجو مور سره د زوی پاکستان ته لاړل ـ دا کور او ځمکه يې په موږ وسپارل ـ لا يو دهقان يې هم پاتې شوی دی ـ همدلته اوسېږي ـ ښه سړی دی د باغ او حجرې د حفاظت کار کوي ـ څو کاله مخکې تاجو ناڅاپه ستا غوندې دلته راغله ـ لږه موده يې دلته موږ سره تيره کړه ـ موږ ورته د پلار د مرګ څه نه دي ويلي ـ د کلي يو تن سپين ږيری له پاکستان نه راغلی و ـ هغه سره مې ولېږله ـ ډېره خفه شوې

وه همدا به یې ویلې چې د مور و پلار لیدو ته ځمه.ابل کالې مې کاته چې زما د لمسي سره یو هلک دلته راغی .لمسی مې ویلې هغه بل هلک یې راته وښود چې د تاجو خاوند دی.د تاجو سوال ځواب یې راوړی و .د سیند غاړې مځکه یې ګرو کړه او پیسې یې تاجو ته یووړې .دا دوه کاله کېږي.چې پیا یې څه احوال نه دي راغلي.
بابا چې دوي به او سیږي چیرې ؟ بچی د جلوزو کمپ ورته وای په هغې کې اوسېږي .نه پوهېږم بابا چې زما پلار او مور به چیرې وي ؟ ما خو نه دي لیدلي مګر دا د کلي خلک چې کوم یو کله کله راځي .دوي وای چې مور د جلوزو په کمپ کې اوسېږو .بوډی چای راوړو .په چای څښلو باندې مصروف شول.بوډا وویل.بچی مازدیګر دې زه به اودس وکړم ته چای وخښه.بیا به دواړه باغ ته چکر ووهو .طالب جان وویل.ښه بابا جانه زه هم اوس کوم .هم هلته به لمونځ وکړو .طالب جان وویل.ادې جانې زه به بیرون اودس وکړم بابا چې راووت ورته ووایه چې باغ پلو راشي.زه به ورته بهر ولاړ یم.
هغه څادر په ولې کېښود او له کلا نه ووت .د باغ تر څنګ یې په لښتني کې اودس تازه کړ او د باغ په دروازه کې یې د بابا په انتظار ودرید .د کلي هرې خوا ته یې کتل.بني بشر پکې نه ښکاریده.هغه په چورت کې لاړ پخواني یاد یې د تاجو سره په باغ کې رایاد شو.(تر څو چې مې تحصیل پای ته نه وي رسولی میړه نه کوم.راځه چې دواړه د مینې قسم سره وکړو دواړو لاس پلاس کې ونیول او د مینې د راتلونکي شریک ژوند قسم مو سره وکړ.همدا باغ و ) په دې کې بابا کړپ کړوپ امسا لګوله راووت.وې ویل بچی ولاړ یې ؟هو بابا جانه راځه چې باغ ته ننوزو چې دا فکر دې بدل شي.بابا امسا لګوله کړوپ کړوپ روان و طالب جان ورپسې و باغ ته ننوتل.دننه د باغ په صوفه کې یې د مازدیګر لمونځ ادا کړو .بیا بوډا د صوفې په څوکۍ کښېناست او طالب جان ته یې وویل.

بچی زه خو نشم ګرځېدی ۔ څه په باغ کې وګرځه وړاندې د ډول ډول ګلونو خوشبویۍ دي۔ هر کال د دې باغ دهقان دا ګلان او بوټي ښه ساتي۔ ده وې ښه بابا ستا په اجازه ۔ دی روان شو د باغ هماغه ځای ته ورغی کوم چې به ده او تاجو پکې د مینې خواله کول۔ په هماغه ځای کې کښېناست لکه د پخوا پشان تاجو یې په زړه را اوورېده ۔ په فکر کې ډوب لاړ له سترګو نه یې اوښکې لاړې۔ څو ساړه ساړه اسویلي یې ویویستل۔ بیا یې د باغ کنډو ته ور وکتل۔ ټول پخواني یادونه یې په زړه کې ښکته پورته شول۔ نیمګړې د نیا ده سړی څه کوی شي ۔خو یوازې د طالب جان زړه ته دې افرین وي ۔ښه شیبه هغه یوازې په هماغه د مینې د وعدې په ځای پاتې شو ۔ ماښام نزدې کېده چې هغه بیا د بوډا خوا ته ورغی۔ بوډا لومړی درونـد ټوخی وکړ بیا یې وویـل۔ بچی سیل دې وکړ۔ هو بابا جانه ډېر ښکلی باغ دی ۔ د تاجو نوم یې نه اخیست۔ زړه نا زړه و څکه چې بابا ورته د هغې قیصه تیره کړې وه ۔ خو کله به یې له ځان سره وویل ۔ نه نه هغې خو ما سره د مینې لوظ کړی دی۔ ټینګه وعده مو یو بل سره کړې ده ۔ تاجو او میږه کول دا څنګه کېدی شي ؟ ډېرې پوښتنې به یې په زړه کې ښکته پورته کېدې ۔ باور یې نه کېده د ماښام مانځه نه وروسته دواړه کلا ته ننوتل۔ او دروازه یې کلکه ځنځیر کړه۔

بوډۍ په کوټه کې لاټېن لګولی و ۔ ډوډۍ یې تیاره کړې وه ۔ طالب جان ډېر کلونه وروسته د چرګ غوښه وخوړه ۔ له ډوډۍ نه وروسته تیر ماخستن پورې بابا د تیر وخت خبرې راخیستې وې۔ ده به یوازې ښه ورته کول۔ مګر فکر او خیال یې تاجو سره و ۔ دغه شپه یې په عزت سره تیره کړه ۔ سبا ي له چاې نه وروسته طالب جان بابا ته وویل۔ بابا جانه تاسو ته دې رب اجرونه درکړي۔ زه به اوس ستاسې په اجازه درنه رخصت شم۔ زړه مې دی چې پاکستان ته لاړ شم ۔ او ددغو خلکو درک ولګوم۔ بابا ورته وویل بله شپه را سره نه کوې ؟ نه بابا جانه ډېره اوږده مسافري مې کړې ده

.ګوندې يو ځل مې مور او پلار ووينم.او هم که د تاجو دوې پته پېدا کړم .ډېره ښه ده بچی چې ځې نو هڼ دا څو روپۍ درسره واخله .په لاره کې به دې په کار شي.هغه وې نه بابا زه پيسې لرم.خير دی زويه دومره نه دې دا هم درسره واخله .بابا او بوډۍ دواړه ورسره دروازې نه راووتل .او د طالب جان سره يې مخه ښه وکړه.هغه د غره په لاره روان شو .بوډا ورته وويل.بچی په لاره خلک اخوا ته ځی راځي.څوک به دې ملګری شي.زړه مه وهه.که خدای کول مازديګر ته رسېږې.

په تندې يې ښکل کړ .ده هم د بودا لاس ښکل کړل همداشان د زړې ادې سره يې هم مخه ښه وکړه او ترينه روان شو .هغه د کلي له خوا په نرۍ لاره ډاګ پلو ګړندې ګامونه اخيستل.شاو خوا يې د کلي ورانه ويجاړه څېره له ستر ګو ويستله.د ډاګ په لور ورسم شو.ده خو زندان تير کړی و د ډاګونو مزل ورته ګران و .د غره تر بيخه په پراته ډاګ کې ډېره اوږده لاره پرته وه.مخې ته يو سړی په خره پسې روان ورغی.هغه په خره څه بار کړی و.د لرګي په لښته به يې خر په کوناټو کې وواهه.بيا به يې په خوله چک چک پسې وکړل.خر به لږ څه ګړندی شو.د خره پشا د مالګې غټې غټې تيګې ايښې وې.او هم يې په خورجين کې څه ور اړولي و.طالب جان د خره خاوند باندې سلام واچاوه .هغه هم وعليکم سلام په خېر راغلې وويل.دی پښه نيولی شو .له هغه نه يې پوښتنه وکړه.وروره دا لاره په کنډو اوختې ده که بله لاره ؟همدا مخامخ يوه لاره ده نو بله لار نشته .په دې سم څه تر څو له سر نه واوړې بيا اخوا ته د ګاډو ځای ته دومره لاره نه ده.لکه چې کله په دې نه يې تللی ؟نه نه وروره دا مې اول ځل دی.ته خو تش تور يې زر رسېږې ماته مه وروکېږه.زه خو د خره په مزل ځمه.ته څه خپله لاره وهه.ده وې ښه ده خپل ګامونه يې ګړندي کړل له هغه نه مخکې شو.لمر هم ورو ورو تو دېده.په تندې يې خوله روانه وه.په ټوله لار يې د مور و پلار او تاجو سره فکر وه.هيڅ په ګرمۍ او ستړيا

نه پوهېده ـ ګړندی روان و لاره یې وهله ـ د ډاګ لاره راقابو کړه غره ته ورنږدې شو ـ کله چې غره ته ورسېد ستړی شوی و ـ سیوري ته یې دمه وکړه ـ د خپل تندي خوله یې وچه کړه ـ پورته یې په غره کې تللې لارې ته وکتل ـ پورته په غره کې یوه ښځه او سړی روان وو ـ ده په همدې تکل چې هغوي ته ځان ور ورسوي ـ او د پاتې لارې پوښتنه ترې وکړي ـ پاڅېد او په غره ورسم شو ـ کوښښ یې کاوه چې هغوي ونیسي خو دی ورقابو نشو ـ هغوي خو په مزل بلد و ـ دی خو هغسې مزل کله کولی شو ـ هغوي په غره واوختل ـ مګر دی لا نیماي ته هم نه ورسېدلی ـ چې شل ګامه به وخوت کښېناسته به دمه به یې کوله ـ په خوارۍ او زحمت سره د غره په سر ور واوخت ـ د یوې خېړۍ سیورۍ ته کښېناست ـ ښه دمه یې وکړه بیا روان شو ـ نوره لاره پرته او مخ ځوړې وه ـ چابکه مزل یې کاوه ـ مخې ته یې په خوړ کې اوبه پیدا شوې ـ دی ډېر تږی و ـ وږی شوی هم و ـ زړې ادې ورته د څادر په پیڅکه پورې ډوډۍ تړلې وه ـ د پیاز غوټه یې په تیږه ماته کړه ـ د اوبو پغاړه کښېناست ـ ډوډۍ یې د پیاز غوټې سره مزه په مزه خوړه ـ بیا یې اوبه وڅښلې ـ مخ یې په اوبو کې پریمنځو او دوباره روان شو ـ څو کسان یې مخې ته راغلل او تېر شول ـ وروسته له یوه ساعت مزل نه هغه وړاندې څه ډېر خلک ولیدل ـ چې لر بر کېدل ـ په بیړه یې ځان د ګاډو تم ځای ته ورسو ـ هلته یې پوښتنه وکړه ـ افغانۍ په کلدارو ـ یوه ورته د پیسو د بدلولو ځای وښود ـ هلته یې پیسې بدلې کړې او د یوه دوکاندار نه یې د پېښور د ګاډي تپوس وکړ ـ هغه ورته د ګاډي ځای ور وښود ـ دی نیغ هم هلته ورغی ـ کاته یې چې یو فلاینکوچ ګاډی تیار تګ ته ولاړ و ـ دی ورپورته شو ـ په ګاډی کې کښېناست او ګاډي حرکت وکړو ـ مازدیګر ته ګادی پېښور ته ورسېد ـ طالب جان چې څنګه له ګاډي نه ښکته شو دستي یې له یوه سړي نه د جلوزو د کمپ پوښتنه وکړه ـ هغه ورته پورته پته ورکړه ـ او د هغه لین ګاډی یې ورته په ګوته کړ ـ دی ګاډي ته وخوت

او د یوه مهاجر سره په څوکۍ کښېناست. کله چې موټر یو څه لاره ووهله .د څنګ سړی نه یې د جلوزو د کمپ پوښتنه وکړه .هغه ورته وویل لږه لاره پاتې ده. اوس رسېږو. هغه سړي طالب جان ته ښکته پورته وکتل وې ویل. اندېواله لکه چې نوی راغلی یې ؟هو ورورره همدا نن دلته راغلم. په کمپ کې دې څوک پکار دي ؟د خپلې کورنۍ پلار و مور او نورو خپلوانو ته ورځمه. پلار دې څه نومیږي ؟د پلار نوم مې شیرو دی. یره اندېواله په دغه نوم خو کمپ کې زه څوک نه پېژنم. خو ته کولې شې چې د خپل کلي څوک پیدا کړې. بیا ترې د خپلې کورنۍ پته واخلې. په همدې خبرو خبرو کې ګاډی د کمپ مخې ته ودرید .د کمپ ټول مهاجر له موټره راښکته شول. دی هم کمپ ته د ننوتلو نیت وکړ. په کلي کې ورته بوډا د خپل لمسي او زوی پته او نومونه ورکړي و .ده له یوه نه د کمپ په دروازه کې د هغوي پوښتنه وکړه .هغه سړي ورته وویل. ما سره راځه ستاسو د ځای خلک هلته وړاندې د کمپ د څنډې په کورونو کې اوسېږي .دغه کمپ خو لکه د یوه ښار په اندازه لوی و .له پوره مزل نه وروسته ورته هغه سړي د لاس په اشاره سره هغه ځای ور وښود .ده ترې تشکر او مننه وکړه. او روان شو .کله چې هلته ورغی د یوه کور مخې ته یو سپین ږیری ولاړ و . ترې وې پوښتل. هغه رسا د هغوي کور ته ګوته ونیوه. هغه کور یې دی. دی زړه نا زړه ورغی. چې یو هلک یې مخې ته راووت. ده ترې دستي پوښتنه وکړه. هغه هلک وویل. هو دا زموږ کور دی. پلار مې کور کې دی. ورته به ووایم. هلک کور ته ننوت لږه شیبه لا نه وه تیره چې د پاخه عمر سړی راووت توره ږیره یې وه .له ده سره یې روغبړ وکړ. ده ورته د واره وویل زه له کلي نه بابا رالېږلی یم. هغه وویل راځه دننه. مهرباني وکه. دی ورسره کور ته ننوت. په حجره کې کښېناست. د بابا زوی په منډه کور ته ننوت څو دقیقې وروسته حجرې ته راغی .طالب جان ته یې وویل. معافي غواړم وروره اوس به دې راته نوم ووایې. او پوره به دې

ځـان راتـه راوپیژنـې .ده وې زمـا نـوم طالـب جـان دی د چینـار د کلـي اوسید ونکی یم .د پلار نوم مې شیرو ملک دی .زه سږ کال د ساینس فاکولتي نه فارغ شوم .څو کاله مخکې بندي وم .کله چې مجاهدین کابل ته لاړل .راخلاص شوم .پاتې تحصیل مې بشپړ کړ .نامزد مې په ادبیاتو پوهنځي کې وه .کله چې زه بندي شوم بیا ترې خبر شوی نه یم چې چیرې ده .د هغې پلار ګنی چیرې اوسي .کلي ته لاړم د بابا سره مې شپه وه .هغه راته ستاسو پته راکړه .ویلې نور به هغوي درسره مرسته وکړي بس دادی تر دې ځای خو راورسېدم چې نور به څه کېږي ؟ هغه ورته په تعجب کې شو ده ته یې کتل او ښه یې ورته کول .کله چې طالب جان خپلې خبرې پای ته ورسولې .هغه دومره وویل تردې ځای چې په خېر راورسېدې .نور هم خدای مهربانه دی .هر څه به خدای وکړي .له دې خبرې سره پاڅېد ګړندی ووت .طالب جان اوداسه ته پاڅېد نشناب ته لاړ .له اودس نه وروسته حجره کې په مانځه ودرید .د مازدیګر لمونځ یې په اخره شیبه وکړ .په لنډو پسې د ماښام د مانځه وخت راورسېد .د بابا زوی هم حجرې ته راغی .دواړه د ماښام په مانځه ودریدل .د لمانځه نه وروسته د هغه سړي زامن او دوه درې تنه نور حجرې ته راننوتل .د طالب جان سره یې ستړي مشي وکړه .په حجره کې ښه ډېر کسان راټول شول .ډوډۍ راوړل شوه . طالب جان پوره وږی او ستړی و .له ډوډۍ او چاې نه وروسته په ناستو کسانو کې یو د پاخه عمر سړی دیوال ته تکیه وهلې وه .وې ویل .نن په دې کمپ کې اوازه وه چې راشن پاس بندیږي .که دا کار وشي په ټولو مهاجرو سختي راځي .ځکه چې کارونه نشته .د خلکو بله وسیله هم نه لیدل کېږي .همدغه راشن دی چې د خلکو ژوند پې روان دی .یوه بل وویل .پرې چې بند یې کړي .ولې چې داسې کسان شته چې پنځوس راشنه لري .او ځنې کسان پکې شته چې یو هم نه لري .ټوله ټګې روانه ده . هغه لږ احساساتي شو وې ویل په خدای مې دې قسم وي چې د جهاد

اولې ورځې نه تر اوسه پورې سراسر دوکه او ټګي ده .والله چې دا اوسني سکر بیست مهاجر چې راغلي دي.په دوي کې پوره انصاف دی.سره له دې چې د روسانو سره یې لاس وه.خو په رب چې له دې پخوانیو نه سره کافر ښه دي.طالب جان په دې خبرو نه و خبر.خالي غوږ یې ایښی و .بل تن چې د چاې پیاله یې کېښوده.ویل.دا لا څه کوې.ا بله ورځ زما وراره له بره راغی ویلې .په کابل کې د تنظیمونو تر منځ جنګونه دي کابل یې لوټې لوټې کړو.دا څه چې مشران دي یو بل ته په ماشه دي.دا نو اوس کوم جهاد دی.په قهر یې وویل نشته جهاد .دا ټول د خپلو ګټو لپاره ډزېږي .تباه پکې دا غریب اولس شو .چې اخره به لا څه شي ؟ بس د ماسخوتن تیره پورې همدا خبرې کېدې.د کور والا وویل دا مېلمه ډېر ستړی دی له پاسه راغلی دی .موږ به خواره شو او دی به ارام وکړي . هغوي ټول پاڅېدل او خپلو ځایونو ته لاړل .د کاله هلکان هم کور ته ننوتل .یوازې طالب جان او د کور خاوند پاتې شول .طالب جان ترې پوښتنه وکړه ورته وې ویل .وروره اوس راته رښتیا رښتیا ووایه چې زړه مې بې واره دی.هغه وویل.ښه ولې نه.خبره خو داسې ده چې ستا د پلار او ستاسو د کلي ټولو خلکو له احوال نه خبر یم.غوږ ونیسه.چې ټوله قیصه درته وکړم.کله چې روسانو زموږ او ستاسو په کلیو بمباري کوله. په هغه وخت کې زه شپاړلس کلن وم .له خپلې باندې نه مې کتل چې څرخي الوتکې به راتلې او په کلیو به یې بمبارد کاوه.په یوه ورځ یې ټول کلي لوټې لوټې کړل .په هر کلي کې له نیمایي نه زیات خلک شهیدان شوي وو .په هغې کې ستا پلار او د تاجو پلار دواړه شهیدان شوي وو. پاتې خلک ټول پاکستان ته راکډه شوي وو. ستا نور ورونه او مور دې هلته وړاندې په همدې کمپ کې اوسېږي.سبا به دې ورته بوځم.یو رور دې جرمني ته تللی دی او که هالینډ ته تللی دی .یوازې دومره خبر یم چې یو ورور دې په اروپا کې دی.د تاجو مور هم مړه شوې ده.هغې بل مېړه

کړې دی. د هغې نه یو زوی پاتې دی. پخپله د میړه سره اروپا ته تللې ده. خبر نه یم چې په کوم ملک کې ده د هغې د میړه کورنۍ هم هلته ستاسې د خلکو سره نژدې اوسېږي. که ژوند وه سبا ته په خبر سره ټول ووینې. طالب جان مرۍ وچه شوې وه. یو ګیلاس اوبه یې وڅښلې وې ویل. پوه شومه کور دې ودان. دومره چې زموږ خلک او کورنۍ نژدې پراته دي. بیولی به دې وای. نه وروړ جانه ته خو زما بابا رالېږلی وې. بل دا خبره چې پښتونواله ده. خیر دی که مهاجر یو ستا یوه شپه په مونږ حق ده. ته په خیر اوس راغلې هیڅ سودا مه کوه. سهار به دواړه ورشو. اوس ته ستړی یې. کرار ارام وکړه. سمه ده وروره. کټ یې ورته برابر کړو. هغه ترې ووت او طالب جان په کټ کې وغزید. سمد ستي یې په زړه کې ور وګرځېدل (ښځه طایفه باندې باور نه دی په کار. نور یې زه ام په قیصه کې نه کېږم. بس دی خپلې کورنۍ سره به څو شپې تیرې کړم. که شرایط راته برابر شو بیا به کابل ته لاړ شم ګوندې څه دنده په خپل ملک کې راته پیدا شي). په همدې خیال کې خوب یووړ. سهار له چاې نه وروسته د کور خاوند سره یو ځای د خپلې کورنۍ په لور روان شول. د کمپ په منځ کې یې یوه دروازه وټکوله. یو هلک راووت. سمد ستي یې ورته طالب جان ورمعرفي کړ. دا طالب جان دی. د پنځلسو کالو هلک طالب جان ته ورغاړې وت. د دوي په خبرو د کور نور کسان هم راووتل. دده مور دروازې ته راغله. په طالب جان یې سترګې ولګېدې دستي یې په غېږ کې ونیو. په ژړا شوه. په همدې خندا او ژړا کې دننه کور ته ننوتل. د بابا زوی ترې واپس کور ته راستون شو.

## یوولسم پړک (یوولسم څپرکې )

قوماندان سیمر په کلي کې د زرکې د پلار په للمې ځمکه کې چې د اولس برخه یې هم پکې رانیولې ده ـ ځانته دري منزله ماڼۍ جوړه کړې وه ـ په پنځوسو جریبو کې یې باغ جوړ کړی و ـ له سینده یې ورته په واټر پمپ کې اوبه راتیرې کړې وې ـ یو ټویل ( د اوبو څاه ) یې ویستلې ـ باغ او شا و خوا مځکه یې خړوب کړې ده ـ داسې باغ یې جوړ کړی و ـ چې په دغه سیمه کې بل هسې نشته دی ـ د سپینو جګو ماڼیو سیل ته لارویان خامخا ودریږي ـ د باغ په منځ کې یې د لمبا ډنډ جوړ کړی و ـ د هند پاکستان او نورې نړۍ هر راز ګلونه او نورې زینتي او میوه دارې ونې په باغ کې ولاړې دي ـ د مودو سپیره او شاړ ډاګ نه یې ګلزار جوړ کړی و ـ په کور او باغ یې ساتونکي ولاړ ول ـ دا داسې وخت و چې د مجاهدو د حکومت تالانونه او پاټکونه دي ـ خو سیمر قوماندان د هیڅ شي او هیچا په قیصه کې نه دی ـ خپلواکه او د خپلې سیمې پاچهي ږنګوي ـ په داسې حال کې چې په مرکز کابل ښار کې د جهادي تنظیمونو خپل منځني نښته روانه وه ـ ټول کابل کې سره ډزه وه ـ څوک له کوره نشول وتلای ـ یوه سرې خپل د سترګو لیدلی حال داسې بیانوي ـ ده ویلې دارالامان په سړک د روسانو د سفارت نه اخوا ته زموږ کور و ـ موږ سره نږدې د ننګرهار د سیمې یوه کډه دیره وه ـ ماسپښین دوه بجې وې چې زما د کور دروازه وټکول شوه ـ میرمن مې دروازې ته ورغله ـ چې بیرته راغله وې ویل سړیه په دروازه کې هغه مشرقي وال سړی ولاړ دی وای چې له ده سره مې څه کار دی ـ زه په منډه دروازې ته ورغلم ـ ګورم چې سپین ګل ولاړ دی ـ وې خندل ـ سترې مشي مې ورسره وکړه ویلې میرمن

مې د اولاد مریضه ده که یو ځل راسره روغتون ته لاړ شې.ما یو ټکسي موټر درلود .درولی مې و .حالات خراب و .هره خوا جګړه وه په سړکو ګرځېدل نه کېدل.خو هغې ټینګار کاوه ګڼې چې میرمن یې سخته وه .ما وې ته څه زه سمد ستي درغلم.خو زه چې د هغوي دروازې ته ورغلم موټر مې ودرولو .کتل مې چې هغه خپله ښځه په غېږ کې نیولې وه ټکسي ته یې راوخېژوله.زما دریمه ورځ وه چې له کوره نه وم راوتلی.زه یوازې نه د ښا و خوا ټولې سیمې خلک ځوومه ورځ یې وه چې له خپلو کورونو نه بهر نه وو وتلي.دوکانونه تړلي و تګ راتګ ګران و .کله چې دارالامان سړک ته راووتم.د ښځې فریاد بیخي زیات شو.یو بله ښځه یې هم په څنګ کې ناسته وه او هغه یې نیولې وه .سپین ګل مخکې سیټ کې لما سره ناست و .د روسانون له سفارت نه چې راتېر شو د سړک پغاړه دوه تنه وسله وال پړپخ پوزې ولاړ وو.دریش یې کړو.یو یې مخامخ موټر ته ودرید او بل یې راغې .ماته یې کړو .کوجا موري ؟ما ویل زنانه ده مریضه ده.په فارسي مې ورته وویل هغه چې سپین ګل ته ورپام کړ. دستي یې او پېژانده.چې پښتون دی ورته وې ویل.او غو تو کوجا موري .هاغه خپلې میرمنې ته لاس ونیو .مریض به شفا خانه میبریم.هغه بیا وویل تو پایان شو .ترا کارد اروم.که هر څو مې ورته وویل چې دا میرمن یې ده د اولاد مریضه ده.دا چیرې بیا یي.نه یې منله سپین ګل وویل خیر دی تاسو شفاخانې ته لاړ شئ زه به له ده سره لاړ شم .هغه یې تالاشي کړ بیا یې لاسونه پرې وتړل.او له ځان سره یې روان کړ.ما خو موټر روغتون ته ورساوه.په زېږنتون کې مې ښکته کړو.دومره ورته ولاړ وم چې هغوي دننه ننوتل.او زه ترې راستون شوم.تاسې باور وکړئ چې په هیڅ سړک باندې کوم موټر نه لیدل کېده.د کابل په نوي ښار مې ټکسي راتاو کړ. ناڅاپه مې مخې ته دوستم ګلیم جمیان راووتل.وې درولم.ویلې ستاله موټره زموږ ګاډي ته تیل واچوه.ما ورته وویل زما ګاډي تیل نه لري.له

موټره یې ښکته کړم په کونداغ یې ووهلم سر یې رابانديې مات کړ . مجبوره شوم تیل مې د خپل موټر نه د هغوي موټر ته واچول .دومره مې پکې پرېښودل چې ما وې پې ورسېږم .په کور کې مې تیل ځانته ذخیره کړي و .له هغوي نه چې تېر شوم د پارک سنیما سره درې تنه ګلیم جم ولاړ و. لاس یې راکړو .ودرېدم .ویلې موږ هوائي ډګر ته ورسوه .ما وې موټر کې تیل نشته دی . ستاسو کسانو تیل رانه خپل موټر کې واچول .له موټره یې ښکته کړم .دومره یې ووهلم چې ولوېدم .بې هوښه په مځکه پرېوتم .هغوي رانه کیلي واخیسته او موټر یې رانه وتښتولو . کله چې په خود شوم .راپاڅېدم له سره مې وینې روانې وې .شا و خوا مې وکتل هیڅوک نه ښکارېدل .په ځادر مې وینه پاکه کړه پخپلو پښو روان شوم . نه کومه شفاخانه راته نزدې وه او نه څوک وه چې څه مرسته یې راسره کړې وای .د کور په نیت روان وم تر پل ارتن پورې لاړم .هلته د کوم تنظیم د ګزمې موټر راغی مخ په د همزنګ روان و .ما ته یې موټر ودرو .ویلې چیرې ځې ما وې دارالامان په سړک مې کور دی .هغوي له ځان سره پورته کړم .په لاره رانه یوه پوښتنه وکړه .داسې ښکارېده چې پنجشیري و .ویلې سر دې ولې وینې دی ؟ ما وې ګلیم جم نفرو ووهلم ټکسي یې رانه وتښتولو .په موټر کې ناستو ګزمه والو ورته کنځلې وکړې .ټولو ردې بدې پسې وویلې .د همزنګ کې یې جیپ دارالامان پر سړک راتاو کړ.روسي سفارت نه وراخوا ته یې ښکته کړم.مننه مې ترې وکړه .هغوي وړاندې دارالامان ته لاړل.کور ته چې لاړم.ښځه او ماشومان رابانديې راټول شول.یوه ویل دا ولې بل هم ویل دا ولې ؟ما ورته ټوله قیصه وکړه. ښځې مې خپله سینه په زوره ووهله .اخ خدایه دا څه وشول .د کور ښځو راته سر له وینو پاک کړ.کورکمن او نور درمل یې پې وتړل.درې شپې وروسته مې لیده چې هماغه ګاونډي مشرقي وال په دروازه کې راغی .د مېلمنو کوټې ته ورغلم .له سترې مشي نه مخکې هغه حیران شو ویلې اخ

دا ولې ؟ ما ورته خپله قیصه تیره کړه. هغه ډېر خفه او ستومانه شو. ما ترې پوښتنه وکړه ته څنګه ترې راخلاص شوې ؟ هغه وویل وروره زه چې له تاسو نه ښکته کړم سیده یې خپل امریت ته بوتلم. هلته یې یوې کوټې ته واچولم. پوښتنې یې رانه وکړې. هغوي ته پته ولګېده چې زه د ګلبدین سړی نه وم. ولې نورې په عذاب کړم. بیا یې زما په بدل کې د هغوي هزاره ګانو کوم بندي راخلاص کړی و. له ځانه یې ورته ویلي و چې ستا یو غړی له موږ سره دی. که زموږ یو تن راخوشی کړې نو ستاسې یو بندي به هم درخوشی کړو. بس همدغسې یوه معامله کې یې راپرېښودم. دولس سوه افغانۍ مې جیب کې وې رانه وایې خیستې. بیګاه شپه کور ته راغلم. زموږ کره ماشوم هم پیدا شوی دی. هو هلک دی. مبارکي مې ورکړه. د چاي نه وروسته یې راته وویل. د ټکسي موټر قیمت به زه درکوم. ښه ده چې دې ظالمانو وژلی نه یې. ما ورته وویل نه نه وروره. دا خو تصادفي کار و. په تا ولې تاوان ورکړم. نو دغسې پیښې بیخي ډېرې وې. په کابل او نورو ولایتونو کې پاټکونه او قوماندان سالاري جوړه شوې وه. ملک کې د هر چا خپله خپله پاچاهي وه.

ګل نور دې خدای اوبخښي همېشه به یې خوله د خندا ډکه وه. څوړندې شونډې په وستل راوخوت. شونډو یې پاترې نیولي و په مخ یې خړ ګردونه پراته و. شاته یې په څادر پورې څه ګنډه پرته وه. په وستل کې ناستو کسانو ورته سترې مشي وویل. پنډکی یې کېښود. تیګې ته یې تیکه ووهله. ټولو هغه ته کتل ځکه چې هغه هیڅکله په دغسې خپګان کې نه و لیدلی. د کلي نایي (ګلابی) د یوه په سر خرولو لګیا و. په شونډه کې یې شنه تازه نسوار له ورایه ښکاریدل. هغه بیخي ډېرې خبرې کولې. په هر ځای او هر چا سره به چې ناست و. خامخا یې نکل ورته راخیست. هغه ترې سمد ستي پوښتنې پیل کړې. ګل نوره چیرې تللې وې . چې داسې ستړی ستومانه راغلې. هغه له یوه نه د نسوارو ډبلی وغوښت

.لا نسوار يې خولې ته نه و ارتولي چې سوړ اسويلى يې له خولې نه ووت. خلک ورته ټول متوجې و چې ګل نور ته څه پېښه شوې ده. ډېلى يې لاس کې نيولى و. چې د تيرې شوې پېښې قيصه پيل کړه. هغه وويل پرون له کابله راتلمه. په يوه سرويس کې ناست وم چې د خولې پورې د سورلى نه ډک و. سهار لس بجې وې چې له پل محمود خان نه مو حرکت وکړو. يو نيم موټر په لاره روان و. تاسو باور په خداى وکړئ چې د سروبي پورې درې ځاى تلاشي واخيستل شوه. د بيلو بيلو تنظيمونو پاټکونه دي. د ماسپښين لمونځ مو سروبي کې وکړو. بيا سرويس حرکت وکړ نورې موټرې هم وې. د ريښمو تنګې نه چې لږ واوختو. درې وسله وال تيار په سړک ولاړ و. يو تن يې د موټر مخې ته ودريدلو په دروازه کې ودريد او دا يو بل يې سرويس ته راوخوت. هر يوه ته يې کتل پيسې يې ترې اخستې. هر يوه له ويرې نه پيسې ورکولې. د سرويس په منځ کې يو سړى او يوه ښځه ناسته وه. د سړي رنګ تازه و سور سپين ښايسته سړى و ځوانه ښځه ورسره ناسته وه. خپل ټيکرى يې ايجابي تاو کړى و. ايله بيله يې سترګې ښکاريدې. د هغه وار چې راغى. ورته کړه يې برادر تو پيسه ندادي. هغه ورته وويل. شما از کدام تنظيم هستيد. هغه په قهر وويل. زما تنظيم څه کوي. حق د مجاهدينو ورکړه. ده ورته وويل. من پول ندارم. دا خبره يې په غضب وکړه. هغه وې ته راښکته شه او اسناد دې را اوباسه. خو دى ورسره نيغ شو. ښځې يې ورته وويل ورشه ورسره پيسې ورکړه څه يې کوې. ده اواز په زوره کړ. نه نه يو مجاهد زه يم او يو دا دي. دا په کوم قانون دا پيسې ټولوي. په سرويس کې ناستو خلکو ته وويل. اى وروره مونږ باندې ولې ناوخته کوې. پيسې ورکه ولې ورسره چمبړ کېږې. خو په دې ټيله باره کې يې له موټره کوز کړ. د خپل جيب نه يې د حزب اسلامي (ګلبدين) کارت راويوست. هغه چې دده کارت واړو راواړو. بيسواده خو نه و کارت يې ولوست. بيا هغه بل ته يې ورښکاره

کړ ـ هغه ورته څه وویل ـ بیرته راغی ورته وې ویل ـ ته راځه چې قوماندان صېب ته لاړ شو ـ ده ورته وویل ما سره سیاه سره ده ـ نه ځم درسره ـ هر څه چې وایې ـ دلته یې راته ووایه ـ خو دی ورسره نه تلو او هغه راښکده ـ په راښکدو کې موټروان وویل ـ دده پیسې به زه درکړم ـ خوشی یې کړه د سورلۍ چیغې جګې شوې ناوخته دی ـ هغه ورته وویل استاده اوس خو د پیسو خبره نه ده ـ دا به خامخا بیایم ـ ده ویلې والله که مې بوزې ـ ګوتې یې واچولې ـ د ښځې والا زر له جیب نه تمانچه راویسته او په سر یې یې ډز وکړ ـ رسا یې په سینه کې ویشتو ـ هغه بل ملګري ده ته کلاشنکوف ونیو شپږ ډزه یې ویشتلو ـ په مځکه ولوید ځای په ځای مړ شو ـ ښځه یې له موټره کوزه شوه ـ د میړه تمانچه یې له ځمکې نه راجګه کړه ـ ډز ډز هغه بل نفر یې ویشت ـ باور وکه داسې کافره ښځه وه چې یو کارتوس یې بچ لا نړ ـ یوه مرمۍ یې په سر لګېدلې وه ـ په یوه دقیقه کې له منځه لاړ ـ د هغه دریم تن وار و پار خطا شو دې ښځې په هغه ډزې وکړې ـ او هغه هم په چالاکۍ سره ښځه په کلاشنکوف څو ډزه ویشته ـ ځای پر ځای ولویده ـ ښه ورته خلکو کتل چې د پنځه وارو ساه وختله ـ د سرویس خلکو ډریور ته وویل ـ استاذه څه چې په بلا کې اخته کېږې ـ پوستې خبرېږي اوس به ټول له منځه لاړ شو ـ په دغه وخت کې دوه موټرې راغلې او ګړندۍ تیرې شوې له ډاره هېڅ بریک هم ونه نیو ـ مړي پاتې شوو او موږ ترې جلال اباد ته ځان ورسولو ـ له دې خبرې سره یې ډبلې نه یو ټونګه نسوار خولې ته وارتول ـ ډبلې یې خپل خاوند ته ونیو لاس یې څنډ وال ـ ټول ناست کسان ورته ټول یو غوږ ناست وو ـ ګلابي ورته وویل ـ ګل نوره دا لا ښه کار شوی دی چې ته خدای ژوندی راخلاص کړی یې ـ ګل نور وویل زه لږ ستړی یم ـ ستاسې په اجازه به کور ته لاړ شم ټولو ورته وویل ـ ډېره ښه ده څه ځان کور ته ورسوه ـ هغه پاځېد او کور ته لاړ ـ

نور دغسې ناروا پېښې په دغه دورکې تر سره شوي دي .ګران لوستونکي خو ددغو پېښو عیني شاهدان دي .خو ددغسې پېښو داستاني کول راته ضرور ځکه برېښي چې راتلونکو نسلونو ته د ناول په انداز کې خوندي او امانت پاتې شي.

## دولسم پړک (دولسم څپرکی )

طالب جان ښایسته موده په کمپ کې د خپلې مور او د کورنۍ له غړو سره تیره کړه ـ کوم وخت چې په افغانستان کې طالب واکي جوړه شوه ـ دی کابل ته لاړ ـ دده یو ورور څو کاله د مخه هالینډ ته تللی و ـ ده غوښتل چې له وروره د پیسو کمک وغواړي ـ حالات ښه نه و ـ وخت ته په انتظار و چې شرایط ورته برابر شوي واي ـ څو ځل کابل ته لاړ راغی خو نه یې چیرته کار پیدا کړ او نه یې ورور ته په تیلیفون کولو موافق شو ـ ده ویلې یوه ورځ د پل خشتي جومات تر څنګه دریې تنو طالبانو ودرولم ږیره یې زما وکتله سمدستي رااندې هغه یوه سترګې راویستلې ویلې ږیره دې بونډۍ ده ـ د میچ سره برابره نه ده ـ که امر بالمعروف نهی عن المنکر ته په مخه ورغلې پوستکی دې بالا باسي ـ ټینګیا یې رااندې وکړه ویلې د مسلمانۍ ږیره پریږده ـ زیاتي څوک به څه نه درته وایي ـ په یوه بله ورځ دوه تنو طالبانو راته وویل چې زموږ سره ملګری شه ـ کاروبار به دې سم شي ـ رښتیا ته خو دې دا خپل ځان موږ ته سم راوپیژنه ـ دوي دواړه به هر سهار په جومات کې ما لیدل ـ څه موده وروسته یې په جومات کې راته همدا خبره وکړه ـ ویلې طالب جانه موږ چې دا ډېره موده کېږي چې دلته راغلي یو ـ ددې ټولې سیمې د خلکو مسلماني ډېره ښه ده ـ داسې ښکاري چې دا خلک ټول د افغانستان د نورو ولایتونو خلک دي ـ ما وې هو دا ټول د اطرافونو خلک دي ـ دلته یې کورونه جوړ کړي دي ـ هغه وویل ښه اوس دا وواېه چې ته ولې نه طالب کېږې ـ بې له هغې طالب جان دې نوم دی ـ اصلي طالب هم شه ـ موږ به درته ښه ځای اوګورو ـ ما وې په همدې خپل نامه مې پرېږدئ ښه به وي ـ که کار راځنې غواړئ هم تیار یم ـ د

ساینس پوهنځی مې لوستی دی. په انګلیسي هم پوهېږم. نوره ستا سو خوښه. هغوي دواړو زما نوم په کاغذ کې ولیکلو وې ویل انشاء الله یو څه خو به وکړو. څو ورځې وروسته مې هغه یو په بازار کې ولید. له روغبړ نه وروسته یې وویل. ستا لپاره مو کار درکتلی دی. ستا اصلي پته چیرې ده. د ترور کور ته مې لاس ونیو. ما وې زه کله کله په دغه کور کې اوسېږم. هغه وې سمه ده. په کوم ضروري کار پسې راوتی و. ویلې زه به دې بیا پوښتنه وکړم. بس دا یې وویل او لاړ. ما له یوه تجار سره د هغه د کارونو او محاسبې کولو کار کاوه. تنخوا یې راکوله. کرایې کوټه مې ونیوه. په رسمي کار پسې ونه ګرځېدم. ډېره موده مې هم دغه کار کاوه. کله چې امریکنیان او انګریزان د طالبانو د له منځه وړلو لپاره افغانستان ته راغلل او بمبارۍ یې پیل کړې. په دغه وخت کې زه بیا کمپ ته لاړم. څه موده مې په کمپ کې د خپلې کورنۍ سره تیره کړه. امریکنیانو او خارجي قواو چې وطن ونیو او شمالي ټل واله یې په واک کې کړه. هغوي خو د واک او ځواک ارمان له پخوا نه درلود. د همدغو جهادیانو په لمسیون د شمالي ټل والې او ګلیم جم دوي په اشاره یې د خارجي طاقت او د هغوي درنو وسلو په واسطه یې د طالب په نامه د پښتنو سیمې بمبارد کړې. بې شمېره پښتانه یې ووژل. چې د دغې بې رحمه وژنې او په تیره ډله ایزې وژنې ښه مثال د لیکوال د لیلیې د ښتی ناول دی. ګران لوستونکي په هغه کتاب کې د سترګو لیدلی حال اوګوري.

طالب جان ویلې ما په خپلو سترګو لیدلي چې د پاکستان پوځیان د طالبانو سره یو ځای افغانستان ته د جنګ لپاره تلل کله چې د طالبانو ټغر امریکایي او شمالي ټلوالې ټول کړ. د امریکا او انګلیس په مټ د جهادیانو موقتي حکومت جوړ شو. زه له پاکستان نه افغانستان ته لاړم. له خپل پخواني تجار سره مې کار پیل کړو. د پنجشیریانو مطلق واک

پلاس کې و ـ یوازې کرزی د دولت په سر کې ناست و ـ ولې نور ټول د دولت او حکومت اختیار د دوي سره و ـ د کابل ښار کې چا په پښتو خبرې نه کولې ـ که په کوم دفتر کې به پښتون و له ډاره به یې فارسي ویله ـ په ښکاره توګه د پښتو ژبې سره دښمني وه ـ لا تر اوسه پورې دوام لري ـ خپلې خبرې ته راګرځم ـ

یوه ورځ مې د شهزاده سراې نه هالینډ ته خپل ورور ته ټیلیفون وکړ ـ له وروره نه مې د پیسو مرسته وغوښته ـ خو کله چې په ټیلیفون کې غږېدم یو سړی راته مخامخ په دروازه کې ولاړ و ـ له بڼې نه پنجشیري ښکاریده ـ هغه زما ټولې خبرې واوریدې ـ ما مې ورور ته د شهزاده سراې په کوم دوکان کې چې خبرې کولې ـ د هم هغې دوکان لمبر مې ورته ووایه ـ په دویمه ورځ چې دوکان ته ورغلم له دوکانداره مې د پیسو پوښتنه وکړه ـ هغه راته سر وخوځاوه ـ چې راغلي دي ـ دوکان ته ورننوتم ـ هغه راته پیسې شمارلې ـ هماغه سړی بیا دروازې ته مخامخ ولاړ و موږ ته یې کتل ـ ما پیسې په جیب کې کېښودې ـ دوکاندار راته وویل په ځان پام کوه ـ زه له دوکانه را ووتم ـ کور ته را روان شوم ـ او مې لیدل ـ چې هغه پنجشیری هم شاته را پسې دی ـ زړه کې مې ټکه شوه ما وې دا سړی خو پما پسې دی ـ څنګه چې له سراې نه راووتم سمد ستي مې ټکسي ته لاس ونیو ـ ټکسي ته وختم ـ هغه سړی له دوه کسانو سره په یوه شخصي موټر کې شاته را روان شول ـ ټکسي والا ته مې څه ونه ویل ـ یوازې دومره مې ورته وویل ـ چې استاذه ګړندی لاړ شه ـ کله چې کور ته ورسېدم ټکسي وان ته مې کرایه ورکړه او لاړ ـ کتل مې چې هغوي هم را ورسېدل ـ ما غوښتل چې کور ته ننوزم ـ هغه غږ را پسې وکړ ـ وې ویل ـ استاد شوکارت دارم ـ هغه رانزدې شو په تونده او قهرجنه لهجه یې وویل تو طالب استي بیا د موټر بالا شو پیش امر صاحب میرویم ـ زه د خپلې کرایې کوټې په دروازه کې ولاړ وم ـ چې هغوي لاس را واچاوه کش یې کړم ـ موټر ته یې په زور ور

پورته کړم. يوه مې سر ته تمانچه نيولې وه نورو دوه تنو د دواړو لاسونو نه نيولی وم. په موټر کې يې کښېنولم. هر څو مې چې ورته وويل. زه طالب نه يم يو انجنير يم. دا خبره هغوي کله منله. په زور يې له ځان سره بوتلم. په وهلو ټکولو يې رانه پيسې واخيستې. او دا يې راته وويل. ته به دې ورور ته ټيليفون وکړې چې پنځوس زره ډالر زما په نوم د شهزاده سراې هم هغې دوکاندار په نوم راولېږي. او که دا کار دې ونکړ. موږ سره به بندي يې. اخر به دې په امريکائيانو ګوانتانامو ته ولېږم. زه يې يو شخصي غونډې زندان ته ولېږلم. په يوه کوټه کې يې واچولم چې هيڅ کړکۍ يې نه درلوده. خالي په ديواله کې د چت سره نزدې يو وړوکی روزان (سوری) و چې لږه لږه رڼا پکې کوټې ته راالويدله. يوازې ډوډۍ او اوبه يې راکولې. هر سهار به چې راته هغه سړی راغی لومړی به يې همدا خبره وکړه. ورور ته دې د پيسو ټيليفون نه کوې؟ ما به ورته وويل. زما ورور پيسې نه لري. دغه پيسې چې تاسې رانه واخيستې پور کړې يې دي. زما ورور پيسې نه لري. بيا به يې په شنو لښتو ووهلم. ټول بدن به مې تغمې تغمې شوی و. اوبه به يې راباندې واړولې. څو ورځې وروسته يې يو بل ځای ته يووړم. هلته بيا دوه بدل کسان راته راغلل. د دواړو پکولونه په سر و. يوه يې راته کتل کتل وي ويل. راستي که طالب هستې خپلو کې يې وويل. په کرار ترې پوښتنه وشي چې څوک دی.

هغه يوه يې وويل. نوم دې څه شی دی؟ ما وې طالب جان د پلار نوم مې شيرو دی. دوي به زما خبرې ليکلې. ما چې د خپلې سيلمې او کلی نوم ورته ووايه دواړو سرې وخوځاوه. پوښتنې چې خلاصې شوې اووتل وې ويل. که رښتيا ونه وايې ګوانتنامو به دې ځای شي. ښه به دا وي چې رښتيا رښتيا ووايې. دا يې وويل او لاړ. کوم نوي ځای ته يې چې بوتلم. هلته څو کوټې وې. دروازې يې بيلې بيلې د وتلو او ننوتلو لارې يې ځانته بيلې وې. زه يې د څو تنو سره په يوه کوټه کې واچولم. د کوټې تر

څنګه تشناب هم و. په دغه کوټه کې یوه وړوکې کړکۍ وه. کوټه داسې ښکاریده چې دلته له پخوا نه محبس موجود و. ځکه چې مخامخ ترې د عسکرو پهره دار خانه وه. د کوټو په سر او سپینیز جال تیرشوی و. لاندې حویلي یې هم لوټکی لویه وه. د دیرشو مترو په اوږدوالي او شلو مترو په سور حویلۍ وه. په ورځ کې به یې یو ځل تفریح ته همدغې حویلۍ ته راویستلو. تقریباً پنځوس شپیته تنه زندانیان پکې وو. ما چې ولیدل ټول پښتانه و. خو د ټولو اوږدې ږیرې وې. سرې پرې د طالبانو شک راتلو. لکه زه چې وم دغسې ښکاریدل. ټول په پښتو غږېدل. زما سره چې په کوټه کې پینځه تنه و. هغوي هم پښتانه وو. دوه تنه د قندهار یو دغزني او دوه تنه د لوګر د محمداغی و. دوي پینځه واړه طالبان وو. په ما یې هم د طالب ګمان کاوه. هغوي هیڅ خفه یا وار خطا نه ښکاره کېدل. هسې ښکاریدل لکه دغه زندان چې د هغوي دایمي د اوسیدو ځای وي. یو قندهاری پکې ډېر مست و. هغه به دا غږ کاوه. که امریکه راغلی نه وای. بالا د تاجکانو مور مړه وه. هر وخت به یې دا خبره کوله. بیا به غلی پخپل ځای کښېناست. هره ورځ به یې زموږ له کوټې نه یو یو تن ایستلو همدغه شان له نورو کوټو نه یې هم په همدغه ترتیب سره کسان ویستل او بیرته به نه راتلل. خدا زده چې چیرې یې بیول. لما نه یې هره ورځ پوښتنې کولې خو په دغه محبس کې یې جسمي جزا نه راکوله. مستنطق زما طالب بودن نشو ثابتولی. ځکه چې ما یې پوښتنې داسې ځوابولې چې هغوي به پخپله حیران شول. چې دی خو له طالبانو نه سخت بد وړي. نو ځکه یې څه فیصله راباندې نشوه کولی. ډلې ډلې طالبان به یې راوستل په دویمه ورځ به یې دوباره له دغه زندان نه ویستل څوک پرې نه پوهېدل چې چیرې یې وړل. څو ورځې وروسته یې زه په داسې حال کې چې په مانځه باندې ولاړ وم دوه تنه وسله وال مې شاته

ودریدل۔سلام چې مې ستون کړ۔هغوي سمدستي راته ځولنې راوا چولې ۔هاتکړۍ مې لاسونو کې روان یې کړم۔
په موټر کې یې کښېنولم۔دوه وسله وال راسره کښېناستل۔خوله مې له ډاره وچه شوې وه۔ما وې چې حتمي مې مرګ ته بیايي۔ځکه اوریدلي مې وو چې په نوم طالبان ، پښتانه وژني په زړه کې مې ډېرې خبرې ښکته پورته کېدې چې موټر ودرید زه یې ګاډي نه ښکته کړم او په یوه کوټه یې ورننویستم۔کتل مې چې په دروازه کې خارجي عسکر ولاړ و ۔هغه ته یې وسپارلم ۔یو تن سره زما دوسیه وه هغه مخکې او زه ورپسې هغه خارجي عسکر دننه بوتلم ۔لومړۍ د دوسیې والا سړی دننه ننوت بیا یې زه ورپسې وروستم۔کتل مې چې یو امریکاي د میز شا ته ناست و ۔هغه بل سړی ورته دوسیه مخکې کېښوده ۔په انګلیسي یې ورته وویل ۔دا هغه طالب دی چې دا دوسیه یې تکمیل ده۔ګوانتانامو ته د لېږلو دی۔هغه سړی ترې راووت زه یې وروغوښتم ۔ترجمان له مانه زما د نوم پوښتنه وکړه ۔زه و لچګ شوی ورته ولاړ وم۔ما ورته وویل نوم مې طالب جان دی ۔ما ورته ټولې پوښتنې په انګلیسي ځوابولې ۔هغه امریکايي وویل ته خو په انګلیسي پوهېږې۔ما وې هو صیب زه یو انجنیر یم۔هغه لما سره دلچسپي واخیسته وې ویل ۔ته دې ټوله قیصه راته تیره کړه چې زه پوه شم۔ما ورته په انګلیسي خپله قیصه وکړه۔ټولې خبرې مې چې هغه ته وکړې هغه عینکې له سترګو نه ایسته کړې۔قلم یې په میز ټکاوه وې ویل ۔ستا نوم طالب جان دی۔طالب نه یې ؟ نه صیب طالب نه یم طالب جان یم۔ هغه عسکر ته وویل هله دا هاتکړۍ ترې ایسته کړه ۔عسکر رانه هاتکړۍ ماتې کړې۔امریکائي غلی و تر ډېره یې څه نه ویل۔وروسته یې وویل۔دا هر څه ستاسو خپله د افغانانو له لاسه دي ۔زه یې راخوشی کړم وې ویل ته ازاد یې خو دلته مه اوسیږه ۔ما وې صیب دوي مې بیا نیسي کمک راسره وکړه له دوي نه مې پناه کړئ ۔هغه راسره یو تن عسکر په موټر کې

کښېناوه د پل محمود خان په هډه کې یې ښکته کړم.او هغه رانه لاړ.ما هم په چالاکۍ سره ځان د جلال اباد سرویس ته پورته کړ .لږه شیبه وروسته سرویس روان شو .په دغه ورځ هم د کابل په ښار کې ډزې وې. شا و خوا ګڼې ډزې کېدې .زموږ سرویس چې په تنګۍ واوخت لاړې مې تیرې شوې.ما وې ښه شوه چې د پنجشیریانو له پنجې نه راخلاص شوم. د هغه په زړه کې ور تیر شول .(که مې انګلیسي خبرې امـریکایي سره نه وای کړې اوس به ګوانتانامو کې ناست وای) په دې وخت کې د سرویس کلینر مې مخې ته ودرید .ویلې کرایه راکړه.ما یو کار ښه دا کړی و چې د کمیس تخرګ جیب کې مې یو څه پیسې ساتلې وې .کرایه مې ورکړه خو کلینر راته راټیټ شو په غوږ کې یې راته وویل.انډیواله کور ته چې لاړې جامې به دې پریمنځې.ته زما نه هم چټل ښکارې.ما لاس تخرګ ته تیر کړ.ځان مې وګراوه .میاشتې راباندې تیرې شوې وې.چې نه مې ځان پریمنځلی و .او نه مې جامې.له ږیرې نه مې خلک ډاریدل.ږیره او بریت مې لکه د زاړه سیک غوندې شوي و .سترګې مې ټیټې واچولې په سرویس کې مې چاته هډو کتل نه.په څوکۍ کې راسره یو سپین ږیری ناست و .چې هغه بیچاره ما غوندې په ځان پورې حیران و .کله چې سروبي ته ورسېدو .د نغلوبند سره ډزې کېدلې.د سروبي دوکانونو کې کراری وه.له یوې دمې نه وروسته سرویس د ریښمو په تنګۍ ورغی.په سرویس کې ناست کسان خپلو کې سره په خبرو شول.یوه وویل خدای دې خېر پېښ کړي.بیا د مرګ په مورچل ودریدو .ګاډی چلونکی د پاخه عمر سړی و .غټې سرې سترګې یې شاته په خلکو وګرځولې.وې ویل مه وار خطا کېږئ.دا دریمه ورځ ده چې دلته ډزې نه کېږي.ویل کېږي چې د پوستو والا په نورو ځایونو کې سره اخته دي .تاسې ارام سره کښېنئ. هیڅ خبره نشته دی.ان تر جلال اباده خطره نشته.د موټر چلونکی په دې خبره سورلۍ خوشاله شوه .مازدیګر ناوخته سرویس جلال اباد ته

ورسېد. ده ویل زه په بیړه تلاشۍ پلو لاړم. ما وې که د تورخم په ګاډي کې هر څو زر کښېنم. چې لږ په وخت د مزي نه واوړم. له ما سره دری تنه نور هم د پېښور تلونکي وو. د تورخم په لین څو ګاډي ولاړ و. موږ درې واړه یوه واګون ته پورته شو. د سترګو په رپ کې ګاډی ډک شو. کله چې موټر روان شو. زموږ یوه تن یوه توده ډوډۍ له نانوایي نه ورسره تر لاسه کړې وه. په موږ یې وویشله. رښتیا چې زه خو له وختـه وږی تږی وم. په یوه دقیقه کې مې د وچې ډوډۍ مړۍ له وچ ستوني تیره کړه. په مزي کې د خلکو تیریدل راتیریدل بیخي له اندازې نه هم زیات ول. موږ درې واړه له نورو لارویانو سره له مزي نه تیر شوو. په چټکو ګامونو مو لاره لنډوله. تر څو د لواړګي ګاډي ته مو ځانونه ورسول. هلته هم ګاډی تیار و. ګاډي ته وختو او د پېښور په لور روان شوو. تقریباً ماسخوتن کېده چې پېښور ته ورسېدو. زما درې تنه د لارې ملګري هر یو پخپله مخه لاړل. زه د کمپ په ګاډي کې کښېناستم. لږه شیبه وروسته د کمپ په دروازه کې ښکته شوم. کور ته چې ورسېدم. مور مې رانه پوښتنه وکړه اخ بچی دا ولې؟ څه درباندې شوي دي. زه خو سکنجو اووهلو بیخي خراب کړی وم. ډنګر کې پاتې شوی وم. جامې مې هم خیرنې په بده ورځ اخته وم. د کور لوی واړه راته راټول شول. ما ورته وویل زه به لومړی تشناب وکړم. بیا به ډوډۍ وخورم. پس له هغې به درته خپله ټوله قیصه وکړم. مور مې جامې راته راکړې تشناب مې وکړ. بیا نو له ډوډۍ نه وروسته د کور ټول غړي راته لک څک ناست وو. زما سترګو ته یې کتل چې کله به ورته قیصه راخلم. د هر چا مخې ته د چاې پیاله ایښې وه ماته یې کتل. له خپلې پیالۍ نه مې ګوټ وکړ. یوه وړور مې بې واره وویل. لالا تا خو موږ ته.... ! هو نو قیصه خو داسې وه چې کله زه له دې ځای نه کابل ته لاړم ښنګه مې چې پل محمود خان کې له موټره ښکته کوزه کړه. د کابل په ښار کې سخته جګړه روانه وه. ډز او دوز وه. دوړې او لوګي ختل. د کابل فضا له

لوګو ډکه وه. په سړکونو د موټرو تګ راتګ نه و. پخپلو پښو د ترور کره لاړم. ده ویل ټوله قیصه مې د خپل کور غړو ته تیره کړه. هغوي ټول خفه شول. د مور له سترګو نه اوښکې روانې وې. هغې وویل زویه چې بیا کابل ته لاړ نشې. خدای مه که ته که مړ وای ما به څه کړي وای. دلته او سه . خدای مهربانه دی. وروربه دې پیسې راولېږي خپل څه کاروبار کوه. وطن د شپو نه دی زویه . مور جانې ستاسې دعاګانې راسره وي ګنې فیصله کړې یې وم . دا چې زه ژوندی راخلاص شوی وم . هغوي پوره خوشاله شول . وروسته بیا طالب جان د خپل بل ورور سره یو ځای د سبزۍ خرڅولو کراچۍ راونیوله او د سړک پغاړه یې سبزي خرڅوله . هر مازدیګر به دواړو ورونو پوره خرچه پېدا کوله. ورو ورو یې د ژوند شپې ورځې ښې کېدلې . او تیریدلې. طالب جان پاکستان کې د سخت ژوند سره لاس او ګریوان شو نو د هر څه یې له ذهن نه ووتل . د خپل مسلک سره علاقه او د تاجو مینه دا هر څه یې هیر شول. سهار به د سبزۍ کراچۍ ( د لاس ګاډي ) ته ودرید . مازدیګر به کور ته راستون شو . بس همدغه یې د ژوند چاره وه مخکې یې دده ورور چې په هالینډ کې اوسیده پس له ډېرې مودې وروسته هغه ده ته ټیلیفون وکړ. طالب جان ته یې په ټیلیفون کې وویل پیسې به درولېږم چې ځان دیخوا ته راولې . ته دې لاره چار د راتګ لټوه زه به درته پیسې درولېږم . دی د ورور په دې خبره خوشاله شو . مور ته یې وویل . ادې که زه چیرې لاړم تاسې ټول به په خبر سره اوباسم . مور او نور د کورنۍ غړي یې خوښ شول . ده له همدغې ورځې نه ځان سره د اروپا سوچونه پیل کړل. رښتیا هم د افغانانو مهاجرت اروپا ته په زور کې و . ځوک ځانته مجرد یوازې او ځوک به کډن لومړی روسي او بیا اروپایي ملکونو ته په تلو کې وو . ده ته یې ورور لس زره ډالر ور واستول . په څو ورځو کې یې خپل کارونه خلاص کړل . هغه ورځ را ورسېده چې دی یوه قاچا قبر راوالوځاوه . چې لومړی تاجکستان ته او بیا له هغه ځای

نه مسکو ته لاړ. په مسکو کې يې ځينې افغانان پيدا کړل او هغوي د نورو په پته د کيف ښاريانی او کراين ته ورساوه.
ګرانو لوستونکو د ليکوال د خولې خپله خبره ده. سوژه نه ده اصلي خبره او د سترګو ليدلې حال دی. يوه ورځ د المان کولن ښار کې خپل کورني ډاکتر ته د خپلې ساه بندۍ د ملنې او کتنې لپاره لاړم. کله چې د نورو ناروغانو په کتار کې پخپل وار ډاکتر ته ورغلم او د کتنې په خونه کې ورسره کښيناستم. ډاکتر چې يو ډېر ښه سړی مهربانه او خوش خويه بنيادم وه. تل يې خوله د خندا ډکه وي. هر چا سره پوره غړېږي. د هر څه پوښتنه او ګروېږنه ترې کوي. بيا له ما سره خو بيخي ډېر زيات په خبرو اخته وي. چې کله خو ورشم لومړی راځينې دا پوښتنه کوي. استاد کدام کتاب نو چاپ کردي؟ بس د ټولو په شخصي ژوند او ستونزو ځان خبروي. په دې ورځ چې څنګه زه د معاينې او کتنې لپاره د هغه سره مخ شوم. ډاکتر په خندا شو. مخکې له دې چې زما د ناروغۍ پوښتنه وکړي داسې يې وويل. استاد ګوش کن يک داستان زنده را. هغه قيصه داسې پيل کړه. څه موده مخکې يوه ښځه زما معاينه خانې ته راغلې وه. په پښتو يې راسره خبرې کولې. په فارسي هم پوهېده. يو څه سر درديې درلوده. ويلې اصلاً افغانه يم خو څو کاله مخکې المان ته راغلې يم. له يوه دري ژبې افغان سره مې پاکستان کې واده کړی و. هغه مې د خپل پلار په پيسو چې مځکه مې ګرو کړه او دلته مې راوست. څو ورځې په لاګر کې اوسېدلو. بله ورځ يې يوه المانۍ جينۍ له ځان سره راوسته خپل شخصي جامې سامان يې په بکس کې واچاوه. ما ته يې وويل زه نور لتا سره نه اوسېږم. هر څومره مې چې ورته وويل زما خبرو پرې تاثير نه کاوه. د کور په دروازه کې ورته ولاړه وم اوښکې مې تويولې او هغه د المانۍ سره لاړ. د هغې د دې خبرې سره زه هم ستومانه شوم. او هغې دا هم وويل چې زړه مې دی امريکا ته لاړه شم. بيا نو دوايي مې ورته

ولیکله او پخپله مخه لاړه. له ډېرې مودې وروسته دا یوه اونۍ مخکې مې کتل چې هماغه ښځه بیا معاینه خانې ته راغله. ما ترې پوښتنه وکړه. ورته مې وویل. بي بي ته خو دا ډېره موده نه ښکارې. چیرته یې ؟ هغې وویل. زه خو امریکې ته تللې وم. هلته د اریانا تلویزیون له لارې خبره شوم چې پاکستان نه زما زوی اریانا تلویزیون ته په ټیلیفون کې ویلي و چې زه یو ډاکټر یم. مور مې رانه ورکه ده. غواړم چې خپله مور پیدا کړم. نو ځکه خو له امریکا نه دلته جرمني ته راغلم. چې زوی سره له دې ځای نه خبرې وکړم. او رایې ولم. بله لاره یې نشته یوازې قاچاقي لاره باندې غواړم چې راشي سبا ته ورسره خبرې کوم. د پېښور جرنیلي هسپتال فون نمبر مې اخیستی دی. زوی مې هلته په همدغه روغتون کې کار کوي. هغه به دومره خوشاله شي چې د خپلې مور غږ واوري. ویلې ډاکټر صېب داسې ده کنه ؟ ما وې هو ولې نه. دا خو د خوشالۍ خبره ده. هغه ډېره خوشاله وه. خو معلومېده چې د ژوند ناخوالو پوره ځپلې وه. زما زړه ته هم د هغې په حقله پوښتنې راولاړې شوې. خو ښه خبره داوه چې زما د تفریح او پوزې وخت راورسېد. تر دریو بجو پورې مې پوره وخت درلود. ورته مې وویل خور جانې ستا د ژوند او حالاتو سره مې په زړه کې سودا شوه. اوس مې تفریح ده غواړم چې یو څه پوښتنې درنه وکړم. هغه بې له هغې خوشاله وه. ویلې ډېره ښه ده ولې نه. هغې ته مې چاې راوغوښت ما هم چاې وڅښلې. پوښتنه مې ترې وکړه. ما وې که خفه کېږې نه د خپل تېر ژوند قیصه دې راته وکړه. هغه لومړی چُپ پاتې شوه. بیا یې په مخ کې د غم او خفګان نخښې ښکاره شوې. له سوړ اسویلي نه یې وروسته وویل. ډاکټر صېب دا خو د دیرشو کالو د ناخوالو قیصې دي او بیا په ما یوازې نه بلکې په هر افغان ښځو نرو باندې دغه د بدبختیو غمونو او ویرونو ترخې قیصې او داستانونه تېر شوي دي. په همدغو ناخوالو کې مې بې وخته ویښتان سپین شول. ته راته ښه سړی ښکارې او بیا خو افغان یې

ورور مې یې پرېږده چې ته هم زما له ژونده خبر شې .ما وې هو خورې هو بې شکه چې مورږ یو افغانان یو سره خور ورور یو هیڅ فکر مه کوه .هغې خپله قیصه راته پیل کړه او ما ورته غوږ نیولی و .د خپل ژوند د وړوکتوبه تر ننه یې قیصه وکړه .د زوی د راوستلو پورې چې راورسېده نورې اوښکې په مخ راماتې شوې .سلګو ټینګه کړه ما خالي سوق سوق کول.درې بجې شوې ورته مې وویل.خور جانې دا د ټیلیفون نمبر مې واخله وروسته به مې خامخا خبروې.خپله پته او ټیلیفون مې ورکړ.د دوایی کاغذ یې لاس کې نیولی و او لاړه .د ډاکټر د خولې داستان ته مې ښه په زیر سره غوږ نیولی و .په همدې وخت کې د ساه بندۍ حملې او ټوخې ونیولم.ډاکټر راباندې پوه شو .له خپل میز نه یې سپرې راکړه کش مې کړه .بیا یې راته دوایي ولیکله.نسخه یې چې ماته راکوله دا خبره یې راغبرګه کړه .استاد این داستان راحتمی می نوسید .ما وې هو همدا نن به ددې داستان په لیکلو پیل کوم .نو ګرانو لوستونکو د نړۍ رومان لیکونکې د خیالي سوژو له انداز نه ناولونه لیکې .ولې زموږ د ژوند د بیلو بیلو وختونو او بیا په خاصه توګه له دا درې لسیزو ژوندۍ پیښې او داستانونه د رښتیانیو ناولونو او بهیرونو بلا لیکنې د قلموالو مخې ته پرتې دي .هماغه و چې د همدې ناول په لیکلو مې لاس پورې کړ .تاجو خپل زوی ته پیسې ولېږلې .د راتګ لارې چارې یې وموندلې .تاجو په یوه دوکان کې کار کاوه او پخپل دوه کوټو کور کې اوسیدله .زوی یې تر روسیې ادیسې ته راغی.په طالب جان باندې په نن سبا کې یو کال تېر شو .بله شپه قاچا قبر خبر ورکړو چې نن شپه حرکت دی.پوره دوه ویشتو تنو ته یې حرکت ورکړو .چې ښځې او ماشومان هم پکې وو .ده ویل په یوه سر پټې ګاډي کې چې خالي ډبه وه ورپورته یې کړو .د کښېناستو چاره پکې نه کېده خو وار په وار به پکې کښېناستلو .وروسته له دوه درې ساعتو مزل نه یې له موټره ښکته کړو او پیاده یې روان کړو .په

ګروپ کې ځینې ماشومان هم له مور و پلار سره کم چې واړه و په غېږ کې او کوم چې لوی ګاني و پخپله روان وو. شپه وه تورتم و. غلي غلي او چُپه خوله په لاره تلو. ځینو ځایونو کې یې ماشومانو ته د خوب ګولۍ ورکړې تر څو ونه ژاړي. لاره سخته وه. د شپې د اکراین له سرحده په ډېرو مشکلاتو راواوختو. په موټرو کې یې کښېنولو. په خورا بیړه موټر روان شو. څو ساعته وروسته سهار شو رڼایي ولګیده. مخې ته ځنګل راغی. مونږ یې د ځنګله په خوله کې ښکته کړو دوه تنه قاچاقچیان راسره وو. یو رانه په مخکې روان و. او بل وروسته. د ځنګله په منځ کې څو کوټې وې. هغو کوټو ته یې ورننویستو. په دغو څلورو کوټو کې لا د مخه هم یو ګروپ خلک اوسیدل. چې د هغوي همدلته یوه میاشت وتلې وه. د تلو په انتظار یې شپې سبا کولې. زموږه ډله سترې ستومانه وږې تږې شوې وه. ډوډۍ، چرګان او چاې یې راوړو. موږ ته یې وویل. له کوټو بهر ته مه اوځئ. شور او غالمغال به هم نه کوئ. ډېر یو د بل په خبرو نه پوهېدل. د هند، پاکستان، افریقا، ایران او د نورو بیلو بیلو ملکونو خلک وو. افغانان هم پکې څو تنه وو. یوه افغاني کورنۍ وه. چې د لویو وړو شمېر یې اوه تنو ته رسېده. ده ویلې زه د افغاني کورنۍ مشر سره په تماس کې شوم. ما وې وروره بخښنه غواړم تاسو افغانان یاست. هغه راته د سترګو لاندې په غور غور وکتل بیا یې په کرار وویل. هو د افغانستانه یو. سمدستي یې وویل. ته د کوم ځای یې؟ هغه په ماته ګوډه پښتو ګړیده. ما وې زه هم د افغانستان یم. هغه شا و خوا وکتل. وې ویل وروره خلک واي چې پیاده هم مزلې شته دی. زړه مې وار نه کوي. ځکه چې ماشومان راسره دي. ما وې څه خدای به خیر کړي. ته مه وار خطا کېږه. خو زه په زړه کې پوه شوم چې دا خو د ډېرو پیسو خاوند دی. ټوله کورنۍ یې راخوځولې ده. له هغه نه مې اوپوښتل. تاسې په وطن کې پخوا څه کار کاوه. وې ویل په دولت کې مې ماموریت درلود. خو اصلي دنده یې راته

ونه ښوده. ما ورته وویل. زه یو انجنیر یم. خو تر اوسه مې رسمي وظیفه نده اجرا کړې. پاکستان کې مې مزدوري کوله. په دې خبره یې راسره دلچسپي ونه ښوده. پوهېدم چې د جهادي باور به راباندې کوي. خو د هغه له رنګ او کړو وړو نه ښکاریدل چې څه غټه وظیفه او یا د کوم پیسو په ځای کې یې کار کړی و. وروسته چې زه د هغه د ماشومانو سره په تماس کې شوم. فارسیوانان وو. اصل کې د شمالي و خو ژوند یې په کابل کې تیر کړی و. د کارمل پرچم ډلې د ګمرک مدیریت یې کړی و. له تاشقند نه د جرمني په نیت راخوځېدلی و. هغوي په تاشقند کې خپل کور درلود. ماشومان یې نازولي وو. شپاړس کلنه لور یې له مستۍ نه د چا خبره په ونو ختله. له همدغه ورځې نه مې چندان خوښ رانغلل. بیا به مې ورسره خبرې نه کولې. هغوي هم نه غوښتل چې له ما سره خبرې وکړي. ما خو هم هغسې چې شرایط به راته برابر شول لمونځ مې کاوه. ږیره مې وهلې وه. مخ مې سپین او لږ څه زیړ ښکاریده. قاچا قبر راته ویلي و چې که ږیره ونه خروې نه دې بیایم. مجبور شوم ږیره مې وخریله. کوم ګروپ (ډله) کسان چې له موږ مخکې راغلي و. هغوي لاړل. یوازې مونږه یوه میاشت نور هم وځنډیدو. یوه ورځ ماسپښین دوه تنه له وجوده واړه چیت پوزي د وړو ننوتو سترګو چالاکو ویتنامیان راغلل. اصلي قاچاقبر هم ورسره و. هغه دغه دوه تنه خلکو ته ور معرفي کړل وې ویل چې دا دوه تنه زما سړي دي. دوي به تاسې له سرحده اړوي. هلته درته موټرې راځې د شپې په تورتم کې به په خاصه چالاکۍ سره موټرو ته خېژۍ. مطلب دوي چې هر څه درته واي تاسې هغه عملي کوئ. نن شپه به حرکت درکوي. موږ هر یو خوشاله شو. په دې چې په ځنګل کې تر سپېږمو راغلي وو. هغه سړي لاړ او موږ یې ویتنامیانو ته حواله کړو. د هغو په خبرو هیڅوک نه پوهېده. ولې په اشارو یې هر سړی پوهېده. ماسخوتن یې موږ له کوره ویستلو او په ځنګل کې یې روان کړو. د مني یخې شپې وې. د ځنګل

لاره مخ نیغه وه . ماشومانو او ښځو لپاره سخته وه . یو افغانی کورنۍ چې ښځه او میړه و . ښځه یې بارداره وه . په غره کې ورته په کړیو لارو او پورته ختل ګران کار وه . څښتن یې ورسره هم په عذاب و . ځینو ماشومانو ژړل . ویتنامیانو به پخپله ژبه کړنګ کړنګ کول د ماشوم په خوله به یې لاس کېښود . پخپلو اشارو کې به یې او پوهول چې ګني ګزمه راباندې پوه نشئ . د هم هغه بل افغان وړوکي ماشوم ما پشا کړی و . ښځې او نورو ماشومانو یې فریادونه کول چې تلای نشول . حامله بارداره ښځه ټپه شوه په خیټه یې لاس ایښی و . درد پرې سخته غلبه کړې وه . ویتنامیانو ټوله ډله ورته په غره کې ودروله . ښځې د خپل خاوند په غېږ کې سر ایښی و . سړي ددې بل افغان میرمن نه هیله وکړه چې د ښځې سره یې مرسته وکړي . دا ښځه ورغله څه چې لازم و مرسته یې ورسره وکړه . لږه شیبه وروسته ماشوم وزیږید . هلک و . تورتم تیاره وه . دې ښځې وویل هلک دی خو مړ دی . یو تن ویتنامي د هغوي سره واپس د ځنګل کور ته ستانه شول . موږ یې ځای په ځای کښېنولو . چې تر څو هغه بیرته راشي او حرکت وکړو . دوه ساعته وروسته ویتنامي راورسېد او موږ بیا په غره کې حرکت وکړو . وروسته بوټي پکې ولاړو . موږ یې پینځه ، پینځه تنه وویشلو . په اشارو یې پوه کړو چې سرحد راورسېد . زه په لومړي ګروپ کې وم . له موږ نه هغه یو ویتنامي مخکې شو او موږ ورپسې شوو . په ګڼ ځنګل کې تلو تلو . یو ځای مخې ته راغی . ویتنامي ودرید موږ ته یې په اشاره وویل چې د غه ځای کې د برق (بربښنا) لوڅ مزی تېر شوی دی . چې پښې پرې کینه ږدې . باید ټوپ پرې واچوئ . هغه مخکې شو ټوپ یې کړو . موږ هر یو ورپسې ټوپ کړ . هغه په لاس پښو مزل پیل کړو . موږ هم چار غوک شول ورو ورو په ځنګل کې څښېدو . یوې موړې ته ورسېدو . وړاندې په یو ځای کې بربښنا ښکاریده . پدې کې ناڅاپه موټر راغی ویتنامي موږ ته اشاره وکړه . هله موټر ته

وردانګې موږ په بیړه سره موټر ته وختو. هغه رانه بیرته ستون شو. د ګاډي چلونکي په ایکسلیټر پښه ټینګه کړه. په ډېر سرعت یې موټر له هغه ځایه راویوست. زموږ جامې او دریشي ګانې په خاورو او ختو کې چتلې شوې وې. له درې ساعتونو وروسته یې په یوه ځای کې ښکته کړو. څنګه چې له موټره کوز شولو. یو سړی راته ولاړ و. ویلې راځئ. د موټر خاوند موټر وګرځاوه او بیرته لاړ. موږ یې کور ته ننویستو. یوه غټه کوټه وه. څوکۍ پکې ایښې وې. یو لوی میز هم پکې پروت و. کښیناستو. د هغه سړي په خبرو نه پوهېدو. ما ورسره انګلیسي شروع کړه په انګلیسي پوهېده. پخپله یې په انګلیسي کې دومره خبرې نشې کولې خو د بل په خبرو لږلږ پوهېده. وې ویل. په دې کور کې اوسېږئ. بهر ته مه اوځئ. لومړی تشناب وکړئ. دریشۍ مو هم له ختو نه پاکې کړې. دلته ستاسو وخت شته دی. تر څو چې ددې سرحد نه المان ته اوړئ څو شپې ورځې به دلته اوسېږئ. د کور خاوند ډوډۍ تیاره کړه. چاې او کافي یې موږ ته راوړې. ځانونه مو پاک کړل. په دغه کور کې څو کوټې نورې هم وې. په څنګ کې ورسره بل کور و چې کوم فامیل پکې اوسیده. موږ چې ډېر ستړي ستومانه شوي وو. پریوتو. سبا غرمه وه چې راپاڅېدو. ما چې پام وکړ. په یوه شاړ ځای کې دغه کور وه. شا و خوا یې نور کورونه نه ول. صرف ګڼې ونې ولاړې وې. نور کلی او ښار چیرې په سترګو هم نه ښکاریده. یوازې پوخ نری سړک دې کور ته راغلی و. نوره ځمکه پټې و او شا و خوا یې ځنګل و. هغه نور کسان یې هم راورسول. د کور ټولې کوټې ډکې شوې. د ماشومانو ژړا پورته شوه. د خلقو ګڼه ګوڼه زیاته شوه. افغاني فامیل هم راورسېد. یوه پینځه کسیزه ډله یې نیولې وه. پولیسو له ځان سره وړې وه. نور ټول راتیر شوي وو. افغان غبرګ کې ونیولم. زما په لیدو یې شکر ویوست. دا ځکه چې په لار کې وربانديې ډېر سختې تیرې شوې وې. وې ویل یو زوی مې رانه په ځنګل وروسته

پاتې شو چیغې نارې یې کولې. ویتنامي په غېږ کې نیولی و. له پوله نه یې راتېر کړ او زموږ موټر ته یې را ورساوه. لاس یې پورته کړل خدای ته یې دعا وې وکړې. ما ته یې مخ راواړاوه. وې ویل ورور جان چې دا کوم وطن دی. ما وې زه نه یم خبر. څوک راته حال نه وای. خو داسې ښکاري چې دا به د پولینډ خاوره وي. دا د کور سړي چاته نه وای چې دا کوم ملک دی. په خبرو یې هم نه پوهېږو. لږ لږ په انګلیسي پوهېږي. دی وای چې دلته به ام څه موده تیر وو. خدا زده چې کله به مو جرمني ته اړوي. خو دومره ښکاري چې یوازې د جرمني سرحد پاتې دی.
په کوټو کې د خلکو تعداد زیات و. ورځ خو به لا ښه وه. بیرون د کور شا و خوا به ګرځېدو راګرځېدو. خو د شپې به مشکلات په دې و چې په کوټو کې د خلکو تعداد او شمېر زیات شو. په دې کې به کوچنیانو ژړل. په هر چا به شپه شوګیروه. یو کار یې لا ښه و چې ډوډۍ او نور خواړه پریمانه ول. یو د بل سره خبرې نه وې. هر یو د خپل سرنوشت او سوچ په غم اخته و. زه به کله کله د افغان د کورنۍ له غړو سره مخامخ شوم زما به له هغوي سره او د هغوي به زما سره وخت تیریده. خو کله به د تیرو ناخوالو په باب په فکر کې ډوب شوم (څه نادودي نه وی چې په افغانانو تیرې نشوې. دا مرګونه او ژوبلې، د کلیو او ښارونو ورانیدل، د روسانو د سرو لښکرو راتګ، د هغوي بمباریو او مرګونه، ورپسې د جهادیانو او ملایانو واکمي او د ملک چور و چپاول، ورپسې د طالبانو د ړندو سترګو واکمني د امر باالمعروف او نهي عن المنکر نخرې او هم د سوچه و ربیرو باب، هغه نادودي او جفا د غریب وطن افغانستان او بې وځلو افغانانو سره وشوه. چې په تاریخ کې د چا سره نه وه شوې. د هر چا د زړه کور وران شو. مینې په سین لاهو شوې. له ما څخه یې هم مینه واخیسته) بیا به بیرته له سوچ او فکر کولو نه په خود شوم. پابه څېدم. له یو بل نه به مې پوښتنه وکړه. موږ به کله بیا یې؟ چا به راته خپل سر کوږ

کړ. چا به يو ولې راته کوږ کړ. هيچا ته د تللو وخت او نيټه نه وه معلومه. خو شپه تر منځ به. د دغه کور پخواني کسان به شپه تر منځ چليدل. څوک پرې هډو پوهېدل نه چې چيرې به تلل. په موږ ښې ډېرې شپې وو تلې. لا نصيب مو د وتلو نه و. په زړه کې به هر يوه شيبې شمارلې. خو لا وخت او اب و دانه مو پاتې وه. په يوه شپه چې يوه بجه کېده. زموږ په کوټه يې دوه تنه رانو يستل. يو يې افغان و د ننګرهار د سيمې يې ځان راته راو پېژانده. سبا يې مې ترې پوښتنه وکړه. ما وې بيګاه يې له کومې لوري راوستلې. هغه راته په تعجب سره وکتل. لږ چُپ پاتې شو په سوچ کې لاړ بيا يې اسويلي ويوست. ما ته خپله څوکۍ را وړاندې کړه. په غلي اواز يې داسې وويل. وروره چاته يې ونه وايې. دا ددې قاچاقبرانو پټې خبرې دي. ما وې نه ولې به يې وايم. دلته به يې چاته وو ايم. خبره داسې ده چې له همدې کوره يې موږ د يرش تنه دوه شپه مخکې يو وړو. په يوه سر پټې غټ ګاډي کې يې واچولو. ټوله شپه يې تر سبا سهاره لاره ووهله. ما سپينين و چې له يوه غرنۍ سيمې نه تېر شوو. هواره دښته مخې ته راغله کله چې د دښتې نه ووتلو. يو کلي ته ورسېدو. د سترګو په ليدو سره وړاندې د بحر شنې او به ښکاره کېدې. موږ يې يوه کور ته بوتلو. لوړې يې چاې ډوډۍ راکړه. بيا يې دمه او ارام راکړو. تقريباً يوه شپه او ورځ هلته پاتې شوو. د سهار اوه بجې وې موږ يې له کوره راو يستلو. په يوه سرويس موټر کې يې کښېنولو. له يوه ساعت نه وروسته د بحر غاړې ته ورسېدو. چيرته ښار او کلی نه و. خالي يوه لويه کشتۍ د بحر په غاړه ولاړه وه. موږ يې کشتۍ ته وخيژولو. سمدستي يې کشتۍ ته حرکت ورکړو. په کشتۍ کې يې بيا په کانتينرونو کې کښېنولو. يوازې دومره يې وويل چې تاسو به هامبورګ د جرمني ښار ته رسېږئ. په داخل د کشتۍ کې درې کانتينرونه په يوه کتار پراته وو. لس لس تنه په کانتينرونو کې کښېنا ستو. د کانتينرونو په سر کې وړې وړې

کړکۍ وې ـ چې تازه هوا به کانتینر ته راننوته ـ درې تنه چې یو یې چلونکی او دوه نور یې د کشتۍ تنظیم کونکي و ـ موږ ته یې او به او ډوډۍ سګریټ راکړل ـ په خوښۍ او خوشالۍ هغوي موږ ته وویل ـ هیڅ فکر مه کوئ ـ له درې ساعتونو وروسته به تاسې د هامبورګ ښار ته ورسېږئ ـ او هم یې دا هم راته وویل که چیرته په بحر کې د پولیسو ګزمه راغله وړوکې د نجات کشتۍ یې هم راوښودلې ـ ویلې که چیرته خطره وه ـ په همدغه وړو وړو کشتیو کې به ځانونه په بحر کې خوشې کوئ ـ موږ لس تنه یې د یوه کانتینر نه راویستلو ـ وې ویل دا کانتینر خراب دی هوا کش نه لري ـ موږ ته یې یوه وړوکړې کشتۍ راوښودله ـ ویلې د خطر په وخت کې به له دغې وړوکې کشتۍ نه استفاده کوئ ـ او د خطر په وخت کې به پشینګونه هوا ته توغوی ـ تر څو چې څوک مو ووینې ـ کشتۍ د بحر په منځ کې ښه چټکه روانه وه ـ پس له دوه ساعته هغه دوه تنه موږ پسې راغلل ـ په وار خطایۍ سره یې موږ ته وویل ـ په لاسو یې اشاره کوله ـ ویلې هله په دغه وړوکې کشتۍ کې کښینۍ ـ د بحر جامه یې هر یوه ته ورکړه ـ زموږ سره په هغو لسو تنو کې یو تن د هغو سره په خبرو پوهېده ـ موږ ته یې وویل ـ ملګرو چې وړوکې کشتۍ کې کښینۍ په دې کې هغو دواړو تمانچې راویستلې ـ ویلې هله ګزمه راغله ـ نیول کېږو ـ دغې وړوکې کشتۍ ته دانګۍ ـ بس موږ له ډاره په هغه وړوکې کشتۍ کې چې خالي پلاستیک نه جوړه وه ـ ددغې وړوکې کشتۍ منځ چې تقریباً څلور متره په اوږدو او دوه متره په سور وه ـ له غټې کشتۍ نه یې په بحر کې خوشې کړو ـ وې ویل هلته وړاندې د هامبورګ ښار دی ـ پولیس درپسې راځي تاسې شیبه په شیبه پشینګونه هوا ته ولۍ ـ چې ګزمه تاسې ووینې ـ او درپسې راشي ـ موږ چې یې په بحر کې خوشې کړو هغې کشتۍ حرکت وکړو ـ له موږ چې بیله شوه ـ هغه دوه کانتینرونه یې له کشتۍ نه بحر ته وغورزول ـ په سترګو مې ولیدل چې هغه دوه

کانتینرونه په بحر کې ډوب شول. او هغه لویه کشتۍ له هغه ځایه په بیړه لاړه . یو ازې موږ لس تنه په هغه وړو کې ډک کړي پلاستیکي کشتۍ کې ناست وو . د بحر د اوبو څپې کشتۍ ته راوختلې . موږ له ډاره په هغه د خطر نه ډکه کشتۍ کې زیږ زبیخلي ناست و . په موږ کې هغه یوه پشینګ هوا ته خوشي کړ. وې ویل مه ډاریږئ. اخر به خدای مهربانه شي. او دا یې هم وویل. دې د ظالم زامنو هغه دوه کانتینرونه بحر ته وغورزول. موږ دا طالع کړې ده چې په کانتینر کې نه و . الله به خبر کړي مه وار خطا کیږئ . موږ چې یې په بحر کې خوشي کړو . هغه کشتۍ له سترګو نه پناه شوه . موږ په بحر کې د اوبو په سر پاتې شوو . یو یو پشینګ ( رڼا غورځوونکې ګوله ) به مو هوا ته توغاوه . موږ ته یې یو ازې په اشاره سره ویلي و چې هامبورګ پلو ته به پشینګونه هوا ته توغوئ ماسپښین شو څو ساعته تیر شول. وروسته بیا ډیر لیرې د سترګو په لیدو سره یوه کشتۍ روانه وه.

موږ چې به پشینګ هوا ته پورته کړ . په هوا کې به یې سره لمبه پورته کړه . په کشتۍ کې د اوبو په سر غړپیدلو . مازدیګر لګیدلی و چې هغه روانه کشتۍ زموږ خواته راورسیده . موږ سره صرف یو پشینګ پاتې و چې هوا ته پورته شو . کشتۍ راتله راتله تر څو موږ ته راورسیده . خدا زده د کوم ملک به وه ودریده . د کشتۍ له پاس نه یوه زینه راښکته شوه . یوه تن اشاره وکړه په انګلیسي یې وویل یو یو تن په زینه راخیژئ. په وار وار ختلو تر څو لس واړه لوې کشتۍ ته وختو . د کشتۍ په مخ کې یې کښېنولو . پوښتنې یې رانه پیل کړې. موږ سره چې کوم کس په انګلیسي پوهیده ټوله قیصه یې ورته تیره کړه . له موږ هر یوه نه یې پوښتنې وکړې له یوه یوه نه یې انټرویو واخیسته . بیا یې وویل په قاچا قبرانو ګزمه راغلې ده . ځکه خو یې تاسې په بحر کې خوشي کړي یاست. موږ ورته د دوه کانتینرونو هم وویل. هغوي هر یوه به سر خوځاوه . او افسوس به یې

کاوه ـ موږ یې هماغه ځای ته ورسولو کوم چې قاچاقبرانو راوړي وو ـ له کشتۍ نه یې ښکته کړو ـ وې ویل همدلته کښېنئ اوس درپسې موټر راځي ـ هماغه خپل ځای ته مو رسوي ـ موږ لس تنه سره په دې خبره بې اتفاقه شوو چې چا ویلې که پولیس مو ونیسي حتمي به مو واپس ولېږي ـ چا به ویلې پخپله ځوو ـ بس په همدې مو پرېکړه وکړه چې پخپله په سړک ځو که موټر پیدا شو ددې ځای ادرس او پته به ورکړو ـ که په لاره پولیس هم راغلل همدا پته به ورکړو ـ موږ چې په سړک دوه کیلو متره لاره ووهله ـ کتل مو چې له شانه یو بس موټر راغی ـ لاس مو ورته ونیو ـ پورته یې کړو ـ هماغه هلک چې په انګلیسي پوهېد ادرس یې ورکړو او تر دې ځای یې راورسولو ـ هغوي په دا نورو کوټو کې دي ـ موږ دوه تنه یې دې ستاسو کوټې ته ورکړو ـ ددې کور خاوند زموږ د حاله پوره پوره خبر شوی و ـ موږ چې راورسېدو هغه یو ازې خپله ګوته خولې ته ونیوله ـ یانې ټینګار یې کاوه چې ګني پام چې چاته څه ونه وایاست ـ ده وې ما چې ددغه هلک خبرې واورېدې ـ سوچ واخیستم په فکر کې لاړم د هغوي په خیال کې ډوب شوم کوم چې د بحر په منځ کې کانتینرونو کې ډوب شوي وو ـ بیخي مې د جرمني له تګه زړه تور شو ـ او اومې وې چې طالب جان بنده نور به لا په دې لاره څومره مېندو راوړي ددغه بحر خوراک شوي وي ـ ډېر ځوانان به دې قاچاقبرانو په دغه بحر کې د نهنګانو خوراک کړي وي ـ هغه ځوان زما په اند ښنه پوه شو ـ وې ویل ـ اندېیواله تشویش مه کوه ـ موږ او تاسو له وطنه په دې نیت راغلي یو ـ هیله من یم چې په ښه طریقه سره به که خدای کول تر جرمني ورسېږو ـ ما وې هو وروره توکل په خدای ـ په دې وخت کې یو ښکلې زلمی کوټې ته راننوت ـ خپلې سترګې یې په کوټه کې وغړولې ـ بیا یې په موږه سترګې ولګېدلې ـ خوا ته رانژدې شو ـ سلام یې واچاوه ـ هغه بل هلک ورته په پښتو کې وویل ـ راځه کښېنه دا هم زموږ وطندار دي ـ ما چې ولید

سترګې مې پرې خوړې شوې.ما وې وروره په خېر راغلې.هغه هم راسره په خورا زړور توب او مینه ګړه بړه وکړه.خپل ځان یې رامعرفي کړ.هغه ډېر ژوندی ، مینه ناک او د ښه خوي خاوند معلومېده.هغه پاکې جامې اغوستې وې پوره ښکلی ښکارېده.ما هم هغه ته ځان ور معرفي کړ.یوازې د خپل کلي نوم مې ورته ونه ښوده.زه پوه شوم چې هغه هم زموږ د سیمې سړی دی.پوره یې ډاډه شوم.ویلې موږ خو دلته په دې کور کې یوه میاشت کېږي چې راغلي یو.دلته خو دا درې کورونه چې دي په هر کور کې څلور څلور کوټې دي.دا ټولې کوټې همدغسې ډکې وې او تشې ږي.نزدې شا و خوا کې کلي کورونه نشته دی.موږ ته د ورځې د وتلو اجازت نشته دی د شپې دغه باغ کې سړی ګرځېدلی شي.په دې یوه میاشت کې له دې ځای نه ډېر خلک وچلیدل.که خدای کول یوه ورځ به موږ هم لاړ شو.هغوي دواړو سره خپلو کې وویل.د کور والا ته به ووایو.چې موږ درې واړه یوې کوټې ته ورکړي ترڅو په تلو کې په یوه ګروپ کې یو ځای لاړ شو.هغوي دواړه په همدې خبره پسې ووتل.ما ته یې وویل موږ بیرته راځو ته دلته اوسه.زه پاتې شوم او هغوي لاړل.زه زړه نیولی د کوټې نه بهر یوه ګوټ ته کښېناستلم.فکرنو او چروټونو پسې واخیستم.د تاجو پخواني یادونه (طالب جانه زه درسره په پښتو او مینه قسم خورم چې د عمر تر اخره به درسره یم) مګر زه چې کله بندي شوم.بیا مې د هغې له طرفه کوم سوال ځواب قدرې هم ونه لید رښتیا چې په ښځه طایفه باور نشته.هډو صبر یې هم ونه کړ.فارسیوان یې واخیست او ورسره لاړه.هئی افسوس دا و زما د مینې انجام.ځانته مې پام شو هلکه ته اوس دا خبرې پرېږده.غم ددې کوه چې دا د کافر زامن مې د ماهیو خوراک نکړي.دا دومره زندانونه مې وګالل.سختې تنګې رابا ندې د نوم افغانانو له خوا تیرې شوې.سر دي ان تر دې ځای راورسېد.اوس نو جرمني ته په تلو کې سرونه خوري.مړه څه چې ددې نورو انسانانو څه

حال و هغه به ستا هم وي. له ځایه پاڅېدم د کور په دهلیز کې مې چکر واهه چې یو موټر د کور وړاندې ودرید. زه ورته متوجې شوم ما وې کېدی شي قاچا قبر موږ ته د تلو وواي. کتل مې له بس موټره تور سرې کسان راښکته شول. یو سړی د یوې ښځې او یو ماشوم سره هم له سرویسه راکوز شول. هغوي زموږ د کور تر څنګه بل کور ته بوتلل زه خپلې کوټې ته ننوتلم. یو تن د سګرېټ پاتې شونې یانې د سګرېټ نیم سوخته نه هم پسې کم وغور ځاوه. یوه بل سړي هغه نیم سوخته سګرېټ باندې سمه حمله وکړه او راوایې خیست. په خپلو پیړو شونډو کې یې ونیو او په زور یې کش کړ. په سپیږمو یې دود راووت. له ځان سره مې وویل. دا سړی بې پیسو دی ځکه یې په نیم سوخته سګرېټ داسې حمله وکړه ما وې ته خو راځه پوښتنه تري وکړه چې څه درته واي. خوا ته یې ورنږدې شوم. ما وې ?Where are you come from هاغه سر و خوځاوه په لاس یې اشاره وکړه یاني نه پوهېږم. په منډه لاړ یو بل تن یې راوست. ما ته یې اشاره وکړه. چې له ده سره په انګلیسي وغږېږه. ما هاغه ته دد غه سړي د نیم سوخته سګرېټ په حقله وویل. هاغه خپل تندی نور هم ګونځې کړ په انګلیسي یې وویل. دا سړی د افغانستان دی. درې میاشتې کېږي چې له مسکو نه موږ سره یو ځای راغلی دی. کله چې زه له هندوستان نه مسکو ته راغلم یوه میاشت وروسته مې د یوه قاچاقبر سره خبره د راتګ کړې وه. ده هم ورسره لا زما نه مخکې خپله خبره کړې وه. ده ورته درې زره ډالر مخکې ورکړي و. هغه قاچا قبر اصلاً روسي و. دفعتاً یې ځان غیب کړ. نورو د هغه سره شریکو کسانو به ویلې هغه سایبریا ته تللی دی. نن سبا و اپس راځي. له ډېرو نه یې پیسې وړي دي. بیا مو بل قاچا قبر پېدا کړو. دې بیچاره د کوم بل افغان نه نورې پیسې پور کړې. زموږ مربوطه قاچا قبر ته یې ورکړې. بس دومره پیسې یې پور کړې وې چې هغه ته یې ورکړې. او د هغه بنه والی دا دی چې کله پیسې واخلي په

ګرنتهی سړی المان ته رسوي .نو دا بې پیسو دی ځکه نیم سوخته سګریټ وهي. نور مې نو ده ته څه ونه ویل. پخپله مخ لاړ. افغان ته مې وویل .ته د کوم ځای یې هغه او چت ښکاریده چې فارسیوان دی .په فارسي مې ورته وویل. ورورہ د کوم ځای یې ؟ هغه لږ څه خوشاله غوندې شو .سمد ستي یې وویل زه د شمالي د جوزجان د سیمې یم. ما وې وروره ته خو دې خپله قیصه راته وکړه .هلته دې څه کار کاوه .څنګه راغلې ؟ هغه یو ساده سړی ښکارېده. وې ویل. وروره ته هم افغاني یې ؟ خوا ته مې رانژدې شو .په خواره خوله یې وخندل. لاس یې پورته ونیو وې ویل شکر است که افغان خود را دیدیم. هغه بیخي په پښتو نه پوهېده .زه مجبور وم چې فارسي مې ورسره ویلې وای .هغه راته چالان شو ویلې زه په اصل کې د جوزجان یم .هلته مې د قالین بافی دستګاه درلودله. د قالینو دوکانونه مې ول. دوستم مې په کور حمله وکړه. په ډزو کې زما ورور ، میرمن مې او یو څلور کلن زوی مې ووژل شول .د هغه په سترګو کې اوښکې وځغلېدې. ستونې یې راډک شو. په ژړغوني اواز یې وویل د کور سامان ، قالیني پیسې هر څه یې راته تالا کړل. دوکانونه یې رانه واخیستل. په جګړه کې له هغو نه هم کسان ووژل شول. اخر هر څه یې رانه واخیستل. ماته په کلي کې هیڅ پاتې نه شول. مجبوره شوم تاشقند ته مې ځان ورساوه. څه پیسې چې راسره وې. په یو کال کې مې مصرف کړې .ځینو کسانو راته وویل. چې جرمني ته ډېر مهاجر روان دي. ته هم لاړ شه .هماغه و چې لومړی کیف ته راغلم .په کیف کې هم تقریباً اته میاشتې پاتې شوم. درې زره ډالره رانه یو روسي پدرنالتي وتښتول. یوازې لما نه بلکې له ډېرو نه یې پیسې یووړې .بیا مې له یوه وطنندار نه چې زموږ. خپلوان و .څه پیسې پور کړې بس ودې قاچا قبر ته مې ورکړې. همدغه ګروپ سره یې زه هم راوړم. تر دې ځای خو راورسولم. چې نور به څه کېږي. هغه له جیب نه دستمال راویوست خپلې اوښکې یې پرې وچې

کړې.زما یې هم ځُرت راخراب کړ.خالي تش اسویلي مې له خولې ووت. هاغه خپلې سترګې په مځکه پورې نیولې وې.په ژور فکر کې لاړ.ما یې د سوچ مخه ونیوه.ورته مې وویل.خبر دی وروره مه خفه کېږه.زموږ د ټولو افغانانو دغه حال دی.د هر افغان مخې ته غمونه پراته دي.ځان کلک ونیسه .په ټول افغانستان کې د قوماندان سالارانو له لاسه اولسونه تباه شول.داسې ظلمونه او ناروا وي یې وکړې چې د افغانستان په ټول تاریخ کې نه دي شوي.چاره نشته دی اوس خو زموږ سرته راغلې ده.موږ باید ځان ونه بایلو.ته هیڅ تشویش مه کوه.یو ځای به سره ځو. که خدای کول تر جرمني به هم ورسېږو.ورخطا کېږه مه.زه درسره یم.په دې خبره هغه ماته په خوار نظر راوکتل.وخت د ډوډۍ خوړلو و.کوټې ته ننوتو د کور سړي ډوډۍ او پاخه چرګان په خلکو ویشل.له ده نه مې پوښتنه وکړه.نوم دې څه دی ؟ده وې نوم مې قمربای دی.د کور په دهلیز کې ودرېد وې ویل.زه به د خپل ګروپ کوټې ته لاړ شم.ما وې ښه ده ورشه ډوډۍ دې واخله.بیا به وروسته ګورو.زه هم خپلې کوټې ته ننوتم. ماته یې هم ډوډۍ راکړه.میز ته کښېناستم.شا و خوا مې نور کسان ناست و ټول په ډوډۍ خوړلو مصروف و.د کوټې په وړاندې کنج کې افغاني فامل میز ته ناست و هغوي خپلو کې خبرې کولې.په ډوډۍ لګیا و.پېغله لور یې د خپلې ځوانۍ او مستۍ له لاسه هر چا ته هرې خوا ته کتل.په مخ یې پوډر پورې کړي و.له اندازې نه وتلی سینګار یې کړی و. پوره ښکلې وه.خو هر سړی د خپل سفر او مشکلاتو په سوچ او فکر کې غرق و.څوک یې په قیصه کې نه و.خو هغه دومره په عذاب وه چې وتله او ننوتله به.له موږ سره په ګروپ کې ښکلي زلمیان نه و.چې د هغې ساعت پرې تیریدی.د جینۍ مور و پلار ورته پوره ازادي ورکړې وه. څښتن او ارتینه دواړو هم افغاني شرم او حیا غورزولې وه.ځانونه یې په اروپاي ټیپه ډول کې ښودل.له پامه مې بدي راغلل.ځکه چې هلته یو

شان وو ـ خو چې څومره جرمني ته نژدې کېدل هغومره بدلېدل ـ کوښښ به مې کاوه چې ترې لیرې لیرې او سیداى ـ خو نه کېده ـ یوه لویه کوټه وه چې په دغه کوټه کې موږ نهه تنه او سېدلو ـ څلور دوي وو ـ یو زه درې تنه سیري لانکا او یو تن د پاکستان د پنجاب نه و ـ پنجابي او سیري لانکایان له رنګه دومره تور ول چې بس خالي غاښونه یې ښکارېدل ـ په عمر پاخه سړي وو ـ یو د بل سره هیڅ خبرې اترې نه وې ـ او هم یو د بل په خبرو نه پوهېدل ـ زه خو به ټوله ورځ په کوټه کې نه وم ـ ماته د افغاني کورنۍ کرکټر هیڅ خوند نه راکاوه ـ پنځلس شپې مو په دې کور کې تیرې کړې ـ په شپاړسمه ورځ سهار وختي یې ټول له دغه ځایه ویستلو په دوه سرویسونو کې یې کښېنولو ـ اوبه او خواړه یې پوره راکړل ـ سرویسونو یو د بل پسې حرکت وکړو ـ هیچا هیڅ نه ویل چې چیرې ځو ـ زه د سرویس چلونکي تر شا څوکۍ باندې ناست وم په څنګ کې مې افغان جوزجاني ناست و ـ هاغه ډېرې خبرې نه کولې ـ ماته یې وویل که په انګلیسي له ډریوره پوښتنه وکړې چې موږ چیرې وړي ـ زه هم رښتیا متوجې شوم ترې او مې پوښتل ـ هاغه وویل ـ د جرمني سرحد په لور مو بیایم ـ زما په زړه کې د کشتۍ او کانتینرونو پېښه نیغه ودریده ـ هاغه ځل خو راباندې مرګ تیر شوی و ـ جوزجاني رانه تپوس وکړ ـ ما وې جرمني خوا ته روان یو ـ هغه د ژور سوچ نه راووت ـ بیرون له سرویس نه یې سیمه له خپلو سترګو رالاندې کړه ـ زه نو زیاتي د بحر او کشتۍ په فکر کې شوم ـ درې ساعته لار ووهل شوه ـ ماته سودا پیدا شوه ځکه چې بحر ته د تلو لار خو موږ لیدلې وه ـ دومره اوږده نه وه ـ له سرویس چلونکي نه مې بیا پوښتنه وکړه ـ خو هغه ځواب رانکړ ویلې زه معلومات نه لرم ـ په سرویس کې ناست خلک چوپ ناست وو ـ هغوي ټول په دې چوپتیا بلدول ـ ماشومانو هم نه ژړل ـ په لاره نورې موټرې نه تلې ـ ډېر وخت وروسته به کوم ګاډی تېر شو ـ په سرویس کې هر سړی په دې سوچ

کې و.چې کله به جرمني ته رسېږو.زه پوره په دې پوه شوم چې په کومه بله لاره مو اړوي.پس له څو ساعتونو وروسته یوه ځنګل ته ورسېدو.شا و خوا هیڅ ابادي نه لیدل کېده.ګاډي ودرېدل.خلک ترې ښکته شول.کتل مو چې دوه تنه مخامخ زموږ خوا ته را روان ول.هغوي چې کله موږ ته راورسېدل.د دواړو سرویس چلونکو سره یې زر زر څه سره وویل.سرویس موټرې واپس لاړې.هغه دوه تنه چې له ونې جګ جګ قوي هیکله په رنګ سپین او سره و.لوړې پوزې ښایسته ځوانان وو.موږ یې د ځنګل منځ ته رهنماي کړو.دواړه په انګلیسي ښه پوهېدل.وې ویل چې همدلته به د ماښام تر خړې لګېدو پورې پاتې شئ.موږ یې په دوه ګروپونو ووېشلو.دیارلس تنه یو ګروپ او دیارلس تنه نور بل ګروپ شول.دواړه ګروپونه یې سره بېل کړل.له هغو دوه تنو څخه یو تن د یوه ګروپ سره او بل یې د دویم ګروپ سره شول.وې ویل چې هر کله له ځنګل نه ووتلئ او شاړې ته شوئ.سرحدي ګزمې ګرځي د موټرو ګروپونه لګیدلي دي.تاسو به ځانونه غلي نیسئ پروت به کوئ.او کله چې مو ولیدل چې د موټرو چراغونه لګیدلي نه دي پوه شئ چې دغه زموږ موټران دي.دستي به ورخېژئ.خو لکه د برق غونډې به موټر ته ورخېژئ نو راخوا نه بیا د المان ځمکه ده.موږ یې په ځنګل کې کښېنولو.د ځنګله ونې ګڼې وې څوک نه پکې معلومېدل.د غره پېښه راکوزه شوې وه.هلته وړاندې د غره په لمن کې د اوبو یخه چینه وه.خلکو پکې اوبه وچښلې.پاس د غره په وړاندې څنګ کې د کومې بانډې نه د سپي غپا اورېدل کېده.د ماسپښین څلور بجې وې.ماښام خړې ته لا ډېر وخت پاتې و.ځینو کسانو د ونو لاندې ډډې ووهلې.چا پکې یوه سترګه خوب هم وکړ.هغه دوه قاچا قبران وړاندې په یوه جګ ځای کې د کمره دپاسه ناست و.شا و خوا یې څارله.خپل تر منځ یې خبرې کولې.جوزجاني ترې سګرېټ وغوښتل.هغه یوه ورته ډکه قطۍ ورکړه.خوشاله راغې زما تر

څنګه کښېناست ما وې ښه شول چې ډک دبلی سګریټ یې درکړل . هغه وخندل ویلې دا مې د ډېر وخت کېږي . هغه یو سګریټ ولګاوه . لوګی یې په خوله او سپږمو ووت . په فکر کې لاړ . لږه شیبه وروسته مې ترې پوښتنه وکړه . ما وې څنګه په فکر کې ډوب شوې ؟ وې ویل والله اګر ما پیش رزین مشکلات خبر می بودم نمی امدم . ما وې خیر دی اوس خو رارسیدلي یو . یوازې همدا د جرمني سرحد پاتې دی . خدای مهربانه دی له دې نه به هم تېر شو . هغه د سر په اشاره راسره تائید کړه . اووې منله ګني چې له ډېرو مشکلو شپو ورځو وروسته جرمني ته راقابو شوي یو . ماته بریښېنده چې له ټولو نه خپلې تیرې قیصې هیرې شوي دي . یوازې جرمني ته د رسېدو په فکر کې هر سړی اخته و . ما زدیګر شو . زموږ د ګروپ سړی راغی موږ ته یې وویل . څوک په تاسو کې په انګلیسي ښه پوهېږي . یو سیرلانکایي په انګلیسي پوهېده . او زه هم . قاچا قبر وویل تاسو چې هر کله موټرو ته وختلئ او له سرحده واوختئ . تاسو به تر یوې ابادۍ پورې وړي . او هلته مو له موټرو ښکته کوي . نور تاسې بیا پخپله ځانونه پولیسو ته تسلیموئ . زموږ ذمه واري ختمېږي ما د هغه خبرې د خپل ګروپ کسانو ته ترجمه کولې . زموږ ګروپ کې شپږ تنه افغانان و . هغوي مې و پوهول . په دې خبرو کې ما زدیګر قضا شو . ورو ورو خړنۍ لګیده . تر څو چې تورتم ولګید . زموږ ګروپ ته یې لومړی حرکت ورکړو . له موږ نه هغه د ارتباط سړی مخکې شو موږ ورپسې وروسته ور روان شو . په ځنګل کې مو ښه شیبه مزل وکړو . ورپسې ونې ختم شوې شاړه مځکه او لوخې مخې ته راغلې . په یوه کنده ور برابر شو . په هماغه کنده کې یې کښېنولو . لږه شیبه لا نه وه تیره چې د موټر غرهاری مو تر غوږ شو . موږ ټول متوجي شو . د ګاډي غرهاری رانزدې کېده . تر څو زموږ خوا ته راورسېد . د موټر سترګې یې لګولې نه وې . موږ په یو ترپ او خرپ سره موټر ته ورپورته شولو . ټول په یو بس ګاډي کې کښېناستو . ځینې

کسان د څوکیو تر منځ کښېناستل۔موټر په ډېره چالاکۍ سره حرکت وکړ ۔بوس موټر په هغه اندازه ګړندی روان و ۔چې پکې ناست خلک ډار ېدل ۔ موږ هيڅ پوه نشو چې هغه دويم ګروپ څنګه شو ۔خو زموږ موټر په بيړه سره د سرحد نه راتير شو ۔څو کيلو متره لاره چې يې ووهله۔بيا يې د موټر څراغونه روښانه کړل۔موټر په همغه سرعت کې روان و ۔له يو ساعت مزل نه وروسته د موټر سرعت کميده کميده تر څو چې ودريد ۔موټروان په انګليسي وويل۔هله زر شئ له موټره ښکته شئ دا جرمني دی۔دا ځای هايزن هوتن شتاد ته نزدې دی۔ګورئ هغه د بربښنا ګروپونه چې ښکاري ۔همدغه ښار دی۔همدلته سرويس راځي په دغه بوټو کې تر هغې کښېنئ ۔تر څو سهار وختي سرويس دې ځای ته راځي نور مال پکې کښينئ ۔ښار کې چې ښکته شوئ سمدستي به پوليس ته ځانونه تسليم کړئ۔پوليس تاسو بيا سياسي پناهندګۍ ته بيای ۔موږ چې رښتيا وکتل وړاندې د بربښنا ګروپونه ښکاريدل ۔تقريباً تر هغه ځايه به لس کيلو متره لاره ښکاريده ۔چربانګ وخت و چې هوا لږه يخه هم وه ۔چيرته د موټرو غر بر نزدې نه و ۔ولې ليرې په سړکونو يو نيم ګاډی به تيريده ۔زموږ له خوا نه سرويس چلونکي په خورا چالاکۍ سره حرکت وکړ او لاړ ۔موږ د سړک پغاړه د بوټو منځ کې غلي کښېناستو ۔مونږ لوی واړه ، ښځې او نر ټول ديارلس تنه وو۔ټول لکه د مچو چک غونډې يو بل ته نزدې ناست وو۔ زړونه مو درزېدل چې څه به راپېښېږي۔تقريباً دوه ساعته مو انتظار ويوست۔د سبای رڼا ولګيده ۔زموږ خوا ته کلي ښکاره شو ۔د موټرو غر بر هم زيات شو ۔شا و خوا سړکونو کې موټران چليدل۔زه د بوټو له منځه راووتلم۔د سړک پغاړه لږ وړاندې لاړم هلته د سرويسو تم ځای و ۔يوه اوږده څوکۍ سرته وه له پاسه پرې وړوکې غرفه ګۍ راتاو شوې وه۔د سرويس موټر د تګ راتګ پلان او وخت لست پاڼه په ديواله پورې نښتې وه۔د لارې او کليو نقشه هم پکې وه۔ما په هغې ځان مصروف کړ۔

څو تنه نور هم زما خوا ته راغلل. لږه شیبه وروسته له وړاندې نه سرویس راغی. زموږ کسان ټول له بوټو نه راووتل. د سړک پغاړه ودریدل. د ګاډي انتظار یې کاوه. سرویس چې څنګه راورسېد. ټول د سترګې په رپ کې سرویس ته پورته شول. سرویس په موږ ډک شو. چلونکی حیران پاتې شو. راپاڅید موږ ته یې حیران حیران کتل. ځکه چې د هغه په ژوند کې په دغه ځای دومره ډېر خلک په دې شنه سهار نه و پورته کړي. هغه پوه شو چې دا ټول خارجیان دي. له هر یوه نه یې چې پیسې غوښتې چا سره پیسې وې او چا سره نه وې. ځکه چې الماني روپۍ خو د هیچا سره په جیب کې نه وې. یوازې ډالرې درلودل. هغه خو الماني پیسې او کرایه غوښته. ما ورته په انګلیسي وویل. دا ټول خارجیان دي الماني پیسې نه لري که ته موږ ښار ته یوسې او پولیسو ته مو تسلیم کړې. هم به ستا کرایه وشي او هم به زموږ مشکل حل شي. بس هغه په دې خبره راضي شو او ښار ته روان شو. هغه مخکې پولیسو ته ټیلیفون کړی و. کله چې یې موږ ښار ته یوووړو. د ښار په یوه لویه لوحه لیکل شوي و. هایزن هوتن شتاد ته ښه راغلئ. دا لیکنه په الماني لیکل شوې وه. بس ګاډی برابر د پولیسو په دفتر کې ودرید. لومړی یې له موږه پیسې ټولې کړې. سرویس چلونکي ته یې ورکړې او هغه لاړ. موږ یې یوه لوی تالار ته بوتلو. په تالار کې په څوکیو کښېناستو. دوه ساعته وروسته چې رسمیات پیل شول. موږ یې یو یو تن غوښتلو یوې ځانګړې کوټه کې یې زموږ عکس اخیست او ګوتې یې راباندې لګولې. بیا یې په یوه بل دفتر کې نوم او د کورنۍ نوم ، د خپل وطن نوم ، دین او له کوم ملک نه چې راغلي و دا مکمل ادرس او پته یې لیکله. په دې ترتیب یې د ټولو ادرس او پته واخیستله. وروسته له یوه ساعت نه یې هر چا ته یوه یوه پاڼه ورکړه او ټول یې په یوه لوی بس موټر کې کښېنولو. له لږې شیبې وروسته یې یوه عسکري قیشلې غوندې ځای ته یوووړو. کله چې له ګاډي ښکته شوو. په

دريڅ کوټو کې یې سره وویشلو .د هر چا بستره ځای ځګی معلوم شو .بیا یې یوې طعام خورۍ ته بوتلو .چای ډوډۍ ، پنیر ، شیدې هر څه پریمانه و .په طعام خانه کې نور ډېر خلک تور سپین ، ښځې نر ، لوی واړه لیدل کېدل .زموږ د ګروپ راغلي کسان پوره خوشاله وو .چې جرمني ته راورسېدل .موږ چې پکې اوسېدلو دغه د خارجیانو د سیاسي پناهندګۍ مرکز او لوی هایم وه .دا هایم د هایزن هوتن په نوم یادیده. چې سرحد ته بیخي نږدې وو په دې لاګر کې له زرو نه زیات خارجیان اوسیدل.د کوم چا چې به ډېر وخت پکې تېر شو .انټرویو چې به یې ترې واخیسته بیا به یې یو بل لاګر ته بیول.په دغه هایم کې نور افغانان هم اوسیدل.په هره ورځ به سهار نهه بجې له خارجیانو سره انټرویو پیل کېده.تر یوې بجې به یې دوام کاوه.هره ورځ بس همدا کار و.هر چاته یې ګوډ شاینونه ورکول چې په هغې به یې بیا خوا ته د ریال په لویه مغازه کې خپل د احتیاج وړ خوراکي توکي رانیول .او چا به لا برلین ته وړل په ترکانو یې خرڅول.نغدې روپۍ یې تر لاسه کولې.ګوډ شاینونه د الماني پیسو معادل کاغذي لوټونو پشان و .د هر یوه ګودشاین د هغه د احتیاج نه زیات ول.نو ځکه خو به ځینو خرڅول.له څو ورځو وروسته زما د لارې ملګری جوزجاني په جیب کې هم پیسې پېدا شوې.بیا به یې پوره د سګرټو ډک پاکټ په جیب کې پروت و.ورو ورو یې خوي بدلیده.موږ سره یو ځای چې هغه افغاني فامیل راغلی و .هغوي ته یې یوه کوټه ورکړې وه.خو ما سره یې بیا وروسته حتا سلام علیک قدرې هم نه کاوه. ډېر زر یې خپل اصلي هویت او کلتور له لاسه ورکړو .زما چې به ځان ته فکر شو نو زړه کې به مې وویل.طالب جانه لکه چې ته به هم له دوي غوندې شي او که څنګه ؟داسې ډېرې پوښتنې به مې له ځانه کولې.په پینځه وخته مانځه مې قضاي نه راوسته.هماغه طالب جان وم.چې څنګ پخوا وم.مګر د افغانانو نه مې ګیله راتله چې دوي ولې دومره زر

خپل دین او کلتور ته شا کوله.په هر صورت په دغه ښار کې مو شپې ورځې تیرولې.بې له اجازې هیڅوک چیرې نشوای تلای.لکه د عسکري پشان قیود او انضباط موجود و.په دې چې Heisen hutenstadt هایزن هوتن شتا د یو سرحدي ختیځ المان ښار وه.دا ښار براندنبورګ ته سل کیلو مترو کې نږدې پروت و.همدا شان یو سلو پنځوسو کیلو مترو کې برلین ته جنوب ختیځ پلو پروت و.په هایم کې ویل کېدل چې یو کال د مخه همدا ښار برابدندنبورګ ، برلین او تر لایفزیک پورې مځکې پخواني شرقي المان دی.ددغه سیاسي پناهندګۍ مرکز نه به هره ورځ څه زاړه کسان نورو لاګرونو ته تلل او نوي سیاسي پناهندګان به ورته راتلل.بس همدغه لړۍ روانه وه.په هایم کې به مهاجرو د انټرویو خبرې اترې کولې.له افغانانو مې اوریدلي و چې که چا ښه انټرویو ورکړه.هغه به قبلیږي او که خرابه انټرویو یې ورکړه رد یږي .دا خبرې مې چې واوریدې حیران وم چې ښه او سمه انټرویو به څنګه وي.یوه تن افغان راته وویل.په ښار کې یو ډګروال دی چې پخوا راغلی دی.هغه قبول شوی دی.له هغه نه چې پوښتنه وشي او سیاسي بیان ترتیب کړې نو ګمان کوم چې ډیر زر به قبول شي.هماغه و چې په پوښتنه پوښتنه مې هغه ډګروال پیدا کړ.کله مې چې هغه ولید .ښه لوړ دنګ سړی و.د اته څلویښتو کالو به وه.سور سپین رنګ لوړه پوزه تور بریتونه چارشانه او د قوي مټ خاوند و.په لومړۍ لیدنه یې له ما سره په غېږ روغبړ وکړو.

هغه د ښار باهنوف یانې د ریل ګاډو تم ځای کې مو سره ولیدل .ما ورته ځان وروپیژندلو.هغه ډیر خوشاله شو.وې ویل.وروره زه د خورد کابل یم.اصلاً مې رتبه جنرالي ده. خو په ډګروالۍ رتبه مې سیاسي پناه ورکړې ده.دا درې کاله کیږي چې قبول شوی یم.په دې ښار کې اوسیږم نوم (شاه پور، قهرمان) دی.واړه مې هم راسره دي.او ته کله راغلی یې؟ ما ویلې قهرمان صېب دا یوه اونۍ کیږي چې په هایزن هوتن ښار کې په

هغه لوې هایم کې او سیږم زه یو انجنیر یم ـ نوم مې درته مخکې ونه ښوده ـ زما نوم طالب جان دی ـ د ننګرهار د سیمې یم ـ که مهرباني وکړې ـ ماته سیاسي بیان راجوړ کړې چې قبول شم ـ هغه وویل راځه چې کور ته لاړ شو ـ هلته به خبرې کوو ـ ما وې نه کور ته خو درسره نشم تلای ـ یوازې که ماته د سیاسي بیان په حقله څه رڼا واچوې ـ نور به زه فکر پکې وکړم ـ هغه راته په کلکه وویل ـ زه درته پښتون نه ښکارم که څنګه ؟ دا خبرې ددې ځای نه دي راځه هلته به ګړېږو ـ ما چې د هغه احساس او پښتون واله ولیده ځان پورې حیران شوم ـ خو لنده دا چې له ځان سره یې کور ته بوتلم س زما یې ډېر قدر وکړ ـ د چاې ډوډۍ نه وروسته هغه قلم او کاغذ د سالون کوټې ته راوړو ـ وې ویل اوس به ستا سیاسي بیان ترتیب کړو ـ ما وې ښه ده صیب ستا ډېره ډېره مهرباني ـ هاغه ته مې د خپل ژوند ټوله قیصه تیره کړه ـ زما د ژوند قیصه یې خوښه شوه ـ زما د زنداني کېدو سره د هغه دلچسپي زیاته شوه ـ وې ویل چې ستا د ژوند قیصه تا خپله قبلوي ـ یوازې اوس مې دا ستا سیاسي بیان خاکه ولیکلو ـ نور به هم فکر پکې وکړې ـ لومړې به دا لیکنه دویم ځل سمه ولیکې ـ او په یادې به یې یاده کړې ـ د قاضي د هرې پوښتنې په ځواب کې به لنډ ځواب ورکوې ـ ستا د ځواب ښه باید لنډه او کانکریټې وي ـ تشریحي باید نه وي ـ تر ډېره وخته یې زما سره پوره خبرې اترې وکړې ـ د هغه وخت د سیاسي حالاتو سره سم یې راته سیاسي بیان جوړ کړ ـ د تیلیفون نمبر یې راته راکړ وې ویل هر وخت چې درته کوم مشکلات پېښېدل زنګ راته وهه ـ زه به له نزدې نه درځم ـ هیڅ تشویش مه کوه ـ لکه د یوه مشر ورور غوندې یې زما خدمت وکړو ـ ما زدیګر ترې راووتلم او هایم ته لاړم ـ دوه ورځې وروسته مې د انټرویو ترمیم (نیټه) وه ـ خپل سیاسي بیان باندې مې ځان ښه قانع کړ ـ ټولو مهاجرو به ویلې د چا چې سیاسي بیان ښه تېر شي ـ او د مربوطه قاضي د قناعت وړ وګرځي ـ په دوه اونیو کې ورته ځواب راځي ـ قبول کسان بیا

کولې شي ـ چې په نورو ښارونو کې کورونه ونیسي ددې هایم نه سمدستي ویستل کېږي دوه ورځې وروسته مې د انټرویو وروکولو وخت راورسېد ـ د هایم په داخل کې ځانګړي دفترونه وو ـ مخکې له مخکې راته یو لیک راغلی و په لیک کې زما مربوطه قاضي تعین او نیټاکل شوی و ـ وخت او کوټه یې معلومه وه ـ کله چې په ټاکلي وخت خپل مربوط قاضي ته ورغلم ـ یو تن ترجمان راووت او زما نوم یې واخیست ـ زه ورننوتم ـ لومړی ترجمان ځان معرفي کړ هغه په فارسي خبرې کولې ـ ما ورته وویل ـ په فارسۍ پوهېږم ـ پښتو او فارسي دواړه زموږ د وطن ژبې دي ـ ترجمان خوشاله شو ـ په زیر زیر یې راته وکتل ـ هغه هم ځوان سړی و ـ د خبرو لهجه یې هیراتۍ وه ـ د یوې ښځینه قاضۍ سره مې انټرویو پیل شوه ـ هغې راته لومړې ځان معرفي کړ ـ بیا یې وویل ته انټرویو ورکولو ته تیار یې؟ ما وې هو تیار یم ـ زما خبرې ترجمان ورته په الماني کې ترجمه کولې ـ کله چې زما انټرویو نیمایي ته یانې د بندي کېدو او د خلقي رژیم نه تر طالبي رژیم پورې د زندان خبرې او بیان قاضي واورید ـ هغه ډېره متوجې کېده ـ او پوښتنې یې هم ډېرې کولې ـ زما د خبرو سره هغه متاثره کېده ـ یو څه د خپګان په حالت کې به ښکاریده ـ درې ساعته انټرویو وغزیده ـ کله چې زما سیاسي بیان پاې ته ورسېد ـ له سره یې ټوله انټرویو واوروله ـ په پاې کې قاضي وویل ـ دوه اونۍ وروسته تاته د قبلیدو او نه قبلیدو لیک درځي اوس تلای شې ـ ترجمان راته دومره وویل چې انټرویو دې ښه وه ـ قبلېږې ـ ترې راووتم ـ او خپلې کوټې ته لاړم ـ د کوټې انډیوالان مې درې تنه افغانان و او یو تن هندوستانی هلک و ـ هغوي رانه راتاو شول ـ ویلې طالب جانه څه دي وکړل ما ورته د خپلې انټرویو قیصه تیره کړه ـ هغوي ټولو دا خبره وکړه چې حتمي قبلېږې ـ خو هغوي زه خوشالولم ـ په کوټه کې یو زلموټی افغان چې ښکلی هلک و لا رېږه یې نه وه راغلې ـ د بریتو خط یې راغلی و ـ هغه

راته وویل طالب جانه ما خو سمه انټرویو نه ده ورکړې. زما عمر کم دی څه سیاسي کارونه مې نه دې کړي. یوازې ښوونځي مې ویلی او طب نه نوی فارغ شوی وم. او په جرنیلي هسپتال کې مې نوې وظیفه اخیستې وه. خو دیخوا ته راغلم. ما چې دغه هلک خبرې واوریدې. ښه هوښیار هلک راته معلوم شو. هغو نورو دوه تنو افغانانو چې ما سره په کوټه کې یو ځای اوسېدل درې اونۍ وړاندې یې انټرویوګانې ورکړې وې. خو نتیجه یې لا نه وه راغلې. هندوستاني ته د ردۍ لیک راغلی و. دعوه یې کړې وه. شپږ شپږ میاشتې ویزه یې ورته وهله. خو هغه به ویلې انګلستان ته ځم. ډېر یې مهاجر به په څه چل سره تر لندن ته ځان رسولو. فقط د دوه زرو ډالرو خبره وه. په هایم کې زموږ شپې ورځې دومره بدې نه وې. بله ورځ د هایم مخې ته د ماشومانو د لوبو ځای کې په څوکۍ ناست وم. په دغه شیبه کې ځانته وم. یو دم د تاجو په فکر کې لاړم. ډېره موده وروسته هغه په فکر کې راغله. د خپل فکر او سوچ نیلي ان تر وطنه ورسولم. تاجو سره مې د لومړي ځل لیدل کتل را یاد شول. بس په همدغه سوچ کې وم چې ناڅاپه هغه افغان زلمی چې فرهاد نومیده. خوا ته مې راغی وې ویل. طالب جانه نن مې مور راته راځي. ما بې واره له خولې ووتل. اخ ته دلته مور هم لرې ؟ ویل هو مور مې څو کاله کېږي چې دلته راغلې ده. له یو بل ښار نه یې راته ټیلیفون کړی و. هغه پخوا امریکا کې وه. بیا دلته جرمني ته راغله. هغې پسې له ډېرو پوښتنو او لټون نه وروسته زما پته پېدا کړې ده. نن په دوه بجو د هایم مخې ته راځي. ته هم راسره یو ځای د هایم مخې ته لاړ شه. څنګه خوښه دې ده ؟ هو ولې نه کله چې دوه بجې شوې راته ووایه. دواړه په یو ځای ستا د مور مخې ته ورشو. د سهار لس بجې وې چې هاغه مې په خیال کې خار وواهه. لاړم تشناب مې وکړ. بیا مې له مغازې نه خوراکي توکي راوړل. له غرمې وروسته یوه نیمه بجه وه. فرهاد وویل. راځه چې د هایم مخې ته کرار کرار وخوزېږو.

مور دواړه له هایم نه ووتلو .وړاندې په چمن کې په څوکیو کښېناستو .
لږه شیبه وروسته وړاندې د موټر وتم ځای نه یوه ښځه را روانه وه په دې
وخت کې ده راته وویل.زه خپله مور نه پېژنم.د دوه کالو به وم چې هغې
زه پرېښې وم.او هغه راغلې ده.ما وې دا څه وای ؟فرهاده تا خو ما ته دا
خبرې هډو کړې نه دي.زمور په دې خبرو کې هغه مور ته رانزدې شوه.زه
خو یې په قیصه کې نه وم.ځکه چې ما یې له هغې فکر کاوه چې څوک به
وي نو په ما یې څه.خالي ددې هلک سره مې تر دې ځای ملګرتوب وکړ.
هلک ښځې ته متوجې ښو ماته یې کړو.طالب جانه دا خو به زما مور نه
وي ؟ما وې پرې چې ښه رانزدې شي بیا ترې پوښتنه وکړه.هغه څو ګامه
مور ته رانزدې شوه .ما هم ورته پام وکړ .هغه په دریشي کې وه .
سمد ستي مې پرې سترګې ښې ولګېدې .هلک هم د خپل ځای نه
ورپاڅېد.هغې یوازې هلک ته کتل د بل چا په غم کې نه وه.هغه ودریده.
وې ویل زه د خپل زوی لیدو ته راغلې یم .نوم مې تاجو دی .زه هم د
څوکۍ نه راپورته شوم.یو ګام مخې ته ورغلم.فرهاد وویل زه فرهاد یم.
ستا زوی یم.زما سترګې د هغې په څیره کې ښخې شوې.زړه کې مې
وویل طالبه بنده د پردۍ په ښځه کې دې سترګې ښخې کړې دي.داسې
مه کوه.هغوي دواړو غېږ کې یو بل سره نیولي و.ښځې ژړل.خو زما زړه
وارونه کړ.دې خو وویل چې نوم مې تاجو دی.ددې نوم هم...... !
ته خو بیا ورته یو ځل اوګوره .ما ورته بیا سترګې پداسې حال کې
وروا ړولې چې هغوي دواړو سلګۍ وهلې ژړل یې.هغې فرهاد په خپله
سینه پورې نیولی و .مخ یې زما پلو راواړاوه.ما چې د هغې سترګو کې
خپلې سترګې ښخې کړې.هغې فرهاد ته وویل زویه دا څوک دي ؟هغه
پداسې حال کې چې اوښکې یې په مخ روانې وې.وې ویل.دا خو طالب
جان نومېږي.هلک یې له غېږې نه سست کړ.زما خوا ته یې یو ګام
راواخست له سترګو یې اوښکې روانې وې .په یوه تعجبي لهجه یې

وويل ـ ته طالب جان يې ؟ هو زه هماغه طالب جان يم زه خو هماغه تاجو يم ـ دواړو سره غېږ ورکړه ـ فرهاد موږ ته حيران ودريد ـ په وار خطايي او بې واريې يې وويل ـ موري دا څه کوې ؟ هغه دومره بې هوښه شوې وه ـ چې له خولې نه يې غږ نه خوت ـ کله به يې فرهاد ته کتل او زه خو يې په غېږ کې ټينګ نيولی وم ـ له يوې شيبې نه وروسته يې په سينه پورې خپل لاس ونيو ساه يې ويوسته ـ فرهاده زويه دا خو زما خاوند طالب جان دی ـ تاجو فرهاد هم ځانته رانزدې کړ ـ دواړه يې پخوا پورې ونيول او د درې واړو له سترګو نه اوښکې لاړې ـ

پای
۲۰۰۸/۷/۳۱ جرمني کولن

منننه

په انګلستان کې د (                    ) د ټولنې د کار د ډلې غړو او د هغې د مشرانو غړو او له امين کتوازي نه يوه دنيا مننه چې ددې کتاب مالي لګښت يې پخپله غاړه اخيستی دی ـ دوي ته په دې لاره کې نور لا بريالیتوبونه غواړم ـ

په ادب

محمدا جان يار
کولن جرمني

## د محمدا جان یار چاپ شوي اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | کوکارې | شعري ټولګه |
| ۲ | سره ډولۍ | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۳ | د کونړ تاتري | تحقیقي او تاریخي اثر |
| ۴ | ویر | شعري ټولګه |
| ۵ | تړلې کځوړه | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۶ | د لیلیې دښته | ناول ، سترګو لیدلی حال |
| ۷ | ځانګه | ناول |
| ۸ | هوسۍ | ناول |
| ۹ | یه قربان | شعري ټولګه |
| ۱۰ | دا ژوند او دا ځیرې | ناول |

## چاپ ته چمتو اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ګلاب او پریښته | ناول |
| ۲ | سفرنامه | بحرونه او ساحلونه |
| ۳ | کلونه تالانونه | ناول |
| ۴ | زه طالب نه یم طالب جان یم | ناول |
| ۵ | اوښکې | شعري ټولګه |

www.pashtoonkhwa.com

# له بنګاله تر باګرامه

La Bangala Ter Bagrama

( ناول )

کتاب پېژندنه

| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | ــــــــ له بنګاله تر باګرامه ( ناول ) |
| لیکوال | ــــــــ محمدا جان یار |
| خپرونکی | ــــــــ د پښتو نخوا د پوهنې د یره، پېښور |
| د چاپ شمېر | ــــــــ ۱۰۰۰ ټوکه |
| چاپ نېټه | ــــــــ ۲۰۱۲ء |
| چاپ وار | ــــــــ لومړی |
| چاپ زیار | ــــــــ بصیر بیدار ستوری |
| کمپوزنګ | ــــــــ ارشاد خان ( پښتو اکېډیمي ) |
| چاپ ځای | ــــــــ ضیاء سنز پرنټرز پېښور |
| قیمت | ــــــــ ۲۰۰ روپۍ |

# ډالـــۍ

ددې ناول

هغه ټولو کردارونو ته

چې ددې

ناورین او غمیزې

ښکار شوي دي-

یار

## د ژوند کیسه

له بنګاله تر باګرامه ,, ناول ،، د ښاغلي محمدا جان یار د قلم پېرزوئنه ده چې په پښتون اولس ئې کړې ده ځکه د پښتو ژبې په اوسني پړاؤ کې نثر کم او شعر ډېر لیکل کېږي خو د یوې ژبې پرمختګ او ارتقاء په دې کې ده چې د شعر او نظم سره سره په نثر تحقیق او تخلیق ډېر کار وشي.
یار صیب تل د ژوند رښتیني کیسې راخیستې دي او د قلم په ژبه ئې رنګیني او ښکلا وربخښلې ده. هسې که وکتل شي د هر انسان ژوند ځانته یوه کیسه او داستان دی خو ځینې کیسې داسې وي چې ډېرې دردونکې، زړه راښکونکې او د رښتینولۍ په جامه سنبال وي چې لوستونکي نه پرېږدي بلې خوا ته لاړ شي او د کیسې تل (پاې) ته ځان رسوي.
له بنګاله تر باګرامه ناول ما ولوست. دا هم یوه رښتیني او د سترګو لیدلی حال دی چې هر لوستونکی به زما په شان په دې هیله پاڼې اړوي چې نور څۀ وشول؟ څۀ به کېږي؟ او پاې به ئې څۀ وي؟ په دې ناول کې دغه ټول خوندونه او رازونه پټ دي چې خلک پرې ځان خبرول او پوهېدل غواړي. د یار صیب د ناول ژبه ډېره نرمه، روانه او ساده ده چې هر لوستونکی پرې په اسانه پوهیدی شي. د افغانستان د تیرې او روانې غمیزې پیښې او نادودې ددۀ د زیاتو لیکنو اصلي محور جوړوي نو په دې سبب ددۀ د هر ناول ,,داستان،، په کردار کې سړی ځان لټوي او دا ګڼي چې دا قیصې خو په رښتیا په مونږ تیرې شوې او روانې دي. خو ښۀ خبره به دا وي چې هر څوک چې دا قیصې اوري او یائې لولي ځان پرې

پوهه او د اصلاح او عبرت درس ترې واخلي او کیسه تشه کیسه پاتې نهٔ شي بلکې د ټولنې او ژوند په سمون کښې ترې کار واخستل شي.
زهٔ یو ځل بیا ښاغلي محمدا جان یار صېب ته ددې ناول په لیکلو مبارکي ورکوم. قلم ئې تاند او ژوندی غواړم چې د پښتو لمن په خپلو لیکنو ډکه او سمسوره کړي.

بصیر بیدار ستوری

پېښور

د هوټل په دروازه مې لا پل نۀ ؤ ایښی۔چې په ډېر اواز خبرې غوږ ته راورسیدې۔له ورونه مې چې سر دننه کړ۔په کټونو کې ناستو خلکو مې سترګې ولګیدې۔ځوک د چایو په څښلو بوخت وو۔ځینو خپلو کې سره قیصې راخیستې وې۔د سموات په تاخچه کې خیرنې راډیو کې پنجابي ګانې کیدې۔دروازې ته څیرمه درې کټونه اخوا ، په یوه کټ کې یوه لـه رنګه سور سپین سړی بالښت تـه ډډه وهلې وه۔مخامخ کټ تـه ناستو دوه تنو ته په زوره زوره لګیا ؤ۔د نورو په قیصه کې نۀ ؤ۔

زۀ د هغوي سره په څنګ کې کښیناستم۔مخامخ راتـه دوه تنـه سړي ناست وو۔هغه یوه بل ته تازه شوی چیلم نیولی ؤ۔هغه د ظالم زوي داسې په خوټ ، خوټ راښکد ، چې یوه شنه لوخړه یې پما راوسته۔په ما د تنباکو لوګی ډیر بد لګي۔د څادر پیڅکی مې خولې ته ونیو۔پام مې د ونې څانګو ته شو۔چرچڼو پکې شور راخیستی ؤ۔تـوده بـرو چلیده هډو پاڼه هم نه رپیده۔پاس د غره په ډډه کې څو غواګانې او وزګوړې څریدل۔هلته په کلي کې د تناره لوګي پورته شول۔هغه سړی دا ځل په جګ اواز وویل۔څو ځل راباندې داسې شوي دي۔په میاشتو میاشتو مال تـه پـه کراچۍ کې پاتې شوی یم۔او کله به داسې هم وشول چې کراچۍ کې به قید شوم۔بنګال ته به لاړم۔څو شپې به مې بنګله دیش کې تیرې کړې۔هغه یوه ترې پوښتنه وکړه۔ته ګو یار چې دا بنګال څنګه ځای دی۔ها ؟

د هاغه دغې پوښتنې ته زۀ هم زیر شوم۔په ځواب کې ورتـه هغـه وویـل۔ولـې تـا بنګلـه دیـش نـدی لیـدلی ؟ده وویـل۔قرانګو کـه لـه اټکـه اوښتی یم۔هغه بل تن لوموړی وخندل ، بیا یې ورته داسې وویل۔

چې ته ژوندی یې له نورې دنیا نه به خبر نشئ۔په همدې مردان او چارسده به ګرځې۔داسې نده څۀ ؟ویې خندل او بیا یې وویل دا ما پورې ملنډې وهې۔تا خو کسم دې که مری ( مه ری ) لا لیدلې وی !د ډېر

غږ خاوند وویل.تاسو اوس دا خبرې پریدئ.د بنګله دیش خبره درته کوم.

ما ډیر ملکونه لیدلي کتلي دي .اسیایي او ځینې اروپایي هیوادونو ته هم تللی یم .خپل د تجارت بیل بیل مالونه مې د ځینو ملکونو نه راوړي دي .په تیره بیا لکه ایران، تاجکستان ، هندوستان او نورو نه خو لکه د بنګله دیش پشان غریب ملک مې بل نه دی لیدلی. چې له نزدې سړی ورشي او د خلکو ژوند اوګوري .زړۀ به دې پرې وسوزیږي .بس یوازې سپینې پنډې (غټې ) وریژې پکې کیږي .د ماهیانو نیول او پلورل پکې ډیر باب دی.یوه ورځ له ښاره ووتو.په یوه سیمه ورغلو .او مو لیدل چې د اوبو په سر کلي ودان شوي دي .ګڼ مخلوق پکې اوسیده.راشه درشه وه.کلیو کې د اوبو بیلې بیلې کوڅې وتلې وې.په وړو کشتیو کې ښځې او نر ګرځیدل.په کلي او کورونو کې یو د بل کره تګ راتګ ؤ .مالونه او چرګان په کورونو کې ساتل کیدل. خو داسې ښکاریدل چې د بنګله دیش خوار او ډیر غریب خلک همدغه د اوبو د کلیو خلک وو .د ټولو تقریباً یو ډول ژوند ؤ .کورونه یې هم په یوه نقشه اباد شوي وو .موږ ته په زړۀ پورې پدې وه چې دغسې ابادي او د هغوي د ستونزو ډک ژوند مو کله نۀ ؤ لیدلی.نو ځکه خو یې لیدو ته پوره ډیر وخت تم شو .تر ډیره مو د هغه ځای د اوبو په سر ودانو کلیو سیل وکاوه.یاني خلکو لکه څنګه چې په وچه کې ژوند کوي.د اوبو په کلیو کې هم په نور مال ډول سره یې ژوند کاوه.دغه د کلیو کورونه د لرګیو نه اباد شوي وو .د لرګیو د تختو نه یې دیوالونه دروازې جوړې کړې وې .په وړو وړو کشتیو کې خلکو کلیو او کورونو ته تګ راتګ کاوه .موږ له سړک نه سین غاړې ته نزدې ورغلو .د هغو کلیو د خلکو ژوند مو له نزدې نه ولید .چې له ډېرو مشکلاتو سره مخامخ وو.په اوبو کې ډېرې د کلیو خلکو ماهیان نیول.هر چا خپله کشتۍ درلوده.په

جالونو کې یې ماهیان رانیول او په بازارونو کې یې پلورل چې به په لارو او سړکونو څوک تلل خامخا به ماهیان ورسره وو. تر څو په بازار کې یې وپلوري. د هغه ځای ماهیان هم رنځوران ښکاریدل. غوښن ماهیان پکې هډو نه وو. لوی واړه په اوبو کې خړپیدل. هر څوک د ماهیانو په نیولو بوخت ول. چا په لاسونو اوبو ته جالونه غورزول او ځینو طوفان جال خورولو. چې دغه کاروبار د بنګله دیش د خلکو اصلي کسب ښکاریده. ملګري مې راته کړو. ګوره چې هلته یې توپان جال خور کړی دی. ما چې ورپام کړ. رښتیا څو تنه وړاندې د اوبو منځ کې توپان جال د ماهیانو ډک راویستو. ما ورته وویل: دې ظالمانو خو د ماهیانو سته ویسته. د اوبو په سر د پخوانیو کلیو د خلکو د ژوند لیدنه او کتنه مو وکړه . بیا وروسته له هغه ځای نه په نورو کلیو ورغلو چې په وچه پراته وو. سړک د یوه لوی کلي په منځ کې تېر شوی ؤ. کلی نه ؤ سم لوی ښار ؤ. لکه د میږیانو پشان پکې مخلوق د خدای خوځیده. ښه چې د کلي منځ ته ور دننه شو. په لوی بازار واوښتو. دوکانونه او هوټلې وې. ګڼ بازار کې له هوټلو نه د ماهیانو بوي راته. ګاډی مو ودرو. ډوډۍ خوړلو لپاره یوه هوټل ته پورته شو. په هوټل کې دننه ګڼ خلک ناست وو. چا ډوډۍ خوړه ځینو خپلو کې سره خبرې کولې. موږ یوه میز ته کښیناستو ملګري مې راته وویل: یار روټۍ به را وغواړو. بیا به وروسته بازار کې چکر ووهو. ما وې سمه ده. د هوټل شاګرد کباب کړي ماهیان راوړل. ورسره یې ترخه مرچ او مساله هم راوړه. له ډوډۍ نه وروسته له هوټله ووتو. په بازار کې ښکته پورته لاړو راغلو. څنګه چې خلک غریب وو. په بازار کې د خلکو د ژوند د اړتیاو برابر توکي پلورل کېدل. د نړۍ زیات خوار ملکونه لکه ځینې افریقایي ، اسیایي هیوادونه د بیلګې په توګه لاوس، کمپوچیا ،ویتنام ، افغانستان او بنګله دیش. په تیره بیا پدې ملک کې له بده مرغه د خلکو نفوس ډېر زیات دی. کار نشته دی. ځکه

خو غریبي په زور کې ده .چې له نزدې نه د بنګله دیش د خلکو ژوند او ګورئ حیران به ورته پاتې شئ.

د هاغه ددې خبرو سره له ما نه د چایې پیاله سړه شوې وه .زۀ هم پخوا د دغه ملک د خلکو له ژونده خبر نه ووم .هغوي یو بل ته سره څۀ وویل .له ځایه پاڅیدل په خبرو خبرو کې د هوټل نه ووتل په خپله مخه لاړل .لږه شیبه وروسته زه هم له دمې نه پس د انات کلي پلو لاره مې ونیوه .ایشنده (ټکنده) غرمه ده .د ونو هډو پاڼه نه رپیده .ځمکه سره شوې وه .په چابکو ګامونو مې لاره وهله .تر څو د ګاډو تم ځای ته مې ځان ورساوه هلته څو ګاډي په هډه ولاړ وو .په یوه فلاینکوچ کې یوه سورلۍ کمه وه .زه وروختم .کلینر غږ کړ څه په خیر .ګاډی روان شو .ښه شیبه وروسته د سوات درې په خوله کې ګاډی د غره په پیچومو ورسم شو .دغه غر د ملکنډ دنګ او شین غر وه .د غره په کږلیچونو کې ګاډی روان ؤ .زما ذهن ته د نازیه اقبال دغه سندره راغله.

زړه بــــه دې مــــوړ شـــي پـــه ګلونـــو راواوړه
د ملکنــــډ پـــــه دنګـــــو غرونـــــو راواوړه

د ګاډي له کړکۍ نه مې د ملکنډ ښکلاګانې لیدلې .ګاډی چلونکی د ښې طبعې سړی ښکاریده .مخکې سیټ په څنګ کې ورسره ناست وم .شیبه په شیبه یې نسوار اچول .او چې ډېره لار به یې ووهله .له کړکۍ به یې پړت شو نسوار تیر وغورزول .ما ورته کړو .استاذه طالع دې راوړې ده .چې د ملکنډ پدې ښکلو درو او تاترو اوړې راوړې .څومره بختور یې هاغه د ګاډي ګیر بدل کړ .ویې ویل: ورور مې ، څومره ښه پوښتنه دې وکړه .ته پوهیږې دا ښکلاګانې او ددې وطن دا غرونه او ښائستونه چې نه وي .په دې ګرمۍ کې دی په ما یوه پیره هم نشوه کولای .همدا ګلونه او رنګونه دي چې پدې لارو چلیږو .په خبرو ، خبرو کې له

ملکنډ نه واوښتو . په لږه شيبه کې د انات کلي په دوکانونو کې ګاډی ودريد . د راښکته کيدو په وخت کې مې ترې خدای په اماني راوخيسته . د خپل دوست د کور په لور لاره مې ونيوه . ماسپښين قضا ؤ چې د شير ګل خان کور ته ورسيدم . د هغوي قلعه د يوه خوړ له پاسه د پاڼ په سر اباده شوې وه . برجونه يې له ليرې ښکاريدل . د قلعه مخې ته يې لوی چوپال جوړ کړی ؤ . د اوړي په ګرمو ورځو کې به خلک پکې پنډ وو . د چوپال شا و خوا ته د ګلاب ګلونه ولاړ وو . نزدې چوپال ته يې د اوبو ژور ټويل ايستلی ؤ . په څلور پنځه جريبه ځمکه کې يې باغ جوړ کړی ؤ . زۀ خو پخوا هم ورغلی وم . ټوله سيمه شاړه او سره سو کړه وه .

له کله نه چې په افغانستان کې اوم د ثور بدلون نه وروسته حالت بدل شو . ډېر افغانان پښتانۀ باجوړ ته ورمات شول . تر دغه وخته باجوړ شاړ وچ ډاګ ؤ . يوازې د باران په هيله وربشې او لږ څۀ غنم به کرل کيدل .

د ښناک پاکې اوبۀ نه وې . خلکو د جووړ اوبه څښلې . چيرې يو نيم کلي کې څاه وه . ما پخوا د انات کلی ليدلی ؤ . چرته شين بوټی پکې نۀ ؤ . خو څنګه چې د شير ګل خان په چوپال مې پښه کيښوده . باغ او باغچه ، شا و خوا شنه فصلونه مې تر سترګو شول . حيران ودريدم . له چوپاله راغږ شو . راځه مه دوريږه . څنګه ساکته شوې ؟

زۀ په داسې حال کې چې هر څه راته نوي ښکاريدل . په چوپال کې ناست کسان ماته په فکر کې شول . چې ګني دا سړی لکه د ليوني حيران ، حيران هرې خوا څنګه ګوري ؟

شيرګل مې مخې ته راغی . له ليرې په خندا شو . غيږ يې خلاصه کړه روغبړ مو سره وکړو . بيا چوپال ته ورغلو . په کټونو کې ناستو کسانو راسره هر يو سترې مشې وکړه . هغه له ځان سره په کټ کې کښينولم . بيا يې ټولو ته وروپيژندلم . له روغبړ نه وروسته يې راته وويل

اشنا ډېره موده وروسته دې راپيښه وکړه .پخوا چې دلته راغلی وې ایله زلموټی وې .اوس خو دا وطن هغسې نه دی پاتې .پوره ابادي پکې راغلې ده.د انات د کلي شا و خوا ټوله سیمه اوس ګل ګزار ده.

درې څلور کټونه وړاندې په يوه کټ کې د بونډۍ سرې ږيرې سړی د اوبو ډک جام په سر اړولی ؤ.په يوه سترګه يې ما پلو کتل.په يوه ساه يې جام تش کړ.ویې ویل.ځوانه دا ټول باجوړ اوس هغه باجوړ نه دی .د مهاجرو د راتګ سره الله وغوړاوه .خپل لاس يې مخامخ انات کلي شا و خوا ته ونیو .ویې ویل دلته به پخوا حیوانات او انسانان جل وهل. اوس ورته ګوره شین بڼ دی.یو بل تن چې د سپينې ږيرې شين پټکي خاوند ، ډنګرکی وچ کلک کنډاسه خوله يې نیولې وه .ویې ویل پخوا خو زموږ شونډې په روټه وتلې وې .په غلمينه پسې به مو سترګې لويدې .وريژې خو مو هډو پيژندې لا نه .په مزدورۍ پسې به کراچۍ ته روان وو .اوس خو مو ايله سترګې رڼا شوې.

نسوار يې کړشوپې خولې ته واچول.شونډې يې پورې کړې.يو ځوان سړی د چوپال نه پاڅيد .شير ګل خان ته يې کړو.خان زۀ به لاړ شم. دۀ ورته وويل.څه په مخه دې ښه شه.له چوپاله ووت.پخپله مخه لاړ. شير ګل ناستو کسانو ته وويل.اوس آزاد ګرځيدئ شئ.دا د آئي ايس آئي والا دي .هره ورځ دې چوپال ته ځان رارسوي .دلته خو کله کله زموږ مهاجر ورونه ناست وي.بس د هغوي خولې ته ګوري.چې څوک لږ څه د آئي ايس ائي يا حکومت پسې ووايي.دستي يې نيسي او بيايې.وهل ټکول ورکړي.دروغ ورپسې وتړي په اخر کې پیسې ترې واخلي.بيا يې خوشی کړي.دده همدا کار دی .مهاجر خواران يې ډېر تنګ کړي دي.کله مې زړه وغواړي چې يو درز ترې پورته کړ.خو بيا ووايم چې دومره شی نه دی.خوشی په جنجال به ورسره واوړم.د مهاجرو د مشرانو خو ورسره خبره غوټه ده.دا د کمپونو بیچاره ګان ترې په عذاب دي.

موږ ته مخامخ د شیر ګل د زوی سره یو دنګ ښکلی د سپینو جامو زلمی ناست ؤ .ویې ویل د همدې مهاجرو سره د پاکستان غوا لنګه شوې ده.د نړۍ د ملکونو څه مرسته چې د افغان مهاجرو په نامه راځي .لسمه برخه هم مهاجرو ته نه ورکوي.او دا څه غوبل یې چې ګډ کړی دی .ټول د همدوي له لاسه دي.خالي څو تنه مشران یې ترې لاس کې نیولي.افغانستان یې پرې دړې وړې کړو .دا مدرسې یې چې جوړې کړې .طالبانو ته د افغانستان په خلاف تربیه ورکول کیږي .که دا جمعیت الاسلام دي یا لشکر طیبه دي او که بل دي.دا ټول یې د افغانستان په ضد په کار اچولي دي .او همدا رنګه د پاکستان اولس ترې هم سخت په تنګ دی.ډېر زر به دا ملک هم د تباهۍ سره مخ شي.

هغه له خپل ځای نه پاڅید د عجب خان سره یو ځای چیرې لاړل .ما وې دا څوک ؤ ؟ده وویل دا خو د دیر نواب زوی دی .زما د زوی اندیوال دی.زه د یو کار لپاره د انات کلي ته ورغلی ووم.له دمې او چاې څښلو نه وروسته مې له هاغه نه اجازت راواخیست.او بازار ته لاړم.ډېره موده پس د انات کلي په دوکانونو ورپیښ شوم .په هغه وخت کې چې ما پخوا لیدلی ؤ.صرف څو دوکانونه پکې وو .او د کلي سرته یوازې یو ځاه ؤ .چې ماز دیګر به پکې د کلي ښځو شور جوړ کړی ؤ .په وار به یې اوبه ترې وړلې .اوس نو هر څۀ راته نوي وو .هره خوا شنه او زرغونه ښکاریده .حتٰی د خلکو په ظاهري بڼه کې هم تغیر او بدلون ښکاریده .له هغه وخت نه مې چې اوس د انات کلی ولید .خدائیګو چې پوره خوشحاله شوم .کوم چا سره چې زما د پیسو خبره وه .پیسې خو څۀ چې زما په لیدو ډېر زیات خوشحاله شو .شپې ته یې هم پاتې کړم .ماز دیګر یې په ډېرو ځایونو وګرځولم .هغه د خیمو کلی چې پخوا پکې ؤ ، هلته یې هم بوتلم چې اوس پکې ابادي شوې وه .شنه باغونه او کورونه پکې جوړ شوي وو .هاغه ته مې کړو .ما وې اندیواله د افغانستان بدلون او د

مهاجرو راتګ تاسو ته د خسي پوستکي شو . هغه هم په دې خبره په کړاس کړاس وخندل. زه یې په ولي وټپولم. ویې ویل:
ستا خبره خو ټیک ده. مګر دا برني مهاجر د دنیا نه خبر نه وو. په بازار کې کاږه واږه روان وي. پولیس چې یې په اوږو لاس کیږدي. د نیغ ټوپ سره سم شي. سمد ستي جیب ته لاس کړي. د خپل تنظیم کارت راوباسي. پولیس ته د خپل تنظیم د مشر نامه په ډېر جرات سره واخلي. ورسره جوخت د کمپ نوم او د کمپ د مشر نامه ورته ووایي. پولیس چې یې خوشې کړي. په چابکو ګامونو روان شي. اوس خو د ټولو سترګې رونا شوې دي. په خبرو کې یې پېښوری پښتو ویل: معلوېږي ته وا د کوزې پښتونخوا دي. ما ورسره د تائید سر وخوځاوه. موږ دواړو پرې وخندل. له هغه سره مې په خوشحالۍ شپه تیره کړه. سبا یې ان د ګاډو تر ځای پورې راسره لاړ. مخه ښه یې راسره وکړه. او ترې راغلم.

## لومړی څپرکی

نه پوهيږم چې پدغه ورځ مينه بازار کې د خلکو ګڼه ګوڼه څومره زياته وه. پيخي د ګرځيدو راګرځيدو شان نه ؤ. شاته راپسې غږ وشو. په چالاکۍ مې مخ واړو. کتل چې چې شينواری د خلکو له ټيل نه ځان رايستلو. د واسکټ يوه څنډه يې د دوه تنو سرو تر منځ نښتې او بنده پاتې وه. ښکاريده چې نيم واسکټ يې له يوې اوږې نه ختلی ؤ. په سټړې څيره يې بيا غږ کړ. ويې ويل. په خولا چې په دې بازار کې له سړي نه جامې باسي. په جګ غږ يې وويل. پښه ونيسئ دررسيږم. زورونه يې وهل. موږ ورته ودريدو. هاغه تر موږه په خوارۍ سره ځان راورساوه. سم پشيده. زما انډيوال ورته کړو. شينواري لکه د منډو مسابقې نه چې رافارغ شوي؟ هغه پداسې حال کې چې سينه يې تله راتله. لــه تندي نه يې خوله څڅيده ويې ويل. پخوا داسې حال نه ؤ. اوس خو د لر او بر ټولې پښتونخوا افغانان خوځي. بيخي مور او ځوی جدا کيږي. ده ورته وويل. ستا خبره سمه ده. مګر مينه بازار د ډېرو ځوانانو د مينې د ماتيدو ځای هم دی. بس هر څوک پکې خپلو سترګو ته اوبه ورکوي. څو ګامه مخکې لاړو. شينواری ودريد. ويې ويل. يو څه سودا مې کوله خو پدې بيرو بار کې نه کيږي. که اجازت راته وکړې چيرې مې ضرور کار دی. ګني چکر به مې درسره وهلی واې. ما ورته وويل. مهرباني ولې نه. هغه له موږه بيل شو. موږ دواړو د خلکو له ګڼې ګوڼې نه ووتو په کرار کرار روان وو. شريف پښه ونيوه. ودريد. له ځان سره په چورت کې شو. ما وې څنګه په دوه کې شوئ؟

هغه وویل .انډیواله د یو چا لیدو ته تلم .خو زړه کې مې وګرځیدل.ما وې که ته هم راسره تللې واې ؟ډېر به ښه واې. چیرې مې درسره بیایې ؟ خواته مې رانزدې شو .ویې ویل.دوه تنه دوستان مې له زندان نه راخوشي شوي دي.لیدو ته یې ورتلم.څوک دي له کوم زندان نه راخلاص شوي دي ؟ هغه وویل زموږ فرهنګي دوستان دي .یو مسلم دوست صیب او بل بدر صیب دی. هغوي دواړه سره ورونه دي.ما وې دا څه وایې. هغوي خو زه پیژنم.د صلفیانو په تنظیم کې فرهنګي چارې یې مخکې وړې .ده ویلې بس هماغه دواړه دي .د هغوي لیدو ته درسره خامخا ځمه.اګرچې هغوي ما پیژني که نه ؟ زه یې ښه سم پیژنم.

اوریدلي مې و چې په ګوانتنامو کي بندیان ول.هغه ویلې هو له ګوانتنامو له زندان نه راخوشي شوي دي .شریف جانه هغوي دواړه ورونه ډېر ښه پښتانه او مسلمانان خلک دي د لوړو زده کړو او تعلیم والا کسان دي.پوره ظلم او تیري ورسره شوي دي.ده وویل.نو دا بندي اخر په څه شوي وو ؟اوریدلي مې وو چې د خپل تنظیم د ډلې د ځینو کسانو له خوا آئي ایس آئي ته او بیا هغوي امریکایانو ته ورتسلم کړي وو .دا چې بې ګناه وو.ان له ګوانتنامو نه واپس راخوشي شول.مړه راځه له نزدې نه به یې اوګورې.

د هغوي دواړو سلوک خبرې اترې او نظریات چې ته له نزدې نه واورې .د هغوي انساني او اسلامي کرکټر چې یو ځل پخپلو سترګو اووینې.بیا پرې قضاوت کولی شئ.زه درته نور څه نه وایم.یوازې ددې لپاره چې له نزدې یې اوګورې.او هم به له ما سره ملګرتوب وکړې.څنګه خوښه دې ده ؟ ما وې خوښه مې ده.هاغه سمد ستي یوه ټانګه ودروله. ماته یې وویل راخیږه چې ځوو.ګاډۍ ته وختو ټانګې والا ته یې پته ورکړه .ټانګه روانه شوه .په شلو دقیقو کې ورسیدو .د یوې دنګې ودانۍ تر څنګ د یوه پلی کور دروازه یې وټکوله.یو هلک راووت.ده

ورته خپله نامه واخيسته ويې ويل که استاز دوي کور کېږي وي. ليدو ته يې راغلي يو.

هاغه په منده لاړ. موږ لا په خبرو کې وو چې بيرته راغی ويلې راځئ. له دروازې نه دننه د بيټک په زينه وختو. کتل مو چې استاد بدر راووت. اوږده توره ږيره نرى جګ سړى ، لومړى هغه ته ورغاړې وت. بيا يې ماته په غيږ ستړي مشي وکړه. دننه بيټک ته ننوتو. مسلميار صيب هم رامخې ته شو. موږ دواړو سره يې ښه په مينه روغبړ وکړ. څو تنه نور هم ناست وو. موږ يې هغوي ته او هغوي يې موږ ته را وپيژندل. د مسلميار صيب ږيره سپينه شوې وه. د ږيرې په ويښتانو کې يې سپين زيات تر سترګو کيدل. ما هغوي دواړه څو کاله مخکې ليدلي وو. موږ دواړو هغوي ته له بنده د راخلاصيدو مبارکي وويله. د هغوي د څيرو نه ښکاريدل چې ډېرې سختۍ يې د ګوانتنامو په زندان کې تيرې کړي دي. دواړه دومره رنځوران ښکاريدل. چې تا به ويلې. د مودو مودو نرى رنځ يې تير کړى دى.

په ناستو ميلمنو کې يو تن د پاخه عمر سړى چې شنه لونګۍ يې وهلې وه. له ونې جګ غنم رنګى د بوڼدۍ ږيرې څښتن له استاد بدر نه پوښتنه وکړه. ويې ويل. ستاسو په بندي کيدو ټول خلک حيران پدې وو. چې تاسو خو يوازې فرهنګي چارې مخې ته وړې. مګر يو ناڅاپه درسره د دښمنۍ کار چا تر سره کړو. مسلم يار صيب په ارامه لهجه وويل. پښتنو کې متل دى وايي: چې رښتيا راځي دروغو به جهان وران کړى وي. موږ په تنظيم کې يوازې علمي چارو باندې بوخت وو. پدا وروستيو کې عربو له تنظيم سره د نغدو پيسو پوره اندازه باندې مرسته وکړه. ياني په ميلينونو پيسې وې. د آئي ايس ائي لاس د تنظيم درې کسانو ته را اوږد شو. د تنظيم مشر يې پرې له منځه يو وړو. پيسې د آئي ايس آئي او د هغو درې تنو تر منځ معامله شوې. همدغه موضوع موږ افشا کړه.

هغو درې تنو موږ د آئي ایس آئي پلاس ورکړو .د آئي ایس آئي والا د پیسو په مقابل کې امریکایانو ته ورتسلیم کړو .مسلم یار صیب خپل رورو بدر ته وویل .وروره ټوله قیصه دوي ته تیره کړه .هغه د سر په خوزولو ومنله.ویې ویل.پخپل کور کې د میلمنو سره ناست وو چې ناڅاپه د شپې په یوؤلسو بجو پولیس په کور راننوتل .د بیټک په دروازه کې یې ټوپک راته ونیول.ویلې مه ښوریږئ.ما ورته وویل.څه خبره ده ؟ویلې لاسونه پورته ونیسئ.زموږ د ټولو تالاشي یې واخیسته. په ولسي جامو کې راغلي وو .یوه یې د خپل جیب نه کارت راویوست وې ویل.موږ پولیس یو .دا مو کارت دی.بیا مو ورته یاده کړه.پولیس خو یاستۍ مګر په څه خبره دلته راغلي یاست؟

وروسته درته هر څه جوتیږي .له تالاشۍ نه وروسته یې په موږه لاسونه واړول.ولچکې یې راواچولې.په بیړه یې له کوره ویستلو .سره د میلمنو هغوي په خوله غږ غوږ نه کاوه.بهر په سړک ګاډی ولاړ وو .پکې کښینولو .یو لوړ پښتون سپاهي خپل پنجابي بادار افسر ته په خواره خوله وویل .چې سر !موږ خو دوي نه وسله هم واخیسته او د کور لویان مو هم ونیول.ددې علاقې امن هم ښه نۀ دی .دوي کې یو کس نه پریږدو ؟ تور پنجابي وویل: ایک ھی رات کی تو بات ہے .(بس یوازې د یوې شپې خبره ده ) بیچاره پښتون غلام غلی ودرید نور یې څه ونه ویل .موږ ته بیا وروسته څرګنده شوه .چې دا لوړ پښتون هم یو کرنیل ؤ .او د تورې شبکې (I.S.I) یو غړی وو.خو د پنجابي کرنیل په مقابل کې یې د یوې خبرې جرات نشو کولای .او د هغه په مخکې یې د یو غلام په څیر منډې وهلې .دا خبره بیا موږ ته نوره هم پسې ښکاره شوه .چې کله کله خو به کوم پښتون موږ ته په غلا راتلو .او راته ویلې به یې چې کار ټول د اسلام اباد د پنجابیانو په لاس کې دی او موږ ډېر بې وسه یوو .موږ ته یې وویل

.دوه کمبلې له ځان سره راواخلئ.یو ځل به له موږ سره لاړ شئ.سبا به واپس خپل کور ته راځئ.

د لوی نهر نه راپدیخوا یې زموږ د کور شا و خوا محاصره کړې وه.ته وا ، په کومه فرقه برید کوي.موږ سره یې میلمانه هم روان کړل. سترګې یې راوتړلې.لاسونه یې راته په پولادي زنځیرونو وتړل.بې لمبر پلیټه ګاډي کې یې کښینولو.نه پوهیدو چې کوم لوري ته مو بیا یې.د کور خلک هم خبر نه وو .چې موږ چا او په کومه بوتلو ؟موږ په دې فکر کې وو چې زموږ د نیولو لامل به څه وي ؟پدې هم پوهیدو چې د ائي ایس آئي تورې شبکې څلور تنه حلقه بګوش غلامانو دا کار کړی دی.ځکه چې هغوي مخکې موږ ته د نیولو څه چې د مرګ ګواښ کړی وو. موږ د هغوي د شومو اغراضو د لارې خنډ وو.لږه شیبه وروسته یې یو ځای ته ورسولو.له ګاډي نه یې راښکته کړو.هلته کسانو له موږه پداسې حالت کې چې سترګې مو تړل شوې وې.د نومونو پوښتنې یې رانه وکړې.بیا موږ ته پته ولګیده چې هغه ځای د پېښور شامي روډ ، د آرمي سټیډیم سره نزدې د آئي ایس آئي دفترونه وو .او هلته ځانګړی پټ زندان وو.دغه زندان د باندې او د لوې وره دننه د یوه کور یا دفتر غوندې ښکاریده.او چا پرې د زندان ګومان نه کاوه.

د زندان ودانۍ داسې وه چې له ځمکې څو سیمټې پورې ورپورته شوې وې .مخې ته یې د ګاډو د مینځلو ځای وو د ودانۍ لومړی دروازه عادي د لرګي دروزاه وه .دروازې نه دننه وړه کوټه وه . ښي او کیڼ لور ته دوه کوټې وې.ددې لنډې کوټې په پایې کې د اوسپنو پیړو تورو ډنډو یوه غښتلې دروازه وه.د دروازې نه وروسته بله کوټه وه .چې ښي او کیڼ لور ته غځیدلې وه.مخامخ یو تشناب وو.چې یو کمود پکې وو .او د اوسپنې کوم نل پکې نه وو.د دیوال بیخ ته یو وړوکې سوري کې د پلاسټک پیپ راتیر شوی وو.او په هغه کې اوبه راتلې.یو

سطل هم پکې ایښی وو .او د تشناب دروازې د ننه هیڅ زنځیر یا د بندولو کوم شی نه درلود .

د تشناب ښي او چپ لور ته دوه ، دوه تنګې ، تنګې کوټې وې . هرې یوې کوټې ، دوه ، دوه دروازې درلودې.د باندې د لرګي دروازه وه . چې د ولاړ سړي د سترګو مخامخ یو ګرد سوری پکې وو .چې په ګرځنده او تاویدونکي لرګي له بهر نه بندیده او خلاصیده .او د کوټې د ننه لور ته د پیړو او سپنیزو دروازو تمبې وې .چې د تورو پنجابیانو د دسیتو ترجماني یې کوله .او نورې دروازې له بیرونه په غټو غټو قلفونو قلفیدې .کوټې دومره تنګې وې چې په پلنو پکې پښې نه غځیدې .او په اوږدو پکې غځیدې شوې .چتونه یې ډېر لوړ ، لوړ وو او په چت کې د بریښنا یو ګروپ لګیدلی وو .خو د روښانه کولو او بندولو بټنې یې په کوټو کې نهٔ وې.بلکې له باندې خوا نه وې.کله کله به یې د روحي فشار له پاره دغه ګروپ مړ کاوه .چې د ورځې او شپې تو پیر پکې نه کیده . کوټې ډېرې لمدې او زیمناکه وې.یوه ، یوه خیرنه او ناولې شلیدلې درۍ او زوړ توشک پکې وو .چې سوری ، سوری او ډېر بدبویه وو .د انسان لا څه چې د حیوان د اوسیدو هم نه وه .د دروازې مخامخ دیوال کې لوړه یوه د اوسپنې جالۍ لګیدلې وه .چې د باندې نه پکې د موټرو او خلکو اوازونه او د آرمي سټېډیم د لوبو شور اوریدل کیده .په ي او چت کونج کې یو مسند لګیدلی وو چې د وروستي معلوماتو له مخې د ځینو بندیانو د نظارت لپاره پکې کیمره نصبیده .موږ یې بیلو ، بیلو کوټو کې واچولو .جیبونه یې راولټول .نغد او کاغذونه ، قلمونه او راځخه واخیستل .هره کوټه کې یې د انساني حاجت د رفع کولو له پاره د تعمیراتي رنګ تشه ډولچه ایښې وه.د پنځه وخته لمانځه او داسه ته یې نه پرېښودلو .شوا روز کې یې یوازې یو ځل تشناب ته پرېښودلو .موږ به کوښښ کاوه چې اوبه او خواړه ددې لپاره لږ وخورو .ځکه چې د حاجت د

رفع کولو ځای هم نه وو ـ او د لمانځه لپاره مو اودس هم ساته ـ که برېښنا به نه وه ـ نو د شپې او ورځ تو پیرونه به نه کېده ـ دوه میاشتې او دوه ویشت ورځې یې نه ګرځیدو ته پرېښودو او نه مو لمر لیدلي دي ـ چای نه وو ـ او د څوکیدارانو پاتې شونې کتغ سره به یې ساړه پنجابي چپاتي راوړل ـ چې هیڅ د خوراک قابل نه وو ـ ما به د سوې ډوډۍ نه سوي ځایونه لرې کړل ـ پنجابي به په غصه شو او ویلې یې دا سوي ځایونه له ډوډۍ نه مه غورزوه ـ څو ځل دا سې هم شوي دي چې د بیخ پاتې ککړ قاب کې د خوړل شوي غوښې پاتې هډوکي یې راوړل ـ د آئي ایس آئي ددې جیل او دفترونو ټول څوکیداران او اشپزان پنجابیان دي ـ موږ په دغه جیل کې نږدې درې میاشتې تیرې کړې ـ او په دې ټول وخت کې مو یو پښتون څوکیدار هم ونه لیده ـ د آئي ایس آئي پنجابي مسؤلین په پښتنو هیڅ اعتماد نلري ـ او ډېر په سپکه سترګه ورته ګوري ـ څه وخت وروسته یو پښتون کرنیل چې زموږ کور ته هم راغلی وو ـ راغی موږ یې د زندان د اولې دروازې دننه لور کوټې ته یو ، یو بوتلو ـ زموږ عکسونه یې واخیستل ـ د شخصي پېژند ګلوۍ له پوښتونو نه وروسته یې راته وویل ـ چې د چا سره خو دښمني نه لرئ ؟ ما ورته وویل چې ولې نه ! ستاسو حلقه بګوش غلامانو او ګوډاګیانو د جماعة الدعوة د مشرانو سره دښمني لرو ـ کله مې چې د هغوي نامې ورته واخیستې ـ هغه وویل چې هغه شرابي او زناکار چې دي ـ ما وویل ـ هو هماغه یو یې همدغسې دي ـ ویې ویل هغو خو سم د وژلو دي ـ بیا یې په اشارو او کنایو کې پوه کړم او څو ورځې وروسته یې راته ژوندی شواهد او اسناد راوښودل ـ او دا یې هم وویل چې ستا خبره سمه ده ـ همدغه خلک دي زموږ د پنجابي مشرانو په اوامرو څۀ کارونه کوي ـ او دا یې راته وویل چې موږ بې و سه یو و ـ او کار ټول د اسلام اباد لاس کې دی ـ د جماعة الدعوة دغه کسان

زموږ افسرانو ته د جینکو او شرابو سپلایي کوي .نو هغوي ځکه په دغسې مواردو کې د دوي خبره مني.

زما د کوټې خوا کې په یوه کوټه کې دوه تنه عربان وو .چې تشناب ته د تللو په وخت مې ولیدل.هغوي موږ نه څو ورځې وروسته راوړي وو .او په هغو کوټو کې یې اچولي وو.چې مولوي صیب سید محمد وحدت یار او عبدالحلیم همت یې ترې خوشي کړي وو .تیر ماخوسخوتن څه کسان راغلل.سترګې او لاسونه یې راوتړل.په ګاډي کې یې یو یو بیل بیل بوتلو .د زندان مخې ته د سړک بلې خوا ته دفتر ته یې بوتلو .موږ چې یې یوې خونې ته وردننه کړو .سترګې یې راخلاصې کړې.چې کتل مې درې امریکایان دي او یو هغه ګنجی پنجابي کرنیل ورسره دی چې زموږ کور ته د نیولو لپاره راغلی وو .یوه امریکائي لومړی زما څو ډوله عکسونه واخیستل د خولۍ سره ، سرتور ، مخامخ ، د ښي او کیڼ لوري نه ، بیا ئې د لاسونو د بیلو بیلو ګوتو او د بشپړو ورغیو خاپونه په تور رنګ د کاغذونو په مخ واخیستل .بیا تشناب ته بوتلل شوم.لاسونه مې پرې مینځل واپس هماغه کوټې ته راغلم.په څوکۍ کښیناستم زما ښي لور ته ګنجی پنجابی کرنیل ، مخامخ او کیڼ لور ته امریکایان کښیناستل .زما د بیوګرافۍ په حقله یې پوښتنې وکړې.نوم د پلارنوم ، تخلص ، واده دې کړی،څو اولادونه لرې ،څومره زده کړې دي کړي دي ، په څو ژبو پوهیږې ، کوم کوم کارونه دې کړي دي ........؟ یو ډیره ور پښتون هم د پنجابي خوا ته ناست وو.او د خبرو له لهجې داسې ښکاریده چې د کوهاټ وي.وروسته یې بیا خپل نوم وښود .دا دواړه د ترجمانۍ له پاره ناست وو .کله چې پنجابي ته دا څرګنده شوه چې زه په اردو ګوزاره کوم .نو پښتون یې وشاړه .او بیا نه راته .په لومړیو دوه ورځو کې ورته څو ځل پنجابي غصه هم وکړه .او په ترجمانۍ کې پرې نیوکې وکړې.بې واکه او بې وسه پښتون غلی شو.او

بیا رانغی.تور ګنجي پنجابي ترجمان ځو ځل غلطه ترجماني او له ځانه یې خبرې پکې وکړې.

امریکایي محقق د پاخه عمر څښتن وو چې تقریباً د شپیتو او اویا کلونو شاو خوا کې ښکاریده.هغه نور دوه ورسره همکاران وو.او ترده ځوانان وو.د امریکایانو سره یو کاغذي کاټن وو چې د هغوی د ضرورت سامان پکې ایښی وو او دا کاټن د کوټې منځ کې په ځمکه ایښی وو.

لنډه دا چې زما ورونو او همت صیب نه یې مخکې تحقیق کړی وو .او د هغوی په شخصي معلوماتو سربیره یې زما په حقله هم ترې پوښتنې کړې وې.چې زه بیا وروسته خبر شوم.امریکایانو پنځه شپږ ورځو کې ځو ځل تحقیق وکړ.چې هر ځل د شپې ؤ.یوه شپه یې دوه ځل وغوښتم.او تحقیق یې راڅخه وکړ.د امریکایانو د تحقیق لنډیز دا دي.
چې ما ته یې وویل.ته او ستا ورونه نه مونږ نیولی یې او د آئي ایس آیي والا ته یې اشاره وکړه او نه مو دوي ته امر کړی دی.چې تاسو یې ونیسي .دوي تاسو نیولي یاست او مونږ ته یې وویل.چې مونږ ترهګر نیولي دي.
راشئ پوښتنې ترې وکړئ.او دروایې اخلئ.بیا یې یو کارت راویست ځلور نومونه یې پرې لیکلي وو چې زه یې د ناولیټ د لیکنې سره لازم نه ګڼم.

ده وویل ما یې په ځواب کې وویل ، دغه ځلور سره ستاسې د ګوډاګیانو استخباراتو ته ورننوتي دي .او زمونږ د نیولو سبب هم دوي دي.د آئي ایس آئي پنجابي ګنجي باندې زما دې خبرې ښه اثر ونکړ.او ترجماني زما تاړ راتاوه کړه.بیا یې راته پټ وویل چې داسې مه وایه.خو ماونه منل.امریکایانو سره دوه ځل یوه یوه ښځه هم وه.چې یوه نسبتاً ځوانه او نرۍ وه او بله د پاخه عمر شین سرې ډېره ځربه او پیړه وه .د امریکائي محقق د تحقیق نورې پوښتنې او زما ځوابونه داسې وو.

اسامه بن لادن پیژنې ؟
هو ، هاغه خو تاسې موږ ته راوپیژند .او اوس یې ماشومان او لیوني هم پیژني.
آیا تا لیدلی دی ؟
نه ما نه دی لیدلی .او که ما لیدلی واي نو د اسامه لیدل کوم جرم نه دی .
ما به ضرور ویلي وو .ما غوښتل هم چې هغه وګورم .خو تر اوسه موفق شوی نه یم چې ویې ګورم .هغه نرۍ ښځې وویل او رابرګه شوه چې تا اسامه لیدلی دی ما په ډېره بې اعتنایۍ ترجمان ته وویل چې څه دلیل دی ؟ د لږ تکرار نه وروسته سترګې مړې شوې او غلې شوه.
بیا یې وویل اسامه څنګه سړی دی ؟
زه نه پوهیږم چې ما یو څوک لیدلی نه وي څرنګه کولای شم .چې د هغه په حقله چې د ښه یا ناښه پریکړه وکړم .د نیو یارک په تجارتي برجونو باندې د انتهایي برید څخه خبر یې ؟
هو د امریکا غږ له رادیو نه مو واورېدل.
کله چې په نیو یارک حمله وشوه .ته خوښ شوې که خفه ؟
دا پریکړه هم پېچلې ده .ځکه چې موږ ونه پوهیدو چې دا حمله چا وکړه ؟ او د څه لپاره یې وکړه.
د امریکا د خلکو په حقله څه نظر لرې ؟
زه امریکا ته نه یم تللی.
ایا کومې ایجنسي د استخباراتي ادارې سره دې کار کړی دی؟
نه ، د کومې وسلې په استعمال پوهیږې ؟
هو ټوپک او طمانچه باندې پوهیږم.
جهاد دې کړی دی ؟
هو

پاکستاني استخباراتو ، آئي ایس آئي ستاسو کور څارلی ؟او وایي چې پدې ورځو کې ستاسو کور ته زیات میلمانه راځي ایا دا سمه ده ؟
یوازې په دې ورځو کې نه بلکې هر وخت زموږ د هر مسلمان خصوصاً د هر افغان او په ځانګړي توګه د هر پښتون کور ته میلمانه راځي .موږ یې د خپل وس مطابق احترام او اکرام کوو او له کوره یې نه شړو.
موږ ته ویل شوي دي چې ستا په کور کې د امریکا خلاف مشورې کیدې او تا رهبري کولې.دا سمه نده ؟
ایا ستاسو کور ته عربان راتلل ؟
پخوا راتلل او اوس ندي راغلي.
ایا د القاعدې غړي ستا کور ته راغلي دي ؟
زۀ د القاعدې غړي نه پیژنم .زموږ کور ته اکثراً هغه عربان راتلل چې په خیریه مؤسیسو کې یې کار کاوه.یا په تعلیمي اداره کې استاذان وو.
د څه لپاره راتلل ؟
مطالعې ، پوښتنو او د عربي قواعدو ( صرف او نحوي ) زده کولو لپاره.
موږ خبر شوي یو چې تاسو یو شخصي کتابتون هم لرئ ؟
هو دا سمه ده.
دا د څۀ لپاره ؟
د مطالعې نه پرته نور څۀ کیدای شي ؟
په دومره زیاتو کتابونو څه کوئ ؟
د مطالعې سره مینه لرم.د مطالعې بل کوم هدف کیدای شي.
ایا کتابونه او کتابتون کوم جرم دی ؟
نه جرم نه دی خو ایا دا ډېر نه دي ؟
نه زه غواړم چې نور هم زیات کړم.کتابتون کوم حد نلري.ستاسې په کتابتون کې څه ډول کتابونه دي ؟

موږ غواړو چې هر ډول کتابونه ولرو .اوس تفاسير ، احاديث ، فقه ، اصول او ادبي او فرهنګي کتابونه لرو.
ايا ستاسو په کور کې وسله وه ؟
زموږ په کور کې دوه طمانچې وې.چې ستاسو دې ګوډاګيانو ترجمان ته مې اشاره وکړه ، زموږ د نيولو په وخت کې راواخيستې او يو يې وړې.
ايـا ستاسو په کور کې نوره وسله ، تلويزيون ، يا ستلائټ نه ؤ ؟
بيا مې ترجمان ته اشاره وکړه .دوي زموږ ټول کور ولټاوه .پوښتنه ترې وکړئ چې دغه شيان يې وموندل ؟
له هغه نه يې پوښتنه وکړه .چې اياتاسو دغه شيان ونه موندل؟
تاسو ولې ونيول شوئ ؟
موږ د پاکستاني استخباراتو ګوډاګيانو ، جماعة الدعوة د محوري غړو چې ما يې نومونه تاسو ته ليکلي دي.د هغوي له خوا نيول شوي يو .
تاسې له هغوي نه پوښتنه وکړئ چې موږ يې ولې نيولي يو ؟
امريکائي ترې نه پوښتنه وکړه .ترجمان ورته وويل چې دوي په ورځپاڼو کې ستاسو مخالفت کړی دی.د کلنټن د وژلو لپاره يې پنځه ميليونه افغانۍ انعام ټاکلی دی.او ستاسو په خلاف يې فرهنګي کار کړی دی.
ايا تا دا کار کړی دی ؟
هو د کلنټن د وژلو پينځه ميليونه افغانيو نه څۀ دپاسه سل(۱۰۰) ډالر جوړيږي.دا د کلنټن او امريکا په سياست او په افغانيو باندې يو طنز دی.چې د کاري کا تور حيثيت لري.او دا کار په مطبوعاتو کې ازاد دی.
تاسو په افغانستان باندې حمله وکړه .بې ګناه وګړي مو ووژل او کورونه مو رنګ کړل.نو موږ دا حق لرو چې په تاسو طنز وکړو .او ستاسو په خلاف قلم استعمال کړو.
امريکـايي محقـق ماتـه مـخ راواړاوه او راتـه ويـې ويـل چـې دا سـتا دموکراتيک حق دی.په مطبوعاتي مخالفت موږ څوک نه نيسو .او نه

یې قانوناً نیولی شو -زموږ ژور نالستان هم زموږ په سیاستدانانو او حکومت طنزونه او نیو کې کوي او سیاست یې غندي -دا ډول وګړي په نړۍ کې ډېر زیات دي موږ خو ټول نشو نیولی-
له دې وروسته امریکایان د باندې سره ووتل-خپلو منځو کې یې خبرې سره وکړې-موږ یوه نشو چې څه یې سره وویل-په دې منځ کې ترجمان ته زنګ راغی-هغه بهرته ووت-یوه امریکایي د فرصت نه په ګټې اخیستلو ما سره په عربي ژبه خبرې پیل کړې-ما هم ورته په عربي ځواب ورایه-موږ دواړو غوښتل چې خبرې سره اوږدې کړو-خو پدې وخت کې پنجابي ترجمان راغی-کله چې یې ولیدل امریکایي ما سره په عربي اخته دی-نو ډېر زیات وارخطا شو-ځکه چې هغه نه پوهیده چې موږ څه وایو-له مانه یې پوښتنه وکړه-چې ته څه پوه شوې چې امریکایي په عربي پوهیږي ؟
ما هاغه ته هیڅ اعتنا ونه کړه-او ځواب مې ورنه کړ-امریکایي بیا انګلیسي پوښتنه وکړه-
ایا ته پدې لنډ وخت کې جلال آباد ته تللی یې ؟
هو
کله ؟
د جلال اباد د سقوط نه یوه ورځ مخکې په داسې حال کې چې هلته د امریکایانو برید روان ؤ-او بمباري کیده-
تا په جلال اباد کې څه کول ؟
جلال اباد او ټول افغانستان زموږ وطن دی-او هر وخت ځو راځو-هلته مو ځمکه ده-د نورستان د کانو معدنونو کې کار کوؤ-او په جلال اباد کې د جینکو یوه مدرسه لرو-چې له طالبانو نه په پټه مو جوړه کړې وه-د هغې پوښتنې ته تللی ووم تاسو هلته نورې مدرسې هم لرئ ؟
هو د جلال اباد په ښار کې طالبانو بندې کړې دي-او په لیرې اطرافو کې شته-

کابل تـه کلـه د طالبانو د مشرانو سره د کتنې لپاره تللی یئ ؟
هو
د څه لپاره ؟
دې لپاره چې زموږ ادارو ته اجازه ورکړي تر څو د تعلیم او تربیې کارونه پر مخ لاړ شي.
بیا څه وشو ؟
دوه درې ځل لاړو خو کومه زړه پورې پایله یې ورنه کړه.
تاسو سره جلال اباد ته اخري تګ کې یو ملګری ؤ هغه څوک ؤ ؟
هیڅوک نه وو زۀ یوازې ووم.
ایا تاسره کوم لاسي بکس وو ؟
نه
په کومه لاره لاړئ ؟
د تورخم په لار
په تورخم کې څو بجې واوړیدې ؟
ټاکلی وخت مې یاد نه دی.
په دې وخت کې پنجابي ترجمان له ځانه ماته وویل چې له هر څه انکار مه کوه. او بیا یې په امریکایي احسان وکړ ورته ویې ویل چې ما داسې ورته وویل. زۀ الحمد لله په پوره باور او بې پروا ناست ووم او یوه پښه مې په بله اړولې وه. خو پنجابي ګنجی کرنیل د امریکائي مخکې داسې ناست وو لکه غلام. او د رکوع غوندې ټیټ شوی وو. خو ماته به یې د امریکایي په غیاب کې ویل چې دا ټماټر درواغ وای. د آئي ایس آئي ټول مسؤلین د امریکایانو په مخکې د ډالرو د راشوکولو او جیبونو د ډکولو لپاره خالص او مخلص غلامان وو. او پشي شا یې امریکایانو تـه ټماټر ویلې. یو ځل امریکایي تږی شو. پنجابي ګنجی کرنیل ورته د یخو معدني اوبو بوتل راوړ. هغه ترې یو ګوټ وکړ او یو تل یې په میز کیښود

ـ کله چې يې د بل ګوټ کولو له پاره ورته لاس وغځاوه نو ګنجي کرنيل ورته د ډېرې چاپلوسۍ نه وويل ـ چې نو سر ( نه باداره ) بل ګوټ دد ې بوتل نه مه کوه د بل ګوټ له پاره يې ورته د يخچال نه بل بوتل راوړ ـ او هغه مخکنى بوتل يې د برکت لپاره پخپل سر واړاوه ـ ماته ډېر سپک وبرېښيده ـ او باور لرم چې امريکايي ته به هم خپل دغه غلام ډېر سپک ښکاره شوى وي ـ داسې کار خو امريکايان ګمان نه کوم چې په سپينه ماڼۍ کې هم وکړي ـ پنجابي د آئي ايس آئي ټول کارکوونکي د ډالرو د لاس ته راوړلو له پاره هر څه کوي او هر څه ته تيار دي ـ

د آئي ايس آئي په زندان کې
نور بنديان

آئي ايس آئي ډېر زيات پټ زندانونه لري ـ خو د شامي سړک په زندان کې موږ سره نزدې نور بنديان هم وو ـ يو ځل زما د کوټې د باندنۍ لرګي دروازه بيرته او دننه د اوسپنيزو ډنډو دروازه بنده وه ـ چې و مې ليدل دوه عربان وار په وار د دروازې له مخې تير شول ـ يوه يې زما په لور راوکتل او په اشاره يې راته کړه چې دوعا راته کړه ـ بيا له هغه ځايه ويستل شول ـ خو پوه نشوم چې څه شول ـ ځکه چې نه مې په باګرام کې وليدل او نه په قندهار کې ـ او نه مې بيا وروسته په ګوانتنامو کې وليدل ـ يو بل بندي وړوکى مراهق هلک ؤ چې تقريباً د ۱۳ ، ۱۴ کالو به وؤ ـ يوه ورځ داسې برابره شوه چې دغه هلک سره ما خبرې وکړې ـ دا هلک تور پوستى او د بنګله ديش ؤ ـ پاکستان کې ځينې بې ضميره تاجران د بنګله ديش د خلکو د اقتصادي ستونزو نه ناوړه ګټه اخلي ـ او له هغه ځايه جينکۍ او ښځې د ډيرو لږو پيسو په بدل کې رانيسي او کراچۍ کې يې د ښځو د پلورلو په يوه ځانګړې منډهي کې پلوري ـ دغه هلک راته خپله قيصه

داسې وکړه. زما مور یو پاکستاني تاجر په بنګله دیش کې واخیسته. زه د ماشومتوب لامله د خپلې مور سره پاکستان ته راوستل شوم. بیا په کراچۍ کې د ښځو پلورلو په منډۍ کې یوه پنجابي زما مور د شلو زرو پاکستاني روپیو په بدل کې واخیسته.

زه او زما مور دواړه پنجابي له ځان سره بوتلو. هغه پنجابي زما مور د وینځې په توګه استعمالوله. او د خپل چوپړ سخت سخت کارونه یې پرې کول. زما مور ډېره بدعمره شوه. او زه هم د خپلې مور سره د بدمرغۍ په لومه کې ونښتم. سره له دې چې ما او زما مور دواړو شپه او ورځ د پنجابي خدمت ښه په اخلاص کاوه. خو بیا هم پنجابي زه او زما مور ډېر سخت سخت وهلو او ټکولو. تر دې چې پولیس هم د دغه پنجابي ملګري وو. او زمونږ خبره یې نه اوریده.

زما مور یوه ورځ د ډېره ځوریدو او ربړیدو نه وروسته تانې ته لاړه او په هغه پنجابي یې عرض وکړ. خو د دې په ځای چې د یوې مظلومې پوښتنه وشي. تانه دار دغه پنجابي چوهدري ته خبر ورکړو چې بنګله دیشۍ د هغه په خلاف تانې ته عارضه شوې ده. پنجابي د دغه عریضې په ګناه په ډېر ظلم او بې دردۍ زما مور په ټیکټر پورې وتړله. او په ځمکه یې تر ډېره ځایه راښکده چې د بدن پوستکي یې د زمکې پورې پاتې شول او هغه سخته ټوک ټوک او ټپي شوه. مورږ دواړه د پنجابي له لاسه تر پوزې راغلو. او په ژوند مو مرګ ته ترجیح ورکړه. له کله چې زه د دغه عمر ته ورسیدم. چې دا ګوري مې د خپلې مور په مشوره وتښتیدم. ماته چا وویل چې افغانستان ته لاړ شه. افغانان ډېر ښه خلک دي. هلته به له دې ظلمونو څخه خلاص شې. هلته د پنجابي هیڅ وس نه رسیږي. دلته خو د پنجابیانو حکومت دی. هاغه دي پیدا کوي او واپس دې له ځان سره بیا یې. زه په هم دې هیله روان شوم. تر دې چې کله تورخم ته ورسیدم. نو هلته دغو خلکو (آئي ایس آئي) ونیولم او دلته یې را

ورسولم ـ اوس مې وهي تکوي او راته وايي چې زر کوه حال ووايه ته د هندوستان جاسوس يې ـ حال دا چې ددغه هلک عمر ددې ور بيخي نه ؤ چې د خپل هيواد نه د باندې دې د کوم بل هيواد لپاره جاسوسي وکړي ـ کله کله به چې د آئي ايس آئي مامورينو واهه نو ما به يې هم چيغې او سورې اوريدې ـ ددغه هلک د ژوند افسوسناکه قيصه به تل زما په زړه دا وي او هيڅکله به مې هيره نشي ـ

## دویم څپرکې

استاد د پېښور ، قندهار ، باګرام او ګوانتنامو د زندانونو قیصې وکړې .خو زما په ذهن کې د بنګله دیشي هلک قیصه نیمګړې پاتې شوه.د هغوي د هرې دردونکې قیصې په اورېدو سره ناست کسان سخت خفه شول .د ډیلټاک بلاک او لیوني بندیان قیصه یې هم ډېره دردوونکې وه.ویل یې ډیلټا بلاک کې یې لومړی عام بندیان اچولي وو . بیا وروسته یوازې د لیونیانو لپاره وټاکل شو .ځینې بندیان د ډېر فشار له امله ګوانتنامو کې لیوني شول.د شپې به یې د خوب ګولۍ ورکولې. یو سعودی بندي چې د افغانستان په شمال کې یې له نورو طالبانو سره ګلیم جمانو امریکایانو ته سپارلی وو .هغه هم لیونی شوی و .جامې یې څیرلې .بیا یې له نورو لیونیانو نه بیل کړو .په څټ کې یې ورته پیچکارۍ وکړې ښه شو.د استاد خبرې خوږې وې.خو موږ ترې اجازت راواخیست کور ته راغلو.

اصلاً د افغانستان نه د کډه کیدو او مهاجرت ستونزې یو خوا او د افغانانو د مهاجرت د سختیو ډک ژوند بل خوا سړی ډېر ناهیلي او ستومانه کوي .د افغانستان په دننه کې چې د واک او اختیار په سر کوم جنګونه، لوټمارۍ ، او مرګونه وشول.کابل ښار یې کنډواله کړ.چې دغه د افغانانو خپل منځي جګړې د افغانستان په تاریخ کې بدرنګه باب جوړوي .له بله پلوه کومې نادودي مې چې په پاکستان کې لیدلې او کتلې.د بیلګې په ډول یې ګرانو لوستونکیو ته وړاندې کوم.

پخوا چې موږ د لومړي ځل لپاره خپل کلي کور پرېښود .په غرونو او سرونو را واوښتو .سر مو په باجوړ ولګید .د انات کلي ته

ورغلو ۔اومو لیدل چې د سپینو خیمو نه د انات پـه دښته کې عظیم ( لوی ) کلی جوړ شوی ؤ ۔داسې ښکاریدل چې تا بـه ویـل ټول مجاهدین همدلته پراته دي۔پلار مې وویل یوازې دا نه د پاکستان په نورو ځایونو کې هم همداسې د ټوټو کلي جوړ شوي دي ۔همدا رنګه ډیری خلک ایران ته کډه شوي دي۔هغوي تـه یې هم همدغسې خیمې ورکړې دي۔تاسو اوس دا خبرې پریږدئ۔دلته سامانونو ته ګورئ۔زۀ کلي ته ځم چې د هاغه خپل دوست پوښتنه وکړم بیرته به زر راوګرځم۔پلار مې کلي ته لاړ۔موږ د ونې سیوري ته کښیناستو ۔مور مې وویل۔موږ به هم پدغو خیمو کې ژوند کوؤ ؟ مور مې له ځان سره ډوډۍ او سور کړي چرګ راوړی ؤ ۔خور او وړوکي ورور مې سره له موره ترې تاؤ شولو ۔د هغې ډوډۍ مزه چې د توت ونې سیوري ته مو په مزه مزه خوړله۔نه هیریږي۔مور مې وویل پدې غرمو کې خو دغه خیمې تودیږي۔چې دا خلک به څه ګذاره کوي ؟

لږه شیبه وروسته پلار مې له کلي نه راستون شو ۔یو تن زلمی هم ورسره ؤ ۔په څو ګامه کې چې رانزدې شول۔پلار مې له وړاندې نه وویل۔بخت و طالع مو ښه وه ۔دوست مې په کور کې ؤ ۔هغه زلمي تـه یې لاس ونیو ۔دا یې زوی دی۔دا سامان درسره واخلئ ځئ چې ځو ؤ ۔بکسونه او پنډوکي مې پشا کړل په کلي ورغلو ۔د هغوي کور د کلي څنډې تـه ؤ ۔لـه کلي لیرې د هغوي قلعه ښکاریده۔پلار مې وویل۔هغه له کلي نه چې بیله قلعه او بورج ښکاري همدغه ځای ته ځو ۔د قلعه مخې تـه لوی چوپال ؤ ۔دوه د توت ونې ولاړې وې۔تلو تلو د قلعه په دروازه ورننوتو ۔د قلعه دننه دومره ډیره ودانې شوې وه۔لکه یو کلی چې پکې ؤ۔بیل بیل کورونه پکې اباد ول ۔ځینو دالانونو کې غوایان او مالونـه اخورو تـه تړلي وو ۔پـه دروازو کې زموږ ورتګ تـه ماشومان ولاړ لیدل کیدل۔کتل یې چې دا څوک او له کومه راغلل۔

د قلعه دننه یوه اړخ ته لوټکي نوې ودانې وه . موږ یې هلته بوتلو . دوه کوټې یې زموږ لپاره ځانګړې کړې . سامان مو کېښود . برنډې ته ووتو . واړه او ښځې دننه لاړل . ګرمي ډېره وه پکي تاویدل . خو ګرمي بیخي ډېره وه . په همدغه ورځ د کور خاوند سره زه او پلار مې مازدیګر چې هوا لوټکي سړه شوه . د خیمو خوا ته لاړو . په لاره هاغه زما پلار ته ګرېده . ویلې هره ورځ پدې خیمو کې ماشومان او ناروغه زاړه کسان څه له سختې او زیات له ګرمۍ نه مړه کیږي . سره له دې چې د اوبو ټانکونه ورته راځي . ډاکټران هم پرې ګرځي . مګر ته ور اوګوره چې دا څۀ حال دی ؟ موږ چې له نزدې نه په خیمو کې د مهاجرو حال وکوت . هیڅ د تحمل وړ نه ؤ . ځکه چې په زرګونو خیمو کې خلکو دننه ژوند کاوه . په ډېر بد حالت کې ول . په توده او سوزانده دښته کې دغومره خیمو کې د خلکو اوسیدل د تعجب خبره وه .

زما د پلار دوست وویل . تاسو راځئ چې د هغه پاڼ سرته وخیژو . له هغه ځای نه ښه سیل کیږي . رښتیا هم هلته چې د پاڼ سرته وختو . د انات هغه دومره لوی ډاګ د مهاجرو خیمو پوښلی ؤ . هغه زما پلار ته وویل . اشنا زه به درته هر څه په ډاګه کړم .

همدا افغان اولس چې ته پدې خیمو کې وینې . دوي ته د ملګرو ملتونو او ځینو نورو هیوادونو نه مرستې راځي . له اوبو ، خیمو ، راشن ، غوړي ، وړه ، بوره ، جامې او د ژوند ټول ضروري توکي ورته راچلیږي . خو خبره دا ده چې هوا ډېره توده ده . ماشومان جل وهي . په بیلو بیلو ناروغیو اخته کیږي د دوئي مشران چې کم دي د هغوي خو ځکه مزې دي چې کومې نغدې چې راځي او یا د وسلې کاروانونه راځي هغه د پاکستان د سرکار او ددغو تنظیمونو د مشرانو تر منځ ویشل کیږي . پدې کې د پاکستان پکې بالکل غوا لنګه ده . په همدې خبرو کې د پاڼ له سره راکیوتو . کور ته لاړو .

د کور په دروازه چې ورننوتو ـ زما پلار ته یې وویل ـ څو ورځې دي چې تیرې شي بیا پخپله پوهیږې ـ یوه اونۍ وروسته مې پلار هغه دوست ته وویل ـ راشن پاس مې وشو ـ اوس به کرایی کور ونیسم ـ هغه وویل زما کور هم ستا کور دی ـ خو چې غواړي ګرو کور ونیسئ ـ بده نه ده ـ ځکه چې پخپل کور کې به پخپل اختیار ژوند تیر کړي ـ ګرو کور به درته او ګورم ـ ته هیڅ فکر مه کوه ـ هماغه ؤ چې په انات کلي کې یې د یوه سړي قلعه راته ګرو ونیوه ـ سامان مو ورته انتقال کړو ـ راشن پاسونه یې راکړل ـ اګرچې زموږ اقتصادي حالت ښه ؤ ـ په لږه موده کې بلد شو ـ زهٔ او خور مې سره د وړوکي ورور ښوونځي ته تلو ـ تر نهم ټولګي پورې مې انات کلي کې سبق سرته ورساوه ـ لسم مې په پېښور کې پاس کړو ـ لوړې زده کړې مې د افغانانو په پوهنتون کې سرته ورسولې ـ د ژورنالیزم څانګې فارغه شوم ـ څه موده وروسته د افغانانو په فرهنګي ټولنه کې مې کار پیل کړو ـ په لیکنو مې لاس پورې کړ ـ ځینې ژور نالستي کارونه مخې ته ورړم ـ لا تر اوسه په پېښور کې اوسیږو ـ د پاکستان ځینې ښارونه لکه کراچۍ ، پینډۍ ، اسلام اباد ، پنجاب ، کویټه او نورو ته مې سفرونه کړي دي ـ په انګلیسۍ ، اردو ، پښتو او فارسۍ کې پوهیږم ـ کلي ، ښار او بیل بیل کولتورونه مې ولیدل ـ زما سره د کابل د لیدو تلوسه زیاته وه ـ په کوچینوالي کې یو ځل پخوا د پلار سره کابل ته تللې وم ـ کله چې د ډاکټر نجیب دولت سقوط شو ـ په پاکستان کې د تنظیمونو نه جوړ شوي حکومت د مجددي په مشرۍ کابل ته ورانتقال شو ـ د مجاهدینو کاروانونه کابل ته ورمات شول ـ ما هم له ځان سره پریکړه وکړه ـ چې کابل ته لاړ شم ـ د پیر صیب د ډلې دوه تنو سره چې هغوي هم فرهنګي کسان وو ـ ملګرې شوم ـ یو سبایي وختي مو له پېښوره د تورخم په لوري حرکت وکړو ـ کله چې د تورخم مزي ته ورسیدو او مو لیدل چې ډېر خلک له دیخوا نه په مزي روان وو ـ موږ هم له سرحده واوښتو ـ په یوه

غواګۍ ګاډي کې د جلال اباد په لور روان شو. سړک بیخي خراب شوی ؤ .ماسپښین لوا ړ جلال اباد ته ورسیدو. په ښار کې ګڼه ګوڼه زیاته وه .یوه هوټل کې مو غرمنۍ تیره کړه. بیا د کابل هډې ته ورغلو. ګادي په بیړه ډکیدل او کابل ته روانیدل. په لاره مو ولیدل چې ځینې پاکستاني او افغاني کسان له سویو ګاډو نه او سویو ټانکونو نه تاؤ وو. ټانکونه او ګاډي به یې ریبل او کباړ کول یې .موټرې به یې ترې ډکولې او د پاکستان په لوري به ډکې ډکې لارۍ چلیدلې. د ماښام خړه لګیدلې وه. چې زموږ ګاډی د پل محمود خان په هډه ودرید .له موټره راښکته شو .له یوه ټکسي سره یې د خوشال مېنې پورې خبره وکړه .ټکسي چلونکی په عمر پوخ سړی ؤ. پخپلو خبرو کې یې له مجاهدینو سر ټکاوه. په تیره بیا د دوستم د ملیشو نه. ویلې څو ځل د ګلیم جم ډلې کسانو ودرولی یم. زما له موټره یې تیل ویستلي پخپل موټر کې یې اچولي دي. که به مې څه ورته ویلې. د ټوپک په کنداغونو یې وهلم. الله دې د دوي بیخ اوباسي. ټول خلک ترې په عذاب دي. او دا یې لا ګوره په وزارت خانو ورننوزي. په دفترونو کې چې هر څهٔ پراته وي. تالان پرې کوي. چا میز په اوږه ایښی وي چا څوکۍ ورسره اخیستې وي. ځینو کوټبندونه راخیستي وي .د دفترونو قالینې یې په څو تنه نیولې وي. کور ته یې وړي. یو چور یې راخیستی دی.

له ټکسي نه ښکته شو په یو کورورننوتو میلمستیون ته ورغلو. لوی سالون کې څو کسان ناست وو .زموږ په لیدو ټول راپاڅیدل ښه توده ګړه بړه ( ستړي مشي ) یې راسره وکړه .زما ملګرو زه هغوي ته ور وپیژندلم .هغوي یې هم یو یو ماته راوپیژندو .له چاي او ډوډۍ نه وروسته په کوټه کې ناستو کسانو کې یو تن چې په نورو کې لږ څه زوړ ښکاریده. نسوار یې په توپدانۍ کې تو کړل. بیا یې خوله کنګال کړه. ویې ویل نن له کوټه سنګي نه خپلو پښو راخلاص کړی یم .ټول هاغه ته

متوجې شول . یوه ورته وویل څنګه ؟ د یو بجې په شاو خوا کې کوټه سنګې نه ښار ته راتلم . حیران ووم چې په څه کې ښار ته لاړ شم . ځکه چې نه ملي بس ؤ نه نورې موټرې . په ټکسي پسې مې هم پام وکړ . ټکسي نه پیدا کیده . بس زړه کې مې وویل . پخپلو پښو ښار ته ځم.

را روان شوم . ده بورې ته لا رسیدلی نه ووم . چې ناڅاپه ډزې ونښتې . پام مې کاوه په سړک بې له مانه هیڅوک نه لیدل کیدل . د همزنګ پورې چې راتلمه ډزه روانه وه . کله به زما شا و خوا ته د ټوپکو مرمۍ لګیدلې . دده خبرې یوه بل تن چې اورېده رېږه تسپې بې اړولې . یو څه په جدي او تنده لهجه کې یې وویل . له روسانو سره زموږ جهاد په حقه ؤ . مګر دا څه دي؟ هغو جهادیانو خو اوس د کابل ښار ورانولو ته نیت دی . په کابل ښار کې چور ګډ دی . هر چا نه لیوه جوړ شوی دی . اخر دا به څه کیږي ؟

زما سره چې تللي وو . یوه وویل: خبره د مشرانو نه ورانه ده . خالي د واک په سر جګړه ده . اووه تنظیمونو د کابل ښار کې یو بل ته راکټونه نیولي دي . څوکۍ یوه ده او ډلې زیاتې دي . ددې خبرو په جریان کې ناستو کسانو د حالاتو نه سر ټکاوه . موږ درې ورځو کې په کابل کې د خپل منځۍ جګړو ویرونه او اورونه ولیدل . د جهاد نه مو زړه تور شو . ځکه هغو مشرانو چې د جهاد او تش د اسلام په نامه ځانونه رهبران او مشران ګڼل . په عمل کې یې ثابته کړه . چې هغوي یوازې د قدرت لیوني دي . په څلورمه ورځ موږ واپس پېښور ته د تلو نیت وکړو . جنګ جګړو له لاسه کابل ته په تلو پښېمانه کړي وو . په لاره ډکې موټرې له کډو بار په تورخم اوښتې . تپوس مو لار کې وکړو . هر چا ویلې . د پخواني حکومت مامورین پاکستان ته مات شوي دي . کله چې له پاکستان نه تنظیمي حکومت ولیږل شو . د پخواني دولت کار کوونکي مامورین افسران له مخې پاکستان ته کډه شول . ځینې په کمپونو کې ځای پر ځای

شول ـ ځیني د پاکستان په بیلو ښارونو کې دیره شول ـ هر چا ځانته یو کسب او روزګار پیل کړو ـ چا د ټاټکي مزدورۍ ته ملا وتړله ـ او چا نوره مزدوري پیل کړه ـ

د نویو مهاجرو حالت ستونزمن په دې ؤ ـ چې د هر چا د تهدید سره مخامخ ؤ ـ پخوانیو مهاجروبه د نویو راغلو مهاجرو پسې دوړې ویشتلې ـ لا د ځینو سپکاوی به هم کاوه ـ په نوي مهاجرو هره شیبه مرګ تیریده ـ چاره یې نه وه ـ هر څه یې په ځان منلي وو ـ ډېر خراب حالت سره مخامخ شوي وو ـ یوه ورځ د پېښور ښار د سبزۍ په منډهۍ ورتاو شوم ـ له لیرې مې ولیدل چې د سړک پغاړه پولیس د یوه تن سبزۍ والا تښنګ په لغته وواهه ـ سبزي ترې وغورزیده ـ زه چې نزدې ورغلم ـ پولیس ورته سپکې سپورې ویلې ـ هغه ورته په داسې حال کې چې خپل نیمایي مخ یې په خړه چرړۍ ( ټوټه ) پټ کړی چو په خوله ولاړ ؤ ـ خیرنه خولۍ یې په سر پرته وه ـ څنګ ته یې وړوکی زوی ژړغونی ولاړ وو ـ د پلار سترګو ته یې ورکتل ـ پولیس ردې بدې ویلې ترې لاړ ـ نور سبزي پلورونکي هم د پولیس له ډاره پټ شوي وو ـ پخپلو سبزیو یې څادرې غوړولې وې ـ خود د بیچاره شومیت و ( نصیب ) ما د هاغه خوا ته ښه ځان ورنزدې کړ ـ ورته مې وویل ـ یار پولیس څاره کنه ـ دوي خو د ظالم زامن دي ـ د هیچا خیال نه ساتي ـ هغه په داسې حال کې چې له قهره یې خپل غاښونه چیچل ویې ویل ـ دې د پنجابي غلامانو نه ډېر پۀ تنګ یو ـ ورو مې ترې پوښتنه وکړه ـ بخښنه غواړم وروره ـ وطن کې دې څه کار کاوه ؟

وطن کې به دغسې بې وجدانه پولیس راته تیار ولاړ ؤ ـ یوه شوم چې افسر دی ـ ما وې مه خفه کیږه ـ په موږ او تاسو اوس دغسې حالت راغلی دی ـ بله چاره نه لرو ـ د ژوند د هر حالت سره مجادله او مبارزه پکارده ـ هغه په شونډو کې ورو شانې وویل ـ هر څه زموږ د خپله لاسه دي ـ یو بل تن له لیرې ورنارې کړې ـ ډګروال صیب لکه چې بیا یې کراچۍ درته

وغورزوله .ده وویل هو دا د پنجابي غلام مې غریبۍ ته نه پرېږدي . زماظاهري ټیپ و ټاپ لکه د پاکستانیانو وه .هلته و خبرې یې راسره ونکړې.ماغوښتل چې راویې ګړوم.خو هغه ډېر ستومانه ؤ.هسې خو دده پښان ډېرو د لوړو او ټیټو درجو افسرانو همدغه کار کاوه.پولیسو به هره ورځ په تکلیفول.د سبزۍ منډۍ ته روان شوم.د خپل کور په نیت چکر په چکر تلم.لا د سبزۍ پلورني ډګر وال په سوچ کې ووم.ریکشه مې مخې ته ودریده.کتل مې یو ملګری مې له ریکشې نه راښکته شو . روغبړ مو سره وکړو.ما وې خیر دی کوم خوا روان یې ؟ویې ویل .د جلوزو کمپ ته روان یم.ته مې ولیدې ما وې که کار دې نه یې چې راسره لاړ شې .ما خیر خو دی ؟ هغه وویل په کمپ کې په راشن پاسونو جګړه پیښه شوې ده زمونږ پکې یو خپلوان زخمي شوی دی.چې د هاغه پوښتنه وکړو.راځه دواړه به یو چکر لاړ شو.زما لپاره خو په زړه پورې وه.ما وې سمه ده .په ټکسي کې د جلوزو کمپ ته لاړو.په کمپ کې په ډېر شمیر افغانان اوسیدل .په نورو کمپونو کې هم لکه د زاخیلو ، شمشتو، خراسان ،باجوړ، بلوچستان او داسې نورو کمپونو کې ګڼ افغانان وو .د ټولو کمپونو خلک په بیلو بیلو تنظیمونو پورې یې اړه درلوده.د هر تنظیم مشر او د هر کمپ واکمن معلوم ؤ.

دغه مشران د پاکستان حکومت او آئي ایس آئي پورې غوټه وو. له بهر نه به چې د پیسو او وسلې کمک او مرسته راتله.په لومړي ځل به د حکومت او آئي ایس آئي لاس ته ورتله یوه برخه یې د تنظیمونو مشرانو ته ورکوله.هغوي به یوه اندازه په کمپونو ویشله.او نوره به یې خپل جیب کې اچوله.

ګرانو لوستونکیو دا بحث سیاسي لیکنه غواړي او دا د سیاسي پوهانو کار دی.هسې د مهاجرو د کمپونو او د هغوي د ژوند په حقله رایاده شوه.نو ځکه مې دلته ورته اشاره وکړه.

رښتیا موږ چې کله د جلوزو کمپ ته ورسیدو۔د کمپ مخې ته بلا خلک لوی واړه لکه د میږیانو غونځیدل۔انډیوال مې راته کړو ۔پدې کمپ کې ډېر بیروبار دي۔هره ورځ پکې یوه لانجه خو وي۔د کمپ ژوند خو له ستونزو ځکه ډک ؤ چې لومړی ستونزه یې د کورونو وه ۔هرې کورنۍ ته یې دوه دوه کوټې ځای ورکړی ؤ ۔د خلکو شمیر زیات ؤ ۔ دکمپ ساحه لږه وه ۔موږ چې ورکره ورغلي وو ۔د هغوي هم دوه کوټې کور وو ۔د کور والاو د غړو نه یو تن لږ زخمي ؤ ۔د کمپ په پیښه کې نور کسان د مرګ تر بریده زخمي شوي وو ۔په یوه وړه خبره باندې د مهاجرو جنجال په ګوتو اچولو او وهلو ټکولو پایې ته رسیدلی ؤ۔موږ ورسره تر ماسخوتن تیره ناست وو ۔د کاله سړي وویل۔د چا سره یې سړی سپینه کړي۔کسم دی چې په دروغو یې د جهاد له نامې نه بده ګټه پورته کړه۔دا هر یو چې ګوري په ځان پسې یې لس دولس د مړو نومونه لیکلي دي ۔ راشنې پرې را اوباسي او بازار کې یې خرڅوي۔خدای راستي که د یوه هم پیشکه لا مړه وي۔ تش د شهیدانو لستونه یې جوړ کړي۔د نورو ژوند یو حق پرې له منځه وړي۔هر یو د خپل توان او وسه پورې غل دی۔په ناروا او دروغو د پردي حق خوري۔د هغوي کره د هغوي یو تن دوست چې په کمپ کې اوسیده۔او دلته ناست وو ۔یې ویل۔حیران دې ته یم چې سم دم پینځه وخته لمونځ کوي۔ځانته ښه مجاهد او مسلمان هم وایي ۔مګر دروغ ویل ، چل ول ، ناروا ، د بل مال په غبن خوړل ورته نسوار هم نهٔ ښکاري۔د جهاد او اسلام نوم یې بد کړو۔

د کور د خاوند قهر او غضب لا پسې زیات شو ۔وړې سترګې یې په تندي کې لا پسې ورکې شوې ۔د تندي ګونځې نورې هم پسې زیاتې شوې۔ویې ویل۔دا چې پدې کمپونو کې پراته دي۔اوس یې په دې لوبو پیل کړی دی۔په وطن کې سم دم مسلمانان وو ۔دغه ټګي او برګي یې هډو پیژندله نه ۔خو اوس چې یې اوګورې هغه د غرونو او درو خلک اوس

ددې ځای د خلکو نه څو ګزه بر لو کوي ـ بس په همدې خبرو کې ترې موږ کور ته د تلو اجازت ترې واخیست او ټکسي کې کور ته راغلو ـ

ډېره موده وروسته له کومه نه چې د نجیب دولت له منځه لاړ ـ ورپسې سمدستي د تنظیمونو د غوبل وخت راورسید ـ دلته لازم ګڼم چې دډاکټر نجیب اله نقل قول ولیکم ـ هاغه د خپلې واکمنۍ په اخرو شپو کې د راډیو تلویزیون له لارې ویلي وو ـ
د افغانستان په مسئله کې غربیان ، امریکایان راغلي دي ـ زه تاسو ته دا خبره بربنډه مخې ته ږدم ـ چې دلته د اسلام د ګټو لپاره نه د اسلام د ساتلو لپاره نه د اسلام د حفاظت او همدردۍ لپاره څوک همدردي نه لري ـ بلکې په اسلام کې نفاق اچوي ـ په مسلمانانو کې د فتنې اچولو پروګرام مطرح دی ـ موږ به نه یو خو بیا به تاسو اوګورئ چې د همدغو غربیانو او امریکایانو په لاس به پاکستان باندې د جهاد مشرانو په واسطه پدې ملک کې څه جوړیږي ـ یو بل ته به په مورچو کې ماشه په ګوته ناست وي ـ خپل میانځي وژنه او د کابل د ورانولو پسې به ټولو ملا تړلي اوسي ـ رښتیا ده چې څنګه یې ویلي وو هماغسې وشول ـ

## دریم څپرکی

ډېر کلونه وروسته د یوه کلیوال انډیوال سره د پینډۍ په چکر لاړم. هغه راته ویلي وو - چې پینډۍ کې یې تروزي او سیېږي. په لاره مې ترې د هغه د تروزي پوښتنه وکړه - ما وې انډیوال تروزی دې څه کاروبار کوي ؟ هاغه پداسې حال کې چې د ګاډي له کړکۍ نه یې بهر پام کاوه. مخ یې راواړو - ویې ویل. تروزی مې ډېره موده کیږي. چې پینډۍ کې د یوه پنجابي سره په یوه کارخانه کې شریک دی. کاروبار یې ښه روان دی. هغه پنجابي د کیمیا ډاکټر دی. ډېر ښه سړی دی. د دواړو تر منځ باور موجود دی. د دواړو د اتفاق په نتیجه کې کاروبار هم ښه روان دی. ځینې کیمیاوي مواد په کارخانه کې جوړوي. بیا یې نورو ملکونو ته لیږي. تروزی مې هم د ښه ګپ شپ سړی دی. د لوړ تعلیم او ښه خوي خاوند دی. خپلې بنګلې او ګاډي لري. اقتصادي حالت یې ښه دی. دوه درې شپې به ورسره وکړو - زموږ به ورسره ښه ساعت تیر شي. چې ویې ګورې خوښ به دې شي. د پینډۍ په ګاډي کې کښیناستو مازدیګر لوړ ورسیدو. د ریل استیشن نه په ټکسي کې سپاره شو. ټکسي چلونکي ته یې پته ورکړه. هغه د پتې او ادرس په پیژندو سره خپل سر وخوځاوه. بیا یې ټکسي روان کړ. د ښار په یوه څنډه د یوې سرسبزه او شادابه سیمې نه تیر شو. له ډېرې ګڼې ګوڼې نه ووتو. د هغوي د کارخانې تر څنګ ټکسي نه ښکته شو. له ښار نه وتلې بې ودانیو ځای کې د هغوي کارخانه ولاړه وه. یوه د اوبو ویاله یې له څنډې تیره شوې وه. د سیمې شا و خوا ته ګڼې ونې ولاړې وې. پنځوس متره وړاندې شنه پټې او د سبزۍ تر مینځه خلک لیدل کیدل. څو ګامه مخامخ د کارخانې په دروازه کې یو تن

محافظ ولاړ وو ـ موږ یې ودرولو ـ ویلې د چا سره مو کار دی ؟ ده ورته وویل ـ د فرهاد صیب سره ملاویږو ـ هغه بیا وویل جي ستاسو نامه... !
ورته وو ایه نعمت تروزی دې راغلی دی ـ لږه شیبه وروسته محافظ په منډه راغی ـ وې ویل صیب راځئ تاسو مهرباني وکړئ ـ له دروازې نه دننه لاړو ـ مخې ته مو هغه راغی ـ ده ویلې تروزی راغی ـ د هغه دفتر د کارخانې وره ته نژدې وو ـ موږ لا دفتر ته نه وو ور رسیدلي ـ کتل مو چې له لیرې یو تن جګ ځوان په سپینو جامو کې تور غوږ کړي ویښتان د خندا شین له ورایه یې غږ کړو راځئ ، راځئ تروزي مخامخ راځئ ـ هغه په چابکو ګامونو تر موږ ځان راورساوه ـ لومړی یې خپل تروزي سره غیږه ووهله ـ بیا یې له ما سره ، ملګري مې په روغبړ کې ورته معرفي کړم ـ هاغه یې ماته راوپیژانده ـ بیا یې خپل دفتر ته بوتلو ـ د دفتر هوا یخه پدې وه چې ایرکنډیشن پکې چالان وو ـ سمدستي یې د دفتر کارګر زموږ مخې ته یخې بوتلې کیښودې ـ فرهاد له موږ سره په څنګ کې کښیناست ـ له مانه یې د روغ ناروغه بیا پوښتنه وکړه ـ بیا یې له تروزي سره احوال پوښتنه وکړه ـ هغه په خبرو او برخورد کې ډېر نرم او مهربانه ښکاریده ـ په ورین تندي او خندا په حالت کې یې له تروزي سره خبرې کول ـ لږه شیبه وروسته یو چاغ تور پنجابي چې په کوپړۍ یې ډکې ویښتان نه وو ـ غټې سرې سترګې له ونې دنګ په عمر پوخ ښکاریده ـ په وره راننوت ـ موږ یې ورمعرفي کړو ـ هغه یې موږ ته راوپیژند ـ فرهاد موږ ته په پښتو کې وویل ـ دا زموږ د کارخانې مشر دی ـ هاغه لکه د پښتون په څیر موږ سره ټینګ روغبړ وکړ ـ بیا یې د فرهاد سره د کوم کار په اړوند څه خبره وکړه ـ موږ ته یې مخ راوګرځاوه ـ ویې ویل زۀ درسره بیا ګورم ـ له دفتر نه ووت ـ فرهاد هم ورپسې په وتو کې وویل ـ تاسو کښینئ زه واپس زر راځم ـ ملګري مې راته په غلي اواز وویل ـ اندیواله زه خو دلته ځم راځم ـ دا پنجابیان په خدای چې د صوبه

سرحد د پښتنو نه په ډېرو برخو کې ښه دي ـ په راشه درشه ، کلتور او اداب معاشرت کې څو چنده له پښتنو نه مخکې دي ـ د صوبه سرحد خلک یوازې د غرونو او درو خلک لوټکي د ټینګې ارادې او ټینګ لوظ خلک دي ـ خو د هوارې او ښاریه او سیدو کي ټګی او چلول باندې ژوند کوي ـ د درو او غرونو خلک چې ټول عمر یې په دښمنۍ او تربګنۍ کې تیر شو ـ چې اصلي وجه یې بې علمي او بې سوادي ده ـ اصلاً خو پنجاب دوي له پوهې او تعلیم نه بې برخې ساتلي دي ـ ولې پخپله په دوي کې هم دا احساس کمزوری دی ـ په هر صورت ، له کله نه چې زه دا پنجابی پيژنم ـ سره له دې چې د کارخانې زیاته سرمایه دده ده دا تورورزی یې له ځان سره شریک کړی دی ـ د کارخانې پوره واک یې ده ته ورکړی دی ـ لکه د ورور غوندې چلن ورسره کوي ـ تورورزی ورسره هم په ښه راستۍ کاروبار مخې ته وړي ـ پخوا یې ورسره عادي کار کولو ـ بیا یې وروسته له ځان سره په کارخانه کې شریک کړ ـ اوس د هستۍ او بنګلو خاوند دی ـ د دواړو خوږه دوستي هم ده ـ دا پنجابی بابو په پنجاب کې کارخانې لري ـ نور ورونه یې دي ـ هلته د ډېرو شتو او مالدارۍ څښتن دی ـ

فرهاد په دروازه کې راننوت ـ د خندا په حالت کې یې وویل ـ خفه نشئ ـ زه دا دی راغلم ـ مهرباني وکړئ ـ راځئ لومړی به په ښار کې چکر ووهو ـ مازدیګر به کور ته لاړ شو ـ بهر دفتر مخې ته یې نوی ښکلی ګادی ولاړ وو ـ په ګاډي کې کښیناستو ـ ویې ویل ـ په ځینو ځایونو به ورو ګرځو لوټکي ساعت به مو تیر شي ـ زما انډیوال ورته وویل هو سمه ده ـ دا زما ملګری به هم د پینډۍ ښار او ګوري ـ ما ته یې راو کتل ـ ویې ویل ځنګه اشنا ؟ ما وې ډېره ښه ده ـ ګاډی روان شو ـ ګرمۍ خوله لګوله ـ مګر په ګاډي کې ارکنډیشن ؤ ـ په څو دقیقو کې خوب یووړم ـ یو وخت مې په ولې چا لاس کیښود ـ سترګې مې وغړولې ـ ملګري مې وویل ـ تا خو سترګه زګه کړه ـ خو وایه زموږه ـ له موټره ښکته شو ـ کتل مو چې په کوم

تاریخي ځای ورپیښ شو۔ ډیری خلک پکې خوځیدل۔ دغه تاریخي ځای په جګه غونډۍ وو ۔شا و خوا تـرې ټول ښار ښکاریده ۔د ماښام خړې پورې وګرځیدو ۔هرې خوا ته مو سیل صفا وکړو ۔له هغه ځای نه بیا د فرهاد د کور په لور وخوځیدو ۔په لږه شیبه کې د هغوي کور ته ورسیدو۔ له ګاډي چې کوز شولو سمد ستي د یوه باغ مخې ته په لویه دروازه باغ ته ننوتو۔له دروازې سره څیرمه د ناجودونو منځ کې نرۍ سمنټي لاره تللې وه۔دواړو خواو ته یې رنګ په رنګ ګلونه وو۔د بڼ ونې ، زینتي بوټي او ګلونه د بریښنا د سپینو ګروپونو په ځلا کې ښکلي او په زړه پورې ښکاریدل۔د بڼ په بره خوا کې درې پوړه دنګه سپینه ماڼۍ وه۔مخې ته یې د اوبو فوارې په کبلو او ګلونو اوبه شیندلې۔د شنه چمن په منځ کې د ودانۍ په لاندې پوړ کې د ناستې لوی سالون ته ورننوتو ۔سالون په رښتیا چې ډیر یخ ؤ۔ارکنډیشن پکې چالان وو۔خو نه ډیره پراخه وه۔د سالون په مخامخ دیواله کې ټي وي (تلویزون )بنده وه ۔موږ چې په کوچونو کښیناستو یو سړی راننوت۔ورپسې دوه درې هلکان راغلل۔ موږ سره یې روغبړ وکړ۔زه یې ورمعرفي کړم۔هغوي یې ماته راوپیژندل ملګري مې راته کړو۔زه به ستا په اجازه یو ځل دننه د ترور لیدو ته ورشم۔ ما وې ولې نه۔مهرباني وکړه۔هغوي دواړه دننه لاړل۔زهٔ د هغه بل سړي سره چې مونجي ږیره ئې وه۔لوړ دنګ سړی وو۔په سالون کې پاتې شوم۔ هاغه راته را وړاندې شو۔ویې ویل۔ځوانه خفه نشئ۔رښتیا تروږزي راته سم څه ستا په باب ونه ویل۔چیرې اوسیږې ؟ ما وې ولې به خفه کیږم۔ خپل کور مې دی۔اصلاً خو زه د ننګرهار یم خو اوس پېښور کې اوسیږو۔ ما په ژور نالیزم کې سبق ویلی دی۔کوم رسمي کاروبار نه لرم۔بس یوازې لیکنې کوم۔ځینې معلوماتونه راغونډوم۔راتلونکي مې لا نده معلومه۔ اوس خالي په چر راغلي یو۔هغه راباندې پوه شو چې خالي جیب ګرزي۔د کار نه دي ۔په ډاډمن غږ یې وویل زما خو یو زوی په اسلام اباد کې د

انګلیسي ژبې ترجمان دی. او بل زوی مې د راشن پاسونو کمانډر دی. زه پرې پوه شوم چې د سړي غوا لنګه ده. ما وې نو ته څه کار کوې؟ زه خالي د میاشتې په لومړیو ورځو کې کله چې زوی مې راشن پاسونو باندې مواد واخلي هغه په بازار کې پلورم. یوازې هم دغه مې کار دی. زړه کې مې وویل (دا خو د هما غوله جملې نه دي) غوښتل یې چې پدغه باب ډېر وغږیږي مګر زه ترې تشناب ته لاړم. اودس مې تازه کړ. بیا هغوي هم سالون ته راغلل. دماښام مانځه نه وروسته ډوډۍ تیاره شوه. ماسخوتن تیره پورې د پاکستان او افغانستان په حقله خبرې اترې کیدې. شپه مو په خوښي سره تیره کړه. سبایي له چایو نه وروسته کارخانې ته لاړو. زما ملګري فرهاد ته وویل. ترروزې زه پېښور کې ضروري کار لرم اوس درنه اجازت اخلو. له پینډۍ نه د پېښور په نیت وخوځیدو. مازدیګر لوړ پېښور ته ورسیدو.

ده ویلې ډېره موده وروسته یوه همصنفي (ټولګي وال) مې رانه هیله وکړه. ویلې کابل ته راسره لاړ شه. حالات ښه شوي دي. په مزي کې هم تګ راتګ ازاد دی. یو خپلوان مې له بنده ازاد شوی دی. هغه له امریکایانو سره بندي ؤ. څه موده مخکې راخوشې شوی دی. ما ورته وویل انډیواله کابل نه مې زړه تور دی. ځکه چې کوم وخت د مجاهدینو حکومت له پاکستان نه کابل ته انتقال شو. په هماغو شپو ورځو کې کابل ته لاړم. د تنظیمونو تر منځ نښتې مې چې لیدلي دي. بیا مې د کابل لیدو ته زړه نه کیږي. هغه راته په ارامه لهجه وویل. اوس هغه وخت نه دی سړکونه پاخه شوي دي. قوماندان سالارانو د ننګرهار او کابل په ښار کې نوې لوړې ودانۍ جوړې کړې دي. د ګرد نړۍ خلک لر بر کیږي. د امریکایانو باچاهي به هم اوګورې بله دا چې زما یو دوست له باګرام زندان نه راخوشې شوی دی. د هغه لیدو او مبارکي ته به ورشو. هغه ډېر ښه سړی دی. ما وې چې ښه سړی دی ولې بندي ؤ؟ هغه ګلیم جمیانو د

طالبانو په ټیل کې امریکایانو ته سپارلی ؤ ـ ځمکه او مال یې ترې اخیستی ؤ ـ د طالب په نامه یې غیر حق بندي کړی ؤ ـ که دې ولید بیا به وایې چې رښتیا هم ـ د پښتون په نامه یې د جایداد غصبولو لپاره یې امریکایانو ته تسلیم کړی ؤ ـ ډېر وخت به نه تیرو و ـ درې څلور ورځې به چکر ووهو ـ واپس به پېښور ته راځو ـ ما وې تر سبا سهار پورې وخت راکړه ـ زه به فکر وکړم ـ بیا به درته زنګ ووهم ـ

سبا یې مې وختي اندیوال ته تیلیفون ور وکړ نګاوه ـ کابل ته د تلو مې ورته وویل ـ هغه خوشحاله شو ـ ویې ویل ـ سهار په اته بجو به زۀ درشم ـ یو ځای به د ګاډو هډې ته لاړ شو ـ سبا سهار مې د کالیو بکس ورسره وخیست ـ د کور له غړو نه مې په اجازت او مخه ښې ویلو د کور نه په راوتلو کې هغه راغی ـ موږ دواړه کابل ته د تلو سفر نیت وتړو ـ د جلال اباد او مزي ته د موټرو تم ځای ته ورغلو ـ سمدستي یوه ګاډي کې کښیناستو ـ مخ په خیبر ګاډی روان شو ـ هاغه راته د لارې په اوږدو کې پراته کلي یو یو راښوده ـ زما لومړی ځل ؤ چې د تورخم په مزي اوختم ( اوښتم ) کله چې د تورخم مزي ته ورسیدو لکه د میږیانو غوندې خلک په مزي کې تله راتله ـ یاني اوښتل راوښتل ـ موږ هم له مزي تیر شوو ـ میرولي خو بلد ؤ ـ ددغې لارې سفرونه یې کړي وو خو ماته هر ځای ، غرونه او هوارې ، کلي او فصلونه د لیدو وړول ـ په تورخم کې جلال اباد موټر ته وختو ـ زما لپاره د لارې ښایستونه په زړه پورې وو ـ د لارې په اوږدو کې ځای په ځای امریکایي او انګلیسي پوځونه پراته وو ـ چې رښتیا راباندې وایې سترګې مې پرې بدې لګیدې ـ خو زما په واک کې څه وو ـ څه مو کړی وای ـ لاس مو نه رسیده ـ لنډه دا چې زموږ ګاډی د جلال اباد ښار ته ورسیده ـ کتل مو چې هره خوا به د خارجي پوځونو موټرې له عسکرو نه ډکې روانې وې ـ له سړکونو خړ ګردونه پورته

کیدل. په غرونو کې ډزې کیدلې. د جلال اباد ښار کې د خلکو دومره ګڼه ګوڼه نه وه.

یوه هوټل ته د غرمنۍ لپاره ورغلو. د هوټل مخې ته د کباب لوګي ټوله شا و خوا نیولې وه. د هوټل شاګرد په لاره هر تلونکي د کباب خوراک ته هوټل ته په لاس رهنمايي کاوه. موږ هم د هغه په اشاره هوټل ته ورننوتو. د کباب خوړلو نه وروسته مو کابل ته د تلو تکل وکړو. د کابل لین موټرو هډې ته لاړو. په یوه فلاینکوچ کې سپاره شوو. زه پخوا د شپږو کالو به ووم. چې یو ځل کابل ته د خپل پلار سره تللی ووم. خو اوس رانه هر څه هیر شوي وو. له درونټې نه چې تیر شو. تر سروبي سړک کنډې کپرې شوی وو. موټر پکې په کرار کرار چلیده. مازدیګر لمونځونه مو سروبي کې وکړل. بیا مخ په کابل ګاډی روان شو. ماسخوتن وو چې پل محمود خان ته ورسیدو. له موټره ښکته شو. ملګري مې وویل زموږ خپلوان دي. هم هغه چې د لیدو په هیله یې کابل ته راغلو. یو ټکسي موټر یې ودرو. پکې سواره شولو. هغه ټکسي چلونکي ته د کور پته ورکړه. لږه شیبه کې یې د باغ بالا ( جګ بڼ ) لاندې د یوې کوڅې سر کې د درې پوړیزې ودانۍ مخې ته ښکته کړو. د کور زنګ یې وواهه. یو هلک راووت. دي پیژندلو. ښه توده ستړي مشي یې ورسره وکړه. ما سره هم روغبړ وکړ. له ځان سره یې ننویستو. د لومړي پوړ په سالون یې وردننه کړو. چې کتل مو څلور پنځه تنه په کوټه کې ناست وو. هر یوه ستړي مشي وکړه. لږه شیبه وروسته زما ملګری پاڅید ویې ویل زه به یو ځل دننه لاړ شم. ماته یې مخ راواړو. ویلې واپس زر راځم. په سالون کې ناستو کسانو د امریکائي عسکرو خبرې کولې. چا ویل امریکایان په کلیو کې تالاشي کوي. په کورونو پخپل سر ورننوزي. زموږ کلتور ته نه ګوري. یوه رسوائي یې پیل کړې ده. که څوک ورته څه ووایي سمدستي یې بې پوښتنې یې له منځه وړي. د روسانو په وخت کې داسې بې یابې نه

وه لکه دا اوس چې دوي پیل کړې ده. هر چا همدغه خبرې کولې. پدې کې یو سپین ږیري سالون ته راغی ورپسې زما ملګری او د کور نور کسان ورپسې وو. ناست کسان ورته پورته شول. زما ملګري په اشاره پوه کړم چې ګني دا سپین ږیری هغه راخوشی شوی بندي دی.

زه په چالاکۍ او بیړه ورمخې ته شوم. روغبړ مې ورسره وکړ. ملګري مې ورته ورمعرفي کړم. هاغه ښکل کړم. له ځان سره یې په کوچ کې کښینولم. خلکو خبرې کولې. لږه شیبه وروسته دوه تنه راننوتل. یو له رنګه تک تور ؤ. زما ټول فکر د هغه سره شو. ما وې چې دا هندو دلته څه کوي.

یوه د کور سړي هماغه دواړو ته وویل. دې میلمنو ته ډوډۍ راوړئ. هغه یوه وویل. پلار جانه موږ هم ددې لپاره راغلو چې میلمانه د ډوډۍ میز ته لاړ شي.

موږ دواړه یې بلې کوټې ته د ډوډۍ خوړلو لپاره بوتلو. زموږ خدمت ته هغه له رنګه تور زلمی او د کور هغه بل ځوان ولاړ وو. ما مې د ملګري نه د هغه پوښتنه وکړه. ده وویل. دا یو بنګالي دی. همدوي سره دلته یو ځای او سیږي ډېر ښه سړی دی. هم ددې حاجي صاحب سره یو ځای په باګرام کې بندي ؤ. دده خپله عجیبه قیصه ده.

په زړه کې مې وویل. سبا ته به دده قیصه باندې ځان خبروم. پخپله به راته خپله قیصه کوي. ملګري مې راته وویل. سبا ته به درته بنګالي خپله قیصه وکړي. سبائي چې چاې وڅښل شوې. د کور خلک هر یو خپلو کارو پسې روانیدل. ماته مې بیا ملګری را وړاندې شو. ویلې ته پما پسې راځه. له سالون نه ووتو. د کور په باغچه کې وړاندې ګوټ ته ( کنج ) ته لکه د ځانګړې حجرې په شان کوټه وه. ښه فرش کړې څوکۍ پکې پرتې وې. هر څه یې درلودل. یانې تشناب برنډه ، شا و خوا ګلونه د ناستې ښکلې صوفه ، له صوفې نه شا و خوا په نرې سمنټي لښتې کې د

رنځ روانې اوبه. يو ښه ارام ځای ؤ. پام مې کاوه چې هغه بنګالي هلک او يو تن سک زلمی ورسره ؤ راغلل. دۀ راته وويل. همدلته به له بنګالي نه د هغه د خپلې قيصې پوښتنه کوې. چرنګ ته يې وويل. دده قيصه به ميلمه ته ترجمه کوې. اګرچې دی خپله په وردو کې پوهيږي. خو احتياط لپاره ته ورسره ښه يې. هغه ويلې سمه ده. ملګری مې لاړ. موږ درې واړه په کوته کې پاتې شو.

ما لومړی بنګالي ته وويل. ته هيڅ فکر ونکړې. زه خالي يو ليکوال يم. ځينې قيصې چې واورم او خوښې مې شي بيا يې ليکمه او چاپ ته يې تيار وم. که تکليف درته نه کيږي اوس به ستا قيصه هم واورم.

## څلورم څپرکې

هغه مې تر ځنګ کښیناست. چرنګ سنګ بلې ډډې ته د هاغه تر ځنګه کښیناست. بنګالي له رنګه تور خو ښکلی اندام یې درلود. د تندي کرښې یې په ځوانۍ کې مخ په ډېرېدو ښکارېدې. لومړی مې ورته وویل. انډیواله خپله قیصه په ارامو اعصابو ښه په خوند راته راواخله. هغه په شونډو ژبه تېره کړه. د سترګو او د مخ ځینو نخښو یې د غمګینو پېښو ګواهي کوله. ویې ویل. چې زما به څه قیصه وي. زموږ د بنګله دیش د خلکو د ژوند قیصې بې خونده او ترخې دي. تاسو ته معلومه ده چې بنګله دیش کې یوازې د شولو کروندې د اوبو له پاسه کلي کورونه او ماهیان نیول تر سترګو کېږي. خوراک یې په عمومي ډول پنډې وریژې او ماهیان دي. د هر کلي په اوبو کې د ماهیانو نیولو برید معلوم. له بله پلوه بنګله دیش کې هر کال د خلکو نفوس زیاتېږي. او ورسره له بده مرغه هر کال خطرناکه سیلابونه راوځي. خلک او نور مالونه او فصلونه یې وړي بالکل د تباهۍ سره مخامخ وي. د بنګله دیش اقتصادي وضعه ډېره خرابه ده. د هغه ځای هره برخه ځانته خپله قیصه لري. خو زۀ به اوس درته یوازې خپله قیصه پیل کړم.

د شپږو کالو به ووم چې پلار مې په حق ورسید. ځوانه مور مې کنډه پاتې شوه. مور مې راته ویلې. چې پلار دې ملیریا په تبه پروت وو. د دوا درملو وس مو نه کیده. له بلې خوا د اوبو په کلي کې نه کوم کلینک وو نه ډاکټر. بس رنځیده رنځیده اخر یې ساه ورکړه. په کور کې بل سرپرست نهٔ. مور مې هر سهار له کوره وتله. د نورو خلکو د شولو په کروندو کې کار کاوه. یو څه مزدوري به یې ورکوله. هم دومره چې ایله

بيله د ورځې خواړه به پرې تيارېدل. او چې کله خو به کار ته لا نړه. په هغه شپه به مورږ کره د خوړلو څه نهٔ وو. ترور به له مورږ سره مرسته کوله. د هغې خاوند ماهيان پلورل. ژوند يې چليده. په مورږ له يوې ورځې نه وبلې ته بدې شپې ورځې راتلې. داسې وخت راورسيد چې مور مې په دغه ورځ کار نه ؤ ميندلی. ماښام ته مو ډوډۍ نه درلوده. ترور هم په دغه ورځ راپيښه ونکړه. نهره شپه مو تيره کړه. هسې خو مورږ ډېرې شپې تر سحره په لوږې ګيډه سبا کولې. د چم ګاونړ خلک هم له مورږ سره په تکليف ول. له بله پلوه د کلي خلک ډېر له مورږ غوندې غريب وو. خالي مرګ ته يې شپې تيرولې. په کله کې يوه زړه بوډۍ ښځه وه. کله کله به يې مورږ ته زړې جامې او کله به يې له چا نه پاتې شوې وريژې راوړې. هغه په مورږ ډېره مهربانه وه. له پخوا نه په ټول کلي کې مشهوره وه. هر چا پيژنده. د هر قسم خلکو سره هغې پيژندل. په دويمه دريمه به خامخا مورږ کره راتله. يوه ورځ زمورږ د کور په دروازه کې لږ څه پښه نيولې شوه. مور مې ورناورې کړې. ادې راځه کنه ولې ودريدې؟ هغې په ورو وويل. سپی څهٔ شو ؟ مور مې ورته وويل. راځه راځه سپی نشته دی. هغې له دروازې نه دننه قدم راواخيست. ويې ويل سپی مو څه کړو ؟ مور مې ورته وويل ادې سپی مې پرون د کلي بر چم کې پرېښود. له لوږې نه بيخي خوار شوی ؤ. کله مې چې د ملک د کور تر څنګ خوشی کړ. په اخره سلګۍ ښکاريده. خالي لکۍ يې خوځوله. يوازې يې ما پلو کتل. زړه نا زړه ترې را روانه شوم. د سپي مې صرف روستۍ سلګۍ او سونګ سونګ واوريد او ترې راپناه شوم. بوډۍ په سپي خفه شوه. تر ډېره په چورت کې تللې وه. بيا يې وويل لورې ستاسې لپاره به خامخا يوه لار لټوم. هغه د وره نه په وتو کې وه. مخ يې راواړو. زما مور ته يې وويل. سبا زه واپس راځم اوس د خدای په امان. زهٔ د هغې په دغه شان خبرو نه پوهيدم. هغه د

کلي نامي بودې وه.لوی وړو پیژنده .په دغو ورځو کې هغه موږ کره ډېره تله راتله.

دوه ورځې وروسته زه له بیرون نه کور ته ننوتم .کتل مې چې د کور دننه بوډۍ زما د مور تر څنګه ناسته وه.څه خبرې یې ورته کولې. مور مې ورته غوږ اېښی ؤ .د خپګان په حالت کې وه .د هغې خبرې یې یوه یوه په غور سره اوریده.هغه بوډۍ به مور ته ورنږدې شوه.په غلي او ورو ورو خبرو یې پوهوله.بوډۍ چې د خبرو په وخت کې خپل وچ لرګی ، زاړه لاسونه چې رګونه پکې راوتلي وو خوځول په بې غاښو کړشو په خوله کې به یې لړه شونډه ورننوته.په تور مخ چې د وختونو تودو سړو وچ کړی ؤ.وړې سترګې یې بیدارې ، بیدارې غړولې.د هغې په خبرو به مې مور خپل سر دهوکړي وخوځاوه.بوډۍ پاڅیده روانه شوه.لږه شیبه وروسته زما ترور په کاسه کې وریژې راوړې.موږ به هر وخت د هغې لاس ته کتل.چې د خوراک څه به ئې راوړل.همداشان زما د لوبو ملګرو به کله چې پلرونو به یې ماهیان ونیول دوه ماهیان به یې موږ ته راکول.نور نو زموږ الله هم پاک او دربار یې هم.مور مې د خپلې خور سره هم په دې ورځ ډېرې خبرې وکړې.ترور زما د مور په خبرو په فکر کې لاړه.یوه شیبه هغوي دواړو خپلو کې سره هې پې وکړو.ترور چې بیا کور ته روانیده. مور مې ورته وویل.سبا ته لږ څه وختي راشه.هغه هم وختي راځي.پدې وخت کې زما د کوڅې انډیوالان راغلل.ویلې راځه چې لوبو ته لاړ شو. موږ به د اوبو له کلي نه وچې ته پورې وتو .هلته به مو د نورو هلکانو سره فوتبال او نورې لوبې کولې.مازدیګر ناوخته په دغه ورځ کور ته لاړم.کتل مې چې مور مې ماهیان پخول زه وږی وم.یوازې ماهیان یې زما مخې ته راوړل .مور وویل بچې ډوډۍ نشته دی هم دا ماهیان به خورو .دا شپه چې تیره شوه سبایي لمر راختلی ترور بیا په وره راننوته. وریژې یې راوړې.مور مې مخې ته ورپاڅیده.د وریژو لوښی یې ترې

راونیو ـ هغې سوړ اسویلی له خولې ویوست ـ کټ کې کښیناسته ـ موږ لا چاې ماې نه وې خلاصې کړې چې بوډۍ بیا راغله ـ دا ځل هغه وارخطا وه ـ لا ناسته نه وه چې مور ته یې وویل ـ لورې زر کوه چې ناوخته نشي ـ مور مې ترور ته اشاره وکړه ـ ویلې دننه کوټې ته راشه ـ مور او ترور مې دواړه دننه کوټې ته ننوتې ـ وروسته له ډېرې اوږدې شیبې نه دواړه واپس راووتې ـ د مور پلاس کې د جامو پنډۍ ـ د ترور سره په لاس کې د کور کلي وه ـ د ترور او مور دواړو حالت راته ډېر خفه ستومانه ښکاریده ـ ماته مې مور وویل ـ هله زویه ژر شه کپړې پښو کړه چې ځوو ـ ما وې مورجانې چیرې ځوو ؟ هغې بوډۍ ته لاس ونیو ـ وې ویل ـ دې ادې سره یو ځای ته ځوو ـ په دروازه کې چې راوتلو ـ مور مې او ترور دواړو غاړه سره ورکړه ـ په ژړا او چیغو یې لاس پورې کړ ـ د دواړو د ژړا غږ په چم کې خور شو ـ بوډۍ ورته تسلي ورکوله ـ زه حیران پاتې وم چې دا ولې ؟ له دروازې نه په وتو کې زرې بیا وویل ـ زر کوئ ناوخته شو ـ په ډېره بیړه له کوره راووتو ـ او وچې ته مو ځانونه ورسول ـ هغه مخکې او موږ ورپسې وروسته روان شو ـ ښه ټوټه مزل مو چې وکاوه ـ مخې ته لوی کلی راغی ـ څو دوکانونه هم پکې وو ـ د خلکو پوره ګڼه ګوڼه وه ـ بوډۍ ګړندۍ روانه وه ـ هغې له پخوا نه دا کارونه کړي وو ـ هر څه ورته معلوم وو ـ د یوه دوکان تر څنګه ودریده ـ موږ ته یې وویل دلته به ودریږو ـ هاغه اوس راځي ـ موږ څه پیژندو چې هغه څوک دی ؟ لږه شیبه کې یو سړی راپیدا شو ـ سپینې جامې یې اغوستې وې ـ لوړ چارشانه له عمره پوخ سړی وو ـ ږیره یې پاکه وهلې وه ـ نری تور بریتان یې پریښي وو ـ سمدستي یې په بوډۍ غږ وکړ ـ ابې راغلې یې ؟ هغې وویل هو دا دی اوس راغلو ـ هغوی په خبرو خبرو کې له موږه بیل شول ـ خپل منځ کې یې څه سره وویل ـ بیا بوډۍ موږ پسې راغله ـ ویلې راځئ ـ د هغه سړي خوا ته چې ورغلو ـ موږ ته یې سترګې مشي وویل ـ ورسره یې جوخت دا خبره وکړه ـ ګاډی مې هلته

وړاندې ولاړ دی. هلته به حسابي کوؤ. هغه مخکې او موږ ورپسې. د سړک پغاړه د هغه ګاډی ولاړ ؤ. دروازه یې خلاصه کړه. یوه بکسه یې تري راواخیسته. بوډۍ ته یې پیسې شمار کړې. بیا یې زما مور ته ونیوې. سړي نورې پیسې بوډۍ ته ورکړې. هغې په بیړه پیسې پخپل جیب کې واچولې. سړي زما مور ته اشاره د ګاډي د ختو وکړه. زړه بوډۍ راوړاندې شوه. زه یې په دواړه ښکل کړم. بیا زما مور په سترګو ښکل کړه. لپه یې پاس ته ونیوه. دوعا یې وکړه بیا یې وویل لورې له دې سړي سره لاړ شئ. هیڅ فکر مه کوه. ټول کارونه دی درته سموي. ددې خبرې سره زما مور په ژړا شوه. په ژړغوني غږ یې بوډۍ ته وویل. ادې زما په جونګړه درسره پام کوه. هغه هم په ژړا شوه. ګادي ته وختو. سړي په چالاکۍ سره بودۍ ته د خدای په امانۍ لاس وخوځاوه. بوډۍ موږ ته کتل او ژړل یې. مور مې هم په موټر کې پټې پټې سلګۍ وهلې. زه حیران پاتې ووم. چې دا موږ به چیري ځوو. او دا مور مې وې ژاړي ؟ پدې وخت کې مور مې د موټر په سیټ کې ځانته راجوخت کړم. ما ورته وویل مور جانې موږ چیرې ځوو ؟ مور مې راته په سر لاس راښکد ویې ویل. بچې له دغه سړي سره ځوو. چیرې مو چې نصیب قسمت وي. سړي په بیړه موټر چلاوه. شیبه په شیبه یې سیګرټ څکول. له ډېر مزل نه وروسته په یوه بازار وربرابر شو. موټر یې غاړې ته ودرو. ویلې دلته به هوټل کې ډوډۍ وخورو. پدې خبره یې زۀ خوشحاله شوم. ځکه چې ان له بیګاه نه وږی وم. هوټل ته ورغلو. ښوک په ډوډۍ ناست وو ځینو خلکو خپلو کې خبرې کولې. ګڼه ګونه د خلکو زیاته وه. موږ یوه میز ته کښیناستو. تیکې یې راوغوښتې. د لومړي ځل لپاره مو په تیکو ځان موړ کړو. له هوټله راووتو. هاغه د سیګرټ څکولو نه وروسته بیا ګاډی چالان کړو. په لږه شیبه کې خوب وړی وم. یو وخت مور مې وخوځولم. ویلې پاڅه ویښ شه. سترګې مې چې وغړولې. توره شپه وه ګاډی ودرید. سړي

وویل راځي چې ځوو ـ د بازار په یوه کوڅه ور سم شو ـ یوه هوټل ته بیا د ډوډۍ خوړلو لپاره ورپورته شو ـ هغه سړي په بنګالۍ هم پوهیده ـ لا هوټل ته نه وو رسیدلي ـ هاغه ما ته وویل هلکه خفه خو نه یې ـ ما وې نه کاکا ـ

خوشحاله او سه ایله بیله مې د اوبو د کلي نه راویستلئ ـ دلته به شپه تیره کړو ـ سبایي به کراچۍ ته په خیر ورسیږو ـ په هوټل کې د ډوډۍ نه وروسته د هوټل په دویم پوړ کې د شپې تیرولو کوټې وې ـ په هوټل کې یې دوه کوټې ونیوې ـ یوه کوټه کې پخپله پریوت او په بله کې موږه ویده شو ـ سبایي له چایو نه وروسته هاغه بیا ګاډی روان کړ ـ ډېر سیګرټ یې څکول ـ د سیګرټو بوي رابانديې بد لګیده ـ خو څه مې نشو ویلې ـ سفر اوږد وه ـ ځای پر ځای به ګاډی ودریده ـ دمه به مو کوله ـ کله چې کراچۍ ته ورنزدې شو ـ ګاډی د یوه سیند پغاړه ودرید ـ هغه وویل ـ دمه به وکړو ـ زما مور ته یې وویل لاس او مخ دې پریمنځه ـ ویښتان دې برابر کړه ـ د کراچۍ ښار ته ورننوځو ـ نور یې څۀ ونه ویل ـ څو ګامه وړاندې لاړ ـ سیګرټ ته یې تیلی وواهه ـ موږ دواړو په سین کې مخ او لاس پریمنځل ـ له موره مې بیا پوښتنه وکړه ـ

مور جاني موږ له دغه سړي سره چیرې ځو ؟ مور مې وویل زویه نه یم خبره ـ د کلي بوډۍ پدې سپارلي یو ـ نوره زه هم نه یم خبره ـ چې سر به مو په کومه لګي ـ مور مې له پنډ کي نه لږ څه نوي ټیکری راویستو په سر یې کړ ـ له دمې نه وروسته بیا ګاډی روان شو ـ ما ته خو په ګاډي کې سفر ځکه خوند راکاوه ـ چې یو کله هم پدغسې ګاډي کې نه ووم تللی ـ بل په خیټه موړ ووم ـ او په ګاډي کې پنجابي ریکاټونه غږیدل ـ ښه ساعت مې تیر و ـ مورجاني مې شیبه په شیبه ساړه اسویلي ویستل ـ کله به یې زه ځان پورې راجوخت کړم ـ حالت به یې ښه شو ـ ما زدیګر تیر ؤ چې کراچۍ ته ورسیدو ـ د ماښام په خړه کې ګاډی د یوه کور مخې ته ودرید ـ سړي وویل

راځئ اوس را ورسیدو ـ کور ته ننوتو ـ کتل مو چې یوه ښځه د دوه تنو اولادونو سره چې یوه جینۍ او یو هلک ؤ اوسیده ـ

مور سره یې ستړي مشي وکړه ـ یوې کوټې ته یې ننویستو ـ په کې پکي چالان وو ـ هغه سړي د کور په انګڼ کې د هغه ښځې سره څه خبرې کولې ـ مور دا فکر کاوه ګني چې دا کور د هغه سړي دی او دا یې ښځه او ماشومان دي ـ ښځه له رنګه توره په عمر به دیرش کلنه وه ـ ډیره چالاکه او مهربانه وه ـ سړی بهر ته ووت ـ ښځې سمد ستي مور ته یخې بوتلې راوړې ـ زما له مور سره یې لکه د خور غوندې چلن پیل کړ ـ ویې ویل هیڅ فکر ونکړې دا ستاسو خپل کور دی خفه نشئ ـ په لږه شیبه کې یې ډوډۍ تیاره کړه ـ له چاې څښلو نه وروسته یې مور ته وویل ـ تاسو باید ارام وکړئ ـ دومره اوږدو سفر ستومانه کړي یاستئ ـ بسترې یې راته هوارې کړې ـ تر سهاره مو ښه خوب وکړو ـ سبا یې له چاې وروسته د کور ښځې زما مور ته وویل ـ راځه تشناب ته ـ مور مې تشناب ته لاړه ـ زه د کور د وړو سره د کور په برنډه کې په لوبو مصروف ووم ـ لږ ساعت وروسته کتل مې چې مور مې په نویو پاکو جامو کې له تشنابه راووته ـ ماته یې کړو ـ بچی راشه چې ودې لمبوم ـ زۀ ورغلم ـ په تشناب کې یې پاک ولمبولم ـ بیا یې د کور د هلک نوې جامې راواغوستې ـ له تشناب نه چې راووتم ـ نوې څپلۍ یې راپښو کړې ـ هغه سړی له بهر نه راغی ـ د کور ښځې سره یې څه خبرې وکړې ـ د کور ښځې بیا خپلو ماشومانو ته وویل ـ تاسو په کور کې اوسئ ـ زۀ واپس زر راځم ـ زما مور ته ښځې وویل ـ خورې بهر بازار ته به لاړ شو چې تاسو لوټکي د کراچۍ ښار ووینئ ـ په پوره بیړه یې له کوره وویستو ـ ګاډي کې یې کښینولو ـ سړي ګاډی روان کړ ـ ښځه مخکې سیټ کې د سړي سره ناسته وه ـ پټ پټ یې سره څه ویلې ـ د ښار په یوه بازار ورغلو ـ د خلکو ډیره ګڼه ګوڼه وه ـ نور چې ښه پسې وړاندې لاړو ـ هاغه ګاډی د سړک په غاړه ودرو ـ مور ته یې وویل نور به په پښو

وګرځوو ـ د ښار په یو ځای کې پراخه میدان ښکاریده ـ سړي او ښځه د هغه میدانۍ په لور روان وو ـ موږ ورپسې وروسته ورتلو ـ مور مې له لاسه نیولی ووم ـ د خلکو بیر و بار زیات ؤ ـ د میدان غاړو ته دوکانونه او بازار ؤ ـ موږ د میدان یوې څنډې ته ورغلو ـ له نږدې نه مو چې ولیدل ـ بلا ښځې او سړي لیدل کیده ـ د پلورلو او رانیولو نور څه نه لیدل کیده ـ یوازې ښځې او سړي وو ـ ځوک ناست ول او ځوک ګرځیدل ـ ما چې د هغې میدان په خلکو او ښځو کې پام کاوه ـ ډیرې ځوانې ښځې او سړي لیدل کیدل ـ ټولې ښځې په نویو جامو کې ښکاریدې ـ زه او مور مې د یوه د دیواله سیوري ته کښیناستو ـ هغه سړی او ښځه هم زموږ خوا ته رانږدې شول هغوي خپلو کې سره خبرې کولې ـ یو د سپینو جامو چاغ پنجابي یې خوا ته ولاړ وو ـ هغه سړي ورته د لاس په اشاره زما مور ورپه ګوته کړه ـ هغه پنجابي زموږ خوا ته راغی ـ زما مور ته یې کتل ـ لاندې باندې یې زما مور ته کتل ـ بیا بیرته د هغوي خوا ته لاړ ـ آبله ښځه زموږ خوا ته راغله ـ زما مور یې ودروله ـ هغه پنجابي ته یې مخامخ کړه ـ ښځه زموږ له خوا نه د هغوي دواړو خوا ته ورغله ـ درې واړو خپلو کې سره خبرې کولې ـ بیا هغه پنجابي سړي هغه بل ته پیسې ورشمیرلې ـ زه او مور مې په دغه راز نه پوهیدو ـ لږه شیبه وروسته هغه ښځه راغله زما مور ته یې وویل ـ خورې راځه زموږ کار خلاص شو ـ ځو به ! هغه پنجابی سړی هم له موږ سره یو ځای روان شو ـ تر موټره ټول یو ځای لاړو ـ زما د مور د جامو ګنډه هغه ښځې له موټره راواخیسته ـ او زما مور ته یې ونیوه ـ ویلې دا درسره واخله ـ چې دا ګادی بل خوا ته ځي ـ د موټر خاوند یوازې دومره وویل ـ د خدای په امان ـ موټر ته وخوت ـ موږ او هغه ښځه د پنجابي سره روان شوو ـ کتل مو چې هاغه د خپل ګاډي دروازه خلاصه کړه ـ ښځې وویل تاسو دده سره ځئ ـ موږ یې موټر ته وخیږولو ـ هغه ښځې زما مور ښکل

کړه - زه يې هم په تندي ښکل کړم - پنجابي ګاډي چالان کړ - هغه ښځه ولاړه وه - مور ترې هغه پنجابي د سترګو په رپ کې پناه کړو -
مور ته مې وويل - مورجاني چيرې ځو - هغې نور څۀ ونه ويل خو يوازې له سترګو نه يې اوښکې راتوې شوې - بيا يې زما په سر لاس راښکد - او ګاډی په بيړه روان ؤ -
زموږ لارې هغوي نه بيلې شوې - د پنجابي ګاډي کې کښيناستو - هغه چې ګاډی روان کړ - مور مې د ټيکري پيڅکه باندې اوښکې پاکې کړې - زما چې ورپام شو - په نور څه خو نه پوهيدم - يوازې د مور په ژړا ما ته هم ژړا راغله - پنجابي زموږ ژړا باندې پوه شو - ويې ويل - په ژړا کار نه کيږي - تاسو بايد خوشحاله اوسئ - چې پنجاب ته ځئ - د بنګله ديش د خوسا اوبو نه خلاص شوئ - خوش قسمته يې چې له ما سره مو نصيب شو پام چې خفه نشئ - زما مور ته يې لاس را اوږد کړ - ويې ويل جينۍ ستا په سر مې پوره ديرش زره روپۍ ور وشمارلې - زړه چې ښکته پورته نکړې - مزې به کوې - هاغه له خپل سيټ نه موږ ته يخې بوتلې راکړې - ويې ويل ګرمي ده - دا وڅښئ - هغه د څيرې او خوي نه بدغونی ښکاريده - غضبناکه ښه يې وه - د خندا او خوښۍ طمع ترې نه کيده - مازديګر لويدونکی ؤ چې د هغوي ښار ته ورسيدو - ويې ويل دا د پنجاب اصلي مځکې دي - زموږ کور له ښاره لږ څه وړاندې دی -
يو وخت ګاډی ودريد کتل مو چې د شنو فصلونو سر ته يې کورو و - موږ چې کله د هغه کره دننه کور ته ننوتو - د کور ټول غړي له موږه راتاو شول - هغه سړي زما مور هغوي ته ور اوپيژنده - د کور ښځې زما مور ته نزدې راغلې - سترې مشي يې ورسره وکړه - سړي وويل دا مې نوې اينځه درته راوستې ده - زه خو ماشوم وم - په څه نه پوهيدم - لومړی څه موده ښه وه - زه او مور مې دواړه خوشحاله ځکه وو چې د بنګال له لوږې نه راخلاص شوي وو - مور مې ټوله ورځ کار کاوه - زه به د مالت له ماشومانو سره

لوبیدم ـ د کور ماشومانو له ما سره لوبې نه کولې ـ څو کاله وروسته چې رالوی شوم ـ د مور سره به مې یو ځای تولـه ورځ کار کاوه ـ پنجابي غټ خیټي به په مور ظلم کاوه ـ مور مې د مرګ تر سرحده ورغلې وه ـ ځکه چې د هغه بې دینه ظالم په کور او کروندو کې او د مالدارۍ دومره زیات کار ؤ چې مور خو څه چې نورو مزدورانو یې هم ورته رسید ګي نشوه کولای ـ مور مې پخپل ځان نه وه ـ خو په ما ډیره خفه کیده ـ لږ چې رابوتکئ شوم لا د ځوانۍ باد نه وم وهلی ـ مور مې راته وویل زویه تر څو به ستا په حالت ځوریږم ـ ښه به دا وي چې ته له دې ځایه لاړ شې ـ ما پریږده چې یوازې یې ګالم ـ بچی ښه به دا وي چې ته له دې ځایه لاړ شې ـ چیرې خپل سر په سیوري کړې ـ هغې پداسې حال کې چې مور دواړو د وښو په ریبلو لګیا وو ـ پخپل ځای یوه شیبه کیښناسته ویې ویل زما خو چاره نشته دی ـ تر څو یمه همدا کارونه به کوم ـ خو تا ته ځکه وایم چې که ته ځان کوم ښه وطن ته ورسوې او پخپلو پښو ودریږې بیا به پما پسې راشې ـ په پټه توګه به مې له دې سختیو او مشکلاتو نه وژغورې ـ ما چې د مور په خبرو فکر وکاوه ـ زړه مې واخیسته ـ مګر دا فکر راولوید چې ګني که زه لاړ شم ـ پنجابي به پدې سخته راولي ـ ما ویل مور جاني که زه درنه لاړ شم ـ هغه ته به څه بهانه کوې ؟ زویه زه به ورته وایم چې بنګال ته مې لیږلی دی ـ واپس راځي ـ نور ورپسې مه ګرځه ـ تا سره یې څۀ دي ؟ واښه مې ریبل او له ځان سره په فکر او سوچ کې هسې ډوب لاړم ـ ( دا مور مې رښتیا وایي ـ مور خو مې پنجابي راوستې ده ـ دا ولې ورځې نه تر اوسه پورې دا کارونه او مالونه ساتل به تر څو ، ځان به کوم ځای ته اوباسم ـ یو وخت به که خدای کول په مور پسې راشم ـ بس د مور خبره منم ) یوه ورځ هغه له کاره ستړی ستومانه وه ـ رنګ یې الوتی ښکاریده ـ شونډې یې هم وچې کلکې وې ـ د وښو ریبل یې پرېښودل ـ لور یې د پټي په باره کیښود زما خوا ته رانزدې شوه ـ وې ویل زویه نور زه نه غواړم چې ته دې پدې درنو

کارونو لـه مـا سره خپلـه ځـواني خـاورې کـړې ـ جيب تـه يـې لاس تيـر کـړ ـ پیسې یې راو یستې و یې و یـل ـ بچی دا هماغـه پیسې دي چې د راتلـو پـه وخت کې يې راکړې وې ـ دا پـه جيب کې خوندي کړه ـ همدا نن حرکت وکړه ـ همدا اوس ـ لږ څه پـه غصـه نـاک حالـت يـې وويـل ـ هلـه پـا څيږه ـ زمـا پـه قيصه کې مه اوسه ـ ځان یو ښه وطن ته اوباسه ـ بس مور مې نه پرېښودم ـ ما وې مور جانې دا څنګه کیدای شي ـ هغـه لا پـه قهر شـوه ـ وې ویـل نـور دې پـه دې سوزانده کرونـده کـې نـه پرېږدم ـ ژونـد دې نشـم بربـادولی ـ ځـه روانیږه خپل سر پـه سیوري کړه ـ تر اوسه خـو وړوکـی وې ـ اوس خـو شـکر دی زلموټی یې خپل ښه او بد ښه پیژنې ـ لومړی ځان کراچۍ تـه اوباسـه ـ هلته به له چا نه پوښتنه وکړې ـ تر څو کوم ښه ځای ته لاړ شې ـ الله مهربانـه دی ـ کلـه چې پخپلـو پښـو ودريـدې ـ بيـا بـه مـا پسـې راشـې ـ اوس ددې بدرنګه کروندې نه روانیږه ـ ډیره ګرانه خبره وه ـ چې پـه دنیا د خدای کې د ایکې یوې مور له څنګه جدا کیدم ـ ځان سره مې چې فکـر وکـاوه ـ د مـور خبره مـې زړه واخیسـتـه او ورتـه اومـې ویـل ـ سمه ده مورجانې ـ خـو ددې لپاره چې زما پـه تلو سره دا پنجابی لعنتي پتا سختې رانه ولي ، څـه فکـر کوې ؟

زویه زه ورته وایم چې ته بنګال ته د ترور کره تللی یې ـ کومـه خبـره نشـتـه دی ـ زما زړه نه کیده چې د مور له خوا نه بیل شوی وای ـ زړه مې رالوی کړ ـ ما وې مور جانې دوعا راتـه کـوه ـ همـدا اوس درنـه بیلیـږم ـ هغـې پـه خـوا پورې ونیوم ـ پـه ژړا شوه ماته هم ژړا راغله ـ زموږ د دواړو ژړا پـه چیغو او ساندو واوښتې ـ مالونو او غواګانو زموږ چیغو تـه غـوږونه بوخ کړي وو ـ د مور له غیږې نه مې ځان راوشوکاوه ـ هغې له ژړا نه ځان وژلو ـ پـه چیغـو چیغو راپسې را روانـه وه ـ دواړه لاسونه يـې مـا پسـې نیـولي وو ـ تـرې را روان شوم ـ تر هغې موږ دواړو چیغې وهلې ـ تر څو چې مور مې پـه کرونده کې پاته شوه او زه تـرې راپنـاه شـوم ـ اوښـکې مـې وچې کـړې ـ ځـان مـې د

ګاډو تم ځای ته ورساوه ـ په ګاډي کې کښیناستم ـ یوه بل ښار ته مې ځان ورساوه د هغه ښار نه مې کراچۍ ته بل ګاډي کې کښیناستم ـ ماسخوتن ؤ چې د کراچۍ په ښار کې ګاډی ودرید ـ له نورو سورلیو سره زه هم په بازار ورګډ شوم ـ شپه وه مګر بازار د خلکو نه ډک ؤ ـ ګڼه ګوڼه زیاته وه ـ د بازار په یوه کوڅه کې وړاندې لاړم ـ یوه هوټل ته ورغلم ـ د ډوډۍ خوړلو په نیت یوه میز ته کښیناستم ـ هوټل کې ډیرې خلکو چاې روټۍ خوړه ـ چا چاې څښلې ، ځینو خپلو کې سره خبرې کولې ـ

زما په عمر هلکان په هوټل کې نه وو ـ پدې کال ایله به د شپاړسو کالو وم ـ د ډوډۍ خوړلو نه وروسته د هوټل شاګرد راته یوه پیاله چاې مخې ته کیښود ـ زه پخپل چورت او فکر کې لاړم ـ ( د شپې تیرولو لپاره چیرته او له چا نه اوپوښتم ـ مور به مې څومره راته په سودا کې وي ـ نن شپه به بیخي خوب نه ورځي ـ خدای مورې څومره بدبخته پیدا کړي یو ـ پدې عمر زه څه کولی شم ؟ )

په همدې سوچ کې وم ـ چې یوه سړی راباندې د څنګ ته پروت میز نه په ارامه لهجه غږ وکړ ـ مخ مې ورواړو ـ د سوچ او فکر مزی یې راپرې کړ ـ ما وې کاکا جانه څه دې ویل ؟ په وردو کې یې ویل ـ هلکه د کوم ځای یې ؟

زه د بنګال یم ـ خو د کار او مزدورۍ لپاره له کوره راوتې یم همدا نن دلته راورسیدم ـ نابلد یم ـ نه پوهیږم ـ چیرې لاړ شم د نن شپې تیرولو په فکر کې یم ـ چې څنګه وکړم ـ هغه خپله څوکۍ ما پلو راکږه کړه ـ ویې ویل مور و پلار ورونه لرې ؟ ما وې نه کاکا جانه بې له ایکې یوې مور نه بل څوک نه لرم پلار مې پخوا مړ شوی دی ـ مور مې یوازې په ډېرو مشکلاتو کې شپې ورځې سبا کوي ـ زړه مې دی چیرې کوم ښه ځای کې کار او مزدوري پیدا کړم ـ هغه زما په حال خفه شو ـ ویې ویل ـ خیر دی بچې ته لا پوره ځوانۍ ته هم نه یې رسیدلی ـ په مخ کې دې لوی عمر پروت دی ـ د ژوند سختو او مشکلاتو په مقابل کې مبارزه او مجادله پکار ده ـ الله مهربانه

دی. پخپلو پښو به ودريږي. همت له لاسه مه ورکوه رښتيا يوه خبره درته کوم. هغه دا چې که ته وکولای شې افغانستان ته لاړ شې. په دې وخت کې هلته کارونه ډېر دي امريکايان او انګريزان ورغلي دي. نوې ابادياني کيږي په مزدورۍ کې سمې ډالرې باديږي. ان له هندوستانه او پاکستان ورته خلق ور روان دي. بل دا چې په افغانستان کې په جوماتونو کې هم مسافر شپې سبا کولی شي. د کليو خلک د جومات مسافرو ته له کوره ډوډۍ راوړي. د هغه ځای خلک ډېر ښۀ خلک دي. ستا د پاره ښه ځای هم هغه دی. نوره دې خوښه.

د هاغه خبرې راباندې ښې ولګيدې. ورته او مې ويل کاکا جانه له مزي ځنګه تيرېدای شم؟ ده ويلې بچې پېښور ته چې لاړې. له سرحد نه بې اسنادو خلک اوړي راوړي. د پاکستان سرحدي پوليس سړی په تکليفوي. خو د شل ديرشو روپيو خبره ده. تر پېښوره به ما رسولی وای. مګر زۀ دوه مياشتې نور دلته پاتې يم. څه کارونه مې دي. ستا لپاره به ښه داوي چې سهار ته د پېښور ګاډي کې لاړ شې. هلته بيا لارې چارې پيدا کولې شې. خير دی شپه به دلته زما سره تيره کړې. د هاغه پدې خبره خوشحاله شوم چې ماته د شپې تيرولو ځای څه معلوم وو؟ اصلاً هغه سړی د پېښور د چارسدې او سيدونکی وو. پښتون وو. ښه مسلمان سړی ښکاريدو. په هوټل کې يې زما د ډوډۍ پيسې هم ورکړې. بيا يې له ځان سره خپلې کرايې کوټې ته بوتلم. هغه له پخوا نه کوټه نيولې وه. او پکې اوسيده. کوټه ښه لويه وه. د خپل ژوند کولو ضروري ټول شيان لکه بسترې، پخلنځۍ، لوښي او نور هر څه يې درلودل. داسې ښکاريده. چې کوم لوی تجار ۀ. ماته يې د خوب لپاره ځای جوړ کړ. هغه پخپله په لمانځه ودريد. زه خو ستړی ستومانه ووم. دستي په دستي خوب وړی وم. سبا يې چې له خوبه راويښ شوم. سهار په خير يې راته وويل. بيا ئې تشناب ته بوتلم. ويلې ځان دې پاک پريمنځه. ما هم ولمبل له هغې

وروسته یې چاې تیارې کړې وې.له چایو څښلو نه وروسته هغه راسره تر اشتیشنه لاړ.د پېښور په ګاډي کې یې کښېنولم.کله چې ګاډی روان شو .هغه رانه لاړ.زړه مې ورته دواګانې وکړې.کله چې پېښور ته لاړم.په یوه هوټل کې مې دوه شپې وکړې.د ورځې له خوا به مې د تورخم د ګاډو په هډه کې له خلکو نه د جلال اباد د مزدورۍ او د تلو حال زده کاوه.له هډې نه به ګاډي ډکیدل او تلل به او هم به له تورخم نه ډک ګاډي راتلل.ښه مې ځان پوه کړ.په دویمه ورځ له یوه همزولي پښتون هلک سره د تورخم ګادي تـه وختم .هاغـه راتـه وویـل .چـې پـه افغانسـتان کـې د بیـا ودانولو کارونه پیل شوي دي.مزدوري هم په ډالرو شوې ده ما هم جلال اباد تـه د تلو نیت وکړ.د تـورخم ګاډي کې کښیناستم.د ورځې یـولس بجې وې چې تورخم مزي ته ورسیدم .کله چې له ګاډي نه ښکته شوم په تورخم کې له نورو افغانانو سره په پښو روان شوم .شاته راپسې پـه اردو کـې غـږ وشـو ودریـږه .مـخ مـې چـې ور واړو .سـرحدي تـانې والا راپسـې ګرندی راغی.ویلې ته راځه چې تانه دار دې غواړي یو افسر ته یې بوتلم. افسر لومړی په پښتو کې رانـه پوښتنه وکړه.مـا پـه اردو کـې وویـل.نـه پوهیږم.بیا یې په اردو کې وویل.څوک یې د کوم ځای ئې ؟ چیرې ځی ؟ ما ورته خپل اصلي ځای وښود .ما وې د بنګال یم.جلال اباد تـه مزدورۍ ته ځمه.د هاغـه راباندې څه شـک پېدا شو .ویې ویـل د بنګـال راتـه نـه ښکارې.د هندوستان نه جاسوسۍ پسې راغلی ئې ؟مـا وې صیب زه پـه نور څه نه پوهیږم.د هندوستان نه یم.بنګلـه دیشي یم.د بنګله دیش پـه نوم یې لا پسې شـک زیاتیـده.نـه یې پرېښـودم.سمدستي یې لاس تـړل ولچـک پېښور جیل ته ولیږلم.کله چې یې زما کاغذونه د جیل په دروازه کې یوه تن ته ورکـړل.زه یې هم وروسپارلم.لـه لاسونو یې ولچـک رانـه خلاص کړل.هغه د سرحد سړی لاړ.او زه یې دننه یو دفتر تـه بوتلم.کتـل مې چې په دفتـر کې دوه تنـه خپلو میزونو تـه ناست وو .هغـه یـوه تـه یې

لومړی کاغذ ورکړ. بیا یې په خوله ورته وویل. د تورخم په سرحد کې نیول شوی دی. هاغه لومړي کاغذ ولوست. بیا یې ماته وکتل. ویې ویل ته خو لا ځوان شوی نه یې. دا سې خطرناکو کارونو ته دې لاس اچولی دی. ما ویل صیب زه په نور څه نه پوهیږم. یوازې د تورخم له سرحد نه تیریدمه. چې وې نیولم. ما غوښتل چې افغانستان ته واوړم. او هلته مزدوري وکړم. هغه په قلم چې لاس کې یې نیولی ؤ. میز یې وټکاوه. په قهر او غضب یې وویل. ته له بنګاله افغانستان ته مزدورۍ پسې ځې. دا د منلو نه ده. ته خامخا د هند له لوري په جاسوسۍ پسې راغلی یې. یوه پولیس ته یې غږ وکړ. والکه راشه دا بوځه. پولیس له لاسه ونیولم. او یوې کوټې ته یې بوتلم. نوم یې د کوټې ؤ مګر سم قبر ؤ. ډېر زر یې راپسې دروازه بنده کړه. کوټه د سړي د قد په اندازه اوږده او یو نیم متر په اندازه پلنه به وه. سمنټي شوې وه. بالښت یې هم د سمنټو ؤ. په کوټه کې نور هیڅ نه وو. یوازې پاس چت کې یو د بجلۍ ګروپ ښکاریده. کیڼ لوري ته پاس دیواله کې یوه بیخي وړه کړکۍ وه چې د اوسپنې په مضبوطه جالۍ پوښل شوې وه. شیشه یې هډو معلومیده نه. زه لا کوټه کې ناست نه ووم چې د کوټې وربیرته شو. یوه تن چې پلاس کې یې د دروازې کیلي نیولې وه ویې ویل راځه. له دروازې چې راووتلم. هاغه ټینګ له لاسه ونیولم. په یوه دهلیز کې په بله کوټه ورننویستم. کتل مې چې دننه کوټه کې لږ څه تورتم ؤ. یو تن د قوي متهو سړی ولاړ ؤ. د کوټې دیواله پورې یو میز او یوه څوکۍ ایښې وه. یو بل سړی په څوکۍ ناست ؤ. په اردو کې یې وویل. له هند نه څه وخت راغلی یې؟ ما وې زه له بنګاله راغلی یم. هندوستاني نه یم. هغه دویم سړي یو ناڅاپه په مخ کلکه څپیړه راکړه. پړمخې په مځکه ولویدم. بیا یې راپورته کړم. پدا بل مخ یې ووهلم. ویلې اصلي خبره وکړه. ګني په مرګ دې وژنم. زه ویرې ډار او درد ونیولم. هوار لړځیدمه. یوازې دومره مې وویل. زه بې ګناه یم.

په هیڅ خبر نه یم . په کومه ګناه مې وهئ ؟ دواړو غبرګ وویل . ته د هندوستان جاسوس یې . زر شه حال وایه . ما بیا ورته وویل . جلال اباد ته تلمه په تورخم یې ونیولم . بله کومه ګناه خو مې نده کړې . هغوي له پښو نه ځوړند کړم . په لښتو یې په شا ووهلم . ما یوازې چیغې وهلې . هغوي به ښه پسې په لښتو وشړه کولم . زما چیغې به اسمان ته پورته شوې . ځکه چې زه خو لا وخت ته نه وم رسیدلی . دد غسې وهلو طاقت مې کله درلود . هغوي وهلم او ما به ژړل . بیخي اوبه یې په شا راته واړولې . له ځوړندیدو نه یې راخلاص کړم . ویې ویل ځان سره ښه فکر وکړه . یا خو اقرار وکه ټول حال دې ووایه . کنه په وهلو وهلو به مړ شې . شپږ ورځې یې رابانده وهل ټکول تیر کړل . بیا یې امریکایانو ته ورتسلیم کړم . هغه همداسې چې یو سهار نهه بجې زما د کوټې دروازه وټکیده . بیا پسې بیرته شوه . هماغه موظف تن چې هره ورځ به یې ماته اوبه او ډوډۍ راوړه راغی . ویې ویل راځه . په لاسونو کې یې راته ولچک واچول . روان یې کړم . دا ځل یې یوې بلې کوټې ته چې له نورو نه لویه او پاکه وه . بوتلم . په دروازه چې ورننوتم کتل مې چې دوه تنه امریکایان ناست وو . ورسره په څنګ کې یو پاکستاني کرنیل په څوکۍ ناست ؤ . څه کاغذرونه ورسره وو . په انګلیسي یې هغوي ته څه ویلې . هغو دواړو به ماته راپام کړو . یوازې د هغوي په خبرو کې د انډیا په کلیمه پوهیدم . چې امریکایانو او هغه پاکستاني کرنیل به په خپلو خبرو کې د انډیا کلیمه اخیسته . ډېره شیبه سره غږیدل . بیا نو هغه پاکستاني څه کاغذونه امریکایانو ته ورکړل . د کاغذونو په ورکولو کې هغوي بیا ما پلو وکاته . دواړو وخندل . زه یې له ځان سره روان کړم . ما ته یې وویل . دوي تا نه یوازې څو پوښتنې کوي . بیا دې خوشې کوي . له موږه دې کار خلاص شو . زه له ځان سره لږ څه خوشحاله شوم . ما وې ګني چې خوشې کوي دې . په زړه کې مې تېر شول . ( دا ځل به پخپل سر له تورخمه نه اوړم . خامخا به په ګرنټۍ له چا سره ځم

) په دې فکر کې وم - چې له هغه ځایه یې روان کړم - له دروازې نه یې ویویستم - لږ څه خوښي مې حس کړه په دې کې یوه تن په لاسونو کې ولچک راواچول - ګاډي ته یې پورته کړم - له ګاډي چلونکی په شمول درې تنه راسره په ګاډي کې کښیناستل -
لږه شیبه وروسته هوائي ډګر ته ورسیدو - له ګاډي نه کوزیدو په وخت کې یې توره کڅوړه راپسر کړه - چې سترګې مې پټې شوې - خوله مې هم بنده شوه - حیران پاتې شوم - دومره پوهیدمه چې څرخي الوتکې ته یې ورپورته کړم هماغسې پټې سترګې یې په الوتکه کې کښینولم - کله چې الوتکه هوا ته پورته شوه - زما په څنګ کې یوه تن ناڅاپه د قران شریف په ویلو پیل وکړ - یو څوک راغی ورته ویې ویل چوپ شه - هغه سړی نور قران شریف ویلو نه چوپ شو - څرخي الوتکه په هوا کې روانه وه - زما زړه نه ټینګیده په ژړا شوم حیران ووم چې چیرې مې وړي ؟
زما ژړا او چیغو ته په الوتکه کې ناست کسان چوپ پاتې وو - هیچا څه نه ویلې - په دې کې یوه ورو په اردو کې وویل دا څوک وړو کی هلک دی - په الوتکه کې څه ډېر ګونګسی پورته شو - ځینو پاکستان په خوله کې اړو راړو - چا په انګلیسي په ډېر قهر او غضب سره څه وویل - زما په ولې چا لاس کیښود - کیکاږلم - چې ګني مه ژاړه چوپ شه - بیا مې له ځان سره پټې پټې سلګۍ وهلې - په اردو کې مې دومره وویل - زه بې ګناه یم - جلال اباد ته د کار لپاره تلمه - په تورخم کې ونیولم - وایي چې ته د هندوستان جاسوس یې - اوس مې چیرې وړي - بیا یې راباندې په قهر او غضب سره په جګ اواز وویل چې ګني غلی شه مه ګړیګه - په الوتکه کې په ناستو کسانو مې شک راغی چې د هغوي سترګې هم ورتړلي دي - بیا ورو ورو څه خبرې وشوې - خپلو کې یې سره پټ پټ څه وویل - لا په سلګو او ژړا کې ووم - چې الوتکه د کښیناستو په حال کې شوه - کله چې په هوائي ډګر الوتکه کښیناسته - د یوه تن له خولې وواتل - فکر کوم د بګرام هوائي

میدان دې له الوتکې یې راښکته کړو ـ سترګې مې هماغسې پټې وې ـ په ښي لاس کې یې ځنځیر راواچاوه ـ همدغه زما د لاس په ځنځیر یې نور کسان هم تړلي وو ـ یو وخت یې سترګې را خلاصې کړې ـ
ما چې سترګې وغړولې له یوې ودانۍ دننه په یوه لویه کوټه کې د نورو اوه کسانو سره ناست ووم ـ هغوي یې ولچک کړي وو ـ دوه پکې زما پشان تور رنګه وو ـ بوندۍ ږیرې یې وې ـ هغه نور څلور واړه د اوږدو تورو ږیرو څښتنانو وه ـ هغوي ټولو ماته راکتل ـ موږ خبرې نشواې کولې ـ په سر راته امریکائي ولاړ وو ـ د هغه یوه له خولې مې غلي شان واوریدل ـ دا د بګرام زندان دی ـ هغه تور پاکستاني دا خبره په اردو کې وکړه ـ هغه نور چوپ ناست وو ـ یوه شیبه وروسته یې یو یو تن بیوه ـ زه یې وړاندې د زندان په دننه کوټه کې بوتلم ـ یوې کوټې ته یې ورننویستم په کوټه کې درې تنه سړي په یو شان جامو کې ناست وو ـ ماته یې هم همغسې جامې راوغوستې ـ زما پیسې او جامې یې رانه یوورې ـ یو کاغذ یې راکړو ـ ویې ویل ـ دا ستا کارت دی ـ ولچک یې رانه لیرې کړل ـ په کوټه کې هغو درې واړو ماته رډ رډ کتل ـ یو تن له رنګه تور ؤ او نور دوه واړه د پنځه ویشتو دیرشو کالو به وو ـ ما په اردو کې ترې اوبه وغوښتې ـ هغه یو تن چې له رنګه تور ؤ ـ په اردو پوهیده ـ زر یې په پیاله کې اوبه راته ونیوې ـ د اوبو په څښلو مې زړه ساز شو ـ همدغه تور رنګي سړي رانه په اردو کې پوښتنه وکړه ـ ویلې د کوم ځای یې او دا یې ورسره راغبرګه کړه ـ ته خو وړوکې هلک یې ـ دلته یې څنګه راوستی یې ؟ دوي ته مې هم خپله قیصه وکړه ـ هغوي زما په حالت چې خبر شول ـ درې واړه خفه شول ـ پاکستاني وویل ـ دا کارونه د آئي ایس آئي دي ـ په همدې چل له امریکایانو نه ډالر شوکوي ـ د کوټې په یوه کنج کې لکه د نیم بیلر پشان شی یې د متیازو لپاره ایښی ؤ ـ کوم یوه به چې خپل حاجت رفع کولو بس نورو به ورته کتل ـ د کوټې رڼا کمزورې وه ـ د کوټې په پاس دیواله کې وړوکې کړکۍ وه ـ

د اوسپنې پنجره یې ورکړې وه . د بجلۍ ګروپ په ګردونو کې خړ ښکاریده . زیړ رنګې رڼا یې درلوده . په کوټه کې شپه او ورځ نه معلومیده . زړۀ مې راډک شو هغوي ته مې وویل دا کوم ځای دی ؟ هغه یو تن لا زما په قیصه نه ؤ پوه شوی . په اردو نه پوهیده . له بل نه یې زما په باب پوښتنه وکړه . هغه حیران شو . په جګ اواز یې وویل:

( له بنګاله تر باګرامه ) پاکستاني راته وویل . دغه سړی ستا په حالت چې پوه شو تعجب یې وکړ . ځکه یې وویل . له بنګاله تر باګرامه . دا خو یې ډېره ناروا کړې ده . وړوکی هلک او د باګرام زندان . په ده خو یې چور تعدا کړې ده . هغه بل تن وویل پدې ټولو یې ظلم کړی دی . موږ خو طالبان یو . مګر دده پشان ډیر پښتانه یې د طالب په نوم بندي کړي دي . پاکستان خو پښتانه نیسي د القاعده او طالب په نامه یې په امریکایانو د ډالرو په بدل کې ورتسلیموي . هغوي یې بیا کندهار او باګرام ته او ځینې خو سمدستي ګوانتنامو ته استوي . پاکستاني وویل خیر ته مه وارخطا کیږه . خدای به خیر کړي یوه وچه مړۍ یې لاس کې راکړه . ویلې دا ډوډۍ مړۍ وخوره وږی به یې . رښتیا چې یوه شپه او یوه ورځ مې ډوډۍ نه وه خوړلې . ښه په مزه ډوډۍ ته لګیا شوم . چې پدې کې یو تن په هماغه نیم بیلر باندې کښیناسته . ټر ، ټر غول یې وکړل . زما خوله کې ژولې مړۍ پاتې شوه . باقي مې خولې ته راغلې . هغو نورو پما پورې وخندل . پاکستاني سړي هم خندل . ویلې ته نوې یې . ددې سره اموخته کیږي پروا نلري خپله ډوډۍ خوره .
ما ویلې زه چې د لوږې مړ شم دلته به روټۍ ونه خورم . زه خفه د کوټې دیوال ته تکیه کښیناستم . هغوي خپلو کې سره څه ویل . په دې وخت کې له کومه د ژړا او چیغو نارې واوریدل شوې . هغه پاکستاني په اردو کې ماته وویل ، څوک بندي وهل کیږي چیغې یې راځي .

لړه شیبه وروسته دروازه بیرته شوه. یو امریکایي عسکر راغی. زما نامه یې واخیسته. ویې ویل راځه. زه له هغوي نه بیل کړم. له ځان سره یې روان کړم. په لاره مې د چا چیغې اوریدې. پوهیدمه چې کوم بندي یې وهلو لاندې نیولی دی. لږ چې وړاندې لاړو ، بیا مې ډیرې بدې بدې نارې لکه څوک د مرګ سکنجې لاندې وي. داسې چیغې وهل کیدې. پما یې بد تاثیر وکړ.

یوې کوټې ته یې ورننویستم. چې یوازې یو تن بندي پکې ؤ هغه هم پاکستاني ؤ. لکه زما غوندې تک تور ؤ. خو له عمر نه پوخ بیره یې زیاته سپینه وه. بیره یې بیخي له نامه نه لګیده. امریکایي عسکر ورته په انګلیسي څه وویل. هغه سړی په انګلیسي پوهیده. عسکر چې هر څه ورته ویلې. هغه به سر ورته وخوځاوه. څه ډیرې خبرې یې ورته د قهر په ژبه وکړې. او لاړ. سړی په اردو کې ماته وویل. په اردو پوهیږې ؟ما وې هو. اصلاً بنګالی یم. هغه راته ډیر متوجې شو. په تعجب کې یې وویل. ته بنګالی یې ؟ په څه کې یې نیولی یې ؟ ته خو لا ځوان هم نهٔ یې ؟ ما هغه ته هم خپل داستان واورولو. سوق ، سوق یې له ځان سره وکړل. بیا یې سوړ اسویلی ویوست ویې ویل. په ورو یې له ځان سره وویل. آئي ایس آئي ډیر پاکستانیان امریکایانو ته پلاس ورکړل. دا بیچاره وړوکي هلک دی. ددغسې کارونو نه دی. ظالمانو تر دې ځای رارسولی دی. ماته یې راوکاته ویې ویل. خدای مهربانه دی. زړهٔ ټینګ کړه. مه خفه کیږه ته وړوکی یې خامخا به له بنده خوشې کیږې. زه غلی شان د هاغه سره په وړه کوټه کې چې دوه تنه پکې نه ځایدل کښیناستم. ما ترې پوښتنه وکړه. بابو جي ته یې کله راوستی یې ؟ هغه وخندل په خواره خوله یې وویل زه یې دوه کاله مخکې له پاکستان نه لومړی قندهار ته او بیا یې دلته دې زندان ته راوستم. دا دوه کاله یې راباندې لکه دوزخ پشان په سختنه کې تیر کړل. پوښتنه مې ترې وکړه ما وې څه سختنه یې درباندې

تيره کړې ده ؟ ويې ويل: ورورکې کوم مثال يې درته ووايم ـ له وهلو ټکولو نه علاوه بې خوبۍ ، په واوړو کې لغړ ودرول ، له سپو سره په جنګ وروستول ياني کومه سخته يې درته ووايم ـ الله دې ترې وساته ـ دلته پرې د خدای سختې تيرې کړې ـ بيا يې ګوانتنامو ته بوځي ـ ډېر بنديان يې زموږ په مخکې زموږ سره په يوه کوټه کې وو ـ له دې زندن نه يې ګوانتنامو ته انتقال کړل ـ

موږ سره د شمالي وزيرستان څه افغانان يو ځای له پاکستان نه په الوتکه کې يې راوړو ـ هغوي يې وروسته له څه وخت نه ګوانتنامو ته بوتلل ـ هغه راته د باګرام د زندان ټول هر څه په ډاګه کړل ـ په زړه کې خوشحاله پدې شوم چې د سړي سره په خبرو پوهيدمه ـ بيا خو هغه له هر څه نه خبر کړم ـ د کوټې حالت مو ښه نه ؤ ځکه چې موږ دواړه په کې نه ځايدو ـ د خوب په وخت کې به په ډېرو مشکلاتو سره موږ دواړو پښې وغزولې ـ په څلور ويشتو ګينټو وخت کې يې يو ځل تفريح راکوله ـ موږ به په ځان سخته تيروله ـ په يوه تفريح او بله کې مو د حاجت د رفع کولو انتظار کاوه ـ موږ ته په دې کوټه کې هم ټټی ايښې وه ـ ولې هغې کې به موږ يوازې تشې متيازې کولې ـ برابر يوه مياشت وروسته يې بلې کوټې ته تبديل کړم ـ په هغې کوټه کې يو سپينږيری پښتون سړي ژوند کاوه ـ ښه لويه پاکه کوټه وه ـ کله چې زۀ هلته ورغلم ـ هغه بل سړی زما په تلو خوښ شو ـ په دغه کوټه کې د ژوند شرايط لوټکي ښه وو ـ هغه سړی يې د طالب په نامه نيولی ؤ ـ

د هغه سره مې چې شپې ورځې شوې ـ په هر څه کې ښکاره تفاوت راغی ـ ډودۍ هم ښه شوه ـ جزا يې نه راکوله ـ يوه ورځ وروسته مې له هغه سړي نه پوښتنه وکړه ـ هاغه له مانه ډېره کوله ګوندې زه د هغه په نيت کوم جاسوس ښکاريدم ـ خو کله چې زما له حالته خبر شو ـ او ما ورته خپله قيصه وکړه ـ ډېر خفه شو ـ ولې راته ويې ويل ـ بچی ته فکر مه کوه ډېر زر

به خلاص شي. ستا قانوني عمر کم دی. کوم اسناد دربانديې نه لري.
یوازې په شک یې راوستی یې. یقین او باور دی چې ډېر زر به له دې
زندان نه اوځې. ما وې په خوله دې برکت شه کاکاجانه.
هغه د ځوانۍ په وخت کې په کراچۍ کې ډېر وخت تېر کړی ؤ. د جلال
اباد او کراچۍ تر منځ یې تجارتي مالونه وړل راوړل. اردو یې پوره یاده
وه. خپله ټوله قیصه یې راته کړې وه. ویلې زه په بلخ کې ځمکه لرم. موږ
ډېر پښتانه هلته اوسېږو. کوم وخت چې امریکایان راغلل. د دوستم
ملیشو زور واخیست. هر ځای چې د پښتنو ځمکې او کلي وو. زیات
خلک یې د طالبانو په نوم د امریکایانو په زور څه یې ووژل او ځینې
بندیان کړل. کانتینرونه به یې ترې ډکول. د لیلي دښته کې یې پرې
خاورې اړولې. په هغه ټیل کې یې زه هم ونیولم. امریکایانو ته یې د
طالب په نامه وروسپارلم حال دا چې زه طالب نه ووم. یوازې پښتون ووم
. ډېر پښتنو په شمال کې خپل ډک کورونه او ځمکې یې پرېښودې ،
وتښتیدل. په ځمکو یې ګلیم جم ملیشو حمله وروړه. ځمکې او کورونه
یې ترې ونیول. ما ته هغه سړي ډېر معلوماتو نه راکړل. د پاکستان او
افغانستان په باب یې له هر څه نه خبر کړم. ایله مې سترګې روښا شوې. د
هغه کورنۍ په کابل کې اوسیده.
ډېر ښه مسلمان او پښتون سړی و. لکه د خپل زوی پشان یې نازولم. ما
هم د هغه خدمت کاوه. لکه د پلار غوندې احترام مې ورله کاوه. اووه
میاشتې مې ورسره په کوټه کې تیرې کړې. کله چې له زندان نه خوشی
کیدم. راته ویې ویل بچی ستا په خلاصیدو ډېر خوشحاله یم. یو لیک
کې یې زما په باب خپل مشر زوی ته لیکلي وو. د لیک دروړونکی اصلاً
د بنګله دیش دی. لکه د ورور پشان یې وګڼه. له ځان سره یې په دوکان
کې مصروف کړه. د میاشتې تنخوا ورکوه. زما یې ډېر خدمت کړی دی.
چې درنه خفه نشي. لیک یې راکړو. ویې ویل دا پاکټ به په کابل ښار

کې چاته ښکاره کړې .د باغ بالا په سړک چې کوم بس چلیږي په هغه کې سپور شې.ګرد نه باغ بالا کې به تري ښکته شې. د هندوانو کوڅې کې به له کوم هندو نه زموږ د کور پتې پوښتنه وکړې.هلته ټولو ته زموږ کور او دوکان ورمعلوم دی .له کوم مشکل سره نه مخامخیږې .له هغه نه د راوتلو په وخت کې مې له سترګو نه اوښکې وڅڅیدې .هغه په دواړو ښکل کړم.دوعا یې راته وکړه.ما یې هم دواړه لاسونه ورموچي کړل.ترې را ووتم.امریکایي عسکر دفتر ته بوتلم.زما خپلې جامې یې سر د زما د پخوانیو کلدارو سره راوسپارلې .د هغه دفتر کوم چې مشر ؤ هغه راته دوه سوه ډالر نور راکړل.په سر یې راته لاس راکش کړ.یوازې دومره یې وویل.ته بې ګناه یې له زندانه خوشې شوې مبارک شه.د هغه خبرې ترجمان راوژباړلې .یوه تن ترجمان سره چې د کابل سرویسو تم ځای ته ئې بوتلم.په بس ګاډي کې کابل ته لاړم .ما پخوا کابل نه و لیدلی.کله چې له ګاډي ښکته شوم.حیران وم چې په کومه لاړ شم.په ژبه هم نه پوهیدم.وارخطا خو په دې نه وم.چې له بنده خوشې شوی وم.په زړه کې مې ګوړې ماتولې.خپل پخواني پنډکي مې لاس کې نیولی ؤ.په سړک روان وم.مخې ته مې یو سک هلک ولید ، چې ګړندی روان ؤ.ځان مې پسې ور ورساوه.پاکټ مې یې مخې ته ونیو .په اردو کې مې ترې د پتې پوښتنه وکړه.هغه ویلې دا پته لا لیرې ده.خو ته ما سره راځه چې د هغه ځای په ګاډي کې دې کښینوم.ځان سره حساب وکړ.ویې ویل په شپږم سټاپ به کوزیږې.څنګه چې له ګاډي ښکته شوې.هلته د هندوانو کوڅه ده.له یوه نه به د دغه ادرس پوښتنه وکړې.هماغسې مې وکړل.کله چې شپږم تم ځای راغی له ګاډي کیوتم.مخامخ د سیکانو دوکانونه وو.هلته ورغلم.له سړکه پورې وتم.په سړک روانو خلکو به څکه ماته راکتل.چې له هغوي نه مې رنګ تور وو.ورته نااشنا ښکاریدم .د یوه سیک دوکان ته ودریدم.د لیک پاکټ مې ورته ونیو په اردو کې مې ورته وویل.دا

پته که راوښایې ؟ هغه چې پته ولیده.دستي یې وویل.پدغه بله کوټه مخامخ لاړ شه ښي لاس ته هغه درې پوړیزه سپینه ودانۍ د هغه کور دی.
کله چې هغې دنګې ماڼۍ ته ورسیدم .په کوټه کې دوه هلکان وو .
پوښتنه مې ترې وکړه.دواړو وویل همدا کور یې دی.هغه یوه هلک سمدستي د کور زنګ وواهه .یو زلموټی هلک راووت.هغو هلکانو ورته زه وروښودم.ما ورته پاکټ پلاس کې ورکړ.هغه په منډه د کور په دروازه ننوته.ما پرې غږ کړ.په اردو مې ورته وویل.ودریږه نورې خبرې لرم.هغوي یو هم په اردو کې نه پوهیدل.یوه هلک په چالاکۍ سره یو تن هندو هلک راوست.له مانه یې پوښتنه وکړه.ما ورته د لیک او سپین ږیري کاکا قیصه وکړه.هاغه بیا د کور هلک ته په فارسۍ کې وویل.د کور هلک په مطلب پوه شو.ویې ویل.زه مې پلار ته وایم.
لږه شیبه وروسته یو سړی له کوره راووت.په خندا مې خوا ته راغی.
لومړی یې راسره ستړې مشي وکړه.بیا یې هندو هلک ته وویل.ده ته ووایه تۀ چیرې وې چې دا پاکټ دې راوړی دی ؟ ما هغه هلک ته ټوله قیصه وکړه.د کور سړي په غیږ کې ونیوم.کور ته یې ننویستم.هغه هندو هلک چې چرنګ سینګ نوم یې وه.یو ځای راسره دننه ننوت.د کور خلک راته راټول شول.هر یو به راسره په مینه ستړی مشي کوله.
هغوي ټول په یوه لویه کوټه کې ښځې او نر یو ځای کښیناستل.یوه زړه بوډۍ ښځه چې د هغه زنداني کاکا میرمن وه زما خوا ته رانژدې کښیناسته.او یو زلمی د پوخ عمر سړی ؤ چې هغه د کاکا زوی ؤ. راسره جوخت په کوچ کې څنګ په څنګ ناست وو.
ما چرنګ ته په اردو کې وویل.دوي ته ووایه چې زه درته څه خبرې کوم.
ته ورته ترجمه کوه.
ما ورته خپله قیصه راواخیسته.هغوي ټول یو غوږ راته ناست وو.د باګرام د زندان او د هغوي د پلار مې چې ټوله قیصه ورته تیره کړه.هر یو

خوشحاله شو . د ميرمن په مخ يې اوښکې راماتې شوې . په پايې کې چې
مې ورته وويل. انشاء الله هغه به ډېر زر راخوشې شي. تاسو هيڅ سودا مه
کوئ. په دې خبره يې زوی وويل. زموږ خو بيخي طمع غوڅه شوې وه.
ځکه چې پدا دوه کالو کې يې هيڅ پته موږ ته نه وه. شکر خدايه دا ډېر
ښه کار وشو . ما ته يې وويل. ته به له موږ سره دلته يې. پلار مې هم
ليکلي دي. موږ به دې لکه د ګل هسې ساتو . هيڅ فکر مه کوه . له همدغې
ورځې نه زۀ د هغوي د کور غړی شوم. عزت الله چې د بندي کاکا مشر
زوی وو . پخپله تجارت خانه کې ؤ. هغه ته يې تيليفون وکړ . هغه چې
راغی ليک يې ولوست. سمد ستي يې وويل. دا زما د پلار خپل ليک
دی. زۀ يې ټينګ په غيږ کې ونيوم. ځکه چې زما په قيصه ډېر خفه شو .
خوشحاله په دې شو . چې د پلار نه خبر شو . چې ژوندی دی. ډېر زيات
خوشحاله شو . چرنګ ته يې وويل. دۀ ته وو ايه چې ته د دې کور غړی يې.
د کور هلکانو ته يې وويل. ده ته سر له نن نه پښتو او فارسي زده کړئ. دا
لکه خپل ورور وګڼئ. له هماغې ورځې نه يې راته نوې جامې وکړې. بوټ
دريشي او نور ضروري کالي لکه د نورو هلکانو پشان يې سنبال کړم هره
ورځ يې راته د پښتو او فارسي سبق ويلې . په لږه موده کې مې دواړه ژبې
زده کړې. خپل مشکل مې پرې حل کولو د ښوونځي د شامليدو وخت
رانه تير وو . په دوکان کې مې له هغوي سره کار کاوه. مازديګر به د کور
او کوڅې د هلکانو سره په چکر تلم. ښې شپې ورځې راباندې راغلې.
پنځه مياشتې وروسته کاکا هم يوه ورځ ناڅاپه په کور رانوت . او له
بنده راخوشې شو. زه يې چې وليدم. ډېر خوشحاله شو . د هاغه سترې
مشي او مبارکۍ ته به هره ورځ ډلې ډلې خلک راتلل . ما سره يې لکه د
خپل زوی مينه کوله. زه د هغوي سره دومره خوښ او خوشحاله ووم. چې
مور مې بيخي له ياده وتې وه. يوه ورځ مې په زړه کې راوګرځيده. ( دا
درې کاله مې دلته په کابل کې تير شول. په مزو دې اړولې. له هيڅ نه خبر

نه يې ، مور مې هم هيره کړې ده .ښه به دا وې چې اوس خو زلمی شوی. په ټولو حالاتو پوه شوی. يو ځل بايد د مور ليدل او د هغې د حال نه خو ځان خبرول هم پکار دي ) بس په همدغه ورځ مې له ځان سره پرې وکړه وکړه. چې د کاکا جان دوي نه اجازت اخلم. ځمه که کوم مشکل راته نه ؤ. مور به مې هم کابل ته راولم. بيګاه ته چې هغوي کور ته راغلل. خپله دا خبره مې ورته ياده کړه. لومړی هغوي چوپ پاتې ول. بيا مشر کاکا وويل بچې زه درته په يو شرط اجازه درکوم چې واپس له مور سره راشې.
مشر زوی يې عزت الله خان هم دغه خبره راته وکړه. ما هم ورسره ومنله. ما وې که کوم تکليف سره مخامخ نشوم. زما درسره وعده ده. مشر کاکا عزت الله خان ته مخ ورواړو. ويې ويل. زويه سبا ته يې له تورخمه واړوه. پوره خوشحاله يې وليږه. سبايي له چايو نه وروسته لوی وړو راسره مخه ښه وکړه. راپسې خفه وو. ډيرو راپسې اوښکې توې کړې. سبايي راته جامې او ځينې خپل زما لپاره ضروري شيان په بکس کې واچول. پنځوس زره کلداري يې هم راکړې. له تورخمه يې واړولم. شپه مې پېښور ته راوړه. په يوه هوټل کې مې شپه وکړه. سبا ته د کراچۍ په ګاډي کې کښيناستم. تر کراچۍ رښتيا هم چې لرې لارې او مصافې دي. په خوب هم سړی ستړی شي. له ځان سره مې فکرونه او سوچونه کول. د مور په حقله مې زيات فکر کاوه. ما وې چې په څه حالت کې به وي. د ظالم پنجابي سره به څه کوم ؟ همدا پوښتنې به مې له ځان سره کولې. زلميتوب عجب شی دی. کله به مې زړه ته راغله چې د هاغه د هوس نه يې په زور راولم. پس په همدې خيالونو کې کراچۍ ته ورسيدم يوه شپه او ورځ په کراچۍ کې پاتې شوم.
کله چې مې د پنجابي ځای ته د تلو نيت وکړ. په لاره مې له ځان سره دا فيصله وکړه. ( زه بايد لومړی د مور حالت په
پټه توګه هلته له چا نه واخلم. بيا يې ليدو ته ورشم ).

د موټرو تم ځای ته ورغلم .د هغه ځای په یوه ګاډي کې کښېناستم . یوازې مې له مور سره سودا وه .په همدغو چورتونو کې تر کلي ورسیدم . کلی خوزښته لوی کلی ؤ .هوټلې او دوکانونه پکې ول.یوه هوټل کې مې دمه وکړه .ډوډۍ مې وخوړه.د هوټل مشر ته مې د بکس ساتلو وویل. هاغه ویلې بې غمه اوسه.د پنجابي د کور او کروندې ته د تلو په نیت له هوټله وخوځیدم.په لاره مې له ځان سره وویل.(لومړی به د هغه له کوم دهقان له وړو یا کومې ښځې نه د مور پوښتنه وکړم.چې په څه حالت کې ده.بیا به خپل پلان مخکې وړم .د پنجابي د کور تر څنګ وړاندې پټو کې د یوه کور مخې ته د وړوکي ماشوم سره یوه زړه ښځه ولاړه وه له ځان سره مې وویل له دغې ښځې نه به د مور پوښتنه وکړم .د هغې خوا ته ورنږدې شوم.

ما وې ترور ددې ځمکې دهقانان یاست ؟

هغې وویل !هو بچې مونږ دا ټول عمر ددې سړي دهقاني کوؤ .یوه پوښتنه درنه کوم.ویې ویل.ولې نه.بچې غوږ مې دی.دې پنجابي څو کاله مخکې له بنګله دیش نه یوه ښځه راوستې وه .چې هغه به څنګه وینم ؟ ستا څه کیده ؟ترور هغه مې خالي پیژندله .دلته میلمه راغلی ووم.ما وې چې که ویې ګورم.وطن ته ځم که څه سوال ځواب لري.کلي ته روان یم.چې خپلوانو ته یې سوال ځواب ورسوم.هغې وویل.بچې هغه بیچاره خو دې دهوس پروسږ کال مړه کړه.زمونږ نارینه ؤ په هغه هدیره کې ښخه کړې ده.زما په مرې کې لاړې ونښتې.آه مې له خولې وخوت. خفه ودریدم.بیا مې ترې پوښتنه وکړه.ترور جاني څنګه یې مړه کړه.ولې ؟بلا دې واخلم زویه.هغه یې چې له بنګله دیش نه راوستې وه .د همدې مالونو ساتلو او کارونو لپاره یې راوستې وه.ښځه خو یې ورته نه ویلې. د هاغه یوه ښځه مړه شوه.بله یې وکړه.او دا یې د کور د کارونو لپاره وه. ناحقه به یې وهله .دې ظالم په ټراکټور پسې تړلې وه .په ځمکه یې

رانښکده . په دغه شان ظلم او تعداي آخر ووژله . زموږ خلقو پرې د شپې خاورې واړولې . ما وې ترور که تکليف درته نه کيږي . قبر يې راته وښايه . چې دوعا خو ورته وکړم . هغه راسره هديرې ته لاړه . له ورانديې يې قبر راوښود . زه په ګړنديو ګامونو تر قبره ورغلم . هغه هم له وړوکي سره راغله د هغې له سترګو نه اوښکې راتوې شوې . ويې ويل . دا بيچاره يې په ډېر بد حالت مړه کړه . زما حالت خراب شو . هر څو مره مې چې ځان ټينګاوه . تر وسه مې نه وه . هغې ته مې وويل ترور جانې ډېره مننه . په ما ناوخته کيږي . زه درنه لاړم . ما په زړه کې له ځان سره دا فکر کاوه چې نه ويل کيږي . پنجابی د هوس مې په دې هديره کې ونه ګوري . ښه به دا وي چې زر لاړ شم . هغه پخپله مخه لاړه . او زه له هديرې نه راووتم . ژړا ونيولم . په لاره روان ووم ژړل مې . تر څو چې سړک ته راوتم خپل زړه مې په ژړا تش کړی و . د کلي بازار ته مې ځان ورساوه . فيصله مې دا وکړه چې پدې کلي او دې بازار کې به د اوسيدو ځای پيدا کړم . بيا به خپل پروګرام مخې ته وړم . تر څو مې چې د خپلې غريبې مور انتقام له دغه ظالم نه اخيستی نه وي . له دې ځايه به لاړ نشم .

په همدې سوچ کې هوټل ته ورسيدم . د کرايې کوټې په لټه شوم . يوه اونۍ مې په هوټل کې تيره کړه . د هوټل کارګر او مشر يې راسره ښه بلد شول . يوه ورځ مې د هوټل د شاګرد نه د کرايي کوټې پوښتنه وکړه . هاغه راته د بازار په يوه د تنګ راتګ نه ډکه کوڅه کې يو دوکان راوښود . ويې ويل . يو ځل د هغه دوکاندار نه پوښتنه وکړه . ويلې زه به هم درته له نورو نه تپوس وکړم . دوکاندار ته ورغلم . د هغه دوکان کې خوراکي او غير خوراکي ، ياني هر شی پلورل کيده . د پيريدونکيو بير و بار پرې زيات ؤ . ماته نه وزګاريده . چې خبرې مې ورسره کړې وای . يو وخت چې راوزګار شو . د کوټې مې ورته ياده کړه . هاغه راته ښکته پورته وکتل . ويې ويل .

ته ځانته یې ؟ ما وې هو - یوازې یم - اصلاً د بل ځای نه راغلی یم - غواړم چې همدلته څه کاروبار پیدا کړم - دلته او سیږم -
هغه بیا مصروف پاتې شو - ویې ویل - ته مازدیګر په شپږ یا اوه بجو دلته راشه - زه دوکان تړم - بیا به درسره خبرې وکړم - په زړه کې مې تمه پیدا شوه - د هغه ځای څو کلي خواره واره پراته ول - خو بازار یې په همدغه یو ځای جوړ شوی ؤ - پوره ډېر دوکانونه ، هوټلې پکې وې - د ډېر لوی کاروبار او تجارت مرکز ؤ - د بازار تر څنګ د محلي حکومت لوړې ودانۍ وې - د ټولو کلیو همدغه ولسوالي وه - پدغه ورځ مې بازار کې تر مازدیګره چکر وواهه - په شپږ بجې مې د هغه دوکاندار په وعده ځان ور ورساوه - هغه د دوکان په تړلو پیل وکړ ، زه ورته لږ منتظر شوم - کله چې یې دوکان وتاړه - بیا یې راته وویل د څومره مودې لپاره کرایې کوټه غواړې ؟ ما ورته وویل - دایمي یې غواړم - ویې ویل ته راځه ما پسې - د دوکان په سر دویم پوړ کې کوټه وه - دروازه چې خلاصه کړه - په لومړي ځل لیدو مې کوټه په دې خوښه شوه - چې لویه کوټه وه - ځانته یې تشناب او پخلنځی درلود - ورته مې وویل - کرایه یې څو ده ؟
ویې ویل درې سوه کلدارې به د میاشتې راکوې - سمدستي مې ورسره خبره پخه کړه - کوټه مې ونیوه - د ژوند کولو ځینې ضروري توکي مې په بازار کې راونیول - شپې او ورځې مې پکې په خوښۍ تیرولې - زیات وخت به لاندې له هغه دوکاندار سره په دوکان کې وم - ما به ورسره مرسته هم کوله - د دوکانداري چل مې سم یاد کړ - هاغه به چې کله په کوم ضروري کار پسې لاړ - دوکان یې ماته پریښودلو - ما هم ورسره لکه د یوه ورور چلن کاوه - پوره باور یې راباندې پیدا شو -
د خدای کارونو ته ګوره - هغه بیچاره ته ناروغي پیدا شوه - بل ورور او زوی یې نه درلود - دوه لورګانې یې وې - واده شوې وې - بیچاره به تل په

هسپتال کې پروت ؤ ـ میرمن به یې ورسره وه ـ دوکان کار یې چور ماته پاتې شو ـ
یوه ورځ یې میرمن هم ورسره وه ـ له ځان سره یې کور ته بوتلم ـ د شپې یې راته وویل ـ زه ناروغ یم ـ نوره دوکانداري نشم کولای ـ دا دوکان تاته پریږدم ـ ما د دوکان ټول مصرف سنجولی دی ـ ګټه درنه نه کوم ـ په بل چا مې باور او پیرزو نشته ـ یوازې تاباندې مې پیرزو ده ـ ښه ورته جوړ یې ـ پاس دې کوټه ده لاندې به دې دوکان وي ـ ما ورسره ومنله ـ دوکان مې ونیو ـ په دوکان کې مې نور مال هم واچاوه ـ ښه مې ډک کړو ـ بس په دوکانداری مې پیل وکړ ـ ما خو د دوکانداری کار په کابل کې له عزت الله خان نه زده کړی ؤ ـ هاغه راته دا خبره په ټینګه کړې وه ـ چې له هر مشتري (اخیستونکي ) سره ښه چلن او ښه کردار لوبوه ـ بس نو ما هم پدې دوکانداری کې له خلکو سره ښه سلوک کاوه ـ له یوې ورځې نه وبلې ته مې دوکان ښه چلیده ـ دوکان د ښوونځي په لاره ګڼه ګوڼه کې پروت وو ـ سبایي به د ښوونځي شاګردان دوکان ته د خوراکي او هم د نورو ضروري توکو د رانیولو په نیت رانتوتل ـ او هم په ماسپښن له خوا سخت بیرو بار ؤ ـ د کلیو خلکو هم له ما نه پوره سودا کوله ـ له یو پلوه خوشحاله ووم له بله پلوه خپه ووم ـ خوشحاله په دې ووم چې مصروف ووم ـ ګټه مې کیده ـ خپګان مې پدې وو چې د مور د انتقام اخیستو مسئله مې په مخ کې پرته وه ـ په ما شپې او ورځې زر پدې تیریدې چې ډېر بوخت وم ـ سر ګرولو ته نه وم وزګار ـ اکثره وخت به مې یو تن مزدور نیوه ـ د دوکان کارونه یې راسره مخې ته وړل ـ د کلیو هلکانو او انجونو پیژندلی وم ـ هر چا راسره ښه سلام علیکم کاوه ـ یوه ورځ سهار اوه بجې وې په دوکان کې د ښوونځي د هلکانو او انجونو راباندې سخت بیرو بار جوړ کړی ؤ ـ په دغه ورځ هغه کمکي مزدور هم نه ؤ راغلی ـ زما لاس بند ؤ ـ فکر مې پیریدونکي ته ؤ ـ یوې د ښوونځي پېغلې جینۍ په اوږده ورو شانې

ووهلم . په لاس کې د رانیولو حسابي ماشین نیولی ؤ . ویې ویل زه ماسپښین راځم اوس بیرو بار دی. دا ماشین اخلم. ما چې ورپام کړو. د جینۍ ښائست او ښکلې جګه ونه مې چې ولیده. سترګې مې د هغې په لوري همداسې پاتې شوې. هغه له دوکانه ووته. تر هغه مې ورکتل. چې له سترګو مې پناه شوه. نورو هلکانو او جینکو راباندې غالمغال وکاوه. ویې ویل. ته د جینۍ په تماشه یې. موږ لکه چې نه وینې. زر مې فکر شو ما وې نه نه. فکر کې ځکه لاړم. ما ویل ګني چې کوم شی هغه جینۍ رانه یو وړو.

واپس بیرته خپلې دوکانداري ته متوجې شوم. خو په زړه کې مې تیر شول. ( الطافه خپلې غریبۍ ته متوجې اوسه. دا خیالونه پریږده. لږ څه په ګټه کې راغلې. ځان په چا دوړه نکړې ) مګر د هر انسان نوي زلمیتوب هسې لیونتوب وي. له ما سره تر دغې ورځې پورې هیڅ دا خبرې نه وې. خو ناڅاپي مې د هغې جینۍ د سهارنۍ لیدنې کتنې سره ویده زړه راویښ شو. د ماسپښین لاره مې څارله کتل مې چې هماغه جینۍ د ښوونځي نه هسکه غاړه را روانه وه. نورې جینکۍ هم ورسره وې. په دوکان یې د رانتوتلو تیله راوړه. انجونو او هلکانو هر یوه څه رانیول څوک وتل او څوک دوکان ته راتلل. د سودا ورکولو سره مې هغه د سترګو لاندې څارله. لومړۍ یې څه د خوراک توکي راواخیستل. بیا ودریده. ما وارخطایۍ ته فکر وړې وه. نوبت ته ولاړه وه. ما هم دا کوښش کاوه چې وروسته شي. د ښوونځي د هلکانو او جینکو تیل چې کم شو. هغې ته مې وویل بي بي بخښنه غواړم. ډېر انتظار دې ویوست. لاس مې بند ؤ. ویلې پروا نه لري. ته هم لکه د ماشین غوندې ګړندی یې. پدې خبره یې لوتکي موسکی شوم. د خوراک څیزونه یې واخیستل ویلې هغه د حساب ماشین هم راکه. ماشین مې ورکړ. پیسې یې له بکس نه راکولې. ورته مې وویل. بي بي که درسره نه وي. پروا نلري. بل وخت

به یې راکړي.هغه په نریو سر و شونډو د ناز موسکا وکړه.ویې ویل ، دوکانداره د ښه خوي هلک راته ښکاري.مننه زهٔ د پیسو کمی نه لرم. ستا خو دوکان دی.د دوکان سودا به نغدو ده.مګر پوه نشوم چې له ما سره دې څنګه په قیصې واړوله.ما وې هسې زړه نه مې درته وویل.هغه لاړه.خو زما زړه یې له غریبۍ نه په هوا کړ.کله به مې په زړه کې تېر شول (خپل ساعت تیروه .الطافه ، مسافري او بې کسي ده بې له دې هم نه کیږي.)

شپې ورځې تیریدې.زما دوکان ښه په سور کې روان ؤ.زه هم له یوې ورځې نه و بلې ته تشویقیدم.زما دوکاندارۍ د خلکو سره ښه سلوک د هلکانو او انجونو سره راکړه ورکړه د هر چا سره بلد کړم.ما به هر سهار د هغې جینۍ لار څارله.او هغه به هم هر سبایي دوکان ته راتله.یو څه به یې پیرودل په دې کې ډېره موده تیره شوه.ما هم له هغې سره ښه سلام او کلام کاوه.راسره بلده شوه.کله به یې چې کومه توکه موکه ورسره کوله. بده یې نه ګڼله.ورځ په ورځ مې ورسره مینه زیاتیده.د اوړي ورځې وې ډېره ګرمي وه.په دوکان کې مې کولر ولګاوه.یخچال مې هم راونیو.کله به چې هغه ماسپښین دوکان ته راغله یخ بوتل به مې ورکړ.هر څومره به یې چې د پیسو وویل ما ترې پیسې نه اخیستې.ډېره موده ووته.د هغې هم راسره زړه لګیده.یوه ورځ یې راته له کوره کباب کړې چرګ سره د کورد ډوډۍ راته راوړو په دغه ورځ مې ورته وویل دا چرګ دې راته څنګه راوړی ؤ.ویې ویل.دا ته چې هره ورځ یخې بوتلې رابانديې څښی. له یوې خوا خو نه کیږي.په دې خبره یې وخندل.زه یې هم پخپله خندا پوه کړم.

په دغه ورځ خوشحاله ووم.ځکه چې څه هیله راسره پیدا شوې وه.اخر زموږ د دواړو خبره په پخه مینه ورګډه شوه.هغه داسې چې یو سبایي له کوره ناوخته ښوونځي ته روانه وه.زما دوکان ته پدغه وخت کې رانغله.

غږ مې ورپسې وکړو - بي بي نن څنګه په ډډه تيره شوې ؟ مخ يې راوړو -
وېي ويل- ناوخته دی - چې رخصت شوم راځمه- ما سپينېين چې شاګردان
له ښوونځي نه رخصت شول- بيا يې په دوکان بير و بار جوړ کړو - تقريباً
يو ساعت زه وزګار نه وم- کله چې پسې کميدل کميدل ، اخر ماته موقع
په لاس راغله- چې شا و خوا ته اقلاً اوګورم- دوکان کينې خوا ته هغه
دوکان ته راننوته- په مايې سلام عليک کړ- ورته اومې ويل څنګه دې
ناوخته کړی دی ؟ د هغې په نرۍ سرو شونډو د ناز خندا خوره شوه- ويې
ويل- ما ويل چې دا ګڼه ګوڼه کمه شي-
د يخچال نه مې يخ بوتل راواخيست- په ګيلاس کې مې ورته يخه کولا
ورکړه - هغې وويل لومړی دې راته نوم ووايه هر څوک درته دوکاندار جي
نارې وهي - اخر څه نامه دې ده؟ ما وې تر څو چې ته خپله نامه راته ونه
وايې- زه به هم هيڅکله خپله نامه درته وانخلم- کټ کټ ويې خندل-
دوکاندار جي زما خو اسانه نامه ده- شرميلا - څومره ښکلی نوم دې دی-
څنګه چې ښکلې يې هسې دې نوم هم ښکلی دی- لا پسې خوشحاله شوه -
ويې ويل- زه ګني درته ښکلې ښکارم- د ګيلاس نه يې ګوټ وکړ- بيا يې
د خندا په حالت کې وويل- ښه نو ته دې هم نوم راته ووايه-
ما ورته کړو - زما الطاف نامه ده - زر يې وويل ستا نوم هم ښکلی دی-
جيب ته يې لاس تير کړ- د بوتل پيسې يې راکولې ما بيا ورته په جدي
توګه وويل- شرميلا جانې- زه ترڅو دلته يم- اودا مې دوکان وي زه به تل
يخې اوبه درکوم د پيسو خبره به نه وي - نو ګني ته دومره موړ شوې چې
ويړيا اوبه راکوې-
د موړ والي خبره نه ده - يو ازې د خپل زړه په مينه يې درکوم- په دې باب ته
هيڅ فکر مه کوه- فکر خوځکه کوم- چې ته غريب هلک يې- يو هيږم چې
زړه دې پراخ دی- مګر له دوکان سره داسې مه کوه - نو بل چا سره خو دا
کار نه کوم- يو ازې له تا سره مې زړه دی- بيا موسکۍ شوه- ويې ويل په

ما زړه مه سیزه.زه د لوی راجا لور یم.ما وې خدای دې نوره هم درکړي. زما د غریب دوکاندار زړه ته هم اوګوره.په خبرو کې مې پوه کړه.چې مینه راسره لري.کور ته په تلو کې یې وویل.ستا کرکتر مې هم خوښیږي. په دې خبره یې ما دواړه لاسونه لپه کړل او پاس مې ونیول.او مې ویل. شکر خدایه چې مهربانه شوه.

خدایه ستا رضا ده.چې الطاف بنده دې د دوکان خاوند کړو .له ځان سره په هم دې خیالونو کې ووم .کار مې نه بندیده .ورځ په ورځ راسره د شرمیلا مینه زیاتیده.موږ دواړه دومره خوارږه شول چې د مینې په اصلي دونیا کې سره ورک شو.

یوه ورځ مې ترې هیله وکړه.ورته مې وویل.شرمیلا کله به دواړه چیرې له دې دوکانه بهر سره کښینو او د راتلونکي ژوند په حقله خبرې وکړو . هغې لومړی شا و خوا وڅارله.ویې ویل کولای شو چې د رخصتۍ په ورځ د ګلونو بڼ ته لاړ شو.

دوه ورځې وروسته موږ دواړه د ګلونو بڼ ته لاړو.ډېر لوی بڼ ؤ.د کلیو نه لیرې د یوه غره په لمن کې دا بڼ جوړ شوی ؤ.په ګاډي کې ورته لاړو.د ګرد پنجاب خلک پکې ګرځیدل.په بڼ کې هر راز خوراکي توکي پلورل کیدل.هر ځای موزیک او هر رنګ تماشې وې.د لمبا او سپورت ځایونه هم پکې موجود ول.

موږ په باغ کې وګرځیدو.بیا د ګلونو په منځ کې د اوبو پغاړه کښیناستو .هغه راته مخامخ کښیناسته. ما ترې لومړی پوښتنه وکړه.شرمیلا زه به درته لومړی د خپل زړه خبره وکړم.بیا به ته خپل نظر وواییې سمه ده.

ویې ویل بالکل وایه کنه.زه یو لاروی مسافر دوکاندار یم خو له تا سره مینه لرم .هسې د غولولو خبره نده .غواړم چې راتلوکی ژوند درسره شریک کړم.ته پکې څه وائې ؟

هغه پداسې حال کې چې په اننګو یې خوله څاځکي ، څاځکي پرته وه. وربل یې په لاس یو طرف ته واړو. ویې ویل ته چې راسره ځنګه مینه لرې. زهٔ هم درسره مینه لرم. سږ کال له ښوونځي نه فارغه کیږم. بیا به هغه وخت سره غږیږو چې څنګه وکړو. ما وې بس همدا مې درنه غوښتل. چې معلومه کړم مینه راسره لرې که نه.
بیا هم درته وایم. زه همدغه دوکاندار یم. لکه تا غوندې ښکلی هم نه یم. هغې زر په خبرو کې راودانګل ویې ویل ، الطافه مینه کې دا او هغه نه ځایږي. مینه په دولت او شتو نه کیږي. مینه یوازې د زړونو راز دی. مینه محبت په زړونو کې وي. نه په پیسو کې.
موږ دواړه د مینې په تار وتړل شوو. ورځ مو په بڼ کې تیره کړه. مازدیګر واپس کور ته راستانه شوو. ژوند مو په خوښۍ تیریده. ولې د مور د مرګ مسئله مې شپه او ورځ په زړه کې ښکته پورته کیده نور دوه کاله همدغه شان تیر شول. د دوکان په ښه چلولو کې مې ځکه کوښښ کاوه. ما وې چې هر څنګ پیښه چې مخکې راځي باید پیسې ورته ولرم. د کلیو خلکو پردی نه ګڼلم. هیچا مې د نسب او ځای هډو پوښتنه هم نه کوله. شرمیلا چې ښوونځی پای ته ورساوه. وزګاره شوه. خو دوکان ته بیا کله کله راتله. د زړه خواله به مو سره کوله. له دوه کالو وروسته مې یوه ورځ نیت وکړ چې د پنجابي حالت وګورم. د هاغه د له منځه وړلو پلان جوړ کړم. د رخصتۍ په ورځ د هاغه د کروندو منځ ته لاړم. زه په دې نه پوهیدم. ګني چې هغه پنجابی د شرمیلا پلار دی. هسې خو ماته د هاغه خیره ، کور ، مالداري او دهقانان یې رامعلوم وو. د هغه د دهقان د زوی نه مې د پنجابي ټول معلومات یانې د هغه د ورځې کاروبار څه وخت کور ته تګ ، لنډه دا چې د هر څه په باب مې د دهقان له خوی نه پوره معلومات تر لاسه کړل. څو ځل د هغه د ځارنې لپاره په پټه توګه لاړم. تر ماښامه مې د هغه ټول کارونه او ورځنې ژوند مې مطالعه کړ. له ځان سره

مې د هغه له منځه وړلو پلان په زړه کې جوړولو او ورانولو - اخر مې د يوه پلان په عملي کولو باندې له ځان سره فيصله وکړه -
بله ورځ چې شرميلا دوکان ته راغله - بيا مې ترې د بڼ سيل ته د تللو هيله وکړه - راسره ويې منله - د جمعې په ورځ هغه راغله موږ دواړه بڼ ته لاړو - دا ځل مې بڼ ته تلل د خپل راتلونکي پلان په حقله د هغې سره مشوره کوله - کله چې بڼ ته ورسيدو - په باغ کې مو چکر وواهه - د خوراک او څښاک نه وروسته په يوه ځانته ځای کې کښيناستو - ما ورته د خپل پلان نه پرده پورته کړه - ورته او مې ويل - شرميلا نن درته د راتلونکي ژوند په باب يو څه ويل غواړم - هغې وويل مهرباني الطاف بابو - زما خو داسې زړه دی چې دوکان خرڅ کړم - او دواړه له دې ځای نه لاړ شو - ځکه چې اوس ته له ښوونځي نه فارغه يې - پېغلتوب دې هم خپل موج ته رسيدلی دی - او زه هم نور دلته نه غواړم چې وه او سيږم - ته په دې حقله څه نظر لرې ؟
هغه يوه شيبه غلې وه - خوښي يې په مخ کې نه ښکاريده - په فکر او سوچ کې شوه - بيا يې په مخ را خواره شوي ويښتان يې سم کړل ويې ويل - الطافه د مينې لوظ خو نه ماتيږي - زه درسره پخپله وعده ولاړه يم -
ښه نو چې ستا راسره رضا ده - زه سر له سبا نه دوکان په خرڅ کې اچوم - دوکان مې چې خرڅ شو - بيا به د تلو بندوبس نيسو - ما زديګر له باغه راوګرځيدو - د خپل کلي بازار ته لاړو - هغه خپل کور ته لاړه - او زه سيده د يوه کليوال هلک چې زما سره يې په دوکان کې کار کاوه ورغلم - له کوره مې راويوست - د دوکان خبره مې ورسره وکړه - هغه ته خو دوکان معلوم ؤ - سمدستي يې را سره د رانيولو هو وکړو هغه د کونډې ښځې زوی ؤ - له پخوا نه يې مور پيسې ساتلې وې - سبا يې چې دوکان ته راغی - د دوکان سامان مې ورسره د کرايې حسابي وکړه - په همغه ورځ يې پيسې راوشميرلې - او دا مې ورته وويل - که په دوکان کې درنه چا زما په باب

پوښتنه کوله. ورته وايه چې وطن ته تللی دی. راځي. بې له هغې دې خلک پيژني. چې ته دلته په دوکان کي کار کوې. ويلې سمه ده. هيڅ فکر مه کوه. او دا يې هم راته وويل. کله چې دې دوکان رانه واپس غوښتلو. په همغه ورځ درته سپارم.
شرميلا مې خبره کړه. چې دوکان مې خرڅ کړی دی. او ورته مې وويل. په نن او سبا کې درباندې د تلو غږ کوم. ته بايد سر له نن تياره اوسې. کله چې مې درته وويل. چې په دومره وخت به حرکت کوو. ته به د خپل کور دروازې مخې ته ولاړه اوسې. زه به درته په سړک ولاړ يم. ويلې سمه ده. ورته مې وويل کيدی شي چې ته يو ځل سبا ته دوکان ته راشه زه به درته په دوکان کې ناست يم. ستا لاره به څارم. که د تلو شرايط مو برابرول. وخت درته ښايم. ټيک ده. هغې ويلې ټيک ده.
په سبا ته زۀ بيا ټوله ورځ تر ماښامه مې د پنجابي څارنه وکړه. هغه هره ورځ به له مازديګر نه وروسته د خپل کور نه وړاندې د کروندې په منځ کې د مالونو دپاره ځای جوړ کړی ؤ ورتلو. مالونه باندې يې پام کاوه. هسې خو نورو دهقانانو به ورته ګيا اچوله. خو دی به خامخا د مالونو په غوجلو ، د وښو کوټې ته سرکاره کولو. هر څه به يې کنټرولول. بيا به په خړه کې کور ته روانيده. دوه ځل مې په همدغه بوختياو او کور ته د تلو وخت مې ورمعلوم کړ. يو لوی تيره چاقو ( چاړه ) مې لا پخوا رانيولې وه. د شپې مې د هغه له مينځه وړلو د کار پلان له ځان سره جوړ کړ. په سبا ته مې پخپله شرميلا ته چې کله دوکان ته راغله. د تلو وخت د ماښام په خړه وعده وکړه. ويلې زه به دې لاره څارم. د شپې خوب نه راتلو. تر چرګ بانګه مې سترګه ورنغله. سبا ته چې په يولسو بجو راپورته شوم. له چاې نه وروسته مې لاندې دوکاندار ته وويل. وطن ته د تلو نيت لرم. خو زما د کوټې کيلي (چابي ) درسره واخله. خامخا انسان دی. د ساه خاوندان يو. هغه ويل. نه خدای دې نکړي. ته خو لکه زما د ورور پشان راته ښکارې.

که نصیب دې په تلو کې وشو - ډېرې شپې به نکړې - مور دې ډېره خفه کیږو - ما وې ګورو به هر څه د الله په اختیار کې دي - له ماسپښین نه وروسته د پنجابي د کروندو خوا ته وخوځیدم - لکه د نورو ورځو پشان هاغه د هوس په کارونو بوخت ؤ - مازدیګر نه وروسته مې ځان د مالونو د وښو په کوټه کې پټ کړ - تر هغې مې هغه څارو تر څو چې د ماښام خړې په لګیدو سره - د معمول سره سم یې د وښو کوټې ته سر رانتو یست - زۀ په وښو کې پټ ناست ووم - ځان مې غلی ونیو - سپوږمې له خولې نه و یوست - په کوټه کې یې وښو ته پام وروکړ - بیا وره پلو روان شو - مخ چې یې دروازې ته شو - ماته یې شا شوه - چاقو مې لاس کې ښه مضبوط ونیو - ورمنډه مې کړو - چپ لاس مې د هغه له زنې ورتاؤ کړ - په ښي لاس مې په چاقو د هغه مرۍ غوڅه کړه - په مځکه ولوید - بیا مې ورته په مرۍ چاقو راښکد - لتې یې ووهې - لکه د سیلاب غوندې وینې ترې لاړې - کله چې ختم شو - د وښو لاندې مې پټ کړ - په وینه مې واښه واچول له کوټې نه راووتم - په کڅ کې په چابکو ګامونو مې د کڅ په لاره هدیرې ته ځان ورساو - د مور قبر ته ورد یدم - لومړی مې د دوعا لپه پورته کړه - بیا مې لړ په جګ غږ وویل - مور جاني ستا غچ مې له پنجابي نه واخیست - اروا دې په جنت شه - نور درنه لاړم - هدیرې نه سړک ته ووتم - ځان مې د شرمیلا سره د وعدې ځای ته ورساوه - له لیرې نه مې ولیده چې د سړک پغاړه ولاړه وه - یو بکس یې ورسره مخې ته په مځکه ایښی ؤ - زۀ چې ور ورسیدم - هغه ولاړه وه - تورتم لګیدلی ؤ - د هغې بکس مې راواخیست - ما ویلې راځه چې د موټرو ځای ته ځان ورسوؤ - په لړه شیبه کې مو ځانونه د ګاډو هډې ته ورسول - یو ګاډی ښار ته روانیدو کې ؤ - چې ور پورته شوو - مور دواړه وار خطا پدې وو چې ما خو خون کړی ؤ - پښې مې خلاصولې - او هغه له کوره متېزه تله -

ما هم خپل بکس له کوټې نه راواخیست. د موټرو ځای ته په بیړه روان شو . په موټر کې چې کښیناستو یو له بله خبر نه وو . ما خپل چورت واهه او هغې خپل. یو وخت د ګاډي چلونکي وویل. ښار راورسید . خپل خپل سامان درسره واخلئ. له ګاډي ښکته شو . سمدستي مو ټکسي موټر ونیو یو هوټل چې ما څه موده پخوا لیدلی وو. هوټل ته مو ځان ورساوه . د هوټل مشر ته ورغلو . یوه کوټه کرایي مو ترې وغوښته. هغه راسره شو . د یوې کوټې کیلي(چابي ) یې راکړه. بکسونه مو په کوټه کې کېښودل. واپس هوټل ته د ډودۍ خوړلو په نیت راښکته شوو . ډوډۍ مو وخوړه. شرمیلا ته مې وویل . د پېښور ګاډي له کراچۍ نه ځي . یو ځل به ایشتیشن ته لاړ شو . پوښتنه به وکړو . ټکسي ته مې د کراچۍ د ایشتیشن وویل . هغه وویل خیرږئ. د ګاډو ایشتیشن ته لاړو. پوښتنه مو چې وکړه. یو ریل ګاډی دوه ګینټې وروسته حرکت کاوه. ټکټونه مو راونیول . هغه خو سترې وه غوښتل یې چې په دغه ښار کې شپې ته پاتې شي. ما ورته د زرتلو ویلې. هماغه وو چې هوټل ته په بکسونو پسې لاړو . بیرته په ټکسي کې ایشتیشن ته راغلو . په ریل ګاډي کې موبکسونه ورسره وخیږول. ځایونه مو ونیول. لږه شیبه وروسته ګاډی روان شو . زما زړه لږ څه ارام په دې شو چې په کراچۍ کې د چا پیدا کول ډیر سخت کار دی . په ګاډي کې راته هغې وویل الطافه ډیر وارخطا راته ښکاریږې ؟ ورته مې وویل زۀ په سفر کې همداسې عادت لرم . ستا زړه کې نور څۀ تیر نشي. په زړه کې به مې څه تیر شي. اوس خو مې په سر اوبه واوښتې. سر یې ښکته ونیو . زړه کې یې څه ورتیر شول. په څیره کې یې لږ څه خپګان ښکاره شو ما ویل خفه نشې د پنجاب هوا دې له سره اوباسه اوس به راسره د راتلونکي ژوندانه ټول سفرونه ګالې.

لږ په ورو یې وویل. درسره منلې مې ده. سهار په نهو بجو کراچۍ ښار ته ورسیدو . په ټکسي موټر کې یوه هوټل ته لاړو . د هوټل مدیر ته مې د

کوټې وویل۔ هغه ویلې هو خالي کوټه شته۔ د یوه کارګر سره یې دویم پوړ ته ولیږلو ۔ کوټه یې راښوده ۔ کیلي یې راکړه ۔ کوټه ښکلې وه ۔ دوه چپر کټونه پکې پراته ول۔ تشناب ( د ځان د مینځلو او ټولټه یې درلوده ۔ د ضرورت رفع کولو ) بکسونه مو په کوټه کې کیښودل ۔ لاندې رستورانت ته راښکته شو ۔ سهارنۍ مو وکړه ۔ شرمیلا راته وویل ۔ بې خوبه یو ۔ ښه به دا وي چې په کوټه کې خوب وکړو ۔ ما وې سمه ده ۔ کوټې ته لاړو ۔ دومره بې خوبه او ستړي وو ۔ چې د پرې وتو سره خوب وړي وو ۔

د مازدیګر پنځه بجې راپورته شو ۔ د تشناب کولو نه وروسته مو جامې بدلې کړې۔ زما هڅه دا وه چې هر څومره ژر له پاکستانه ځان اوباسو ۔ لومړۍ پېښور ته او بیا کابل ته ځان ورساوؤ ۔

هغې ته مې څه نه ویل ۔ خو له ځانه سره پټ په زړه کې د کراچۍ په دا دومره لوی ښار کې ډار او سودا اخیستی ووم ۔ لا په کوټه کې ناست وو چې هغې وویل الطافه ما وې چې زه به وار خطا یم ۔ خو زما نه ته زیات تشویش کوې ۔ بیخي راته بل شان ښکارې ؟

ما لوټکي د شونډو په سر ورته وخندل ۔ په ټوکه کې مې وویل د پردۍ لور تښتول خو اسانه کار نه دی ۔

اوس به داسې وکړو چې په بازار کې به چکر ووهو ۔ بیا به د پېښور د ریل ګاډو تم ځای ته ورشو ۔ له کوټې نه ووتو ۔ لومړۍ لږ څه په ښار کې وګرځېدو ۔ بیا ټکسي کې د ریل ګاډیو ایشتیشن ته لاړو ۔ پوښتنه مو چې وکړه سبا ته د مازدیګر په څلورو بجو پېښور ته یو ګاډی تلو ۔ ټکټونه مو واخیستل ۔ په موټر کې بیر ته کوټې ته راغلو ۔ ماښامنۍ په هوټل کې وخوړه ۔ د خوب لپاره کوټې ته لاړو ۔ زموږ د دواړو حالت داسې ؤ چې دومره په تشوش کې وو چې حتا د مینې محبت خبرې هم رانه پاتې وې ۔

ما به پخپله زړه کې کرل او ریبل ۔ او هغې هم ۔ پدغه شپه په وخت بیده شولو ۔ سبایي وختي چې له خوبه ویښ شوو ۔ شرمیلا راته کړو ۔ تاخو به

هره ورځ ږیره خریله. وتو کړې جامې دې اغوستې. ځانته دې هیڅ پام نشته دی دا ولې ؟ ما ورته بیا لږ څه په ډاډه زړه وویل. په دې سفر کې لږ تنبل (لټ) شوی یم. څه ګران کار خوندی. تشناب کې مې ږیره وخریله. د سر ویښتانو ته مې پشم ورکړ. خوشبویي مې استعمال کړه. چې له تشنابه راووتم. هغه په خندا شوه. وې ویل. ودې لید اوس هماغه الطاف. دوکاندار شوې. له کوټې نه ووتو. په بازار کې مو ښه چکر وواهه. په هوټل کې مو غرمنۍ تیره کړه. د هوټل له مشر سره مو حسابي خلاصه کړه. بکسونه مو له کوټې نه راویستل. کیلي مو ورکړه. په ټکسي کې د ریل ایشتیشن ته لاړو.

د ګاډي تلو او حرکت ته لا نیم ساعت پاتې و. موږ بکسونه ورتسلیم کړل. پخپلو سیټونو کښیناستو. پوره په څلورو بجو ګاډی روان شو. ټوله شپه یې مزل وکړ. سبایي په نهو بجو پېښور ته ورسیدو. له ګاډي ښکته شو. په ټکسي کې یوه هوټل ته لاړو. پېښور ته په رسیدو سره مې ایله بیله په مرۍ کې لاړې تیرې شوې. له ځان سره مې فکر وکاوه. اوس راپسې څوک نشي راتلای. هوټل کې مو کوټه ونیوه. بکسونه مو په کوټه کې کېښودل. بیرون ته ووتو. هوټل کې یو ښه ساعت دمه مو وکړه. د ډوډۍ خوړلو نه وروسته بازار ته ووتو. قیصه خوانۍ او مینه بازار کې وګرځیدو. د شرمیلا پېښور ډېر خوښ شو ماته یې وویل.

الطافه دا خو ډېر ښه ځای دی.

ما ورته وویل. ددې نه دې هم لاپسې ښه ځای ته بیا یم. هاغه چیرې ؟ جلال اباد او کابل به هم اوګورې. ویې ویل هغه خو بل ملک دی. افغانستان دی. هلته به له سرحد نه څنګه تیریدی شو ؟ ما وې اسانه ده. تۀ هیڅ فکر مه کوه. دلته به دوه درې شپې وکړو. بیا به کابل ته ځوو. هغې رانه پوښتنه وکړه. ته خو یو پنجابی یې هلته څنګه تلو ته لیواله یې ؟ ما بیا ورته په ارام وویل. دا به درته بیا وروسته ووایم راځه چې بازار

کې څه سودا موداوکړو - بازار ته ووتو - د عزت الله خان د کورنۍ ټولو غړو ته جامې ، زما د زندان ملګری مشر حاجي صیب لپاره لونګۍ او ځینې نور ضروري توکي مو راونیول- شرمیلا یوازې دومره پوه شوه- چې کیدی شي د خپل کور غړو ته سودا کوي-
هغې ته مې هم نوې او د خپلې خوښې جامې وګنډلې - د شرمیلا په حالت پوهیدمه- هغې داسې فکر کاوه- ګني چې زه خپل کور ته روان یم-
دوه ورځې وروسته مې هغه سند چې له زندان نه د خوشې کیدو لپاره امریکایانو راکړی وو - په جیب کې له ځان سره ساتلی وو - په هغه سند ډاډه ووم- د سرحد د تیریدو ویره راسره نه وه - د دریمې ورځ په سهار له هوټل نه ووتو - د تورخم هډې ته په ټکسي کې ولاړو - او مې لیدل چې په دقیقه کې موټر ډکیده - او تورخم ته روانیده - موږ هم په ټیوټا کې کښیناستو - د تورخم په مزي په لړه شیبه کې ګاډی ودرید - د مزي یوه تن د لاسي واګون ( کراچۍ ) مزدور ته مې د بکسونو د وړلو اوله کرښې نه اخوا ته د تیریدو وویل - هغه د نر بچي د سترګو په رپ کې زموږ سامان په لاسي کراچۍ کې واچاوه او موږ ته یې وویل- تاسو مخکې شئ- ښه په اسانۍ یې له مزې واړولو- د جلال اباد لین په یوه موټر کې یې سامان ځای پر ځای کړ- مزدوري مې ورکړه- هغه خوشحاله لاړ- موږ ګادي ته وختو - سړک کندې کندې وو - په دوړو او ګردونو کې جلال اباد ته غرمه لا نه وه ورسیدو- سمدستي په یو بل ټکسي موټر کې د کابل هډې ته لاړو - بکسونه مو په فلاینکوچ کې کیښودل- لږه شیبه کې موټر کابل ته حرکت وکړ- ما خو یو ځل له کابله تر پېښوره ټوله سیمه لیدلې وه - مګر شرمیلا ته هر څه نوي وو - د موټر له هنداري یې د سړک بهر غرونه ، سیند او فصلونه لیدل- همدا به یې په موټر کې راته ویلې- الطافه دا څومره ښکلې طبیعت دي- ما به هم ورسره د هو سر وخوځاوه- د سړک کندې لوړې او ژورې بیخي ډېرې وې- ویلې دا ولې- دومره دا سړک خراب شوی دی ؟

ما ویلې دا خو په جنګ کې داسې شوی دی.دلته خو انقلاب شوی دی. روسان راغلي وو.د روس ټینکونو ددې ملک ټول سړکونه وران کړي دي .شپې په تورتم کې کابل ته ورسیدو.پل محمود خان کې مو یو ټکسي موټر ونیو .عزت الله خان کور مختې ته مې ټکسي ودروو .بکسونه مو کور دروازې سره کیښودل.د دروازې زنګ مې وواهه.سمد ستي د عزت الله خان زوی اکبر راووت .لومړی یې ونه پیژندم .خو چې خبرې مې ورسره پیل کړې.ویلې الطاف نه ئې ؟ما وې ولې نه یم.راغاړې وت. ستړي مشي یې وکړه بیا یې له شرمیلا سره روغبړ وکړ .له ډیرې خوښۍ نه یې موړه پریښودو .په یوه منډه دننه لاړ.کتل مو چې دروازې ته لوی واړه راووتل.لومړی یې ستړي مشي وکړه.بیا دننه کورته ننوتو.یوه خوشحالي پیل شوه.دننه په سالون کې زما پخوانی د بګرام د زندان ملګری مشر حاجي صیب سره مې غیږ ووهله.هاغه غیږ کې ونیوم.ښکل یې کړم.ډېر زیات خوشحاله شو .بیا مې د زړې ادې لاسونه ور موچي کړل.شرمیلا حیرانه پاتې وه.د کور د خلکو هر کلي او خوښي ته فکر وړې وه .هغه له دې نه هډو خبره نه وه چې دا څوک دي؟له ستړي مشي نه وروسته ډوډۍ چاې کار هم وشو .ماسخوتن مې هغوي ته د خپل ژوند قیصه وکړه.او د شرمیلا مې ورته وویل.دا مې یوازې د مینې په لومه کې تر دې ځای راوستې ده.
موږ لا نکاح نده تړلې
ده وویل.ښه نو بیا څنګه چل وشو ؟
یوه اونۍ وروسته زه هډو خبر نه ووم چې یوه شپه عزت الله خان راته وویل.د جمعې په ورځ دې واده دی.ما ورته وویل لالا یوه معمولي نکاح به وتړو.واده ته څه ضرورت دی.هغه وویل الطافه موږ پښتانه یو.ته لکه زموږ د ورور پشان یې هیڅ فکر ونکړې.ګني چې خپل وطن دې یاد شي او یا نورې خبرې دې په زړه کې دروګرزي.نه زه به تاته داسې واده

کوم چې هندوان او مسلمانان پکې ونا څي .له همغې ورځې نه مې شرمیلا په کور کې کمه لیده .هغې ته یې یوه ګاونډې هندوه جینۍ راوستې وه .په هر څه یې پوهوله .موږ دواړه له هیڅ نه خبر نه وو .هغوي شرمیلا لپاره جامې او ګاڼه هر څه جوړ کړي وو .ماته یې دریشي او جامه جوړه کړې وه .شرمیلا ته یې افغاني جامې او هم د هندي رواجې د واده جامې ( ساړي ) جوړې کړې وې.د جمعې ورځ چې راورسیده.هغوي ټول ښځې او نر زموږ په خدمت کې وو .مخکې له مخکې یې خپلوانو او دوستانو ته ( بلن لیکونه ) لیږلي وو .هنرمندان یې راغوښتي وو.ستاره هوټل کې یې واده جوړ کړی وو .شرمیلا نه د کور جینکۍ تاؤ وې.او له مانه هلکان.مازدیګر په یوه ښکلې ګلپوش موټر کې یې کښینولو .د واده هوټل ته یې روان کړو .

زموږ موټر پسې خدازده چې څو موټرې وروسته را روانې وې .هسې مې زړه کې دغه وخت داسې تیر شول ( د خوارې کونډې زویه د هغه سړي خبره رښتیا شوه کم چې تا ته یې په کراچۍ کې کړې وه )

په ګل پوش کې یې باغ بالا ته چکر راکړو .ما تور مخې ته یې افغاني لونګۍ په سر کړې وه .شرمیلا ته یې افغاني کوچیانۍ جامې او ګاڼې اچولې وې .هغه د کور خلکو داسې نازوله .چې هډو له مانه یې دا پوښتنه هم نه کوله چې دا خلک څوک دي.د هغوي په قدر او عزت کې دومره ډوبه وه چې هر څه ترې نه هیر ول.

کله چې زموږ ګاډی د هوټل مخې ته ودرید .موږ ترې راښکته شوو .د کور څو تنه ښځې او زلمي له موږ سره یو ځای په لاس کې د ګلانو د غنچو سره په ارامو ګامونو دننه هوټل ته روان و .دننه په هوټل کې مو چې ولیدل .د هنرمندانو ساز ته هندوان او افغانان یو ځای ګډیدل . خدازده چې په هوټل کې به څو تنه د وداه مراسمو ته رابلل شوي وو .موږ ورو ورو روان وو .افغاني ملي اتڼ روان وو .هندوانو زلمو د چوب بازۍ

اتڼ پیل کړی وو .د سازونو او اتڼونو هنګامه د هوټل فضا نیولې وه .
عزت الله خان ، میرمنې یې او نورو د کور ښځو نرو ، د میلمنو خدمت او
درناوي ته ولاړ وو .

د هوټل خاوند او اشپزانو د هوټل په یوه بل د ډوډۍ خوړلو په سالون کې
میزونو باندې هر راز خواړهٔ سنبالول .موږ یې لومړی په افغاني جامو کې
د واده سالون ته راوستو .دوهم ځل په هندي جامو کې راغلو .وروسته
یې زموږ نکاح په یوه ځانګړې کوټه کې د څو تنو مشرانو او زلمو په
ګډون په یوه ملا امام وتړله .ورپسې ډوډۍ خوړلو باندې خلک مصروف
شول تر نیمې شپې پورې د واده ډزو ډوز روان وو .

د شپې یوه بجه وه چې د واده اخري شیبې پای ته ورسیدې .موږ چې په
هماغه ګل پوش کې لومړی په ښار کې وګرځولو په باغ بالا هوټل یې
راتاو کړو .بیا یې په ګردنه باغ بالا راښکته کړو .د هندوانو په کوڅه کې
د یوه کور مخې ته موټر ودرید .موږ ترې ښکته شو .

یوازې په یوه بل موټر کې دوه درې ښځې او درې تنه د کور سړي وو .یوه
کور ته ئې ننویستو .یو سپین وړوکی کور چې مخې ته یې ښکلې باغچه
وه .په نرۍ لاره د کور سالون ته لاړو .په سالون کې سرې قالینې
غوړیدلې وې .د کوچ مخې ته ښکلی میز پروت وو .یوه ښائسته دیوالي
الماری د ښکلو ظرفونو نه ډکه ولاړه وه .د سالون په کونج کې تلویزیون
لګیدلی وو .

د کور نارینه او ښځې خپل کور ته لاړل .د عزت الله خان میرمن وویل .
راځئ چې ستاسو د خوب کوټې ته لاړ شو .موږ یې د خوب په کوټه
ورننویستو .کوټې ته مو چې سر ور دننه کړو .د کوټې ښکلا او
خوشبویي د لاسه د خوښۍ نه په جامو کې نه ځایدو .هغوي ټول رانه لاړل
.د شپې دوه بجې وې .موږ دواړه ډېر ستړي وو .زه د عزت الله خان میرمن
سره چې ما ورته ورینداره ویلې .تر دروازې پورې لاړم .د کور دروازه مې

وتړله.د خوب کوټې ته لاړم.په شالونو او ګلونو کې ډوبه ناسته شرمیلا پټه شوې وه.موږ دواړو تر ډیره د خپلې مینې خبرې کولې.دومره یو بل سره په مینه کې ورک شوو چې تر سهاره هیڅ په ځان نه وو پوهیدلي .له خوبه چې راویښ شو .د سهار لس بجې وې .هره شیبه مو په خوښۍ تیریده.

د واده په دریمه ورځ رانه شرمیلا په داسې حال کې په لومړي ځل داسې پوښتنه وکړه ؟

الطافه نن به راته صفا صفا د خپل ژوند قیصه کوې.دلته په کابل ددې خلکو سره څنګه بلد شوی یې .ستا اصلي وطن او کورنۍ هر څه دې راته ووایه ؟

ما ته ډېره ګرانه ده چې د خپل ژوند قیصه مې شرمیلا ته کړې وای.دا چې تاته مې وکړه.هغې ته مې هم له اوله تر اخره وکړه.خو کله مې چې قیصه د خپلې مور د هغې د پلار ظلمونو او ناروا ته ورسوله .د شرمیلا غوني زیګ شو .د مخ کرده یې بدله شوه.سترګې یې بټې راویتسې.د چوکۍ له پاسه یې موازینه له لاسه ورکړه.رنګ یې زړیدو .د سترګو اکر ( بڼه ) یې بدلیده.زه پاڅیدم.ما وې چې ګیلاس کې ورته اوبه راوړم.په ورو یې د شونډو په سر وویل.ښوره مه ! قیصه کوه.د اوبو ګیلاس مې ورته ونیو.یوازې یو ګوټ اوبه یې وڅښلې.

ماته یې سترګې راواړولې.ویې ویل ښه بیا څنګه چل وشو ؟

ما چې د هغې د پلار حلالولو ته خبره ورسوله.ټوپ یې وکړ.آخ یې له خولې ویوست.خپل ویښتان یې په دواړو لاسونو کې ونیول.بې حرکته پاتې شوه.یوازې د شونډو په سر یې دومره وویل.هغه الطاف ته یې ؟ خوا ته یې ورنزدې شوم.ما وې هو ، هغه زه یم.

پای

## د محمدا جان یار چاپ شوي اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | کوکارۍ | شعري ټولګه |
| ۲ | سره ډولۍ | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۳ | د کونړ تاتري | تحقیقي او تاریخي اثر |
| ۴ | ویر | شعري ټولګه |
| ۵ | تړلې کڅوړه | د لنډو قیصو مجموعه |
| ۶ | د لیلیې دښته | ناول ،سترګو لیدلی حال |
| ۷ | څانګه | ناول |
| ۸ | هوسۍ | ناول |
| ۹ | په قربان | شعري ټولګه |
| ۱۰ | دا ژوند او دا خیري | ناول |
| ۱۱ | ګلاب او فرښته | ناول |
| ۱۲ | ویرونه او بهیرونه | ناول،سترګو لیدلی حال |
| ۱۳ | له بنګاله تر باګرامه | (همدا اثر) ناول |

## چاپ ته چمتو اثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | کلونه تالا نونه | ناول |
| ۲ | اوښکې | شعري ټولګه |
| ۳ | بحرونه او ساحلونه | سفرنامه |

www.pashtoonkhwa.com



Download from:aghalibrary